تفسیر

معارف القرآن

پہ قندھاری پښتو

تالیف

مفتی اعظم پاکستان مولانا محمد شفیع

پښتو ترجمه کوونکی ابو صدیق احمد مولوی نصیر احمد حقانی

تصحیح او سمون: مولوی نصیر احمد حقانی او مولوی امین الله حقانی

مکتبہ حنفیہ
کاسی روڈ۔ کوئٹه



Maktaba Tul Ishaat .com



تمام فنون کے کتب کے پی-ڈی-ایف ہمارے ویب سائٹ سے اور پلے سٹور سے فری ڈاون لوڈ کریں۔ ہم روزانہ کی بنیاد پر اس میں مزید کتب شامل کر رہے ہیں اس لیے آپ ہفتے میں ایک بار ضرور ہمارے پلے سٹور اور ویب سائٹ کو چیک کیا کریں۔

ابھی مطلوبہ پی-ڈی-ایف مفت ڈاون لوڈ کریں

تفاسیر	خطبات	منطق
احادیث	سیرت	معانی
فقہ	تاریخ	تصوف
سوانح حیات	صرف	تقابل ادیان
درس نظامی	نحو	تجوید
لغت	فلسفہ	نعت
فتاوی	حکمت	تراجم
اصلاحی	بلاغت	تبلیغ ودعوت
تمام فنون		

مکتبۃ الاشاعت ڈاٹ کام
Maktaba Tul Ishaat.com

تفسير

معارف القرآن

په قندهاري پښتوکي

(تاليف)

مفتي اعظم پاکستان مولانا محمد شفيع رحمة الله عليه

پښتو ترجمه کوونکي (ابو صديق احمد .... مولوي نصير احمد حقّاني)

تصحيح اوسمون... مولوي نصير احمد (حقّاني) اومولوي آمين الله (حقّاني)

دکمپوز او ترجمي چارې .... الدين العلم کمپوزنگ (۰۳۰۱۳۷۸۴۹۵۶)

جلد اووم   پاره (۱۹) ..... (۲۰) ..... (۲۱)

خپرونکي

مکتبه حنفيه

فون نمبر (۲۶۶۲۵۱۰)

کانسي روډ حاجي غيبي چوک کوئټه

چاپ ځای .... لاهور

فهرست تفسیر معارف القرآن

سورة النمل

وَقَالَ الَّذِيْنَ لَا يَرْجُوْنَ لِقَآءَنَا لَوْلَآ اُنْزِلَ عَلَيْنَا الْمَلٰٓئِكَةُ

و ويل هغو خلقو چي اميد نه لري چي مونږ سره به ملاوسي ولي نه نازليږي پر مونږ باندي ملائكي

اَوْ نَرٰى رَبَّنَا ۭ لَقَدِ اسْتَكْبَرُوْا فِيْٓ اَنْفُسِهِمْ وَعَتَوْ عُتُوًّا كَبِيْرًا ﴿۲۱﴾

يامونږ ليدی خپل رب ډيرتكبر كوی په خپل زړه كی او نافرماني يي وكړه ډيره لويه.

يَوْمَ يَرَوْنَ الْمَلٰٓئِكَةَ لَا بُشْرٰى يَوْمَئِذٍ لِّلْمُجْرِمِيْنَ وَيَقُوْلُوْنَ

په كومه ورځ چي ووينی ملائكی نه به وی خوشحالی په دغه ورځ مجرمانو لره او وبه وايی چي

حِجْرًا مَّحْجُوْرًا ﴿۲۲﴾

چيری پټ سوی په پرده كی

لنډتفسير: اوكوم خلق چي مونږ ته دمخامخ كيدو څخه بيره نه كوی (ځكه چي دوی دقيامت او په دی كی دپيشی اوحساب څخه منكردی) دوی (د رسالت څخه د انكاردپاره) داسی وايی چي مونږ ته ملائكی ولی نه راځی (چی كه ملائكی راسی او مونږ ته ووايی چي دا رسول دی) يامونږ خپل رب ووينو (اوهغه مونږ ته ووايی چي دا رسول دی ، نو مونږ به يی تصديق وكو. ددی په جواب كی الله ﷻ وفرمايل چي) دا خلق په خپلو زړونو كی خپل ځانونه ډيرلوی ګڼی (چی خپل ځانونه ددی قابل ګڼی چي ملائكی راسی د دوی سره خبری وكی ياپه خپله د الله ﷻ سره يی خبری وسی) او (خاصكر دالله ﷻ په دنياكی دليدو او دده سره دخبرو كولو په فرمايش كی خو) دا خلق دحد (د انسانيت) څخه ډيرليری وتلی دی (ځكه چي دملائكو او د انسانانو خوپه ځينی شيانوكی شركت هم دی چي دواړه دالله ﷻ مخلوق دی ليكن په انسان اوپه الله ﷻ كی خوهيڅ مشاركت اومشابهت نسته ، او داخلق دالله ﷻ دليدو كله قابل دی ، مګر ملائكی به دوی ته يوه ورځ وښوول سی ، مګرځنګه چي دوی غواړی داسی نه ، بلكی د دوی دپاره به عذاب اومصيبت او پريشانی راوړی) همدارنګه په كومه ورځ چي دا خلق ملائكی ووينی (او دغه ورځ دقيامت ده) په دغه ورځ به دمجرمانو (يعنی كافرانو) دپاره هيڅ دخوشحالی خبره (په نصيب كی) نه وی او (ملائكی چي كله دعذاب داسباب سره راتلونكی ووينی نو دبيری څخه به) ووايی پناه (غواړو) پناه .

معلومات اومسئلي : وَقَالَ الَّذِيْنَ لَا يَرْجُوْنَ لِقَآءَنَا دلفظ د ، رجا ، عامه معنی ديومحبوب او مرغوب شی د اميد راځی او كله دا لفظ په معنی دبيری هم استعماليږی ، لكه چي ابن الانباری په كتاب الاضداد كی ليكلی دی ، دلته هم دا معنی دبيری زياته واضحه ده يعنی هغه خلق كوم چي زمونږ په مخكی دپيش كيدو څخه نه بيريږی ، په دی كی اشاره ددی خبری طرف ته ده چي دبی كاره اوجاهلانه سوالونو اوفرمائشونو جرأت

دهغه سړي کیدای شي ، کوم چي د آخرت څخه بالکل منکروي ، څوک چي آخرت مني په هغه دآخرت فکرداسي غالب وي چي هغه ته دداسي خبرو اوسوال جواب فرصت نه ورکول کیږي، نن صباچي کوم دنوي تعلیم په اثرسره داسلام اودده داحکامو په باره کي دیرخلق په شبهو اوبحث مباحثوکي مشغول لیدل کیږي ، دا هم علامه ددي ده چي معاذ الله په زړه کي دآخرت ربښتیني یقین نسته او که د آخرت یقین وای نو دا قسم فضول سوالات به په زړه کي نه پیدا کیدلای .

حِجْرًا مَّحْجُوْرًا ، دحجرلفظي معنیٰ محفوظ ځای دی ، اومَحْجُوْرًا ، ددي تاکیددی ، دا لفظ دعربو په محاوره کي هغه وخت ویل کیږي ، کله چي یو مصیبت پیښ سي ، دهغه څخه دمحفوظ کیدو دپاره خلقو ته وایي چي پناه ده پناه یعني مونږ ته ددي څخه پناه راکئ، نو دقیامت په ورځ به هم کله چي کفارملائکي دعذاب د اسباب راوړلو سره ویني نو ددنیا دعادت مطابق به دا لفظ وایي .

اوحضرت ابن عباس ﷺ څخه ددي لفظ دامعنیٰ نقل ده، حَرَامًا مُّحَرَّمًا ، او مراد دا دی چي دقیامت په ورځ کله چي داخلق ملائکي دعذاب سره ویني اودوی ته دمعافي دکولو اوجنت ته دتللودرخواست وکي یاآرزو ظاهره کي نو ملائکي به په جواب کي ووایي، حِجْرًا مَّحْجُوْرًا ،یعني جنت پرکافرانو حرام اوممنوع دی (مظهري)

وَقَدِمْنَآ اِلٰى مَا عَمِلُوْا مِنْ عَمَلٍ فَجَعَلْنٰهُ هَبَآءً مَّنْثُوْرًا ﴿۲۳﴾

او ورسیدو مونږ د دوی هغو کارونو ته چي کوم دوی کړي وه ، پس کړل مونږ هغه خاوري الوزول سوي

اَصْحٰبُ الْجَنَّةِ يَوْمَئِذٍ خَيْرٌ مُّسْتَقَرًّا وَّاَحْسَنُ مَقِيْلًا ﴿۲۴﴾

دجنتیانو خلقو په دغه ورځ ښه دی ځای او دیر ښه دی ځای بې دغرمي د آرام

وَيَوْمَ تَشَقَّقُ السَّمَآءُ بِالْغَمَامِ وَنُزِّلَ الْمَلٰٓئِكَةُ تَنْزِيْلًا ﴿۲۵﴾

او په کومه ورځ چي څیري سي آسمان په وریځ سره او نازلي سي ملائکي پرله پسې

اَلْمُلْكُ يَوْمَئِذِ اِلْحَقُّ لِلرَّحْمٰنِ ۭ وَكَانَ يَوْمًا عَلَى الْكٰفِرِيْنَ عَسِيْرًا ﴿۲۶﴾

بادشاهي په دغه ورځ حقه ده درحمن ، او ده دغه ورځ په منکرانو باندي ګرانه ،

وَيَوْمَ يَعَضُّ الظَّالِمُ عَلٰى يَدَيْهِ يَقُوْلُ يٰلَيْتَنِي اتَّخَذْتُ مَعَ

او په کومه ورځ چي به چیچي ګناهکار خپل لاسونه وایي به چي ای کاشکي مانیولی وای

الرَّسُولِ سَبِيلًا ﴿٢٧﴾ يَا وَيْلَتَىٰ لَيْتَنِي لَمْ أَتَّخِذْ فُلَانًا خَلِيلًا ﴿٢٨﴾ لَقَدْ

د رسول سره لاره ، ای خرابی ده ما لره کاشکی چی مانیولی نه وای فلانی دوست
هغه خو زه

أَضَلَّنِي عَنِ الذِّكْرِ بَعْدَ إِذْ جَاءَنِي ۗ وَكَانَ الشَّيْطَانُ لِلْإِنسَانِ

بی لاری کرم دنصیحت څخه وروسته دهغه چی راغی ما ته ، اودی
شیطان انسان لره

خَذُولًا ﴿٢٩﴾ وَقَالَ الرَّسُولُ يَا رَبِّ إِنَّ قَوْمِي اتَّخَذُوا هَٰذَا الْقُرْآنَ

په وخت دوکه کونکی ، او وویل رسول ای زما ربه! زما قوم
کړی دا قرآن

مَهْجُورًا ﴿٣٠﴾ وَكَذَٰلِكَ جَعَلْنَا لِكُلِّ نَبِيٍّ عَدُوًّا مِّنَ الْمُجْرِمِينَ ۗ

دنظر څخه غورځولی ، او دغه ډول جوړ کړی دی مونږ دهر نبی دپاره دښمنان
د ګناهګارانو څخه

وَكَفَىٰ بِرَبِّكَ هَادِيًا وَنَصِيرًا ﴿٣١﴾

او کافی دی ستا رب لارښوونکی او مدد کوونکی

لنډتفسیر: اومونږ به (په دغه ورځ) ددوی (یعنی دکفارو) دی (نیکو) کارونو ته کوم چی دوی (په دنیاکی) کړی وو متوجه سو پس دغه به (په ډاګه) داسی (بی کاره) کړو لکه الوتونکی ګرد (چی په هیڅ کارنه راځی، دغه ډول به ددی کفارو دعملونو هیڅ ثواب نه وی البته) جنتیان به په دغه ورځ به ښه ځای د اوسیدوکی هم وی اوپه ښه ځای دآرام کی به هم وی (مراد دمُستَقَر اومَقِیْل څخه جنت دی، یعنی جنت به ددوی دپاره ځای داوسیدو اوځای دآرام وی اوښه والی خو دهغه ظاهره خبره ده) اوپه کومه ورځ چی آسمان دیوی وریځی پرسر څیری سی او (ددغه وریځی سره دآسمان څخه) ملائکی (مځکی ته) ډیری نازلی سی (اودغه وخت حق تعالی دحساب کتاب دپاره تجلّی وفرمایی او) په دغه ورځ به حقیقی حکومت د(حضرت) رحمان دپاره (خاص) وی (یعنی په حساب کتاب جزا اوسزا کی به دهیچا دخل نه وی لکه په دنیا کی چی لږ ډیر ظاهری تصرف نوروته هم حاصل دی) اوهغه (ورځ) به پرکافرانو لویه سخته ورځ وی (ځکه چی ددوی دحساب انجام جهنم دی) اوپه کومه ورځ به چی ظالمان (یعنی کافران دډیر افسوس څخه) خپل لاسونه چیچی خوری (او) وایی به چی څه به ښه وای چی زه درسول سره (ددین) پرلاری روان سوی وای های های زماکم بختی (چی

داسې مې نه واى کړى او) څه به ښه واى چې مافلانى سړى دوست نه واى جوړ کړى، دغه (کم بخت) خوزه دراغلې نصيحت څخه وروسته گمراه کړم (اوبې لارى يې کړم) اوشيطان خوانسان ته (په عين وخت) دامداد نه کولو جواب ورکوى (دارنگه ددغه کافر ددى افسوس په وخت کى هغه هيڅ همدردى ونه کړه که څه هم په همدردى کولو يې هم څه نه کيدل صرف په دنيا کى دده دوکه کول وو) او (په دغه ورځ به) رسول (ﷺ) ته دکافرانو څخه دشکايت په طور) ووايى چې اى زماربه! زما (دى) قوم دا قرآن (کوم چې عمل په واجب وو) بالکل دپامه څخه غورځولى وو (اوعمل خو پرېږده دسره کتل يې ورته هم نه مطلب دا دى چې په خپله کفار به هم دخپلې گمراهى اقرار وکى او رسول به هم شاهدى اداکى لکه داقول دالله ﷻ: وَجِئْنَا بِكَ عَلَى هٰؤُلَآءِ شَهِيْدًا، او دجرم دثبوت دا دوه عادتى صورتونه دى، د اقرار اوشهادت او دواړوپه اجتماع سره به داثبوت نورهم زيات مؤکدسى اوسزاوار به سى) اومونږدغه ډول دهرنبى دپاره مجرمان خلق دښمنان جوړوو (يعنى داخلق کوم چې دقرآن څخه انکارکوى ستامخالفت کوى، داڅه نوى خبره نه ده چې غم يې وسى) او (چاته چې هدايت کول منظوروى دهغوى) دهدايت کولو او (کوم چې دهدايت څخه محروم دى دهغوى په مقابله کى ستا) دمدد کولو دپاره ستا رب کافى دى.

معلومات اومسئلې: خَيْرٌ مُّسْتَقَرًّا وَّأَحْسَنُ مَقِيْلًا، مُسْتَقَرّ، مستقل ځاى دقيام ته ويل کيږى، اومُقِيل، دقيلُوله څخه مشتق دى دغرمى دآرام کولوځاى ته مَقِيل وايى، دلته دمَقِيل ذکر په خصوصيت سره شايد ددى دپاره هم سوى وى چې په يو حديث کى راغلى دى چې دقيامت په ورځ به الله ﷻ دنصف النهار يعنى نيمى ورځى په وخت کى دمخلوقاتو دحساب کتاب څخه فارغه سى اودغرمى دخوب په وخت کى به جنتيان جنت ته ورسيږى او دوږخيان دوږخ ته (قرطبى)

تَشَقَّقُ السَّمَآءُ بِالْغَمَامِ، اَىْ عَنِ الْغَمَامِ (قرطبى) معنى دا ده چې آسمان به څيرى سى، ددى څخه به يوه نرمه غوندى وريځ راکښته کيږى چې ملائکى به په کى وى دا وريځ به په شکل دچترى (سايوان) دآسمان څخه راځى او په دى کى به دالله ﷻ تجلى وى اوشا اوخوا به يې ملائکى وى، دابه دحساب شروع کيدو وخت وى اوهغه وخت به دآسمان څيريدل صرف دخلاصيدو په طوروى، داسى څيريدل به نه وى کوم چې په اول وار دشپيلى پُف کولو په وخت کى دآسمان اومځکى دفنا کولو دپاره وى، ځکه چې دا نزول دوريځى دکوم ذکرچې په آيت کى دى، د دوهمى شپيلى څخه وروسته دى کله چې مځکه او آسمان دوباره برابر سوى وى (بيان القرآن)

يَقُوْلُ يٰلَيْتَنِىْ لَمْ اَتَّخِذْ فُلَانًا خَلِيْلًا، دا آيت په يوه خاصه واقعه کى نازل سوي دى، مگرحکم يې عام دى واقعه دا وه چې عقبه ابن ابى معيط دمکى دمشرکانو سردارانو څخه وو، دده عادت دا وو چې کله به ديو سفر څخه بيرته راغى نو دښار معززو خلکو ته به يې ميلمستيا کوله او اکثره به يې نبى کريم ﷺ په کى هم را بلى. يو وار دعادت مطابق ده دښار معززينو ته دعوت ورکى اونبى کريم ﷺ يې هم په کى راوبلى، کله

چې ورته ده خوراك كښېښوي نو نبي كريم ﷺ وفرمايل چې زه ستا ډوډۍ ترهغه وخته پورې نه سم خوړلای ترڅو پورې چې ته داشاهدي ادانه كې چې الله ﷻ يو دی دده سره څوك په عبادت كې شريك نشته اودا چې زه دالله ﷻ رسول يم. عقبه دا كلمه وويله او نبي كريم ﷺ دشرط مطابق ډوډۍ وخوړه.

دعقبه يو ډير نژدې دوست أبيّ بن خلف وو، كله چې هغه خبر سو چې عقبه مسلمان سوی دی نو ډيرغصه سو خوعقبه ورته عذر وكی چې دقريشو عزتمند ميلمه محمد (ﷺ) زماكورته راغلی وو كه هغه بغير دخوراك كولوڅخه زمادكور څخه وتلی وای نو دا به زماد پاره لويه رسوايي وه، په دې وجه مادهغه دخاطره داكلمه وويله. أبيّ بن خلف ورته وويل چې زه ستا داسې خبرې نه قبلوم، ترڅو چې ته ولاړسې اودهغه پر مخ ونه تُوكړې، داكم بخت بدنصيبه ددوست په وينادې بې باكۍ ته تيارسو اوويې كړه الله ﷻ په دادنياكې هم دادواړه ذليله كړل اودبدر په غزاكې دواړه مردار سول (بغوی) اوپه آخرت كې يې ددوی دعذاب ذكر په دې آيت كې كړی دی چې كله دآخرت عذاب مخامخ ووينې نودغه وخت به په پښېمانتيا اوافسوس سره خپل لاسونه چيچي، وايي به چې كاشكې! مافلانی يعنې أبی ابن خلف دوست نه وی جوړكړی (مظهری اوقرطبي)

(دغلط كارو اوبې دينو دوستي به دقيامت په ورځ دافسوس اوستوماني باعث وي)

په تفسيرمظهري كې دی چې دا آيت كه څه هم خاص دعقبه په واقعه كې نازل سوی دی، خولكه چې الفاظ دآيت عام دی، حكم يې هم عام دی اوشايد چې دلته ددوست دنوم په ځای په قرآن كې دفُلَانًا لفظ ددې عام والي طرف ته داشاري كولو دپاره اختيار سوی دی. دې آيتونو داښوولې ده چې كوم دوه دوستان پرېوه نافرماني ياګناه جمع وي او دشريعت څخه په خلاف كارونو كې ديوبل سره امداد كوي. ددې ټولو دا حكم دی چې دقيامت په ورځ به ددغه ډير نژدې دوست په دوستی باندې وژړيږي.

مسند احمد، ترمذي، ابوداود وغيره دابوسعيد خدري ؓ څخه روايت كړی دی چې نبي كريم ﷺ فرمايلي دي: لَاتُصَاحِبْ اِلَّامُؤْمِنًاوَلَا يَاكُلْ مَالَكَ اِلَّاتَقِيٌّ، (مظهري) يعنې غيرمسلمان خپل ملګری مه جوړوه اوستا مال دې (په طور ددوستي) صرف پرهيز ګاره سړي وخوري يعنې دغير پرهيزګار سره دوستي مه كوه او د ابوهريرة ؓ څخه روايت دی چې نبي كريم ﷺ فرمايلي دي: اَلْمَرْءُ عَلٰى دِيْنِ خَلِيْلِهٖ فَلْيَنْظُرْ مَنْ يُخَالِلُ، (رواه البخاري) هر انسان (عادتًا) دخپل دوست پردين اوطريقه باندې ځي، په دې وجه ددوست جوړولو څخه مخكې دې ښه غور او فكر كوي چې څوك دوست جوړوي.

حضرت ابن عباس ؓ فرمايي چې دنبي كريم ﷺ څخه پوښتنه وسوه چې زمونږ په مجلسي دوستانو كې كوم خلك ښه دي؟ نودوی وفرمايل: مَنْ ذَكَّرَكُمْ بِاللهِ رُؤْيَتُهٗ وَزَادَ فِيْ عِلْمِكُمْ مَنْطِقُهٗ وَذَكَّرَكُمْ بِالْاٰخِرَةِ عَمَلُهٗ، (رواه البزار) (قرطبي) هغه سړی دچاپه ليدو چې خدای يادېږي او دچاپه خبرو چې ستاسې علم زياتيږي او دچا دعمل په ليدو چې دآخرت ياد تازه كيږي.

وَقَالَ الرَّسُوْلُ يٰرَبِّ اِنَّ قَوْمِي اتَّخَذُوْا هٰذَا الْقُرْاٰنَ مَهْجُوْرًا يعنې وبه وايي رسول (محمد ﷺ) ای زما پروردګاره! زما قوم دا قرآن مهجور اومتروك كړی وو.

دنبی کریم ﷺ داشکایت به دحق تعالی په دربارکی دقیامت په ورځ وی اوکه په دې دنیا کی ده ﷺ شکایت وفرمایی ، دتفسیر امامان په دی کی مختلف دی ، احتمال د دواړو دی . په راتلونکی آیت کی په ظاهره قرینه ددی ده چی دا شکایت دوی په جواب کی پیش کړی وو چی په جواب کی دده ﷺ دتسلی دپاره وفرمایل : وَكَذَٰلِكَ جَعَلْنَا لِكُلِّ نَبِيٍّ عَدُوًّا مِّنَ الْمُجْرِمِينَ ، یعنی که ستادښمنان قرآن نه منی نوتاته پردی باندی صبرکول په کار دی ، ځکه چی د الله ﷻ سنت دهمیشه څخه دا راغلی دی چی دهرنبی څه مجرمان دښمنان وی او انبیاء علیهم السلام همیشه پردی صبر کړی دی .

دقرآن عملاً پریښوول هم عظیمه گناه ده

ددی څخه ظاهره دا ده چی دقرآن شریف دمهجور اومتروك کولوڅخه مراد دقرآن څخه انکار دی کوم چی دکفارو کار دی مگر په ځینو روایتونو کی دا هم راغلی دی چی کوم مسلمان په قرآن ایمان خو لری مگرنه یی دتلاوت پابندی کوی اونه دعمل کولو ، هغه هم په دی حکم کی داخل دی . حضرت انس ؓ فرمایی چی نبی کریم ﷺ فرمایلی دی چی .

﴿ مَنْ تَعَلَّمَ الْقُرْآنَ وَعَلَّقَ مُصْحَفَهُ لَمْ يَتَعَاهَدْهُ وَلَمْ يَنْظُرْ فِيْهِ جَاءَ يَوْمَ الْقِيَامَةِ مُتَعَلِّقًا بِهِ يَقُوْلُ يَا رَبَّ الْعَالَمِيْنَ إِنَّ عَبْدَكَ هٰذَا اتَّخَذَنِيْ مَهْجُوْرًا فَاقْضِ بَيْنِيْ وَبَيْنَهُ، ذكره الثعلبي، (قرطبی) ﴾ .

چاچی قرآن ووایه، مگر بیایی بندکی ، په کور کی یی زوړند کی نه یی دده دتلاوت پابندی وکړه نه یې دده پر احکامو غور وکی . دقیامت په ورځ به قرآن دده په غاړه پوری مښتی راسی او د الله ﷻ په دربار کی به شکایت کوی چی ستادی بنده زه پریښی وم اوس ته زما او دده دمعاملی فیصله وفرمایی .

وَقَالَ الَّذِينَ كَفَرُوا لَوْلَا نُزِّلَ عَلَيْهِ الْقُرْآنُ جُمْلَةً وَاحِدَةً

او وایی هغه خلق چی کافران دی ولی نه نازلیږي په ده قرآن تول په یوځای ،

كَذَٰلِكَ لِنُثَبِّتَ بِهِ فُؤَادَكَ وَرَتَّلْنَاهُ تَرْتِيلًا ﴿۳۲﴾

دغه ډول یی نازلوُ ددی دپاره چی مضبوط کړو مونږ په دی سره ستا زړه او وایو مونږ دی په کراره کراره

لنډتفسیر: او کافران خلق داسی وایی چی پرده (پیغمبر) قران په یو وار ولی نازل نه کړل سو (مقصود ددی اعتراض څخه دا دی چی که دا دخدای کلام وای نو په کرار کرار دنازلولو یی څه ضرورت وو ، په دی لږو لږو نازلیدو خو دا شبهه کیږی چی محمد ﷺ په خپله سوچ کوی لږ لږ جوړ وی ، مخ ته ددی اعتراض جواب دی چی) دغسی (لږ لږ) په دی وجه (مونږ نازل کړی) دی چی مونږ دده په ذریعه ستا زړه قوی کړو او (په دی وجه) مونږ دا په کرار کرار نازل کړی دی (چنانچی ددرو ویشتو ۲۳ کالو په زمانه کی کرار کرار پوره سو)

معلومات اومسئلي : دا دکفارو او مشرکانو د اعتراضونو او جوابونو هغه سلسله ده کومه چې دسورة دشروع څخه را روانه ده ددې اعتراض په جواب کې قرآن په کرار کرار نازلولو کې یې یو حکمت دا بیان فرمایلی دی چې ددې په ذریعه ستا زړه قوي ساتل مقصود دي ، په کرار کرار نازلیدو کې دنبي کریم ﷺ دزړه قوي کیدو څو وجهې دي .

اول دا چې یادساتل چې آسانه سول ، دیولوی غټ کتاب په یو وخت نازلیدو کې دا آسانې نه پاته کیږي ، او په آسانې سره په یادولو کې پر زړه څه پریشانې نه راځي .

دوهم کله چې کفار په دوی څه اعتراض یا د دوی سره څه ناخوښه معامله کوي نو دغه وخت د دوی دتسلی دپاره په قرآن کې آیت نازل سي ، که ټول قرآن پر یو ځای نازل سوی وای او پر دې خاص واقعه دتسلی ذکر هم نازل سوی وای ، نو په هرحال دا به په قرآن کې دتلاش کولو ضرورت وای او د ذهن به دغه طرف ته متوجه کیدل هم عادتًا ضروري نه وای .

دریم د الله ﷻ پیغام را تلل تازه شهادت دی د الله ﷻ دملګرتیا کوم چې د زړه دقوي کیدو یو لوی مدار دی او دلته چې کوم حکمت د زړه دقوي کیدلو ښوول سوی دی ، په کرار کرار دنازلیدو حکمت په دې کې منحصر نه دی نور حکمتونه هم دي دکومو څخه چې ځینې په سورة بني اسرائیل کې په آیت : وَقُرْاٰنًا فَرَقْنٰهُ لِتَقْرَاَهٗ عَلَى النَّاسِ عَلٰى مُكْثٍ، کې مخکې تیر سوي دي (بیان القرآن)

وَلَا يَأْتُونَكَ بِمَثَلٍ إِلَّا جِئْنٰكَ بِالْحَقِّ وَأَحْسَنَ

او دوی نه پیش کوي تاته | څه مثال | چې مونږ رسوو تاته | صحیح خبره او ددې ښه (غوره)

تَفْسِيرًا ﴿٣٣﴾ الَّذِينَ يُحْشَرُونَ عَلٰى وُجُوهِهِمْ إِلٰى جَهَنَّمَ أُولٰٓئِكَ

تفسیر | کوم خلق | چې پرمخ را جمع کړل سي | جهنم ته | او د دغو

شَرٌّ مَّكَانًا وَّأَضَلُّ سَبِيلًا ﴿٣٤﴾ وَلَقَدْ اٰتَيْنَا مُوسَى الْكِتٰبَ

ډیر ناکاره ځای دی او ډیر ګمراه دی دلاري څخه | او مونږ ورکړی وو موسی ﷺ ته | کتاب

وَجَعَلْنَا مَعَهٗٓ أَخَاهُ هٰرُونَ وَزِيرًا ﴿٣٥﴾ فَقُلْنَا اذْهَبَآ إِلَى الْقَوْمِ الَّذِينَ

او کړی مونږ دده سره دده ورور هارون | وزیر (مددګار) بیاوویل مونږ ولاړسی دواړه هغو خلقو ته کومو چې

كَذَّبُوا بِاٰيٰتِنَا ۚ فَدَمَّرْنٰهُمْ تَدْمِيرًا ﴿۳۶﴾

دروغجني کړي خبري زمونږ، وروسته هلاک کړل مونږ دوی دبیخ څخه

لنډتفسير: او دا خلق چي هرڅنګه عجيبه سوال تاته پيش کی مګر مونږ (دهغه) صحيح جواب او وضاحت ښه زيات تاته عنايت کوو (چي ته مخالفينو ته جواب ورکړې، په ظاهره بيان دهغه قوي کولو دزړه دي چي ذکريي ددي څخه په مخکي آيت کی سوی دی چي په کرار کرار نازلولوکی يو حکمت ستادلجمعي او تقويت دزړه دی، چي کله دکفارو دطرف څخه څه اعتراض راسي نو هغه وخت دالله ﷻ دطرف څخه جواب نازلول کيږي) دا هغه خلق دي چي پرمخ به جهنم ته بيول کيږي (يعني په کشولو سره) داخلق دځای په اعتبار سره هم بدتردي او په طريقه کی هم ډير ګمراه دی (تردی ځای پوری درسالت څخه په انکار دعذاب وعدی او په قرآن داعتراضونو جواب وو اوس مخ ته ددی په تائيدکی دتيری زمانی ځيني واقعات نقل سوی دی چي په دی کی درسالت څخه دانکار کوونکو انجام او عبرتناك حالات ذکردی او په دی کی دنبی کريم ﷺ دپاره تسلي او دزړه دتقويت اسباب دی چي دتيرو انبياوو عليهم السلام الله ﷻ څنګه مدد فرمايلی دی اوپردښمنانو يي غالب کړی دی، دغه ستادپاره هم کيدونکی دی، په دی کی يي اولني قصه دحضرت موسیٰ ؑ ذکر کړه چي) او په تحقيق مونږ موسیٰ (ؑ) ته کتاب (يعني تورات) ورکړی وو او (ددی کتاب دورکولو څخه مخکي) مونږ دده سره ورور هارون (ؑ دده) مددګارجوړکړی وو، بيامونږ (دواړوته حکم وکی چي دواړه تنه دهغوخلقوته (دهدايت کولودپاره) ولاړسی چاچي زمونږ(دتوحيد)دليلونه دروغجن کړی دی (مراد ددی څخه فرعون او دده قوم دی هم دارنګه دا دواړه حضرات هلته ورسيدل او دوی يي پوره کړل مګر دوی ونه منله) پس مونږ دوی (په خپل قهر سره) بالکل برباد کړل (يعني په درياب کی غرق سول).

معلومات اومسئلي: اَلَّذِيْنَ كَذَّبُوْا بِاٰيٰتِنَا، په دی کی دفرعوني قوم متعلق دافرمايي چي دوی زمونږ آيتونه دروغجن کړل، حال دا دی چي تردغه وخته پوری تورات پرحضرت موسیٰ ؑ باندی لانازل سوی هم نه وو. په دی وجه ددی دروغجن کولو څخه دتورات دآيتونو دروغجن کول خونه سی مراد کيدای، بلکي مراد دآيتونو څخه ياخو دتوحيد عقلي دليلونه دی کوم چي هرانسان ته دده دعقل مطابق معلوميدای سی، په دی کی فکرنه کولو ته يي دروغجن کول دآيتونو وفرمايل اويا داچي دتيرو انبياوو روايتونه کوم چي په هرقوم کی څه ناڅه په نقل سره را روان وی، دهغوڅخه انکارمراددی،لکه چي په قرآن کريم کی فرمايي.وَلَقَدْ جَآءَكُمْ يُوْسُفُ مِنْ قَبْلُ بِالْبَيِّنٰتِ، په دی کی دتيرو پيغمبرانو تعليم دی خلګو ته په نقل سره ښوول سوی دی (بيان القرآن

وَقَوْمَ نُوْحٍ لَّمَّا كَذَّبُوا الرُّسُلَ اَغْرَقْنٰهُمْ وَجَعَلْنٰهُمْ لِلنَّاسِ اٰيَةً ۚ وَاَعْتَدْنَا لِلظّٰلِمِيْنَ

او قوم دنوح ؑ هرکله چي دوی دروغجن کړل رسولان مونږ دوی دوب کړل او کړل مو نږ دوی دخلقودپاره نښانی اوتيارکړی دی مونږ دظالمانودپاره

عَذَابًا اَلِيْمًا ﴿۳۷﴾ وَّعَادًا وَّثَمُوْدَاْ وَاَصْحٰبَ الرَّسِّ وَقُرُوْنًا بَيْنَ

عذاب دردناک او عادیانو لره او ثمودیانو لره او دخاه خلقو لره او د دوی په مینځ کی

ذٰلِكَ كَثِيْرًا ﴿۳۸﴾ وَكُلًّا ضَرَبْنَا لَهُ الْاَمْثَالَ وَكُلًّا تَبَّرْنَا تَتْبِيْرًا ﴿۳۹﴾

ډیرو جماعتونو ته ، او ټولو ته بیان کړی وو مونږ مثالونه او ټولو لره کړل مونږ برباد کړی

وَلَقَدْ اَتَوْا عَلَى الْقَرْيَةِ الَّتِيْٓ اُمْطِرَتْ مَطَرَ السَّوْءِ اَفَلَمْ يَكُوْنُوْا

او دا خلق راتیر سوی دی په خوا دهغه کلی په کوم چی وریدلی بد وریدل ، آیا دوی نه دی

يَرَوْنَهَا بَلْ كَانُوْا لَا يَرْجُوْنَ نُشُوْرًا ﴿۴۰﴾ وَاِذَا رَاَوْكَ اِنْ يَّتَّخِذُوْنَكَ

لیدلی هغولره داسی نه ده بلکه بیاهم امیدنه لري دپورته کیدو ،اوکوم ځای چی تاووینی ، نو بل څه کاريي نه وی خو

اِلَّا هُزُوًا اَهٰذَا الَّذِيْ بَعَثَ اللّٰهُ رَسُوْلًا ﴿۴۱﴾ اِنْ كَادَ لَيُضِلُّنَا عَنْ

مسخری درپوری کوی ، ایا دا دی هغه چالره چی الله ﷺ رسول رالیږلی دی ، نژدی وه چی ده مونږ بی لاری کړی وو

اٰلِهَتِنَا لَوْلَآ اَنْ صَبَرْنَا عَلَيْهَا وَسَوْفَ يَعْلَمُوْنَ حِيْنَ يَرَوْنَ

دمعبودانو خپلو څخه که مونږ ثابت قدم نه وای پاته سوی په دوی او ژر ده چی پوه به سی څه وخت چی ووینی

الْعَذَابَ مَنْ اَضَلُّ سَبِيْلًا ﴿۴۲﴾ اَرَءَيْتَ مَنِ اتَّخَذَ اِلٰهَهٗ هَوٰىهُ

عذاب چی څوک دی ډیرگمراه دلاری څخه ؟ آیاتاولیدی هغه څوک چی ونیسی معبود خپل ، خپل خواهش

اَفَاَنْتَ تَكُوْنُ عَلَيْهِ وَكِيْلًا ﴿۴۳﴾ اَمْ تَحْسَبُ اَنَّ اَكْثَرَهُمْ يَسْمَعُوْنَ

آیاته اخستلای سی دده ذمه ، آیاته خیال کوی چی ډیر په دوی کی اوری

اَوْ يَعْقِلُوْنَ اِنْ هُمْ اِلَّا كَالْاَنْعَامِ بَلْ هُمْ اَضَلُّ سَبِيْلًا ﴿۴۴﴾ ع ۴

یاپوهیږي هیڅ نسته دغه برابر دی دحیوانانو سره ، بلکه دغه زیات گمراه دی دلاری څخه ،

تفسیر: او قوم دنوح (علیه السلام) هم (دده په زمانه کې) موږ هلاك کړي دي (دکومو چې دهلاکت اوسبب د هلاکت بیان دا دی چې) کله دوی پیغمبران درواغجن کړل نوموږ دوی (په طوفان سره) غرق کړل اوموږ دغه (واقعه د دوی) دخلقو د(عبرت د) پاره نښانه جوړه کړه (دا خو یې ددنیاسزا سوه) او (په آخرت کې) موږ د (دغو) ظالمانو دپاره دردناکه سزاتیاره کړې ده او موږ عادیان اوثمودیان اوخاوندان دڅاه اوددوی په مینځ کې ډیر امتونه هلاك کړل اوموږ (په ذکرسوو امتونوکې) دهریوه د (هدایت د) پاره عجیبه عجیبه (یعنی اثرناك اوبلیغ) مضامین بیان کړل او (چې ویې نه منل نو) موږ توله بالکل برباد کړل اودا (کفار دملك دشام په سفرکې) پردغه کلي تیرسوي دي پرکوم چې بدقسم ډبرې اورول سوي وې (مراد څینې کلي دقوم دلوط علیه السلام دی) پس آیادي خلقودغه نه دي لیدلي (بیاهم عبرت نه اخلي چې کفر اودرواغجن کول پرېږدي دکوم په وجه چې قوم دلوط علیه السلام سزا پیداکړې وه ، پس خبره دا ده چې دعبرت نه اخستو وجه دا نه ده چې گوندي دغه کلي دوی نه ویني) بلکې (اصل وجه ددې دا ده چې) داخلق دبیا ژوندي کیدو یقین نه لري (یعنی دآخرت څخه منکره دي په دې وجه کفر موجب دسزا نه گڼي اوپه دې وجه دهغو هلاکت دکفر وبال نه گڼي، بلکې اتفاقي کارونه یې گڼي دا وجه دعبرت دنه اخستو ده) اوکله چې داخلق تاویني نو بس ستاسره مسخرې شروع کړي (او) وایي چې آیا دا (بزرگ) دی کوم چې خدای ﷻ رسول جوړکړی را لیږلی دی (یعنی داسې غریب سړی رسول نه دی په کار، که رسالت یو شی وی نویوچا رئیس اومالدارته په کار وو پس دی رسول نه دی البته) ددی سړي (دجادو بیانی خوداحال دی چې ده) خوبه موږ دخپلو معبودانو څخه اړولي وای که موږ پردوی باندې (په مضبوطی سره) قائم نه وای (یعنی موږ خو پرهدایت باندې یو او ده خو زموږ دگمراه کولو کوشش کوی ، الله ﷻ ددوی درد دپاره فرمایی چې دا ظالمان اوس خوخپل ځان پرهدایت او زموږ پیغمبرته گمراه وایی) او (دمرگ څخه وروسته) ژربه دوی ته معلومه سی، کله چې عذاب ووینی چې کوم سړی گمراه وو (آیا دغه خلق په خپله یاپیغمبر نعوذ بالله، په دې کې ددوی دعبثو اعتراضونو جواب طرف ته هم اشاره ده چې په نبوت اومالداری کې څه مناسبت نسته دنه مالداریدو په سبب دنبوت څخه انکار دجهالت اوگمراهی څخه ماسوا هیڅ نسته مگر په دنیا کې چې څه غواړي خیالات دې پخوی ، مگر په قیامت کې به دهرڅه حقیقت ښکاره سی) ای پیغمبره! ته دهغه سړي حالت هم وینی کوم چې خپل خدای خپل خواهش نفسانی جوړکړی دی پس آیاته دده نگرانی کولای سی یاته خیال کوی چې په دوی کې اکثره اوری اوپوهیږي (مطلب دا دی چې ته د دوی په هدایت نه پیداکیدو مه غمجن کیږه ځکه چې ته پر دوی مسلط نه یی چې خامخا به دوی پرلاره کوی اومه ددوی څخه دهدایت توقع ساته ځکه چې نه دوی حقه خبره اوري اونه یې عقل سته چې فکر وکي) دوی خومحض دحیوانانو په شان دي (چې نه دوی خبره آوری او نه په پوهیږي) بلکې داخو دحیوانانو څخه هم زیات بې لارې دي (ځکه چې حیوانان ددین داحکامو مکلف نه دي نو د دوی نه پوهیدل بد نه دي او دوی مکلف دي بیاهم نه پوهیږي ، بیاداچې که دوی ددین دضرورتونو معتقدنه دي نومنکر خو هم نه دي او دوی خو منکره دي او په ، أَرَءَيْتَ الخ ، کې ددوی

دګمراهی منشاء هم بیان کړه چی په څه شبهه اودلیل سره دوی ته اشتباه نه ده سوی ، بلکی سبب یی دخواهشاتو تابعداری ده»

معلومات اومسئلې: دحضرت نوح ﷺ دقوم متعلق دا ارشاد چی دوی رسول درواغجن کړل ، حال دا دی چی اولنی رسولان نه دهغوی په زمانه کی وه اونه هغوی درواغجن کړی دی ، نومنشاء ددی دا ده چی هغوی حضرت نوح ﷺ درواغجن کی اوچونکی دټولو پیغمبرانو ددین اصول مشترك دی ، په دی وجه دیو درواغجن کول دټولو ددرواغجن کولو په حکم کی دی .

اَصْحٰبَ الرَّسِّ ، رَسّ په لغت کی کچه څاه ته وایی ، په قرآن کریم اویو صحیح حدیث کی ددی خلقو تفصیلی حالات ذکرنه دی ، اوپه اسرائیلی روایتونوکی اختلاف دی . راجح دا ده چی دقوم ثمود څه باقیمانده خلق وه کوم چی په یوڅاه باندی آباد وه «لکه په قاموس او در کی د ابن عباس ﷺ څخه روایت دی» د دوی دعذاب حال هم په قرآن او یو صحیح حدیث کی ذکر نه دی «بیان القرآن»

دخلاف شرع خواهشونو پیروی هم یوقسم بت پرستي ده

اَرَاَیْتَ مَنِ اتَّخَذَ اِلٰهَهٗ هَوٰاهُ : په دی آیت کی هغه سړی ته کوم چی داسلام اوشریعت خلاف دخپلو خواهشاتو پیروی کوی داویلی دی چی ده خپل خواهشات خپل معبودجوړکړی دی، حضرت ابن عباس ﷺ فرمایی چی دشریعت څخه خلاف نفسانی خواهشات هم یوبت دی چی عبادت یی کیږی،بیایی په دلیل کی دا ذکرسوی آیت تلاوت وفرمایل «قرطبی»

اَلَمْ تَرَ اِلٰی رَبِّكَ كَیْفَ مَدَّ الظِّلَّ ۚ وَلَوْ شَآءَ لَجَعَلَهٗ سَاكِنًا ۚ ثُمَّ جَعَلْنَا

ته نه ګوری خپل رب ته چی څنګه یی اوږد کړه سایه او که غوښتلای یی نو دی به یی ولاړ ساتلای بیا مونږ کړو

الشَّمْسَ عَلَیْهِ دَلِیْلًا ﴿٤٥﴾ ثُمَّ قَبَضْنٰهُ اِلَیْنَا قَبْضًا یَّسِیْرًا ﴿٤٦﴾ وَهُوَ

لمر په ده باندی لاربنوونکی ، بیا راکشکی مونږ دی خپل طرف ته کرار کرار ، او هغه دی

الَّذِیْ جَعَلَ لَكُمُ الَّیْلَ لِبَاسًا وَّالنَّوْمَ سُبَاتًا وَّجَعَلَ النَّهَارَ

چاچی جوړه کړه تاسو دپاره شپه اغوستل اوخوب آرام او ورځ یی جوړه کړه

نُشُوْرًا ﴿٤٧﴾ وَهُوَ الَّذِیْٓ اَرْسَلَ الرِّیٰحَ بُشْرًا بَیْنَ یَدَیْ رَحْمَتِهٖ ۚ

دولاړیدو اوخوریدو دپاره ، اوهغه دی چی را وې لیږلی هواګانی خوشخبری ورکوونکی دهغه درحمت څخه مخکی

وَأَنْزَلْنَا مِنَ السَّمَاءِ مَاءً طَهُورًا ﴿٤٨﴾ لِنُحْيِيَ بِهِ بَلْدَةً مَيْتًا وَنُسْقِيَهُ

او نازل کړې مونږ د آسمان څخه اوبه پاکې حاصلوونکې ، چې ژوندي کړو په دې سره مځکه مړه اوچینبو دی لره

مِمَّا خَلَقْنَا أَنْعَامًا وَأَنَاسِيَّ كَثِيرًا ﴿٤٩﴾ وَلَقَدْ صَرَّفْنَاهُ بَيْنَهُمْ

خپلو پیداکړو ډیرو حیوانانو او انسانانو ته ، او په قسم قسم سره تقسیم کړې دی مونږ دا د دوی په مینځ کې

لِيَذَّكَّرُوا فَأَبَىٰ أَكْثَرُ النَّاسِ إِلَّا كُفُورًا ﴿٥٠﴾ وَلَوْ شِئْنَا لَبَعَثْنَا فِي

چې غور وکړي ، بیا هم اکثر خلق ناشکري کوي ، او که مونږ غوښتلای نو پورته کړي به مو وای

كُلِّ قَرْيَةٍ نَذِيرًا ﴿٥١﴾ فَلَا تُطِعِ الْكَافِرِينَ وَجَاهِدْهُمْ بِهِ جِهَادًا كَبِيرًا ﴿٥٢﴾

په هر یو کلي کې څوک بیروونکې وروسته ته مه منه د کافرانو او مقابله کړه د دوی په دې په لوی زور سره

وَهُوَ الَّذِي مَرَجَ الْبَحْرَيْنِ هَٰذَا عَذْبٌ فُرَاتٌ وَهَٰذَا مِلْحٌ أُجَاجٌ

او هغه دی چاچې روان کړل دوه دریابونه پیوست ، دا خوږ دی تنده مړه کوونکی او دا تریو دی تریخ

وَجَعَلَ بَيْنَهُمَا بَرْزَخًا وَحِجْرًا مَحْجُورًا ﴿٥٣﴾ وَهُوَ الَّذِي خَلَقَ مِنَ

او جوړه کړې یې ده د دواړو په مینځ کې پر ده او برید منع کوونکی او هغه دی چې جوړ یې کړو

الْمَاءِ بَشَرًا فَجَعَلَهُ نَسَبًا وَصِهْرًا وَكَانَ رَبُّكَ قَدِيرًا ﴿٥٤﴾ وَيَعْبُدُونَ

د اوبو څخه انسانان وروروسته وګرځول یې ده لره نسب او خسر ګنی او ستا رب هر څه کولای سی او عبادت کوي

مِنْ دُونِ اللَّهِ مَا لَا يَنْفَعُهُمْ وَلَا يَضُرُّهُمْ وَكَانَ الْكَافِرُ عَلَىٰ رَبِّهِ

د الله څخه سوا د هغه شي چې نه ورته خیر رسولای سی او نه شر ، او دی کافر د خپل رب څخه

ظَهِيرًا ﴿٥٥﴾ وَمَا أَرْسَلْنَاكَ إِلَّا مُبَشِّرًا وَنَذِيرًا ﴿٥٦﴾ قُلْ مَا أَسْأَلُكُمْ عَلَيْهِ

شاګرځونکې ، او تا ته مونږ لیږلی دی د دی خو شخبری او بیری ، او رولود پاره ، ته وروایه زه نه غوارم تاسو څخه

مِنْ اَجْرٍ اِلَّا مَنْ شَآءَ اَنْ يَّتَّخِذَ اِلٰى رَبِّهٖ سَبِيْلًا ﴿۵۷﴾ وَتَوَكَّلْ عَلَى

په دې څه مزدوري مګر څوک چې وغواړي چې ونيسي خپل رب طرف ته لاره ، او تکيه کوه په هغه

الْحَيِّ الَّذِيْ لَا يَمُوْتُ وَسَبِّحْ بِحَمْدِهٖ ؕ وَكَفٰى بِهٖ بِذُنُوْبِ عِبَادِهٖ

ژوندي چې نه مرکيږي او دهغه تسبيح کوه دثناء سره او کافي دی هغه دخپلو بندګانو دګناهونو څخه

خَبِيْرًا ۚ ﴿۵۸﴾ الَّذِيْ خَلَقَ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضَ وَمَا بَيْنَهُمَا فِيْ سِتَّةِ اَيَّامٍ

خبردار چاچې جوړ کړل آسمانونه او ځمکه او څه چې د دوی په مينځ کی دی په شپږو ورځو کی

ثُمَّ اسْتَوٰى عَلَى الْعَرْشِ ۚ اَلرَّحْمٰنُ فَسْئَلْ بِهٖ خَبِيْرًا ﴿۵۹﴾ وَاِذَا قِيْلَ

بيا قائم سو په عرش ، هغه لوی رحمت ولا وروسته پوښتنه وکړه دهغه څخه چې خبريی لري او کله چې وويل سی

لَهُمُ اسْجُدُوْا لِلرَّحْمٰنِ قَالُوْا وَمَا الرَّحْمٰنُ ۗ اَنَسْجُدُ لِمَا تَاْمُرُنَا وَزَادَهُمْ

دوی ته سجده کوی ، رحمن ته ، وايي رحمن څه دی ؟ اياسجده وکړو هغه ته چې ته فرمايي او زياتيږي د دوی

نُفُوْرًا ﴿۶۰﴾ السجدة تَبٰرَكَ الَّذِيْ جَعَلَ فِي السَّمَآءِ بُرُوْجًا وَّجَعَلَ فِيْهَا ع ۵

نفرت ، لوی برکت دی هغه لره چاچې جوړ کړل په آسمان کی برجونه او جوړ يی کي په دی کی

سِرٰجًا وَّقَمَرًا مُّنِيْرًا ﴿۶۱﴾ وَهُوَ الَّذِيْ جَعَلَ الَّيْلَ وَالنَّهَارَ خِلْفَةً

څراغ او سپوږمی رڼا کوونکی ، او هغه دی چاچې جوړه کړه شپه او ورځ په يو بل پسی

لِّمَنْ اَرَادَ اَنْ يَّذَّكَّرَ اَوْ اَرَادَ شُكُوْرًا ﴿۶۲﴾

دهغه چا دپاره چې غواړي فکر کول يا غواړي شکر کول.

لنډتفسير: ای مخاطبه ! آياته (د) خپل پروردګار (دی قدرت) ته نه ګوری چې هغه (کله چې لمر دافق څخه راخيژی دغه وخت دولاړو شيانو) سايه څنګه (ترليری پوری) غوړولی ده (څکه چې دلمرختوپه وخت کی دهر شی سايه او ږده وی) او که هغه غوښتلای نو دا به يی پر يوه حالت باندی ولاړه ساتلای (يعنی دلمر په

رالوړيدو به نه کميداى داسې چې تردومره ليرې پورې به يې دلمر پلوشې نه راپريښوولاى ، ځکه چې دلمر دپلوشو دمخکې حصوته رسول په اراده دحق سره دي نه چې په جبرې طور مګر مونږ په خپل حکمت سره دا پريوه حالت نه دي ساتلې بلکې مونږ اوږديدونکې جوړکې) بيامونږ لمر (يعنې دده افق ته نژدې کيدل اوبيا دافق څخه لوړيدل) پردې (دسايې پراوږديدو اولنډيدو) باندې (يوه ظاهرې) نښانه مقرره کړه (مطلب دا دي چې که څه هم دړنا اوسايې او ددې دکميدو او زياتيدو اصل علت دحق تعالى په اراده اومشيت باندې دي لمر يابل شې حقيقې مؤثرنه دي ، مګر الله ﷻ په دنياکې دپيداکيدونکو شيانو دپاره څه ظاهرې اسباب جوړکړې دي اوداسبابو سره يې ددوې دمسبباتو داسې رابطه قائمه کړه چې دسبب په تغير سره په مسبب کې تغير راځي) بيا (ددې ظاهرې تعلق په وجه) مونږ دا (سايه) خپل طرف ته کرار کرار راونغښته (يعنې څومره چې دغه لمر راپورته سو دغه سايه زائله او ورکه سوه او چونکې ددغه سايو ورکيدل محض په قدرت الهې سره بې دشرکت دغيرڅخه دي او دعامو خلقو دنظر څخه دپناه کيدو باوجود په علم الهې کې غائب نه دي ، په دې وجه يې دا وفرمايل چې خپل طرف ته يې راغونډه کړه) او هغه (الله) داسې دي چاچې ستاسې دپاره شپه دپردې شې او خوب دراحت شې جوړکې او ورځ يې (په دې اعتبار سره چې بيده کيدل مشابه دمرګ دي او دورځې وخت دپورته کيدو دي ګويا) دژوندې کيدو وخت جوړ کې او هغه (الله) داسې دي چې دخپل باران درحمت څخه مخکې هواګانې راليږي چې هغه (دباران دااميد ورکولو دپاره) خو شخبرې ورکوې او مونږ دآسمان څخه او به واورولې کومې چې دپاك صاف کولو شې دي چې ددې په ذريعه په مړه مځکه کې روح واچوې اوپه خپل مخلوقاتو کې ډيرڅاروې او ډير انسانان سيراب کې اومونږ دغه (اوبه په قدر دمصلحت) ددې خلقو په مينځ کې تقسيمو ددې دپاره چې خلق فکر وکې (چې دا تصرفات کول ديولوى قادر دي چې هغه مستحق دعبادت دي) پس (په کار وو چې فکريې کړې واى او دهغه حق يې ادا کولاى ليکن) اکثره خلق بغير دناشکرې څخه نه دې پاته سوې (چې په دې کې دټولو څخه زيات کفر اوشرك دي ، ليکن ته د دوې اوخاصکر د اکثرو خلقو ناشکرې چې ووينې ياواورې نو په تبليغ کې دکوشش کولو څخه همت مه بايله چې زه به يوازې دا ټول څنګه سرته ورسوم ، بلکې ته يوازې خپل کارکوه ، ځکه چې ستايوازې دنبې جوړولو څخه په خپله زمونږ مقصود دا دي چې ستا اَجرَ او قرب زيات سې) اوکه مونږ غوښتلاى نو (ستاڅخه علاوه په دې زمانه کې) په هرکلې کې به مويو پيغمبرليږلې واى (او يوازې به موتاته ټول کار نه حواله کوې ليکن چونکې ستا اجر زياتول مقصود دي ، په دې وجه مونږ داسې ونه کړل ، نو په دې طور سره دومره کار تاته سپارل دخداى ﷻ نعمت دي) پس (ددې نعمت په شکريه کې) ته دکافرانو دخوشحالۍ کارمه کوه (يعنې کافران به په دې سره خوشحاله وي چې تبليغ نه وي ياکم وي او د دوې ازادې ته څه ونه ويل سې) او په قرآن (کې چې کوم دليلونه دحق ذکر دي ، لکه پردې مقام چې دليلونه دتوحيد ارشاد سوې دي ، په دې) سره د دوې په زور او شور سره مقابله کوه (يعنې عام اومکمل دعوت او تبليغ کوه يعنې ټولو ته وايه اوبار بار وايه او همت قوى ساته لکه چې تراوسه تاکوې پردې قائم اوسه ،

مخ ته بیان دی ددلیلونو دتوحید» اوهغه داسی دی چاچی دوه دریابونه «صورتاً» ولیدل چی په دی کی «دَ» یو «اوبه» خوږی سکون ورکوونکی او «دَ» یوه «اوبه» تروی ترخی دی او «سره ددی چی په صورت کی یوځای دی په حقیقت کی» ددوی په مینځ کی «په خپل قدرت سره» یوه پرده او «دَحقیقی یوځای کیدوځخه» یوقوی مانع کنبیښنووی «کوم چی په خپله پټ غیر محسوس دی، مگر اثریی په دواړو اوبوکی په خوندکی لیدی اومحسوس کیدای سی ، مراد ددی دوو دریابونوڅخه هغه موقعی دی کوم ځای چی دخوږو اوبو ولی اونهرونه بهیږی اوسمندر ته لویږی ، هلته سره ددی چی دلوړه ځخه د دواړو سطح یوه معلومیږی، لیکن دالله ﷻ په قدرت سره په دی کی یو داسی حدفاصل وی چی که ددغه پیوست سوی ځای دیوه طرف ځخه اوبه واخلی نو خوږی وی اودبل طرف ځخه کوم چی دی اولنی طرف ته بالکل نژدی وی، اوبه واخلی نوتروی وی، په دنیاکی چی په کوم ځای کی دخوږو اوبو نهرونه سمندرته لویږی، هلته دالیدل کیږی چی ترمیلونو پوری خوږی اوتروی اوبه جلا جلا روانی وی، راسته طرف ته خوږی اوچپه طرف ته تروی ترخی یالاندی باندی خوږی اوترخی اوبه جلا جلا په کی موجودی وی. حضرت مولانا شبیر احمد عثمانی رحمه الله تردی آیت لاندی لیکلی دی ، چی په بیان القرآن کی د دوو معتبرو بنگالی عالمانو شهادت نقل دی چی دارکان ځخه ترچاټگام پوری ددریاب شان دا دی چی ددی دواړه جانبه بالکل جلاجلا قسم دوه دریابونه په نظر راځی چی دیوه اوبه سپینی دی او دبل دا توری ، په تورو کی دسمندر په شان طغیانی اوطوفانی ځپې راځی ، او سپینی بالکل په آرام وی ، کښتی په سپینو کی چلیږی اوددواړو په مینځ کی یولیکه غوندی نښان برابر تللی دی کوم چی ددواړو دپیوست کیدو ځای دی ، خلق وایی چی سپینی اوبه خوږی دی اوتروی ترخی دی . آه او ماته دباریسال ځینی طالبانو بیان کړی دی چی په باریسال کی دوې ولی دی کوم چی دیوه دریاب ځخه را وتلی دی دیوی اوبه بالکل ترخی دی اودیوی ډیری خوږی اوخوندناکی دی . دلته په گجرات کی راقم الحروف چی کوم ځای نن صبا مقیم دی «دابیل سملك ضلع سورت» سمندر دهغه ځخه تقریباً دلس دولس میله په فاصله باندی دی . ددغه ځای په ویالو کی برابر مد اوجزر کیږی. ډیرو ثقه خلقو بیان کړی دی چی ددریاب لوړیدو په وخت کی چی کله دسمندر اوبه په ویالوکی راسی نو دخوږو اوبو پرسر ترخی اوبه ډیری په زور سره ورخیژی ، لیکن دغه وخت هم دواړی اوبه نه یوځای کیږی. لوړی ترخی اوبه وی لاندی خوږی . چی کله دریاب کښته سی نو لوړی ترخی اوبه لاندی ولویږی اوخوږی اوبه هم پر خپل حال خوږی پاته سی . والله اعلم

ددی شواهدو په کتو سره دآیت مطلب بالکل واضح دی یعنی دخدای قدرت ته وگوری چی دخوږو اوترخو اوبو دواړه دریابونه یوځای نه یوځای دیوځای کیدو باوجود هم څنگه دیو بل ځخه جلاوی .

او هغه داسی دی چاچی د اوبوځخه «یعنی نطفی ځخه» انسان پیداکی ، بیایی دی خاندان والا اوخسر گنی والاجوړکی «چنانچی پلار اونیکه شرعی خاندان اومور او انا وغیره عرفی خاندان دی دکومو سره چی دپیدائش سره تعلقات پیداکیږی ، بیا دواده ځخه وروسته دخسرگنی قرابت پیداسی دا هم دقدرت دلیل

دی چی نطفه څه شی وه ، بیایی ورڅخه څه جوړکړل چی هغه دومره پوست او وینی والاسوه اونعمت هم دی
چی پردی تعلقاتوباندی دیوبل سره د اوسیدو او امداد تعمیرقائم دی) او (ای مخاطبه) ستاپروردگار لوی
قدرت والادی او (سره ددی چی الله ﷻ په خپل ذات اوصفاتو کی داسی کامل دی ، لکه چی بیان یی وسو
او دا کمالات مقتضی دی چی عبادت یی وسی مګر) دا (مشرکان) خلق (داسی) خدای پریږدی اودهغو
شیانو عبادت کوی (کوم چی په عبادت کولو باندی) نه دوی ته څه نفع رسولای سی اونه (دعبادت نه کولو
په صورت کی) دوی ته څه ضرر رسولای سی اوکافر خودخپل رب مخالف دی (چی هغه پریږدی او دنورو
عبادت کوی اوچی دکفارو مخالفت درته معلوم سو نو ته د دوی په ایمان نه راوړلو مه غمجن کیږه ځکه
چی) مونږ ته صرف ددې دپاره لیږلی یی چی (ایمان راوړونکو ته دجنت) خوشخبری ورکی او (کافران
ددوږخ څخه) وبیروی (د دوی په ایمان نه راوړوکی ستاڅه نقصان دی ، بیاته غم ولی کوی ، او نه چی تاته
د دوی مخالفت معلوم سی فکرکوه چی کله دوی دحق تعالی مخالف دی نو زه چی کوم دحق تعالی دطرف
څخه دعوت کوم ، دا دعوت به داخلق خیر خواهی کله وګڼی ، بلکی په خود غرضی به یی را واړ وی ګرسره
ګوری به ورته نه ، نو د دوی ددی ګمان اصلاح به څنګه وسی چی مانع رفع سی ، نوکه تاته د دوی دا خیال
په څه قرینه یاپه زبانی خبرو اترو سره معلوم وی نو) ته (په جواب کی دومره) ووایه (او بی فکره سه) چی زه
خوستاسی څخه پردی (تبلیغ) څه معاوضه (مالی یادجاه) نه غواړم البته کوم سړی چی داوغواړی چی دخپل
رب طرف ته (درسیدو) لار اختیارکی (نوالبته زه دا خامخا غواړم برابره خبره ده که تاسی دی ته معاوضه
وایاست اوکه نه) او (نه ددی کفارو په مخالفت معلومیدو سره ددوی دضرر رسولو فکرکوه بلکی په تبلیغ
کی) پرهغه ژوندی چی نه مرکیږی توکل ساته او (په اطمینان سره) دهغه په تسبیح اوثناء کی اخته اوسه او
(مه دمخالفت په معلومیدو سره دژر عذاب په دی خیال آرزو کوه چی د دوی ضرر نورو ته ونه رسیږی ځکه
چی) هغه (خدای) دخپلو بندګانو دګناهونو څخه (په) کافی (طور سره) خبردار دی (هغه چی کله مناسب
وګڼی ، سزابه ورکړی ، پس په دی جملوکی یی دنبی کریم ﷺ څخه غم او فکر اوبیره لیری کړی دی ، مخ ته
بیا دتوحیدبیان دی) هغه (الله) داسی دی چاچی آسمانونه اومځکی اوڅه چی ددوی په مینځ کی دی ټول په
(مقدار د) شپږو ورځوکی پیداکړل بیا پرعرش (کوم چی مشابه دی دحکومت دتخت سره داسی) قائم
(اوجلوه فرما) سو (کوم چی دهغه دشان سره لائق دی چی بیان یی دسورة اعراف د اوومی رکوع دشروع په
آیت کی تیر سوی دی) هغه لوی مهربانه دی پس دهغه دشان دیوچا پوه څخه پوښتنه کول په کار دی (چی
هغه څنګه دی کافران مشرکان څه پوهیږی او ددی صحیح معرفت دنستوالی په وجه شرك کوی لکه چی
الله ﷻ فرمایی: وَمَا قَدَرُوا اللّٰهَ حَقَّ قَدْرِهِ) او کله چی دی (کافرانو) ته وویل سی چی رحمٰن ته سجده وکی نو
(په وجه دجهل اوعناد) وایی چی رحمٰن څه شی دی (چی مونږ ته دهغه په مخکی دسجدی کولو دپاره وایی)

آیا مونږ هغه ته سجده وکو ذکوم چی ته مونږ ته دسجدی کولو وایی اوپه دی سره دوی نور زیات نفرت شروع کی
(لفظ درحمان په دوی کی ډیر کم مشهور وو مګر داسی نه چی پیژندی یی نه مګر د اسلامی تعلیم سره چی یی کوم

مخالفت زيات سوی وو نوپه محاورو او ويناوو کی به يی هم مخالفت استعمالوی، په قرآن کی چی دالفظ
ډير راغی نو هغو ددی هم مخالفت شروع کی، هغه ذات ډيرلوی عالی شان دی چا چی په آسمان کی لوی
لوی ستوری جوړکړل او (په دغه ستوروکی يی دوه لوی نورانی اوفائده بخښونکی ستوری جوړکړل يعنی)
هغه په (آسمان) کی يو څراغ (يعنی لمر) او نورانی سپوږمۍ جوړه کړه (شايد لمرته يی څراغ په وجه دتيزی
وويل) او هغه داسی دی چاچی شپه او ورځ په يوبل پسی تلونکی راتلونکی جوړکړل (او دا ټول هرڅه کوم
دليلونه دتوحيد او دالله ﷻ دنعمتونو چی ذکر سوه) دهغه سړی (دپوهيدو) دپاره (دی) کوم چی پوهيدل
غواړی ياشکر کول غواړی (چی په دی کی دځان پوهوونکی دپاره دليلونه دی او دشکر کوونکی په نظر
کی انعامات دی) کنه نو .

﴿ اگر صد باب حکمت پيش نادان ﴾ ﴿ بخوانی آيدش بازيچه درگوش ﴾

که دحکمت سل بابونه دکم عقل په مخکی دده دپوهولو دپاره ووايی خوهغه ورڅخه هيڅ فائده نه سی
اخستی ، هغه ته لوبی ښکاری .

معلومات اومسئلي

«د الله ﷻ په مخلوقاتو کي د اسبابو او مسبباتو ديو بل سره تعلق او ددی ټولو دقدرت حق تابع کيدل»

په ذکرسوو آيتونوکی دالله ﷻ دکامل قدرت او پربندگانو دده دانعاماتو اواحساناتو ذکردی په کوموسره چی
دحق تعالی توحيد اودده دعبادت مستحق کيدل اودده سره په عبادت کی دبل چاڅخه شريکول هم ثابتيږی
﴿ اَلَمْ تَرَ اِلٰى رَبِّكَ كَيْفَ مَدَّ الظِّلَّ ﴾ غرمه او سايه دوه داسی نعمتونه دی چی ددې څخه بغير انسانی ژوند او
دده کاروبارنه سی چليدای ، چی هرځای هروخت غرمه غرمه سی نو د انسان او هرحيوان دپاره به څومره
مصيبت جوړسی دا خوظاهره خبره ده ، او دسايی هم دا حال دی ، چی که هرځای هر وخت سايه سايه سی او
هيڅکله غرمه نه راځی نو د انسان صحت او تندرستی نه سی پاته کيدی او په نورو زرگونو کارونو کی به
هم خلل راسی . الله ﷻ دا دواړه نعمتونه په خپل کامل قدرت سره پيداکړل اودانسانانو دپاره يی داموجب
دراحت اوسکون جوړ کړل ، ليکن الله ﷻ په خپل کامل حکمت سره په دی دنياکی پيداکيدونکی ټول
شيان په خاصو خاصو اسبابو پوری مربوط کړی دی چی کله دغه اسباب موجود سی نوداشيان هم
موجودسی اوکله چی نيستی سی نوداشيان هم نيستی سی چی اسباب قوی يازيات وی نودمسبباتو
وجودهم قوی او زيات سی چی دغه کمزوری ياکم وی نومسببات هم کمزوری ياکم سی . دغلی اوگياه
دراټوکولو دپاره يی سبب مخکه، اوبه اوهوا جوړکړی دی درناسبب يی لمراوسپوږمی جوړکړی دی دباران
سبب يی هوا او وريځ جوړکړی دی اوپه دی اسبابو اوپردوی باندی په مرتب کيدونکو اثراتوکی يی داسی
مستحکم اومضبوط ربط جوړکړی دی چی دزرگونو کالو راسی بغير دځه ادنی فرق څخه چليږی . په لمر او
دده په حرکت او دده څخه پرپيداکيدونکو شپه، ورځ، غرمی، اوسايی نظر واچوه نوداسی مستحکم نظام
دی چی په صديو بلکی په زرگونوکلونوکی ديوه منټ بلکی ديوسکنډ فرق نه راځی نه کله دلمر

اوسپوږمۍ وغیره په مشینرئ کی څه کمزوری راځی ، نه کله د دوی د اصلاح اومرمت ضرورت پیښیږی ، دکله څخه چی دنیاپه وجودکی راغلی ده ، په یو انداز او یو رفتار سره چلیږی ، په حساب لګولو سره ترزرګونو کلونو پوری وخت ښوول کیږی .

دسبب او مسبب دا مستحکم نظام کوم چی دالله ﷻ دکامل قدرت عجیبه اونا اشنا شاهکار او دده دکامل قدرت او بالغ حکمت قطعی دلیل دی . ددی استحکام خلق په غفلت کی وغورځول چی ددوی په نظرونو کی صرف دا ظاهری اسباب پاته سول اوداسباب یی دتولوشیانو اوتاثیرونو خالق اومالك وګڼل ، دمسبب الاسباب اصلی قوت کوم چی ددی اسبابو پیداکوونکی دی ، هغه داسبابو په پردوکی پټ سو . په دی وجه انبیاء علیهم السلام اوآسمانی کتابونه انسان باربار په دی خبروی چی لږ نظر لوړ اوتیز کی او د اسبابو دپردو څخه شاته وګوری چی څوك دا نظام چلوی ؟ چی حیققت ته لار پیداکی ، ددی سلسلی دا ارشادات دی کوم چی په ذکرسوو آیتونو کی راغلی دی ، په آیت ﴿ أَلَمْ تَرَ إِلَىٰ رَبِّكَ كَيْفَ مَدَّ الظِّلَّ ﴾ کی یی غافل انسان په دی خبردارکړی دی چی ته روزانه وینی چی سهار دهرشی سایه مغرب طرف ته اوږدیږی ، بیاهغه کمیدل شروع سی ، تردی چی دنیمی ورځی په وخت کی ورك یانیستی سی . بیادزوال څخه وروسته دا سایه په دغه دمه ایز رفتارسره دمشرق طرف ته اوږدیدل شروع سی ، هریوانسان ددی غرمو اوسایو فائدی روزانه حاصلوی او د دوی سترګی وینی چی دا ټول هرڅه دلمر دختو، بیا دلوړیدو اوبیا دپریوتو طرف ته دمائله کیدو لازمی نتیجی او ثمری دی ، لیکن لمر چاپیداکی؟ بیایی تریو خاص نظام لاندی دباقی پاته کولو کار چا وکی؟ داپه سترګو سره په نظر نه راځی ، ددی دپاره دزړه سترګی او بصیرت په کار دی .

په ذکرسوی آیت کی انسان ته دا بصیرت ورکول مقصود دی چی دا دسایو زیاتیدل کمیدل ، که څه هم ستاسی په نظرونوکی دلمر سره تعلق لری ، مګر پردی هم فکر وکی چی لمر په دی شان سره چاپیداکی او دده حرکت تریوخاص نظام لاندی چاباقی پاته کی؟ دچاکامل قدرت چی داهرڅه کړی دی هم هغه په حقیقت کی ددی غرمو اوسایو دنعمتونو ورکوونکی دی که هغه غوښتلی نوداغرمی اوسایی به یی پریو حالت قائم کړی وای ، کوم ځای چی غرمه وه هلته به همیشه غرمه وه کوم ځای چی سایه وه ، هلته به همیشه سایه وه ، مګر دهغه حکمت په انسانی ضرورتونو او فائدو نظر وکی او داسی یی ونه کړل ، د: وَلَوْ شَاءَ لَجَعَلَهُ سَاكِنًا، دا مطلب دی .

د انسان په دی حقیقت دپوهولو دپاره یی دسایی واپس کیدل اوکمیدل په ذکرسوی آیت کی په دی عنوان سره تعبیر فرمایلی دی چی: قَبَضْنَاهُ إِلَيْنَا قَبْضًا يَسِيرًا ، یعنی بیاسایه مونږ خپل طرف ته رانغاړو . داظاهره خبره ده چی الله ﷻ دجسم اوجسمانیت اوجهت اوطرف څخه بالاتر دی . دهغه طرف ته دسایی دراغونډیدو مطلب دا دی چی دهغه په کامل قدرت سره دا ټول کارونه کیږی .

﴿ په شپه کي دخوب اوپه ورځ کي دکار خاص کول هم پرلوی حکمت مبني دی ﴾

وَهُوَ الَّذِي جَعَلَ لَكُمُ اللَّيْلَ لِبَاسًا وَالنَّوْمَ سُبَاتًا وَجَعَلَ النَّهَارَ نُشُورًا په دی آیت کی یی شپه دجامی په لفظ سره

تعبیر کړي ده چې لکه څنګه چې جامه د انسان دټول بدن پټوونکی ده ، دغه رنګه شپه دیوی قدرتي پردي څادردی کومه چې پر ټول کائنات باندی پرده اچوی ، سُبَاتًا دسبت څخه مشتق دی چې اصل معنٰی یې پریکول دی . سبات هغه شی دی په کوم سره چې بل شی پریکړل سی .

خوب الله ﷻ داسی شی جوړکړی دی چې دټولی ورځی دمحنتونو ستړی والی اوکمزوری په دی سره قطع کیږی . فکرونه اوخیالات قطع سی او دماغونو ته آرام ورکول کیږی . په دی وجه دسبات ترجمه په راحت سره کول کیږی ، معنٰی دآیت دا سوه چې مونږ شپه پټوونکی شی جوړکی ، بیا په دی کی یې پرانسان اوپه ټولو حیوانانو خوب مسلط کی کوم چې د دوی دآرام او راحت اسباب دی .

دلته څو شیان دفکر قابل دی ، اول دا چې خوب راحت کیدل بلکی دراحت روح کیدل خو هر سړی پیژنی ، مګر انساني فطرت دا دی چې په رڼا کی خوب ورتلل مشکل وی او که ورهم سی خو سترګی ژر غړیږی ، الله ﷻ دخوب مناسب شپه تیاره هم جوړه کړه اویخه هم ، داسی شپه په خپله یو نعمت دی او خوب دوهم نعمت دی او دریم نعمت دا دی چې دټول جهان د انسانانو اوحیوانانو خوب یې په یو وخت دشپې جبری کی کنه نو که دهریوه انسان دخوب وختونه دنورو انسانانو څخه مختلف وی نو څه وخت چې ځینو خلقو خوب غوښتی ، نور خلق به په کارونو کی مصروف او شور زوږ به یې کوی ، دغه ډول کله چې دنورو دخوب وخت راغی نو ددغه وخت کار کوونکو او تلونکو را تلونکو به د دوی په خوب کی خلل اچوی ، ددی څخه علاوه دهرانسان په زرګونو حاجتونه دنورو انسانانو سره تړلی وی ، دیو بل سره په تعاون او امداد او کارونو کی به سخت حرج راتلی ، چې دچا سره ستا کار دی ، دهغه دخوب وخت دی او کله چې به دهغه دویښیدو وخت راتلی ستابه دخوب وخت کیدی .

که ددی مقصدونو دمکمل کولو دپاره دڅه بین الاقوامی معاهدی څخه یې کار اخستی چې ټول خلق دخپل خوب وخت یو مقرر کړی نو اول خو به داسی معاهده دکوروړنو او اربونو انسانانو په مینځ کی کیدل آسانه نه وه اوبیا په دی دکاربند ساتلو دپاره به په زرګونو محکمی جوړول کیدلی ، ددی باوجودپه عامو معاهداتي قانوني طریقو سره مقرر سوو شیانوکی چې کوم خلل هرځای درشوت رعایت وغیره په سبب سره پیدا کیدای سی ، هغه به بیاهم باقی وای .

الله ﷻ په خپل کامل قدرت سره دخوب یو وخت په جبری طور سره مقرر کړی دی چې هر انسان اوهر حیوان ته په دغه وخت کی خوب راځی که چیری په څه ضرورت سره ویښیدل هم غواړی نو ددې دپاره ډیر په مشکله انتظام کول غواړی : فَتَبَارَكَ اللّٰهُ أَحْسَنُ الْخَالِقِيْنَ .

دِغه ډول : وَجَعَلَ النَّهَارَ نُشُورًا ، کی یې ورځی ته نشور یعنی ژوند وفرمایی څکه چې ددې مقابل یعنی خوب یو.قسم مرګ دی او دا دژوند وخت یې هم دټولو انسانانو دپاره په جبری طورسره یو وخت مقرر کی ، کنه نو څه کارخانی او دکانونه به دورځی بند وو دشپې به خلاصیدل او کله چې به هغه خلاصیدل ، نور به بندیدل په دی لحاظ سره به په دواړو کی کاروباری مشکلات را پیښیدل .

ځنګه چې شپه یې دخوب دپاره مخصوصه کړه او یو لوی انعام ورته حق تعالی وفرمایی دغه ډول نور ضرورتونه دژوندکوم چې دیوبل سره اشتراك غواړي دهغوی دپاره هم په تقریبي طور سره داسې متحد او مشترك وخت مقرر سو، مثلاً دلوږې او خوراك ضرورت سهار اومابنام یومشترك کار دی ، دټولو سره په دې وختونوکې ددې فکروی چې ددې په نتیجه کې ټول ضرورتونه دهریوه دپاره فراهم کول آسان وی . دخوراك هوټلونه اودکانونه په دې وختونوکې دخوراك چښاك دشیانو څخه ډك ښکاري . په هرکور کې دا وختونه دخوراك دمصروفیت دپاره متعین دي . دا هم یو ډیر لوی نعمت دی کوم چې حق تعالی په خپل حکمت بالغه سره په فطري طور دانسان په طبیعت کې ایښی دی .

وَأَنزَلْنَا مِنَ السَّمَاءِ مَاءً طَهُورًا دطهور لفظ په عربي ژبه کې دمبالغې صیغه ده . طهور هغه ته ویل کیږي کوم چې په خپله هم پاك وی او نور شیان هم په دې سره پاکیږي، الله ﷻ اوبو ته دا خاص صفت ورکړی دی ، چې ځنګه دا په خپله پاك دی ، دغه ډول په دې سره نور هرقسم پلیتي حقیقي اومعنوي هم لیرې کیږي اوکومې اوبه چې انسانان استعمالوي هغه په عام طور سره هغه اوبه دي کومې چې دآسمان څخه نازلیږي، کله دباران په صورت کې ، کله دواوری اوږلې په صورت کې ، بیا دا اوبه دغرونو درګونو په ذریعه دقدرتي پائپ لائنونو په صورت کې په ټوله مځکه کې غوړیږي ، کوم چې یوځای په خپله دچینوپه صورت کې راوزي پرمځکه بهیږي اویوځای مځکه کیندل کیږي اودڅاهانو په صورت کې را ایستل کیږي، دا ټولې اوبه په خپل ذات کې پاکې اونور شیان پاکوونکې دي ، په دې باندې دقرآن اوسنت نصوص هم ناطق دي او دامت اجماع پرهم ده .

دا اوبه کله چې په ډیر مقدار کې وی ، لکه دتالاب ، حوض ، نهر اوبه په دې کې چې څه پلیتي هم ولویږي، نو نه پلیتیږي، په دې هم دټولو اتفاق دی ، په دې شرط چې په اوبوکې دپلیتي اثر ظاهر نه وی . او ددې رنګ، خوند، بوی بدل سوی نه وی ، لیکن که اوبه لږ وی او پلیتي په کې ولویږي نو دهغه څه حکم دی ؟ په دې مسئله کې دمجتهدینو امامانو اختلاف دی . دغه ډول د اوبو په ډیر او لږ مقدار مقررولو کې اقوال مختلف دي . په تفسیر مظهري او قرطبي کې دلته د اوبو متعلق ټولې مسئلې په تفصیل سره لیکل سوی دي او دا مسئلې په عامو کتابونو دفقهې کې هم ذکر دي ، په دې وجه دلته یې دنقل کولو ضرورت نسته .

وَنُسْقِيَهُ مِمَّا خَلَقْنَا أَنْعَامًا وَأَنَاسِيَّ كَثِيرًا ، أَنَاسِيَّ ، د إِنسِيٌّ جمع ده ، او ځینو فرمایلي دي چې د انسان جمع ده په آیت کې یې دابنوولې ده چې دآسمان څخه په نازل سوو اوبو الله ﷻ مځکه هم اوبه کوي، حیوانان هم اوډیرانسانان هم دلته دا خبره دفکر قابله ده چې ځنګه حیوانان ټول په دې اوبو باندې سیراب کیږي ، دغه ډول انسانان هم ټول په دې اوبو سیراب کیږي او فائده ورڅخه اخلي بیاپه دې کې دا تخصیص چې ډیرانسانان سیراب کوی ، په دې سره خو دا لازمیږي چې ډیر انسانان ددې دسیراب کیدو څخه محروم او جلاوی ، ددې جواب دا دی چې دلته د ډیرو انسانانو څخه دځنګل هغه اوسیدونکي مراد دي دکومو چې په عام طور سره ګذاره دباران په اوبوباندې وی. دښارونو اوسیدونکي خودنهرونو اوڅاهانوپه خواکې وی، دباران انتظارنه کوی .

وَلَقَدْ صَرَّفْنٰهُ بَيْنَهُمْ مطلب دآيت دا دی چی باران مونږ بدلوو رابدلوو، کله په يوښار کله په بل، حضرت ابن عباس رضی الله عنه فرمايي چي داکومه چي په خلقو کی مشهوريږی چي په دی کال کی به باران زيات وی اوپه دی کال کی به کم وی، دا دحقيقت په اعتبار سره صحيح نه ده، بلکی دباران اوبه خو هرکال دالله ﷻ دطرف څخه يوشان نازليږی، البته دالله ﷻ په حکم داسی کيږی چی ددې مقدارپه يوښار ياعلاقه باندی زياتوی پر يوې بی کموی، ځيني وخت په کی کمی وکړی اوددغه علاقی خلقوته سزا ورکول اوخبرداړول يی وی او ځيني وخت يې زياتول هم عذاب جوړسی، نو دا اوبه کمی چی خالص رحمت دی، دهغو خلقو دپاره دا عذاب او سزا جوړه کړی کوم چی دالله ﷻ نافرمانی او ناشکری کوی.

(په قرآن سره جهاد يعني دقرآن دعوت کول لوی جهاد دی)

وَجَاهِدْهُمْ بِهٖ جِهَادًا كَبِيرًا، دا آيت مکی دی، کله چی احکام دکفارو سره دجنگ او قتال نه وه نازل سوی. په دی وجه دلته جهاد يی د: بِهٖ، سره مقيد کی. د، بِهٖ، ضمير دقرآن طرف ته راجع دی، معنی دآيت دا ده چی دقرآن په ذريعه د اسلام دمخالفينو سره جهاد کوه لوی جهاد. دقرآن په ذريعه ددی جهاد مطلب دده د احکامو تبليغ او دخدای دمخلوق دی طرف ته دمتوجه کولو هرکوشش دی، برابره خبره ده که په ژبه سره وی ياپه قلم سره ياپه نورو طريقو سره، دی ټولو ته يی دلته جهاد کبير فرمايلی دی.

وَهُوَ الَّذِي مَرَجَ الْبَحْرَيْنِ هٰذَا عَذْبٌ فُرَاتٌ وَهٰذَا مِلْحٌ أُجَاجٌ وَجَعَلَ بَيْنَهُمَا بَرْزَخًا وَحِجْرًا مَحْجُورًا، لفظ د، مَرَجَ، دآزاد پريښودو په معنی کی راځی، په دی وجه سره، مَرَجَ چراګاه ته وايی، کوم ځای چی حيوان په آزادی سره ګرځی راګرځی، عَذْب، خوږو اوبو ته ويل کيږی، فُرَات، خوندناکی او مزيداری. مِلْحٌ مالګينی، أُجَاجٌ، تيزی او ترخی.

الله ﷻ په خپل فضل او بالغ حکمت سره په دنياکی دوه قسمه دريابونه پيداکړی دی، يو دټولو څخه لوی بحرمحيط کوم ته چی سمندر وايی او دمځکی ټول اطراف په دی کی راګير دی، څلورمه حصه ددی څخه خالی ده چی ټوله دنيا پرآباده ده. دا ټول درياب دحکمت په تقاضا سره سخت مالګين تريخ اوبدخونده دی دمځکی پرآباده حصه دآسمان څخه دنازلو سوو اوبوچينی نالی نهرونه اولوی لوی سيندونه دی. دا ټولی خوږی مزيداری او خوندوری دی. انسان ته دخپلو چښلو او تندی ماتولو او روزانه استعمال دپاره دداسی خوږو اوبو ضرورت دی کوم چی الله ﷻ دمځکی پرآباده حصه باندی په مختلفو صورتونو کی تياری کړی دی، ليکن بحر محيط سمندر که خوږ وای نو دخوږو اوبو دا خاصيت دی چی ډيری ژر بدبويي کيږي، خاصکر سمندر په کوم کی چی دوچی دآبادی څخه زيات دريايی انسانان او حيوانان آباد دی، کوم چی هلته مری او ورستيږی اوخاوری کيږی او دټولی مځکی اوبه اوپه دی کی بهيدونکی ټولی ګندګی هم آخر سمندرته لويږی، که دا اوبه خوږی وای نو په دوو څلور ورځو کی به ورستی سوی وای او چی دا ورستی سوی وای نو د دوی دبدبويي په وجه به دخلقو ژوند پردی مځکه مصيبت سوی وای. په دی وجه حکمت خداوندی دا اوبه دومره سختی مالګينی اوترخی اوتيزی جوړی کړی چی دټولی دنيا ګندګی دی ته ولاړی سی او ختمی سی او

په خپله په دی کی اوسیدونکی مخلوق هم په دی کی مری او ورستیږی نه .
په ذکرسوی آیت کی یو خو ددی انعام او احسان ذکر دی چی دانسان دضرورت په لحاظ سره یی دوه قسمه دریابونه پیدا کړل . دوهم ددی کامل قدرت چی کوم ځای دخوږو اوبو سیند یانهر سمندرته لویږی اوخوږی اوترخی اوبه دواړی یوځای کیږی ، هلته دالیدل کیږی چی په میلونو باندی ترلیری پوری داسی پیوستی روانی وی چی یوطرف ته خوږی اوبل طرف ته ترخی او دیوبل سره نه یوځای کیږی ، حال دا دی چی ددی دواړو په مینځ کی څه پرده نه وی .
وَهُوَ الَّذِي خَلَقَ مِنَ الْمَاءِ بَشَرًا فَجَعَلَهُ نَسَبًا وَصِهْرًا نسب هغه رشتی اوخپلولی ته ویل کیږی کوم چی دپلار یا دمور دطرف څخه وی او ، صهر ، هغه رشته او تعلق دی کوم چی دښځی دطرف څخه وی اوکوم ته چی په عرف کی خسرگنی ویل کیږی . دا ټول تعلقات او خپلولی دالله ﷻ ورکول سوی نعمتونه دی کوم چی د انسان دښه ژوند دپاره لازمی دی یوازی بنده دهیڅ کار هم نه وی .
قُلْ مَا أَسْأَلُكُمْ عَلَيْهِ مِنْ أَجْرٍ إِلَّا مَنْ شَاءَ أَنْ يَتَّخِذَ إِلَىٰ رَبِّهِ سَبِيلًا یعنی تاسی ته د ایمان دعوت او د الله ﷻ احکام رسول او په دنیا او آخرت کی ستاسی دپاره دفلاح په کوشش کولو کی زما هیڅ دنیوی فائده نسته ، زه دخپل دی محنت ستاسی څخه هیڅ اجر اومعاوضه نه غواړم . زما فائده ددی څخه ماسوا نوره هیڅ نسته چی دچازړه غواړی دالله ﷻ لار اختیار کړی او دا ظاهره ده چی څوك پرلاره سی نوفائده دده ده. داخپله فائده گڼل دپیغمبرانه شفقت طرف ته اشاره ده چی زه ستاسی فائده خپله فائده گڼم، داداسی ده لکه یو بوډا ضعیف پلار چی اولاد ته ووایی چی تاسی خوری چښی اوخوشحاله اوسیږی دا زما خوړل چښل او زما خوشحالی ده او داهم احتمال دی چی دا یی خپله فائده په دی لحاظ سره فرمایلی وی چی ثواب به یی ده ته ورکول کیږی ، لکه چی په صحیح احادیثو کی راغلی دی چی کوم سړی چاته دنیکو کارونو هدایت کوی او هغه دده په وینا دغه نیك عمل وکی ، نو ددی عمل ثواب په خپله دی کوونکی ته هم پوره پوره ورکول کیږی او دغومره ثواب به هدایت کوونکی سړی ته هم ورکول کیږی (مظهری)
فَاسْأَلْ بِهِ خَبِيرًا یعنی د آسمانونو اومځکو پیدا کول بیا دخپل شان مطابق پردغو جلوه افروز کیدل ټول دالله رحمان کار دی ددی تصدیق او تحقیق که غواړی نو دیو چا خبردار څخه پوښتنه وکی ، دخبردار څخه مراد حق تعالی یاجبرائیل امین دی او دا هم احتمال دی چی ددی څخه مراد دتیرو کتابونو عالمان وی کومو ته چی دخپلو خپلو پیغمبرانو په ذریعه ددی اطلاع ورکول سوي ده (مظهری)
قَالُوا وَمَا الرَّحْمَٰنُ لفظ د ، رحمن دعربی ژبی لفظ دی ، ددی معنی ټولو عربو ته معلومه وه ، مگر دالفظ به هغوی دالله ﷻ دپاره نه استعمالوی په دی وجه یی دلته داسوال وکی چی رحمان څوك اوڅه دی؟
تَبَارَكَ الَّذِي جَعَلَ فِي السَّمَاءِ بُرُوجًا وَجَعَلَ فِيهَا سِرَاجًا وَقَمَرًا مُنِيرًا (٦١) وَهُوَ الَّذِي جَعَلَ اللَّيْلَ وَالنَّهَارَ خِلْفَةً لِمَنْ أَرَادَ أَنْ يَذَّكَّرَ أَوْ أَرَادَ شُكُورًا مقصود ددی آیتونو څخه انسان ته دا ښوول دی چی مونږ په آسمان کی لوی

لوی ستوری اولمر اوسپوږمی او ددی په ذریعه دورځی اوشپی بدلیدل او ددی تیاره اورڼا او دمځکی او آسمان ټول کائنات په دی وجه پیداکړی دی چی فکر کوونکی ته په دی کی دالله ﷻ دکامل قدرت او دتوحید دلیلونه فراهم سی او شکر گزارو ته دشکر موقع ورکړل سی ، نودکوم سړی وخت چی په دنیاکی ددی دواړو شیانو څخه خالی تیرسو، دهغه وخت ضائع سو او دده رأس المال هم فناسو (یا الله مونږ ذکر کوونکی اوشکر کوونکی جوړکړی، آمین)

ابن عربی رحمه الله فرمایی چی دما دشهید اکبر څخه او ریدلی دی چی په لوی غبن اوخساره کی دی هغه سړی دچاعمر چی شپیته کاله سو، په دی کی نیم وخت دیرش کاله دشپی په خوب کی تیر سوه اوشپږمه حصه یعنی لس کاله دورځی په آرام کولوکی تیرسوه، نو دشپیتو څخه صرف شل کاله په کار کی ولگیدل .

قرآن کریم دلته دلویو لویو ستورو اوفلکیاتو دذکرکولو څخه وروسته داهم وښوولهٔ چی قرآن ددی شیانو ذکر بار بار ځکه کوی چی تاسی ددی په پیدائش او ددوی په حرکاتو ددوی څخه په پیدا کیدونکی ښتانو کی فکر وکی ، ددوی پیدا کوونکی اوچلوونکی وپیژنی او په شکر گزاری سره هغه یادکی . پاته سوه دا مسئله چی د اسمانی اجرامو او فلکیاتو حقیقت اوهیئت څه دی ؟ چی دا دآسمان په وجود کی دننه ځای سوی دی او که په دباندی فضاء کی دی؟ د انسان دمعاش یامعاد هیڅ مسئله ددی سره تړل سوی نه ده ، او ددی حقیقت معلومول د انسان دپاره اسانه هم نه دی ، کومو خلقو چی خپل عمرونه په دی کارکی صرف کړی دی ، دهغو د اقرارڅخه ثابته ده چی هغوی هم څه قطعی او آخری فیصله نه ده کړی اوکومه فیصله چی یی کړې ده ، هغه هم په خپله دنورو حکماوو مخالفو تحقیقاتو مخدوشه او مجروحه کړی ده . په دی وجه دقرآن په تفسیرکی ددی څخه په زیات بحث کی پرېوتل هم څه دقرآن ضروری خدمت نه دی ، لیکن ددی زمانی ماهرانو دسائنس دمصنوعی سیارو الوزول اوسپوږمی ته په رسیدو او دهغه ځای څخه دخاورو اوډبرو اوغارونو او غرونودتصویرانو په فراهم کولو کی بی شکه چی حیرانوونکی کارنامی کړی دی .

مگر افسوس دا دی چی قران حکیم ددی شیانو څخه انسان ته دکوم حقیقت شناسی سبق ورکول غواړی ، خلق دخپلو تحقیقی کوششونو په غرورکی مست سول او ددی څخه ډیر زیات لیری ولاړل اودعامو خلقو ذهنونه یی هم په ډیره بده طریقه په تشویش کی وغورځول ، چا دا شیان دقرآن څخه خلاف وګڼل او دمشاهداتوڅخه یی انکاروکی اوځوك په قرآن کریم کی تاویلونه کوی . په دی وجه ضروری معلومه سوه چی په قدر دضرورت په تفصیل سره دامسئله واضحه سی. دسورة حجر دآیت: وَلَقَدْجَعَلْنَافِي السَّمَاءِ بُرُوجًا،لاندی ددی وعده سوی وه چی په سورة فرقان کی به ددی تفصیل ولیکل سی، هغه دالاندی دی. وَاللهُ الْمُوَفِّقُ .

(ستوری او سیاری په آسمانونوکي دننه دي اوکه دباندي دپخواني او نوي علم هيئت نظريي اوقرآني ارشادات)

دجَعَلْنَافِي السَّمَاءِ بُرُوجًا، دالفاظو څخه په ظاهره دا ګڼل کیږی چی دابروجونه یعنی ستوری په آسمانونو کی دننه دی ځکه چی، فی، صرف دظرفیت دپاره استعمالیږی، دغه ډول په سورة نوح کی دی . أَلَمْ تَرَوْا كَيْفَ خَلَقَ اللهُ سَبْعَ سَمٰوَاتٍ طِبَاقًا وَجَعَلَ الْقَمَرَ فِيهِنَّ نُورًا وَجَعَلَ الشَّمْسَ سِرَاجًا، په دی کی دفِيهِنَّ، ضمیر دسَبْعَ سَمٰوٰتٍ طرف ته راجع دی،

چې په ظاهره ددې څخه دا مطلب اخیستل کیږي ، چې سپوږمۍ په آسمانونو کې دننه ده ، لیکن دلته دوې خبرې دفکر قابلې دي ، اول دا چې په قرآن کریم کې لفظ د ،سماء، څنګه چې دې عظیم الشان او د وهم او ګمان څخه دزیات لوې مخلوق دپاره استعمالیږي ، په کوم کې چې دقرآن دوضاحتونو مطابق دروازې دي او په دروازو دملائکو پهرې دي ، کوم چې په خاصو خاصو وختونو کې خلاصیږي او دکومو شمار چې قرآن اووه ښوولې دي . دغه ډول دا لفظ د ، سماء، هرلوړ شي ته کوم چې دآسمان طرف ته وي ، هغه ته هم ویل کیږي ، دآسمان او دمځکې دمینځ فضاء او ددې څخه مخ ته چې ددن صبا په اصطلاح کې ورته، خلا ، ویل کیږي. دا ټول دبلې معنٰی په اعتبار سره دلفظ د، سماء، په معنٰی کې داخل دي .

وَاَنْزَلْنَا مِنَ السَّمَاءِ مَاءً طَهُوْرًا اودغه ډول نور آیتونه چې دآسمان څخه په کې داوبو اورولو ذکردی ، دا اکثرو تفسیر لیکونکو پردې دوهمه معنٰی باندې محمول کړي دي . څکه چې دعامو مشاهداتو څخه هم دا ثابته ده چې باران ددې وریځو څخه اوریږي کوم چې دآسمان دبلندۍ سره هیڅ تعلق نه لري ، اوپه خپله قرآن کریم هم په نورو آیتونوکې دوریځو څخه د اوبو اورولو وضاحت فرمایلی دی ارشاد دی : ءَاَنْتُمْ اَنْزَلْتُمُوْهُ مِنَ الْمُزْنِ اَمْ نَحْنُ الْمُنْزِلُوْنَ ، په دې کې مُزْن، دمُزْنَةٌ جمع ده چې معنٰی یې سپینه وریځ ده . معنٰی دا ده چې آیا باران دسپینو وریځو څخه تاسې نازلوی اوکه مونږ . بل ځای ارشاد دی : وَاَنْزَلْنَا مِنَ الْمُعْصِرَاتِ مَاءً ثَجَّاجًا، په دې کې دمعصرات معنٰی د اوبو څخه ډکه وریځ ده اومعنٰی دآیت دا ده چې مونږ د اوبو څخه ډکو وریځوڅخه ډېرې اوبه را وورولې . دقرآن کریم ددې واضحو ارشاداتو اوعامو مشاهداتو پربنا باندې په کومو قرآني آیتونو کې چې دباران دآسمان څخه اورول ذکر دی ، په دې کې اکثرو مفسرینو دلفظ دسماء دا دوهمه معنٰی مراد اخستې ده یعنې آسماني فضاء .

لنډه دا ده چې کله دقرآن کریم او دلغت دوضاحتونو مطابق لفظ د،سما، دآسمان فضاء ته هم ویل کیږي او په خپله دآسمان بدن ته هم، نوپه داسې صورت کې په کومو آیتونوکې چې دستورو دپاره د، فِي السَّمَاءِ، لفظ استعمال سوی دی ، ددې په معنٰی کې دواړه احتماله موجود دي چې دا ستورې اوسیارې دآسمان په وجودکې دننه وي یاپه آسماني فضاء کې ترآسمانونو لاندې وي او د دواړو احتمالونو په موجودګۍ کې څه قطعي فیصله دقرآن طرف ته نه سي منسوب کولای چې قرآن ستورې اوسیارې دآسمان دننه مقررکړي دي یایې دباندې په آسماني فضاء کې،بلکې دقرآن دالفاظوپه اعتبار سره دواړه صورتونه ممکن دي . دکائناتو دتحقیق تجربې او مشاهدې څخه چې کوم صورت هم ثابت سي ، دقرآن یو وضاحت هم ددې منافي نه دی .

(کونیه حقیقتونه اوقرآن)

دلته یوه خبره په أصولي طور سره پیژندل ضروري دي چې قرآن کریم څه دفلسفې یاهیئت کتاب نه دی چې دبحث موضوع یې دکائناتو حقیقتونه یاد آسمانونو اوستورو دهیئت اوحرکتونو وغیره بیان وي ، مګر ددې سره دغه دآسمانونو اومځکو او د دوې په مینځ کې دکائناتو ذکر باربار کوي ، په دې کې دفکر طرف

ته دعوت هم ورکوی. دقرآن کریم په دی تولو آیتونو کی دفکر کولو څخه په واضح طور سره داثابتیږی چی قرآن کریم ددی کونی حقیقتونو متعلق انسان ته صرف هغه شیان ښوول غواړی، دکومو تعلق چی دده دعقیدی او نظر یی دصحیح کیدو سره وی یادده دینی او دنیوی نفعی ورسره متعلق وی، مثلاً قرآن کریم دآسمان اومځکی اوستورو اوددی دحرکتونو اود حرکتونو دپیدا کیدونکو آثارو ذکر باربار یو خو په دی مقصد سره کړی دی. چی انسان دی عجیبه اونا اشنا صنعت او مافوق العادات آثاروته وګوری اودایقین وکی چی داشیان خود بخوده نه دی پیداسوی، ددی پیدا کوونکی یوځوك دټولو څخه لوی حکیم دټولو څخه علیم اودټولو څخه لوی صاحب دقدرت او قوت دی او ددی یقین دپاره دا هیڅکله ضروری نه ده چی دآسمانونو اوفضایی مخلوقاتو اوستورو اوسیارو دمادو حقیقت او ددوی اصلی صورت اوهیئت او ددی دټول نظام پوره کیفیت ده ته معلوم وی بلکی ددی دپاره صرف دومره کافی ده کوم چی هرسړی په مشاهده سره وینی اوپوهیږی باندي چی دلمر سپوږمۍ اونورو ستورو کله په ښکاره کیدو اوکله په پټیدو سره دارنګه دسپوږمۍ په کمیدو زیاتیدو سره او د ورځی اوشپی په بدلیدو سره بیا دمختلفو موسمونو اوپه مختلفو ملکونوکی دشپی او ورځی په کمیدو یازیاتیدوکی عجیبه اونا آشنانظام چی په زرګونو کلونوکی په کی دیو منټ، یوسیکنډ فرق هم نه راځی، په دی ټولو کارونو سره دیو ادنی عقل او پوه لرونکی انسان په دی یقین کولو مجبوره کیږی چی دا ټول حکیمانه نظام دغسی دخانه نه چلیږی، څوك ددی جوړونکی، چلوونکی اوباقی پاته کوونکی سته او د دومره پوهی دپاره انسان ته نه دڅه فلسفی تحقیق اودآلاتو رصدیو وغیره څه حاجت راځی او نه قرآن ددی طرف ته دعوت ورکړی دی. دقرآن دعوت صرف تر هغه حده پوری په دی شیانو کی دغور او فکر دی کوم چی په عامی مشاهدی اوتجربی سره حاصلیدای سی. دا وجه ده چی نبی کریم ﷺ اوصحابه کرامو رض دآلاتو رصدیو دجوړولو یامهیا کولو اود آسمانی اجرامو دهیئتونو معلومولو مطلقًا څه اهتمام نه دی فرمایلی. که دکونیو په دی آیتونو کی دتدبر اوفکر دامطلب وی چی ددی حقیقتونه اوهیئتونه او ددی دحرکتونو فلسفه دی معلومه سی، نودا ناممکنه وه چی نبی کریم ﷺ به ددی اهتمام نه فرمایی. خاصکر کله چی ددی فنونو درواج او تعلیم او زده کړی سلسله په دنیا کی هغه وخت هم موجوده وه. مصر، شام، هندوستان، چین وغیره کی ددی فنونو پوهیدونکی اوپه دی کار کوونکی موجود وه. دحضرت مسیح ﷺ څخه پنځه سوه کاله مخکی دفیثاغورس او دده څخه څه وروسته دبطلیموس نظریه په دنیاکی غوړول سوی وه، او دهغه زمانی دحالاتو مناسب درصد آلات هم ایجاد سوی وه، مګر په کوم پاك ذات چی دا آیتونه نازل سول او کومو اصحابو کرامو چی بلا واسطه د دوی څخه دا ویل، دوی هیڅکله دی طرف ته توجه هم ونه کړه. ددی څخه په قطعی طور معلومه سوه چی په دی کونیه آیتونو کی دتدبر او فکر هغه منشاء هیڅکله نه وه کومه چی نن صبا ځینو نوو خیالاتو خوښوونکو عالمانو کوم چی دیو ریپانو دتحقیقاتو څخه متاثره سوی دی، اختیار کړی یی ده چی خلایی سفر سپوږمۍ مریخ او زهری ته کمندونه غورځول اوکوششونه یی کول دقرآن کریم تقاضا پوره کول دی.

بس صحیح خبره دا ده چې قرآن کریم نه دې فلسفي او سائنسي نوو اوزړو تحقیقاتو طرف ته خلقو ته دعوت ورکوي اونه دهغه سره بحث کوي اونه یې مخالفت کوي . دقرآن کریم حکیمانه اصول او اسلوب دکائناتو او مخلوقاتو متعلق دټولو فنونو په باره کې دا دی چې هغه دهر فن دشیانو څخه صرف دومره قدر را اخلي اوبیانوي څومره چې د انسان دیني یادنیوي ضرورت سره تعلق لري ، اوکوم چې انسان په آساني سره حاصلولای هم سي او دکومو په حاصلولو چې تخمیناً ده ته اطمینان هم کیدای سي، په بې کاره فلسفیانه بحثونو او داسې تحقیقاتو سره کوم چې دعامو انسانانو دمنع څخه دباندې دي او دکومو دحاصلولو څخه وروسته چې په قطعي طور سره دا نه سي ویلای چې دا صحیح ده بلکې حیراني او شکونه زیاتیږي . په داسې بحثونوکې انسان نه مبتلوي ځکه چې دقرآن په نظرکې دانسان منزل مقصود ددې ټولو زمیني او آسماني کائناتو څخه مخ ته دخپل خالق په مرضیاتو باندې تلل اودجنت دائمي نعمتونه اوراحتونه حاصلول دي . دکائناتو دحقیقتونو بحث نه دده دپاره ضروري دي او نه په دې باندې پوره عبور دانسان په وس کې دي . دهرې زماني دفلاسفرانو او دفلکیاتو دماهرینو په نظریاتوکې سخت اختلافات او د روزانه نوو نوو تحقیقاتو څخه دا واضح دلیل را وزي چې یوې نظریې اوتحقیق ته یقیني او آخري نه سي ویل کیدی . د انساني ضرورت سره متعلق ټول فنون، فلکیات، کائنات، فضا، وریځ، باران، خلا، دمځکې طبقې ، بیا پر مځکه دپیدا کیدونکي مخلوقات ، جمادات ، نباتاتو ، حیواناتو څخه او دعالم انسان او د انساني علومو او فنونو ، تجارت ، زراعت ، صنعت وغیره څخه ، ددې ټولو څخه قرآن کریم د دوی روح او مشاهداتي حصې صرف دومره قدر اخلي دکوم سره چې د انسان دیني یادنیوي ضرورت متعلق دی ، دبې کاره تحقیقاتو په بوخت کولو کې انسان نه مبتلوي ، البته دځینو ځینو خاصو مسئلو طرف ته اشاره یاوضاحت هم پیدا کیږي .

﴿ دقرآن په تفسیر کې دفلسفي نظریاتو دموافقت یامخالفت صحیح معیار ﴾

نوې او زاړه اهل حق علماء په دې باندې متفق دي چې ددې مسئلو متعلق کومه خبره چې دقرآن شریف څخه په یقیني توګه سره ثابته ده . که یوه زړه یانوې نظریه ددې څخه مختلفه وي نو په دې وجه په قرآني آیتونو کې اړول را اړول یاتاویل کول جائز نه دي ، دغه نظریې ته به مغالطه وویل سي ، البته په کومو مسئلو کې چې دقرآن حکیم څه وضاحت موجود نه وي ، دقرآن کریم په الفاظو کې د دواړو معانیو ګنجائش وي ، هلته که په مشاهدو او تجربو سره یوې نظریې ته قوت حاصل سي ، نو دقرآن آیتونه هم په هغه معنٰی محمول کولو کې څه باك نسته . لکه په دې آیت : فِي السَّمَآءِ بُرُوْجًا، کې چې دي . چې قرآن کریم په دې باره کې څه واضحه فیصله نه ده کړې چې ستورې په آسمان کې دننه دي اوکه دباندې په آسماني فضاء کې دي . نن صباهرکله چې خلایي تجربو دا ثابته کړه چې ستورو ته رسیدل کیدای سي نو په دې سره دفیثاغور سي نظریې تائید وسو چې ستورې په آسمانونو کې پیوست نه دي ځکه چې دقرآن کریم او واضحو احادیثو په وضاحت سره آسمان یوه داسې قلعه ده چې دروازې په کې دي او پردروازو دملائکو پهره ده چې هرسړی نه

سي ورته دا خليداى . ددې مشاهدې او تجربې پربنا به د ذکرسوې آيت دا معنٰى مقررېږي چې ستورې په آسماني فضاء کې پيدا سوې دي او دا څه تاويل نه دى بلکې د دوو مطلوبونو څخه يو مطلب متعين کول دي . ليکن که څوك دسره دآسمانونو دوجود څخه انکارکوي ، لکه ځينې نوې هيئت دانان چې وايې ياڅوك دا دعوی وکې چې دراکتونو او هوايي جهازونو په ذريعه آسمانونو ته دننه دا خليداى سي نو دقرآن په روسره به دا دعوى غلطه ګڼل کيږي ځکه چې قرآن کريم په ډيرو آيتونو کې دا خبره په واضح طور سره ښوولې ده چې په آسمانونو کې دروازې دي او دغه دروازې په خاصو خاصو حالاتوکې خلاصيږي ، پردې دروازو باندې دملائکو پهره ولاړه وي . په آسمانونو کې داخله دهرسړي چې کله غواړي نه سي کيداى ، ددغه دعوى په وجه سره په دې آيتونوکې څه تاويل نه سي کيدى ، دغه دعوى به غلطيږي .

دغه ډول کله چې دقرآن کريم دآيت : كُلٌّ فِي فَلَكٍ يَسْبَحُونَ ، څخه دستورو حرکت کول ثابت دي نو په دې معامله کې به بطليموسي نظريه غلطه ګڼل کيږي دکوم په روسره چې ستورې دآسمان په جرم کې پيوست دي دغه په خپله حرکت نه کوي ، بلکې دآسمان دحرکت تابع ددې حرکت کيږي .

ددې څخه معلومه سوه چې په پخوانيو مفسرينو کې ځينې خلق کوم چې دفلکياتو متعلق دبطليموس دنظريې معتقد وه دوې دقرآن په دې آيتونوکې دتاويلاتو څخه کار واخستې په کومو سره چې د بطليموس دنظريې خلاف څه بل شى ګڼل کيدى دغه ډول دنن صباځينې مصنفين چې کوم آيتونه دنوې هيئت دنظرياتو څخه مختلف ګڼي ، په دغوکې تاويلات کوي او دهغه دمطابق کولو فکرکوي دا دواړه صورتونه درست نه دي او دسلف صالحينو دطريقو څخه خلاف او قابل ترديد دي ، البته واقعه دا ده چې تردې وخته پورې جديد هيئت چې کوم نوې تحقيقات پيش کړي دي ، په دې کې دآسمانونو د انکار څخه ماسوا هيڅ هم دقرآن او سنت څخه خلاف نسته . ځينې خلق دخپل علم په قصور سره هغه دقرآن ياسنت خلاف ګڼي اوپه تاويلاتو پسې کيږي .

ددې زمانې دټولو څخه لوى مفسر دقرآن سيد محمود آلوسي بغدادى رحمه الله عليه دکوم تفسير روح المعاني چې دټيرو عالمانو دتفاسيرو بهترين خلاصه اوپه عربو عجمو، مشرق اومغرب کې مقبول اومستند تفسيردى ، موصوف لکه څنګه چې دقرآن او احاديثو يو ژور عالم دى ، دغه شان دنوى اوزړې فلسفې او هيئت هم لوى عالم دى . دوى په خپل تفسيرکې دفلسفې تحقيقاتو متعلق هغه اصول مقررکړي دي کوم چې لوړ ذکرسوي دي او د دوى لمسى علامه سيدمحمود شکري آلوسي په دې مسئلوکې يومستقل کتاب ليکلى دى په نامه د: مَادَلَّ عَلَيْهِ الْقُرْآنُ مِمَّا يَعْضُدُ الْهَيْئَةَ الْجَدِيْدَةَ الْقَوِيْمَةَ الْبُرْهَانِ، په دې کې يې دجديد هيئت دنظرياتو تائيد دقرآن کريم په رڼاکې کړى دى . مګر دنورو تجدد پسندو عالمانو په شان يې دقرآن کريم په آيتونوکې څه قسم تاويل روانه دى درلودلى ، دهغه يو څو جملې دلته نقل کول کافي دي کوم چې يې دجديد هيئت په تائيد کې ليکلي دي ، هغه فرمايي .

﴿ رَأَيْتُ كَثِيرًا مِّنْ قَوَاعِدِهَا لاَ يُعَارِضُ النُّصُوْصَ الْوَارِدَةَ فِي الْكِتَابِ وَالسُّنَّةِ عَلَى أَنَّهَا لَوْ خَالَفَتْ شَيْئًا مِّنْ ذٰلِكَ لَمْ يُلْتَفَتْ إِلَيْهَا وَلَمْ نُؤَوِّلِ النُّصُوْصَ لِأَجْلِهَا وَالتَّأْوِيْلُ فِيْهَا لَيْسَ مِنْ مَذَاهِبِ السَّلَفِ الْحَرِيَّةِ بِالْقَبُوْلِ بَلْ لاَ بُدَّ أَنْ لِّقَوْلِ أَنَّ الْمُخَالِفَ لَهَا مُشْتَمِلٌ عَلَى خَلَلٍ فِيْهِ فَإِنَّ الْعَقْلَ الصَّرِيْحَ لاَ يُخَالِفُ النَّقْلَ الصَّحِيْحَ بَلْ كُلٌّ مِّنْهُمَا يُصَدِّقُ الْآخَرَ وَيُؤَيِّدُهُ مَادَلَّ عَلَيْهِ الْقُرْآن ﴾

مادنوی هئیت ډیری قواعدی ولیدی هغه دقرآن او سنتو دنصوصو څخه خلاف نه دی او ددې باوجود که هغه دقرآن او سنت دڅه نص څخه خلاف وی نو مونږ دهغه طرف ته نه سو کتی او دقرآن او سنت په نصوصو کی ددې په وجه تاویل نه سو کولی ځکه چی داسی تاویل دسلفو صالحینو په مقبول مذهب کی نسته، بلکی مونږ به هغه وخت دا ووایو چی کومه نظریه دقرآن او سنت څخه خلاف ده په هغه کی څه خلل دی. ځکه چی په عقل سلیم او نقل صحیح کی هیڅکله اختلاف نه سی کیدی بلکی دا دیو بل تائید کوی.

لنډه خبره دا ده چی دآسمانونو دستورو دحرکتونو او هیئتونو متعلق بحث او تحقیق څه نوی فن نه دی په زرګونو کلونه دمخکی څخه پردی مسئله دتحقیقاتو سلسله جاری ده. مصر، شام، هندوستان، چین وغیره کی ددی فنونو چرچه دپخوانی زمانی څخه را روانه ده. دحضرت مسیح ﷺ څخه پنځه سوه کاله مخکی ددی فن لوی معالم فیثاغورس تیر سوی دی، کوم چی دایټالیا په مدرسه کروتونا کی باقاعده ددی فن تعلیم ورکوی. دده څخه وروسته دحضرت مسیح ﷺ دپیدائش څخه تقریبًا یوسل اوځلوینښت کاله مخکی ددې فن دوهم تحقیق کوونکی بطلیموس راغی، او په دغه زمانه کی دیو بل فلاسفر، هیرخوس شهرت وسو، کوم چی دزاویو دناپ کولو آلات ایجاد کړل.

دفیثاغورس او بطلیموس دآسمانونو دهیئت متعلق نظریات بالکل مختلف وو بطلیموس ته دخپلی زمانی دحکومت اوعوامو تعاون حاصل سو دهغه نظریه دومره خپره سوی وه چی دفیثاغورس نظریه یی دګمنامی ګوټ ته وغورځوله، او کله چی یونانی فلسفه په عربی ژبه کی ترجمه سوه نو دا دبطلیموس نظریه دی کتابونو ته منتقله سوه او په اهل علمو کی په عام طور سره دا نظریه وپیژندل سوه، ډیرو تفسیر لیکوونکو هم دا نظریه دقرآن په تفسیرکی ځان ته مخکی کښینوله او خبره یی وکړه. په یولسمه (۱۱) صدی هجری اوپنځلسمه (۱۵) صدی عیسوی کی چی دیورپی قومونو دترقی شروع وسوه او دیورپ تحقیق کوونکو په دی مسئلو کار کول شروع کړل په کومو کی چی دتولو څخه مخکی کوپرنك، بیا په جرمنی کی کیلر، او په ایټالیا کی دګلیلو وغیره نومونه راځی. دوی سردوباره ددې بحثونو جائزه واخسته او دا ټول پردی متفق سول چی دآسمانونو دهیئت متعلق بطلیموسی نظریه غلطه اوفیثاغورسیٓ نظریه صحیح ده. په اتلسمه (۱۸) صدی عیسوی او دیارلسمه صدی هجری کی داسحاق نیوټن شهرت وسو. دده تحقیقاتو او ایجاداتو دی ته زیات تقویت ورکړه ده دا تحقیق وکی چی وزنی شیان که په هوا کی پریښوول سی، نو د دوی په مخکه درالویدو سبب هغه نه دی کوم چی په بطلیموسی نظریه کی ښوول سوی دی چی

دمځکی په مینځ کی دعالم مرکزدی او ټول وزنی شیان دمرکز طرف ته فطرتاً رجوع کوی ، بلکی هغه ونښوله چی څومره ستوری اوسیاری دی په ټولوکی دیوجذب اوکشش ماده ده، مځکه هم دغه رنګه یوه سیاره ده ، په دی کی هم کشش دی . ترکوم حده پوری چی دمځکی دکشش اثروی. دهغه ځای څخه هروزنی شی مځکی ته راځی لیکن که یوشی ددی کشش ددائری څخه دباندی ووزی نوهغه به بیا لاندی نه راځی .

په دی وخت کی روسی اوامریکی ماهرانو دپخوانی اسلامی فلاسفرابو ریحان بیرونی دتحقیقاتو په امداد سره راکټ وغیره ایجاد کړل ، ددې عملی تجربه اومشاهده یی وکړه چی راکټ کله په خپل سخت قوت اوتیز رفتاری په سبب سره دمځکی کشش مات کی او ددی ددائری څخه دباندی ځی نوبیا دی لاندی نه راځی، بلکی دیوی مصنوعی سیاری صورت اختیاروی اوپه خپل مدارکی چکرلګوی ، بیاددی مصنوعی سیارو تجربی یی کولی کولی چی ددې ماهرینو سیاروته درسیدو تدبیرونه شروع کړل اوآخر چی سپوږمی ته ورسیدل، دکوموتصدیق چی ددې زمانی ټولوماهرینودفن موافقواومخالفووکی اوټراوسه پوری سپوږمی ته دبارباړتللواو دهغه ځای څخه دهر وزنی دډبرو خاورو وغیره را وړلو او دهغه دتصویر مهیاکولو سلسله جاری ده ، نورو سیاروته درسیدو هم کوششونه کیږی او دخلا نوردئ او خلا پیمایئ مشقونه جاری دی .

په دوی کی امریکایی خلانورد جان ګلین چاچی دخلا کامیاب سفر وکی ، اوبیرته راغی نودده په کامیابی دده مخالفو اوموافقو ټولو اعتماد وکی ، دده یوبیان د امریکی په مشهوره ماهنامه (میاشتنی مجله) ریډرز ډائجسټ، کی او دهغه اُردو ترجمه د امریکی په اُردو ماهنامی ، سیربین ، کی په تفصیل سره شائع سوي ده . دلته دهغه مهم اقتباسات دماهنامی سیربین څخه نقل کیږی ، په کومو سره چی زمونږ پر زیرِ بحث مسئله باندی کافی رڼا پریوزی . جان ګلین په خپله اوږده مقاله کی دخلا عجائبات بیانوی، لیکی .

(دا هغه یوواحد شی دی کوم چی په خلاکی دخدای پر وجود دلالت کوی اوداچی یوطاقت سته کوم چی دا ټول دمرکز اومحور سره تړلی ساتی)

وروسته لیکی .

(ددی باوجود په خلاکی چی دمځکی څخه کوم عمل جاری دی هغه ته چی ګورو زمونږ کوششونه انتهایی حقیر دی په سائنسی اصطلاحاتو او پیمانو کی خلایی پیمائش ناممکن دی) ، مخ ته دهوایی جهاز دمشینی قوت ذکر کوی او لیکی چی .

(لیکن دیویقینی اوغیرمحسوس قوت څخه بغیرددی استعمال هم محدود اوبی معنی پاته کیږی څکه چی جهازته دخپل مقصد دمکمل کولودپاره درُخ دتعین حاجت وی اوداکاردقطب نماڅخه اخستل کیږی ، دغه قوت کوم چی قطب نما متحرك ساتی ، زمونږ دټولو حواسو خمسه وو دپاره یوښکاره چیلنج دی ، دا نه مونږ لیدلی سوو نه او ریدای سو، نه یی په لاسونو مسه کولی سو، نه یی چیښلی سو، نه یی بویولی سو، حال دا دی چی دظهور نتیجی په دی باندی واضح دلالت کوی چی دلته یو پټ قوت ضرور موجود سته) مخ ته دټول سیر او سفر دنتیجی په طور لیکی .

(دعیسائیت داصولو اونظریاتو حقیقت هم صحیح دغه څه دی که مونږ دوی خپل رهنماجوړکړو نو سره ددې چې زمونږ حواس ددی دادراك څخه عاجزه دی لیکن درهنمادقوت نتیجې اوتاثرات به دخپلو او دخپلو نورو وړونو په زندګیو کی په ښکاره سترګو ووینو، دا وجه ده چې مونږ ډو هیړو او پر دی بنا باندی وایو چې په دی کائناتو کی یو رهنما قوت موجود دی)

دا دی دخلادمسافرو اوسیاروته دکمند اچوونکودګتې حاصلات کوم چې تاسی دامریکی خلانورد په بیان کی وویل . ددې تولو منډو تړړو په نتیجه کی دکائناتو راز او ددی حقیقت ته رسایی یی څه وسوه چې دبی حده سیارو اوستورو دګردشونوڅخه خبرسول او حیرانی یی نوره هم زیاته سوه . په سائنسی آلاتو سره ددی دپیمائش دناممکن کیدو او دخپلو کوششونو ددی په مقابله کی دسپکوالی اقرار اواعتراف کول ورغلل .

بس خلاصه یی دومره خبره سوه چې دکائناتو، ستورو اوسیارو دا ټول نظام خودبخوده نه چلیږی بلکی دیو عظیم او غیر محسوس طاقت زیر فرمان چلیږی . دا هغه خبره ده کومه چې انبیاء علیهم السلام په اول قدم باندی عامو انسانانو ته ښوولی وه ، او دقرآن کریم په بی شمیره آیتونو کی په دی شی دیقین را وستلو دپاره یی دآسمان ، مځکی ، ستورو او سیارو وغیره په حالاتو دغور اوفکر تلقین کړی دی .

تاسی ولیدل چې څنګه پرمځکه ناست په آسمانی فضاګانو ، ستورو اوسیارو باندی تحقیقات اوددوی په هیئتونو فلسفیانه بحثونه کوونکی ددی شیانو حقیقت ته ونه رسیدل اوآخر دخپل عجز اوبی وسی اعتراف یی وکی . دغه شان ددی مځکی څخه په لکونو میله پورته سفرکوونکی اودسپوږمی څخه دډبرو اوخاورو او دهغه ځای دتصویرونو راوړونکی هم دحقیقت شناسی په میدان کی څه ددی څخه مخ ته نه ولاړی .

(دی تحقیقاتو انسان اوانسانیت ته څه وبخښل)

ترکومه حده پوری چې دانسانی جد اوجهد اولوی فکرئ اودده دعجیبه کارونو اوحیرانوونکو انکشافاتو معامله ده نوهغه پرخپل ځای درسته اودعامو نظرونو په اعتبار سره قابل تحسین هم ده ، لیکن که پردی فکر وسی چې بی ځایه شعبده بازی اوتماشی جوړول چې دانسان اوانسانیت څه عادتی فائده په کی نه وی دعاقلانو اوحکماوو کارنه دی . کتل دی ته په کار دی چې په دی پنځوس کاله جد اوجهد اواربونو کربونو روپی چې د ډیرو انسانانو دمصیبت لیری کولو دپاره کافی کیدی ، داداور نذر کولو اوسپوږمی ته په رسیدو اودهغه ځای څخه دخاورو اودډبرو په راوړلو سره انسان اوانسانیت ته څه فائده ورسیده . دانسانانو یولوی شمیر دداسی خلقو دی کوم چې دلوږی څخه مری او دوی ته دجامی اوسرپټولو ځای حاصل نه دی آیادی جد اوجهد د دوی دغریبی اومصیبت څه حل راوایستی ؟ یاد دوی دمرضونو اوآفتونو څخه دصحت او عافیت څه انتظام یې وکی ؟ یایی د دوی دزړه دسکون او راحت څه اسباب ورکړل ؟ نویقینی خبره ده چې دهیڅ سره ددی جواب بغیرد(نا) نه څخه نسته .

دا وجه ده چې قرآن او سنت په داسی لا یعنی مشغلو کی د اخته کیدو څخه منع کوی اوپه کائنات عالم کی دغور اوفکر اوتدبیر دعوت صرف په دوو حیثیتونو سره ورکوی ، اول حیثیت کوم چې اصل مقصود دی

دا دي چي داعجيبه آثار ووينى او دمؤثر، حقيقي او دهغه په غير محسوس قوت يقين وكي كوم چي دا تول نظام چلوي ، دهغه نوم خداى دى . دوهم په دي زميني او آسماني مخلوقات كي الله ﷻ دانسان دفائدي دپاره دهرضرورت شي وركړى دى ، دانسان كار دا دى چي دخپل عقل اوشعور اوجد اوجهد څخه كار واخلي ، دا شيان دمځكي دخزانو څخه را وباسي او د استعمالولو طريقي يي زده كړي اولني حيثيت اصل مقصود دى اودوهم حيثيت ثانوي دضرورت رفع كولو دپاره دى . په دى وجه دضرورت څخه زيات په دى مشغوليدل ښه نه دي اوپه كائناتو دعالم كي دغور او فكر او تدبر دواړه حيثيتونه دانسان دپاره آسانه هم دي اونتيجه خيزهم . او ددى دواړو حيثيتونو په نتيجو كي دنوو اوزړو فلاسفه وو څه اختلاف هم نسته . د دوى تول اختلافات دآسمانونو او سيارو دحقيقت او هيئت سره متعلق دى ، كوم چي قرآن كريم بي ضرورته او ناقابل حصول مقرر كړي او نظر انداز يي كړي دى .

علامه بخيت مفتي دمصرپه خپل كتاب، توفيق الرحمن،كي علم هيئت په دروبرخوكي تقسيم كړي دى يوه برخه وصفي ده كومه چي ددى حسابونودمعلومولودپاره دزړو اونوو آلاتوسره متعلق ده اوليكي چي په او لودواړو قسمونو كي دزړو اونوو ماهرينو اختلاف دنيست برابر دي په آلاتو دادراك كي دډيرلوي اختلاف باوجود پرنتيجو باندي په اكثرو كارونو كي دټولو اتفاق دي د دوى سخت اختلاف په دريم قسم كي دى .

چي سوچ پر وسى نو دانساني ضرورت متعلق هم دغه اولني دوه قسمونه دي دريم قسم بي كاره هم دى او مشكل هم ، په دى وجه دقرآن او سنت او عامو انبياوو تعليماتو انسان په دى دريم بحث كي نه دى اخته كړى او تيرو بزرگانو دا نصيحت فرمايلي دى .

زبان تازه كردن باقرار تو نينگيختن علت از كار تو
مهندس بسى جويد از راز شان ندانك كه چون كردى آغاز شان

بنده ته په كاردى چي ستاپه خدايي باندي په اقراركولوژبه تازه كوي يعني ستاكارونوته گوري اوستاخدايي ورڅخه معلوموي او ستاپه كارونو كي علتونه نه لټوي چي دا څنگه جوړ سول او دڅه دپاره ، مهندسان (انجنيران) ډيرددي په رازونو لټولو پسي سوي دي څوهيڅ نه دي پوه سوي چي ددى ابتداء څنگه سوي ده؟ صوفياء كرام كوم چي دكشف په نظر سره دا شيان ويني دهغوى فيصله هم آخر دا ده كومه چي شيخ سعدي فرمايي .

چي شبها نشستم درين سير گم كه حيرت گرفت استينم كه قم

څه ډيري شپي دكائناتو دراز معلومولو په فكر كي داسي غرق ولاړم چي ورك سوم په كي خو آخر چي حيرانتيا ترلستوني راكش كړم چي پورته سه .

حافظ شيرازي رحمه الله فرمايي .

سخن ازمطرب ومى گوئى وراز دهر كمتر جوئى كه كس نكشود ونكشايد بحكمت اين معما را

خبره دسرودگر او دشرابو كوه (يعني دالله ﷻ په معرفت كي خبره كوه) دكائناتو رازونه لټول پريږده چي

يو حكيم هم په حكمت سره نه دا معمه حل كړي ده او نه به يې حل كي .
ددې ټول تفصيل خلاصه دا ده چې په كائناتو آسمانونو ، فضاء او دمځكې په كائناتو كې غور او فكر په دې حيثيت سره چې ددې دپيدا كوونكې پر وجود او توحيد او ده په بې مثاله علم او قدرت باندې استدلال وكړل وسي عين مقصود قرآني دى اوقرآن ځاى پرځاى ددې بلنه وركوي او په دې حيثيت سره چې په دې شيانو پورې دانسان دمعاشي مسئلو تعلق دى هغه هم دضرورت ترحده پورې دقرآن منشاء ده او قرآن دهغه طرف ته هم بلنه وركوي مګر په دې فرق سره چې معاش او معاشي ضرورتونه اصل مقصد مقرر كې ، په دغو كې ډير شغل نه كوي ، بلكې دا موجوده ژوند داصلي ژوند طرف ته ديو سفر درجه وګڼي او ددې مطابق په كې مشغول وي او دريم حيثيت چونكې دانساني ضرورت څخه زيات هم دى او حاصلول يې هم مشكل دى ، په دې كې دعزيز عمر صرف كولو څخه دځان ساتلو طرف ته اشاره كوي ، دلته دا هم واضحه سوه چې دموجوده سائنس نوي ترقي او تحقيقات عين قرآني منشاء ګڼل هم غلط دى لكه چې ځينو تجدد پسندو عالمانو ليكلي دي اوقرآن ته ددوى مخالف ويل هم غلط دى لكه چې ځينو قدامت پسندو عالمانو ليكلي دي .
حقيقت دا دى چې قرآن نه ددې شيانو دبيان دپاره راغلى دى او نه دده دبحث موضوع ده ، نه دانسان دپاره دهغو حاصلول آسان دي او نه دانساني ضرورتونو سره ددې څه تعلق سته قرآن په دې معاملو كې خاموش دى په تجربو او مشاهدو سره چې څه شي ثابت سي نو دغه دقرآن منافي ګڼل هم صحيح نه دي . سپوږمۍ ته رسيدل ، هلته او سيدل او دهغه ځاى دمعدنياتو څخه نفع اخستل وغيره ټول په دې كې داخل دي. په دې كې هر يو شي چې په تجربه او مشاهده سره ثابت سي نو ددې څخه دانكار هيڅ وجه نسته اوترڅو پورې چې ثابته نه سوه خامخا ددې تصورات جوړول او په دې كې خپل خوږ عمر لګول هم څه هوښيارتيا نه ده . والله اعلم

وَعِبَادُ الرَّحْمٰنِ

وَعِبَادُ الرَّحْمٰنِ الَّذِيْنَ يَمْشُوْنَ عَلَى الْاَرْضِ هَوْنًا وَّاِذَا خَاطَبَهُمُ الْجٰهِلُوْنَ

اوبندګان د رحمن هغه دي كوم چې ګرځي په مځكه باندې په كرار قدمونو او كله چې خبري كوي د دوى سره ناپوه خلق

قَالُوْا سَلٰمًا ﴿۶۳﴾ وَالَّذِيْنَ يَبِيْتُوْنَ لِرَبِّهِمْ سُجَّدًا وَّقِيَامًا ﴿۶۴﴾ وَالَّذِيْنَ

نو وايي صاحب سلامت ، او هغه خلق چې شپې تيروي خپل رب ته په سجده او په ولاړې ، او هغه خلق چې

يَقُوْلُوْنَ رَبَّنَا اصْرِفْ عَنَّا عَذَابَ جَهَنَّمَ ۖ اِنَّ عَذَابَهَا كَانَ غَرَامًا ﴿۶۵﴾

وايي اى ربه ! زمونږ ليرې كړې زمونږ څخه عذاب د دوږخ ، بيشكه دده عذاب دى پوره تباهي ،

إِنَّهَا سَاءَتْ مُسْتَقَرًّا وَّمُقَامًا ﴿٦٦﴾ وَالَّذِينَ إِذَا أَنْفَقُوا لَمْ يُسْرِفُوا

بیشکه هغه بدځای د اوسیدو دی او دپاته کیدو دی ، او هغه خلق کله چی خرڅ کوی نو نه اسراف کوی ،

وَلَمْ يَقْتُرُوا وَكَانَ بَيْنَ ذَٰلِكَ قَوَامًا ﴿٦٧﴾ وَالَّذِينَ لَا يَدْعُونَ

او نه تنگی کوی او د دواړو په مینځ کی برابر گذران کوی ، او هغه خلق چی نه بلی ،

مَعَ اللَّهِ إِلَٰهًا آخَرَ وَلَا يَقْتُلُونَ النَّفْسَ الَّتِي حَرَّمَ اللَّهُ

د الله سره بل معبود لره او نه قتلوی نفس هغه چی منع کړی دی الله

إِلَّا بِالْحَقِّ وَلَا يَزْنُونَ ۚ وَمَنْ يَفْعَلْ ذَٰلِكَ يَلْقَ أَثَامًا ﴿٦٨﴾ يُضَاعَفْ

مگر په حقه سره او نه کوی زنا ، او څوک وکړی دا کار هغه ولویدی په گناه کی ، دوچند به وی

لَهُ الْعَذَابُ يَوْمَ الْقِيَامَةِ وَيَخْلُدْ فِيهِ مُهَانًا ﴿٦٩﴾ إِلَّا مَنْ تَابَ

ده لره عذاب په ورځ دقیامت او پروت به وی په کی سپک سوی ، مگر هغه څوک چی توبه وکاړی

وَآمَنَ وَعَمِلَ عَمَلًا صَالِحًا فَأُولَٰئِكَ يُبَدِّلُ اللَّهُ سَيِّئَاتِهِمْ حَسَنَاتٍ

او ایمان راوړی اونیک عمل وکړی وروسته ده لره به بدل کړی الله گناهونه د دوی په نیکو سره

وَكَانَ اللَّهُ غَفُورًا رَحِيمًا ﴿٧٠﴾ وَمَنْ تَابَ وَعَمِلَ صَالِحًا فَإِنَّهُ يَتُوبُ

او دی الله بخښنی والا مهربان ، اوڅوک چی توبه وکاړی او نیک کار وکړی پس هغه واپس کیږي

إِلَى اللَّهِ مَتَابًا ﴿٧١﴾ وَالَّذِينَ لَا يَشْهَدُونَ الزُّورَ وَإِذَا مَرُّوا بِاللَّغْوِ

الله طرف ته په واپس کیدو ، او کوم خلق چی نه شاملیږي د دروغو په کار کی او کله چی تیریږي په عبثو کارونو

مَرُّوا كِرَامًا ﴿٧٢﴾ وَالَّذِينَ إِذَا ذُكِّرُوا بِآيَاتِ رَبِّهِمْ لَمْ يَخِرُّوا عَلَيْهَا

تیریږي په عزت سره ، او هغه خلق چی کله پوه کړل سی درب په خبرونو نه لویږي په هغه

صُمًّا وَعُمْيَانًا ﴿٧٣﴾ وَالَّذِينَ يَقُولُونَ رَبَّنَا هَبْ لَنَا مِنْ أَزْوَاجِنَا

رانده کاڼه سوی ، او هغه خلق چی وایی ای ربه ! زمونږه ! راکړی مونږ ته زمونږ دښځو څخه

وَذُرِّيّٰتِنَا قُرَّةَ اَعْيُنٍ وَّاجْعَلْنَا لِلْمُتَّقِيْنَ اِمَامًا ﴿۷۴﴾ اُولٰٓئِكَ

او زمونږ د اولاد څخه دسترګو یخوالی او کړی مونږ د پرهیزګارانو پیشوا ، دوی ته به

يُجْزَوْنَ الْغُرْفَةَ بِمَا صَبَرُوْا وَيُلَقَّوْنَ فِيْهَا تَحِيَّةً وَّسَلٰمًا ﴿۷۵﴾

بدله ورسیږي بالاخانی ځکه چی دوی ثابت قدم پاته سول او مخامخ کیږي به دوی په هغه ځای کی ددعا او سلام سره

خٰلِدِيْنَ فِيْهَا ؕ حَسُنَتْ مُسْتَقَرًّا وَّمُقَامًا ﴿۷۶﴾ قُلْ مَا يَعْبَؤُا بِكُمْ

همیشه به وی په هغه کی ښه ځای دی د اوسیدو او ښه ځای دی دپاته کیدو ، ته ووایه پرواه نه لری ستاسو

رَبِّیْ لَوْلَا دُعَآؤُكُمْ ۚ فَقَدْ كَذَّبْتُمْ فَسَوْفَ يَكُوْنُ لِزَامًا ﴿۷۷﴾ ع

رب زما که تاسو هغه ونه بلی ، پس تاسو درواغجن کی پس ډیر ژر به دا وبال دځان جوړ سی ،

تفسیر: او د (حضرت) رحمٰن (خاص) بندګان هغه دی کوم چی پر مځکه په عاجزی سره روان دی (مطلب دا دی چی دهغوی په مزاج کی تواضع دی په ټولو کارونوکی او ددی اثر په تلوکی هم ظاهریږی او څه خاص دول دهیئت بیانول مقصودنه دی ځکه چی په دماغ داری سره نرم رفتار موجب دمدح نه دی ، او داتواضع خو د دوی خاص طرز په خپلو عملونو کی دی) او (دنورو سره د دوی طرز دا دی چی) کله دهغوی سره جاهلان خلق (دجهالت) خبری (اتری) کوی نو هغوی دشر ددفع کولو خبره کوی (مطلب دا دی چی دخپل ځان دپاره قولی یافعلی انتقام نه اخلی اوکوم چی دتادیب او اصلاح شرعی سیاست یادکلمة الله دلوړولو دپاره وی ، ددی نفی مقصودنه ده) اوکوم چی (دالله ﷻ سره خپل داطرز ساتی چی) په شپوکی دخپل رب په مخکی په سجده او قیام (یعنی لمونځ) کی لګیاوی اوکوم چی (سره دادا کولو دحقوق الله اوحقوق العباد دالله ﷻ څخه دومره بیره کوی چی) دعاګانی غواړی چی ای زمونږ پروردګاره مونږ څخه دجهنم عذاب لیری وساتی ، ځکه چی ددغه عذاب پوره تباهی ده ، بیشکه هغه جهنم بدځای اوبدمقام دی (داخو په بدنی عبادتونو کی د دوی حال دی) او (په مالی عبادت کی یی دا حال دی چی) هغوی چی کله خرڅ کوی نو نه فضول خرڅ کوی (چی په ګناه کی یی خرڅ کی) اونه تنګی کوی (چی په ضروری عبادتونوکی یی هم په خرڅ کولوکی کوتاهی کوی او په اسراف کی دغه خرڅ هم راغی چی بی ضرورته دطاقت څخه زیات په مباح کارونو کی یابغیر ضروری عبادتونوکی یی خرڅ کوی چی انجام یی په آخرکی بی صبری اوحرص اوبدنیتی وی ځکه چی داکارونه دګناه دی اوکوم شی چی دګناه سبب جوړسی ، هغه هم ګناه وی ، په دی وجه هغه هم

انجام کار په ګناه کی خرڅ کول بدوالی په، لَمْ يَقْتُرُوْا، سره معلوم سو، ځکه چی کله په خرڅ کی کمی کول
جائزنه وی نونه خرڅ کول خوپه درجه اولی سره ناجائز سو، پس داشبهه پاته نه سوه چی په خرڅ کول دکمی
کولو خونفی اونهی وسوه لیکن دنه خرڅ کولو خوبالکل نفی او نهی نه ده سوی. غرض دا چی دغه خلق په
خرڅ کی دافراط اوتفریط دوارو ځخه بیزاره دی) او د دوی خرڅ کول ددی (افراط اوتفریط) په مینځ کی وی
(اوداذکر سوی حالت خو دعبادتونو داداکولو سره متعلق وو) اوکوم چی (دګناه ځخه دځان ساتلویی داشان
دی چی) دالله ﷻ سره دچابل معبودعبادت نه کوی (کوم چی دعقیدی متعلق ګناه ده) او (د) کوی سری (قتل
کول) چی الله ﷻ (دشرعی قاعدو په روسره) حرام کړی وی هغه نه قتلوی مګر په حقه سره (یعنی کله چی
دقتل وجوب یامباح والی په څه شرعی سبب پیداسی، دغه وخت بیابله خبره ده) اوهغه زنانه کوی (ځکه
چی داقتل اوزنا دعملی ګناهونو سره متعلق دی) اوکوم سړی چی داسی کار وکی (چی شرك وکی یادشرك
سره قتل ناحق هم وکی یازنا هم وکی لکه د،کی مشرکان چی وه) نودسزا سره به ووینی چی دقیامت په
ورځ به دده عذاب زیاتیږی (لکه دکفاروپه حق کی چی په نورو آیتونوکی راغلی دی: زِدْنَاهُمْ عَذَابًا فَوْقَ
الْعَذَابِ) اوهغه به په دی (عذاب) کی همیشه همیشه ذلیل (اوخوار) اوسیږی (چی دبدنی عذاب سره یی
دذلت روحانی عذاب هم وی او دسختوالی دعذاب یعنی دوچندی سره دمقدار زیاتوالی یعنی همیشوالی
هم وی اومراد ددی. وَمَنْ يَّفْعَلْ ذٰلِكَ، ځخه کفاراومشرکان دی، په قرینه د: يُضٰعَفْ وَيَخْلُدْ مُهَانًا وآمَنَ،
ځکه چی دمومن ګناهګار دپاره په عذاب کی زیاتی اوخلودبه نه وی، بلکی دده عذاب به ده لره دپاك
صاف کولو دپاره وی، نه چی دسپکولو دپاره اودده دپاره دایمان دنوی کولو ضرورت نسته، صرف دتوبی
ضرورت دی، دکوم چی مخ ته بیان دی. وَمَنْ تَابَ وَعَمِلَ الخ، دارنګه دذکرسوو قرینو ځخه ماسوا په
صحیحینو کی دحضرت ابن عباس رضی الله عنه ځخه شان نزول هم ددی دانقل دی چی دمشرکانو په باره کی دا آیت
نازل سوی دی) مګر کوم چی (دشرك اوګناهونو ځخه) توبه وکاږی او (ددی توبی دقبلیدو شرط دا دی چی)
ایمان (هم) راوړی اونیك کار کوی (یعنی ضروری عبادتونه پوره کوی) نو (جهنم کی همیشوالی څه کوی،
چی جهنم به دی) یوه ذره مسه هم نه کی، بلکی الله ﷻ به دداسی خلقو د (تیرو) ګناهونو (خاتمه وکی او
دهغو) پرځای به (آئنده) نیکی ورکړی (یعنی چونکی تیرکفر اوګناه دکفر دزمانی ځخه وروسته به یی
داسلام په برکت سره معاف سی اوآئنده به یی دنیکو عملونو په وجه نیکی لیکل کیږی اوپه دی به ثواب
ورکول کیږی. په دی وجه دجهنم سره به د دوی هیڅ تعلق نه وی پس، اِلاَّ، استثناء منقطع ده اودَ، مَنْ تَابَ،
خبر، فَاُولٰئِكَ، الخ دی اومقصود په حکم سره بدلول دګناهونو په نیکیودی کوم چی پرمجموعه ایمان،
توبه اوعمل صالح باندی مرتب دی او دجهنم د اور ځخه محفوظ پاته کیدل ددی لازمی اثردی او جهنم ته
یی دسره داخلیدل نسته نوهمیشوالی یی نه کیدل ظاهردی یااستثناء متصله وی او دنیستوالی دخلود
دپاره مجموعه ایمان اوتوبه اوعمل صالح شرط نه دی مګر دمجموعی سره نستوالی دخلود پیدا کول په

دی آیت کی مذکور سو اوصرف په ایمان باندی نستوالی دخلود مرتب کیدل په نورو دلیلونو سره ثابت دی) او (دالیری کیدل دگناهونو اوثابتیدل دنیکیو څکه وسو چی) الله ﷻ بخښونکی دی (په دی وجه یی گناهونه ختم کړل او) رحیم دی (په دی وجه یی نیکی قائمی پاته کړی، داخو دکفر څخه دتوبه کوونکی بیان وو) او (مخ ته دهغه مومن ذکردی کوم چی دگناه څخه توبه وکاږی ددی دپاره چی مضمون دتوبی پوره سی او دا رنگه دمقبولو بندگانو دباقی صفتونوبیان دی چی داخلق همیشه داطاعت پابند اودگناهونو څخه دپرهیزعادیان دی لیکن که چیری ددوی څخه نافرمانی وسی نوتوبه کوی . په دی وجه دتوبه کوونکو حال ارشاد فرمایی یعنی) کوم سړی چی (دگناه څخه) توبه کوی اونیك کارکوی (یعنی آئنده دگناه څخه ځان ساتی) نو هغه (په هم دعذاب څخه بچ وی څکه چی هغه) دالله ﷻ طرف ته په خاص طورسره رجوع کوی (یعنی په بیره اواخلاص سره چی شرط دتوبی دی مخ ته بیادعباد الرحمان صفتونه بیانوی یعنی) او (په دوی کی داخبره ده چی) په عبثوخبروکی (لکه لهولعب دشریعت څخه خلاف) نه شاملیږی اوکه چیری (اتفاقًا بلاقصده) پرعبثومشغلو راسی تیریږی نوپه سنجیدگی (اوشرافت) سره تیریږی (یعنی نه دغه طرف ته مشغولیږی اونه دده په نښانوسره ورڅخه دگناهگاروسپکوالی اوخپله لویی اوتکبر ظاهریږی) اوهغه داسی دی چی کله دوی ته دالله ﷻ داحکامو په ذریعه نصیحت وسی نوپه دی (احکامو) رانده کاڼه نه ورلویږی (لکه څنگه چی کافران قرآن دتماشی په طور باندی یوه نوی خبره گڼی اودارنگه په دی کی داعتراضاتو پیداکولو دپاره ددی دحقیقتونو اومعلوماتو څخه رانده کاڼه کیږی، گډوډ بی ترتیبه گڼه جوړوی، لکه چی بل ځای دقرآن ارشاد دی . كَادُوا۟ يَكُونُونَ عَلَيْهِ لِبَدًا، (دځینو تفسیرونو پربنا باندی) پس ذکر سوی بندگان داسی نه کوی ، بلکی په عقل اوپوه سره قرآن ته توجه کوی او دی طرف ته راځی چی ثمره یی زیات ایمان اوعمل په احکامو دی، پس مقصودپه آیت کی دړوند کوڼ کیدو څخه نفی کول دی ، نه داچی دقرآن طرف ته دمتوجه کیدو اوپرده درالویدو څخه، څکه دغه عین مطلوب دی اوپه دی سره دکفارو دپاره هم پرقرآن لویدل خوثابتیږی، مگر دغه دمخالفت اومزاحمت په طور درندو اوکڼوپه شان وه په دی وجه دغه بددی) اوهغه داسی دی (لکه څنگه چی پرخپل دین عاشقان دی، دغه شان دخپل اهل اوعیال دپاره هم ددې سعی اوکوشش یی دی چنانچی دعملی کوشش سره دحق تعالی څخه هم) دعاکوی چی ای پروردگاره زمونږ! مونږته زمونږ دبیبیانو اوزمونږ داولاددطرف څخه دسترگو یخوالی (یعنی راحت) راکی (یعنی دوی دینداره جوړکړی اومونږ زمونږ په دی کوشش ددینداری کی کامیاب کړی چی دوی ددینداری په حالت ووینو اوراحت اوخوشحالی وی) او (تاخو مونږ زمونږ دخاندان مشر خوجوړکړی یو مگر زمونږ دعاداده چی داټول متقیان جوړکی) مونږ دمتقیانو مشران جوړکړی (نواصل مقصود مشری غوښتل نه دی که څه هم په دی کی هم څه بدوالی نسته، مگر مقام دلالت نه پرکوی، بلکه اصل مقصود دخپل خاندان دمتقی کیدو درخواست دی ، یعنی پرځای ددی چی مونږ صرف دخاندان مشران یو، مونږ دمتقی خاندان مشران جوړکی ، تردی ځای پوری دعباد الرحمن دصفتونو بیان وو، مخ ته د دوی جزاء ده یعنی) داسی

خلقوته به (په جنت کی د اوسیدو دپاره) بالاخانی ورکول سی په وجه ددوی (پردین اواطاعت) دثابت قدم پاته کیدو اوهغوی ته به په دی (جنت) کی (دملائکو دطرف څخه) دبقا دُعا اوسلام ورکول کیږی (او) په دی (جنت) کی به هغوی همیشه همیشه اوسیږی ، هغه څنگه ښه ځای اومقام دی (لکه چی دجهنم په باره کی . سآءَتْ مُسْتَقَرًّا وَّمُقَامًا، فرمایلی دی. ای پیغمبر ﷺ) ته (په عام طورسره خلقوته) ووایه چی زما رب به ستاسی یوه ذره هم پرواه نه کوی که تاسی عبادت ونه کی پس (په دی سره پوهیدل په کار دی چی ای کفارو) تاسی خو (دالله ﷻ حکمونه) درواغ گڼی نو دیر ژر به دا (دروغ گڼل ستاسی دپاره) وبال (دځان سی (برابره خبره ده که په دنیاکی وی لکه په واقعه دبدرکی چی پرکفارو مصیبت راغی یاپه آخرت کی او هغه ظاهره ده)

معلومات اومسئلې : دسورة فرقان اکثره مضامین درسول الله ﷺ درسالت او نبوت دثبوت اوکفارو مشرکانو چی به پر دوی اعتراضونه کول دهغه پر جوابونو باندی مشتمل دی او په دی کی په کفارو مشرکانو او د احکامو په نافرمانی کوونکو دعذاب اوسزاهم ذکروو دسورة په آخرکی دخپلو هغو مخصوصو اومقبولو بندگانو ذکر فرمایی، دکومو چی په رسالت ایمان هم مکمل دی اوعقیدی او عملونه اخلاق ، عادات ټول یی دالله ﷻ او رسول ﷺ درضا تابع او دشریعت د احکام مطابق دی .

قرآن شریف داسی مخصوصو بندگانو ته د، عِبَادُ الرَّحمٰن، لقب ورکړی دی کوم چی د دوی دټولو څخه لوی اعزازدی، هسی خو ټول مخلوق په تکوینی اوجبری توگه دالله ﷻ دبندگی دهغه دمشیت اوارادی تابع دی. دهغه دارادی څخه بغیر څوک هیڅ نه سی کولی . مگردلته دبندگی څخه مرادتشریعی اواختیاری بندگی ده یعنی په خپل اختیار سره خپل وجود اوخپل ټول خواهشات اوټول کارونه دالله ﷻ دمرضٰی تابع جوړول . داسی مخصوص بندگان کوموته چی الله ﷻ په خپله خپل بندگان وویل اوعزت یی ورلرهٔ ورکی ، دهغوی صفتونه ترآخره پوری بیان سوی دی، په مینځ کی دکفر اونافرمانی څخه توبه اوددی داثراتوذکر راغلی دی دلته مخصوصو بندگانوته خپل بندگان فرمایل، دوی ته داعزاز لقب ورکول وو، مگرخپل طرف ته یی دنسبت کولو دپاره دالله ﷻ په ټولو اسماء حُسنٰی اوکمالی صفتونو کی دلته دلفظ درحمٰن انتخاب شاید په دی وجه سوی دی چی دمقبولینو عادتونه اوصفتونه دالله ﷻ دصفت درحمانیت ترجمان اومظهرکیدل په کار دی . دی طرف ته اشاره کول منظور دی .

﴿ دالله ﷻ دمخصوصو بندگانو مخصوص صفتونه اونښاني ﴾

په ذکر سوو آیتونوکی دالله ﷻ دمخصوصو اومقبولو بندگانو ددیارلسو صفتونو اونښانو ذکر راغلی دی، چی په دی کی دعقیدو صحیح والی اوخپل ذاتی عملونه دی، برابره خبره ده که دبدن سره متعلق وی اوکه دمال سره په ټولوکی دالله ﷻ او رسول داحکامو اومرضٰی پابندی ، دنورو انسانانو سره دمعاشرت اوتعلقاتو نوعیت ، دشپی ورځی دعبادتونو کولو سره دخدای بیره . دټولو گناهونو څخه دځان ساتلو اهتمام ، او دخپل ځان سره دخپل اولاد بیبیانو داصلاح فکر وغیره شامل دی .

ددې تولو څخه **اول صفت** . عبادوالی دی . عباد دعبد جمع ده . دعبد معنٰی ده ، بنده، کوم چی دخپل مالك مملوك وی ، دده وجود او دده ټول اختیارات اوکارونه دمالك دحکم او مرضٰی مطابق وی .
دالله ﷻ دبنده ویلو مستحق هغه سړی کیدای سی . کوم چی خپلی عقیدی اوخیالات اوخپله هره اراده اوخواهش اوخپل هرحرکت اوسکون دخپل رب دحکم اومرضی تابع ساتی هر وخت گوش برآواز وی چی دځه کار حکم وسی او هغه پر ځای کړم .
دوهم صفت . یَمْشُوْنَ عَلَی الْاَرْضِ هَوْنًا یعنی روان وی پرمځکه باندی په تواضع سره . دلفظ د ، هَوْن، مطلب دلته سکون ، وقار اوتواضع دی، چی په فخر سره نه ځی ، قدمونه په تکبر سره نه ږدی . ډیر کرار تلل مراد نه دی ځکه چی هغه بلا ضرورته وی نو دسنتو څخه خلاف وی . دنبی کریم ﷺ دتللوکوم صفت چی په شمائل نبویه کی نقل دی ، دهغه څخه معلومیږی چی د دوی ﷺ تلل ډیر کرار نه بلکی څه قدر په تیزی سره وو . په حدیث کی دی . کَاَنَّمَا الْاَرْضُ تُطْوٰی لَهٗ، یعنی دوی به داسی تلل چی لکه چی مځکه د دوی دپاره راغونډیږی . (ابن کثیر) په دی وجه دسلفو صالحانو څخه په تکلف سره دمریضانو په شان کرار کرار تلل دتکبر اوغرور دنښانی جوړولو په سبب سره مکروه گرځول سوی دی .
فاروق اعظم ﷺ یو ځوان ولیدی چی ډیر کرار کرار روان دی . پوښتنه یی ورڅخه وکړه چی آیا ته ناجوړ یی ؟ نو هغه وویل چی نه ! نو ده ﷺ دره پرلوړه کړه او حکم یی ورته وکی چی په قوت سره ځه (ابن کثیر)
حضرت حسن بصری رحمه الله ددی آیت په تفسیرکی . یَمْشُوْنَ عَلَی الْاَرْضِ هَوْنًا، فرمایی چی دمخلصانو مومنانو ټول اندامونه اوبندونه سترگی غوږونه لاس اوپښی ټول دالله ﷻ په مخکی ذلیل اوعاجزه وی چی ناواقفه یی ووینی نومعذوره عاجزه یی گڼی، حال دا وی چی نه دوی ناجوړ وی او نه معذور بلکی ښه روغ اوقوی وی . مگر په دوی دالله ﷻ بیره داسی راغورول سوی وی کومه چی په نورو نه وی دوی ددنیا ددندو څخه دآخرت فکر منع کړی وی اوکوم سړی چی په الله ﷻ باندی تکیه نه کوی او دده ټول فکر ددنیاپه کارونو کی لگیدلی وی ، نودی همیشه په افسوس ارمان کی اوسیږی (چی دنیاټوله را زسیږی نه اوپه آخرت کی ده حصه وانه خسته) اوکوم سړی چی دالله ﷻ نعمت صرف دخوړلو چښلو شیان وگڼل او داعلی اخلاقو طرف ته یی خیال نه وی تللی . دده علم ډیر لږ دی او عذاب دده دپاره تیاردی . (ابن کثیر ملخصاً)
دریم صفت . وَاِذَا خَاطَبَهُمُ الْجٰهِلُوْنَ قَالُوْا سَلٰمًا یعنی کله چی جاهلان خلق دهغوی سره خبری کوی ، نو هغوی ورته وایی، سَلٰمٌ، دلته د ، جَاهِلُوْن، ترجمه په جهالت والاووسره وسوه، داخبره یی واضحه کړي ده چی مراد ددی څخه بی علمه سړی نه دی، بلکی هغه دی کوم چی دجهالت کارونه اوجاهلانه خبری کوی خواه که په واقع کی هغه عالم هم وی ، او دلفظ د ، سلام، څخه مراد دلته عرفی سلام نه دی . بلکی دسلامتی خبره ده .
قرطبی دنحاس څخه نقل کړی دی چی دلته سلام دتسلیم څخه مشتق نه دی بلکی دتَسَلُّم څخه مشتق دی چی معنٰی یی ده سلامت اوسیدل . مراد دا دی چی دجاهلانو په جواب کی هغوی دسلامتی خبره کوی په

کوم سره چی نورو ته آزار نه رسیږی او دی ګناهګار نه سی ، دا تفسیر دحضرت مجاهد ، مقاتل وغیره څخه نقل دی (مظهری)

لنډه دا چی دبی وقوفه جاهلانو سره په خبرو کولو کی دا حضرات انتقامی معامله نه کوی ، بلکی درګذر ورڅخه کوی .

څلورم صفت . وَالَّذِينَ يَبِيتُونَ لِرَبِّهِمْ سُجَّدًا وَقِيَامًا · یعنی هغه خلق شپې تیر وی دخپل رب په مخکی په سجدو کولو اوقیام کولوکی په عبادت دشب بیداری ذکرپه خصوصیت سره ځکه وسوچی دغه وخت دخوب کولو او دآرام کولو دی . په دی کی دلمانځه او عبادت دپاره دربدل خاص مشقت هم دی اوپه دی کی درياء اونمائش خطره هم نسته . منشاء دا ده چی دوی شپه او ورځ دالله ﷻ په طاعت کی مشغول وی ، دورځی دتعلیم اوتبلیغ اوجهادفی سبیل الله وغیره کارونه وی اودشپی دالله ﷻ عبادت کول وی. دتهجد دلمانځه په حدیث کی ډیر فضیلت راغلی دی . ترمذی دابوامامه ﷺ څخه روایت کړی دی چی نبی کریم ﷺ فرمایلی دی چی دتهجد دلمانځه پابندی کوی ځکه چی دا ترتاسی دمخکی خلقوهم دډیرو نیکو بندګانوعادت پاته سوی دی ، او داالله ﷻ ته ستاسی نژدی کوونکی او دګناهونو کفاره ده اودګناهونو څخه منع کوونکی شی دی (مظهری)

حضرت ابن عباس ﷺ فرمایی چی کوم سړی دماخستن دلمانځه څخه وروسته دوه یازیات رکعتونه وکړي هغه هم په دی حکم کی داخل دی چی، بَاتَ لِلّٰهِ سَاجِداً وَّقَائِمًا ، (مظهری از بغوی)

او دحضرت عثمان غنی ﷺ څخه روایت دی چی نبی کریم ﷺ فرمایلی دی چی کوم سړی دماخستن لمونځ دجماعت سره اداکی نودنیمی شپی په عبادت کی دتیرولوپه حکم کی سو اوچاچی دسهار لمونځ دجماعت سره اداکی هغه باقی شپه هم په عبادت کی تیروونکی ګڼل کیږی (احمد ومسلم فی صحیحه، از مظهری)

پنځم صفت . وَالَّذِينَ يَقُولُونَ رَبَّنَا اصْرِفْ عَنَّا عَذَابَ جَهَنَّمَ الاية، یعنی دامقبولین دبارګاه شپه او ورځ په عبادت کی دمشغولیدو باوجود بی بیری نه وی ، بلکی هر وخت دخدای بیره او دآخرت خوف ورسره وی چی ددی دپاره عملی کوشش هم جاری وی او دالله ﷻ څخه دعاګانی هم غواړی .

شپږم صفت . وَالَّذِينَ إِذَا أَنْفَقُوا الاية، یعنی دالله ﷻ مقبول بندګان دمال خرڅ کولو په وخت کی نه اسراف اوفضول خرڅی کوی، نه بخل اوکوتاهی بلکی د دواړو په مینځ کی په اعتدال باندی قائم وی . په آیت کی داسراف او ددی په مقابله کی داقتار الفاظ استعمال سوی دی .

د اسراف لغوی معنی دحد څخه تجاوز کول دی ، دشرع په اصطلاح کی دحضرت ابن عباس ﷺ، مجاهد ، قتاده اوابن جُرَيج په نزد دالله ﷻ په نافرمانی کی خرڅ کول اسراف دی ، که څه هم یوه پیسه ولی نه وی اوځینی حضرات فرمایی چی په جائزو اومباحو کارونو کی دضرورت څخه زیات خرڅ کول کوم چی دتبذیر یعنی دفضول خرڅی په حدکی داخل سی، داهم داسراف په حکم کی دی ، ځکه چی تبذیر یعنی فضول

خرڅی په نص دقرآن حرامه اوگناه ده ، دالله ﷻ ارشاد دی . إِنَّ الْمُبَذِّرِينَ كَانُوا إِخْوَانَ الشَّيَاطِينِ، په دی سره ددی تفسیر مطلب هم دحضرت ابن عباس ﷺ وغیره دذکر سوی تفسیرسو . یعنی په نا فرمانی اوگناه کی چی څه خرڅ سی ، هغه اسراف دی (مظهری)

او د، اِقْتَار، معنی په خرڅ کی تنگی اوبخل کول دی . دشرع په اصطلاح کی یی معنی دا ده چی په کومو کارونو کی الله او رسول دخرڅ کولو حکم کړی دی په هغه کی په خرڅ کولو کی تنگی کول دی (اوبالکل خرڅ نه کول په درجه اولی په دی کی دا خل دی) دا تفسیر هم دحضرت ابن عباس ﷺ وغیره څخه نقل دی . (مظهری) دآیت مطلب دا سو چی دالله ﷻ دمقبولو بندگانو صفت په مال خرڅ کولو کی دا وی چی داسراف او اقتار په مینځ کی په اعتدال اومیانه روی باندی عمل کوی .

دنبی کریم ﷺ ارشاد دی چی مِنْ فِقْهِ الرَّجُلِ قَصْدُهُ فِي مَعِيشَتِهِ، یعنی دانسان دهوښیارتیا نښانه دا ده چی په خرڅ کولو کی میانه روی کوی (نه په اسرف کی اخته وی نه په بخل کی) (روایت یی کړی دی امام احمد دابی درداء ﷺ څخه. ابن کثیر)

په یوبل حدیث کی دحضرت ابن مسعود ﷺ څخه روایت دی چی نبی کریم ﷺ فرمایلی دی، مَاعَالَ مَنِ اقْتَصَدَ، یعنی کوم سړی چی په خرڅ کی په میانه روی او اعتدال باندی قائم وی ، هغه هیڅیری فقیر او محتاج کیږی نه (رواه الامام احمد ، ابن کثیر)

اووم صفت . وَالَّذِينَ لَا يَدْعُونَ مَعَ اللَّهِ إِلَٰهًا آخَرَ . په اولنیو شپږو صفتونو کی دطاعت او فرمان برداری أصول راغلی دی . اوس دگناه اونافرمانی دمهمو اصولو بیان دی . چی په دی کی اولنی شی دعقیدی سره متعلق دی چی داخلق دالله ﷻ سره بل څوک په عبادت کی نه شریکوی . په دی سره دشرك غټه گناه والی معلوم سو چی شرك دټولو څخه لویه گناه ده .

اتم اونهم صفت . لَا يَقْتُلُونَ النَّفْسَ الآية، دا په عملی گناهونو کی دلویو لویو اوسختو گناهونو بیان دی چی دالله ﷻ مقبول بندگان دی ته نژدی نه ورځی، څوك په ناحقه نه قتلوی اوزنا ته نه نژدی کیږی ، ددی درو عقیدو اوعمل دلویو گناهونو دبیانولو څخه وروسته په آیت کی ارشاد دی . وَمَنْ يَفْعَلْ ذَٰلِكَ يَلْقَ أَثَامًا ، یعنی کوم سړی چی داذکرسوی گناهونه وکړل ، هغه به ددی سزا پیدا کی . ابو عبیده ﷺ دلته دلفظ د ، أثام، تفسیردگناهونوپه سزاسره کړی دی اوځینی مفسرین فرمایی چی أثام،دجهنم دیوی کندی نوم دی،کومه چی دسختوسختوعذابونو څخه ډکه ده.دحدیث په ځینو روایتونو کی هم ددی په شهادت کی لیکلی دی (مظهری) مخ ته دهغه عذاب بیان دی کوم چی به دذکرسوو جرمونو په کوونکو باندی وی او دآیتونو دسیاق اوسباق څخه دا خبره متعینه ده چی دا عذاب دکفارو دپاره مخصوص دی کومو چی شرك اوکفرهم وکی او ددی سره په قتل او زناکی هم مبتلاسول . څکه چی اول خو: يُضَاعَفْ لَهُ الْعَذَابُ، الفاظ دمسلمانانو گناهگارانو دپاره نه سی کیدی . څکه چی د دوی پریوه گناه دیوی سزا وعده په قرآن اوسنت کی منصوص

ده ، په سزا کی دوچندی یعنی په کیفیت یا انداز کی زیاتوب دمومنانو دپاره نسته دا دکفارو خصوصیت دی چی پرکفر باندی کوم عذاب وو چی دکفر سره یی بله گناه هم وکړه نو عذاب به یی دوچنده سی ، دوهم په دي عذاب کی دا هم ذکر دی . وَيَخْلُدْ فِيهِ مُهَانًا ، یعنی همیشه همیشه به په کی خوار اوذلیل اوسیږی . یو مومن دهمیشه دپاره په عذاب کی نه سی پاته کیدی هرڅومره لوی گناهگار چی وی دخپلو گناهونو دسزا تیرولو څخه وروسته به دجهنم څخه ویستل سی .

لنډه داچی کوم خلق په کفر اوشرك کی هم اخته سول اوقتل او زنا کی هم، ددوی عذاب به دوچنده وی او سخت به هم وی اوبیابه داعذاب همیشه هم وی مخ ته دابیان دی چی داسی سخت مجرم دکوم چی دلته عذاب ذکرسوی دی که هغه توبه وکاږی ، ایمان راوړی اونیك عمل وکی، نوالله ﷻ به دده گناهونه په نیکیو سره بدل کی . مطلب دا دی چی ددی توبی څخه وروسته به د دوی په عملنامه کی صرف نیکی پاته سی ، ځکه چی دشرك اوکفر څخه په توبه کولو سره دالله ﷻ وعده دا ده چی په حالت دکفر کی یی څومره گناهونه کړی وی ، په اسلام او ایمان قبلولوسره دغه تیر ټول گناهونو معاف سی ، په دي وجه په تیره زمانه کی چی کومه دده عملنامه دگناهونو څخه ډکه وه ، اوس په ایمان راوړلوسره هغه ټول معاف سول . مخ ته دده دگناهونو اوبدیو ځای ایمان اوددې څخه وروسته نیکو عملونو ونیوی اوگناهونه په نیکیو باندی دبدلولو دا تفسیر دحضرت ابن عباس ﷺ ، حسن بصری ، سعید بن جبیر، مجاهد وغیره امامانو دتفسیر څخه نقل دی (مظهری)

ابن کثیر ددی یو دوهم تفسیر دا هم نقل کړی دی چی دوی څومره گناهونه په زمانه دکفر اوجاهلیت کی کړی وه . دایمان راوړلو څخه وروسته به دهغو ټولو گناهونو پرځای نیکی ولیکل سی اووجه ددی دا ده چی دایمان راوړلو څخه وروسته کله دی خلقوته خپل گناهونه یادیږی نوپرهغه به پښیمانه کیږی اوتوبه به نوی کوی ، د دوی په دی عمل سره به هغه گناهونه په نیکو بدلیږی، ددی په دلیل کی یی ځینی روایتونه دحدیث هم پیش کړی دی .

وَمَنْ تَابَ وَعَمِلَ صَالِحًا فَإِنَّهُ يَتُوبُ إِلَى اللهِ مَتَابًا " په ظاهره دا دهغه مضمون تکرار دی ، کوم چی ددی څخه په مخکی آیت کی راغلی دی . إِلَّا مَنْ تَابَ وَآمَنَ وَعَمِلَ عَمَلًا صَالِحًا، اوقرطبی دقفال څخه دا نقل کړی دی چی دا توبه دمخکی توبی څخه جلا توبه ده ، ځکه چی اوله معامله دکفارو اومشرکانو وه کوم چی په قتل او زنا کی هم اخته سوی وه . بیایی ایمان راوړی نو د دوی بدی په نیکیو بدلی سوی . او دلته دمسلمانانو گناهگارو دتوبی ذکر دی . په دی وجه د اولی توبی سره، وَآمَنَ، یعنی دهغوی دایمان راوړلو ذکروو. په دی دوهمه توبه کی دا ذکر نسته . ددی څخه معلومیږی چی دا توبه دهغو خلقو ذکرسوي ده ، کوم چی داول څخه مومنان وه، مگرپه غفلت سره په قتل او زناکی اخته سوه نو د دوی په باره کی دا آیت نازل سوچی داسی خلق که دتوبی کولو څخه وروسته صرف په ژبانی توبه بسوالی ونه کړی، بلکه دآینده دپاره خپل

عمل هم صالح اودرست کړی نو د دوی توبه کول به صحیح اودرسته ګڼل کیږی، په دی وجه په طور دشرط دتوبې دابتدائی حال ذکر کولو څخه وروسته ددې په جزاء کی بیاد. يَتُوبُ، ذکرکول صحیح سول ، ځکه چی په شرط کی دکومی توبې ذکر دی ، هغه صرف زبانی توبه ده اوپه جزاء کی چی دکومی توبی ذکر دی ، هغه په نیك عمل باندی مرتبه ده .

مطلب دا سو چی چاتوبه وکښله، بیایی په خپل عمل سره هم دهغه توبی ثبوت ورکی نو هغه په صحیح طور سره دالله ﷻ طرف ته رجوع کوونکی ګڼل کیږی ، په خلاف دهغه څخه چاچی دتیری ګناه څخه توبه خو وکښله ، مګر آئنده یی په خپل عمل کی ددی ثبوت ورنه کی نو دده توبه ګویا توبه نه ده .

ددی آیت دمضمون خلاصه دا سوه چی کوم مسلمان په غفلت سره په ګناه کی اخته سو بیا یی توبه وکښله او ددی توبی څخه وروسته یی دخپل عمل هم داسی اصلاح وکړه چی دده په عمل سره دتوبی ثبوت ورکول سو نو دا توبه به هم دالله ﷻ په نزدمقبوله وی اوپه ظاهره به ددی فائده هم هغه وی کومه چی په مخکی آیت کی ښوول سوې ده چی دده ګناهونه به په نیکیو سره بدل سی .

دالله ﷻ دمخصوصو بندګانو دخاصو صفتونو بیان دلوړه څخه راروان وو، په مینځ کی دګناه څخه دتوبی کولو داحکامو بیان راغی اوس دپاته صفتونو بیان دی .

لسم صفت . وَالَّذِينَ لَا يَشْهَدُونَ الزُّورَ یعنی داخلق په درواغو او باطلو مجلسونو کی نه شریك کیږی . دتولو څخه لوی درواغ او باطل خو شرك او کفر دی ددی څخه وروسته عام درواغ او دګناه کارونه دی . مطلب دآیت دا دی چی دالله ﷻ مقبول بندګان په داسی مجلسونو کی دشرکت څخه هم ځان ساتی .

حضرت ابن عباس ﷺ فرمایی چی ددی څخه مراد دمشرکانو اخترونه اومیلی دی . حضرت مجاهد او محمدبن حنفیه رحمهما الله فرمایی چی ددی څخه مراد دټنګ ټکور محفلونه دی . عمرو بن قیس فرمایی چی دبی حیایی او دنخاګانو رنګونو محفلونه ورڅخه مراد دی (ابن کثیر)

او حقیقت دا دی چی په دی ټولو اقوالو کی څه اختلاف نسته . دا ټول مجلسونه دمجلس زور مصداق دی .

دالله ﷻ نیکو بندګانو ته دداسی محفلونو څخه ځان ساتل په کار دی . ځکه چی لغو او باطل قصداً لیدل هم دشرکت په حکم کی دی (مظهری)

اوځینی مفسرینو حضراتو په . لَا يَشْهَدُونَ الزُّورَ، کی . يَشْهَدُونَ په معنی دشهادت یعنی شاهدی اخستی دی اومعنی دآیت یی دا مقرر کړې ده چی داخلق د درواغو شاهدی نه کوی . د درواغو دشاهدی ګناه کبیره کیدل اوعظیمه ګناه والی خو په قرآن اوسنت کی مشهور او معروف دی ، په بخاری او مسلم کی دحضرت انس ﷺ څخه روایت دی چی نبی کریم ﷺ د درواغو شاهدی ته اکبر الکبائر فرمایلی دی .

حضرت فاروق اعظم ﷺ فرمایی چی دکوم سړی متعلق ثابته سی چی ده د درواغو شاهدی اداکړه نو ده ته دی دخلوېښتو دُرّو سزا ورکول سی او مخ دی ورتور کړی ، په بازارونو کی دی وګرځول سی او رسوادی سی . بیادی ډیره زمانه په قید کی وساتل سی (رواه ابن ابی شیبه وعبد الرزاق، مظهری)

یوولسم صفت . وَإِذَا مَرُّوا بِاللَّغْوِ مَرُّوا كِرَامًا. یعنی که چیری اتفاقًا په خطا اوبی هوده مجلسونو راسی نو په سنجید گی او شرافت سره تیر سی . مطلب دا دی چی په داسی مجلسونو کی دا خلق لکه څنګه چی په قصد اواراده سره نه شریکیږی . دغه ډول که چیری اتفاقی توګه پر داسی مجلسونو باندی دوی راسی نو ددی فسق او فجور دمجلس څخه په شرافت سره تیریږی ، یعنی د دوی دا کار بد او قابل نفرت ګنی ، نه په ګناهونو کی د اخته خلقو څه سپکوالی کوی اونه په خپله خپل ځان د دوی څخه ښه ګنی . چی تکبر کوی .
حضرت عبدالله ابن مسعود رضی الله عنه یوه ورځ اتفاقًا پر داسی عبث اوخطامجلس باندی تیرسو ، نوهلته حصارنه سو ، بلکی پرمخ تیرسو . نبی کریم ﷺ ته دا معلومه سوه ، نو ویی فرمایل چی ابن مسعود کریم سو او دا آیت یی تلاوت وفرمایی، په کوم کی چی تربی هوده مجلس دکریمانه شریفانو په شان دتیریدو حکم دی (ابن کثیر)

دولسم صفت . وَالَّذِينَ إِذَا ذُكِّرُوا بِآيَاتِ رَبِّهِمْ لَمْ يَخِرُّوا عَلَيْهَا صُمًّا وَعُمْيَانًا. یعنی ددی مقبولو بندګانو داشان دی چی کله دوی ته دالله ﷻ آیتونه او آخرت وریادسی نوهغوی ددی آیتونوطرف ته ړندوکڼوپه شان نه متوجه کیږی ، بلکی د اوریدونکو اولیدونکو انسانانو په شان په دی کی فکرکوی اوعمل په کوی . دغافلو او مغفلو خلقو په شان داسی معامله نه کوی چی دوی ګرسره اوریدلی نه وی یایی ګرسره لیدلی نه وی . په دی آیت کی دوه شیان ذکردی ، یو دالله ﷻ پرآیتونو باندی غوږ نیول یعنی په دی اهتمام سره ورته متوجه کیدل . دا خو یونیك ښه اومقصودی کار او ډیره لویه نیکی ده . دوهم ړندو کڼو په ډول پر تیریدل ، چی دقرآن آیتونو ته توجه خو ورکی ، مګرپاپه عمل کولو کی داسی معامله وکی چی ګویادوی ګرسره اوریدلی اولیدلی نه دی اویادقرآن په آیتونوعمل هم کوی، مګر دوی دصحیح اصولو اواصحابو کرامو رض او تابعینودتفسیرخلاف په خپله رایه یاداوریدلوخبرو تابع کوی اوغلط عمل کوی . دا هم یو قسم ړوندوالی اوکڼوالی غورځیدو په حکم کی دی .

(ددیني احکامو صرف مطالعه کافي نه ده، بلکي دا سلافو دتفسیر مطابق یې زده کول او عمل کول په ضروري دی)

په ذکرسوو آیتونو کی چی څنګه ددی کار سخت بدوالی بیان سوی دی چی دالله ﷻ آیتونو طرف ته توجه نه ورکوی او ړندو او کڼو په شان معامله کوی ، دغه ډول ددی هم بدوالی دی چی توجه ورته ورکی او عمل هم په وکی مګر په بی پوهی سره په خپله رایه چی څنګه غواړی عمل په کوي .
ابن کثیر دابن عون څخه نقل کړی دی چی دوی دحضرت شعبی څخه پوښتنه وکړه چی که زه یومجلس ته ورسیږم چی هلته خلق پرسجده پراته وی اوماته معلومه نه وی چی څنګه سجده ده ؟ نو آیازه به هم د دوی سره په سجده کي شریك سم ؟ حضرت شعبی وفرمایل چی نه . دمومن دپاره داصحیح نه ده چی بی پوهی په یوکار شروع سی ، بلکی پرده لازمه ده چی ښه په پوهی سره عمل کوی. کله چی دسجدی هغه آیت تاسی نه وی اوریدلی ، دکوم پربنا چی داخلق سجده کوی اوتاسی ته د دوی دسجدي حقیقت هم معلوم نه وی ، نودغه ډول دهغوی سره په سجده کی شاملیدل جائز نه دي .
په دی زمانه کی دا خبره خو دشکر قابله ده چی په ځوانانو اونوی تعلیم یافته طبقه کی دقرآن ویلو اوپه دی

دپوهیدو طرف ته څه توجه پیدا سوې ده او ددې په بنادوې په خپله دقرآن ترجمه یادچادتفسیر په لیدو په خپله په قرآن دپوهیدو کوشش هم کوي . مګر دا کوشش بالکل بې اصوله دی څکه چې په قرآن دصحیح پوهیدو پرځای په ډیرو غلطیو کې اخته سي . اصولي خبره دا ده چې ددنیایو دمعمولي څخه معمولي فن هم یوازې دکتاب په مطالعه سره سمْ نه سي حاصلیدی ، ترڅو پورې چې يې ديو استاد څخه ونه وایي . معلومه نه ده چې قرآن او دقرآن علوم ولې داسي ګنل کیږي چې دچاړه غواړي په خپله ترجمه ګوري چې څه مراد غواړي هغه ورڅخه متعین کوي . دا بې اصوله مطالعه چې ديو ماهر استاد رهنمایي په کې شامله نه وي . دا هم دالله ﷻ په آیتونو باندې درندو اوکنو تیریدو په مفهوم کې شامله ده. الله ﷻ دې مونږ ټولو ته دنیکی لارې توفیق را کې .

دریارلسم صفت . وَالَّذِينَ يَقُولُونَ رَبَّنَا هَبْ لَنَا مِنْ أَزْوَاجِنَا وَذُرِّيَّاتِنَا قُرَّةَ أَعْيُنٍ وَاجْعَلْنَا لِلْمُتَّقِينَ إِمَامًا" په دې کې دخپل اولاد اوبیبیانو دپاره دالله ﷻ څخه دا دعاده چې دوی زمادپاره دسترګو یخوالي جوړکې . دسترګو دیخوالي جوړولو څخه مراد دحضرت حسن بصري رحمه الله دتفسیر مطابق دا دی چې دوی دالله ﷻ په اطاعت کې مشغول ویني دا ديو انسان دپاره دسترګو یخوالي دی اوکه د اولاد اوبیبیانو ظاهري صحت عافیت اوخوشحالي په دې کې شامله سي نو هم صحیح ده .

دلته ددې دعاڅخه دې طرف ته هم اشاره ده چې دالله ﷻ مقبول بندګان صرف دخپل نفس په اصلاح اونیکو عملونو قناعت نه کوي ، بلکې دخپل اولاد اوبیبیانو هم دعملونو او اخلاقو د اصلاح فکر کوي او د دوی دپاره کوشش کوي ، په دې کوشش کې یوه دا هم ده چې د دوی دصلاحیت دپاره دالله ﷻ څخه دعاغواړي . ددې آیت په وروسته جمله کې ددعا دا جز هم دی . وَاجْعَلْنَا لِلْمُتَّقِينَ إِمَامًا ، یعني مونږ دمتقي خلقو امام اوپیشوا جوړکې ، په دې کې په ظاهره دخپل ځان دپاره مرتبه اومنصب او دلویي حاصلولو دعاده کومه چې دقرآن په نورو نصوصو سره ممنوع ده . لکه چې دقرآن ارشاد دی . تِلْكَ الدَّارُ الْآخِرَةُ نَجْعَلُهَا لِلَّذِينَ لَا يُرِيدُونَ عُلُوًّا فِي الْأَرْضِ وَلَا فَسَادًا ، یعني مونږ دآخرت کور مخصوص کړی دی . دهغو خلقو دپاره کوم چې په مځکه کې خپله لویي اومشري نه غواړي اونه په مځکه کې فساد پورته کوي . په دې وجه ځیني علماوو ددې آیت په تفسیر کې فرمایلي دي چې هرسړی دخپل اهل اوعیال په قدرتي طور باندې امام اوپیشوا وي په دې وجه ددې دعامطلب دا سو چې زمونږ اولاد اواهل اوعیال متقیان جوړکې اوچې دوی متقیان سي نو په طبعي طور به دا سړی دمتقیانو امام اوپیشوا جوړسي ، نو مطلب يې دا سو چې دلته دخپلې لویي دعانه ده ، بلکې د اولاد اوبیبیانو دمتقي جوړیدو دعاده .

او ابراهیم نخعي فرمایي چې په دې دعاکې دځان دپاره دڅه ریاست او امامت اوپیشوا يي طلب کول مقصود نه دی ، بلکې مقصود ددې دعادا دی چې مونږ داسې جوړکې چې خلق په دین او عمل کې زمونږ اقتدا کوي او زمونږ دعلم او عمل څخه دوی ته نفع ورسیږي چې ثواب يې مونږ ته حاصل سي .

او حضرت مکحول شامی فرمایی چی ددی دعامقصود دځان دپاره دتقوی داسی اعلی مقام حاصلول دی چی ددنیا متقیانو خلقو ته هم زمونږ دعمل څخه فائده ورسیږی . قرطبی ددی دوارو قولونو دنقل کولو څخه وروسته فرمایی چی ددی دوارو مطلب یو دی چی دریاست او امامت طلب کوم چی ددین دپاره او دآخرت دفائدې دپاره وی ، هغه بد نه دی ، بلکه جائز دی اوآیت . لَا يُرِيدُونَ عُلُوًّا ، کی دهغه ریاست او اقتدار دخواهش بدوالی دی ، کوم چی ددنیوی عزت او مرتبی دپاره وی ، والله اعلم

تردی ځای پوری د ، عِبَادُ الرَّحْمٰنِ ، یعنی دکاملو مومنانو دمهمو صفتونو بیان پوره سو ، مخ ته د دوی دجزا او دآخرت د درجو ذکردی .

أُولٰٓئِكَ يُجْزَوْنَ الْغُرْفَةَ د ، غُرْفَة ، لغوی معنی بالاخانه ده ، په جنت کی به دخاصو مقربو دپاره داسی بالاخانی وی کومی چی به عامو جنتیانو ته داسی په نظر ورځی ، لکه دمځکی خلق چی ستوری وینی «بخاری مسلم وغیره مظهری»

مسند احمد . بیهقی ، ترمذی ، حاکم کی دحضرت ابومالك اشعری ﷺ څخه روایت دی چی نبی کریم ﷺ فرمایلی دی چی په جنت کی به داسی بالاخانی وی چی دننه حصه به یی ددباندی څخه اوبهرنی حصه به یی ددننه څخه په نظر راځی ، خلقو پوښتنه وکړه یارسول الله ! دابالاخانی به دکومو خلقو دپاره وی ؟ دوی وفرمایل کوم سړی چی خپله خبره نرمه اوپاکه ساتی اوخلقو ته سلام کوی او دشپی په هغه وخت کی دتهجد لمونځ کوی کله چی خلق خوب کوی «مظهری»

وَيُلَقَّوْنَ فِيهَا تَحِيَّةً وَّسَلَامًا ، یعنی دجنت دنورو نعمتونو سره به دوی ته دا عزت هم حاصل وی چی ملائکی به دوی ته مبارکباد ورکوی اوسلام به ورته کوی . تردی ځای پوری دمخلصو مومنانو خصوصی عادتونه او عملونه او د دوی دجزا اوسزا ذکروو . په آخری آیت کی بیادکفارو او مشرکانو دعذاب څخه په بیرولو سره یی سورة ختم کی .

قُلْ مَا يَعْبَؤُا بِكُمْ رَبِّي لَوْلَا دُعَاؤُكُمْ ، ددی آیت په تفسیر کی مختلف اقوال دی ، زیات واضح او آسان هغه دی کوم چی په لنډتفسیر کی لوړ لیکل سوی دی چی دالله په نزد به ستاسی هیڅ وقعت او حیثیت نه وای که ستاسی دطرف څخه الله ﷻ بلنه او دهغه عبادت کول نه وای ، ځکه دانسان دپیدا کولومنشاء دا ده چی دی دالله ﷻ عبادت وکی ، لکه چی په بل آیت کی دی . وَمَا خَلَقْتُ الْجِنَّ وَالْإِنْسَ إِلَّا لِيَعْبُدُونِ ، یعنی ما انسان اوپیری دبل څه کار دپاره نه دی پیداکړی بغیر ددی چی دغه زماعبادت وکی نو دا خو یوه عامه قاعده بیان سوه چی بغیر دعبادت څخه دانسان هیڅ قدر اوقیمت اووقعت اوحیثیت نسته . ددی څخه وروسته کفار اومشرکان کوم چی درسالت اوعبادت څخه منکردی ، هغوی ته خطاب دی چی .

فَقَدْ كَذَّبْتُمْ ، یعنی تاسی خو ټول شیان درواغجن کړی دی اوس ستاسی هیڅ وقعت دالله ﷻ په نزد نسته .

فَسَوْفَ يَكُونُ لِزَامًا ، یعنی اوس دا درواغجن کول اوکفر ستاسی دغاړی هار جوړسوی دی او ستاسی سره به پیوست وی ، تر دی چی دجهنم په دائمی عذاب کی به اخته کړی پرینښوول سی . یا الله مونږ ته د

دورخیانو دحال څخه آمان راکړی ، آمین ثم آمین ثم آمین .

تم بحمد الله سبحانه وتعالی تفسیر سورة الفرقان یوم الاحد لثالث عشر من صفر المظفر سنه ۱۳۹۱هـ وباتمامه تم بعون الله وکرمه الحزب الرّابع من الاحزاب السبعة القرآنیة والله سبحانه وتعالی ارجو واسال اتمام الباقی وما ذالك علی الله بعزیز .

سُورَةُ الشُّعَرَاءِ مَكِّيَّةٌ وَهِيَ مِائَتَانِ وَ سَبْعٌ وَعِشْرُونَ آيَةً وَإِحْدَى عَشَرَ رُكُوعًا بِسْمِ اللَّهِ الرَّحْمَٰنِ الرَّحِيمِ

سورة شعرآء په مکه کی نازل سوې ده دی کی دوه سوه (۲۲۷) اوویشت ایتونه او یولس رکوع گانی دی .

طسٓمٓ ۝١ تِلْكَ آيَاتُ الْكِتَابِ الْمُبِينِ ۝٢ لَعَلَّكَ بَاخِعٌ نَفْسَكَ أَلَّا

دا آیتونه دی دکتاب واضحه ، شاید ته وېلی کړی خپل ځان په دی خبره

يَكُونُوا مُؤْمِنِينَ ۝٣ إِنْ نَشَأْ نُنَزِّلْ عَلَيْهِمْ مِنَ السَّمَاءِ آيَةً فَظَلَّتْ

چی دوی یقین نه کوی ، که مونږ وغواړو نو نازل به کړو په دوی دآسمان څخه نښانه پس سی به

أَعْنَاقُهُمْ لَهَا خَاضِعِينَ ۝٤ وَمَا يَأْتِيهِمْ مِنْ ذِكْرٍ مِنَ الرَّحْمَٰنِ مُحْدَثٍ

څټونه د دوی هغه ته کښېته ، او نه دی رسیدلی دوی ته څه نصیحت درحمن څخه نوی

إِلَّا كَانُوا عَنْهُ مُعْرِضِينَ ۝٥ فَقَدْ كَذَّبُوا فَسَيَأْتِيهِمْ أَنْبَاءُ مَا كَانُوا بِهِ يَسْتَهْزِئُونَ ۝٦

چی دوی ورڅخه مخ نه دی اړولی پس دوی دروا غجن کړی دی پس رابه سی دوی ته حقیقت دهغه خبری چی دریوری مسخری کولی

أَوَلَمْ يَرَوْا إِلَى الْأَرْضِ كَمْ أَنْبَتْنَا فِيهَا مِنْ كُلِّ زَوْجٍ كَرِيمٍ ۝٧

آیا نه گوری هغه مځکی ته چی څومره زرغون کړی دی مونږ په دی کی دهرقسم خاص شیان

إِنَّ فِي ذَٰلِكَ لَآيَةً ۖ وَمَا كَانَ أَكْثَرُهُمْ مُؤْمِنِينَ ۝٨ وَإِنَّ رَبَّكَ لَهُوَ الْعَزِيزُ الرَّحِيمُ ۝٩

په دی کی خامخا نښانی دی اوپه دوی کی ډېرخلق نه دی منونکی ، اوبېشکه ستارب هغه دی زبردست رحم والا .

لنډتفسیر : طسم (ددی معنی خو الله ﷻ ته معلومه ده) دا (مضامین کوم چی پرتاباندی نازلیږی) دکتاب واضح (یعنی قرآن) آیتونه دی (او دا خلق کوم چی په دی ایمان نه راوړی نوته دومره غم ولی کوی چی معلومیږی) شایدته د دوی په ایمان نه را وړلو باندی (تردی افسوس کوی چی) خپل روح به ورکی (اصل

خبره دا ده چې دا دنیا دآزمائش ځای دی . په دی کې دحق پرثابتولو هغه دلیلونه قائمیږي دکومو څخه وروسته چې ایمان راوړل دبنده په اختیار کې وی کنه نو) که مونږ (جبراً دوی مومن کول) وغواړو نو پر دوی داسمان څخه یوه (داسې) لویه نښانه به نازله کړو (چې د دوی اختیار به بالکل سلب سی) بیابه د دوی ځتونه په (راتلو) ددغه نښانی سره کښېته سی (او اضطراراً به مومنان سی لیکن په داسی کولو سره به آزمائش باقی پاته نه سی ، په دی وجه داسی نه کول کیږي او معامله به دجبر او اختیار په مینځ کی وی) آو (د دوی دا حالت دی چې) دوی ته څه تازه فهمائش د (حضرت) رحمٰن (ﷻ) دطرف څخه داسی نه راځی دکوم سره چې دوی بی لاری نه کوی پس (ددی بی لاری دی حد ته نوبت ورسیدی چې) دوی (حق دین) درواغجن کی (کومه چې دمخ اړولو انتهایی درجه ده او صرف ددی پرابتدایی درجه یعنی بی التفاتی یی صبر ونه سو اوبیا درواغجن کول هم یوازی نه بلکې دمسخرو سره) پس آوس به دیر ژر دوی ته ددی خبری حقیقت معلوم سی دکوم سره چې دوی مسخری کولی (یعنی کله چې عذاب الهی یادمرګ په وخت یاپه قیامت کی ووینی ، دغه وخت به قرآن او څه چې په قرآن کې دی یعنی دعذاب وغیر حق والی ښکاره سی) آیادوی مخکه نه ده لیدلی (کومه چې دوی ته ډیره نژدی اوهر وخت یی په نظر کی ده) چې مونږ په دی کې څومره عمده قسم قسم بوټی زرغونه کړی دی (کوم چې دتولو مصنوعاتو په شان دخپل جوړونکو پر وجود او دده پریووالی اوکمالی قدرت دلالت کوی چې) په دی کی (دتوحید ذاتی اوصفاتی اوافعالو) یوه لویه نښانه (عقلی) ده (او دا مسئله هم عقلی ده چې دخدای دپاره ذاتی او صفاتی کمال شرط دی او د ذکرسوی کمال سره لازمه ده چې هغه په خدایی کی یوازی وی) او (سره ددی) په دوی کی اکثره خلق ایمان نه راوړی (او شرک کوی ، غرض دا چې شرک کول دنبوت څخه د انکار څخه هم زیاته گناه ده، ددی څخه معلومه سوه چې د دوی عناد د دوی فطرت بالکل خراب کړی دی ، بیا پرداسی خلقو باندی خفګان دڅه دی) او (که د دوی دالله ﷻ په نزد دشرك په بدوالی کی دا شبهه وی چې پرمونږ عذاب فوراً ولی نه راځی نو دهغه جواب دا دی چې) بیشکه ستارب (سره ددی چې) غالب (اوکامل قدرت والا) دی (مګر ددی سره) رحیم (هم) دی (او دهغه عام رحمت په دنیاکی دکفارو سره هم متعلق دی ، دهغه اثر دا دی چې دوی ته یی مهلت ورکړی دی کنه نوکفر یقیناً بد او دعذاب مقتضی دی .

معلومات اومسئلي : لَعَلَّكَ بَاخِعٌ نَّفْسَكَ، بَاخِعٌ، د بَخْعٌ څخه مشتق دی ، معنی یې دا ده چې په ذبح کولوکی بخاع ته ورسیږی کوم چې په ښټ کی یو رګ دی ، او دلته د، باخِعٌ، څخه مراد خپل ځان په تکلیف او مشقت کی اچول دی ، علامه عسکری رحمه الله فرمایی چې په داسی مقاماتوکی که څه هم صورت دخبریه جملی دی مګرحقیقتً ددی څخه مرادنهی او ممانعت کول دی . مطلب دا دی چې ای پیغمبره ! دخپل قوم دکفر او داسلام څخه دمخ اړولو په سبب دومره غم مه کوه چې خپل ځان ویلی کړی . ددی آیت څخه یوه خو دا معلومه سوه چې دچاکافر په باره کی که دا معلومه هم سی چې دده په تقدیر کی ایمان راوړل نسته ، بیا هم ده ته دتبلیغ کولو څخه منع کیدل نه دی په کار . دوهمه دا معلومه سوه چې په مشقت کی اعتدال په کار دی

او کوم سړي چي هدایت نه کي پیدا، په هغه زیات غم او خفگان نه دی په کار.

إِنْ نَشَأْ نُنَزِّلْ عَلَيْهِمْ مِنَ السَّمَاءِ آيَةً فَظَلَّتْ أَعْنَاقُهُمْ لَهَا خَاضِعِينَ ° علامه زمخشري رحمه الله فرمایي چي اصل کلام فظلوا لها خاضعین، دی یعني کفار چي دالویه نښانه ووینی نو تابعدار به سي او کښته به سي. لیکن دلته داعناق لفظ ددی ظاهرولو دپاره راوړل سوی دی چي ځای دخضوع ظاهرسی، ځکه چي کښته کیدل وغیره او عاجزی کول دتولو څخه اول په ښټ ظاهریږي. مضمون ددی آیت دا دی چي مونږ پردی باندی هم قادر یو چي دخپل توحید او کامل قدرت څه نښانی ظاهری کړو چي په دغو سره شرعی احکام او الهی حقائق په داګه مخ ته راسی او دچادانکار کولو مجال پاته نه سی، مگر دحکمت مقتضیٰ دا ده چي دا احکام او معلومات په ناچاریٔ سره نه وی، بلکه نظری وی چي په غور او فکر موقوف وی او دا غور او فکر د انسان ازمایش دی، پردی ثواب او عذاب مرتّب دی دناچاریٔ دشیانو اقرار خو یو طبعی او ضروری امردی. په دی کی دبندگی او اطاعت شان نسته (قرطبی)

زَوْجٍ كَرِيمٍ، دزوج لفظی معنیٰ جوړه ده، په دی وجه سړی ښځی او نر مادی ته زوج ویل کیږی. په ډیرو درختو کی هم نر اوماده وی، دی ته په دی مناسبت سره هم زوج ویل کیږی او کله لفظ د زوج دیو خاصی نوع او قسم په معنیٰ کی هم راځی. ددی معنیٰ په لحاظ سره د درختو هر یو قسم ته زوج ویل کیږی او دکریم معنیٰ ده عمده او غوره شی.

وَإِذْ نَادَىٰ رَبُّكَ مُوسَىٰ أَنِ ائْتِ الْقَوْمَ الظَّالِمِينَ ﴿١٠﴾ قَوْمَ فِرْعَوْنَ ۚ أَلَا يَتَّقُونَ ﴿١١﴾

او هر کله چي اواز وکی ستارب موسی علیه السلام ته چي ولاړ سه هغه قوم گناهگارته قوم دفرعون ته، ایا دوی نه بیریږي؟

قَالَ رَبِّ إِنِّي أَخَافُ أَنْ يُكَذِّبُونِ ﴿١٢﴾ وَيَضِيقُ صَدْرِي وَلَا يَنْطَلِقُ لِسَانِي فَأَرْسِلْ

وې ویل چي ای ربه! زه بیریږم چي مابه دروا غجن کړي، او تنگیږي زماسینه او نه چلیږي زماژبه پس پیغام ولیږه،

إِلَىٰ هَارُونَ ﴿١٣﴾ وَلَهُمْ عَلَيَّ ذَنْبٌ فَأَخَافُ أَنْ يَقْتُلُونِ ﴿١٤﴾ قَالَ كَلَّا ۖ فَاذْهَبَا بِآيَاتِنَا ۖ إِنَّا مَعَكُمْ مُسْتَمِعُونَ ﴿١٥﴾

هارون ته او د دوی په ما دیوی گناه دعوی ده پس وبیریږم چي مابه قتل کی، وفرمایل هیڅکله نه تاسو دواړه ولاړسی زمونږ دنښانو سره مونږ تاسو سره یو او ریدونکی،

فَأْتِيَا فِرْعَوْنَ فَقُولَا إِنَّا رَسُولُ رَبِّ الْعَالَمِينَ ﴿١٦﴾ أَنْ أَرْسِلْ مَعَنَا بَنِي إِسْرَائِيلَ ﴿١٧﴾

پس ولاړسی فرعون ته او ووایاست چي مونږپیغام راوړی دی دپروردگارعالم څخه، دا چي ولیږه مونږ سره بنی اسرائیل،

قَالَ أَلَمْ نُرَبِّكَ فِينَا وَلِيدًا وَلَبِثْتَ فِينَا مِنْ عُمُرِكَ سِنِينَ ﴿١٨﴾ وَفَعَلْتَ

وې ویل چي آیانه دی پاللی مونږ تاته په خپل مینځ کي کوچنی او پاته سوی یی ته په مونږ کی دخپل عمر ډیرکلونه او وکی

فَعَلْتَكَ الَّتِىْ فَعَلْتَ وَاَنْتَ مِنَ الْكٰفِرِيْنَ ﴿۱۹﴾ قَالَ فَعَلْتُهَآ اِذًا وَّاَنَا مِنَ الضَّآلِّيْنَ ﴿۲۰﴾

تاخپل هغه کارکوم چې دې وکې او ته یې ناشکره ، وې ویل کړی خومې وو هغه کار اوزه وم غلطی کوونکی ،

فَفَرَرْتُ مِنْكُمْ لَمَّا خِفْتُكُمْ فَوَهَبَ لِىْ رَبِّىْ حُكْمًا وَّجَعَلَنِىْ مِنَ الْمُرْسَلِيْنَ ﴿۲۱﴾

بیا وتښتیدم تاسې څخه کله چې مې ستا بیره ولیده بیا راکې ماته زمارب حکم او جوړیې کړم زه د پیغام رسوونکو ته ،

وَتِلْكَ نِعْمَةٌ تَمُنُّهَا عَلَىَّ اَنْ عَبَّدْتَّ بَنِىْٓ اِسْرَآءِيْلَ ﴿۲۲﴾ قَالَ فِرْعَوْنُ

او آیا هغه احسان دې چې ته یې په ما ږدې چې غلامان کوړ کړل تا بنی اسرائیلو ته ووېل فرعون ،

وَمَا رَبُّ الْعٰلَمِيْنَ ﴿۲۳﴾ قَالَ رَبُّ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ وَمَا بَيْنَهُمَا ؕ اِنْ كُنْتُمْ مُّوْقِنِيْنَ ﴿۲۴﴾ قَالَ لِمَنْ حَوْلَهٗٓ

معنی د ه د پروردګار عالم ؟ ووېل پروردګار د اسمانو او د مځکو او څه چې ددې دواړو په مینځ کې دی که تاسو یقین کوی ،وې ویل دخپلې خوا خلقو ته

اَلَا تَسْتَمِعُوْنَ ﴿۲۵﴾ قَالَ رَبُّكُمْ وَرَبُّ اٰبَآئِكُمُ الْاَوَّلِيْنَ ﴿۲۶﴾ قَالَ اِنَّ رَسُوْلَكُمُ الَّذِىْٓ اُرْسِلَ

آیا تاسې نه اورې ؟ وې ویل رب ستاسې او رب ستاسې دمخکې پلارنیکونو وې ویل ستاسې پیغام راوړنکی کوم چې ستاسې ته رالیږل

اِلَيْكُمْ لَمَجْنُوْنٌ ﴿۲۷﴾ قَالَ رَبُّ الْمَشْرِقِ وَالْمَغْرِبِ وَمَا بَيْنَهُمَا ؕ اِنْ كُنْتُمْ تَعْقِلُوْنَ ﴿۲۸﴾ قَالَ لَئِنِ اتَّخَذْتَ

سوی دی ، لیونی دی ، وې ویل رب دمشرق او مغرب او څه چې ددې دواړو په مینځ کې دی که تاسې پوهیږې ؟ وې ویل که تامقرر کې ،

اِلٰهًا غَيْرِىْ لَاَجْعَلَنَّكَ مِنَ الْمَسْجُوْنِيْنَ ﴿۲۹﴾ قَالَ اَوَلَوْ جِئْتُكَ بِشَىْءٍ مُّبِيْنٍ ﴿۳۰﴾

بل معبود زما څخه ماسوا نو خامخا به تا وګرځوم په قید کې ، وې ویل او که چیرې راوړم تا ته یو شی ښکاره ،

قَالَ فَاْتِ بِهٖٓ اِنْ كُنْتَ مِنَ الصّٰدِقِيْنَ ﴿۳۱﴾ فَاَلْقٰى عَصَاهُ فَاِذَا هِىَ ثُعْبَانٌ مُّبِيْنٌ ﴿۳۲﴾

وې ویل ته هغه شی راوړه که ته رښتیاوایې؟ پس وی غورځوله خپله لکړه پس هغه وخت هغه اژدها ښکاره جوړه سوه

وَّنَزَعَ يَدَهٗ فَاِذَا هِىَ بَيْضَآءُ لِلنّٰظِرِيْنَ ﴿۳۳﴾

او ددننه څخه یې را ویستې لاس خپل پس وخت سپین وولیدونکو ته

لنډتفسیر: او (دې خلقو ته دهغه وخت قصه ذکر کړه) کله چې ستارب موسی (علیه السلام) ته آواز وکې (او حکم یې ورته وکې) چې ته هغو ظالمانو خلقو یعنی قوم دفرعون ته ولاړسه (او ای موسی وګوره) آیا داخلق (زمونږ دغضب څخه) نه بیریږی؟ (یعنی د دوی حالت عجیبه او بد دی په دی وجه دهغوی طرف ته تاسی لیږل کیږی) ده عرض وکې چې ای زما پر وردګاره (زه ددی خدمت دپاره حاضریم لیکن ددی خدمت دپوره کولو

دپاره یو مدد ګار غواړم ځکه چې) زماسره دا بیره ده چې هغوی ما (دخپلی خبری دپوره کولو څخه مخکی) دروا غجن کی او (په طبعی طور سره په داسی وخت کی) زما زړه تنګیږی او زما ژبه (په ښه ډول سره) نه چلیږی ، په دی وجه هارون ته (هم وحی) ولیږه (او هغه ته نبوت ورکړه چی هغوی مادرواغجن کوی نو چی دی می تصدیق کوی او زړه می خلاصیږی او ژبه می روانه وی اوکه زما ژبه څه وخت بنده سی نو چی دی تقریر کوی ، او که هرڅومره دا غرض خوهارون ﷺ دځان سره په هسی بیولو باندی هم حاصلیدی سوای ، مګر په نبوت ورکولو کی زیات په کامله وجه سره پوره سو) او (یوه خبره دا قابل عرض ده چی) زماپه ذمه ددغو خلقو یو جرم هم دی (چی زمادلاسه دیو قبطی قتل سوی دی چی قصه به یی په سورة قصص کی راسی) پس (په دی وجه) زماسره (یوه) بیره دا ده چی هغه خلق به ما (درسالت دتبلیغ څخه مخکی) قتل کړی (نو بیا به هم زه تبلیغ ونه کړی سم نو ددې هم یو تدبیر وفرمایی) ارشاد ورته وسو چی دچاڅه مجال دی (چی داسی به وسی او مونږ هارون ﷺ ته هم پیغمبری ورکړه ، اوس دتبلیغ دواړه مانع لیری سول) پس (اوس) تاسی دواړه زما احکام یوسی (چی هارون ﷺ هم نبی سو او) مونږ (په نصرت او امداد سره) ستاسی سره یو (اوکومی خبری چی ستاسی او دهغوی په مینځ کی کیږی هغه) اورو پس تاسی دواړه فرعون ته ولاړسی او (هغه ته) وواياست چی مونږ درب العٰلمین رالیږل سوی یو (او دتوحید ددعوت سره مونږ دا حکم هم راوړی دی) چی ته بنی اسرائیل (دخپل بیګار او ظلم څخه آزاد کړه د دوی اصلی وطن دشام طرف ته یی) زما سره پریږده (ددی دعوت خلاصه په حقوق الله اوحقوق العباد کی ظلم او زیاتوب پریښوول دی ، چنانچی دا دواړه حضرات ولاړه او فرعون ته یی دا تولی خبری وکړی) فرعون (دا تولی خبری واوریدی، اول موسیٰ ﷺ یی وپیژندی او ده ته متوجه سو او) وې ویل چی (آها دا ته یی) آیا په کوچنیوالی کی مونږ ستا پرورش نه دی کړی او ته په خپل (دی) عمرکی ډیرکلونه په مونږ کی نه یی اوسیدلی او تاخپل هغه حرکت هم کړی وو کوم چی وو (یعنی قبطی دی قتل کړی وو) اوته ډیر ناشکره یی (چی زمادی خوړه او زما سړی دی قتل کی بیامادخپل ځان دتابع کولو دپاره راغلی ، په کار خو دا وه چی ته زماپه مخکی غلی اوسیدی) موسیٰ (ﷺ) جواب ورکی چی (واقعی) هغه وخت دغه حرکت ما کړی وو او زما څخه غلطی سوی وه (یعنی قصداً ماقتل نه ووکړی ، هغه دظالمانه طریقی څخه منع کول مقصود وو اتفاقاً هغه مړ سو) بیا کله چی زما سره بیره سوه نوزه ستاسی څخه مفرور سوم، بیاماته زمارب پوه راکړه اوزه یی په پیغمبرانو کی شامل کړم (اوهغه پوه ددی نبوت دلوازمو څخه ده ، خلاصه دجواب دا دی چی زه دپیغمبری په حیثیت سره راغلی یم ، چی په دی کی دغلی کیدو هیڅ وجه نسته او پیغمبری ددی واقعی دقتل خطا سره منافی نه ده ځکه چی دغه قتل په خطاء سره صادر سوی وو کوم چی دنبوت د اهلیت او صلاحیت منافی نه دی ، دا خو جواب دی دقتل د اعتراض) او (پاته سو دپرورش احسان ثابتول پس) دا هغه نعمت دی، دکوم چی ته پرما باندی احسان ږدی چی تابنی اسرائیل په سخت ذلت کی (او ظلم) کی غورځولی وه (چی د دوی هلکان به دی قتلول او ددی بیری څخه زه په صندوق کی کښیښوول سوم او دریاب ته وغورځول سوم اوستاپه پرورش کی پاته سوم ، نو

ددی پرورش اصلی وجه خو ستاظلم دی نو دداسی پرورش ته پرماځه احسان ثابتوی یعنی ددی څخه خو تاته ستاپه نابنائسته نابنائسته حرکت باندی شرم کول په کار دی) فرعون (په دی خبره لاجوابه سو) او خبره یی بدله کړه هغه وویل چی (کوم ته چی ته) رب العٰلمین (وایی لکه دا قول دالله ﷻ . اِنَّا رَسُوْلُ رَبِّ الْعَالَمِیْنَ، دده) ماهیت (اوحقیقت) څه دی؟ موسیٰ (ﷺ) جواب ورکی چی هغه پروردګار دی دآسمانونو اومځکو او څه چی (مخلوقات) ددی دواړو په مینځ کی دی ، ددی (ټولو) که تاسی یقین (حاصل) کول غواړی (نو دا پته ډیره ده ، مطلب دا دی چی دهغه دحقیقت ادراك انسان نه سی کولی په دی وجه کله چی ددی سوال وی جواب به یی په صفاتوسره ورکول کیږی) فرعون دخپلی خوا اوشا (ناستو) خلقو ته وویل چی تاسی خلق (څه) اوری (چی پوښتنه دڅه کیږی اوجواب دڅه ورکول کیږی) موسیٰ (ﷺ) وفرمایل چی هغه پروردګار دی ستا اوستا دمځکی مشرانو (په دی جواب کی مکرر خبردار دی په دی ذکر سوی مطلب، مګر) فرعون (پوه نه سو او) ویی ویل چی دا ستاسی رسول کوم چی (په خپل ګمان) ستاسی طرف ته رسول جوړسوی راغلی دی ، لیونی دی، موسیٰ (ﷺ) وفرمایل چی هغه پروردګار دی دمشرق اومغرب اوڅه چی ددی دواړوپه مینځ کی دی دهغه هم که تاسی عقل لری (نو په دی سره یې ومنی) فرعون (آخر مجبوره سو) وې ویل چی که تاسی زماڅخه ماسوا بل معبود خوښ کی نوتاسی به جیل خانی ته ولیږم ، موسیٰ (ﷺ) وفرمایل چی که زه څه واضح دلیل پیش کم نو هم (به یې نه منی) فرعون وویل چی ښه دی نو ته هغه دلیل پیش کړه که ته رښتینی یی ، نوموسیٰ (ﷺ) خپله لکړه وغورځوله نوناڅاپه یوه ښکاره اژدها جوړه سوه او (د دوهمی معجزی ښوولو دپاره) خپل لاس یی (په تخرګ کی دننه کی) دباندی یی را ویستی نو هغه ناڅاپه دټولو په مخکی دیر برېښیدونکی سو (او داهم ټولو په ظاهری سترګو سره ولیدی)

(معلومات اومسئلی : د اطاعت دپاره دمددګارو اسبابو طلب کول بهانه لټول نه دی)

قَالَ رَبِّ إِنِّي أَخَافُ أَنْ يُكَذِّبُونِ (۱۲) وَيَضِيقُ صَدْرِي وَلَا يَنْطَلِقُ لِسَانِي فَأَرْسِلْ إِلَىٰ هَارُونَ (۱۳) وَلَهُمْ عَلَيَّ ذَنْبٌ فَأَخَافُ أَنْ يَقْتُلُونِ (۱٤) ددی مبارکو آیتونو څخه ثابته سوه چی دیو حکم په ځای کولو کی دڅه داسی شیانو درخواست کول کوم چی دحکم په پوره کولو کی مددګار ثابتیږی ، څه بهانه لټول نه دی ، بلکی جائز دی ، لکه چی موسیٰ ﷺ دحکم پیدا کیدو سره ، دهغه دپوره کولو دپاره دآسانولو او فائده پیداکیدو په غرض خدای ذوالجلال ته درخواست وکی.

په دی وجه ددی څخه دا نتیجه ایستل به غلط وی چی حضرت موسیٰ ﷺ دخدای حکم بی دتوقف څخه پرسر اوسترګو ولی قبول نه کی اوتوقف یی ولی وکی ؟ ځکه چی حضرت موسیٰ ﷺ چی څه وکړل هغه یی دحکم منلو په سلسله کی وکړل.

(دحضرت موسیٰ ﷺ په حق کی دلفظ د ، ضلال ، مطلب)

قَالَ فَعَلْتُهَا إِذًا وَأَنَا مِنَ الضَّالِّينَ: دفرعون پردی سوال باندی چی تاسی خو ای موسیٰ! یو قبطی قتل کړی وو حضرت موسیٰ ﷺ په جواب کی وفرمایل چی هوا ماقتل ضرور کړی وو لیکن هغه قتل په اراده اوپه

قصد سره نه وو، بلکې هغه قبطي ته مې دهغه په خطايي باندې دپوهولو دپاره يوسوك ورکې چې هغه په هلاك سو. لنډه دا چې دنبوت منافي قصداً قتل دى او دا قتل بې ارادې سوى وو. کوم چې منافي دنبوت نه دى مطلب دا سو چې دلته د، ضلال، مطلب، بې خبرى ، ده او ددې څخه مراد دقبطي بې دارادې څخه قتليدل دي . ددې معنٰى تائيد دحضرت قتاده رحمه الله او ابن زيد رحمه الله درو ايتونو څخه هم کيږي ، چې په اصل کې په عربي کې د، ضلال، څو معانيوې راځي او هرځاى ددې مطلب گمراهي نه وي دلته هم ددې ترجمه گمراه کول صحيح نه دي .

(دخداى ذوالجلال دذات او حقيقت علم دانسان دپاره ناممکن دى)

قَالَ فِرْعَوْنُ وَمَا رَبُّ الْعٰلَمِيْنَ " ددې آيت مبارك څخه ثابته سوه چې دخداى ذوالجلال داصل او حقيقت پيژندل ممکن نه دى ، ځکه چې دفرعون سوال دخداى ﷻ دحقيقت او ماهيت متعلق وو. حضرت موسٰى عليه السلام دالله ﷻ دماهيت پهولو پرځاى صفتونه بيان کړل او په دې سره يې اشاره وفرمايله چې دخداى ﷻ داصل او حقيقت پيژندل ناممکن دى او داسې سوال کول بې ځايه دى (روح)

أَنْ أَرْسِلْ مَعَنَا بَنِيْ إِسْرَائِيْلَ " بنى اسرايل دشام دملك اوسيدونکي وه هلته يې تللى غوښتل نو فرعون دوى نه پريښول ، دغه ډول دڅلورسوه کاله څخه يې دده په قيدکې دغلامۍ ژوند تيروي ، د دوى شمېرهغه وخت شپږلکه ديرش (۶۳۰۰۰۰) زره وو. حضرت موسٰى عليه السلام فرعون ته دحق دپيغام رسولو سره پرنبى اسرائلو چې کوم ظلم ده کوى دهغه څخه دمنع کيدو او دهغوى دآزادو پريښودلو هدايت وفرمايى (قرطبى)

(دپيغمبرانه مناظرې يوه نمونه دمناظرې اثر كوونكي آداب)

د دوو مختلف الخيالو سريو په مينځ کې نظرياتي بحث او مباحثه کوم ته چې په اصطلاح کې مناظره ويل کيږي ، دپخوا زمانې څخه رواج ده، مگر په عام توگه سره مناظره د ډيرې لوبه جوړه سوې ده . دخلقو په نظر کې دمناظرې مطلب صرف دومره دى چې خپله خبره لوړه کړي . خواه که دهغه غلطي ورته په خپله هم معلومه سوې وي . ددې دصحيح او قوي ثابتولو دپاره ددليلونو او ذهانت ټول زور خرڅ کي ، دغه ډول که دمخالف څه خبره صحيح او رښتيني هم وي خو په هرحال دهغه ردکول او په رد کولوکې يې پوره طاقت صرف کول وي . اسلام په دې کار کې خاص اعتدال پيداکړى دى . ددې اصول قاعدې او حدونه يې متعين کړي دي . دايې دتبليغ دپاره يوه اثر ناکه او مفيده آله جوړه کړې ده .

په ذکرسوو آيتونو کې ددې يوه لنډه نمونه وگورى . حضرت موسٰى اوهارون عليهما السلام چې هرکله دفرعون په شان جبار دخدايې دعوه کوونکي ته دهغه په دربار کې دحق دعوت ورسوى نو ده دمخالفانه بحث شروع اول د دوو داسې خبرو څخه وکړه دکومو تعلق چې دحضرت موسٰى عليه السلام د ذات سره وو ، لکه هوښيار مخالف چې په عام توگه سره کله داصل خبرې په جواب قادر نه وي نو دمخاطب ذاتي کمزوري لټوي او بيانوي يې چې دې څه شرمنده سي او په خلقو کې دده عزت کم سي ، دلته هم فرعون دوې خبرې وکړې . اوله خو دا چې ته مې پاللى يې ، زما په کورکې ځوان سوى ، مونږ پرتا احسانونه کړي دي ، ستاڅه مجال

دی چی زما په مخکی خبری کوی.
دوهمه خبره دا ده چی تا یو قبطی سری بی وجهٰی قتل کړی دی کوم چی علاوه دظلم څخه حق ناشناسی او ناشکری هم ده چی په کوم قوم کی څوان سوی دهغه قوم سړی دی قتل کی. ددی په مقابله کی دحضرت موسیٰ ﷺ پیغمبرانه جواب ته وګوری چی اول خو په جواب کی یی دسوال ترتیب بدل کی یعنی دقبطی دقتل قصه کومه چی فرعون وروسته بیان کړی وه، دهغه جواب مخکی رالی او دَ کور دپاللو داحسان ذکر کوم چی اول کړی وو دهغه جواب وروسته. په دی ترتیب بدلولو کی دا حکمت معلومیږی چی دقبطی په واقعه کی یوه خپله کمزوری خامخا واقع سوی وه. دنن صبادمناظرو په طرز کی خو د داسی شیانو ذکر خلط ملط کول کیږی او دنورو خبرو طرف ته دتوجه ګرځولو کوشش کول کیږی، مګر دالله ﷻ رسول دی ته اولیت ورکی او جواب یی هم فی الجمله دکمزوری په اعتراف سره وکی، ددی یی هیڅکله پرواه ونه کړه چی مخالف خلق ووایی چی ده دخپلی غلطی اقرار وکی او هار یی ومنی.
حضرت موسیٰ ﷺ ددی په جواب کی ددی خبری اعتراف خو وکی چی په دی قتل کی زما څخه غلطی او خطا وسوه. مګر ددی سره یی دا حقیقت هم واضح کی چی دا غلطی قصداً یو صحیح اقدام وو کوم چی اتفاقاً غلط انجام ته ورسیدی چی مقصد دقبطی پر اسرائیلی باندی دظلم کولو څخه منع کول وو او په دی قصد سره یی ده ته یو ګذار ورکی، اتفاقاً دهغه څخه مړ سو. په دی وجه دا کار دخطاوالی باوجود زما په اصل معامله یعنی دنبوت په دعویٰ باندی څه اثر نه غورځوی. زه په دی غلطی باندی پوه سوم او دَقانونی ګرفت دبیری څخه دښار څخه ووتم. الله ﷻ بیا کرم وکی او په نبوت او رسالت یی سرفراز کړم.
چی فکر وسی نو هغه وخت ددښمن په مقابله کی دحضرت موسیٰ ﷺ سیده او صفا جواب دا وو چی قتل سوی قبطی یی واجب القتل ثابت کړی وای، داسی الزامونه یی پرلګولی وای چی دی واجب القتل ثابت سوی وای، یو بل سړی دده درواغجن کوونکی هم هلته موجودنه وو چی دتردید بیره ورڅخه کیده. او که دلته دحضرت موسیٰ ﷺ څخه ماسوا بل سړی وی نو بیابه یی جواب ددی څخه ماسوا نورهیڅ نه وو، مګر هلته خو دالله ﷻ یو أولُو العزم رسول دصدق مجسمه وه کوم چی حق اوصدق او دحقیقت اظهار یی خپله فتح ګڼله. ددښمن په ډك دربار کی یی دخپلی خطا اعتراف هم وکی اوپه دغه سره چی پرنبوت او رسالت کومه شبهه کیده دهغه جواب یی هم ورکی.
ددی څخه وروسته د اولی خبری دخانه پروری داحسان اچولو جواب طرف ته یی توجه وفرمایله، نو ددی ظاهری احسان د اصل حقیقت طرف ته یی توجه وګرځوله چی لږ سوچ وکړه، زه چیری او دَفرعون دربار چیری؟ ستا په کور کی زما دپرورش کیدو په سبب چی فکر وکی نو دا حقیقت به ښکاره سی چی تادښنی اسرائیلو پر ټول قوم کوم ظلم کوی او د دوی بی ګناه معصوم هلکان به دی قتلول، نو په ظاهره خوستا ددی ظلم او ستم څخه دمحفوظ کیدو دپاره زما مور زه دریاب ته وغورځولم او تاسی په اتفاقی طور سره زما صندوق د دریاب څخه را ویستی په کور کی دی کښینو وی او دا په حقیقت کی دالله ﷻ حکیمانه انتظام

اوستاسی دظلم غیبی سزا وه ، چی دکوم کوچنی دخطری څخه دمحفوظ کیدو دپاره تاسی په زرگونو بچی قتل کړی وه ، قدرت دهغه بچی پرورش ستاسی په لاسو وکی اوس سوچ وکړه چی دا زما پرورش ستاڅه احسان وو . ددی پیغمبرانه طرز دجواب خو دا اثر پر حاضرینو په طبعی او عقلی طور باندی کیدل وو ، چی دا بزرگ خو څه خبری جوړونکی نه دی ، دربښتیاوو څخه ماسوا نور هیڅ نه وایی . ددی څخه وروسته چی یی کله معجزی ولیدی نو نور زیات تصدیق یی وسو اوکه څه هم اقرار یی ونه کی مگر هیبت خو دومره پر ولویدی چی داصرف دوه تنه دکوموسره چی شاته وروسته ، دریم مددگارنسته، درباړتول دده دی ، ښار اوملک ټول دده دی ، مگردابیره پرده رالویدلی ده چی دادوه تنه به مونږددی خپل ملک اوحکومت څخه وباسی دا دخدایی رعب او صدق اوحق اوربښتینوالی هیبت دی . دپیغمبرانو حضراتو مجادلی او مناظری هم دصدق او ربښتینوالی او دمخاطب ددینی خیر خواهی دجذبو څخه ډکی وی ، دغه په زړونو کی ځای نیسی او دلوی څخه لوی سرکښان تابع کوی .

قَالَ لِلْمَلَاِ حَوْلَهٗٓ اِنَّ هٰذَا لَسٰحِرٌ عَلِيْمٌ ﴿۳۴﴾ يُّرِيْدُ اَنْ يُّخْرِجَكُمْ مِّنْ

وي ويل خپل شاؤ خوا سردارانو ته چی دا خو خوک جادو گر دی پوه ، غواړی چې وباسی تاسی

اَرْضِكُمْ بِسِحْرِهٖ ۖ فَمَاذَا تَاْمُرُوْنَ ﴿۳۵﴾ قَالُوْٓا اَرْجِهْ وَاَخَاهُ وَابْعَثْ فِي الْمَدَآئِنِ حٰشِرِيْنَ ﴿۳۶﴾

ستاسی دملک څخه دخپل جادو په زور سره ، پس اوتاسی څه حکم کوی؟ وي ويل مهلت ورکړه ده ته اودده وروړته او ولیږه په ښارونوکی را غونډونکی ،

يَاْتُوْكَ بِكُلِّ سَحَّارٍ عَلِيْمٍ ﴿۳۷﴾ فَجُمِعَ السَّحَرَةُ لِمِيْقَاتِ يَوْمٍ مَّعْلُوْمٍ ﴿۳۸﴾

چی راولی تاته کوم چی لوی جادوگروی پوه ، بیا جمع سول جادوگران په وعده دیوې مقرری ورځی ،

وَّقِيْلَ لِلنَّاسِ هَلْ اَنْتُمْ مُّجْتَمِعُوْنَ ﴿۳۹﴾ لَعَلَّنَا نَتَّبِعُ السَّحَرَةَ

او وي ویل خلقو ته آیاتاسی به هم جمع سی ؟ شاید چی مونږ تابعداری وکړو دجادو گرو

اِنْ كَانُوْا هُمُ الْغٰلِبِيْنَ ﴿۴۰﴾ فَلَمَّا جَآءَ السَّحَرَةُ قَالُوْا لِفِرْعَوْنَ

که دوی غلبه پیدا کی ، بیاچی هرکله را غلل جادوگران وي ویل فرعون ته ،

اَئِنَّ لَنَا لَاَجْرًا اِنْ كُنَّا نَحْنُ الْغٰلِبِيْنَ ﴿۴۱﴾ قَالَ نَعَمْ وَاِنَّكُمْ

چی ایا مونږ ته به څه حق وی که چیری مونږ غالب سو ؟ وي ویل خامخا او ستاسی به

إِذًا لَّمِنَ الْمُقَرَّبِينَ ﴿٤٢﴾ قَالَ لَهُم مُّوسَىٰ أَلْقُوا مَا أَنتُم مُّلْقُونَ ﴿٤٣﴾

هغه وخت په مقربو کی یاست ، وې ويل دوی ته موسی ﷺ چی وغورځوی څه چی تاسی غورځوی ،

فَأَلْقَوْا حِبَالَهُمْ وَعِصِيَّهُمْ وَقَالُوا بِعِزَّةِ فِرْعَوْنَ إِنَّا لَنَحْنُ

بیا وغورځول دوی خپلی رسی او لکړی او وې ويل دفرعون په اقبال سره فتح خاص

الْغَالِبُونَ ﴿٤٤﴾ فَأَلْقَىٰ مُوسَىٰ عَصَاهُ فَإِذَا هِيَ تَلْقَفُ مَا يَأْفِكُونَ ﴿٤٥﴾

زمونږ ده ، بیاوغورځوله موسی ﷺ لکړه وروسته هغې تیرول کوم ماران چی دوی جوړ کړی وو

فَأُلْقِيَ السَّحَرَةُ سَاجِدِينَ ﴿٤٦﴾ قَالُوا آمَنَّا بِرَبِّ الْعَالَمِينَ ﴿٤٧﴾ رَبِّ

وروسته پریوتل جادوګران په سجده ، وې ويل مونږ ومنی رب دمخلوقاتو ، کوم رب چی دی

مُوسَىٰ وَهَارُونَ ﴿٤٨﴾ قَالَ آمَنتُمْ لَهُ قَبْلَ أَنْ آذَنَ لَكُمْ ۖ إِنَّهُ

دموسی ﷺ اوهارون ﷺ ، وې ويل تاسی ومنی دی مخکې ددې څخه چی حکم وکړم تاسو ته ، خامخا دا

لَكَبِيرُكُمُ الَّذِي عَلَّمَكُمُ السِّحْرَ فَلَسَوْفَ تَعْلَمُونَ ۚ لَأُقَطِّعَنَّ

ستاسو هغه مشر دی کوم چی تاسو ته جادو ښوولی دی وروسته اوس به پوه سی ، خامخا به پریکړم

أَيْدِيَكُمْ وَأَرْجُلَكُم مِّنْ خِلَافٍ وَلَأُصَلِّبَنَّكُمْ أَجْمَعِينَ ﴿٤٩﴾

ستاسی لاسونه او دبل طرف پښی ، او په دار به کړم تاسی ټوله

قَالُوا لَا ضَيْرَ ۖ إِنَّا إِلَىٰ رَبِّنَا مُنقَلِبُونَ ﴿٥٠﴾ إِنَّا نَطْمَعُ أَن يَغْفِرَ لَنَا

وې ويل هیڅ بیره نسته زمونږ خپل رب طرف ته بیرته تللل دی ، مونږ ذمع لرو چی وبخښی مونږ ته

رَبُّنَا خَطَايَانَا أَن كُنَّا أَوَّلَ الْمُؤْمِنِينَ ﴿٥١﴾

رب زمونږ ګناهونه زمونږ په دی وجه چی مونږ سو اول منونکی .

لنډتفسیر: (دحضرت موسی ﷺ دا معجزی چی ظاهری سوی نو) فرعون درباریانو ته کوم چی دده خوا او شاته (ناست) وه وویل چی په دی کی څه شك نسته چی دی لوی ماهر جادوګر دی دده (اصل) مطلب يې دا

دی چی په (زور د) خپل جادو سره (په خپله مشر سی او) تاسی ستاسی دمځکی څخه وباسی (چی بغیر دبل دمزاحمت څخه دخپل قوم سره ریاست کوی) پس تاسی خلق څه مشوره را کوی ؟ درباریانو وویل چی ته ده او دده ورور ته (څه مهلت) ورکړه او (دخپل ملك دحدونو) ښارونو ته (راغونډوونکی یعنی) نوکران ولیږه (حکم نامه ورکړه) چی هغوی (دټولو ښارونو څخه) ټوله ماهران جادوګران (جمع کی) تاته حاضرکړی . غرض دا چی هغه جادو ګران په یوه معینه ورځ په خاص وخت جمع سول (دمقرری ورځی څخه مراد ورځ د اختر ده او دخاص وخت څخه مراد وخت دڅاښت دی لکه دسورة طٰهٰ په دریمه رکوع کی چی ذکر سوی دی یعنی په دغه مقرر وخت ټول جمع سول او فرعون ته دجمع کیدو اطلاع ورکول سوه) او (دفرعون دطرفه په طور دعام اعلان) خلقو ته دا اشتهار ورکول سو چی آیاتاسی خلق (په فلانی موقع باندی دواقعی دلیدو دپاره) جمع سی (یعنی جمع کیږی به) چی که جادو ګر غالب راسی (لکه چی دغالب کیدو توقع یی ده) نوموږ به د دوی پرلاره باندی یو (یعنی هغه لار پرکومه چی فرعون وو او نور یی هم په دی باندی ساتل غوښتل مطلب دا دی چی جمع سی اووګوری ، امید دی چی جادو ګر به غالب وی نو زموږ دخلقو دطریقی حقوالی به په دلیل سره ثابت سی) بیاچی کله هغه جادو ګران (دفرعون په مخکی) را غلل نو فرعون ته یی وویل چی که چیری (په موسیٰ ﷺ باندی) موږ غالب سو نوآیا موږ ته به څه لویه بدله (او انعام) راکول سی فرعون وویل چی هو! (مالی انعام به هم لوی درته درکول سی) او (پر دی سربیره به درته دامرتبه درکول سی چی) تاسی به په دی صورت کی (زما) په مقربانو خلقوکی دا خل سی (غرض دا چی ددی خبرو اترو څخه وروسته عین دمقابلی موقعی ته راغلل ، او دبل طرف څخه موسیٰ ﷺ تشریف راوړی اومقابله شروع سوه اوساحرانو موسیٰ ﷺ ته عرض وکی چی ته خپله لکړه مخکی غورځوی او که موږ یې وغورځوو؟) موسیٰ (ﷺ) دوی ته وفرمایل چی تاسی څه غورځول غواړی (په میدان کی) وې غورځوی پس دوی خپلی رسۍ او لکړی وغورځولی (کوم چی دجادو په اثر سره ماران معلومیدل) او وې ویل چی دفرعون په نصب باندی قسم دی، بیشکه موږ به غالب راځو ، بیاموسیٰ (ﷺ په حکم دخدای) خپله لکړه وغورځوله ، دغورځولو سره (اژدها جوړه سوه) د دوی ټول جوړ سوی شیان تیرول یی شروع کړل پس (چی دا یی ولیدی) جادو ګران (داسی متاثره سول چی) ټول پر سجده پریوتل (او په چیغو سره) وې ویل چی موږ ایمان راوړی په رب دعالمینو باندی کوم چی دموسیٰ او هارون علیهما السلام هم رب دی فرعون (دیر وبیریدی چی هسی نه ټول رعیت مسلمانان سی نو یو مضمون یی جوړکی په صورت دعتاب یی ساحرانوته) وویل چی هو! تاسی ایمان راوړی په موسیٰ (ﷺ) باندی بغیر ددی چی زه تاسی ته اجازه درکړم خامخا (معلومیږی چی) دا (په جادو کی) ستاسی دټولو استاد دی کوم چی تاسی ته جادو ښوولی دی (اوتاسی دده شاګردان یاست ، په دی وجه تاسی پټ جوړکړی دی چی ته داسی وکړه موږ به داسی وکو ، بیابه دغه دول ګته او بایلل ظاهرکړو چی دقبطیانو څخه حکومت واخلو اوپه فارغه زړه سره په خپله حکومت کوو ، لکه دا قول دالله ﷻ . إِنَّ هٰذَا لَمَكْرٌ مَّكَرْتُمُوهُ فِي الْمَدِينَةِ لِتُخْرِجُوا مِنْهَا أَهْلَهَا ، پس اوس به) تاسی ته حقیقت معلوم سی (اوهغه دا دی چی) زه به ستاسی د یو طرف

لاسونه او دبل طرف پښې پريکړم او تاسې ټول به په دار کړم (چې نور عبرت درڅخه واخلي) دوی جواب ورکې چې هیڅ حرج نسته مونږ به خپل مالك ته ورسیږو (کوم ځای چې هر قسم امن اوراحت دی، بیاپه داسې مرگ سره نقصان څه دی او) مونږ امید لرو چې زمونږ پروردگار به زمونږ خطاگانې معاف کړي، په دې وجه چې مونږ (په دې موقع په حاضرینو کې) دټولو څخه اول ایمان راوړی (پس پردې دا شبهه نه سي کیدې چې د دوی څخه مخکې خو هم ځینو ایمان راوړی وو لکه آسیه او مومنان دآل فرعون اوبنی اسرائیل)

معلومات اومسئلې: اَلْقُوا مَا اَنْتُمْ مُلْقُونَ · یعنی حضرت موسیٰ ﷺ جادوگرو ته وویل چې تاسې څه جادو ښوول غواړئ، هغه وښیاست. په دې باندې په سر سری نظر اچولو سره دا شبهه پیدا کیږي چې حضرت موسیٰ ﷺ دوی ته دجادو کولوحکم کوی لیکن چې لږسوچ پر وسې نو دا خبره واضحه کیږي چې دا دحضرت موسیٰ ﷺ دطرف څخه دجادو ښوولو حکم نه وو، بلکې څه چې دوی کول دهغه باطلول مقصود وو، لیکن دهغه باطلول بغیر دظاهرولو څخه ناممکن وو. په دې وجه دوی علیهم السلام دوی ته دظاهرولو حکم ورکې، لکه چې یو زندیق ته وویل سی چې ته دخپلې زندیقی اوبې دینی دلیلونه پیش کړه چې زه یې باطلوالی ثابت کړم. ظاهره ده چې دی ته په کفر باندې رضامندی نه سی ویل کیدې.

بِعِزَّةِ فِرْعَوْنَ، دا کلمه دهغو جادوگرو دپاره پرمنزله دقسم ده کومه چې دجاهلیت په زمانه کې رائج وه. افسوس چې په مسلمانانو کې هم اوس داسې قسمونه رائج سوی دی کوم چې ددې څخه زیات ناکاره او قبیح دی، مثلاً په بادشاه قسم، ستاپه سرقسم، ستاپه ږیره قسم یاستادپلارپه قبرقسم. داسې قسمونه اخستل شرعًا جائز نه دی، بلکې ددې متعلق دا ویل به غلط نه وي چې دخدای په نوم په دروغ قسم اخستوکې چې کومه عظیمه گناه ده ددې نومو رښتینې قسم هم په گناه کې دهغه څخه کم نه دی (کما فی الروح)

قَالُوا لَا ضَيْرَ اِنَّا اِلٰى رَبِّنَا مُنْقَلِبُوْنَ · یعنې کله چې فرعون جادوگرو ته پرایمان قبلولو دقتل او لاس اوپښو پرېکولو بیره ورکړه، نو جادوگرو په ډیره بې پرواهی سره دا جواب ورکې چې ته څه کول غواړې وکړه زمونږ هیڅ نقصان نسته که مونږقتل هم سو نو خپل رب ته به ولاړ سو کوم ځای چې آرام اوآرام دی.

دلته دسوچ کولو خبره دا ده چې دا جادوگر کوم چې ټول عمر دجادوگرۍ په کفر کې اخته وه اوپردې سربیره دفرعون دخدایی دعوه منونکې او دهغه عبادت کوونکې وو. دموسیٰ ﷺ معجزه چې یې ولیده نو دخپل ټول قوم څخه خلاف دفرعون په شان دظالم جابر بادشاه خلاف دایمان اعلان یې وکې، دا یو حیرانوونکې شې وو، مگر دلته خو صرف دایمان اعلان نه وو، بلکې دایمان دهغه ژور رنگ ختلو مظاهره ده چې قیامت او آخرت گویا د دوی په مخکې په نظر را غلل او دآخرت نعمتونه یې ولیدل چې دهغه په مقابله کې ددنیا دهرې سزا او مصیبت څخه بې نیازه سول (فَاقْضِ مَا اَنْتَ قَاضٍ) یې وویل یعنې څه چې ستازړه غواړي وکړه مونږخو دایمان څخه راگرځیدونکې نه یو دا هم په حقیقت کې دحضرت موسیٰ ﷺ معجزه ده کومه چې دعصًا اوید بیضاء دمعجزې څخه کمه نه ده. دغه ډول ډیر واقعات زمونږ دنبی کریم ﷺ په لاسو ظاهرسوی دی چې

په يوه دقيقه کې د اويا کالو په کافر کې داسې انقلاب راغی چې صرف مومن نه بلکې غازی جوړ سو او دشهيد کيدو تمنا کول يې شروع کړل .

وَاَوْحَيْنَآ اِلٰى مُوْسٰٓى اَنْ اَسْرِ بِعِبَادِيْٓ اِنَّكُمْ مُّتَّبَعُوْنَ ﴿۵۲﴾ فَاَرْسَلَ فِرْعَوْنُ فِي الْمَدَآئِنِ

اوحکم ولیږی مونږ موسی ته چې دشپې وباسه زمابندګان چې په تاسو پسې درپسې کیږي بیا ولیږل فرعون ښاروته

حٰشِرِيْنَ ﴿۵۳﴾ اِنَّ هٰٓؤُلَآءِ لَشِرْذِمَةٌ قَلِيْلُوْنَ ﴿۵۴﴾ وَاِنَّهُمْ لَنَا

راغونډونکی ، دا خلق چې دی يو جماعت دی لږ شان ، او د دوی همیشه مونږ ته ،

لَغَآئِظُوْنَ ﴿۵۵﴾ وَاِنَّا لَجَمِيْعٌ حٰذِرُوْنَ ﴿۵۶﴾ فَاَخْرَجْنٰهُمْ مِّنْ جَنّٰتٍ

غصه را ولی ، اومونږ تول د دوی خخه په بيره کې يو ، بيا دباندی ويستل مونږ دوی دباغونو

وَّعُيُوْنٍ ﴿۵۷﴾ وَّكُنُوْزٍ وَّمَقَامٍ كَرِيْمٍ ﴿۵۸﴾ كَذٰلِكَ ۚ وَاَوْرَثْنٰهَا بَنِيْٓ

اوچينوخخه اودخزانو اوعمده کورونو خخه دغه دول اوميراث ورکی مونږ دا شي بنی

اِسْرَآءِيْلَ ﴿۵۹﴾ فَاَتْبَعُوْهُمْ مُّشْرِقِيْنَ ﴿۶۰﴾ فَلَمَّا تَرَآءَ الْجَمْعٰنِ قَالَ

اسرائيلو ته . بيا ورپسې سو دلمر ختو په وخت کې ، بياچې کله مقابل سول دواړه فوجونه وويل

اَصْحٰبُ مُوْسٰٓى اِنَّا لَمُدْرَكُوْنَ ﴿۶۱﴾ قَالَ كَلَّا ۚ اِنَّ مَعِيَ رَبِّيْ

ملګرو دموسی مونږ خو ونيول سو وويل هيڅکله نه ، زما سره زما رب دی ،

سَيَهْدِيْنِ ﴿۶۲﴾ فَاَوْحَيْنَآ اِلٰى مُوْسٰٓى اَنِ اضْرِبْ بِّعَصَاكَ الْبَحْرَ ۗ

هغه به ماته لار وښيي ، بيا حکم وليږي مونږ موسی ته چې ووهه په خپله لکړه دریاب ،

فَانْفَلَقَ فَكَانَ كُلُّ فِرْقٍ كَالطَّوْدِ الْعَظِيْمِ ﴿۶۳﴾ وَاَزْلَفْنَا ثَمَّ

بيا څيری سو دریاب نو سوه هره يوه ټکړه لکه لوی غر ، او ور سول مونږ دغه ځای ته

الْاٰخَرِيْنَ ﴿۶۴﴾ وَاَنْجَيْنَا مُوْسٰى وَمَنْ مَّعَهٗٓ اَجْمَعِيْنَ ﴿۶۵﴾ ثُمَّ

نور خلق ، اومحفوظ کی مونږ موسی ﷺ اوڅوک چې ورسره وو تول ، بيا

أَغْرَقْنَا الْآخَرِينَ ﴿٦٦﴾ إِنَّ فِي ذَٰلِكَ لَآيَةً ۖ وَمَا كَانَ أَكْثَرُهُم

دوب کړل مونږ هغه نور ، په دې شي کي نښانه ده ، او نه وو ډیر خلق په دوی

مُؤْمِنِينَ ﴿٦٧﴾ وَإِنَّ رَبَّكَ لَهُوَ الْعَزِيزُ الرَّحِيمُ ﴿٦٨﴾ ع

منونکي ، او ستاوب هغه دی زبردست رحم والا ،

تفسیر: او (هرکله چي فرعون ته ددې واقعي څخه هم هدایت ونه سو او ده بني اسرائیل آزارول پرې نه ښوول نو) مونږ موسیٰ (عليه السلام) ته حکم ولیږی چي زما (دا) بندګان (یعني بني اسرائیل) شپه په شپه (دمصر څخه دباندې) وباسه ځه (او دفرعون دطرف څخه) ستاسي خلقو تعاقب به (هم) کول کیږي (چنانچي هغه دحکم موافق بني اسرائیل شپه په شپه دځان سره کړل ، سهار دا خبر مشهور سو نو) فرعون (دتعاقب دتدبیر کولو دپاره ځای پر ځای شاوخوا) ښارونو ته نوکران وزغلول (او دا یې ورته وویل) چي دا خلق (یعني بني اسرائیل زمونږ په نسبت لږ څه جماعت دی (د دوی دمقابلي څخه هیڅ مه بیریږئ) او دوی (په خپله کار روایي سره) مونږ ډیرغصه کړی یو (هغه کار روایي دا ده چي پټ په چالاکي سره ووتل یاداچي زمونږ څخه یې کالي هم دعاریت په بهانه سره یووړه ، غرض دا چي زمونږ څخه یې احمقان جوړ کړل . او ولاړل ، خامخا ددې تدارك کول په کار دي) او مونږ ټول یو باوسله جماعت (اوباقاعده فوج) یو غرض داچي (په دوو څلورو ورځو کي کله چي اسباب او فوج سره برابر سو نو دلښکرسره دبني اسرائیلو په تعاقب کي ووتل او ددې څخه خبر نه وه چي اوس به واپسي مونږ ته نصیب نه سي نو په دې حساب سره ګویا) مونږ دوی دباغونو څخه او دچینو څخه او دخزانو څخه اوښائسته کورونو څخه دباندې ویستل (مونږ د دوی سره خو) داسي وکړل او د دوی څخه وروسته بني اسرائیل مو ددغومالکان جوړ کړل (دا جمله معترضه وه مخ ته قصه ده) غرض (چي یوه ورځ) دلمر ختو په وخت کي په دوی پسي روان سول (یعني نژدې ور ورسیدل ، هغه وخت بني اسرائیل په دریاب دقلزم دپوري وتو په فکر کي وه چي څه انتظام وکو ؟) بیاچي هرکله دواړه جماعتونه (یوبل ته دومره نژدې سول چي) یو بل یې ولیدل نو دموسیٰ (عليه السلام) ملګرو (په بیره کي) وویل چي (ای موسیٰ عليه السلام) بس مونږ د دوی په لاس ورغلو موسیٰ (عليه السلام) وفرمایل چي هیڅکله داسي نه ده ځکه چي زمونږ ملګري زما پروردګار دی هغه به ماته اوس (ددریاب څخه دپوري وتلو) لار وښیي (ځکه چي موسیٰ عليه السلام ته درواښدوپه وخت کي دا ویل سوی وه چي په سمندرکي به وچه لارپیدا سي . فَاضْرِبْ لَهُمْ طَرِيقًا فِي الْبَحْرِ يَبَسًا لَا تَخَافُ دَرَكًا وَلَا تَخْشَىٰ، که څه هم دلوړیدو کیفیت یې هغه وخت نه وو ښوولی پس موسیٰ عليه السلام په دې وعده مطمئن وو اوبني اسرائیلو ته حال معلوم نه وو نو پریشانه وه) بیامونږ موسیٰ (عليه السلام) ته حکم وکي چي په خپله لکړه دریاب ووهه چنانچي (ده په لکړه ووهی اوپه دې سره) هغه (دریاب) څیری (حصې حصې) سو (یعني اوبه څوځایه یوی خوا بلي خواته لیري سوی اوپه مینځ کي یې ډیر سړکونه جوړ سول)

اوهره حصه دومره (لويه) وه لكه لوى غر (داخلق په درياب باندى ښه په اطمينان سره پورى وتل) او مونږ بل فريق هم دى موقعى ته نژدى ورسوى (يعنى فرعون او فرعونيان هم درياب ته نژدى ورسيدل او دتيرى پيش گويى مطابق: وَاتْرُكِ الْبَحْرَ رَهْوًا ، درياب ترهغه وخته پورى پردغه حال ولاړوو ، په دى وجه خلاصى لارى بى غنيمت وگڼلى ، مخ ته او شاته يى هيڅ سوچ ونه كى ، ټول لښكر درياب ته ورننوتى او دځلورو طرفه او به پراتولى سوى او د دوى كار يى تمام كى) او (انجام دقصى دا سو چى) مونږموسٰى (عليه السلام) او دده ملگرى ټوله (دغرقيدو څخه) وساتل ، بيانور (يعنى د دوى مخالفين مو) غرق كړل (او) په دى واقعه كى لوى عبرت دى (يعنى ددى قابله ده چى كفار دليل په ونيسى چى مخالفت داحكامو اورسولانو دخداى دعذاب موجب دى اوچى په دى پوه سى اودَمخالفت څخه خان وساتى) او (ددى باوجود) په دوى (كفارو دمكى) كى اكثره خلق ايمان نه راوړى او ستا رب لوى زبردست دى (كه غوښتلى يى نوپه دنياكى به يى دوى ته عذاب وركړى واى ليكن) لوى مهربان (هم) دى (په دى وجه په خپل عام رحمت سره يى دعذاب مهلت مقرر كړى دى پس دعذاب دژر راتلو څخه بى فكره كيدل نه دى په كار)

معلومات اومسئلي : وَأَوْرَثْنَاهَا بَنِي إِسْرَائِيلَ ، په دى آيت كى په ظاهره دا وضاحت دى چى دفرعون دقوم څخه پاته سوى د املاك اوجائداد اودباغونو اوخزانو مالكان دفرعونيانو دغرقيدو څخه وروسته بنى اسرائيل جوړسوه . ليكن په دى كى يو تاريخى اشكال دا دى چى په خپله دقرآن ډير آيتونه پردى شاهد دى چى دفرعونيانو دهلاكت څخه وروسته بنى اسرائيل مصر ته نه دى واپس سوى ، بلكى خپل اصلى وطن ارض مقدس دشام طرف ته روان سول ، هلته دوى ته ديوكافر قوم سره دجهاد كولو حكم وسو چى بنى اسرائيلو يى دمنلو څخه انكار وكى ، نو په دى وجه په طور دعذاب دوى په هغه ډاگ ميدان كى په كوم كى چى بنى اسرايل موجود وه ، دجيل خانى په طور سره بند سول او دوى ددغه ميدان څخه نه سواى وتلى په دى حال كى څلويښت كاله تيرسول او دتيهه په دى ميدان كى د دوى دواړه پيغمبران وفات سول . ددى څخه وروسته هم دتاريخ دكتابونو څخه دا نه ثابتيږى چى يو وخت دى بنى اسرائيل په اجتماعى او قوى صورت سره مصرته دا خل سوى وى چى دفرعونيانو پر جائداد اوخزانو د دوى قبضه سوى وى .

په تفسير روح المعانى كى دسورة شعرآء ددى آيت لاندى ددى دوه جوابونه دتفسير داامامانو حضرت حسن اوقتاده څخه نقل كړى دى . دحضرت حسن ارشاد دى چى په ذكر سوى آيت كى دبنى اسرائيلو دفرعونى پاته سوى جائداد دوارث كيدو ذكردى ، مگر دا هيڅ ځاى ذكر نه دى چى دا واقعه به دفرعون دهلاكيدو څخه فوراً بعد وى . دوادى تيهه دواقعى اوڅلويښت پنځوس كاله وروسته هم كه دوى مصرته دا خل سوى واى نو دآيت په مطلب كى څه فرق نه راځى ، پاته سوه دا خبره چى دتاريخ څخه د دوى اجتماعى دا خله مصرته ثابته نه ده ، نو دا اعتراض ځكه قابل نظر نه دى چى دهغه زمانى تاريخ ديهودو اونصاراوو دليكل سوو درواغو څخه ډك دى كوم چى په هيڅ شان د اعتماد قابل نه دى ، په دى وجه دقرآن په آيت كى دتاويل كولو ضرورت نسته .

حضرت قتاده فرمایی چی ددی واقعی متعلق څومره آیتونه چی په قرآن کریم کی په ډیرو سورتونو کی راغلی دی . مثلاً دسورة اعراف آیت ۱۲۸، ۱۲۷ او دسورة قصص آیت ۵ او دسورة دخان آیتونه ۲۵ تا ۲۸ اودسورة شعراء ذکرسوی آیت ۵۹ . ددی ټولو دظاهر څخه که څه هم ذهن دی طرف ته ځی چی بنی اسرایل خاص دهغو باغونو اوجائدادونو مالکان جوړسوی وه ، کوم چی دفرعون قوم په مصرکی پریښی وه چی ددی دپاره دبنی اسرائیلو دمصر طرف ته واپس کیدل ضروری دی ، لیکن ددی ټولو آیتونو په الفاظو کی ددی هم واضح گنجائش موجود دی چی مراد ددی څخه دا وی چی بنی اسرائیل یی دداسی باغونو اوخزانو وغیره مالکان جوړکړل . څنگه باغونه چی دفرعون دقوم سره وه . ددی دپاره دا ضروری نه ده چی دا دمصر مځکی ته په ورتللو حاصل سوی وی ، بلکی دشام په مځکه کی هم حاصلیدی سی .

او دسورة اعراف په آیت کی د . اَلَّتِیْ بَارَکْنَا فِیْهَا ، دالفاظو څخه په ظاهره دا معلومیږی چی دشام مځکه ورڅخه مراد ده ځکه چی دقرآن کریم په ډیرو آیتونو کی د، بَارَکْنَا ، وغیره الفاظ دشام دمځکی دپاره راغلی دی ، په دی وجه دحضرت قتاده قول دا دی چی بی ضرورته دقرآن آیتونه په داسی محمل باندی محمول کول کوم چی دتاریخ عالم سره ټکراو خوری صحیح نه دی .

لنډه دا ده چی که دواقعاتو څخه دا ثابته سی چی دفرعونیانو دهلاکیدو څخه وروسته یو وخت هم بنی اسرائیل په اجتماعی طورسره پرمصرقابض سوی نه وه نو دحضرت قتاده دتفسیرمطابق په دی ټولو آیتونو کی دشام مځکه او دهغه دباغونو او خزانو وارثان کیدل مراد اخستل کیږی . والله سبحانه وتعالی اعلم

قَالَ اَصْحَابُ مُوْسٰی اِنَّا لَمُدْرَکُوْنَ قَالَ کَلَّا اِنَّ مَعِیَ رَبِّیْ سَیَهْدِیْنِ ۔ هغه وخت هرکله چی دفرعون لښکرکوم چی د دوی په تعاقب کی وه چی کله بالکل مخامخ راغی نودبنی اسرائیلو ټول قوم چیغی کړی چی موږ خو ونیول سو اوپه نیولو کی هیڅ شبهه اوشك نه وو ځکه چی دشاڅخه داجرار لښکر اومخ ته دریاب وو. دا صورت حال دحضرت موسٰی علیه السلام څخه هم پټ نه وو، مگر هغه دغر په شان ثابت قدم دالله ﷻ په وعده باندی یقین کوونکی وو، هغه وخت هم ښه په زور سره وایی، کَلَّا. هیځکله داسی نه ده چی موږ به ونیول سو اووجه دابښیی چی : اِنَّ مَعِیَ رَبِّیْ سَیَهْدِیْنِ، هغه گویا دبچ کیدو لارپه سترگوسره لیده . دغه شان بعینه واقعه دهجرت په وخت په غارِثور کی دپیښیدو پر موقع نبی کریم ﷺ ته وړپیښه سوی وه چی دښمنان کوم چی د دوی په تعاقب کی وه، ددی غارخولی ته راغلل او ودریدل، که لږ کښته وگوری نو دوی به ووینی، دغه وخت دصدیق اکبر رضی الله عنه سره بیره پیدا سوه ، نو دوی هم بعینه دا جواب ورکړی : لَا تَحْزَنْ اِنَّ اللهَ مَعَنَا، چی غم مه کوه الله ﷻ زموږ سره دی . په دی دواړو واقعو کی یوه دا خبره دنظر قابله ده چی حضرت موسٰی علیه السلام خپل قوم ته دتسلی ورکولو دپاره وویل اِنَّ مَعِیَ رَبِّیْ، زماسره زمارب دی ، اونبی کریم ﷺ په جواب کی، مَعَنَاوفرمایل، چی زموږ دواړو سره زموږ رب دی . دا دامت محمدیه خصوصیت دی چی ددی امت افراد هم دخپل رسول ﷺ سره دالله ﷻ په ملگرتیا باندی سرفرازه دی . الحمدلله

وَاتْلُ عَلَيْهِمْ نَبَاَ اِبْرٰهِيْمَ ﴿٦٩﴾ اِذْ قَالَ لِاَبِيْهِ وَقَوْمِهٖ مَا تَعْبُدُوْنَ ﴿٧٠﴾ قَالُوْا نَعْبُدُ

اوواوروه دوی ته خبر دابراهیم ﷺ هرکله چی یی وویل خپل پلارته اودهغه قوم ته چی تاسی دځه عبادت کوی؟ دوی وویل چی مونږعبادت کو

اَصْنَامًا فَنَظَلُّ لَهَا عٰكِفِيْنَ ﴿٧١﴾ قَالَ هَلْ يَسْمَعُوْنَكُمْ اِذْ تَدْعُوْنَ ﴿٧٢﴾

دبتانو بیا تولە ورځ دوی تە ناست یو ، وې ویل آیاستاسی خبرە اوری کلە چی یی تاسی رابولی ؟

اَوْ يَنْفَعُوْنَكُمْ اَوْ يَضُرُّوْنَ ﴿٧٣﴾ قَالُوْا بَلْ وَجَدْنَآ اٰبَآءَنَا كَذٰلِكَ يَفْعَلُوْنَ ﴿٧٤﴾ قَالَ اَفَرَءَيْتُمْ

یاځه نفع دررسولای سی یاضرر؟ وی ویل چی نا بله مونږ پیدا کړی دی خپل پلاران نیکونه چی داسی یی کول ، وې ویل آیاوینی

مَّا كُنْتُمْ تَعْبُدُوْنَ ﴿٧٥﴾ اَنْتُمْ وَاٰبَآؤُكُمُ الْاَقْدَمُوْنَ ﴿٧٦﴾ فَاِنَّهُمْ عَدُوٌّ لِّيْٓ اِلَّا رَبَّ الْعٰلَمِيْنَ ﴿٧٧﴾

کومو تە چی تاسی عبادت کوی ، تاسی او ستاسی پلاران نیکونە مخکنی؟ پس هغه خو زمادښمنان دی مګر دمخلوقاتو رب

الَّذِيْ خَلَقَنِيْ فَهُوَ يَهْدِيْنِ ﴿٧٨﴾ وَالَّذِيْ هُوَ يُطْعِمُنِيْ وَيَسْقِيْنِ ﴿٧٩﴾ وَاِذَا مَرِضْتُ فَهُوَ يَشْفِيْنِ ﴿٨٠﴾

چاچی زه پیدا کړم پس هغه ماته لاربنیی، اوهغه ماته خوراک راکوی ، او څښاک ، او کله چی زه ناجوړه سم نوهغه می جوړ وی ،

وَالَّذِيْ يُمِيْتُنِيْ ثُمَّ يُحْيِيْنِ ﴿٨١﴾ وَالَّذِيْٓ اَطْمَعُ اَنْ يَّغْفِرَ لِيْ خَطِيْٓئَتِيْ يَوْمَ الدِّيْنِ ﴿٨٢﴾ رَبِّ هَبْ لِيْ

اوهغه کوم چی ما مړکوی بیاما ژوندی کوی اوهغه چی زما امید دی چی وبه بخښی زما ګناهونه دانصاف په ورځ ای زماربه ! راکي

حُكْمًا وَّاَلْحِقْنِيْ بِالصّٰلِحِيْنَ ﴿٨٣﴾ وَاجْعَلْ لِّيْ لِسَانَ صِدْقٍ فِي الْاٰخِرِيْنَ ﴿٨٤﴾ وَاجْعَلْنِيْ

کړی ماته حکم اوپیوست کی مادنیکانو سره ، اوکړی زماربنتنی ذکر په راتلونکو کی جاری ، او کړی ما .

مِنْ وَّرَثَةِ جَنَّةِ النَّعِيْمِ ﴿٨٥﴾ وَاغْفِرْ لِاَبِيْٓ اِنَّهٗ كَانَ مِنَ الضَّآلِّيْنَ ﴿٨٦﴾ وَلَا تُخْزِنِيْ يَوْمَ يُبْعَثُوْنَ ﴿٨٧﴾

دوارثانو دنعمت دباغونو څخه اومعاف کړی زماپلار بیشکه هغه وودبی لاری سروڅخه اومه رسوا کوی ما په ورځ دبیا ژوندی کیدو

يَوْمَ لَا يَنْفَعُ مَالٌ وَّلَا بَنُوْنَ ﴿٨٨﴾ اِلَّا مَنْ اَتَى اللّٰهَ بِقَلْبٍ سَلِيْمٍ ﴿٨٩﴾ وَاُزْلِفَتِ

په کومه ورځ چی په کارنه راځی مال اونه اولاد ، مګرڅوک چی راغی الله ته په زړه صفا سره ، او نژدی به کړل سی ،

الْجَنَّةُ لِلْمُتَّقِيْنَ ﴿٩٠﴾ وَبُرِّزَتِ الْجَحِيْمُ لِلْغٰوِيْنَ ﴿٩١﴾ وَقِيْلَ لَهُمْ اَيْنَمَا كُنْتُمْ تَعْبُدُوْنَ ﴿٩٢﴾

جنت متقیانو ته، اوراښکاره به کړل سی دوزخ بی لاری سروته،او ورته به وویل سی کوم ځای دی هغه چی تاسی یی عبادت کوی

مِنْ دُوْنِ اللّٰهِ هَلْ يَنْصُرُوْنَكُمْ اَوْ يَنْتَصِرُوْنَ ﴿٩٣﴾ فَكُبْكِبُوْا فِيْهَا هُمْ وَالْغَاوٗنَ ﴿٩٤﴾ وَجُنُوْدُ اِبْلِيْسَ اَجْمَعُوْنَ ﴿٩٥﴾

دالله تعالی څخه ماسوا آیاځه مدد کولای سی ستاسی یابدله اخیستی سی ؟ پس نسکور وغورځوی په دی کی دوی

اوتول بی لاری سرو ته ، او د ابلیس لښکرو تولو ته .

قَالُوْا وَهُمْ فِيْهَا يَخْتَصِمُوْنَ ﴿۹۶﴾ تَاللّٰهِ إِنْ كُنَّا لَفِيْ ضَلٰلٍ مُّبِيْنٍ ﴿۹۷﴾ إِذْ

وبه وايي كله چي دوى هلته ديوبل سره جنگ كوى ، قسم دى په الله چي مونږ وو په ښكاره غلطى كى ، كله

نُسَوِّيْكُمْ بِرَبِّ الْعٰلَمِيْنَ ﴿۹۸﴾ وَمَا أَضَلَّنَا إِلَّا الْمُجْرِمُوْنَ ﴿۹۹﴾ فَمَا لَنَا مِنْ شَافِعِيْنَ ﴿۱۰۰﴾

چي مونږتاسي برابرولاست درب دمخلوقاتوسره ، اومونږ بي لارى كړو بس دى مجرمانوپس نسته څوك زمونږسفارش كوونكى

وَلَا صَدِيْقٍ حَمِيْمٍ ﴿۱۰۱﴾ فَلَوْ أَنَّ لَنَا كَرَّةً فَنَكُوْنَ مِنَ الْمُؤْمِنِيْنَ ﴿۱۰۲﴾ إِنَّ فِيْ

اونه څوك دوست محبت كوونكى ، پس كه سوه زمونږ دپاره واپسى نومونږ به سوپه ايمانداروكى ، په دى خبره كى

ذٰلِكَ لَاٰيَةً ۖ وَمَا كَانَ أَكْثَرُهُمْ مُّؤْمِنِيْنَ ﴿۱۰۳﴾ وَإِنَّ رَبَّكَ لَهُوَ الْعَزِيْزُ الرَّحِيْمُ

نښانه ده او ډير خلق په دوى كى نه دى منونكى ، او ستا رب هغه دى زبردست رحم والا .

لنډتفسير: اوته ددى خلقو په مخكى دابراهيم (عليه السلام) قصه بيان كړه (چي دوى ته دشرك بدوالى په دليلونو سره معلوم سى ، خاص دابراهيم (عليه السلام) په نقل كولو سره ، ځكه چي دا دعربو مشركان ځان ته دابراهيم (عليه السلام) پر دين وايى او دغه قصه هغه وخت سوى وه) هركله چي دوى خپل پلار ته او خپل قوم ته (كوم چي بت پرست وه) وويل چي دا تاسي دڅه (واهياتو) شيانو عبادت كوى ، هغو وويل چي مونږ دبتانو عبادت كوو اومونږ دوى ته (عبادت ته يى) هم دغسى ناست يو . ابراهيم (عليه السلام) وفرمايل چي دوى ستاسى خبره اورى كله چي تاسي دوى (دخپلو حاجتونو دعرض كولو په وخت كى) را بولى يا (تاسي چي كوم د دوى عبادت كوى نو آيا) دوى تاسى ته څه نفع رسولى سى يا (كه تاسى د دوى عبادت پريږدى نوآيا) دوى تاسى ته څه ضرر رسولى سى (يعنى دخدايي دمستحق كيدو دپاره علم او كامل قدرت خو ضرورى دى) هغه خلقو وويل چي نه (داخبره خونه ده چي دوى څه آورى يانفع اوضرر رسولى سى ، او د دوى دعبادت كولو دا وجه نه ده) بلكه مونږ خپل مشران په داسى كولو ليدلى دى (په دى وجه مونږ هم دغسى كوو) ابراهيم (عليه السلام) وفرمايل چي ښه نو تاسى د دوى (حالت په فكر سره) وليدى هم دكوموچي تاسى عبادت كوى ، تاسى هم اوستاسى تيرو مشرانو هم چي دا (معبودان) زما (يعنى ستاسى دپاره) دضرر باعث دى (يعنى كه د دوى عبادت وسى برابره خبره ده كه نعوذ بالله زه يى وكړم ياتاسى يى وكى نو بغير دضررڅخه يى بله نتيجه نسته) مگرهغا رب العلمين (داسى دى چي هغه دخپلو عبادت كوونكو دوست او دهغه عبادت سراسر نفع مندى دى) كوم چي زه (او دغه ډول نوله) پيداكړه بياهغه ماته (زمادمصلحتونو طرف ته) رهنمايى كوى (يعنى عقل اوپوه راكوى په كوم سره چي نفع او ضرر پيژنم) اوكوم چي ماته خوراك څښاك راكوى اوكله چي زه ناجوړه سم (دكوم څخه وروسته چي شفا كيدل وى) نو هغه ماته شفا راكوى اوكوم چي ماته (پروخت باندى) مرگ راكوى بيا به (دقيامت په ورځ) ماژوندى كوى اوكوم چي زماورڅخه دا اميددى چي زماخطاگانى به دقيامت په ورځ

معاف کی (دا ټول صفتونه یې په دې وجه بیان کړل چې دقوم دخدای ﷻ عبادت ته رغبت پیداسي ، بیایې دکمال صفتونه بیانول بیانول په غلبه دحضور سره یې حق تعالی ته مناجات شروع کې چې) ای زما پر وردګاره ! ماته حکمت (یعني په جامعیت دعلم او عمل کې زیات کمال) را کې (ځکه چې نفس حکمت خو په وخت ددعاکې هم حاصل دی) او (په مرتبو دقرب کې) ما (داعلی درجې) نیکو خلقو سره شامل کړې (مراد ورځخه عالي شان انبياء علیهم السلام دی) او زماذکر په راتلونکو خلقو کې جاري وساتې (چې زما په طریقه روان وي او په دې کې ماته زیات ثواب راکول سي) اومادباغونو دنعمتونو دمستحقینوځخه کړې او زماپلار (ته توفیق د ایمان ورکړې اوهغه) وبخښې چې هغه دګمراهو خلقو ځخه دی اوپه کومه ورځ چې ټول بیاژوندي سي ، راپورته سي په هغه ورځ مامه رسواکوې (مخ ته یې ددغه ورځې دځینو هیبتناکو حالاتو هم ذکر وفرمایی چې قوم یې واوري او وبیرېږي یعني هغه به داسې ورځ وي) په کومه ورځ چې (دنجات دپاره) نه مال په کار راځي نه اولاد ، مګر البته (هغه به نجات پیداکې) کوم چې دالله خواته (دکفر او شرك ځخه) پاك زړه راوړي او (په هغه ورځ به) دخدا ترسو (یعني ایماندارو) دپاره به جنت نژدې سي (چې دا ووینې او دا ورته معلومه سي چې موږ به دې ته ځو نوخوشحاله به وي) او ددغه ګمراهانو (یعني کافرانو) دپاره به دوږخ مخامخ ښکاره سي (چې هغه ویني غمجن کيږي به چې موږ به ورځو) او (په هغه ورځ) به دې (ګمراهانو) ته وویل سي چې هغه معبودان چیرې ولاړل دکومو چې تاسي دخدای ځخه ماسوا عبادت کوی آیا (دا وخت) هغه ستاسې مدد کولی سي یاځپل حفاظت کولی سي بیا (دابه ووایي) هغه (عبادت کوونکی) اوګمراه خلق او دابلیس لښکر ټول په جمع به دوږخ ته پرمخي واچول سي (پس هغه بتان او شیطانان به نه ځپل ځان وساتي نه ځپل عبادت کوونکی) هغه کفار به په دې دوږخ کې خبرې کوی (هغو معبودانو ته به) ووایي چې په خدای قسم بیشکه موږ په ښکاره ګمراهۍ کې وو کله چې موږ تاسي (په عبادت کې) درب العٰلمین سره برابرولاست اوموږ خو بس دې لویو مجرمانو (کوم چې دګمراهۍ بانیان وو) ګمراه کړو پس (اوس) نه زموږ ځوك سفارشي سته (چې آزادي را کړي) او نه ځوك مخلص دوست (چې خالي زړه راباندې وسوزي) پس ځه به ښه وای که موږ ته (په دنیاکې) بیاواپسي وای چې موږ مسلمانان سوي وای (تردې ځای پورې دابراهیم ﷺ تقریر وسو، مخ ته دالله ﷻ ارشاد دی چې) بیشکه په دې واقعه (په مناظره ابراهیمي او دارنګه په واقعه دقیامت) کې (هم دحق دطالبانو او انجام ته دنظر کوونکو دپاره) یو عبرت دی (چې دمناظرې په مضامینوکي فکر وکی ، دتوحید اعتقاد وکی او دقیامت دواقعاتو ځخه وبیرېږي او ایمان راوړي) او (باوجود ددې) په دوی (مشرکانو دمکې) کې اکثره خلق ایمان نه راوړي ، بیشکه ستارب لوی زبردست رحمت والادی (چې عذاب ورکولی سي، مګر مهلت یې ورکړی دی)

(معلومات اومسئلې : ترقیامته پورې په انسانانوکې د ذکر خیر ساتلو دعا)

وَاجۡعَلۡ لِّي لِسَانَ صِدۡقٍ فِي الۡاٰخِرِيۡنَ " په دې آیت مبارك کې د، لِسَان، ځخه مراد ذکردی ، اود،لِيۡ، لام دنفع دپاره دی . دآیت معنٰی دا سوه چې ای خدایه ! ماته داسې ښه طریقې اوښه نښانې را کړې دکومو چې نور

خلق ترقیامته پوری پیروی کوی او ماپه ذکر خیر اوښکلی صفت سره یاد وی (ابن کثیر، روح المعانی)
الله ﷻ دحضرت ابراهیم ﷺ دعا قبوله کړه . یهود، نصارا اودمکی ترمشرکانو پوری دملت ابراهیمی سره محبت اوالفت ساتی او دخپلو ځانونو ده طرف ته نسبت کوی ، که څه هم دهغوی طریقه دملت ابراهیمی څخه خلاف دکفر او شرك ده مګر هغوی دعوی دا کوی چی مونږ پر ملت ابراهیمی باندی یو او امت محمدی خو په حقه باندی پرملت ابراهیمی دکیدو دخپل ځان دپاره باعث دفخر ګڼی .

(دمرتبي محبت مذموم مګرپه څوشرطونو سره جائز دی)

دمرتبی محبت یعنی چی خلق یی عزت کوی اوصفتونه یی کوی ، ددی خواهش شرعًامذموم دی ، قرآن کریم دآخرت نعمتونه دمرتبی دمحبت په پرېښوولو باندی موقوف ګرځولی دی ، قال الله تعالی . تِلْكَ الدَّارُ الْآخِرَةُ نَجْعَلُهَا لِلَّذِينَ لَا يُرِيدُونَ عُلُوًّا فِي الْأَرْضِ وَلَا فَسَادًا، دلته په آیت: وَاجْعَلْ لِي لِسَانَ صِدْقٍ فِي الْآخِرِينَ، کی دحضرت ابراهیم ﷺ دا دعا چی په راتلونکو نسلونو کی زما ثناصفت کیږی ، په ظاهره دمرتبی په محبت کی دا خل معلومیږی . لیکن دآیت پرالفاظو چی فکر وسی نو معلومیږی چی ددی دعا اصل مقصد دمرتبی محبت نه دی ، بلکی دالله ﷻ څخه ددی دعا ده چی دداسی نیکو عملونو توفیق راکی کوم چی زما دآخرت اسباب جوړ سی او په لیدو یی دنورو خلقو هم نیکو عملونو ته رغبت پیداکیږی او زماڅخه وروسته هم خلق په نیکو عملونو کی زماپیروی کوی . ددی خلاصه دا ده چی په دی سره څه دمرتبی فائده حاصلول مقصودنه دی ، کوم ته چی دمرتبی محبت وویل سی . په قرآن اواحادیثوکی چی کوم ځای دمرتبی طلب ممنوع اومذموم مقرر سوی دی ، دهغه مراد دغه دنیوی مرتبه او ددی څخه دنیوی نفع حاصلول دی .

امام ترمذی او نسایی دحضرت کعب بن مالك ﷺ څخه روایت بیان کړی دی چی نبی کریم ﷺ فرمایلی دی چی دوه کوچنی شرمښان چی دبزو پرکنډك ور ایله سی نو هغه به دبزو کنډك ته دومره نقصان ونه رسوی څومره چی دوه خصلتونه دانسان دین ته نقصان رسوی ، یو دمال محبت، دوهم دخپل عزت او مرتبی طلب (طبرانی د ابی سعید خدری ﷺ څخه او بزار د ابی هریره ﷺ څخه روایت کړی دی)

او دحضرت ابن عباس ﷺ څخه په ضعیف سند سره دا روایت دیلمی نقل کړی دی چی دمرتبی او صفت محبت انسان ړوند کوڼ کی . ددی ټولو روایتونو څخه مراد دهغه مرتبی اوصفت محبت دی کوم چی ددنیوی مقصدونو دپاره وی یادکوم په خاطر چی په دین کی دڅه سستی یاڅه ګناه کولو مرتکب سی . او کله چی دا صورت نه وی نو دمرتبی طلب مذموم نه دی ، په حدیث کی په خپله دنبی کریم ﷺ څخه دا دعا نقل ده . اَللّٰهُمَّ اجْعَلْنِيْ فِيْ عَيْنِيْ صَغِيْرًا وَفِيْ اَعْيُنِ النَّاسِ كَبِيْرًا ، یعنی یاالله! ماخپله په خپل نظرکی خو کوچنی او حقیر جوړ کی او دخلقو په نظر کی می لوی جوړکی . دلته هم دخلقو په نظر کی دلوی جوړولو مقصد دا دی چی خلق په نیکو کارونو کی زما پیروی وکی .

په دی وجه امام مالك رحمه الله فرمایی چی کوم سړی په واقع کی نیك او صالح وی دخلقو په نظرکی دنیك جوړیدو دپاره ریاکاری نه کوی ، دده دپاره دخلقو دطرف څخه دثنا او صفت محبت څه بد نه دی .

ابن عربی رحمه الله فرمایی چی دذکر سوی آیت ځخه ثابته سوه چی په کوم نیك عمل کولو سره په خلقو کی صفت کیږی ، دهغه نیك عمل طلب او خواهش جائز دی ، او امام غزالی رحمه الله فرمایی چی په دنیاکی دعزت او مرتبی محبت په درو شرطونو سره جائز دی . اول دا چی ددی ځخه مقصود خپل ځان لوی او دده په مقابله کی بل کوچنی یاسپك گڼل نه وی ، بلکی دآخرت دفائدی دپاره وی چی خلق زمامعتقد سی او په نیکو عملونو کی زما تابعداری وکی . دوهم دا چی د درواغو ثناخوانی یی مقصود نه وی چی کوم صفت په ده کی نه وی او دخلقو ځخه دهغه خواهش لری چی په هغه صفت سره دده تعریف وسی . دریم دا چی ددی دحاصلولو دپاره دځه گناه کولو یاپه دین کی دسستی کولو مرتکب نه سی .

(دمشرکانو دپاره دمغفرت دعا جائز نه ده)

وَاغْفِرْ لِأَبِي إِنَّهُ كَانَ مِنَ الضَّالِّينَ ، دقرآن مجید ددی فرمان ځخه وروسته چی . مَا كَانَ لِلنَّبِيِّ وَالَّذِينَ آمَنُوا أَنْ يَسْتَغْفِرُوا لِلْمُشْرِكِينَ وَلَوْ كَانُوا أُولِي قُرْبَى مِنْ بَعْدِ مَا تَبَيَّنَ لَهُمْ أَنَّهُمْ أَصْحَابُ الْجَحِيمِ، اوس دیوه سړی دپاره دچاچی پرکفر باندی مړ کیدل یقینی وی ، داستغفار او دبخښنی دعا کول جائز نه دی حرام دی ، ځکه چی دآیت مبارك ترجمه دا ده چی دیونبی اوایماندار دپاره داقطعاًجائزنه دی چی دمشرکانو دپاره بخښنه وغواړی خواه که هغه دده قریب او نژدی خپلوان ولی نه وی هرکله چی دهغه دوږخی کیدل بالکل واضح سوی وی .

(یوسوال او دهغه جواب)

اوس دلته داسوال پیداکیږی چی ددی نهی اومنع ځخه وروسته بیاحضرت ابراهیم علیه السلام دخپل مشرك پلار دپاره ولی دمغفرت دعاوغوښتله؟ ددې جواب په خپله الله رب العزت په قرآن مجیدکی ورکی چی . وَمَا كَانَ اسْتِغْفَارُ إِبْرَاهِيمَ لِأَبِيهِ إِلَّا عَنْ مَوْعِدَةٍ وَعَدَهَا إِيَّاهُ فَلَمَّا تَبَيَّنَ لَهُ أَنَّهُ عَدُوٌّ لِلَّهِ تَبَرَّأَ مِنْهُ إِنَّ إِبْرَاهِيمَ لَأَوَّاهٌ حَلِيمٌ (توبه ۱۱۴) دجواب خلاصه دا ده چی حضرت ابراهیم علیه السلام دخپل پلار دپاره دهغه په ژوندکی استغفار په دی نیت اوخیال سره کړی وو چی الله رب العزت ده ته دایمان راوړلو توفیق ورکی دکوم ځخه وروسته چی مغفرت یقینی دی یادحضرت ابراهیم علیه السلام دا خیال وو چی زما پلار په پټه باندی ایمان راوړی دی که ځه هم اظهار او اعلان یی نه وو کړی ، لیکن هرکله چی حضرت ابراهیم علیه السلام ته معلومه سوه چی زماپلار خو پرکفر مړ دی نودوی دخپلی پوره بیزاری او براءت اظهار وفرمایی .

فائده: ددی خبری تحقیق چی حضرت ابراهیم علیه السلام ته دخپل پلار شرك اوکفر دپلار په ژوندکی معلوم سوی وو او که دمرگ ځخه وروسته یادقیامت په ورځ به وی ، ددی پوره تفصیل په سورة توبه کی ذکر دی .

يَوْمَ لَا يَنْفَعُ مَالٌ وَلَا بَنُونَ إِلَّا مَنْ أَتَى اللَّهَ بِقَلْبٍ سَلِيمٍ ، یعنی دقیامت په هغه ورځ په کومه ورځ چی نه به مال چاته ځه فائده ورکی ، نه نارینه اولاد بغیر دهغه سړی ځخه کوم چی الله جل جلاله ته په قلب سلیم سره ورسی .

ددی آیت په تفسیرکی ځینو حضراتو استثناء ، استثناء منقطع گڼلی ده او تفسیریی داسی کړی دی چی په دغه ورځ به چاته نه دده مال په کار ورسی نه اولاد . البته په کار به ورځی خو صرف خپل زړه سلیم په کوم

کی چی شرك اوکفر نه وی ، او ددی جملی مثال به داسی وی ، لکه چی څوك دزيد متعلق دچا څخه پوښتنه وکی چی آیا دزید سره مال او اولاد هم دی ؟ هغه ددی په جواب کی ووایی چی دهغه مال او اولاد خو دهغه قلب سلیم دی ، چی ددی مطلب دا وی چی مال او اولاد خوهیڅ نسته ، مګر ددی تولو په بدله کی دده سره خپل قلب سلیم موجوددی. ددی آیت دمضمون خلاصه په دی تفسیرکی داده چی مال یااولادخوپه دغه ورځ هیڅ نه په کاریږی، په کاربه صرف ایمان اونیك عمل راځی، کوم چی یی په قلبِ سلیم سره تعبیر کړی دی.

او مشهور تفسیر د اکثرو مفسرینو په نزد دا دی چی استثناء متصله ده اومعنٰی دا ده چی مال او اولاد به دقیامت په ورځ دهیچا په کار ورنه سی ، بغیر دهغه سړی څخه دچاچی زړه سلیم دی یعنی هغه مومن دی. ددی مطلب دا سو چی دا ټول شیان په قیامت کی هم فائده مند او نفع مند کیدای سی ، مګر صرف دمومن دپاره به نفع مندوی ، کافر ته به هیڅ نفع ورنه کی ، دلته یوه خبره دا دنظر قابله ده چی دلته قرآن کریم، وَلَا بَنُوْنَ، فرمایی چی معنٰی یی نارینه اولاد دی . دعام او لاد ذکر یی غالبًا ځکه نه دی کړی چی په سختی کی دکار راتلو توقع په دنیا کی هم دنارینه اولاد یعنی هلکانو څخه کیدای سی . د انجونو څخه په سختی کی دامداد ورکولو خو دلته هم احتمال شاذ او نادر وی . په دی وجه یی په قیامت کی په خاص طور سره دهلکانو دغیر نافع کیدو ذکر وکی ، دکومو څخه چی په دنیاکی دنفع توقیع کیدای سی .

بله خبره دا ده چی دقلب سلیم لفظی معنٰی تندرست زړه دی . ابن عباس ؓ فرمایی چی ددی څخه مراد هغه زړه دی کوم چی دکلمه توحید شاهدی ورکی اودشرك څخه پاك وی . دا مضمون دمجاهد ، حسن بصری، سعید بن مسیب څخه په مختلفو عنوانونو سره نقل دی . سعید بن مسیب فرمایی چی تندرست زړه صرف دمومن کیدای سی ، دکافر زړه بیمار وی ، لکه چی دقرآن ارشاد دی ، فِیْ قُلُوْبِهِمْ مَّرَضٌ.

(مال او اولاد اوخانداني تعلقات په آخرت کي هم په شرط دايمان نفع رسولي سي)

دذکر سوی آیت دمشهور تفسیر مطابق معلومه سوه چی دانسان مال دقیامت په ورځ هم دده په کار ورتلی سی ، په دی شرط چی هغه مسلمان وی . ددی صورت دا دی چی کوم سړی په دنیاکی خپل مال دالله ﷻ په لاره اوپه نیکو کارونوکی خرڅ کړی وی یاڅه صدقه جاریه یی پرې ایښی وی، که دده خاتمه پرایمان باندی وسوه ، په محشر کی دمومنانوپه فهرست کی داخل سو، نودلته دخرڅ کړی مال اوصدقه جاریه ثواب به ده ته په میدان دحشر اومیزان دحساب کی هم په کار ورځی اوکه داسړی مسلمان نه وی یاخدای مه که دمرګ څخه مخکی دایمان څخه ووزی نو اوس به په دنیاکی کړی هیڅ نیك عمل دده په کار ورنه سی اود اولاد هم دا معامله ده چی که دا سړی مسلمان وی نوپه آخرت کی هم ده ته اولاد فائده رسولی سی ، په دی شان چی دده څخه وروسته دده اولاد دده دپاره دمغفرت دعا کوی یا ورته ثواب رسوی او داسی هم چی ده د اولاد دنیك جوړولو کوشش کړی وو، په دی وجه د دوی دنیك عمل ثواب ده ته هم خود بخوده رسیږی اوپه عملنامه کی یی لیکل کیږی او داسی هم چی اولاد په محشرکی دده شفاعت وکی ، ویی بخښی، لکه چی په ځینو روایتونو دحدیث کی داسی شفاعت کول او دهغه قبلیدل ثابت دی . خصوصًادنابالغ اولاد . دغه

دول به اولاد ته دمور اوپلار څخه هم په آخرت کې په شرط دايمان دا نفع رسيږي ، چې که دي مسلمان وي ، مګر دده نيك عملونه دمور اوپلار درجې ته نه رسيږي ، نو الله ﷻ دده دمور اوپلار په رعايت سره به دي هم هغه لوړ مقام ته ورسوي ، کوم چې دده دپلار او نيکه مقام دی . په قرآن کريم کې ددې وضاحت داسې ذکر دی : وَأَلْحَقْنَا بِهِمْ ذُرِّيَّتَهُمْ ، يعنې مونږ به ورينو دخپلو نيکو بندګانو سره د دوی اولاد هم ، ددې آيت د ذکر سوی مشهور تفسير څخه معلومه سوه چې په قرآن او حديث کې چې کوم ځای دا ذکردی چې په قيامت کې به خانداني تعلق څه په کار نه ورځي ، ددې څخه مراد دا دی چې غير مومن ته به په کار نه ورځي ، تردې چې دپيغمبر اولاد اوبې بې هم که مومنان نه وي نو د دوی دپيغمبرۍ څخه به په قيامت کې هغوی ته هيڅ فائده ونه رسيږي ، لکه دحضرت نوح ﷺ زوی او دحضرت لوط ﷺ ښځه او دحضرت ابراهيم ﷺ پلار . دقرآن کريم دآيت : فَإِذَا نُفِخَ فِي الصُّورِ فَلَا أَنسَابَ بَيْنَهُمْ ، او : يَوْمَ يَفِرُّ الْمَرْءُ مِنْ أَخِيهِ وَأُمِّهِ وَأَبِيهِ ، او : لَا يَجْزِي وَالِدٌ عَنْ وَلَدِهِ ، ددې ټولو آيتونو دا مطلب کيدای سي . والله تعالی اعلم

كَذَّبَتْ قَوْمُ نُوحٍ الْمُرْسَلِينَ ﴿١٠٥﴾ إِذْ قَالَ لَهُمْ أَخُوهُمْ نُوحٌ أَلَا تَتَّقُونَ ﴿١٠٦﴾ إِنِّي لَكُمْ

دروغجن کړل قوم دنوح ﷺ پيغمبران ، هرکله چې دوی ته د دوی ورور نوح ﷺ وويل آياتاسې نه بيرېږئ ؟ زه تاسې

رَسُولٌ أَمِينٌ ﴿١٠٧﴾ فَاتَّقُوا اللَّهَ وَأَطِيعُونِ ﴿١٠٨﴾ وَمَا أَسْأَلُكُمْ عَلَيْهِ مِنْ أَجْرٍ إِنْ أَجْرِيَ

دپاره پيغمبريم امانتدار پس وبيرېږئ دالله څخه اوزما خبره ومنئ اونه غواړم زه ستاسې څخه په دې څه بدله زمابدله

إِلَّا عَلَىٰ رَبِّ الْعَالَمِينَ ﴿١٠٩﴾ فَاتَّقُوا اللَّهَ وَأَطِيعُونِ ﴿١١٠﴾ قَالُوا أَنُؤْمِنُ لَكَ وَاتَّبَعَكَ الْأَرْذَلُونَ ﴿١١١﴾

په هغه پروردګار دعالم ده ، پس وبيرېږئ دالله څخه اوزماخبره ومنئ ، وې ويل آيامونږ تا ومنو؟ اوستاملګري دي کمينه خلق

قَالَ وَمَا عِلْمِي بِمَا كَانُوا يَعْمَلُونَ ﴿١١٢﴾ إِنْ حِسَابُهُمْ إِلَّا عَلَىٰ رَبِّي لَوْ تَشْعُرُونَ ﴿١١٣﴾ وَ

وې ويل زما هيڅ علم نسته په هغه چې دوی يې کوي ددوی دحساب پوښتنه کول زمادرب کاردی که تاسې پوهيږئ ،

مَا أَنَا بِطَارِدِ الْمُؤْمِنِينَ ﴿١١٤﴾ إِنْ أَنَا إِلَّا نَذِيرٌ مُّبِينٌ ﴿١١٥﴾ قَالُوا لَئِن

اوزه نه يم شړونکی ايماندارو لره ، زه خو بس دغه بيرونکی يم ښکاره ، وې ويل که ته

لَّمْ تَنتَهِ يَا نُوحُ لَتَكُونَنَّ مِنَ الْمَرْجُومِينَ ﴿١١٦﴾ قَالَ رَبِّ إِنَّ قَوْمِي كَذَّبُونِ ﴿١١٧﴾

منع نه سوې ای نوح ﷺ ! نو خامخا به ته سنګسار کړل سې ، وې ويل ای ربه زما قوم خو زه دروغجن کړم

فَافْتَحْ بَيْنِي وَبَيْنَهُمْ فَتْحًا وَنَجِّنِي وَمَن مَّعِيَ مِنَ الْمُؤْمِنِينَ ﴿١١٨﴾ فَأَنجَيْنَاهُ

پس فيصله وکړې زما او د دوی په مينځ کې فيصله اومحفوظ کړې ما اوڅوک چې زما سره دي ايماندار بس وساتی

وَمَنْ مَّعَهٗ فِي الْفُلْكِ الْمَشْحُوْنِ ﴿۱۱۹﴾ ثُمَّ اَغْرَقْنَا بَعْدُ الْبٰقِيْنَ ﴿۱۲۰﴾

مونږ ده لره اوخوک چې دده سره وو ، په ډک کشتۍ کې ، بیا دوب کړل مونږ د دوی څخه وروسته باقي پاته سوي .

اِنَّ فِيْ ذٰلِكَ لَاٰيَةً ۭ وَمَا كَانَ اَكْثَرُهُمْ مُّؤْمِنِيْنَ ﴿۱۲۱﴾ وَاِنَّ رَبَّكَ لَهُوَ الْعَزِيْزُ الرَّحِيْمُ ﴿۱۲۲﴾

خامخا په دې خبره کې نښانه ده ، او په دوی کې ډیر خلق نه دي منونکي او بیشکه ستارب دی زبردست رحم والا .

تفسير: قوم دنوح ﷺ پیغمبران درواغجن کړل (ځکه چې دیو پیغمبر په درواغجن کولو سره دټولو پیغمبرانو درواغجن کول لازمیږي) هرکله چې دوی ته د دوی دبرادرۍ ورور نوح (ﷺ) وویل چې آیا تاسي (دخدای څخه) نه بیریږئ ؟ زه ستاسي امانتدار پیغمبریم (چې بعینه دخدای ﷻ پیغام درته بی دځه کمی او زیاتوب رسوم) پس (ددې مقتضٰی دا ده چې) تاسي خلق دالله ﷻ څخه وبیریږئ او زماخبره ومنی او (دارنګه) زه ستاسي څخه څه (دنیوي) صله (هم) نه غواړم ، زمابدله خو بس دالله ﷻ پرذمه ده پس (زمادې بې غرضی مقتضٰی هم دا ده چې) تاسي دالله ﷻ څخه وبیریږئ او زماخبره ومنی ، هغو خلقو وویل چې آیامونږ تاومنوحال دا دی چې رذیلان خلق ستاسره ملګري سوي دي (دکوموپه ملګرتیاسره چې شریفانو ته شرم ورځي او اکثره دداسي کم حوصلې خلقو مقصد دچاسره په ملګرۍ کیدو څه مال یامرتبه حاصلول دي د دوی دایمان دعوٰی هم قابل اعتبار نه ده) نوح (ﷺ) وویل چې د دوی د (کاسبانه) کار سره زماڅه تعلق دی (خواه که شریفان وي اوکه رذیلان ، په دین کې دا تفاوت هیڅ اثر نه کوي ، پاته سو دا احتمال چې د دوی ایمان په زړه سره نه دی پس په دې سره) د دوی حساب اوکتاب اخستل دخدای کار دی ، څه به ښه وای که تاسي په دې پوهیدئ او (رذالت پیشه خلق چې دخپل ایمان راوړلو څخه مانع مقرر کوئ او اشارتاً ددې څخه دا درخواست معلومیږي چې زه دوی دخپل ځان څخه لیري کړم نو) زه د ایماندارو لیرې کوونکی نه یم (خواه که تاسي ایمان راوړئ اوکه نه راوړئ زماهیڅ ضرر نسته ځکه چې) زه خو صرف خوپه صاف طور سره یو بیرونکی یم (او په تبلیغ سره زمامنصبي فرض پوره کیږي ، مخ ته خپله نفع او نقصان تاسي خلق وګورئ) هغوی خلقو وویل چې که ته (ددې خبرو آوریدو څخه) ای نوح ﷺ منع نه سوې نوخامخابه سنګسارسې (غرض دا چې کله ډیر کلونه په دې شان سره تیرسول نو) نوح (ﷺ) دعاوکړه چې ای زما پروردګاره ! زما قوم زه (پرمخ) درواغجن کړم ، پس ته زما او د دوی په مینځ کې یوه (عملي) فیصله وکې (یعني دوی هلاك کړې) او ماته اوکوم ایماندار چې زماسره دي دوی ته (ددې هلاکت څخه) نجات راکې نو مونږ (دده دعاقبوله کړه او) دی او څوك چې دده سره په ډکه کښتۍ کې (سپاره) وه دوی ته مونجات ورکې ، بیا ددې څخه وروسته مونږ باقي خلق غرق کړل ، په دې (واقعه) کې (هم) لوی عبرت دی او (سره ددې) په دوی (کفارو دمکې) کې اکثره خلق ایمان نه راوړئ ، بیشکه ستارب زبردست (او) مهربانه دی (چې سره ددې چې پرعذاب ورکولو قادر دی بیایې هم دوی ته مهلت ورکړی دی)

(معلومات اومسئلې: پرعبادتونو داجرت اخستلو حکم)

وَمَآ اَسْـَٔلُكُمْ عَلَيْهِ مِنْ اَجْرٍ، ددې آيت څخه معلومېږي چې پرتعليم او تبليغ اجرت (مزدوري) اخستل صحيح نه دي ، په دې وجه سلفو صالحينو اجرت اخستلو ته حرام ويلي دي ليکن وروستنيو عالمانو دا په حالت دمجبوري کې جائز ګڼلي دي ، ددې پوره تفصيل ترآيت . لَا تَشْتَرُوْا بِاٰيٰتِيْ ثَمَنًا، لاندې بيان سوی دی .

فائده: دلته د: فَاتَّقُوا اللّٰهَ وَاَطِيْعُوْنِ، آيت دوه واره دتاکيد دپاره او ددې ښوونې دپاره راوړل سوي دي چې درسول د اطاعت او دخدای ﷻ څخه دبيرې دپاره صرف د رسول امانت ، ديانت ياصرف پرتبليغ او تعليم باندې أجرت نه طلب کول کافي وو ، ليکن په کوم رسول کې چې دا ټول صفتونه موجود سي ، دهغه اطاعت او دهغه دخدای ﷻ څخه بيرېدل خو نور هم زيات لازمي سوه .

(شرافت او رذالت په عملونو او په اخلاقو دي نه داچي په خاندان او دبدبې سره)

قَالُوْٓا اَنُؤْمِنُ لَكَ وَاتَّبَعَكَ الْاَرْذَلُوْنَ قَالَ وَمَا عِلْمِيْ بِمَا كَانُوْا يَعْمَلُوْنَ، په دې آيت کې اول دمشرکانو دا قول نقل کړی دی چې دوی په حضرت نوح ﷺ باندې د ايمان راوړلو څخه دانکار وجه دابيان کړه چې ستامننکي ټول رذيلان خلق دي ، مونږ عزت مند شريفان د دوی سره څنګه يوځای کيدای سو؟ حضرت نوح ﷺ په جواب کې وفرمايل چې ماته د دوی دعملونو حال معلوم نه دی . په دې کې يې اشاره وکړه چې تاسې خلق کوم خانداني شرافت ياما‌ل او دولت ، عزت او مرتبې دشرافت بنياد ګڼې دا غلطه ده ، بلکې مدار دعزت او ذلت ياشرافت او رذالت په اصل کې پرعملونو او اخلاقو باندې دی ، تاسې چې پرچا دا حکم لګوې چې دا ټول رذيلان دي ، دا ستا جهالت دی ، ځکه چې مونږ دهر سړي دعملونو او اخلاقو دحقيقت څخه خبر نه يو په دې وجه مونږ څه فيصله نه سو کولای چې په حقيقت کې څوک رذيل دی او څوک شريف دی (قرطبي)

كَذَّبَتْ عَادُ ِۨالْمُرْسَلِيْنَ ﴿۱۲۳﴾ اِذْ قَالَ لَهُمْ اَخُوْهُمْ هُوْدٌ اَلَا تَتَّقُوْنَ ﴿۱۲۴﴾ اِنِّيْ لَكُمْ

دروغجن کړل عاديانو پيغمبران ، هرکله چې وويل دوی ته ورور د دوی هود ﷺ آياتاسې نه بيرېږئ ؟ زه تاسې ته

رَسُوْلٌ اَمِيْنٌ ﴿۱۲۵﴾ فَاتَّقُوا اللّٰهَ وَاَطِيْعُوْنِ ﴿۱۲۶﴾ وَمَآ اَسْـَٔلُكُمْ عَلَيْهِ مِنْ اَجْرٍ اِنْ اَجْرِيَ

بيغام راوړونکی امانتدار يم پس وبيرېږئ دالله څخه اوزما خبره ومنئ اوزه نه غواړم تاسې څخه په دې څه بدله زمابدله

اِلَّا عَلٰى رَبِّ الْعٰلَمِيْنَ ﴿۱۲۷﴾ اَتَبْنُوْنَ بِكُلِّ رِيْعٍ اٰيَةً تَعْبَثُوْنَ ﴿۱۲۸﴾ وَتَتَّخِذُوْنَ

په مالک دجهان باندې ده ، آيا جوړ وئ په هره لوړه ځکه يوه نښانه دلوبو دپاره او جوړوئ

مَصَانِعَ لَعَلَّكُمْ تَخْلُدُوْنَ ﴿۱۲۹﴾ وَاِذَا بَطَشْتُمْ بَطَشْتُمْ جَبَّارِيْنَ ﴿۱۳۰﴾ فَاتَّقُوا اللّٰهَ وَاَطِيْعُوْنِ ﴿۱۳۱﴾ وَاتَّقُوا

محلونه شايد تاسې به هميشه وسيږئ ؟ او کله چې حمله کوئ نو حمله کوئ په ظلم سره ، نو دالله تعالى څخه وبيرېږئ او زما خبره ومنئ ، او بيرېږئ

الَّذِیْٓ اَمَدَّكُمْ بِمَا تَعْلَمُوْنَ ۱۳۲ اَمَدَّكُمْ بِاَنْعَامٍ وَّبَنِیْنَ ۱۳۳ وَجَنّٰتٍ

دهغه چاڅخه چي در یی کړل تاسی ته هغه شیان چی تاسی پیژنی ، در یی کړل تاسی ته حیوانان او اولاد او باغونه

وَّعُیُوْنٍ ۱۳۴ اِنِّیْٓ اَخَافُ عَلَیْكُمْ عَذَابَ یَوْمٍ عَظِیْمٍ ۱۳۵ قَالُوْا سَوَآءٌ

او چینی ، زه بیرېږم په تاسی دیوی لوی ورځی دآفت څخه ، وی ویل برابره ده

عَلَیْنَآ اَوَعَظْتَ اَمْ لَمْ تَكُنْ مِّنَ الْوٰعِظِیْنَ ۱۳۶ اِنْ هٰذَآ اِلَّا خُلُقُ

مونږ ته که ته نصیحت کوی او که نه کیږې ته نصیحت کوونکی ، نوری هیڅ نه دی دا خبری مگر عادت دی

الْاَوَّلِیْنَ ۱۳۷ وَمَا نَحْنُ بِمُعَذَّبِیْنَ ۱۳۸ فَكَذَّبُوْهُ فَاَهْلَكْنٰهُمْ اِنَّ فِیْ

دمخکي خلقو ، او په مونږ آفت نه دی راتلونکی ، نو هغه یی دروا غجن کی نو مونږ هغه هلا کړل ، په

ذٰلِكَ لَاٰیَةً وَمَا كَانَ اَكْثَرُهُمْ مُّؤْمِنِیْنَ ۱۳۹ وَاِنَّ رَبَّكَ لَهُوَ الْعَزِیْزُ الرَّحِیْمُ ۱۴۰

دی خبره کی نښانه ده او په دوی کی ډیر خلق نه دی منونکی ، او بیشکه ستا رب هغه زبردست دی رحم والا

لنډتفسیر: قوم دعاد پیغمبران درواغجن کړل هرکله چی دوی ته د دوی (دَبرادری) ورور هود (علیه السلام) وویل چی آیاتاسی (دَخدای ﷻ څخه) نه بیرېږی ؟ زه ستاسی امانت دار پیغمبر یم وروسته تاسی دالله ﷻ څخه وبیرېږی او زماخبره ومنی او زه ستاسی څخه پردی (تبلیغ) باندی څه بدله نه غوارم بس زمابدله خو درب العٰلمین پرذمه ده آیاتاسی (علاوه دشرك څخه په تکبر او فخر کی هم په دی درجه سره مصروف یاست چی) پرهر لوړ ځای یو (دَ) یادګار (په توګه سره آبادی) جوړ وی (چی ښه لوړه په نظر راځی) کوم چی محض فضول (بی ضرورته) جوړ وی او (ددی څخه علاوه کوم چی د اوسیدو مکانونه دی دکومو چی په یوه درجه کی ضرورت هم دی ، په هغو کی هم داغلوده) چی لوی لوی محلونه جوړوی (حال دا دی چی دهغو څخه په کمو کی آرام ورکول کیږی) لکه چی په دنیاکی تاسی همیشه پاته کیدونکی یاست (یعنی دومره لوی مکانونه او داسی لوړ محلونه او داسی مضبوطی او داسی یادګاری آبادی خو هغه وخت مناسب وي هرکله چی په دنیاکی همیشه پاته کیدل وی نو دا خیال به وای چی کورونه پراخ اولوی جوړ وی چی زمونږ دژوندی پاته کیدو سره زمونږ ذکر ژوندی وی، نو اوس خو دا ټول فضول دی ، لوی لوی یادګارونه جوړ دی او دجوړونکی نوم یی هم نسته ، مرګ دټولو څخه نومونه موورك کړی دی دچاړر دچاڅه وخت وروسته) او (ددی تکبر په سبب سره په طبیعت کی سختی اوبی رحمی خو دومره لری چی) کله پرچاحمله کوی ، نو بالکل جابران (اوظالمان) جوړیږی حمله کوی (ددي بدو اخلاقو بیان یی څکه وسو چی دا بد اخلاق اکثره د

ایمان او اطاعت په لاره کی بندیز جوړیږی) وروسته (چونکه شرك او تیر بد اخلاق دالله ﷻ دناخوښی او عذاب سببونه دی په دی وجه) تاسی (ته په کار دی چی) دالله ﷻ څخه بیریږی او (چونکی زه رسول یم ، په دی وجه) زما اطاعت وکی ، او دهغه (الله) څخه وبیریږی (یعنی دکوم څخه چی دبیریدو زه وایم هغه داسی دی) کوم چی ستاسی مدد یی په هغو شیانوسره کړی دی کوم چی تاسی پیژنی (یعنی) په څاروو اوپه اولاد اوپه باغونو اوپه چینو یی ستاسی مدد وکی (نودمنعم کیدو مقتضا دا ده چی دهغه د احکامو بالکل مخالفت ونه سی) زماسره ستاسی په حق کی (که تاسی دهغو کارونو څخه منع نه سی) دیوې لوی سختی ورځی دعذاب بیره ده (دا ترهیب دی او په اَمَدَّ کُمْ بِاَنْعَامِ الخ کی ترغیب وو) هغو خلقو وویل چی زمونږ په نزد خو دواړی خبری برابری دی خواه که ته نصیحت کوی اوکه نصیحت کوونکی نه جوړیږی (یعنی مونږ په دواړو حالتونو کی دخپل کردار څخه نه منع کیږی او ته چی څه وایی) دا خو دتیرو خلقو یو (معمولی) عادت (دی او رسم) دی (چی په هره زمانه کی خلق دنبوت دعوی کوی ، خلقو ته داسی وایی او اوروی) او (تاسی چی کوم مونږ دعذاب څخه بیروی نو) نومونږ ته خو هیڅکله عذاب نه سی کیدای ، غرض دا چی دی خلقو هود (عليه السلام) درواغجن کی نو مونږ هغوی (دسختی سیلی) په عذاب سره هلاك کړل ، بیشکه په دی (واقعه) کی (هم) لوی عبرت دی (چی د احکامو دمخالفت څه انجام سو) او (باوجود ددی) په دی (کفارو دمکی) کی اکثره خلق ایمان نه راوړی او بیشکه ستارب زبردست اومهربان دی (چی په عذاب ورکولو باندی قادر دی او په رحمت سره یی مهلت هم ورکړی دی)

(معلومات اومسئلي : دیو څو مشکل الفاظو تشریح)

اَتَبْنُونَ بِكُلِّ رِيعٍ آيَةً تَعْبَثُونَ وَتَتَّخِذُونَ مَصَانِعَ لَعَلَّكُمْ تَخْلُدُونَ. اَلرِّيْع، ابن جریر دحضرت مجاهد رحمه الله څخه نقل کړی دی چی رِیع د دوو غرونو دمینځ لاری ته ویل کیږی ، دحضرت ابن عباس ﷺ اوجمهورو څخه نقل دی چی ریع لوړ ځای ته ویل کیږی ، او ددی څخه، رِيْعُ النَّبَات، وتلی دی یعنی لوئیدو اوپورته ختلو والا شنه بوټی . آيَةً، ددی اصل معنیٰ علامه (نښانه) ده . دلته ورڅخه لوړ محل مراد دی ، تَعْبَثُوْنَ دا عَبث څخه دی او عبث هغه ته وایی چی نه په کی حقیقةً څه فائده وی اونه حکمًا . دلته به یی معنیٰ دا وی چی هغوی بی فائدی لوړ لوړ محلونه جوړول چی هغوی ته یی هیڅ ضرورت نه وو، صرف فخریه یی جوړول . مَصَانِع، دمصنع جمع ده . حضرت قتاده فرمایی چی دمصانع څخه د اوبو حوضونه مراد دی ، لیکن حضرت مجاهد رحمه الله فرمایی چی ددی څخه مضبوط محلونه مراد دی ، لَعَلَّكُمْ تَخْلُدُوْنَ، امام بخاری فرمایی چی په دی آیت کی لَعَلَّ دتشبیهه دپاره دی او حضرت ابن عباس ﷺ یی ترجمه دا فرمایلی ده . كَاَنَّكُمْ تَخْلُدُوْنَ . یعنی ګویا تاسی به همیشه اوسیږی ، (لکه چی داسی په روح کی دی)

(بي ضرورته آبادي جوړول بد دي)

ددی آیت څخه ثابته سوه چی بغیرد ضرورت څخه مکان جوړول اوآبادی کول شرعًا بد دی، اودامعنیٰ ده ددی حدیث کوم چی امام ترمذی دحضرت انس ﷺ څخه روایت کړی دی چی . اَلنَّفَقَةُ كُلُّهَا فِيْ سَبِيْلِ اللهِ اِلَّا الْبِنَآءَ فَلَا خَيْرَ فِيْهِ

یعنی هغه آبادی کومه چی دضرورت څخه زیاته جوړه سوی وی په دی کی هیڅ خیر اوښه والی نسته اوددی معنی تصدیق دحضرت انس ﷺ بل روایت کوی چی اِنَّ كُلَّ بِنَآءٍ وَبَالٌ عَلٰى صَاحِبِهِ اِلَّا مَالَابُدَّ مِنْهُ، (ابوداود) یعنی هره آبادی دآبادوونکی دپاره مصیبت دی مگرهغه آبادی چی ضروری وی وبال نه دی . په روح المعانی کی فرمایی چی بغیر دصحیح غرض څخه لوړه آبادی جوړول په شریعت محمدیه کی هم مذمومه اوبده ده .

كَذَّبَتْ ثَمُوْدُ الْمُرْسَلِيْنَ ﴿١٤١﴾ اِذْ قَالَ لَهُمْ اَخُوْهُمْ صٰلِحٌ اَلَا تَتَّقُوْنَ ﴿١٤٢﴾ اِنِّيْ

دروا غجن کړل ثمودیان پیغمبران ، هر کله چی وویل دوی ته ورور د دوی صالح ﷺ آیا تاسی نه بیریږی ؟ زه

لَكُمْ رَسُوْلٌ اَمِيْنٌ ﴿١٤٣﴾ فَاتَّقُوا اللّٰهَ وَاَطِيْعُوْنِ ﴿١٤٤﴾ وَمَآ اَسْئَلُكُمْ عَلَيْهِ مِنْ اَجْرٍ

تاسی پیغام راوړونکی یم امانتدارنو وبیریږی دالله څخه اوزماخبره ومنی اوزه نه غوارم تاسی څخه په دی باندی څه بدله

اِنْ اَجْرِيَ اِلَّا عَلٰى رَبِّ الْعٰلَمِيْنَ ﴿١٤٥﴾ اَتُتْرَكُوْنَ فِيْ مَا هٰهُنَآ اٰمِنِيْنَ ﴿١٤٦﴾ فِيْ جَنّٰتٍ

زمابدله دجهان به پالونکی ده ، آیا پریږ دی به تاسی ددی ځای په شیانو کی په امن ، په باغونو

وَّعُيُوْنٍ ﴿١٤٧﴾ وَّزُرُوْعٍ وَّنَخْلٍ طَلْعُهَا هَضِيْمٌ ﴿١٤٨﴾ وَتَنْحِتُوْنَ مِنَ الْجِبَالِ بُيُوْتًا فٰرِهِيْنَ ﴿١٤٩﴾

اوپه چینو کی اوپه فصلونو کی اوپه خرماؤکی چی ګنګوچی یی هاضم دی اوتراش کوی په غرونو کی کورونه په تکلیف سره

فَاتَّقُوا اللّٰهَ وَاَطِيْعُوْنِ ﴿١٥٠﴾ وَلَا تُطِيْعُوْٓا اَمْرَ الْمُسْرِفِيْنَ ﴿١٥١﴾ الَّذِيْنَ

نو وبیریږی دالله تعالی څخه اوزما خبره ومنی ، او مه منی حکم دبی باکه خلقو کوم چی

يُفْسِدُوْنَ فِي الْاَرْضِ وَلَا يُصْلِحُوْنَ ﴿١٥٢﴾ قَالُوْٓا اِنَّمَآ اَنْتَ مِنَ

خرابی کوی په ملک کی او اصلاح نه کوی ، وې ویل په تا خو چا

الْمُسَحَّرِيْنَ ﴿١٥٣﴾ مَآ اَنْتَ اِلَّا بَشَرٌ مِّثْلُنَا ۚ فَاْتِ بِاٰيَةٍ اِنْ كُنْتَ مِنَ

جادو کړی دی ، ته هم یوسړی یی زمونږ په رنګ ، نو راوړه څه نښانه که ته

الصّٰدِقِيْنَ ﴿١٥٤﴾ قَالَ هٰذِهٖ نَاقَةٌ لَّهَا شِرْبٌ وَّلَكُمْ شِرْبُ يَوْمٍ مَّعْلُوْمٍ ﴿١٥٥﴾

رښتونی یی ؟ وې ویل دا اوښه ده ، ددی دپاره داوبو څیښلو یو واردی . اوتاسی دپاره وار یوه ورځ مقرر دی .

وَلَا تَمَسُّوْهَا بِسُوْٓءٍ فَيَاْخُذَكُمْ عَذَابُ يَوْمٍ عَظِيْمٍ ﴿١٥٦﴾ فَعَقَرُوْهَا

اومه رسوی دی ته څه ضرر په بدی سره بیابه ونیسی تاسی عذاب دیوې ورځی لوی ، نو شله یی کړه هغه اوښه ،

فَأَصْبَحُوا نٰدِمِينَ ﴿١٥٧﴾ فَأَخَذَهُمُ الْعَذَابُ ۚ إِنَّ فِي ذٰلِكَ لَآيَةً ۖ وَ

بیاصباله سول پښیمانه ، بیا ونیول دوی عذاب ، خامخا په دی خبره کی نښانه ده

مَا كَانَ أَكْثَرُهُمْ مُؤْمِنِينَ ﴿١٥٨﴾ وَإِنَّ رَبَّكَ لَهُوَ الْعَزِيزُ الرَّحِيمُ ﴿١٥٩﴾

او په هغوی کی اکثر خلق نه دی منونکی ، اوبیشکه ستا رب هغه دی زبردست رحم کوونکی

تفسیر: دثمود قوم (هم) پیغمبرانو دروا غجن کړل ، هرکله چی دوی ته د دوی ورور صالح (ﷺ) وفرمایل آیاتاسی (دالله ﷻ څخه) نه بیریږی ، زه ستاسی امانتدار پیغمبر یم ، وروسته تاسی دالله ﷻ څخه وبیریږی او زما خبره ومنی او زه ستاسی څخه پردی هیڅ بدله نه غوارم بس زمابدله درب العٰلمین پرذمه ده (اوتاسی چی کوم دخوشحالی په وجه دومره دالله ﷻ څخه غافله یاست نو) آیاتاسی به په دی شیانوکی په امن سره پریښول سی کوم چی دلته (په دنیاکی) موجود دی یعنی په باغونو اوچینو کی او په دی فصلونو او خرماوو کی دکومو ګنګو چی (غونچې) چی ښه لیسدار دی (یعنی په دی خرماوو کی ښه ډیره میوه راځی ، او آیا (ددی غفلت په وجه) تاسی غرونه تراش کوی په فخر (او لویی کولو) سره مکانات جوړ وی وروسته دالله ﷻ څخه وبیریږی او زماخبره ومنی او دهغوی حدونو (دبندګی) څخه دوتونکو خبره مه منی کوم چی په مځکه کی فساد کوی او (هیڅکله د) اصلاح (خبره) نه کوی (مراد ورڅخه دکفارو سرداران دی چاچی په خلق ګمراهی ته را اړول او دفساد او اصلاح نه کولو څخه یی دا مراد دی) هغوی خلقو وویل چی په تا خو یو چا لوی جادو کړی دی (په کوم سره چی ستا په عقل کی خرابی راغلی ده چی دنبوت دعوی کوی ، حال دا دی چی) ته خو بس زمونږ په شان یو (معمولی) انسان یی (او انسان خو نبی کیدای نه سی) وروسته څه معجزه پیش کړه که ته (دنبوت په دعوی کی) رښتینی یی صالح (ﷺ) وفرمایل چی دا یوه اوښه ده (کومه چی دخلاف عادت پیداکیدو په وجه معجزه ده ، لکه چی د اتمی پاری ختمیدو ته نژدی تیرسوی دی او علاوه ددی چی دا زما په رسالت دلیل دی ، په خپله ددی هم څه حقوق دی چنانچی په هغه کی یو دا دی چی) د اوبو چښلو دپاره یو وار ددی مقرر دی او په یوه مقرره ورځ کی یو وار ستاسی دی (یعنی ستاسی دڅاروو دی) او (یو حق یی دا دی چی) دی ته په بدی (اوتکلیف ورکولو) سره لاس مه وروړی هسی نه تاسی به دیوی لویی ورځی عذاب ونیسی وروسته دوی (نه درسالت تصدیق وکی نه یی د اوښی حقونه ادا کړل بلکه) هغه اوښه (یی) مړه کړه بیا (هرکله چی دعذاب نښانی ښکاره سوی نو په خپل حرکت باندی) ستومانه سول (مګر اول خو دعذاب لیدو په وخت کی ستومانی بی کاره ده ، دوهم خالی په طبعی ستومانی هیڅ نه کیږی ، ترڅو پوری چی اختیاری تدارک یعنی توبه او ایمان نه وی) بیا (آخر) عذاب دوی ونیول بیشکه په دی (واقعه) کی لوی عبرت دی او (سره ددی) په دوی (کفارو دمکی) کی اکثره خلق ایمان نه را وړی او بیشکه ستا رب لوی زبردست ډیر مهربانه دی (چی سره دقدرت څخه مهلت ورکوی)

(معلومات او مسئلې)

وَتَنۡحِتُوۡنَ مِنَ الۡجِبَالِ بُيُوۡتًا فٰرِهِيۡنَ ° دحضرت ابن عباس ﷺ څخه د ، فَارِهِيۡنَ، تفسير ، باطِرِين، نقل دی ، يعنی لويی او تکبر کوونکی ، ليکن ابو صالح فرمايی او دا تفسير امام راغب ؒ کړی دی چی د ، فارهين ، معنی حَاذِقِين ° يعنی ماهرين ده ، مراد دا دی چی الله ﷻ پرتاسی دا نعمت فرمايلی دی چی تاسی ته يی داسی کاريگری وښودله چی په غرونو کی يی کورونه جوړول ، تاسی ته آسان کړل ، مطلب دا دی چی دالله ﷻ نعمتونه ياد کړی او په مځکه کی فساد مه کوی .

(فائده مند کسبونه دالله ﷻ انعامونه دی په دی شرط چې په بدو کارونو کې يې استعمال نه کړی)

ددی آيت څخه ثابته سوه چی ښه کسبونه دالله ﷻ انعامونه دی او نفع اخستل ورڅخه جائز دی ليکن که په هغه کی دڅه گناه ياحرام کار يا بی ضرورته څه شغل لازم راځی نو بيا هغه کسب اختيارول ناجائز دی لکه چی اوس ددی څخه په مځکی آبيتونو کی دبی ضرورته ابادیو لوړولو مذمت اوبدوالی سوی دی .

كَذَّبَتۡ قَوۡمُ لُوۡطِ ۣالۡمُرۡسَلِيۡنَ ﴿۱۶۰﴾ اِذۡ قَالَ لَهُمۡ اَخُوۡهُمۡ لُوۡطٌ اَلَا تَتَّقُوۡنَ ﴿۱۶۱﴾

دروغجن کړل لوط ﷺ قوم پيغمبران ، هرکله چی وويل دوی ته د دوی ورور لوط ﷺ اياتاسی نه بيريږي ؟

اِنِّىۡ لَـكُمۡ رَسُوۡلٌ اَمِيۡنٌ ﴿۱۶۲﴾ فَاتَّقُوا اللّٰهَ وَاَطِيۡعُوۡنِ ﴿۱۶۳﴾ وَمَاۤ اَسۡـئَلُكُمۡ

زه تاسی دپاره پيغام راوړونکی يم امانتدار يم ، نو وبيريږي دالله ﷻ څخه اوزماخبره ومنی ، اوزه نه غواړم تاسی

عَلَيۡهِ مِنۡ اَجۡرٍ‌ ۚ اِنۡ اَجۡرِىَ اِلَّا عَلٰى رَبِّ الۡعٰلَمِيۡنَ ﴿۱۶۴﴾ اَتَاۡتُوۡنَ الذُّكۡرَانَ

څخه ددی څه بدله ، زمابدله دپرور دگار عالم په ذمه ده ، آياتاسی راتلل کوی سړوته

مِنَ الۡعٰلَمِيۡنَ ﴿۱۶۵﴾ وَتَذَرُوۡنَ مَا خَلَقَ لَـكُمۡ رَبُّكُمۡ مِّنۡ اَزۡوَاجِكُمۡ‌ ؕ بَلۡ اَنۡتُمۡ

په عالم کی ، او پريږدی کوم چی تاسی دپاره پيداکړی دی ستاسی رب ستاسی بيبيانی بلکه تاسی

قَوۡمٌ عٰدُوۡنَ ﴿۱۶۶﴾ قَالُوۡا لَـئِنۡ لَّمۡ تَنۡتَهِ يٰلُوۡطُ لَتَكُوۡنَنَّ مِنَ الۡمُخۡرَجِيۡنَ ﴿۱۶۷﴾

خلق دحد څخه وتونکی ياست ، وې ويل که ته منع نه سوی ای لوطه ﷺ ! نو ته به خامخا ويستل سی ،

قَالَ اِنِّىۡ لِعَمَلِكُمۡ مِّنَ الۡقَالِيۡنَ ﴿۱۶۸﴾ رَبِّ نَجِّنِىۡ وَاَهۡلِىۡ مِمَّا يَعۡمَلُوۡنَ ﴿۱۶۹﴾

وې ويل زه خامخا ستاسی ددی کار څخه بيزاره يم ، ای ربه خلاص کړی ما او زما کور والا ددی کارونو څخه چی دوی يی کوی .

فَنَجَّيْنٰهُ وَاَهْلَهٗٓ اَجْمَعِيْنَ ﴿۱۷۰﴾ اِلَّا عَجُوْزًا فِى الْغٰبِرِيْنَ ﴿۱۷۱﴾ ثُمَّ دَمَّرْنَا

بس محفوظ کې مونږ دی او دده کور والا ټول، مګر یوه بوډۍ پاته سوه په پاته کیدونکو کې، بیاهلاک کړل مونږ

الْاٰخَرِيْنَ ﴿۱۷۲﴾ وَاَمْطَرْنَا عَلَيْهِمْ مَّطَرًا ۚ فَسَآءَ مَطَرُ الْمُنْذَرِيْنَ ﴿۱۷۳﴾

نور، او وو رولو مونږ په دوی ورول، پس بد ورول وو ددغو بیرول سوو،

اِنَّ فِىْ ذٰلِكَ لَاٰيَةً ۭ وَمَا كَانَ اَكْثَرُهُمْ مُّؤْمِنِيْنَ ﴿۱۷۴﴾ وَاِنَّ رَبَّكَ

خامخاپه دی کی نښانه ده، او په دوی کی ډیر خلق نه دی منونکی، اوبیشکه ستارب

لَهُوَ الْعَزِيْزُ الرَّحِيْمُ ﴿۱۷۵﴾

هغه دی زبردست رحم والا.

لنډتفسیر: قوم دلوط (ﷺ هم) پیغمبران درواغجن کړل هرکله چی دوی ته د دوی ورور لوط (ﷺ) وویل چی آیا تاسی (دخدای څخه) نه بیرېږی؟ زه ستاسی امانتدار پیغمبر یم، وروسته تاسی د الله تعالی څخه وبیرېږي او زماخبره ومنی او زه ستاسی څخه پردی څه بدله نه غواړم بس زمابدله خو درب العٰلمین پرذمه ده آیا دټول جهان په خلقو کی تاسی (دا حرکت کوی چی) دسړیو سره بدفعلی کوی او ستاسی رب چی کوم ستاسی دپاره بیبیانی پیداکړی دی هغه پرېږدی (یعنی بل یو سړی ستاسی څخه ماسوا دا حرکت نه کوی او داسی نه ده چی ددی په قبیح کیدو کی څه شبهه ده) بلکی (اصل خبره دا ده چی) تاسی دحد (د انسانیت څخه وتونکی خلق یاست، هغو خلقو وویل چی ای لوطه! (ﷺ) که ته (مونږ ته ددی خبرو کولو څخه) منع نه سوی نوخامخابه (دکلی څخه) ویستل سی، لوط (ﷺ) وفرمایل چی (زه په دی بیرولو باندی دخپلی خبری څخه نه واپس کیږم ځکه چی) زه ستاسی ددی کار څخه سخت نفرت کوم (نو وینا به څنګه پرېږدم، هرکله چی په هیڅ شان هغو خلقو ونه منله او عذاب راتلونکی معلوم سو نو) لوط (ﷺ) دعاوکړه چی ای زماربه ماا وزما (خاص) متعلقین ددوی ددی کار (دوبال) څخه محفوظ کی (کوم چی پردوی راتلونکی دی) وروسته مونږ ده او دده متعلقینو ټولو ته نجات ورکی ماسوا دیوی بوډۍ څخه (مراد ددی څخه بی بی دحضرت لوط ﷺ ده) چی هغه (په عذاب کی) په پاته کیدونکو کی پاته سوه بیامونږ نور ټوله (کوم چی دلوط ﷺ او دده د اهل څخه علاوه وه) هلاک کړل اومونږ پر دوی یو خاص قسم (یعنی دکانو) باران ووَروی وروسته څه بد باران وو کوم چی په هغو خلقو ووَرولی سو کوم چی (دالله ﷻ دعذاب څخه) بیرول سوی وه، بیشکه په دی (واقعه) کی (هم) عبرت دی او (سره ددی) په دوی (کفارو دمکی) کی اکثره خلق ایمان نه راوړی اوبیشکه ستارب لوی قدرت والا لوی رحمت والا دی (چی عذاب ورکولای سی خو بیا یی هم اوس ورنه کی)

(معلومات اومسئلي : غير فطري عمل دخپلي بي بي سره هم حرام دی)

وَتَذَرُونَ مَاخَلَقَ لَكُمْ رَبُّكُمْ مِنْ أَزْوَاجِكُمْ په لفظ د ، مِنْ أَزْوَاجِكُمْ ، کی مِنْ په اصطلاحی الفاظوکی بیانیه هم کیدای سی ، چی مطلب یی دا وی چی ستاسی دخواهش نفسانی دپاره چی الله ﷻ کومی بیبیانی پیداکړی دی ، تاسی هغه پرېږدی او دخپلو همجنسو سړیو څخه خپل نفسانی خواهش پوره کوی کوم چی دنس دخباثت دلیل دی او دا هم کیدای سی چی دا مِنْ ، دتبعیض دپاره مقررسی ، نو اشاره به دی طرف ته وی چی ستاسی دبیبیانو کوم مقام چی ستاسی دپاره جوړ سوی دی اوکوم چی فطری کار دی ، هغه پرېږدی او دبیبیانو سره خلافِ فطرت عمل کوی کوم چی قطعًاحرام دی ، غرض دا چی ددی دوهمی معنی په لحاظ سره دا مسئله هم ثابته سوه چی دخپلی بی بی سره خلافِ فطرت عمل حرام دي .

په حدیث کی نبی کریم ﷺ پرداسی سړی لعنت فرمایلی دی نَعُوْذُ بِاللهِ مِنْهُ (کذا فی الروح) إِلَّا عَجُوزًا فِي الْغَابِرِينَ ۔ دعجوز څخه مراد دحضرت لوط ﷺ بی بی ده ، کوم چی دحضرت لوط ﷺ دقوم په دی کار باندی راضی وه اوکافره وه . دحضرت لوط ﷺ دا کافره بی بی که په واقع کی بوډی وه نو ددی دپاره لفظ دعجوز استعمالول ظاهری خبره ده او که دا دعمر په لحاظ سره بوډۍ نه وه نو دا یی دعجوز په لفظ سره تعبیر شاید په دی وجه کړه چی دپیغمبر بی بی د امت دپاره دمور پرځای وی دکومی ښځی چی اولاد ډیر وی هغې ته بوډی ویل څه لیری خبره نه ده .

وَأَمْطَرْنَا عَلَيْهِمْ مَطَرًا فَسَاءَ مَطَرُ الْمُنْذَرِينَ ۔ ددی آیت څخه ثابته سوه چی پرلوطی باندی دیوال نړول یایی دلوړ ځای څخه دلاندی غورځولو تعزیر جائز دی ، لکه چی دحنفیانو مذهب دی ، څکه چی دحضرت لوط ﷺ قوم داسی هلاک سوی وو چی د دوی کلی یی پورته لوړ کړل او نسکور یی پرمځکه باندی را وغورځوله (شامی کتاب الحدود)

كَذَّبَ أَصْحَٰبُ لْـَٔيْكَةِ ٱلْمُرْسَلِينَ ﴿١٧٦﴾ إِذْ قَالَ لَهُمْ شُعَيْبٌ أَلَا تَتَّقُونَ ﴿١٧٧﴾ إِنِّى لَكُمْ رَسُولٌ أَمِينٌ ﴿١٧٨﴾

درواغجن کړل دبنو اوسیدونکو پیغمبران ، هرکله چی وویل دوی ته شعیب آیا تاسی نه بیرېږي؟ زه تاسی ته رالیږل سوی یم امانتدار

فَٱتَّقُوا۟ ٱللَّهَ وَأَطِيعُونِ ﴿١٧٩﴾ وَمَآ أَسْـَٔلُكُمْ عَلَيْهِ مِنْ أَجْرٍ ۖ إِنْ أَجْرِىَ إِلَّا عَلَىٰ

نو وبیرېږي دالله څخه اوزماخبره ومنی ، او زه نه غوارم تاسی څخه په دی څه بدله ، زما بدله په

رَبِّ ٱلْعَٰلَمِينَ ﴿١٨٠﴾ أَوْفُوا۟ ٱلْكَيْلَ وَلَا تَكُونُوا۟ مِنَ ٱلْمُخْسِرِينَ ﴿١٨١﴾ وَزِنُوا۟

پروردگارعالم ده ، پوره کوی پیمانه او مه کیږي دنقصان کوونکو څخه او تول کوی

بِٱلْقِسْطَاسِ ٱلْمُسْتَقِيمِ ﴿١٨٢﴾ وَلَا تَبْخَسُوا۟ ٱلنَّاسَ أَشْيَآءَهُمْ وَلَا تَعْثَوْا۟

په برابره تله سره اومه کموی خلقو له دهغوی شیان ، اومه خپروی

فِي الْأَرْضِ مُفْسِدِيْنَ ﴿۱۸۳﴾ وَاتَّقُوا الَّذِيْ خَلَقَكُمْ وَالْجِبِلَّةَ الْأَوَّلِيْنَ ﴿۱۸۴﴾

په ملک کې فساد ، او وبیرېږئ د هغه څخه چې پیدا یې کړاست تاسې او مخکنۍ مخلوق

قَالُوْا إِنَّمَا أَنْتَ مِنَ الْمُسَحَّرِيْنَ ﴿۱۸۵﴾ وَمَا أَنْتَ إِلَّا بَشَرٌ مِّثْلُنَا وَإِنْ

وې ویل په تا چا جادو کړی دی ، او ته خو یو سړی یې زمونږ په مثل او مونږ

نَّظُنُّكَ لَمِنَ الْكٰذِبِيْنَ ﴿۱۸۶﴾ فَأَسْقِطْ عَلَيْنَا كِسَفًا مِّنَ السَّمَآءِ إِنْ

په خیال کې خو ته درواغجن یې ، نو را وغورځوه په مونږ څه ټوټه د آسمان

كُنْتَ مِنَ الصّٰدِقِيْنَ ﴿۱۸۷﴾ قَالَ رَبِّيْٓ أَعْلَمُ بِمَا تَعْمَلُوْنَ ﴿۱۸۸﴾ فَكَذَّبُوْهُ

که ته رښتونی یې ، وې ویل زما رب ښه پوه دی په هغه چې تاسې یې کوئ ، پس درواغجن یې کړه هغه

فَأَخَذَهُمْ عَذَابُ يَوْمِ الظُّلَّةِ ۭ إِنَّهٗ كَانَ عَذَابَ يَوْمٍ عَظِيْمٍ ﴿۱۸۹﴾

بیا ونیول دوی عذاب دورځې د سائبان ، بیشکه هغه وو عذاب دورځې لوی

إِنَّ فِيْ ذٰلِكَ لَاٰيَةً ۭ وَمَا كَانَ أَكْثَرُهُمْ مُّؤْمِنِيْنَ ﴿۱۹۰﴾ وَإِنَّ رَبَّكَ

بیشکه په دې کې نښانه ده ، او په دوی کې ډیر خلق نه مني ، او بیشکه ستا رب

لَهُوَ الْعَزِيْزُ الرَّحِيْمُ ﴿۱۹۱﴾

هغه دی زبردست رحم والا .

لنډتفسیر: اودبنو اوسیدونکو (هم دکومو ذکر چې د سورة حجر په آخر کې تیرسوی دی) پیغمبران درواغجن کړل ، هرکله چې دوی ته شعیب (علیه السلام) وویل چې آیا تاسې دالله ﷻ څخه نه بیرېږئ ؟ زه ستاسې آمانتدار پیغمبر یم، وروسته تاسې دالله ﷻ څخه بیرېږئ او زما خبره مني ، او زه ستاسې څخه په دې څه بدله نه غواړم ، بس زما بدله خو درب العٰلمین پر ذمه ده تاسې خلق پوره پیمانه کوئ او (دحق دمالك) نقصان مه کوئ او (دغه دول دتول په شیانو کې) په سیده تله باندې تول کوئ (یعنې مه یې لکړه کښته یا پورته کوئ او مه په کانو کې نقصان کوئ) او دخلقو شیان مه نقصانی کوئ او په مځکه کې فساد مه غوړ وئ او دهغه (قادر خدای) څخه وبیرېږئ کوم چې تاسې او تول مخکنی مخلوقات پیدا کړل هغو خلقو وویل چې بس په تا خو چا یو لوی جادو کړی دی (چې په هغه سره دې عقل خراب سوی دی نو دنبوت دعوی دې وکړه) او ته

خو محض مونږ په شان یو «معمولی» سړی یې او مونږ خو پرتا د درواغجن سړی خیال کوو وروسته که ته د ریښتینو څخه یې نو پر مونږ دآسمان څخه یوه ټکړه را وغورځوه «چې مونږ ته معلومه سی چې واقعی ته نبی وی اوستا په درواغجن کولو مونږ ته دا سزا را کول سوه» شعیب (ﷺ) وویل چې «زه دعذاب را وستونکی یایی دراوستو دکیفیت متعین کوونکی څوك یم ؟» ستاسی عملونه زمارب ښه پیژنی «او ددغو عمل چې څه مقتضاده چې څه عذاب به وی اوکله به وی ، دغه هم هغه پیژنی ، دهغه اختیار دی» پس هغو خلقو «برابر» دی درواغجن کی ، وروسته هغوی دسائبان دواقعی عذاب ونیول بیشکه هغه دلویی سختی ورځی عذاب وو «او» په دی «واقعه» کی «هم» لوی عبرت دی او «سره ددی» په دوی «کفارو دمکی» کی اکثره خلق ایمان نه را وړی او بیشکه ستا رب قدرت والا لوی رحمت والا دی «چې عذاب نازلولای سی ، مگر مهلت یی ورکړی دی»

معلومات اومسائل: وَزِنُوا بِالْقِسْطَاسِ الْمُسْتَقِيمِ، قسطاس، ځینوحضراتو رومی لفظ مقرر کړی دی چې معنی یی عدل اوانصاف ده، ځینو عربی لفظ دقسط څخه ماخوذمقررکړی دی. دقسط معنی هم انصاف ده مراددا دی چې تله او داسی قسم نور ناپونه اوتولونه په برابراوسیده طورسره استعمالوی چې دکمی خطره په کی نه وی وَلَا تَبْخَسُوا النَّاسَ أَشْيَاءَهُمْ . یعنی دخلقو شیان مه کموی ، مراد دا دی چې دمعاهدی مطابق څومره چې دچاحق دی دهغه څخه کمی کول حرام دی ، برابره خبره ده که دناپ تول شیان وی اوکه نور. ددی څخه معلومه سوه چې یو نوکر مزدور که په خپل مقرره وخت کی غلا کوی وخت کم لګوی هغه هم دعذاب په دی وعده کی دا خل دی امام مالك په موطاء کی روایت نقل کړی دی چې حضرت عمر فاروق ؓ یو سړی ولیدی چې دماځیګر په لمانځه کی شریك نه سو، دوجهی پوښتنه یی ورځخه وکړه نو هغه څه عذر وکی، حضرت فاروق اعظم ؓ و فرمایل، طَفَّفْتَ، یعنی تاپه تول کی کمی وکړه لمونځ چونکه دتللو شی نه دی، په دی وجه ددی حدیث نقل کولو څخه وروسته حضرت امام مالك رحمه الله فرمایی چې، وَفَاءٌ تَطْفِيفٌ، یعنی دحق مطابق کول یاکمول په هرشی کی سته یعنی صرف دناپ اوتول سره دا حکم مخصوص نه دی ، بلکی دچا په حق کی کمی کول برابره خبره ده که په هرصورت سره چې وی هغه په تطفیف کی دا خل دی. چې حراموالی یی په : وَيْلٌ لِّلْمُطَفِّفِينَ، کی بیان سوی دی .

(دخدای ﷻ مجرم په خپلو پښو راځی ده ته دوارنټ ضرورت نه وی)

فَأَخَذَهُمْ عَذَابُ يَوْمِ الظُّلَّةِ دعذاب یوم الظلة، کوم ذکر چې په دی آیت کی راغلی دی ددی واقعه دا وه چې الله ﷻ پرهغه قوم سخته ګرمی مسلطه کړه چې نه په کورکی دننه آرام وو نه دباندی بیایی دوی ته نژدی یو ځنګل ته ګنه وریځ را وسته چې لاندی ورځخه ښه هواوه تول قوم دګرمی څخه پریشانه وو، نو تولو په منډو منډو ځانونه ددی وریځی لاندی ته را ورسول ، هرکله چې تول قوم د وریځی لاندی راجمع سو، نو وریځی د اوبو پرځای اور پر وُوروی چې تول لاندی وسوزیدل . «روایت دی دابن عباس ؓ څخه روح»

وَإِنَّهُ لَتَنْزِيلُ رَبِّ الْعٰلَمِينَ ﴿١٩٢﴾ نَزَلَ بِهِ الرُّوحُ الْأَمِينُ ﴿١٩٣﴾ عَلٰى قَلْبِكَ لِتَكُونَ مِنَ

اودا قرآن نازل کړی دی دپروردګارعالم ، رواړی دی دا ملائکی امانتداری ، ستاپه زړه چی ته سیی

الْمُنْذِرِينَ ﴿١٩٤﴾ بِلِسَانٍ عَرَبِيٍّ مُبِينٍ ﴿١٩٥﴾ وَإِنَّهُ لَفِي زُبُرِ الْأَوَّلِينَ ﴿١٩٦﴾ أَوَلَمْ يَكُنْ لَهُمْ آيَةً

بیرونکی ، په ښکاره عربی ژبه ، او دا لیک دی دمخکنیو په کتابونو کی ، آیاد دوی دپاره نښانه

أَنْ يَعْلَمَهُ عُلَمٰٓؤُا بَنِيٓ إِسْرَآءِيلَ ﴿١٩٧﴾ وَلَوْ نَزَّلْنٰهُ عَلٰى بَعْضِ الْأَعْجَمِينَ ﴿١٩٨﴾

ده داخبره چی ددې خبر لوی علماء دبنی اسرائیلو ، او که نازل کړی وی مونږ دا کتاب په عجمی ژبه والا باندی

فَقَرَأَهُ عَلَيْهِمْ مَا كَانُوا بِهِ مُؤْمِنِينَ ﴿١٩٩﴾ كَذٰلِكَ سَلَكْنٰهُ فِي قُلُوبِ الْمُجْرِمِينَ ﴿٢٠٠﴾ لَا يُؤْمِنُونَ بِهِ

اوهغه دوی ته ویلی نو هم به دوی یقین نه پرکوی، دارنګه ننباسلی دی مونږ دی انکار دګناهګارو په زړونو کی چی نه یی منی

حَتّٰى يَرَوُا الْعَذَابَ الْأَلِيمَ ﴿٢٠١﴾ فَيَأْتِيَهُمْ بَغْتَةً وَهُمْ لَا يَشْعُرُونَ ﴿٢٠٢﴾ فَيَقُولُوا هَلْ نَحْنُ مُنْظَرُونَ ﴿٢٠٣﴾

ترڅوچی ونه وینی عذاب دردناک، پس رابه سی دوی ته ناڅاپه اودوی خبرنه وی، یابه ووایی چی آیامونږته به څه

فرصت ورسیږی .

أَفَبِعَذَابِنَا يَسْتَعْجِلُونَ ﴿٢٠٤﴾ أَفَرَءَيْتَ إِنْ مَتَّعْنٰهُمْ سِنِينَ ﴿٢٠٥﴾ ثُمَّ جَآءَهُمْ مَا كَانُوا يُوعَدُونَ ﴿٢٠٦﴾

آیانوزمونږ عذاب ژرغواړی؟ آیاته ګوری که فائده ورسومونږدوی ته دیر کلونه، بیاراسی دوی ته هغه شی چی ددوی سره یی وعده ده

مَآ أَغْنٰى عَنْهُمْ مَا كَانُوا يُمَتَّعُونَ ﴿٢٠٧﴾ وَمَآ أَهْلَكْنَا مِنْ قَرْيَةٍ إِلَّا لَهَا مُنْذِرُونَ ﴿٢٠٨﴾

نوڅه په کاربه راسی دوی ته کومه چی دوی نفع اخیستی ده اوبیو کلی مونږداسی نه دی هلاک کړی چی بیرونکی ورلره نه وو

ذِكْرٰى وَمَا كُنَّا ظٰلِمِينَ ﴿٢٠٩﴾ وَمَا تَنَزَّلَتْ بِهِ الشَّيٰطِينُ ﴿٢١٠﴾ وَمَا يَنْبَغِي

دپاره دیادولو ، اونه یو مونږ ظلم کوونکی ، اونه دی نازل کړی دا قرآن شیطانانو ، اونه د دوی ښخه کیدی سی

لَهُمْ وَمَا يَسْتَطِيعُونَ ﴿٢١١﴾ إِنَّهُمْ عَنِ السَّمْعِ لَمَعْزُولُونَ ﴿٢١٢﴾ فَلَا تَدْعُ مَعَ اللّٰهِ إِلٰهًا آخَرَ فَتَكُونَ

او نه یی دوی کولای سی ، دوی خو د اوریدو دخای ښخه لیری کړل سوی دی ، پس ته مه بله دالله سره بل معود بیابه

مِنَ الْمُعَذَّبِينَ ﴿٢١٣﴾ وَأَنْذِرْ عَشِيرَتَكَ الْأَقْرَبِينَ ﴿٢١٤﴾ وَاخْفِضْ

ته ولویږی په عذاب کی ، او وبیروه خپل نژدی خپلوان ، او خپلی اوږی

جَنَاحَكَ لِمَنِ اتَّبَعَكَ مِنَ الْمُؤْمِنِيْنَ ﴿۲۱۵﴾ فَإِنْ عَصَوْكَ فَقُلْ

کښته کړه دهغو دپاره کوم چي تاسره دي ايماندار ، نو که ستاً نافرماني کوي نو ته وايه

إِنِّيْ بَرِيْءٌ مِّمَّا تَعْمَلُوْنَ ﴿۲۱۶﴾ وَتَوَكَّلْ عَلَى الْعَزِيْزِ الرَّحِيْمِ ﴿۲۱۷﴾ الَّذِيْ

زه بيزاره يم ستاسي دکار څخه ، او تکيه کوه په هغه زبردست رحم والا هغه

يَرٰىكَ حِيْنَ تَقُوْمُ ﴿۲۱۸﴾ وَتَقَلُّبَكَ فِي السّٰجِدِيْنَ ﴿۲۱۹﴾ إِنَّهٗ هُوَ السَّمِيْعُ الْعَلِيْمُ ﴿۲۲۰﴾

چيويني تاکله چي ته پورته کيږې، او ستا کښينستل و لاړيدل په لمانځه کوونکو کې، بيشکه هغه دی اوريدونکی پوهيدونکی

هَلْ أُنَبِّئُكُمْ عَلٰى مَنْ تَنَزَّلُ الشَّيٰطِيْنُ ﴿۲۲۱﴾ تَنَزَّلُ عَلٰى كُلِّ أَفَّاكٍ

آيازه وښايم تاته چي په چا باندي نازليږي شيطانان ؟ نازليږي په هر درواغجن ،

أَثِيْمٍ ﴿۲۲۲﴾ يُّلْقُوْنَ السَّمْعَ وَأَكْثَرُهُمْ كٰذِبُوْنَ ﴿۲۲۳﴾ وَالشُّعَرَآءُ يَتَّبِعُهُمُ الْغَاوٗنَ ﴿۲۲۴﴾

ګناهګار ، غوږخوي ورته او ريدلي خبره او ډير په دوی کي درواغجن وي ، او دشاعرانو په خبره باندي ځي هغه چي بې لاري وي

أَلَمْ تَرَ أَنَّهُمْ فِيْ كُلِّ وَادٍ يَّهِيْمُوْنَ ﴿۲۲۵﴾ وَأَنَّهُمْ يَقُوْلُوْنَ مَا لَا يَفْعَلُوْنَ ﴿۲۲۶﴾

ته نهويني چي دوی په هر ميدان کي سر ګردانه ګرځي ، او دوی هغه خبري وايي چي کوي يې نه

إِلَّا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا وَعَمِلُوا الصّٰلِحٰتِ وَذَكَرُوا اللّٰهَ كَثِيْرًا وَّانْتَصَرُوْا مِنْ

مګر هغه خلق چي ايمان را وړی او نيک عملونه وکړي او ياد کړي الله تعالی ډير او بدله واخلي نو

بَعْدِ مَا ظُلِمُوْا وَسَيَعْلَمُ الَّذِيْنَ ظَلَمُوْا أَيَّ مُنْقَلَبٍ يَّنْقَلِبُوْنَ ﴿۲۲۷﴾

دهغه چي په دوی ظلم وسی اوژر ده چي معلومه به کړي ظالمان چي پر کوم اړخ اوړي

تفسير: او دا قرآن درب العٰلمين راليږل سوی دی ، دا امانتداري ملائکي راوړی دی ، ستاپه زړه باندي په صفاعربي ژبه کي چي ته (هم) من جمله دبيرونکو څخه سي (يعني څنګه چي نورو پيغمبرانو خپل امت ته دالله ﷻ احکام رسولي دي ، ته يې هم ورسوی) او ددی (قرآن) ذکر دمخکي امتونو په (آسماني) کتابونو کي (هم) دی (چي يو داسي پيغمبر به وي او په هغه به داسي کلام نازليږي چنانچي دتفسير حقاني پرحاشيه باندي په دی مقام يو څو خو شخبری دتيرو کتابونو تورات او انجيل څخه نقل کړي دی ، مخ ته ددی

مضمون وَاِنَّهٗ لَفِىۡ زُبُرِ الۡاَوَّلِيۡنَ وضاحت دی یعنی) آیا ددی خلقو دپاره (پردی) دا خبره دلیل نه دی چی دا (پیش گویی) علماء دبنی اسرائیل پیژنی (چنانچی په دوی کی چی کومو خلقو اسلام راوړی دی هغوی خو په ډاګه ددی اعتراف کوی اوکومو چی اسلام نه دی راوړی هغوی هم دخاصو خلقو په مخکی ددی اقرار کوی لکه د اولی پاری په آیت : اَتَاۡمُرُوۡنَ النَّاسَ بِالۡبِرِّ، په تفسیر کی ددی بیان راغلی دی او ددغو اقرار کوونکو شمیر او ډیروالی دغه وخت که دخبرِ واحد پوری هم ومنل سی خو بیا هم دقرائنو په وجه سره معنوی تواتر ورته حاصل وو او دا دلیل قائمول دناخوانده عربو دپاره دی ، کنی تعلیم یافته خلق خویی په خپله په اصل کتاب کی لیدای سی او ددی ځځه دا نه لازمیږی چی په تیرو کتابونو کی تحریف نه دی سوی ، ځکه چی سره دتحریف ځځه داسی مضامین پرځای پاته کیدل زیات حجت دی او دا احتمال چی دا مضامین به دتحریف نتیجه وی په دی وجه غلط دی چی دخپل نقصان دپاره څوك تحریف نه کوی ، دا مضامین خو دتحریف کوونکو دپاره نقصانی دی لکه چی ظاهره ده ، تردی ځای پوری یی ددعوی د، وَاِنَّهٗ لَتَنۡزِيۡلُ، دوه نقلی دلیلونه بیان کړی دی ، یعنی په مخکو کتابونو کی ددی ذکر او دبنی اسرائیلو پیژندل ، په دی کی هم دوهم د اول دلیل دی او اوس مخ ته دانکارکوونکو دعناد دبیان په ضمن کی ددی دعوی دعقلی دلیل طرف ته اشاره ده یعنی دقرآن داعجاز مطلب دا دی چی داخلق دومره عناد ګر دی چی) که چیری (بالفرض) مونږ دا (قرآن) پرچا عجمی (غیر عربی) باندی نازل کړی وای اوبیا هغه (عجمی) د دوی په مخکی دی ویلی هَم (دَده معجز کیدل نور زیات واضح کیږی ، ځکه چی پرچا باندی چی نازل سو دده پرعربی ژبه بالکل قدرَت نه وی ، لیکن) داخلق (په وجه دانتهایی ضد) بیاهم منونکی نه وه (مخ ته دحضور ﷺ دتسلی دپاره د دوی د ایمان راوړلو ځځه نا امیدی ښکاره کوی یعنی) مونږ دغه ډول (په سختی او اصرار سره) دا ایمان نه راوړل ددی نافرمانو په زړونو کی غورځولی دی (یعنی په کفر کی او پردی اصرار کوونکی دی ، او ددی شدت او اصرار په وجه سره) دا خلق په دی (قرآن) ایمان نه راوړی ترڅو چی سخت عذاب (دَمرګ په وخت کی یاپه برزخ کی یاپه آخرت کی) ونه وینی کوم چی به ناڅاپه د دوی مخ ته راسی او دوی ته به (دَمخکی ځځه) خبر هم نه وی بیا (که دغه وخت معلومه کړی نو څه) وبه وایی چی آیا (په یو ډول) مونږ ته به (څه) مهلت را کړل سی (لیکن هغه وخت نه دمهلت دی اونه دایمان دقبلیدو اوهغه کفارو چی به داسی دعذاب دوعدو اوعذابونو مضامین او ریدل نو دانکار په وجه به یی دعذاب تقاضا کوله مثلاً ویل به یی : رَبَّنَا عَجِّلۡ لَّنَا قِطَّنَا، او: اِنۡ كَانَ هٰذَا هُوَ الۡحَقَّ مِنۡ عِنۡدِكَ فَاَمۡطِرۡ عَلَيۡنَا حِجَارَةً، یعنی ای الله ! که دا ستا دطرف ځځه حق وی نو پرمونږ کانی را وُوروه، او مهلت کوم چی په عذاب نه واقع کیدو کی وخت دی ، دا به یی دلیل نیوی چی ګوندی عذاب نه راځی ، نو ددی ځځه معلومه سوه چی مونږ پر حقه یو، اوس مخ ته ددی جواب دی چی) آیا (زمونږ دعذاب وعدی آوری) داخلق زمونږ عذاب ژر غواړی (چی ددی منشاء انکار دی یعنی سره ددلیل قائمیدو یعنی دیو رښتینی بزرګ دخبر بیاهم انکار کوی ؟ پاته سو مهلت بناء د انکارمقررول وروسته دا

سخته غلطي ده ځکه چي) اې مخاطبه دا خو وښايه چي که مونږ دوی (ترځوکالو پورې) په عيش کي پاته کړو، بياچي دکوم (عذاب) د دوی سره وعده ده هغه د دوی پرسر راسی و درپري نو د دوی دغه عيش به په کار راسی (يعني داعيش په کوم چي دوی ته مهلت ورکول سوی دی ، په دی سره د دوی په عذاب کي څه سپکوالي ياکموالي نه سي را تلای) او (مهلت ورکول دحکمت په وجه سره ترځو ورځو پوري خواه که کم وی اوکه زيات څه د دوی سره خاص نه دی ، بلکي تيرو امتونو ته هم مهلتونه ورکول سوی دی چنانچي) خومره کلی (دمنکرانو) چي مونږ (په عذاب سره) هلاك کړي دی ، تولو ته دنصيحت دپاره بيرونکي (پيغمبران راغلي دی هرکله چي يې ونه منله نو عذاب نازل سو) او مونږ (صورتًا هم) ظالمان نه يو (مطلب دا دی چي په مهلت ورکولو سره چي کوم مقصود دی يعني حجت پوره کول او عذر ختمول هغه دټولو دپاره سو، دپيغمبرانو را تلل اوپوهول ، په خپله دا هم يو مهلت ورکول دی مگر بياهم دهلاکت عذاب راغی په دی واقعاتو سره دمهلت ورکولو حکمت هم معلوم سو او مهلت ورکول او په عذاب کي تضاد نه کيدل هم ثابت سو ، اوصورتًا ځکه وويل سو چي حقيقتًا خو په هيڅ حالت کي هم ظلم نه وو . اوس مخ ته بيا د اول مقصود يعني د اول مضمون، وَاِنَّهُ لَتَنْزِيْلُ، الخ طرف ته واپسی ده اوپه مينځ کي دا مضامين دمنکرانو دحالت دمناسبت په وجه ذکر سول ، او دراتلونکو آيتونو دمضمون خلاصه ددی شبهو دفع کول دی کوم چي دقرآن دحقانيت متعلق وی ، وروسته يوه شبهه خو په قرآن دالله ﷺ دکلام کيدو او دهغه دطرفه په راليږلو منلو باندی ځکه وه چي په عربو کي دمخکي څخه کاهنان موجود وو، هغوی به هم څه مختلف قسم جملي ويلي نعوذ بالله د دوی په نسبت به هم ځينو کافرانو داسي ويل (کمافي الدر عن ابن زيد) اوپه بخاری کي يې دیوی ښځي خبره نقل کړې ده په کومه زمانه کي چي پرنبی کريم ﷺ وحی نازليدل ترڅه وخته پوري وځنډيدل نو هغه ښځي وويل چي دی دده شيطان پريښنو وی ، ځکه چي کاهنانوته به دشيطان دتعليم او تلقين څخه څه حاصليدل ددی جواب دی چي دا درب العلمين دطرف څخه نازل سوی دی) او دا شيطانانو (کوم چي کاهنانو ته راځي) نه دی راوړی (ځکه چي ددی دوه قوی مانع موجود دی يو دَدغو صفت دشيطانت چي ددی په سبب) دا (قرآن) ددغو (دحالت) گرسره مناسب نه دی (ځکه چي قرآن سراسر هدايت اوشيطان سراسر گمراهي ده، نه دوی ته داسی مضامين زده دی اونه په داسی مضامينو شائع کولو باندی د دوی غرض يعني مخلوق گمراه کول پوره کيدای سی، يو مانع خو دا سو) او (دوهم مانع دا دی چي هغوی) پردی قادر هم نه دی ځکه چي هغه شيطانان (دآسماني وحی) د اوريدو څخه منع سوی دی (چنانچي کاهنانو اومشرکانو ته د دوی پيريانو دخپلي ناکامی په خپله اعتراف وکی ، ددی دوی نوروته هم خبر ورکی چنانچي په بخاری کي داسی په باب د اسلام دعمر کي ذکر دی ، پس دشيطانانو دتلقين خو په هيڅ شان سره احتمال پاته نه سو، او ددی جواب پوره کيدل او دَيوی بلی شبهي جواب دسورة ختميدو ته نژدی په راسی، په مينځ کي دالله ﷺ دطرف څخه په نازليدو په طور دتفريع يومضمون دی ، يعني هرکله چي ددی دالله ﷺ دطرف څخه نازليدل ثابت دی نو ددی په تعليم عمل واجب سو او من جمله ددی مهم او اعظم کار توحيد دی) پس

(ای پیغمبره! مونږ ددی دوجوب په یوه خاصه طریقه سره تاکید کووچی مونږ تامخاطب کوو او وایو چی) ته دخدای سره دبل معبود عبادت مه کوه هسی نه چی ته سزا پیداکی (حال دا دی چی په تاکی نعوذ بالله نه دشرك احتمال سته نه دعذاب مگر خلقو ته دا خبره ښودل مقصود دی چی کله دغیرالله په عبادت ستا دپاره هم دسزا حکم دی نو نور بی چاره په کوم شمار کی دی ؟ دشرك ښخه به دوی ښنگه نه سی منع کیدی اوچی شرك وکی نو دعذاب ښخه به ښنگه محفوظ سی ؟) او (په دی مضمون سره) ته (دټولو ښخه اول ښپل نژدی ښپلوان وبیروه (چنانچی ده ﷺ ټولوته آواز وکی ، جمع یی کړل او په شرك کولو یی داالله ﷻ دعذاب ښخه وبیرول ، لکه چی په احادیثو کی دی) او (اوس مخ ته دنبوت ددعوت قبلوونکو او رد کوونکو سره دمعاملی طرز ښیی یعنی) ددی خلقو سره (خو په مشفقانه) عاجزی سره مخ ته راښه کوم چی په مسلمانانوکی داخل سی ستاپرلاره باندی ښی (برابره خبره ده که دخاندان وی اوکه دغیرخاندان) او که داخلق (کوم چی تابیرولی دی) ستاخبره نه منی (اوپرکفر ټینگ پاته سی) نوته (صفا) ووایه چی زه ستاسی دکارونو ښخه بیزاره یم (په دی دواړو کارونو یعنی اِخْفِضْ اوقُلْ الخ کی داالله ﷻ سره دمحبت اوبغض پوره تعلیم دی اوهیڅکله ددی مخالفینو دطرف ښخه دآزار اونقصان خطره مه کوه) او پرخدای باندی توکل ساته کوم چی تاښه وخت چی ته (دلمانځه دپاره) ودریږی او (دارنگه دلمانځه دشروع کولو ښخه وروسته دلمانځه کوونکو سره ستا ولاړیدل کښینستل وینی او دلمانځه ښخه علاوه دی هم هغه وینی گوری ښکه چی) ښه آوریدونکی ښه لیدونکی دی (وروسته هرکله چی دهغه علم هم کامل دی ، لکه چی یرك، او، سَمِيْعٌ عَلِيْمٌ، پردی دلالت کوی اوهغه پرتامهربان هم دی لکه چی، الرَّحِيْم، په دی دلالت کوی او ټول قدرت والادی لکه چی د، الْعَزِيْزُ، ښخه معلومیږی ، نو هغه خامخا ددی لایق دی چی توکل پروسی، هغه به تادحقیقی ضرر ښخه ساتی اومتوکل ته چی کوم ضرر رسیږی هغه صرف دظاهری په اعتبار سره ضرر وی چی لاندی یی په زرگونو نفع وی دکومو چی کله په دنیاکی ، کله په آخرت کی ظهورکیږی اوس مخ ته دکهانت دشبهی دجواب تتمه ده چی ای پیغمبره ! خلقو ته ووایه چی) آیازه تاسی ته وښیم چی شیطان پر چانازلیږی (واوری) پرداسی خلقو نازلیږی کوم چی (دمخکی ښخه) درواغ ویونکی لوی بد عمله وی اوکوم چی (دشیطانانو دخبرونو په وخت کی دهغو شیطانانو طرف ته) غوږونه ږدی او (خلقوته دهغو شیانو دبیانولو په وخت کی) هغوی ډیر درواغ وایی (چنانچی سفلی عاملان اوس هم په دی حالت کی لیدل کیږی او وجه ددی دا ده چی دفائده اخستونکی او فائده ورکوونکی په مینځ کی مناسبت ضروری دی نو دشیطان شاگرد به هم هغه وی کوم چی درواغجن اوگناهگار وی ، دارنگه دشیطان طرف ته په زړه سره متوجه هم وی چی بغیر دتوجهٔ ښخه استفاده نه سی اخستل کیدای او چونکه اکثره دا شیطانی علمونه ناتمام وی په دی وجه دادرنگین کولو اوباوقعت کولودپاره ښه حاشیه هم دگمان اواندازی پر خیژول غواړی کوم چی عادتًا دکهانت دپاره ضروری وی ، او ددی ټولو خبرو په نبی کریم ﷺ کی دکیدو ښه لیری احتمال هم نسته ښکه چی د دوی رښتینوالی خو ټولو ته معلوم دی ، د دوی پرهیزگاری او دشیطانانو سره بغض ساتل خو دښمنانو

هم منل اومشهور او معلوم وو نو بیا دکهانت احتمال چیری پاته سو) او (اوس مخ ته دشاعروالی دشبهې
جواب دی چی تاسی شاعر هم نه یاست لکه کفارو چی به ویل ، بَلْ هُوَ شَاعِرٌ ، یعنی د دوی مضامین خیالی
غیر واقعي دي که څه هم منظوم نه دی ، وروسته دا احتمال څکه غلط دی چی) دشاعرانو پرلاره خو بی
لاری خلق ځي (مراد دلاری څخه شعر گویی ده ، یعنی خیالی شاعرانه مضامین په نثر یانظم کی ویل دهغو
طریقه ده کوم چی دمسلك دتحقیق څخه لیری وی مخ ته ددی دعوی وضاحت دی چی) ای مخاطبه ! آیاتاته
معلومه نه ده چی هغه (شاعران) خلق (دَخیالی مضامینو) په هرمیدان کی حیران (تکری خوړونکی
دمضامینو په تلاش کی) گرځی او (کله چی ورته مضمون ورکول سو نوچونکی اکثره دواقعی څخه خلاف وی
په دی وجه) په ژبه باندی هغه خبری وایی کومی چی کوی نه (چنانچی دشاعرانو دگپیوه نمونه لیکل کیږی

ای رشک مسیحا تری رفتار کی قربان تو کر سی مری لاش کئ بار جلا دی

ای باد صبا هم تجهی کیا یاد کرین گے اس گل کی خبر تو نی کبهی هم کو نه لادی

ای هغه ذاته ، چی حضرت مسیحا هم دربانُدی رشك (قصد) کوی ستادتگ څخه قربان سم په تندك دی هم ځوواره
زما کالبوت کی ساه واچوله . ای دصبا باد ! مونږ به ستاخه یاد ساتو تا هیڅکله هم مونږ ته دهغه گل خبر رانه وړی .

صبا نی اس کی کوچه سی ارا کر خدا جانی هماری خاک کیا کی

وغیره وغیره ، تردی چی کله خو دکفریاتو چتیات هم وایی ، دجواب مَطلب دا سوٓ چی دشعر دمضامینو
دپاره خو دا لازمی ده چی خیالی او غیر متحقق وی ، او دقرآن مضامین چی دکوم باب سره هم متعلق دی ،
ټول سراسر تحقیقی او غیر خیالی دی ، په دی وجه دوی ته شاعر ویل ماسوا دشاعرانه جنون څخه نورڅه
دی ؟ تردی چی اکثره چونکی په نظم کی داسی مضامین بیانول کیږی . په دی وجه الله ﷻ حضور ﷺ ته پر
نظم قدرت هم نه وو ورکړی او لوړ چونکی دشاعرانو بدوالی بیان سوی دی چی ددی په عموم کی په ظاهره
ټول نظم ویونکی راغلل که څه هم د دوی مضامین عین حکمت او تحقیق وی ، په دی وجه اوس مخ ته د
دوی استثناء فرمایی چی) البته مگر کوم خلق (چی په دی شاعرانو کی) ایمان را وړی اوښه ښه کارونه وکی
(یعنی دشریعت خلاف نه د دوی قول وی او نه فعل ، یعنی دهغوی په اشعارو کی بی هوده مضامین نه وی)
او هغوی (په خپلو اشعارو کی) دالله ﷻ ذکر ډیروکی (یعنی دهغوی اشعار ددین په تائید او دعلم په
اشاعت کی وی چی دا ټول دالله ﷻ په ذکر کی دا خل دی) او (که په یو شعر کی یی په ظاهره څه نامناسبه
مضمون هم وی لکه دچاهجو اومذمت کوم چی په ظاهره د اخلاقی حسنه څخه خلاف دی نو دهغه وجه هم
دا ده چی) دوی وروسته ددی څخه چی پر دوی ظلم سوی دی (دَهغه) بدله اخستی (ده ، یعنی کافرانو
فاسقانو اول دوی ته زبانی تکلیف رسولی دی ، مثلاً د دوی هجویی کړی ده ، یایی ددین توهین کړی دی
کوم چی دخپلی هجوی څخه هم زیات دتکلیف سبب دی ، یایی دهغوی مال او جان ته ضرر رسولی دی ،
یعنی دا خلق ورڅخه مستثنٰی دی څکه چی په انتقامی طور کوم شعرونه ویل سوی دی ، په هغه کی ځینی
خو مباح دی او ځینی اطاعت اوکار دثواب دی) او (تردی ځای پوری درسالت متعلق دشبهاتو جوابونه

پوره سول او ددی څخه مخکی رسالت په دلیلونو سره ثابت سوی وه اوس مخ ته دی خلقو ته دعذاب وعده ده کوم چی ددی باوجود دنبوت څخه منکره سول اونبی کریم ﷺ ته آزار رسوی ، یعنی دیر ژر به دی خلقو ته معلومه سی کوموچی (دَالله ﷻ په حقونو یا د رسول الله ﷺ په حقونو یادَبندګانو په حقونوکی) ظلم کړی دی چی څنګه (بد او دَمصیبت) ځای ته د دوی بیرته تلل دی (مراد ددی څخه جهنم دی)

(معلومات اومسئلي)

﴿ نَزَلَ بِهِ الرُّوحُ الْأَمِينُ عَلَى قَلْبِكَ لِتَكُونَ مِنَ الْمُنْذِرِينَ بِلِسَانٍ عَرَبِيٍّ مُبِينٍ وَإِنَّهُ لَفِي زُبُرِ الْأَوَّلِينَ ﴾

(قرآن ددی دالفاظو او ددی دمجموعي، نوم دی)

په ذکر سوو آیتونو کی د . بِلِسَانٍ عَرَبِيٍّ مُبِينٍ، څخه معلومیږی چی قرآن هغه دی کوم چی په عربی ژبه وی . دقرآن دیومضمون ترجمه برابره خبره ده که په هره ژبه کی چی وی ، هغه ته قرآن نه سی ویل کیدای . او د وَإِنَّهُ لَفِي زُبُرِ الْأَوَّلِينَ، دالفاظو څخه په ظاهره ددی خلاف دا معلومیږی چی دقرآن معنٰی چی په یوه بله ژبه کی هم وی هغه هم قرآن دی ځکه چی د، اِنَّهُ، ضمیر ظاهره دا ده چی دقرآن طرف ته راجع دی او زُبُرُ د زَبُوْر جمع ده چی معنٰی یی کتاب دی . دآیت معنٰی دا سوه چی قرآن کریم په تیرو کتابونو کی هم دی او دا ظاهره ده چی تیر کتابونه تورات ، انجیل زبور وغیره په عربی ژبه کی نه وه ، نو صرف دقرآن معنٰی په دغو کتابونو کی ذکر کیدو ته یی قرآن په دی آیت کی ویلی دی او حقیقت پرکوم چی دجمهور امت عقیده ده ، هغه دا دی چی صرف مضامینو دقرآن ته ځینی وخت دوسعت په وجه قرآن ویل کیږی ځکه چی اصل مقصود دکتاب دهغه مضامین وی . په اولو کتابونو کی دقرآن ذکرکیدل هم په دی حیثیت سره دی چی ځینی مضامین وی . په اولنیو کتابونو کی دقرآن ذکرکیدل هم په دی حیثیت سره دی چی ځینی مضامین دقرآن په هغو کی هم ذکر دی ، ددی تائید د احادیثو د دیرو روایتونو څخه هم کیږی .

په مستدرك دحاکم کی دحضرت معقل بن یسار رضی الله عنه حدیث دی چی نبی کریم ﷺ فرمایلی دی چی ماته دسورة بقره ذکر د اول څخه را کول سوی دی او سورة طٰهٰ او طواسین (یعنی کوم سورتونه چی دطٰسٓ څخه شروع کیږی) اوحوامیم (یعنی کوم سورتونه چی دحٰمٓ څخه شروع کیږی) دا ټول سورتونه دالواح موسٰی علیه السلام څخه را کول سوی دی او سورة فاتحه ماته دعرش دلاندی څخه راکول سوي ده . او طبرانی، حاکم، بیهقی وغیره دحضرت عبدالله بن مسعود رضی الله عنه څخه روایت کړی دی چی سورة ملك په تورات کی موجود دی، الحدیث .

او په سورة : سَبِّحِ اسْمَ رَبِّكَ الْأَعْلَى، کی خو په خپله دقرآن وضاحت دا دی . إِنَّ هَٰذَا لَفِي الصُّحُفِ الْأُولَىٰ صُحُفِ إِبْرَاهِيمَ وَمُوسَىٰ، یعنی دسورت دا مضامین دحضرت ابراهیم علیه السلام او حضرت موسٰی علیه السلام په صحیفو کی هم دی . لیکن دټولو آیتونو او روایتونو حاصل دا دی چی دیر مضامین دقرآن په تیرو کتابونو کی هم موجود وه . ددی څخه دا نه لازمیږی چی ددی مضامینو په وجه سره دتیروکتابونو هغو حصو ته په کومو کی چی دقرآن دا مضامین راغلی دی دقرآن نوم ورکړل سی ، نه په امت کی څوك ددی قائل دی چی دغو صحیفو او

کتابونو ته په کومو کی چی دقرآن مضامین ذکردی، قرآن کریم ویل کیږی، بلکی دجمهور امت عقیده دا ده چی قرآن نه صرف دالفاظو دقرآن نوم دی، نه صرف دقرآن دمعنٰی. که یو سړی دقران الفاظ دمختلفو ځایونو څخه راټول کړی اویو عبارت ورڅخه جوړکړی. مثلاً څوك داعبارت جوړکړی. اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ الْعَزِیْزِ الرَّحِیْمِ، اَلَّذِیْ لَهٗ مُلْكُ السَّمٰوٰتِ وَهُوَ رَبُّ الْعٰلَمِیْنَ خَالِقُ کُلِّ شَیْءٍ وَّهُوَ الْمُسْتَعَانُ، دا ټول الفاظ دقرآن دی ، مګر دی عبارت ته څوك قرآن نه سی ویلای . دغه رنګه دقرآن معنٰی کوم چی په بله ژبه کی بیان سی ، هغه هم قرآن نه دی .

(په لمانځه کي ترجمه دقرآن ویل په اجتماع د امت ناجائز ده)

په دی وجه د امت پردی اتفاق دی چی په لمانځه کی دفرض تلاوت پرځای دقرآن دالفاظو ترجمه په یوه ژبه فارسی ، اردو انګریزی کی ویل بغیر د اضطرار څخه کافی نه دی ، دځینو امامانو څخه چی کوم په دی کی دوسعت قول نقل دی . دهغوی څخه هم دخپل دی قول څخه رجوع ثابته ده .

(دقرآن اُردو یاپښتو ترجمي ته قرآن ویل جائزنه دی)

دغه رنګه دقرآن صرف ترجمه په یوه ژبه کی بغیر دعربی متن څخه چی ولیکل سی نو هغه ته دهغه ژبی قرآن ویل جائز نه دی ، لیکن نن صباډیروخلقو صرف اُردو ترجمی دقرآن ته داُردو قرآن او د انګریزی ته د انګریزی قرآن وایی ، دا ناجائز اوبی ادبی ده . قرآن کریم بغیر دعربی متن څخه په بله ژبه کی دقرآن په نوم شائع کول او اخستل خرڅول یی ټول ناجائز دی . ددی مسئلی پوره تفصیل د احقر په رساله تَحْذِیْرُ الْاِخْوَان عَنْ تَغْیِیْرِ رَسْمِ الْقُرْاٰن، کی ذکر دی .

اَفَرَاَیْتَ اِنْ مَّتَّعْنٰهُمْ سِنِیْنَ ° په دی آیت کی اشاره ده چی په دنیاکی چاته اوږد عمر ورکول هم دالله ﷻ لوی نعمت دی ، لیکن کوم خلق چی ددی نعمت ناشکری کوی او ایمان نه را وړی نو ده ته داوږد عمر عافیت او مهلت به هیڅ په کار ورنه سی . امام زهری رحمه الله نقل فرمایلی دی چی حضرت عمر بن عبدالعزیز رحمه الله به هره ورځ خپله ږیره نیوله خپل نفس ته به یی خطاب کوی او دا آیت به یی وایه . اَفَرَاَیْتَ اِنْ مَّتَّعْنٰهُمْ الخ ددی څخه وروسته پرده ژړا راغله او دا اشعار به یی ویل .

نَهَارُكَ بِالْمَغْرُوْرِ سَهْوٌ وَّغَفْلَةٌ وَلَیْلُكَ نَوْمٌ وَّالرَّدٰی لَكَ لَازِمٌ
فَلَا اَنْتَ فِی الْاَیْقَاظِ یَقْظَانُ حَازِمٌ وَلَا اَنْتَ فِی النَّوْمِ نَاجٍ وَّسَالِمٌ
وَتَسْعٰی اِلٰی مَا سَوْفَ تَکْرَهُ غِبَّهٗ کَذٰلِكَ فِی الدُّنْیَا تَعِیْشُ الْبَهَائِمُ

ترجمه : ای دوکه سویه ! ستا توله ورځ په غفلت کی او شپه په خوب کی تیریږی ، حال دا دی چی مرګ ستا دپاره لازمی دی ، نه په بیدارو خلقو کی هو ښیار او بیدار یی او نه په بیدو کی په خپل نجات مطمئن یی ، ستا کوشش په داسی کارونو کی وی دکومو انجام چی به دیر ژر په ناخو ښه صورت کی مخ ته راسی ، په دنیا کی څاروی داسی ژوند تیروی .

وَاَنْذِرْ عَشِیْرَتَكَ الْاَقْرَبِیْنَ ° دعشیره معنٰی کورنی او خاندان ده ، داقربین په قید سره په دی کی هم نژدی قریب

مراد دی . دلته دا خبره دفکر طلب ده چی پرنبی کریم ﷺ باندی تبلیغ درسالت اوبیرول دپوره امت دپاره فرض دی . دلته دخاندان دخلقو په تخصیص کی څه حکمت دی ؟ چی فکر پرېسی نو په دی کی یی دتبلیغ او دعوت دآسان او اثرناك جوړولو یوه خاص طریقه ښوولی ده چی آثار یی ډیر لیری رسیږی ، هغه دا چی دخپل خاندان او کورنی خلق ځان دنژدی کیدو پرینا ددی حقدار هم دی چی په هرخیر اوښه کار کی دوی دنورو څخه مخ ته سی او دباهمی تعلقاتو او ذاتی پیژندیو په بناسره په دوی کی څوك د درواغو دعوی کوونکی ځای کیدی هم نه سی او دڅا ریښتینوالی او اخلاقی برتری چی دخاندان خلقوته معلومه وی دهغه ریښتنی دعوت قبلول د دوی دپاره آسان هم دی او نژدی رشته داران چی کله دیوښه تحریك حامیان جوړسی نو د دوی ورور ولی او امداد هم پرپوخ بنیاد قائم وی . دغه خاندان دجمعیت په اعتبار سره هم د دوی په تائید او ورور ولی باندی مجبوره وی اوهرکله چی دنژدی خپلوانو، عزیزانو یوماحول دحق اوصداقت پرښیادونو تیار سی ، نو په روزمره ژوندکی هریوه ته ددین په احکامو په عمل کولو کی ډیره آسانی وی ، او بیایو کوچنی غوندی طاقت تیارسی ، نوروته ددعوت او تبلیغ په رسولو کی مدد ورکول کیږی . دقرآن کریم په یوبل آیت کی دی ، قُوْٓا اَنْفُسَكُمْ وَاَهْلِيْكُمْ نَارًا، یعنی خپل ځان اوخپل اهل اوعیال دجهنم د اورڅخه وساتی . په دی کی یی د اهل او عیال دجهنم د اورڅخه دساتلو ذمه واری دخاندان پرهرفرد باندی غورځولی ده کومه چی دعملونو او اخلاقو د اصلاح آسانه اوسیده لار ده اوچی فکروسی نو د انسان په خپله دنیکو عملونو او اخلاقو پابند کیدل او بیا پردی قائم اوسیدل ترهغه وخته پوری عادتًا ممکن نه وی تر څو پوری چی دده ماحول دده دپاره سازګارنه وی ، په ټول کور کی که یو سړی دلمانځه پوره پابندی کول غواړی ، نو دی پوخ لمونځ کوونکی ته به هم دخپل حق په ادا کولو کی مشکلات حائل کیږی . نن صباچی کوم دحرامو شیانو څخه محفوظ کیدل ګران سوی دی ددی وجه دا نه ده چی ددی پرېښوول ډیر ګران کار دی ، بلکی سبب دا دی چی ټول ماحول ، ټوله برادری کله چی په یوه ګناه کی اخته وی نو یوازی یو سړی ته ورڅخه محفوظ کیدل ګران وی .

پرنبی کریم ﷺ باندی چی هرکله دا آیت نازل سو نو دوی خپل ټول دخاندان خلق جمع کړل او دحق پیغام یی ورته وښووی . هغه وخت که څه هم خلقو دحق قبلولو څخه انکار وکی ، مګر کرارکرار دخاندان په خلقو کی د اسلام او ایمان دا خلیدل شروع سول او د دوی دا کا حضرت حمزه ﷺ په ایمان راوړلو سره اسلام ته یو لوی قوت حاصل سو .

دشعر پېژندل : وَالشُّعَرَآءُ يَتَّبِعُهُمُ الْغَاوٗنَ ۰ په اصل لغت کی شعر هر هغه کلام ته ویل کیږی ، په کوم کی چی محض خیالی او غیر تحقیقی مضامین بیان سوی وی . چی په هغه کی څه بحر، وزن، ردیف اوقافیه څه شرط نه دی ، دمنطق په فن کی هم داسی مضامینو ته ادله شعریه اوقضایا شعریه وایی او په اصطلاحی شعراوغزل کی هم چونکه په عام طور سره دخیالاتو غلبه وی ، په دی وجه په اصطلاح دشعراوو

کې موزون او مقفٰی کلام ته شعروایی ، ځینی مفسرینو دقرآن په آیتونو، بَلْ هُوَ شَاعِرٌ، شَاعِرٌ مَجْنُوْنٌ، شَاعِرٌ نَتَرَبَّصُ بِهٖ وغیره کې دشعر اصطلاحی معنٰی مراد کړې ده ، وایی چې دمکی کفارو به نبی کریم ﷺ ته ...ندار، قافیه دار کلام راوړونکی ویل . لیکن ځینی وایی چې دکفارو مقصد دا نه وو، په دی وجه چې ...نغوی ...شعر دطرز او طریقې ځخه خبر وه او ظاهره ده چې قرآن داشعارو مجموعه نه ده ، ددی خو یو عجمی هم قائل کیدی نه سی ، نوځه کوی چې لا بیا فصیح او بلیغ عرب ، بلکی کفارو دوی ته شاعر دشعر په اصلی معنٰی یعنی دخیالی مضامینو په لحاظ سره ویل ، مقصد د دوی په اصل کی حضور ﷺ ته نعوذ بالله درواغجن وایه ، ځکه چې شعر په معنٰی دکذب هم استعمالیږی اوشاعر کاذب ته وایی په دی وجه اَدِلّه کَاذِبه ته اَدِلّه شعریه ویل کیږی لنډه دا چې لکه څنګه چې موزون اومقفٰی کلام ته شعر وایی دغه رنګه ظنی او تخمینی کلام ته هم شعر وایی . کوم چې د اهل منطق اصطلاح ده .

وَالشُّعَرَآءُ يَتَّبِعُهُمُ الْغَاوُوْنَ ‎° په دی آیت کی دشعر اصطلاحی اومعروفه معنٰی مراد ده یعنی موزون اومقفٰی کلام ویونکی . ...دی تائید دفتح الباری د روایت ځخه کیږی چې هرکله دا آیت نازل سو نو حضرت عبدالله بن رواحه ﷺ ، حسان بن ثابت ﷺ اوکعب بن مالك ﷺ کوم چې په شعراء صحابه وو کی مشهور دی ، په ژړا د...ی کریم ﷺ په خدمت کی حاضر سول او عرض یی وکی چې یارسول الله ﷺ ! خدای ذو الجلال دا آیت نازل کړی دی او مونږ هم شعرونه وایو ، نبی کریم ﷺ وفرمایل چې دآیت آخری حصه ووایاست مطلب دا وو چې ستاسی اشعار بی هوده او دَغلط مقصد دپاره نه وی ، په دی وجه تاسی په هغه استثناء کی دا خل یاست ، کوم چې دایت په آخرکی ذکر ده ، په دی وجه مفسرین فرمایی چې دآیت په ابتداء کی مشرکین شعراء دی ، ځکه چې ګمراه خلق سرکښه شیطانان او نافرمانه پیریان به د دوی د اشعارو تابعدار وه او روایت کول به یی (فتح الباری)

(په اسلامي شريعت کي دشعر اوشاعري درجه)

د ذکر سوو آیتونو په شروع کی دشعر او شاعری سخت مذمت او دَالله ﷻ په نزد مبغوض والی معلومیږی . مګر دآیت په آخر کی چې کومه استثناء ذکر ده ، ددی ځخه ثابته سوه چې شعر مطلقًا بد نه دی ، بلکی هر کله چې په کوم شعرکی دخدای ﷻ نافرمانی یادالله ﷻ د ذکر ځخه منع کول یادرواغ، ناحقه دیو انسان بدوالی اوسپکوالی وی یافحش کلام او دفواحشو دپاره محرك وی هغه بد او مکروه دی اوکوم اشعار چې ددی ګناهونو او مکروهاتو ځخه پاك وی ، هغه الله ﷻ د: اِلَّا الَّذِيْنَ آمَنُوْا وَعَمِلُوا الصَّالِحَاتِ، په ذریعه مستثناء فرمایی او ځینی اشعار خو په حکیمانه مضامینو او وعظ نصیحت باندی دمشتمل کیدو په وجه سره په طاعت او ثواب کی دا خل دی ، لکه چې دحضرت ابی بن کعب ﷺ روایت دی چې، اِنَّ مِنَ الشِّعْرِ حِکْمَةً، یعنی ځینی شعرحکمت وی (رواه البخاری) حافظ ابن حجرفرمایی په کوم شعرکی چې دالله ﷻ وحدانیت دهغه ذکر، د اسلام سره دالفت بیان وی ، هغه شعر مرغوب او محمود دی او په ذکر سوی حدیث

کی داسی شعر مراد دی او په کوم شعر کی چی درواغ اوفحش بیان وی ، هغه مذموم دی . ددی زیات تائید ددی لاندینیو روایتونو څخه کیږی .

(۱) عمر بن الشرید دخپل پلار څخه روایت کوی چی نبی کریم ﷺ زما څخه د امیه بن ابی الصلت ترسلو (۱۰۰) قافیو پوری اشعار اوریدلی دی .

(۲) مطرف فرمایی چی ما دکوفی څخه تر بصری پوری دحضرت عمران بن حصین ﷺ سره سفر وکی او په هر منزل به هغه شعر اوروی .

(۳) طبری دمشرانو صحابو ومشرانو تابعینو متعلق وایی چی دوی به شعر وایه اوریدل به یی او اوول به یی

(۴) امام بخاری فرمایی چی حضرت عائشی ﷺ به اشعار ویل .

(۵) ابو یعلی د ابن عمر څخه مرفوعًا روایت کړی دی چی شعر یو کلام دی که مضمون یی ښه او مفید وی نو ښه شعر دی اوکه مضمون یی بد یادگناه وی نو بد شعر دی (فتح الباری)

په تفسیر قرطبی کی دی چی دمدینی منوری لس فقهاء کوم چی په خپل علم اوفضل کی معروف دی ، په دوی کی عبیدالله بن عتبه بن مسعود ﷺ مشهور قادر الکلام شاعر وو او دقاضی زبیر بن بکار اشعار خو په یو مستقل کتاب کی جمع وه بیاقرطبی لیکی چی ابو عمرو فرمایلی دی چی پرښو مضامینو باندی مشتملو اشعاروته په عالمانو او فاضلانو کی څوک بد نه سی ویلای څکه چی په مشرانو اصحابو کی کوم چی ددین پیشوایان وه ، په دوی کی یو هم داسی نه وو چی یایی په خپله اشعار نه وی ویلی یایی دنورو اشعار ویلی اوریدلی نه وی او خوښ کړی یی نه وی .

په کومو روایتونو کی چی دشعر او شاعری بدوالی ذکر دی ، ددی څخه مقصود دا دی چی په شعرگویی کی دومره مصروف او مشغول سی چی دالله ﷻ د ذکر، عبادت او قرآن څخه غافله سی . امام بخاری رحمه الله دا په یو مستقل باب کی بیان کړی دی او په دی باب کی یی دحضرت ابوهریره ﷺ دا روایت نقل کړی دی لَاَنْ يَّمْتَلِئَ جَوْفُ رَجُلٍ قَيْحًا يَرِيْهِ خَيْرٌ مِّنْ اَنْ يَّمْتَلِئَ شِعْرًا، یعنی یو سړی چی دنوونو څخه خپل نس ډکه کړی ، دا ددی څخه ښه ده چی د اشعارو څخه نس ډکه کړی ، امام بخاری فرمایی چی زماپه نزد ددی معنٰی دا ده چی شعرکله دالله ﷻ په ذکر او قرآن او علم پر اشتغال باندی غالب سی او که شعر مغلوب وی نو بیا بد نه دی دغه رنگه هغه اشعار کوم چی پر فحش مضامینو یا دخلقو پر بدو ردوبانورو خلاف شرع مضامینو باندی مشتمل وی ، هغه په اجماع د امت حرام او ناجائز دی او دا څه دشعر سره مخصوصه نه ده ، دنثر کوم کلام چی داسی وی دهغه هم دا حکم دی (قرطبی)

حضرت عمربن خطاب ﷺ خپل گورنر عدی بن فضله ددہ دعهدی څخه څکه لیری کی چی هغه به فحش اشعار ویل . حضرت عمر بن عبد العزیز عمرو بن ربیعه او ابو الاحوص ته په دی جرم کی دجلا وطن کولو حکم ورکی ، عمرو بن ربیعه توبه ویستله ، هغه قبوله کړل سوه (قرطبی)

(دخدای او دآخرت څخه غافل کوونکي هر علم او فن مذموم دی)

ابن ابی جمره ﷫ فرمایي چې دیری قافیه بازئ او هرداسی علم او فن کوم چې زړونه سخت کړي ، او دالله ﷻ د ذکر څخه دګرځیدو او منع کولو سبب جوړ سی او په عقیدو کی شکونه او شبهی او روحانی بیماری پیدا کوی ، دهغه هم دا حکم دی ، کوم چې دمذمومو اشعارو حکم دی .

(اکثره دتابعداری کوونکو ګمراهي دمتبوع دګمراهي علامه وی)

اَلشُّعَرَاءُ یَتَّبِعُهُمُ الْغَاوٗنَ ۔ په دی آیت کی پر شاعرانو داعیب لګول سوی دی چې د دوی تابعداری کوونکی ګمراه وی، دلته داسوال پیدا کیږي چې ګمراه خوسول تابعداری کوونکی نو د دوی دکارالزام په متبوعینو یعنی شعراوو څنګه واچول سو؟ وجه دا ده چې عموماً دتابعداری کوونکو ګمراهی علامه اوننبانه وی دمتبوع دګمراهی . لیکن حکیم الامت تهانوی ﷫ فرمایي چې دا حکم هغه وخت دی کله چې دتابع په ګمراهی کی ددی متبوع اتباع دا خله وی . مثلاً متبوع د دروغو او غیبت څخه محفوظ کیدو اهتمام نه کوی ، دده په مجلس کی دا قسم خبری کیږي او دی منع نه پر کوی ، په دی سره تابع هم په دروغو اوغیبت باندی عادت سی نو دا دتابع ګناه په خپله دمتبوع دګناه علامه مقرریږي ، لیکن که دمتبوع ګمراهی په یوه وجه او د اتباع په څه بله وجه سره وی نو دا دتابع ګمراهی دمتبوع دګمراهی علامه به نه وی .

مثلاً یو سړی په عقیدو اومسئلو کی دیو عالم تابعداری کوی او په دغو کی څه ګمراهی نه وی . په عملونو او اخلاقو کی ددغه عالم تابعداری نه کوی ، په دی کی دغه سړی ګمراه دی نو دده داعملی او اخلاقی ګمراهی ددی عالم په ګمراهی باندی به دلیل نه وی . والله سبحانه وتعالی اعلم

تمت سورة الشعراء بعون الله وفضله لنصف الرّبیع الثانی ۱۳۹۱هـ یوم الخمیس ویتلوها انشاء الله

تعالی سورة النمل

(سُورَةُ النمل)

سُوْرَةُ النَّمْلِ مَكِّيَّةٌ وَهِيَ ثَلٰثٌ وَتِسْعُوْنَ اٰيَةً وَسَبْعُ رُكُوْعَاتٍ بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

سورة النمل په مکه کی نازل سو او په دی کی دری نوی (۹۳) آیتونه دی او ووه ۷ رکوع ګانی دی.

شروع کوم د الله ﷻ په نامه سره چې بی حده مهربانه نهایت رحم والا دی.

طٰسٓ تِلْكَ اٰيٰتُ الْقُرْاٰنِ وَكِتَابٍ مُّبِيْنٍ ① هُدًى وَّبُشْرٰى

دا آیتونه دی دقرآن اوبنکاره کتاب هدایت اوخوشخبری

لِلْمُؤْمِنِيْنَ ② الَّذِيْنَ يُقِيْمُوْنَ الصَّلٰوةَ وَيُؤْتُوْنَ الزَّكٰوةَ وَهُمْ

دایماندارو دپاره کوم چې قایم ساتی لمونځ او ورکوی زکوة او دوی

بِالْاٰخِرَةِ هُمْ يُوْقِنُوْنَ ۝ اِنَّ الَّذِيْنَ لَا يُؤْمِنُوْنَ بِالْاٰخِرَةِ زَيَّنَّا لَهُمْ اَعْمَالَهُمْ

په آخرت باندی یقین ساتی ، کوم خلق چی نه منی آخرت بنه ښکاره کړی دی دوی ته مونږ عملونه د دوی

فَهُمْ يَعْمَهُوْنَ ۝ اُولٰٓئِكَ الَّذِيْنَ لَهُمْ سُوْٓءُ الْعَذَابِ وَهُمْ فِي الْاٰخِرَةِ

پس دوی سرګردانه دی دغه دی دکومو دپاره چی بدقسم عذاب دی او په آخرت کی د دوی دپاره

هُمُ الْاَخْسَرُوْنَ ۝ وَاِنَّكَ لَتُلَقَّى الْقُرْاٰنَ مِنْ لَّدُنْ حَكِيْمٍ عَلِيْمٍ ۝

تاوان دی ، او تا ته خو قرآن رسیږي دیو حکمت والا او خبر دار دطرف څخه.

لنډتفسیر: طٰس (ددی معنٰی خوالله ﷺ ته معلومه ده) دا (آیتونه کوم چی پرتاسی نازلیږی) آیتونه دی دقرآن او دیو واضح کتاب (یعنی په دی کی دوه صفتونه دی قرآن کیدل او واضح کتاب کیدل) دا (آیتونه) د ایماندارو دپاره (موجب د) هدایت دی او (په دی هدایت باندی دنیکی جزا) خو شخبری او رونکی دی کوم (مسلمانان چی داسی دی چی (عملاًهم پرهدایت روان دی چنانچی) دلمانځه پابندی کوی (کوم چی په بدنی عبادتونوکی دتولو څخه لوی دی) او زکوٰة ورکوی (کوم چی په مالی عبادتونوکی دټولوڅخه لوی دی) او (دعقیدی په لحاظ سره هم هدایت پیداکوګکی دی چنانچی) هغوی په آخرت باندی پوره یقین لرونکی دی (دا خو د ایماندارو صفت دی او) کوم خلق چی په آخرت باندی ایمان نه لری مونږ دهغوی (بد) عملونه دهغوی په نظرونو کی بنه ښکاره کړی دی ، ورروسته هغوی (په خپل جهل مرکب کی دحق څخه لیری) سرګردا نه دی (چنانچی نه دهغوی عقیدی صحیح دی ، نه عملونه ، په دی وجه هغوی قرآن هم نه منی ، نو لکه څنګه چی قرآن ایماندارو ته خو شخبری اوروله ، دغه شان منکرانو ته دعذاب وعدی هم اوری چی) دا هغه خلق دی دکومو دپاره چی (په دنیاکی دمرګ په وخت کی هم) سخت عذاب (کیدونکی) دی اوهغه خلق په آخرت کی (هم) په سخته خساره کی دی (چی هیڅکله به یی نجات نه وی) او (که څه هم دا منکران قرآن نه منی مګر) تاته په یقین سره دیو لوی حکمت والا علم والا دطرف څخه قرآن درکول کیږی (ته ددی نعمت په خوشحالی کی د دوی په انکار سره مه غمجن کیږه)

معلومات اومسئلي: زَيَّنَّا لَهُمْ اَعْمَالَهُمْ: یعنی کوم خلق چی په آخرت ایمان نه راوړی ، مونږ د دوی بدعملونه د دوی په نظرونو کی ښائسته کړی دی ، په دی وجه دوی هغه ښه ګڼی او په ګمراهی کی اخته وی . او ځینی مفسرین ددی آیت دا تفسیر کوی چی د، اَعْمَالَهُمْ، څخه مراد نیك عملونه دی او مطلب دا دی چی مونږ خو نیك عملونه ښائسته کړی دوی ته مخکی ایښی وه ، خو دی ظالمانو هغه ته ونه کتل ، بلکی په کفر او شرك کی اخته سول . په دی وجه په ګمراهی کی سرګردانه سول ، لیکن اولنی تفسیر زیات واضح دی . اول خو په دی وجه چی دښائسته کولو الفاظ په عام طور سره دبدو عملونو دپاره استعمالیږی لکه .

زُيِّنَ لِلنَّاسِ حُبُّ الشَّهَوَاتِ، زُيِّنَ لِلَّذِينَ كَفَرُوا الْحَيَاةُ الدُّنْيَا، زُيِّنَ لِكَثِيرٍ مِنَ الْمُشْرِكِينَ، او دښو عملونو دپاره ددې لفظ استعمال ډیر کم دی ، لکه: حَبَّبَ إِلَيْكُمُ الْإِيمَانَ وَزَيَّنَهُ فِي قُلُوبِكُمْ، الاية، په بل آیت کی، أَعْمَالَهُمْ ، (د دوی دعملونو) لفظ هم پردې دلالت کوی چی مراد ورڅخه بدعملونه دی نه دا چی نیک عملونه .

إِذْ قَالَ مُوسَىٰ لِأَهْلِهِ إِنِّي آنَسْتُ نَارًا سَآتِيكُمْ مِنْهَا بِخَبَرٍ

هرکله چی وویل موسی ﷺ خپل کوروالاؤ ته ما لیدلی دی یو اور او س را ورم تاسی ته دهغه څخه څه خبر

أَوْ آتِيكُمْ بِشِهَابٍ قَبَسٍ لَعَلَّكُمْ تَصْطَلُونَ ۝٧ فَلَمَّا جَاءَهَا نُودِيَ

یا راورم تاسی ته سکروټه بله شاید تاسی گرم سی ، بیا چی هرکله ورسیدی هغه ته آواز وسو

أَنْ بُورِكَ مَنْ فِي النَّارِ وَمَنْ حَوْلَهَا وَسُبْحَانَ اللَّهِ رَبِّ الْعَالَمِينَ ۝٨ يَا مُوسَىٰ إِنَّهُ أَنَا اللَّهُ

چی برکت دی په هغه څوک چی په اورکی دی او څوک چی ددی شاوخوا ته دی او پاک دی ذات دالله تعالی چی رب دټول جهان دی ، ای موسی ﷺ ! هغه زه الله یم

الْعَزِيزُ الْحَكِيمُ ۝٩ وَأَلْقِ عَصَاكَ ۚ فَلَمَّا رَآهَا تَهْتَزُّ كَأَنَّهَا جَانٌّ وَلَّىٰ مُدْبِرًا وَلَمْ يُعَقِّبْ

زبردست حکمتونو والا او وغورځوه لکړه خپله بیا چی کله یی ولیده ښوریدونکی لکه دمار چجه کړی واپس سو چی

يَا مُوسَىٰ لَا تَخَفْ إِنِّي لَا يَخَافُ لَدَيَّ الْمُرْسَلُونَ ۝١٠ إِلَّا مَنْ ظَلَمَ

په شایی نه کتل ، ای موسی ! مه بیریږه ، زه چی یم زما په خوا کی نه بیریږي رسولان ، مگر چاچی زیاتوب وکی ،

ثُمَّ بَدَّلَ حُسْنًا بَعْدَ سُوءٍ فَإِنِّي غَفُورٌ رَحِيمٌ ۝١١ وَأَدْخِلْ يَدَكَ

بیایی په بدله کی نیکی وکړه وروسته دبدی څخه ، وروسته زه بخښنی والامهربان یم ، او دا خل کړه خپل لای

فِي جَيْبِكَ تَخْرُجْ بَيْضَاءَ مِنْ غَيْرِ سُوءٍ ۖ فِي تِسْعِ آيَاتٍ إِلَىٰ فِرْعَوْنَ

په خپل گریوان کی را وبه وزی تک سپین بغیر دڅه نقصان څخه ، ددی دوارو سره نه (۹) نښانی واخله فرعون

وَقَوْمِهِ ۚ إِنَّهُمْ كَانُوا قَوْمًا فَاسِقِينَ ۝١٢ فَلَمَّا جَاءَتْهُمْ آيَاتُنَا مُبْصِرَةً قَالُوا هَٰذَا سِحْرٌ مُبِينٌ ۝١٣ وَجَحَدُوا بِهَا

او دهغه قوم ته ولاړسه بیشکه دغه خلق ډنافرمانه بیاچی کله ورسیدی هغوته زمونږنښانی دپوهولو دپاره وي ویل دا جادو دی ښکاره

وَاسْتَيْقَنَتْهَا أَنْفُسُهُمْ ظُلْمًا وَعُلُوًّا ۚ فَانْظُرْ كَيْفَ كَانَ عَاقِبَةُ الْمُفْسِدِينَ ۝١٤

او انکاریی ورڅخه وکی او یقین کړی په هغو زړونو دهغو د ظلم او تکبر څخه پس وگوره څنگه سو انجام دخرابی کوونکو

تفسیر: (دهغه وخت قصه ذکر کړه) هرکله چې (دمدين څخه په راتلوکی کوه طورته نژدې دشپې ديخ پروخت راورسيدی او دمصر لار ورڅخه هم غلطه سوي وه) موسیٰ (ﷺ) خپل کور والاووته وويل چې ما (دطور طرف ته) اور ليدلی دی ، زه اوس (ځم) دهغه ځای څخه (ياخو دلاری) څخه خبر را ورم ياتاسی ته (دهغه ځای څخه) د اور لمبه په يو لرګی وغيره کی لګولی را ورم چې تاسی ورته ګرم سی ، وروسته هرکله چې دهغه (اور) خواته را ورسيدی نو ده ته (دالله ﷻ دطرف څخه) آواز وسوچې څوك په دی اور کی دی (يعنی ملائکی) پرهغو دی هم برکت وی او څوك چې ددی (اور) خوا اوشا ته دی (يعنی موسیٰ ﷺ) پرهغه دی هم (برکت وی ، دا دعا په طور دتحية اوسلام ده ، لکه ملاقاتيان چې يوبل ته سلام کوی چونکه موسیٰ ﷺ پوه نه وو چې دا نور دالله ﷻ انوار دی په دی وجه يی په خپله سلام ونه کړل سو نو دالله ﷻ دطرف څخه دالفت سلام ارشاد سو او ملائکی يو ځای کول په کی شايد ددی دپاره وی چې لکه څنګه چې ملائکو ته دحق تعالی سلام دخاص قرب علامه وی ، د اسلام هم موسیٰ ﷺ ته دخاص قرب خوشخبری سوي ده) او (ددی کار ښوولو دپاره دا نور کوم چې په شکل د اور دی په خپله دالله ﷻ ذات نه دی ارشاد يی وفرمايی چې) الله رب العٰلمين (درنګ ، جهتو څخه مقدار اوحد بندئ وغيره څخه) پاك دی (اوپه دی نور کی دا شيان پيداکيږی ، پس دا نور ذات خداوندی نه دی او دموسیٰ ﷺ ذهن که ددې مسئلی څخه خالی وی نو دهغه تعليم دی اوکه دعقلی دليلونو او صحيح فطرت پربناده ته دمخکی څخه معلومه وی نو زيات پوهول يی دی . ددی څخه وروسته ارشاد وسوچې) ای موسیٰ (ﷺ) خبره دا ده چې زه (کوم چې بی کيفه، کلام کوم) الله يم زبردست حکمت والا او (ای موسیٰ ﷺ) ته خپله لکړه (پرمځکه) وغورځوه (چنانچې ده وغورځوله نو هغه اژدها جوړه سوه ښوريده) وروسته هرکله چې دوی دا دغسی حرکت کوونکی وليده لکه چې مار وی نو ده شاکړه وتښتيدی او شاته يی هم ونه کتل (ارشاد وسو چې) ای موسیٰ (ﷺ) بيريږه مه (ځکه چې مونږ تاته پيغمبری درکړې ده) او زمونږ په حضور کی (يعنی دپيغمبری دعزت ورکيدو په وخت کی) پيغمبران (ددا سی شيانو کوم چې په خپله د دوی دپيغمبری دليل يعنی معجزات وی) بيره نه کوی (يعنی تاته هم بيريدل نه دی په کار) البته مګر دچاڅخه چې څه قصور سوی وی (يعنی خطاسوی وی اوهغه دا خطا ياد. وی ، بيره کوی نو باك نسته ، ليکن ددی په نسبت هم دا قاعده ده چې که قصور وسی او) بيا دبدی (کيدو) څخه وروسته دبدی پرځای نيك کار وکی (توبه وکاږی) نو زه (دی هم معاف کوم ځکه چې زه) مغفرت والا رحمت والايم (دايی ځکه وفرمايل چې دلکړی په معجزه سره دمطمئن کيدو څخه وروسته هسی نه خپله قصه دقبطی دقتل ياده کړی او پريشانه سی ، په دی وجه يی په دی سره مطمئن وفرمايی چې بيره ځينی ولاړه سی) او (ای موسیٰ ﷺ ! دلکړی ددی معجزی څخه ماسوا يوه بله معجزه هم درکول کيږی ، هغه دا چې) ته خپل لاس ګريوان ته دننه کړه (اوبيايی را وباسه نو) هغه به بی دڅه عيب (يعنی بغيردڅه مرض دبرص وغيره) څخه (نهايت) روښانه را ووزی (او دا دواړی معجزی دهغو) نهو معجزو سره (دی دکومو سره چې ته) دفرعون او دهغه دقوم طرف ته (ليږل کيږی ځکه چې) هغه لوی دحدڅخه وتونکی خلق دی ، غرض دا چې هرکله چې هغه قوم ته زمونږ (ورکول سوی) معجزی ورسيدی (کوم چې) ډيری واضحی وی (يعنی ددعوت په ابتداءکی يی دوی معجزی وښوولی بيابه وقتًا فوقتًا نوری ښوول کيدی) نو هغه خلقو (دا ټولی

ولیدی اوبیایی هم) وویل چی دا صریح جادودی او (غضب خودا وو چی دظلم او) تکبرپه وجه ددی (معجزو) څخه (بالکل) منکره سول حال دا دی چی (ددننه څخه) د دوی زړونو په دغویقین کړی وو پس وګوره چی څنګه (بد) انجام سوددی فساد کوونکو (په دنیا کی غرق سول او په آخرت کی بی د اور سزا پیدا کړه)

معلومات اومسئلي: إِذْ قَالَ مُوسَىٰ لِأَهْلِهِ إِنِّي آنَسْتُ نَارًا سَآتِيكُمْ مِنْهَا بِخَبَرٍ أَوْ آتِيكُمْ بِشِهَابٍ قَبَسٍ لَعَلَّكُمْ تَصْطَلُونَ.

(انسان ته دخپلو ضرورتونو دپاره طبعي اسباب اختيارول دتوکل څخه خلاف نه دی)

حضرت موسیٰ ﷺ ته دلته دوه ضرورتونه ورپیښ سول ، یو دلاری پوښتنه کول کومه چی دده څخه ورکه سوی وه . دوهم د اور څخه ګرمی حاصلول چی شپه دیخ وه ، په دی وجه ده کوه طور طرف ته دتللو کوشش یې وکی ، لیکن ددی سره په دی مقصد کی په کامیابیدو دیقین او دعوی کولو پرځای یی داسی الفاظ اختیارکړل په کوموکی چی دخپلی بندګی او دحق تعالی څخه امید ښکاره کیږی . معلومه سوه چی دضرورتونو دحاصلیدو دپاره جد او جهد دتوکل څخه منافی نه دی . لیکن تکیه دخپل کوشش په ځای په الله ﷻ کول په کاردی او د اور دوی ته په ښوولو کی شاید دا حکمت وی چی په دی سره د دوی دواړه مقصدونه پوره کیدل دلاری ښوول او د اور څخه ګرمی حاصلول (کمافی الروح)

دلته حضرت موسیٰ ﷺ، اُمْكُثُوا ، او ، تَصْطَلُونَ ، دجمع صیغی وفرمایله حال دا دی چی دده سره صرف دده بی بی یعنی دحضرت شعیب ﷺ لور وه ، د دوی دپاره لفظ دجمع استعمالول په طور د اکرام وسو ، لکه په معززو خلقو کی چی یو سړی ته هم خطاب وی ، نو صیغه دجمعی استعمالیږی . دنبی کریم ﷺ څخه هم دخپلو بیبیانو دپاره دجمعی صیغه استعمالول په احادیثو کی وارده سوي ده .

(په تخصیص سره دبي بي ذکر په عام مجلسونو کي نه کول بلکي دکنايي څخه کار اخستل ښه دی)

په ذکرسوی آیت کی ، قَالَ مُوسَىٰ لِأَهْلِهِ ، فرمایل سوی دی ، لفظ د ، أَهْلُ ، عام دی چی ښځه او دکور نور افراد په کی هم شاملیدای سی ، په دی موقع کی که څه هم دحضرت موسیٰ ﷺ سره یوازی بی بی محترمه وه بل څوک ورسره نه وو . مګر په تعبیر کی دعام لفظ د استعمالولو څخه دی طرف ته اشاره پیدا سوه چی په مجلسونو کی که څوک دخپلی بی بی ذکر کوی نو په عامو لفظونو سره یی کول ښه دی لکه زمونږ په عرف کی چی ویل کیږی ، زما کور والا ، داسی وایی .

فَلَمَّا جَاءَهَا نُودِيَ أَنْ بُورِكَ مَنْ فِي النَّارِ وَمَنْ حَوْلَهَا وَسُبْحَانَ اللَّهِ رَبِّ الْعَالَمِينَ يَا مُوسَىٰ إِنَّهُ أَنَا اللَّهُ الْعَزِيزُ الْحَكِيمُ .

(دحضرت موسي ﷺ اور ليدل او د اور دننه ديو آواز اوريدلو تحقيق)

په قرآن کریم کی دحضرت موسیٰ ﷺ دا واقعه په ډیرو سورتونو کی په مختلفو عنواناتو سره را غلی ده ، ددی سورة نمل په ذکرسوو آیتون کی ددی سلسلی دوې جملی دغور طلب دی ، اوله (بُورِكَ مَنْ فِي النَّارِ) دوهمه (إِنَّهُ أَنَا اللَّهُ الْعَزِيزُ الْحَكِيمُ) او په سورة طٰهٰ کی چی تفسیر یی مخکی تیرسوی دی . ددی واقعی متعلق دا الفاظ راغلی دی (إِذْ رَأَىٰ نَارًا) تردی قول دالله ﷻ پوری : نُودِيَ يَا مُوسَىٰ إِنِّي أَنَا رَبُّكَ فَاخْلَعْ نَعْلَيْكَ إِنَّكَ بِالْوَادِ الْمُقَدَّسِ طُوًى وَأَنَا اخْتَرْتُكَ فَاسْتَمِعْ لِمَا يُوحَىٰ إِنَّنِي أَنَا اللَّهُ لَا إِلَٰهَ إِلَّا أَنَا فَاعْبُدْنِي ، په دی آیتونو کی دوې

جملې په خاص طور سره دغور طلب دی: اِنِّيْ اَنَا رَبُّكَ، او: اِنِّيْ اَنَا اللهُ، او په سورة قصص کی ددی واقعی دا الفاظ دی: نُوْدِیَ مِنْ شَاطِئِ الْوَادِ الْاَيْمَنِ فِي الْبُقْعَةِ الْمُبَارَكَةِ مِنَ الشَّجَرَةِ اَنْ يَّامُوْسٰى اِنِّيْ اَنَا اللهُ رَبُّ الْعَالَمِيْنَ، په دی درو سره موقعو کی دتعبیر عنوانونه که څه هم مختلف دی، مګر مضمون تقریبًا یو دی، هغه دا چی حضرت موسٰی ﷺ ته په دی شپه کی په څو وجهو سره د اور ضرورت وو، الله ﷻ ده ته دکوه طور په یوه درخته اور وښوو‌ی دهغه اور یادرختی څخه دا آواز واوریدل سو: اِنِّيْ اَنَا رَبُّكَ، اِنِّيْ اَنَا اللهُ الْعَزِيْزُ الْحَكِيْمُ، اِنَّنِيْ اَنَا اللهُ لَآ اِلٰهَ اِلَّآ اَنَا، اِنِّيْ اَنَا اللهُ رَبُّ الْعَالَمِيْنَ، دا کیدای سی چی دا آواز باربار سوی وی، کله په یو لفظ سره، کله په بل لفظ سره. او د اواز اوریدو کوم کیفیت چی په تفسیر بحر محیط کی ابوحیان اوروح المعانی کی آلوسی نقل کړی دی چی دا آواز داسی واوریدل سو چی دهرطرف څخه یو شان آواز راتلی چی هیڅ جهت یی متعین کیدی نه سو او آوریدل یی هم په یو عجیبه انداز سره وسول چی صرف غوږونو نه بلکی لاسونو پښو وغیره ټولو اندامونو دبدن دا آوریدی کوم چی دیوی معجزی حیثیت لری.

دا یو غیبی آواز وو چی بی دکیفیت اوبی دڅه طرفه واوریدل سو، لیکن مبداء یی هغه اور یا درخته وه دکوم څخه چی د اور شکل ده ته وښودل سو. داسی موقع په عام طور سره دخلقو دپاره دمغالطو اوبت پرستو سبب جوړیږی. په دی وجه په هرعنوان کی دتوحید دمضمون طرف ته هدایت او خبرداری ورسره سوي ده چی په زیر بحث آیت کی لفظ د، سُبْحٰنَ اللهِ، ددی پوهولو دپاره زیات سوی دی. په سورة طٰهٰ کی، لَآ اِلٰهَ اِلَّآ اَنَا، اوپه سورة قصص کی، اَنَا اللهُ رَبُّ الْعٰلَمِيْنَ ددی مضمون دتاکید دپاره راوړل سوی دی. ددی دتفصیل مطلب دا دی چی دا د اور شکل حضرت موسٰی ﷺ ته څکه ښودل سوی وو چی دی دغه وخت د اور اوړنا حاجتمند وو. کنه نو دکلام ربانی د اور یا د درختی دطور سره هیڅ تعلق نه وو. اور دالله ﷻ دعام مخلوقات په شان یو مخلوق وو. په دی وجه په زیر بحث آیتونو کی چی کوم دا ارشاددی: اَنْ بُوْرِكَ مَنْ فِي النَّارِ وَمَنْ حَوْلَهَا، یعنی مبارك دی هغه چی په اورکی دننه دی او هغه کوم چی ددی خوا او شا ته دی ددی په تفسیر کی دتفسیر د امامانو مختلف اقوال دی چی تفصیل یی په تفسیر روح المعانی کی دی. یو قول دحضرت ابن عباس ﷺ، مجاهد ﷫ اوعکرمه څخه نقل دی چی د: مَنْ فِي النَّارِ څخه مراد حضرت موسٰی ﷺ وی، څکه چی اورڅه حقیقی اور خو نه وو، کوم بقعه مبارکی ته چی حضرت موسٰی ﷺ رسیدلی وو، هغه دلیری څخه پوره اور معلومیدی په دی وجه حضرت موسٰی ﷺ په اور کی دننه سو او د، مَنْ حَوْلَهَا، څخه مراد ملائکی دی، کومی چی شاوخوا ته هلته موجودی وی. اوځینی حضرات ددی بر عکس دا فرمایی چی د، مَنْ فِي النَّارِ، څخه ملائکی او د، مَنْ حَوْلَهَا، څخه حضرت موسٰی ﷺ مراد دی. دتفسیر بیان القرآن په لنډ تفسیرکی چی کوم ذکر سوی دی، دا اختیار سوی دی. د ذکرسوو آیتونو په صحیح مطلب دپوهیدو دپاره دومره کافی ده.

(دحضرت ابن عباس ﷺ اوحضرت بصری رحمه الله یو روایت او دهغه تحقیق)

دلته ابن جریر رحمه الله، ابن ابی حاتم رحمه الله، ابن مردویه وغیره دحضرت ابن عباس ﷺ اوحضرت حسن بصری رحمه الله ، سعیدبن جبیر ﷺ څخه د، مَنْ فِي النَّارِ، په تفسیرکی دا روایت هم نقل کړی دی . چی د، مَنْ فِي النَّارِ، څخه په خپله ذات دحق سبحانه تعالی مراد دی . دا خو ظاهره ده چی اور یو مخلوق دی او په مخلوق کی دخالق حلول نه سی کیدای . په دی وجه ددی روایت دا مطلب خو نه سی کیدای چی ذات دحق سبحانه تعالی په اور کی دننه حلول فرمایلی وو، لکه چی ډیر بت پرسته مشرکان دبتانو په وجود کی د ذات حق دحلول قائل دی ، او دا دتوحید څخه قطعاًخلاف ده . بلکی مراد ظهور دی ، لکه په آئینه کی چی یو شی لیدل کیږی . هغه په آئینه کی حلول نه وی کړی . ددی څخه جلا اوخارج وی ، او دا هم ظاهره ده چی دا ظهورکوم ته چی تجلّی هم ویل کیږی ، په خپله د ذات حق سبحانه وتعالی تجلّی نه وه . کنه نو د ذات حق تعالی مشاهده که حضرت موسیٰ ﷺ کړی وی نو وروسته به دده ددی سوال هیڅ وجه نه وه . رَبِّ أَرِنِي أَنظُرْ إِلَيْكَ ، یعنی ای زماپروردگاره ! ماته خپل پاك ذات وښیی چی زه دی ووینم ، او ددی په جواب کی دالله ﷻ دطرف څخه، لَن تَرَانِي، ارشاد به هم بی معنٰی وی . ددی څخه معلومه سوه چی دحضرت ابن عباس ﷺ په دی قول کی دحق تعالی ظهور مراد دی یعنی تجلّی کومه چی د اور په صورت کی وسوه ، دا لکه څنګه چی حلول نه وو، دغه ډول تجلی دذات هم نه وه ، بلکی د، لَن تَرَانِي، دآیت څخه دا ثابتیږی چی په دی عالم دنیاکی دتجلّی ذاتی هیڅوك مشاهده نه سی کولی بیادتجلی ددی ظهور به څه مطلب وی ؟ ددی جواب دا دی چی دا تجلی مثالی وه کومه چی په صوفیه حضراتوکی معروفه ده . ددی په حقیقت پوهیدل خو د انسان دپاره ګران کار دی . په قدر دضرورت پوهیدو ته دنژدی کیدو دپاره احقر په خپل کتاب احکام القرآن په عربی ژبه په سورة قصص کی ددی څه تفصیل لیکلی دی ، عالمان یی په هغه کی کتلای سی ، دعوامو دضرورت شی نه دی .

إِلَّا مَن ظَلَمَ ثُمَّ بَدَّلَ حُسْنًا بَعْدَ سُوءٍ فَإِنِّي غَفُورٌ رَّحِيمٌ · ددی څخه په مخکی آیت کی دحضرت موسیٰ ﷺ دلکړی دمعجزی ذکر دی چی په هغه کی دا هم ذکر دی چی لکړه کله مار جوړ سو نو حضرت موسیٰ ﷺ په خپله هم ددی څخه وبیریدی او منډه یی کړه . مخ ته وروسته هم دحضرت موسیٰ ﷺ د دوهمی معجزی ید بیضاء بیان دی . په مینځ کی ددی استثنا ذکر دڅه دپاره وسو ؟ او دا استثناء منقطع ده اوکه متصل ؟ په دی کی دمفسرینو حضراتو اقوال مختلف دی ځینی حضراتو استثناء منقطع مقررکړی ده نو مضمون دآیت به داسی وی چی په اولنی آیت کی پرانبیاء علیهم السلام دبیری نه راتلو ذکر وو په سبیل دتذکری یی دهغو خلقو هم ذکر وکی پرکومو چی بیره را تلل په کار وی یعنی هغه خلق دکومو څخه چی خطاسوی وی ، بیا توبه وکاړی او نیك عمل اختیارکی دداسی حضراتو خطاګانی که څه هم الله ﷻ معاف کوی ، مګر دمعافی څخه وروسته هم دګناه دځینی آثارو دباقی پاته کیدو احتمال دی . ددی څخه ! ا حضرات همیشه په بیره کی وی او دا استثناء چی متصله مقرر سی نو معنٰی دآیت به دا وی چی دالله ﷻ رسول بیریږی نه ، بغیر دهغوی څخه

دچاخخه چې څه خطایعنی صغیره گناه صادره سوې وي ، بیایې دهغه څخه هم توبه کښلې وي نو په دې توبه دا صغیره گناه معاف سي او زیاته صحیح دا ده چې دانبیاء علیهم السلام څخه کوم خطاګانې سوې دي هغه په حقیقت کې گناهونه نه وه نه صغیره . نه کبیره، البته صورت دگناه وو او په حقیقت کې دغه اجتهادي خطاګانې سوې دي . په دې مضمون کې اشاره دې طرف ته پیداکیږي چې دحضرت موسیٰ ﷺ څخه چې کومه خطا دقبطي دقتل وسوه هغه که څه هم الله ﷻ معاف کړه، مګر دهغه دا اثر هم پاته سو چې په حضرت موسیٰ ﷺ باندې بیره راغله ، که دا خطا نه واې نو دا وقتي بیره به هم نه واې (قرطبي)

وَلَقَدْ اٰتَيْنَا دَاوٗدَ وَسُلَيْمٰنَ عِلْمًا ۚ وَقَالَا الْحَمْدُ لِلّٰهِ الَّذِيْ فَضَّلَنَا عَلٰى

او مونږ ورکی داود ﷺ او سلیمان ﷺ ته یو علم ، او دواړو وویل شکر دی دالله چاچې مونږ له غوره والی راکړی دی

كَثِيْرٍ مِّنْ عِبَادِهِ الْمُؤْمِنِيْنَ ﴿۱۵﴾ وَوَرِثَ سُلَيْمٰنُ دَاوٗدَ وَقَالَ يٰۤاَيُّهَا النَّاسُ

په خپلو ډیرو بندګانو ایماندارو ، او قائممقام سو سلیمان ﷺ د داود ﷺ او وې ویل ای خلقو!

عُلِّمْنَا مَنْطِقَ الطَّيْرِ وَاُوْتِيْنَا مِنْ كُلِّ شَيْءٍ ۭ اِنَّ هٰذَا لَهُوَ الْفَضْلُ الْمُبِيْنُ ﴿۱۶﴾

ښوول سوې دي مونږ خبرې دالوتونکو حیوانانو او راکړل سوي دي مونږ ته دهر شي څخه بیشکه دا دی فضیلت ښکاره

وَحُشِرَ لِسُلَيْمٰنَ جُنُوْدُهٗ مِنَ الْجِنِّ وَالْاِنْسِ وَالطَّيْرِ فَهُمْ يُوْزَعُوْنَ ﴿۱۷﴾ حَتّٰۤى اِذَاۤ اَتَوْا

او جمع کړل سوې سلیمان ته دده لښکر دپیریانو او انسانانو او الوتونکو حیوانانو بیا د دوی دلې جوړې سوې تردې چې

عَلٰى وَادِ النَّمْلِ ۙ قَالَتْ نَمْلَةٌ يّٰۤاَيُّهَا النَّمْلُ ادْخُلُوْا مَسٰكِنَكُمْ ۚ لَا يَحْطِمَنَّكُمْ سُلَيْمٰنُ

کله ورسیدل دمیږانو میدان ته وویل یوه میږې ای میږانو! ننوزئ خپلو کورونو ته چې پایمال نه کړي تاسې سلیمان

وَجُنُوْدُهٗ ۙ وَهُمْ لَا يَشْعُرُوْنَ ﴿۱۸﴾ فَتَبَسَّمَ ضَاحِكًا مِّنْ قَوْلِهَا وَقَالَ رَبِّ اَوْزِعْنِيْۤ اَنْ اَشْكُرَ نِعْمَتَكَ

او د هغه فوجونه او هغوی خبر هم نه وي بیا مسکی سو وېي خندل ددې په خبره او وې ویل ای ربه زما په قسمت کې را کړه چې شکر وکاږم ستادا احسان .

الَّتِيْۤ اَنْعَمْتَ عَلَيَّ وَعَلٰى وَالِدَيَّ وَاَنْ اَعْمَلَ صَالِحًا تَرْضٰىهُ وَاَدْخِلْنِيْ بِرَحْمَتِكَ

هغه چې تا وکې پرما او زما په مور او پلار او داچې وکړم کار نیک چې ستا خوښ سي او داخل کې ما په خپل رحمت سره

فِيْ عِبَادِكَ الصّٰلِحِيْنَ ﴿۱۹﴾

په خپلو نیکو بندګانو کې

لنډتفسیر: او مونږ داؤد (ﷺ) او سلیمان (ﷺ) ته (دشریعت او حکومت کولو) علم ورکی او دې دواړو

(دشکر اداکولو دپاره) وویل چې ټول تعریفونه الله ﷻ لره دی چاچې مونږته پرخپلو ډېرو ایماندارو بندګانو باندې فضیلت را کړی او د داؤد (علیه السلام) دوفات څخه وروسته دده) قائمقام سلیمان (علیه السلام) سو (یعنې هغه ته حکومت وغیره ورکول سو) او هغه (دشکر داظهار دپاره) وویل چې ای خلقو! مونږ ته دمارغانو دخبرو (په پوهیدو) تعلیم را کول سوی دی (کوم چې نورو بادشاهانو ته حاصل نه دی) اومونږ ته (دحکومت د اسباب متعلق) هر قسم (ضروري) شیان را کول سوي دي (لکه فوج، لښکر، مال او دجنګ اسباب وغیره) واقعي دا (دالله ﷻ) ښکاره فضل دی، او دسلیمان (علیه السلام) اسباب دحکومت هم عجیبه اونا اشناوو چنانچې دده دپاره (چې کوم) دده لښکر جمع سوی وو (په هغه کې) پیریان هم (وه) او انسانان هم او الوتونکي حیوانان هم (کوم چې دیوه بادشاه نه تابع کیږي) او (بیاوي هم دومره ډیرچې) د دوی (دتلوپه وخت کې) یوځای راجمع کیږي (چې ګډوډ نه سي او وروسته هم راورسیږي داخبره عادتًا دډیروالي په وجه سره کیدی سي څکه چې په کمه مجمع کې خو اکثره په خپله مخ ته تلونکي ودریږي اوپه لویه مجمع کې خو مخکښنیو ته دوروستنیو خبر هم نه وي، په دې وجه ددې انتظام کول غواړي، یو وخت یې دخپل لښکرسره تشریف وړی) تردې چې هرکله دوی دمیږو یو میدان ته ورسیدل نو یوې میږې (نورو میږو ته) وویل چې ای میږو خپلو خپلو سړو ته ننوزئ هسې نه چې تاسې سلیمان او دده لښکر په ناخبرۍ کې پایمال نه کړي وروسته سلیمان (علیه السلام) چې ددې خبره واوریده او) ددې په خبره سره (په تعجب کې سو چې دا کوچنی وجود او دومره هوښیاري او احتیاط) مسکی سو ویې خندل او (چې دا یې ولیدل چې زه ددې په خبره پوه سوم کوم چې دمعجزې په طور سره یو عظیم نعمت دی نور نعمتونه هم وریاد سول او) وې ویل چې ای زما ربه! ماته په دې همیشه والی را کړه چې زه ستا دهغو نعمتونو شکر وکاږم کوم چې تا پرما او زما پرمور او پلارکړي دي (یعنې ایمان اوعلم تولو ته او نبوت خپل ځان او خپل پلار داود ﷺ ته) او (پردې هم همیشګي را کړې چې) زه نیک کار وکړم په کوم سره چې ته خوشحاله سې (یعنې عمل مقبول وي څکه چې که په حقیقت کې او دآدابو او شرائطو دکمي په وجه سره مقبول نه وي نو هغه مقصودنه دی) اوما په خپل (خاص) رحمت سره په خپلو (اعلی درجه) نیکو بندګانو (انبیاء علیهم السلام) کې داخل کړې (یعنې قرب په بعد کې مه بدلوې)

معلومات اومسئلې: وَلَقَدْ آتَيْنَا دَاوُودَ وَسُلَيْمَانَ عِلْمًا ۚ ظاهره ده چې ددې څخه مراد دانبیاء علیهم السلام علمونه دي کوم چې دنبوت او رسالت سره متعلق دي ددې په عموم کې نور علمونه او فنونه هم که شامل وي نوبعیده نه ده لکه حضرت داود ﷺ ته چې دزغرو جوړولو کارښوول سوي وو. حضرت داود اوسلیمان علیهماالسلام د انبیاوو په تولی کې یو خاص امتیاز لري چاته چې دنبوت او رسالت سره حکومت هم ورکول سوي وو او حکومت هم داسې بې مثله چې صرف پرانسانانو نه، بلکې په پیریانو اوحیواناتو باندې هم د دوی حکمراني وه. په دې ټولو عظیم الشان نعمتونو کې دالله ﷻ دنعمت دعلم په اول ذکر کولو کې دې طرف ته اشاره وسوه چې دعلم نعمت په نورو ټولو نعمتونو کې فائق اولوړ دی (قرطبي)

(انبياؤ عليهم السلام کي دمال وراثت نه وي)

وَوَرِثَ سُلَيْمَانُ دَاوُدَ دوَرِثَ ـ څخه وراثت دعلم اونبوت مراد دی دمال وراثت نه دی ، ځکه چی نبی کریم ﷺ فرمايلی دی: نَحْنُ مَعَاشِرُ الْاَنْبِيَاءِ لَا نَرِثُ وَلَا نُوْرِثُ، یعنی انبیاء علیهم السلام نه وارثان وی اونه موروثان، دحضرت ابودرداء ﷺ څخه په ترمذی اوابوداود کی روایت دی : اَلْعُلَمَاءَ وَرَثَةُ الْاَنْبِيَاءِ وَاِنَّ الْاَنْبِيَاءَ لَمْ يُوَرِّثُوا دِيْنَارًا وَّلَا دِرْهَمًا وَلٰكِنْ وَرَّثُوا الْعِلْمَ فَمَنْ اَخَذَهُ اَخَذَ بِحَظٍّ وَّافِرٍ، یعنی علماء د انبیاوو وارثان دی ، لیکن په انبیاؤ کی وراثت دعلم او نبوت وی دمال نه وی ، دحضرت ابو عبدالله روایت دا مسئله نوره زیاته واضحه کوی چی حضرت سلیمان ﷺ دحضرت داود ﷺ وارث سو او سردار د دواړو جهانو حضرت محمد ﷺ دحضرت سلیمان ﷺ وارث سو (روح عن الکلینی)

په عقلی توګه سره هم دلته مالی وراثت نه سی مراد کیدای ، ځکه چی دحضرت داود ﷺ دوفات په وخت کی د دوی په اولاد کی دنولسو (۱۹) زامنو ذکر راغی که دمال وراثت مراد وی نو دا زامن به یی ټول په جمع وارثان وای . بیاپه وراثت کی به دحضرت سلیمان ﷺ دتخصیص هیڅ وجه باقی نه وای پاته سوی . ددی څخه ثابته سوه چی دلته وراثت هغه مراد دی چی په کوم کی ورسره ورونه شریك نه وه ، بلکی صرف حضرت سلیمان ﷺ یی وارث جوړسو او هغه صرف دعلم او نبوت وراثت کیدای سی ، ددی سره الله ﷻ دحضرت داود ﷺ ملك او حکومت هم حضرت سلیمان ﷺ ته ورکړل او په دی یی زیاته اضافه دا وکړه چی دده حکومت یی په پیریانو او حیوانانو اوالوتونکو مارغانو پوری عام کی . هوایی دده دپاره مسخره کړه . ددی دلیلونو څخه وروسته دطبرسی هغه روایت به غلط سی په کوم کی چی دوی دځینو امامانو اهل بیتو په حواله سره دمال وراثت مراد اخستی دی (روح)

دحضرت سلیمان ﷺ دوفات او دخاتم الانبیاء ﷺ دپیدائش په مینځ کی یوزر اووه سوه ۱۷۰۰ کاله فاصله ده اویهود دا فاصله یوزر څلورسوه ۱۴۰۰ کاله ښیی . دحضرت سلیمان ﷺ عمر دپنځوسو ۵۰ کالو څخه څه لوړ سوی دی (قرطبی)

(دځان دپاره دجمع صیغه ویل جائز دی په دی شرط چی تکبرًا نه وی)

عُلِّمْنَا مَنْطِقَ الطَّيْرِ وَاُوْتِيْنَا" حضرت سلیمان ﷺ سره ددی چی یوازی وو، دخپل ځان دپاره دجمع صیغه دشاهانه محاوری په طور استعمال کړي ده چی پر رعیت باندی رعب پریوزی او رعیت دخدای په حکم منلو او دحضرت سلیمان ﷺ په حکم منلو کی سستی نه کوی ، دغه ډول امیران ، حاکمان او افسران دخپل رعیت په موجودګی کی دځان دپاره دجمع په صیغه استعمالولو کی څه باك نسته ، کله چی سیاستًا او دنعمت د اظهار په طورسره وی دتکبر اولویی دپاره نه وی .

(په الوتونکو مارغانو او ځارووکی هم عقل او شعور سته)

ددی واقعی څخه ثابته سوه چی الوتونکی، څریدونکی او ټول حیوانات هم په یوه درجه کی دعقل او شعور خاوندان دی . البته د دوی عقلونه ددی درجی نه دی چی دشرعی احکامو مکلف جوړسی ، او

انسانانو او پیریانو ته دعقل او شعور هغه کامله درجه ورکول سوې ده ، دکوم په بناچی دوی دالله ﷻ مخاطب سی او عمل په وکی .
امام شافعی رحمه الله فرمایی چی کوتره په ټولو الوتونکو کی زیاته هوښیاره ده ، ابن عطیه فرمایی چی میږی ذهین او عقلمند حیوان دی ، دده قوت شامه ډیر تیز دی څه دا نه چی دده په قبضه کی راسی نو دوی ټکړی یی کړی چی شنه نه سی او دیخ د زمانی دپاره دخپل خوراك ذخیره جمع کوی (قرطبی)
فائده : په آیت کی دمارغانو دخبرو تخصیص دهُدهُد دواقعی په وجه سره دی کوم چی مارغه دی ، کنه نو حضرت سلیمان علیه السلام ته خو دالوتونکو ، څریدونکو او دمځکی دټولو حیوانانو خبری ښوول سوی وی لکه چی په راتلونکی آیت کی دمیږی په خبرو دپوهیدو ذکر موجود دی ، امام قرطبی په خپل تفسیر کی پردی مقام دمختلفو مارغانو خبری او دحضرت سلیمان علیه السلام په هغه دا فرمایل چی دا مرغه دا خبره کوی ، په تفصیل سره نقل کړی دی او تقریبًا دهرمارغه خبره یوه دنصیحت جمله ده .
وَأُوتِينَا مِنْ كُلِّ شَيْءٍ لفظ د ، کُلّ ، د اصل لغت په اعتبار سره ټولو افرادو دجنس ته عام کیږی ، مگر ډیر واره کلی عموم مراد نه وی ، بلکی دیو خاص مقصد ترحده پوری عموم مراد وی ، لکه دلته چی عام شیان مراد دی ، دکومو ضرورت چی حکومت او سلطنت ته وی ، کنه نو ظاهره ده چی هوایی جهاز ، موټر ، ریل گاډی وغیره دده سره نه وو .
رَبِّ أَوْزِعْنِي ٠ د وَزْع څخه مشتق دی ، چی لفظی معنٰی یی بندول دی ، مطلب دلته دا دی چی ماته ددی توفیق راکی چی زه دنعمت شکر هر وخت ادا کرم جلا نه یم ورڅخه ، چی مطلب یی همیشوالی او پابندی ده . ددی څخه په مخکی آیت کی : فَهُمْ يُوزَعُونَ ، په دی معنٰی کی راغلی دی ، چی لښکر به د ډیروالی په وجه دگډوډ کیدو څخه دمحفوظ کولو دپاره منع کول کیږی .
وَأَنْ أَعْمَلَ صَالِحًا تَرْضَاهُ ٠ دلته رضاپه معنٰی دقبول ده معنٰی دا ده ، چی یاالله ماته دداسی نیك عمل توفیق راکی ، کوم چی ستا په نزد مقبول وی . په روح المعانی کی یی ددی څخه په دی سره دلیل نیولی دی ، چی دنیك عمل دپاره قبولیت لازم نه دی ، بلکی قبولیت پرڅه شرطونو موقوف دی ، او فرمایی چی په صالح او مقبول کیدو کی نه عقلاً څه لزوم سته نه شرعًا . په دی وجه دانبیاء علیهم السلام سنت دی چی دخپلو نیکو عملونو دمقبول کیدو به یی هم دعاکوله لکه حضرت ابراهیم او اسمٰعیل چی دبیت الله دتعمیر په وخت کی دعاوفرمایله : رَبَّنَا تَقَبَّلْ مِنَّا ، ددی څخه معلومه سوه چی کوم عمل نیك دی ، صرف دهغه کول اوبی فکره کیدل نه دی په کار دالله ﷻ څخه دا هم دعا کوی چی دا قبوله کړی .

(دنیک عمل او مقبول کیدو باوجود جنت ته داخلیدل بغیر دفضل خداوندی نه سي کیدای)

وَأَدْخِلْنِي بِرَحْمَتِكَ فِي عِبَادِكَ الصَّالِحِينَ ٠ دنیك عمل او ددی دقبلیدو باوجود جنت ته داخلیدل به دخدای ﷻ په فضل اوکرم سره وی . نبی کریم ﷺ فرمایی چی یوسړی دخپل عمل په تکیه جنت ته نه سی داخلیدی . اصحابو رضی الله عنهم عرض وکی یارسول الله ﷺ تاسی هم‌انووي فرمایل چی هو ، زه هم‌لیکن زه زمادرب رحمت

او فضل په خان کې رانغښتې یم «روح المعانی»

حضرت سلیمان ﷺ هم په دې کلمو کې دجنت د داخلیدو دپاره دالله ﷻ دفضل دعا فرمایی ، یعنی ای الله! پر ما هغه فضل هم وفرمایه په کوم سره چې دجنت مستحق سم .

وَتَفَقَّدَ الطَّيْرَ فَقَالَ مَا لِيَ لَا أَرَى الْهُدْهُدَ أَمْ كَانَ مِنَ الْغَائِبِينَ ۝٢٠ لَأُعَذِّبَنَّهُ

او حاضري یې واخیسته دالتونکو مرغانو نوویل څه دي چې زه نه وینم هُدهُد یادی هغه غائب ، ده لره به سزا ورکړم

عَذَابًا شَدِيدًا أَوْ لَأَاذْبَحَنَّهُ أَوْ لَيَأْتِيَنِّي بِسُلْطَانٍ مُّبِينٍ ۝٢١ فَمَكَثَ غَيْرَ بَعِيدٍ

سخته سزا یا به یې ذبحه کړم یا به را وړي ماته څه دلیل واضحه ، بیا دیر وخت نه وو سوی چې راغی

فَقَالَ أَحَطتُ بِمَا لَمْ تُحِطْ بِهِ وَجِئْتُكَ مِن سَبَإٍ بِنَبَإٍ يَقِينٍ ۝٢٢ إِنِّي وَجَدتُّ امْرَأَةً تَمْلِكُهُمْ

نو وې ویل ما او ړې دی خبر دیوشي چې تاته یې خبر نه وو اوراغلم تاته دسبا څخه په یو خبر حقیقي، ما بیا پیدا کړه یوه ښځه چې په

وَأُوتِيَتْ مِن كُلِّ شَيْءٍ وَلَهَا عَرْشٌ عَظِيمٌ ۝٢٣ وَجَدتُّهَا وَقَوْمَهَا يَسْجُدُونَ لِلشَّمْسِ

دوی باندې باچاهي کوي او دی ته هرشي ورکړل سوی دی او دهغه یو لوی تخت دی بیامې پیدا کړه هغه او قوم دهغه چې سجده

مِن دُونِ اللَّهِ وَزَيَّنَ لَهُمُ الشَّيْطَانُ أَعْمَالَهُمْ فَصَدَّهُمْ عَنِ السَّبِيلِ فَهُمْ لَا يَهْتَدُونَ ۝٢٤

کوي لمرته دالله څخه ماسوا او ښائسته ښکاره کړي دي دوی ته شیطان کارد دوی نو منع کړي یې دي دوی دلاري څخه نو دوی لار

أَلَّا يَسْجُدُوا لِلَّهِ الَّذِي يُخْرِجُ الْخَبْءَ فِي السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضِ وَيَعْلَمُ مَا تُخْفُونَ وَ

نه کړه پیدا ، ولې نه کوی سجده الله ته کوم چې راوباسي پټ شیان په آسمانو کې او په مځکو کې او پوهیږي په هغه څه چې تاسې

مَا تُعْلِنُونَ ۝٢٥ اللَّهُ لَا إِلَٰهَ إِلَّا هُوَ رَبُّ الْعَرْشِ الْعَظِيمِ ۩ ۝٢٦ قَالَ سَنَنظُرُ أَصَدَقْتَ أَمْ كُنتَ مِنَ الْكَاذِبِينَ ۝٢٧

یې پټوی او ښکاره کوی ، الله دی چې نسته دعبادت لائق مګر هغه دی پروردګار دلوی تخت سلیمان وویل مونږ ګورو چې تا رښتیا وویل او که ته دروا غجن یې .

اذْهَب بِّكِتَابِي هَٰذَا فَأَلْقِهْ إِلَيْهِمْ ثُمَّ تَوَلَّ عَنْهُمْ فَانظُرْ مَاذَا يَرْجِعُونَ ۝٢٨

یو سه زما دا خط وې غورځوه دوی ته بیا دهغوی څخه بیرته را څه بیا ګوره چې هغوی څه جواب کوی ؟

تفسیر: «او یو وار داسې قصه وسوه چې» سلیمان ﷺ دمارغانو حاضري واخسته نو «هدهد یې ونه لیدی» وې فرمایل چې څه خبره ده چې زه هدهد نه وینم آیا چیرې غائب سوی دی ؟ «او کله چې معلومه سوه چې په واقع کې غائب دی نو وې فرمایل چې» زه به ده ته «په غیر حاضری» سخته سزا ورکړم یا به دی ذبحه

کړم یابه هغه څه صفادلیل (اوډغیرحاضری عذر) ماته پیش کی (نوخیربیابه یی پریږدم) لږوخت وروسته هغه راغی اوسلیمان (علیه السلام) ته یی وویل چی داسی خبره می معلومه کړه راغلم کومه چی تاته معلومه سوی نه ده او (اجمالی بیان دهغه دا دی چی) ماتاته دسبا دقبیلی یو پوخ خبر راوړی دی (تفصیلی بیان یی دا دی چی) مایوه ښځه ولیده چی هغه پرهغو خلقو بادشاهی کوی او هغه ته (دبادشاهی دلوازموڅخه) هرقسم اسباب حاصل دی او دهغه سره یو لوی تخت دی (او مذهبی حالت دهغوی دا دی چی) مادا (ښځه) او ددی قوم ولیدل چی هغوی (د) خدای (عبادت) پرېښی دی لمر ته سجدی کوی او شیطان د دوی عملونه (دکفر) د دوی په نظر کی ښه ښکاره کړی دی (او ددی عملونو دښائسته کولو په سبب یی) دوی دلاری (حقی) څخه منع کړی دی ، په دی وجه دوی پر (حقه) لاره نه ځی چی هغه خدای ته سجده نه کوی کوم چی (داسی قدرت والا دی چی) دآسمانونو اومځکو پټ شیان (چی په دی کی باران او دمځکی درختی بوټی هم دی) دباندی راباسی او (داسی پوهیدونکی دی چی) تاسی خلق (یعنی ټول مخلوقات) چی څه (په زړه کی) پټ ساتی او څه چی (په ژبه او دبدن په اندامونو) ظاهر وی هغه ټوله پیژنی (په دی وجه) الله ﷻ داسی دی چی دهغه څخه ماسوا بل څوك دعبادت لائق نسته او هغه دعظیم عرش مالك دی سلیمان (علیه السلام) چی دا واوریدل نو وي فرمایل چی مونږ اوس ګورو چی ته رښتیا وایی یاته په درواغ یی (ښه ده) ته زمادا خط واخله ولاړسه او دا هغوی ته وغورځوه بیا (لږ دهغه ځای څخه) لیری سه بیاوګوره چی په خپل مینځ کی څه سوال جواب کوی (بیا خو دلته راسه ، دغه خلق چی څه کار وایی وکی په هغه سره به ستا رښتیا او درواغ معلوم سی)

معلومات اومسئلې : وَتَفَقَّدَ الطَّيْرَ دتفقدلفظی ' معنی دیومجمع متعلق دحاضر اوغیر حاضر تحقیق کول دی، په دی وجه ددی معنی په خبر اخستو او نګرانی کولوسره کول کیږی . حضرت سلیمان (علیه السلام) ته الله ﷻ د انسانانو څخه علاوه پرپیریانو ځاروو اومرغانو هم حکومت ورکړی وو، اولکه څنګه چی دحکمرانی اصول دی درعیت دهری طبقی نګرانی او خبر اخستل دحاکم په فرائضوکی دی . ددی مطابق په دی آیت کی بیان فرمایی : وَتَفَقَّدَ الطَّيْرَ، یعنی حضرت سلیمان (علیه السلام) دخپل رعیت دمرغانو معائنه وفرمایله او دایی وکتل چی په دوی کی څوك حاضر دی څوك غیر حاضر . دنبی کریم ﷺ هم عادت شریف وو چی د اصحابو کرامو دحالاتو څخه به یی دځان خبر ساتلو اهتمام فرمایی کوم سړی چی به غیر حاضروو که بیمار به وو نو دپوښتنی کولو دپاره به یی تشریف یووړی او دبیماری پوښتنه به یی وفرمایله اوکه څه تکلیف به وو ورته نو دهغه دپاره به یی مناسب تدبیر وفرمایه .

(حاکم ته دخپل رعیت عالمانو مشائخو دخپلو شاګردانو او مریدانو خبر اخستل ضروری دی)

د ذکر سوی آیت څخه ثابته سوه چی حضرت سلیمان (علیه السلام) دخپل رعیت پرهره طبقه نظر ساتی او د دوی دحالاتو څخه به باخبره وو چی هُدهُد (ملاچرګك) کوم چی په مرغانو کی کوچنی هم دی اوکمزوری اوشمار یی هم په دنیا کی په نسبت دنورو مرغانو لږ دی ، هغه هم دحضرت سلیمان (علیه السلام) دنظرڅخه پناه نه سو، بلکی خاص دهُدهُد متعلق چی کوم پوښتنه دوی وفرمایله، ددی یوه وجه داهم کیدای سی چی دی په تولی

دمرغانوکی په کم شمیر او کمزوری دی ، په دی وجه دخپل رعیت پرکمزوری باندی دنظر ساتلو یی زیات اهتمام وفرمایی . په صحابه کرامو کی حضرت فاروق اعظم ﷺ په خپله زمانه دخلافت کی د انبیاء دا سنت په پوره شان سره جاری کړل ، دشپی به دمدینی منوری په کوڅو کی ګرځیدی چی دټولو خلقو دحالاتو څخه خبرسی کوم سړی چی به یی په څه مصیبت او تکلیف کی اخته ولیدی ، دهغه امداد به یی فرمایه . داسی ډیر واقعات د دوی په سیرت کی ذکر دی ، هغه به فرمایل چی که دفرات د دریاب په غاړه یو شرمښ دبزی بچی وخوری نو دهغه به هم دعمر څخه پوښتنه کیږی (قرطبی)

دا وو دحکمرانی هغه اصول کوم چی انبیاء علیهم السلام خلقو ته وښودل او اصحابو کرامو دا عملاً جاری کړل ، وي ښودل او دکومو په نتیجه کی چی پوره مسلمان او غیرمسلم رعیت په امن او اطمینان سره ژوند تیروی ، او ددې څخه وروسته مځکی او آسمان داسی عدل او انصاف او دعامی دنیا د امن اوسکون او اطمینان دا منظر ونه لیدی .

مَالِيَ لَآأَرَى الْهُدْهُدَ اَمْ كَانَ مِنَ الْغَائِبِينَ " حضرت سلیمان ﷺ وفرمایل چی ماته څه سوی دی چی زه هدهد په مجمع کی نه وینم ؟

(دخپل نفس محاسبه)

دلته موقع خو ددی فرمایلو وه چی په هدهد څه سوی دی چی په مجمع کی حاضرنه دی ، عنوان یی شاید په دی وجه بدل کی چی دهدهد او ټولو مرغانو مسخرکیدل دالله ﷻ یوخاص انعام وو . دهدهد په غیر حاضری باندی یی مځکی دا ډیره په زړه کی پیدا سوه چی شاید زمایه څه قصور سره په دی نعمت کي کمی راغی چی یو قسم دمرغانو یعنی هدهد غائب سو . په دی وجه دخپل نفس څخه یی پوښتنه وکړه چی داسی ولی وسوه ، لکه چی دصوفیانو مشائخو کرامو معمول دی چی کله د دوی په څه نعمت کی کمی راسی یاڅه تکلیف اوپریشانی ورته پیښه سی ، نو دهغه دلیری کولو دپاره دمادی اسبابو طرف ته دتوجه کولو څخه مخکی دخپل نفس محاسبه کوی چی زمونږ څخه دالله ﷻ دشکرادا کولو په حق کی کومه کوتاهی وسوه چی دهغه په سبب دا نعمت زمونږ څخه واخستل سو .

قرطبی دلته په حواله د ابن عربی ددغو بزرګانو دا حال نقل کړی دی : اِذَا فَقَدُوْا اٰمَالَهُمْ تَفَقَّدُوْا اَعْمَالَهُمْ، یعنی دی حضراتو ته چی به هرکله په خپل مراد کی ناکامی وسوه نو دوی به دخپلو عملونو محاسبه کوله چی زمونږ څخه څه قصور وسو ؟

دنفس ددی ابتدایی محاسبی اوفکرڅخه وروسته فرمایی . اَمْ كَانَ مِنَ الْغَائِبِينَ، دلته حرف د ، اَمْ، په معنٰی د ، بَلْ دی (قرطبی) معنٰی دا ده چی داخبره نه ده چی دهدهد په لیدو کی زمانظر خطاسو ، بلکی هغه حاضرنه دی.

(په مرغانو کي دهدهد دتخصیص وجه اویو اهم عبرت)

دحضرت عبدالله ابن عباس ﷺ څخه پوښتنه وسوه چی په ټولومرغانوکی دهدهد دتفتیش څه وجه پیښه سوه نو دوی وفرمایل چی حضرت سلیمان ﷺ پر یو داسی مځکه باندی قیام وفرمایی کوم ځای چی اوبه

نه وی او الله ﷻ هدهد ته دا خاصیت ورکړی دی چی دی دمځکی دننه شیان او په مځکه کی دننه پهیدونکی چینی وینی ، مقصود دحضرت سلیمان ﷺ دا وو چی دهدهدځخه دا معلومه کړی چی په دی میدان کی اوبه څومره ژوری دی او دکوم ځای په کیندلو اوبه کافی ورکول کیږی . دهد هد ددی معلومولو څخه وروسته به دوی پیریانوته حکم ورکوی چی دلته مځکه وکینی او اوبه را وباسی دوی به ډیر ژر وکیندی اواوبه به یی را ویستلی . هدهد دخپل تیز نظر او بصیرت باوجود دښکاری په دام کی مبتلی ، په دی باندی حضرت ابن عباس ؓ فرمایلی دی .

لِفْ بَاوَقَالَ كَيْفَ يَرَى الْهُدْهُدُ بَاطِنَ الْأَرْضِ وَهُوَ لَا يَرَى الْفَخَّ حِيْنَ يَقَعُ فِيْهِ (قرطبی) پوهیدونکو په دی حقیقت پوه سی چی هدهد دمځکی لاندی شیان لیدی سی ، مګر دمځکی پرسر خپور دام دده دنظر څخه پټ سی په کوم کی چی دی ومبتلی . مقصد دا دی چی الله ﷻ کوم کاردتکلیف یاراحت دچادپاره مقررکړی وی ، نو تقدیرالهی نافذکیږی ، یوسړی په خپله پوه اوبصیرت یادزور اوزرو په طاقت دهغه څخه نه سی محفوظ کیدای

لَأُعَذِّبَنَّهُ عَذَابًا شَدِيدًا أَوْ لَأَذْبَحَنَّهُ ٠ د ابتدایی فکر څخه وروسته دا دحکیمانه سیاست مظاهره ده چی غیر حاضر ته سزا ورکړل سی .

(کوم حیوان چی په کار کي سستي وکي هغه ته درمیانه سزا ورکول جائز دی)

دحضرت سلیمان ﷺ دپاره الله ﷻ حیوان ته داسی سزاګانی ورکول حلال کړی وو لکه دعامو امتونو دپاره چی دحیوانانو ذبح کول او دغوښو او څرمنو څخه یی فائده اخستل اوس هم حلال دی ، دغه ډول چی ساتونکی څاروی ، غوا ، غویی ، خر ، اس ، اوښ ، وغیره په خپل کار کی سستی وکی نو هغه دمؤدب کولو دپاره په قدر دضرورت دوهلو درمیانه سزا اوس هم جائز ده ، نورو حیوانانو ته سزا ورکول زمونږ په شریعت کی منع دی (قرطبی)

أَوْ لَيَأْتِيَنِّي بِسُلْطَانٍ مُبِينٍ ٠ یعنی که هدهد دخپلی غیر حاضری څه واضح عذر پیش کړی نوهغه به ددی سزا څخه محفوظ سی ، په دی کی اشاره ده چی حاکم ته په کار دی چی دکومو خلقو څخه په کار کی څه قصور وسی دوی ته دعذر پیش کولو موقع ورکړی نو چی عذر صحیح ثابت سی بیا دی دا سزا معاف کړی .

أَحَطْتُ بِمَا لَمْ تُحِطْ بِهِ ٠ یعنی هدهد خپل عذر وښووی او وي ویل چی ماته هغه شی معلوم دی کوم چی تاته معلوم نه دی یعنی مایو داسی خبر راوړی دی ، دکوم چی تاته اول علم نه وو .

(انبیاء علیهم السلام عالم الغیب نه وی)

امام قرطبی فرمایی چی ددی څخه په واضح طور سره معلومه سوه چی انبیاء علیهم السلام عالم الغیب نه وی چی په هغه سره دوی ته دهر شی علم وسی .

وَجِئْتُكَ مِنْ سَبَإٍ بِنَبَإٍ يَقِينٍ ٠ سبا دیمن یو مشهور ښار چی یو نوم یی مآرب هم دی . ددی او دیمن ددار الحکومت صنعاء په مینځ کی د درو ورځو مسافت وو.

(آیا کشر سړی ته دا حق سته چې دخپل مشر په مخکې ووایي چې ما ته تر تا زیات علم دی ؟)

دهدهد د ذکر سوو خبرو څخه ځینو خلقو په دې دلیل نیولی دی چې یو شاګرد خپل استاد ته یا یو غیر عالم ته ویل کیږي چې ددې مسئلې علم ما ته ستا څخه زیات دی په دې شرط چې ده ته دهغه مسئلې په واقعي طور سره مکمل علم دنورو څخه زیات وي . مګر په روح المعاني کې فرمایي چې دخبرو دا طرز دخپلو مشائخو او مشرانو په مخکې د ادب څخه خلاف دی . ددې څخه ځان ساتل په کار دي او دهدهد دخبرې څخه پردې دلیل څکه نه سی نیول کیدی چې هغه دا خبره خپل ځان دسزا څخه دبچ کولو او دعذر قوي کولو دپاره ویلې ده چې دده دغیر حاضرۍ عذر په پوره شان سره دحضرت سلیمان ﷺ مخ ته راسی ، په داسې ضرورت کې که د ادب دلحاظ ساتلو سره سره څه خبره وسي نو باك نسته .

إِنِّي وَجَدْتُّ امْرَأَةً تَمْلِكُهُمْ ۔ یعنې ما یوه ښځه ولیده چې دسبا دقوم مالکه ده یعنې په دوی حکومت کوي . ددې ښځې یعنې دسباد ملکې نوم په تاریخ کې بلقیس بنت شراحیل ښوول سوی دی او په ځینو روایتونو کې دي چې ددې مور پیرۍ وه چې نوم یې ملعمه بنت شیصان ښوول سوي دی (روایت کړی دی وهیب بن جریر دخلیل ابن احمد څخه . قرطبي) او ددې نیکه هداهد دیمن دټول ملك یو عظیم الشان بادشاه وو چې په اولاد کې یې څلویښت زامن وه ، ټول په جمع بادشاهان سوي دي ددې پلار شراح دیوې پیرۍ ښځې سره نکاح کړې وه ، دهغه دنس څخه بلقیس پیدا سوه ، دپیرۍ سره دنکاح کولو مختلفي وجهې بیان سوي دي یوه دا ده چې ده به دخپل حکومت او سلطنت په غرور کې خلقو ته ویل چې په تاسې کې څوك زما کفونه دی ، په دې وجه زه نکاح نه کوم څکه چې بغیر په کفو کې نکاح زما خوښه نه ده ددې نتیجه دا سوه چې خلقو دده نکاح دیوې پیرۍ ښځې سره وکړه ، (قرطبي) شاید دا دهغه فخر او غرور نتیجه وه چې ده انسانان کوم چې دده کفو وه په حقیقت کې سپك او ذلیل وګڼل او خپل کفو یې ونه ګڼل نو قدرت دده نکاح دیوې داسې ښځې سره مقرره کړه کومه چې نه دده کفو وه او نه دده دجنس او قوم څخه وه .

(آیا دیو انسان نکاح دپیرۍ ښځې سره کېدای سي ؟)

په دې معامله کې ځینو خلقو خو په دې وجه شك کړی دی چې پیریان د انسان په شان دتوالد او تناسل اهل نه ګڼي . ابن عربي رحمه الله په خپل تفسیر کې فرمایي چې دا خیال باطل دی . په صحیح احادیثو سره په پیریانو کې توالد او تناسل او دسړي او ښځې هغه ټول خصوصیات کوم چې په انسانانو کې دي په پیریانو کې یې هم موجود کیدل ثابت دي .

دوهم سوال په شرعي حیثیت سره دی چې آیا د انسان دپیرۍ ښځې سره نکاح کول جائز کیدای سی ؟ په دې کې دفقهاوو اختلاف دی ، ډیر حضرات یې جائز ګڼي . ځیني یې دغیر جنس حیوانانو په شان دکیدو پربنا حرام ګڼي ددې مسئلې تفصیل په ، آکام المرجان في احکام الجان ، کې ذکر دی ، په دې کې ځیني داسې واقعات هم ذکر دي چې دمسلمان سړي سره دمسلماني پیرۍ نکاح سوي ده او اولاد یې ورڅخه هم وسو . دلته دا مسئله څکه دبحث زیاته قابله نه ده چې نکاح کوونکې دبلقیس پلار انسان وو . په دې وجه

بلقیس انسان مقررکیدای سی ، نو په دی وجه په ځینو روایتونو کی چی دحضرت سلیمان ﷺ دبلقیس سره نکاح کول ذکر دی . که دغه روایتونه صحیح وی نو هم ددی ځخه دپیری سره دنکاح کولو څه حکم نه ثابتیږی ، ځکه چی بلقیس په خپله پیری نه وو، که څه هم ددی مور پیری وه . والله تعالی اعلم ، او دحضرت سلیمان ﷺ دنکاح متعلق بیان به مخ ته راسی .

(آیا دیوی ښځي بادشاه کیدل یا دیو قوم مشره او امام کیدل جائز دی ؟)

په صحیح بخاری کی دحضرت ابن عباس ﷺ روایت دی چی نبی کریم ﷺ ته کله دا خبر ورسیدی چی دفارس خلقو دخپل ملك دبادشاه کسری لور خپله بادشاهه کړه نو حضور ﷺ وفرمایل . لَنْ يُّفْلِحَ قَوْمٌ وَلَّوْا اَمْرَهُمُ امْرَاَةً، یعنی هغه قوم به هیڅکله فلاح نه کی پیدا چی دخپل اقتدار مالکه یې ښځه جوړه کړه ، «فَاعْتَبِرُوا يَا أُولِي الْاَبْصَارِ» په دی وجه علماء د امت پردی متفق دی چی ښځی ته امامت او خلافت یاحکومت اوسلطنت نه سی سپارل کیدی بلکی دلمانځه دامامت په شان امامت کبری هم صرف دسړو سره لایق دی . پاته سوه بلقیس دسبا ملکه کیدل ، نو ددی ځخه څه شرعی حکم نه سی ثابتیدی ترڅو پوری چی دا ثابته نه سی چی حضرت سلیمان ﷺ ددی سره په خپله نکاح وکړه اوبیایی دا په حکومت او سلطنت بر قراره پرېښوولهٔ . او دا په یو صحیح روایت سره ثابته نهٔ ده ، پرکوم چی په شرعی احکامو کی هم څه اعتماد وسی .

وَاُوتِيَتْ مِنْ كُلِّ شَيْءٍ : مراد دا دی چی ټول ضروری اسباب کوم چی یو بادشاه او امیر ته په کار وی او دخپلی زمانی مطابق کیدای سی ، موجود وه . کوم شیان چی په هغه زمانه کی ایجاد سوی نه وه ، دهغه نه کیدل ددی آیت منافی نه دی .

وَلَهَا عَرْشٌ عَظِيمٌ : دعرش لفظی معنٰی دحکومت تخت دی ، دحضرت ابن عباس ﷺ ځخه په یو روایت کی دی چی دبلقیس دتخت اوږدوالی اتیا(۸۰) لاسه او پلنوالی څلویښت (۴۰) لاسه وو او لوړوالی دیرش (۳۰) لاسه وو کوم چی په ملغلرو ، سرو، یاقوت زبرجدو شنو سره پوښل سوی وو، پښی یی دملغلرو اوجواهراتو وی او پردی یی دوریښمو اوحریرو وی او دننه او دباندی په یو بل پسی په اوو(۷) جرنده سوو عمارتونو کی محفوظ وو .

وَجَدْتُّهَا وَقَوْمَهَا يَسْجُدُوْنَ لِلشَّمْسِ : معلومه سوه چی هغه قوم نجوم پرست وو او دلمر عبادت به یی کوی ، ځینی وایی چی دمجوسیانو ځخه وو ، کوم چی د اور او دهری رنا عبادت کوی (قرطبی)

د ، اَلَّا يَسْجُدُوْا تعلق د ، زَيَّنَ لَهُمُ الشَّيْطَانُ یا ، صَدَّهُمْ عَنِ السَّبِيلِ ، سره دی ، یعنی شیطان د دوی په ذهنونو کی دا کښېنولی وه چی الله ﷻ ته سجده نه کوی یایی دوی دحقی لاری ځخه داسی منع کړی وه چی دوی الله ﷻ ته سجده ونه کی .

(لیکل او خط هم په عامو معاملو کي شرعي حجت دی)

اِذْهَبْ بِّكِتَابِي هٰذَا : حضرت سلیمان ﷺ دسبادملکی په نوم خط لیږل پردی دحجت تمامولو دپاره کافی وګڼی او په دی یی عمل وفرمایی . ددی ځخه معلومه سوه چی په عامو معاملو کی لیکل او خط قابل

اعتبار ثبوت دی . فقهاؤ صرف په هغو موقعو کی خط کافی نه دی گڼلی کوم ځای چی دشرعی شهادت ضرورت دی ، ځکه چی دخط او ټیلیفون وغیره په ذریعه شاهدی نه سی اخستل کیدای . دشاهدی مدار پی دشاهد عدالت ته پرراتلو او بیان ورکولو ایښی دی چی په دی کی لوی حکمتونه دی . دا وجه ده چی نن صبا هم ددنیا په یو عدالت کی په خط او ټیلیفون باندی شاهدی اخستل کافی نه سی گڼلی .

(مشرکانو ته خط لیکل او دوی ته لیږل جائز دی)

دوهمه مسئله دحضرت سلیمان ﷺ ددی خط څخه دا ثابته سوه چی ددین دتبلیغ او د اسلام ددعوت دپاره مشرکانو او کفارو ته خطونه لیږل جائز دی دنبی کریم ﷺ څخه هم مختلفو کفارو ته خطونه لیږل په صحیح احادیثو سره ثابت دی .

(دانساني اخلاقو رعایت په هر مجلس کي په کار دی که څه هم هغه مجلس دکفارو ولي نه وي)

فَأَلْقِهِ إِلَيْهِمْ ثُمَّ تَوَلَّ عَنْهُمْ . حضرت سلیمان ﷺ دهدهد څخه دخط ورلو کار واخستی نو ده ته یی دمجلس آداب هم وښودل چی دسباملکی ته خط ورسوی نو هلته پر سربیره مه درېږه بلکی دهغه ځای څخه لږ پرځنگ سه کومه چی دعامو شاهی مجلسونو طریقه ده ، په دی کی دمعاشرت عام ادبونه او د انسانی اخلاقو دعامو مخلوقاتو سره مطلوب کیدل معلوم سو .

قَالَتْ يَا أَيُّهَا الْمَلَأُ إِنِّي أُلْقِيَ إِلَيَّ كِتَابٌ كَرِيمٌ ﴿٢٩﴾ إِنَّهُ مِن سُلَيْمَانَ

وېویل ای درباریانو ماته راغورځول سوی دی یو خط عزتمند ، دغه خط دی دسلیمان ﷺ دطرف څخه

وَإِنَّهُ بِسْمِ اللَّهِ الرَّحْمَٰنِ الرَّحِيمِ ﴿٣٠﴾ أَلَّا تَعْلُوا عَلَيَّ وَأْتُونِي مُسْلِمِينَ ﴿٣١﴾ قَالَتْ يَا أَيُّهَا

او هغه دا دی شروع کوم دالله په نامه سره چی بی حده مهربان نهایت رحم والا دی چی زور مه کوی زماپه مقابله کی او راسی ماته حکم منونکی وېویل ای ،

الْمَلَأُ أَفْتُونِي فِي أَمْرِي مَا كُنتُ قَاطِعَةً أَمْرًا حَتَّىٰ تَشْهَدُونِ ﴿٣٢﴾ قَالُوا نَحْنُ أُولُو قُوَّةٍ وَ

درباریانو امشوره راکی ماته زماپه کارکی زه نه طی کوم یو کارترهغه چی تاسی حاضر سی وېویل مونږ خلق زور آور یُو

أُولُو بَأْسٍ شَدِيدٍ وَالْأَمْرُ إِلَيْكِ فَانظُرِي مَاذَا تَأْمُرِينَ ﴿٣٣﴾ قَالَتْ إِنَّ الْمُلُوكَ إِذَا دَخَلُوا

اوسخت جنگ کوونکی یُو ، اوکار ستاپه اختیارکی دی پس ته وگوره چی څه حکم کوی ؟ وېویل بیشکه بادشاهان کله چی ننوزی ،

قَرْيَةً أَفْسَدُوهَا وَجَعَلُوا أَعِزَّةَ أَهْلِهَا أَذِلَّةً وَكَذَٰلِكَ يَفْعَلُونَ ﴿٣٤﴾ وَإِنِّي مُرْسِلَةٌ إِلَيْهِم

یو کلی ته ، خراب یی کړی او کړی دهغه ځای سردارانو بی عزته او هم داسی کوی ، او زه لیږم هغوی ته څه

بِهَدِيَّةٍ فَنٰظِرَةٌۢ بِمَ يَرْجِعُ الْمُرْسَلُوْنَ ﴿۳۵﴾ فَلَمَّا جَآءَ سُلَيْمٰنَ قَالَ اَتُمِدُّوْنَنِ بِمَالٍ

تحفه بیا ګورو چې څه جواب راوړي لیږل سوي پس چې راغلل سلیمان ته ده وویل آیا تاسې زمامدد کوئ په مال سره

فَمَآ اٰتٰىنِۦَ اللّٰهُ خَيْرٌ مِّمَّآ اٰتٰىكُمْ ۚ بَلْ اَنْتُمْ بِهَدِيَّتِكُمْ تَفْرَحُوْنَ ﴿۳۶﴾ اِرْجِعْ اِلَيْهِمْ

نو څه چې الله ماته راکړي دي غوره دي دهغه څخه چې تاسې له یې درکړي دي بلکه تاسې په خپله تحفه خوشحاله وسېږئ بېرته راسې دوي ته

فَلَنَاْتِيَنَّهُمْ بِجُنُوْدٍ لَّا قِبَلَ لَهُمْ بِهَا وَلَنُخْرِجَنَّهُمْ مِّنْهَآ اَذِلَّةً وَّهُمْ صٰغِرُوْنَ ﴿۳۷﴾

اوس مونږ رسو دوي ته دلښکرو سره چې مقابله یې نه سي کیدی د دوي څخه او وبه باسو دوي ددغه ځای څخه په بې عزتې او دوي به خوار وي .

لنډتفسیر: (حضرت سلیمان ﷺ دهدهد سره دا خبرې وکړې ، دبلقیس په نوم یې یوخط ولیکی چې مضمون یې مخ ته په قرآن کی ذکر دي راځي او هدهد ته یې حواله کی ، هغه دا خط په مخه کی وایې خستی ولاړی او یوازي یاپه مجلس کی یې بلقیس ته ورغورځوی) بلقیس (ووایه او خپل سردران یې دمشورې دپاره جمع کړل او) وې ویل ای د دربار خلقو ماته یوخط (چې مضمون یې ډېر) عزتمند (او عظیم الشان دی) راغورځول سوی دی (عظیم الشان یې ځکه وویل چې حاکمانه مضمون یې دی ، په کوم کی چې سره د انتهایي لنډوالی داعلی درجې بلاغت دی او) هغه دسلیمان (ﷺ) دطرف څخه دی او په دې کی دا (مضمون) دی (اول) بسم الله الرحمٰن الرحیم (او ددې څخه وروسته دا چې) تاسې خلق (یعني بلقیس او ټول ارکان دحکومت دکوم سره چې عوام هم ترلي دي) زماپه مقابله کی تکبر مه کوئ او ماته تابعداري کوونکي راسئ (مقصود ټولو ته دعوت ورکول دي او دې خلقو خو دسلیمان ﷺ حال یادمخکي څخه آوریدلی وو که څه هم سلیمان ﷺ دوي نه پیژندي او اکثره داسې کیږي چې لوی کوچنی نه پیژني او کوچني لوی نه پیژني او یا به یې دخط راتلو څخه وروسته تحقیق کړي وي او دخط په مضمون دخبرولو څخه وروسته) بلقیس (دا) وویل چې ای د دربار خلقو! تاسې ماته زماپه دې معامله کی رایه را کی (چې ماته دسلیمان ﷺ سره څه معامله په کارکول په کار دي) او زه (یوځای) دڅه خبرې قطعي فیصله نه کوم ترڅو پورې چې تاسې ماته موجود سوې نه یاست (اوپه دې کی شریك او مشیران نه یاست) هغو خلقو وویل چې مونږ (په خپل ذات سره هرډول حاضر یو که مقابله اوجنګ کول مصلحت وګڼل سي نو مونږ) لوی طاقتور اولوی جنګ کوونکي یو (او مخ ته اختیار ستادی وروسته ته (مصلحت ته) ګوره څه چې (تجویزکوئ او) حکم کوئ بلقیس وویل چې (زماپه نزدجنګ کول مصلحت نه دی ځکه چې سلیمان ﷺ بادشاه دی او) بادشاهان (داسې کوی قاعده یې ده چې هغوی) کله یو کلي ته (په مخالفانه طور سره) دا خل سي ، نوهغه تباه او برباد کی او دهغه په اوسیدونکو کی چې کوم عزتمند وي هغوی (دهغوی دزور کمولو دپاره) ذلیل (اوخوار) کړي او (که جنګ ورسره وسي نو ممکنه ده چې ده ته غلبه حاصله سي نوبیا) دا خلق به هم داسې کوي (نو بې ضرورته په پریشانۍ کی را

تلل دمصلحت څخه خلاف دی په دی وجه في الحال به جنګ کول ملتوی کړل سی) او (داسی مناسب ده چی) زه هغه خلقو ته څه ډالی (دیو سری په لاس) لیږم بیا ګورو چی هغه لیږل سوی (دهغه ځای څخه) څه (جواب) را وړی ؟ (هغه وخت به دوباره فکروسی ، چنانچی ډالی او تحفی تیاری سوی او قاصد واخستی روان سو) هرکله چی هغه قاصد سلیمان (ﷺ) ته ورسیدی (او تولی تحفی یی پیش کړی) نوسلیمان (ﷺ) وفرمایل آیاتاسی خلق (یعنی بلقیس او دبلقیس خلق) په مال سره زما امداد (کول) غواړی (په دی وجه مو ډالی را وړی) وروسته (پوه سی چی) الله ﷺ چی څه ماته را کړی دی ، هغه ددی څخه ډیر ښه دی کوم یی چی تاسی ته درکړی دی (ځکه چی ستاسی سره صرف دنیا ده او زماسره دین هم دی او دنیا هم ترتاسی زیاته ده په دی وجه زه ددی شیانو حریص نه یم) البته تاسی په خپلو درکړل سوو شیانو باندی فخر کوی (په دی وجه دا ډالی زمونږ څخه) تاسی (دا واخلی) هغو خلقو ته بیرته ولاړسی (که دوی اوس هم ایمان راوړی نو صحیح ده کنه نو) مونږ به پر هغو خلقو داسی فوجونه ورولیږو چی دوی به یی هیڅ مقابله ونه کړل سی او مونږ به دوی دهغه ځای څخه ذلیل کړی وباسو اودوی به (په ذلت سره دهمیشه دپاره) ماتحت (او رعیت) جوړ سی (داسی نه ده چی د ایستلو څخه وروسته به آزاد پریښودل سی چی کوم خوا غواړی ګرځی به بلکی همیشه به ذلت دهغوی دپاره لازمی سی)

معلومات اومسئلي : قَالَتْ يَاأَيُّهَاالْمَلَأُ إِنِّي أُلْقِيَ إِلَيَّ كِتَابٌ كَرِيمٌ ° دکریم لفظی معنی معزز مکرم ده او په محاوره کی یو خط ته معزز مکرم هلته ویل کیږی ، هرکله چی پرده مهر لګول سوی وی . په دی وجه په دی آیت کی د ، كِتٰبٌ كَرِيْمٌ، تفسیر حضرت ابن عباس ﷺ ، قتاده، زهیر وغیره په کتاب مختوم سره کړی دی . ددی څخه معلومه سوه چی حضرت سلیمان ﷺ پر خط خپل مهر لګولی وو . زمونږ نبی کریم ﷺ ته چی هرکله دعجمو دبادشاهانو دا عادت معلوم سو چی پرکوم خط مهر نه وی هغه نه وایی ، نونبی کریم ﷺ هم دبادشاهانو دخطونو دپاره مهر جوړ کی او قیصر او کسریٰ وغیره ته چی یی کوم خطونه ولیکل پر هغوی یی مهر ولګوی . ددی څخه معلومه سوه چی په خط مهر لګول دمکتوب الیه هم عزت دی او دخپل خط هم . نن صباخط په لفافه کی دبندولو عادت دی ، دا هم دمهر قائمقام دی . کوم ځای چی دمکتوب الیه عزت کول منظور وی . دښکاره خط لیږلو په لفافه کی بند لیږل اقرب الی السنة دی .

(دحضرت سلیمان ﷺ خط په کومه ژبه کي وو؟)

حضرت سلیمان ﷺ که څه هم عربی نه وو لیکن په عربی ژبه پوهیدل د دوی دپاره څه بعیده نه وه ، کله چی دوی دمرغانو په ژبه باندی پوهیدل اوعربی ژبه خوپه تولو ژبو کی افضله اوښه ده ، په دی وجه کیدای سی چی دحضرت سلیمان ﷺ خط په عربی ژبه کی لیکلی وی ، ځکه چی مکتوب الیه (بلقیس) عربی النسل وه هغې خط ووایه هم اوپه پوه هم سوه اوداهم ممکنه ده چی حضرت سلیمان ﷺ خط په خپله ژبه کی لیکلی وی اودبلقیس سره دحضرت سلیمان ﷺ دژبی ترجمان وی چی داخط یی ورته وایه اوپه پوه کړی یی وی. (روح)

(دخط ليکلو يوڅو آداب)

إِنَّهُ مِنْ سُلَيْمَانَ وَإِنَّهُ بِسْمِ اللَّهِ الرَّحْمَنِ الرَّحِيمِ (۳۰) " قرآن کريم دانسانی ژوندهيڅ ارخ داسی نه دی پريښی چی ښودنه يی نه وی په کی کړی دخط اوکتابت په ذريعه ديوبل سره خبری کول اوآوريدل هم دانسان په اهمو ضرورتونوکی داخل دی په دی سورة کی يی دحضرت سليمان ﷺ خط په نوم دبلقيس پوره په پوره نقل کړی دی دا ديو پيغمبر او رسول خط دی اوقرآن کريم داپه طور داستحسان نقل کړی دی . په دی وجه په دی خط کی چی کوم هدايتونه دخط اوکتابت په معامله کی ترلاسه کيږی ، هغه دمسلمانانو دپاره قابل اتباع دی.

(کاتب دی خپل نوم مخکي وليکي بيادمکتوب اليه)

دټولو څخه اول يو هدايت خو په دی خط کی دا دی چی خط حضرت سليمان ﷺ دخپل نوم څخه شروع کی دمکتوب اليه نوم يی څنګه وليکی دقرآن کريم په الفاظو کی دا ذکر نه دی ، مګر دومره خبره ددی څخه معلوميږی چی دخط ليکونکی دپاره دانبياء عليهم السلام سنت دا دی چی دټولو څخه مخکی خپل نوم وليکی ځکه چی په دی کی ډيری فائدی دی . مثلاً دخط ويلو څخه اول دمکتوب اليه په علم کی را تلل چی زه دچاخط وايم چی دی په دغه ماحول کی دخط مضمون ووايی او فکر پر وکی ، مخاطب ته دا تکليف تيرول ولوېږ نه چی دکاتب نوم په خط کی تلاش کړی چی دچاخط دی او دکوم ځای څخه راغلی دی دنبی کريم ﷺ چی څومره خطونه نقل او شائع سوی په دنياکی موجود دی ، په هغو ټولوکی هم دوی دا طريقه اختيار فرمايلی ده چی د ، مِنْ مُحَمَّدٍ عَبْدُ اللهِ وَرَسُوْلِهٖ. څخه يی شروع کړی دی .

دلته يوسوال داپيداکيدای سی چی کله يو لوی سړی خپل کوچنی ته خط ليکی نو په دی کی خو دخپل نوم پرمخکی کولو څه اشکال نسته ، ليکن چی کوچنی خپل پلار، استاذ، شيخ يابل مشرته خط ليکی نو په دی کی خپل نوم مخکی ليکل څه بی ادبی نه ده ؟ او ده ته داسی کول په کار دی اوکه نه دی؟ په دی معامله کی داصحابو کرامو عمل مختلف راغلی دی . اکثرو صحابه کرامو دسنت نبوی تابعداری پرادب باندی مقدم کړي ده . په خپله نبی کريم ﷺ ته چی يی کوم خطونه ليکلی دی ، په هغه کی يی خپل نوم مخکی ليکلی دی ، په روح المعانی کی يی دبحر محيط په حواله سره دحضرت انس ﷺ دا قول نقل کړی دی . مَا كَانَ اَحَدٌ اَعْظَمَ حُرْمَةً مِنْ رَّسُوْلِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَكَانَ اَصْحَابُهُ اِذَا كَتَبُوْا اِلَيْهِ كِتَابًا بَدَأُوْا بِاَنْفُسِهِمْ قُلْتُ وَكِتَابُ عَلَاءَ الْحَضْرَمِيِّ ﷺ يَشْهَدُ لَهُ عَلٰى مَا رُوِيَ .

دنبی کريم ﷺ څخه زيات خو يو سړی قابل تعظيم نسته ، مګر صحابه کرامو ﷺ چی به کله دوی ته خط ليکی نو دخپل نوم شروع به يي کوله او دحضرت علاء حضرمی ﷺ خط کوم چی دنبی کريم ﷺ په نوم مشهور دی ، هغه پردی شاهد دی .

البته په روح المعانی کی د ذکر سوو روايتونو نقل کولو څخه وروسته ليکلی دی چی دا ټول کلام په افضليت کی دی ، په جواز کی نه دی . که يو سړی دخپل نوم څخه دشروع کولو پرځای په آخر کی خپل نوم

ولیکی نو دا هم جائز دی ، دفقیه ابوالليث په بستان کی دی ، چی که یو سړی دمکتوب الیه دنوم څخه شروع وکی نو ددی په جواز کی دهیڅ خبره نسته ځکه چی په امت کی دا طریقه هم چلیږی هیڅ انکار نه دی پرکړی (روح المعانی اوقرطبی)

(دخط جواب ورکول هم دانبیاؤ سنت دی)

په تفسیر قرطبی کی دی چی کوم سړی ته دبل چا خط راسی نو دهغه دپاره مناسب ده چی جواب یی ورکی ځکه چی دغائب خط حاضر ته په منزله دسلام دی . په دی وجه دحضرت ابن عباس ﷺ څخه په یو روایت کی دی چی هغه به دخط جواب دسلام دجواب په شان واجب گڼی (قرطبی)

(په خطونو کی بسم الله لیکل)

دحضرت سلیمان ﷺ د ذکر سوی خط څخه دارنگه دنبی کریم ﷺ دټولو خطونو څخه یوه مسئله دا ثابته سوه چی دخط په شروع کی ، بسم الله الرحمٰن الرحیم لیکل دپیغمبرانو سنت دی . پاته سوه دا مسئله چی بسم الله به دخپل نوم څخه مخکی لیکی اوکه وروسته نو دنبی کریم ﷺ خطونه خو پردی شاهددی چی بسم الله دټولو څخه مخکی او بیا دکاتب نوم ، بیا دمکتوب الیه نوم دی ولیکل سی او په قرآن کریم کی چی کوم دحضرت سلیمان ﷺ نوم مخکی او بسم الله وروسته ذکر ده . ددی دظاهر څخه خو جواز ددی هم معلومیږی چی بسم الله دخپل نوم څخه وروسته ولیکل سی ، لیکن ابن ابی حاتم دیزید بن رومان څخه نقل کړی دی چی په اصل کی حضرت سلیمان ﷺ په خپل خط کی داسی لیکلی وو .

بِسْمِ اللهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ، مِنْ سُلَيْمٰنَ بْنِ دَاوُدَ اِلٰى بِلْقِيْسِ ابْنَةِ ذِىْ شَرَحْ وَقَوْمِهَا، اَنْ لَّا تَعْلُوْا الخ ،
بلقیس چی کله دا خط خپل قوم ته وروایه نوهغی دقوم دخبرولو دپاره دحضرت سلیمان ﷺ نوم اول ذکر کړی ، په قرآن کریم کی چی راغلی دی هغه دبلقیس قول دی ، په قرآن کریم کی ددې وضاحت نسته چی دحضرت سلیمان ﷺ په اصل کی خط کی بسم الله مخکی وه اوکه دحضرت سلیمان ﷺ نوم . پر لفافی سربیره لیکل سوی وی او دننه دبسم الله څخه شروع وی . بلقیس چی کله خپل قوم ته خط اورروی نو دحضرت سلیمان ﷺ نوم یی اول ذکر کی .

مسئله: دخط لیکلو سنت طریقه خو دا ده چی دهر خط په شروع کی بسم الله ولیکل سی . لیکن دقرآن او حدیث دنصونصو او اشارو څخه فقهاوو حضراتو دا قاعده کلیه لیکلی ده چی کوم ځای بسم الله یا دالله ﷻ څه نوم لیکل کیږی نوکه هغه ځای دکاغذ دبی ادبی څخه دمحفوظ کولو څه اهتمام نه وی ، بلکه دویلو څخه وروسته یی غورځوی نو پرداسی خطونو یا داسی شیانو دالله ﷻ نوم یابسم الله لیکل جائز نه دی چی دغه شان هغه دبی ادبی په گناه کی شریکیږی . نن صباچی عموماً یو بل ته خطونه لیکل کیږی دهغه حال هرچاته معلوم دی چی په نالیو او گنده ځایونو کی په نظر راځی . په دی وجه مناسب دا ده چی دسنتو د ادا کولو دپاره په ژبه بسم الله ووایی ، خط لیکل شروع کی او په خط کی ونه لیکی .

(داسي خط چي دقرآن آيت په کي ليکل سوی وی آيا د کافر مشرک په لاس کي ورکول جائز دی؟)

دا خط حضرت سليمان ﷺ بلقيس ته هغه وخت ليږلی دی چی هغه مسلمانه نه وه حال دا دی چی په دی خط کی بسم الله ليکل سوی وه ددی څخه معلومه سوه چی داسی کول جائز دی . نبی کريم ﷺ چی کوم خطونه دعجمو بادشاهانو ته ليکلی دی او هغوی مشرکان وه ، په هغوکی هم ځینی آيتونه دقرآن ليکل سوی وه . وجه په اصل کی دا ده چی قرآن کريم ديو کافر په لاس کی ورکول خو جائز نه دی ، ليکن داسی يو کتاب ياکاغذ چی ديو مضمون په ضمن کی په کښی دقرآن کريم يو آيت راغلی وی ، هغه ته په عرف کی قرآن نه ويل کيږی په دی وجه ددی حکم هم دقرآن حکم به نه وی ، دغه ديو کافر په لاس کی هم ورکول جائز دی او دبی او دسه په لاس کی هم (عالمگيری کتاب الحظر والاباحة)

(خط لنډ، جامع، بليغ او په مؤثر اندازکي ليکل په کار دی)

دحضرت سليمان ﷺ دی خط ته چی وکتل سی نو په څو کرښو کی تول مهم او ضروری مضامين هم جمع دی او دبلاغت اعلی معيار هم په کښی قائم دی ، دکافر په مقابله کی دخپل شاهانه شوکت اظهار په کښی هم دی . ددی سره دالله ﷻ دکمالی صفاتو بيان او د اسلام طرف ته دعوت هم دی ، او دلويی اوتکبر مذمت هم په حقيقت کی دا خط هم د اعجاز قرآنی يوه نمونه ده .

حضرت قتاده ﷺ فرمايی چی په خط ليکلو کی دټولو انبياوو سنت هم دغه دی چی په ليکلو کی اوږدوالی نه وی ، مگر څه ضروری مضمون په کښی پاته هم نه وی (روح)

(په مهمو کارونو کي مشوره کول سنت دی په دی کي دنورو دراي څخه فائده هم حاصليږی او دخلقو دزړه ساتنه په کي هم کيدای سي)

قَالَتْ يٰاَيُّهَا الْمَلَؤُا اَفْتُوْنِيْ فِيْٓ اَمْرِيْ مَا كُنْتُ قَاطِعَةً اَمْرًا حَتّٰى تَشْهَدُوْنِ ، اَفْتُوْنِيْ " دفتوی څخه مشتق دی چی معنی يی ده ديوې خاص مسئلې جواب ورکول دلته مشوره ورکول او دخپلی رايی ښکاره کول مراد دی بلقيس ته چی کله دحضرت سليمان ﷺ خط ورسيدی نو هغه خپل دحکومت ارکان جمع کړل ، ددی واقعی اظهار يی وکی او دهغوی څخه يی مشوره وغوښتله چی ماته څه کول په کار دی ؟ دی دهغوی درايی معلومولو څخه مخکی دهغوی دزړه ساتلو او همت زياتولو دپاره دا هم وويل چی ، زه ديوی معاملی فيصله بغير ستاسی څخه نه کوم ددی خبری نتيجه وه چی فوج او وزيرانو ددی په جواب کی دخپلی تياری سره دحکم منلو هر قسم قربانی پيش کړه . نَحْنُ اُولُوْا قُوَّةٍ وَّاُولُوْا بَاْسٍ شَدِيْدٍ وَّالْاَمْرُ اِلَيْكِ ، حضرت قتاده رحمه الله فرمايی چی مونږ ته دا بيان سوی دی چی دبلقيس دمجلس شوری ارکان دری سوه او ديارلس ۳۱۳ وه او په دوی کی هر يو سړی دلسو زرو کسانو امير او نمائنده وو (قرطبی)

ددی څخه معلومه سوه چی په مهمو کارونو کی دمشوری اخستو دستور پخوانی دی . اسلام مشوری ته خاص اهميت ورکی ، او دحکومت په کارو کوونکی يی دمشوری پابند کړل ، تر دی چی په خپله نبی کريم

ﷺ چي وحی به پر راتلی او آسمانی هدایتونه به ورته کیدل ، په دی وجه دوی ته دڅه رایی او مشوری په حقیقت کی ضرورت نه وو ، مگر د امت دپاره دسنت قائمولو په واسطه دوی ته هم دا حکم ورکول سوی وو . وَشَاوِرْهُمْ فِي الْأَمْرِ، یعنی ته په مهمو کارونو کی دصحابه کرامو سره مشوره کوه په دی کی دصحابه کرامو زړه ساتنه او عزت افزایی هم وه او آئنده راتلونکو عاملانو دحکومت ته ددی تاکید هم چی په مشوره باندی کار کوی .

(دحضرت سلیمان ؑ دخط په جواب کي دبلقيس ردِّ عمل)

دحکومت دمشرانو په مشوره کی دشریکولو او د دوی دتعاون دحاصلولو څخه وروسته بلقیس په خپله رایه قائمه کړه ، مطلب یی دا وو چی هغه دحضرت سلیمان ؑ امتحان واخلی او تحقیق وکی چی هغه واقعی دالله ﷻ رسول او نبی دی اوکوم حکم چی دی کوی هغه دالله ﷻ دحکمونو تعمیل دی اوکه دی دملك اخستو خواهشمند بادشاه دی ، ددی امتحان څخه ددی مقصد دا وو چی که واقعی هغه رسول او نبی وی نو چی حکم یی ومنل سی او مخالفت یی اختیار نه سی او که بادشاه وی او دملك اخستو په هوس کی مونږ خپل غلامان جوړول غواړی نو بیا به فکر وکو چی مقابله یی څنګه وکو . ددی امتحان طریقه هغې دا تجویز کړه چی سلیمان ؑ ته څه ډالۍ تحفی ولیږی که هغه تحفی واخستی او راضی سو نو دا به ددی نښانه وی چی دی بادشاه دی ، اوکه په واقع کی رسول او نبی وی نو هغه به د اسلام او ایمان څخه بغیر په څه شی راضی نه سی . دا مضمون ابن جریر په ډیرو سندونو سره دحضرت ابن عباس ؓ ، مجاهد ، ابن جریج ، ابن وهب څخه نقل کړی دی . ددی بیان په دی آیت کی دی .

وَإِنِّي مُرْسِلَةٌ إِلَيْهِمْ بِهَدِيَّةٍ فَنَاظِرَةٌ بِمَ يَرْجِعُ الْمُرْسَلُونَ " یعنی زه حضرت سلیمان ؑ او دده دحکومت ارکانو ته ډالۍ لیږم ، بیا گورو چی قاصد دا ډالۍ یو سی ولاړسی او هغه بیرته راسی او څه صورت حال بیانوی ؟

(دبلقيس دقاصدانو په دربارِ سليماني کي حاضري)

په تاریخی اسرائیلی روایتونو کی دبلقیس دطرف څخه دراتلونکو قاصدانو او تحفو لوی تفصیلات ذکر دی ، په دومره خبره باندی ټول روایتونه متفق دی چی په تحفه کی څه دسرو زرو خښتی وی ، څه جواهرات او یوسل ١٠٠ غلامان او یو سل ١٠٠ مینځی وی مگر مینځی یی دسرو په جامو او غلامان یی دښځو په جامو کی لیږلی وه او د دوی سره دبلقیس یو خط هم وو چی په هغه کی دحضرت سلیمان ؑ د امتحان دپاره څو سوالونه وه . دتحفو په انتخاب کی هم د دوی امتحان کول وو . حضرت سلیمان ؑ ته الله ﷻ ددغو تحفو تفصیلات ددی درسیدو څخه مخکی ښوولی وه حضرت سلیمان ؑ پیریانو ته حکم وکی چی د دربار څخه تر ډیرش میله مسافت پوری دسرو اوسپینو دخښتو فرش واچوی او په لاره باندی دواړو طرف ته نا اشنا عجیبه عجیبه ځاروی و دروی چی پردغه فرش باندی دسرو اوسپینو بولی او خوشایی کوی . دغه شان یی خپل دربار په خاص اهتمام سره ښائسته کی ، راسته او چپه طرف ته یی څلور څلور زره کرسی دسرو زرو یو طرف ته دعالمانو دپاره بل طرف ته دوزیرانو اوکار کوونکو دحکومت دپاره غوړول

سوی وی ، په جواهراتو یې ټول هال ښائسته کې . دبلقیس قاصدانو چې کله دسرو زرو پرخښتو ځاروی ولاړ ولیدل نو دخپلو تحفو څخه وشرمیدل . په ځینو روایتونو کې دي چې خپلې تحفې یې هلته وغورځولې ، بیاچې څومره مخ ته تلل دواړه طرف ته یې دحیواناتو اومرغانو صفونه ولیدل ، بیایې دپیریانو صفونه ولیدل ، نو ډیر رعب پرراغی مګرچې دربار ته ورسیدل اوحضرت سلیمان ﷺ په مخکې حاضر سو نو دوی ورسره ښه په ورین تندي ولیدل . د دوی دمېلمستیاعزت یې وکی ، مګر د دوی تحفې یې بیرته واستولې او دبلقیس دټولو سوالونو جوابونه یې ورکړل «ملخصًا از قرطبی»

﴿ دحضرت سلیمان ﷺ دطرف څخه دبلقیس دتحفو واپس کول ﴾

قَالَ اَتُمِدُّوْنَنِ بِمَالٍ فَمَا آتَانِیَ اللّٰهُ خَیْرٌ مِّمَّا آتَاكُمْ بَلْ اَنْتُمْ بِهَدِیَّتِكُمْ تَفْرَحُوْنَ ٭ یعنی هرکله چې دبلقیس قاصدانو ددې تحفې حضرت سلیمان ﷺ ته راوړې نو هغوی قاصدانو ته وفرمایل چې آیاتاسې په مال سره زما مدد کول غواړې ؟ ماته چې الله ﷻ کوم مال او دولت را کړی دی هغه ستاسې دمال او اسباب څخه ډیر زیات ښه دی په دې وجه زه دا دمال تحفې نه قبلوم ، دا بیرته یو سې او په خپلو تحفو تاسې خو شحاله اوسیږی .

﴿ دیو کافر تحفه قبلول جائز دي او که نه ؟ ددې تفصیل او تحقیق ﴾

حضرت سلیمان ﷺ دبلقیس تحفه قبوله نه کړه ددې څخه معلومیږی چې دکافر تحفه قبلول جائز نه دي یانبه نه دي . او تحقیق په دې مسئله کې دا دی چې دکافر په تحفه قبلولو کې که په خپله یا دمسلمانانو په څه مصلحت کې خلل راتلې یا د دوی په حق کې درایې کمزوری راتله نو دهغوی تحفه قبلول جائز نه دي «روح المعاني» البته که څه دیني مصلحت په دې تحفه قبلولو کې وی ، مثلاً ددې په ذریعه دکافر مانوسه کیدو ، اسلام ته دنژ دې راتلو ، بیا دمسلمانیدو امیدوی ، یا دده څه شر او فساد ددې په ذریعه دفع کیدای سی نو دقبلولو ګنجائش یې سته . دنبي کریم ﷺ سنت په دې معامله کې دا پاته سوی دی چې دځینو کفارو تحفې یې قبولې کړې ، دځینو یې رد کړې ، په عمدة القاری شرح بخاری کتاب الهبه کې اوپه شرح سیر کبیر کې دحضرت کعب بن مالك ﷺ څخه روایت دی . دحضرت براء ﷺ وررور عامربن مالك مدیني طبیبي ته په څه ضرورت سره راغی او حال دا دی چې هغه مشرك کافر وو او دنبي کریم ﷺ په خدمت کې یې دوه اسونه او دوی جوړی کپړې دتحفې په طور پیش کړې نبي کریم ﷺ دهغه تحفې ته دا وفرمایل واپس یې کړه چې مونږ دمشرك تحفه نه سو قبلولی . او عیاض بن حمار مجاشعي دحضور ﷺ په خدمت کې یوه تحفه پیش کړه ، نو حضور ﷺ ورڅخه پوښتنه وکړه چې آیاته مسلمان یې ؟ هغه وویل چې نه ؛ نو دوی دهغه تحفه هم ددې وینا سره واپس کړه چې زه الله ﷻ دمشرکانو دتحفې اخستو څخه منع کړی یم . ددې په مقابله کې داسې روایتونه هم موجود دي ، چې نبي کریم ﷺ دځینو مشرکانو تحفې قبولې کړې دي ، په یو روایت کې دي چې ابو سفیان دشرك په حالت کې دوی ته یوه چمړه په تحفه کې ولیږله ، دوی قبوله کړه او یو نصرانی یوه دوریښمو بریښنډونکی کپړه په تحفه کې پیش کړه او حضور ﷺ قبوله کړه .

شمس الائمة ددې روایتونو نقل کولو څخه وروسته فرمایي چې زماپه نزد سبب دا وو چې نبي کریم ﷺ ته

دخپنو په تحفه رد کولو کی دهغوی د اسلام طرف ته دمائل کیدو امیدوو ، هلته یی ردکړه ، او دخپنو په تحفه قبلولو کی دهغوی دمسلمانیدو امیدوو نو قبوله یی کړه (از عمدة القاری کتاب الهبة)

او بلقیس چی کوم رد کول دتحفی دنبی کیدو نښانه مقرره کړه ، ددی سبب دا نه وو چی دنبی دپاره دمشرك تحفه قبلول جائز نه دی ، بلکه سبب دا وو چی دی خپله تحفه په حقیقت کی درشوت په حیثیت سره لیږلی وه ، چی ددی په ذریعه دا دحضرت سلیمان ﷺ دحملی څخه محفوظه پاته سی .

قَالَ يَٰٓأَيُّهَا ٱلْمَلَؤُا۟ أَيُّكُمْ يَأْتِينِى بِعَرْشِهَا قَبْلَ أَن يَأْتُونِى مُسْلِمِينَ ﴿٣٨﴾ قَالَ عِفْرِيتٌ

وې ویل ای درباریانو په تاسی کی څوک دی چی راوړی ماته دهغه تخت ددې څخه مخکې چی هغه ماته راسی حکم منونکی

مِّنَ ٱلْجِنِّ أَنَا۠ ءَاتِيكَ بِهِۦ قَبْلَ أَن تَقُومَ مِن مَّقَامِكَ ۖ وَإِنِّى عَلَيْهِ لَقَوِىٌّ أَمِينٌ ﴿٣٩﴾ قَالَ

وویل یو دیب دپیریانو څخه زه به راوړم تاته هغه مخکې ددې څخه چی ته پورته سی دځپل ځای څخه اوزه په دی زوراوریم معتبر

ٱلَّذِى عِندَهُۥ عِلْمٌ مِّنَ ٱلْكِتَٰبِ أَنَا۠ ءَاتِيكَ بِهِۦ قَبْلَ أَن يَرْتَدَّ إِلَيْكَ طَرْفُكَ ۚ فَلَمَّا رَءَاهُ مُسْتَقِرًّا عِندَهُۥ

وویل هغه سړی دچا سره چی وو یو علم دکتاب زه به را وړم تا ته هغه مخکې ددې څخه چی بیرته راسی تاته ستا نظر نو هر کله چی بی ولیدی هغه پروت په خپله خوا کی ،

قَالَ هَٰذَا مِن فَضْلِ رَبِّى لِيَبْلُوَنِىٓ ءَأَشْكُرُ أَمْ أَكْفُرُ ۖ وَمَن شَكَرَ فَإِنَّمَا يَشْكُرُ لِنَفْسِهِۦ ۖ

وې ویل ، دا زما درب فضل دی ، چی ازمائش وکړی زما چی زه شکر کوم اوکه ناشکری ، اوڅوک چی شکر کوی دخان دپاره ،

وَمَن كَفَرَ فَإِنَّ رَبِّى غَنِىٌّ كَرِيمٌ ﴿٤٠﴾ قَالَ نَكِّرُوا۟ لَهَا عَرْشَهَا نَنظُرْ أَتَهْتَدِىٓ أَمْ تَكُونُ

او څوک چی ناشکری وکی پس زما رب بی حاجته دی کرم وا لا ، وې ویل شکل بدل کی وښایاست دغه ښځی ته تخت دهغه مونږ گورو چی هغه پوهیږي یا کیږی .

مِنَ ٱلَّذِينَ لَا يَهْتَدُونَ ﴿٤١﴾

دهغو خلقو څخه چی نه پوهیږي .

تفسیر: (غرض دا دی چی هغه قاصدانو خپلی تحفی واخستی بیرته ولاړه او ټوله قصه یی بلقیس ته بیان کړه نو دحالاتو څخه دی ته دحضرت سلیمان ﷺ دعلم او نبوت دکمالاتو یقین وسو او دحاضریدو په اراده دخپل ملك څخه راروانه سوه) سلیمان (ﷺ) ته په وحی سره یادمرغه (وغیره په ذریعه ددی را تلل معلوم سول نو دوی خپلو درباریانو ته) وفرمایل چی ای د دربارخلقو! په تاسی کی څوک داسی سته چی دهغې (بلقیس) تخت مخکی ددی څخه چی هغه خلق ماته فرمانبردار راسی حاضر کړی (دمسلمین قید

دواقعي د اظهار دپاره دی ، ځکه چې دغه خلق په دې قصد سره را تلل ، دتخت را غوښتل غالبًا په دې غرض سره دې چې هغه خلق زما معجزه هم ووینی، ځکه چې دومره لوی تخت او بیا په دومره سختو پهره وکې په دې طور ناڅاپه را ورل چې څه اطلاع یې هم نه وی دبشری طاقت بیله خبره ده که دپیریانو په تسخیر سره وی ، بیا هم دپیریانو خودبخوده تابع کیدل یوه معجزه ده او که دیو ولی دأمت په ذریعه وی په کرامت سره نو دولی کرامت هم دنبی معجزه وی اوکه بغیر دڅه واسطی وی نو بیا خود معجزی کیدل ظاهره خبره ده.
په هرحال په هر طور سره دا معجزه او دنبوت دلیل دې په دې وجه مقصود به دا وی چې د اندرونی کمالاتو سره دا دمعجزی کمالات هم ووینی چې ایمان او اطمینان یې زیات راسی) یو قوی وجودی پیری (په جواب کې) عرض وکی چې زه به دا ستاپه خدمت کې حاضرکرم، مخکې ددې څخه چې ته دخپل اجلاس څخه پورته سې او (که څه هم چې هغه ډیر درونډ دې مګر) زه یې (په راوړلو) طاقت لرم (اوکه څه هم ډیر قیمتی او په ملغلرو سره پوښلی دی ، مګر زه) امانت داریم (په هغه کې به هیڅ خیانت نه کوم) دچاسره چې دکتاب (الهی یعنی دتورات یادبل وحی سوی کتاب چې دالله ﷻ دنوموړنو تاثیرات په کښی وه دهغه) علم وو (نژدی خبره دا ده چې دا په خپله حضرت سلیمان ؑ ورڅخه مراد دی غرض دا چې) هغه (علم والاهغه پیری ته) وویل چې (بس په تاکې خو دومره قوت دی او) زه به دا ستا په مخکې ستا دسترګو درپولو څخه راحاضرکرم (ځکه چې دمعجزی په طاقت سره به یې راوړم ، چنانچې دغه شان دوی الله ﷻ ته دعا وکړه یادالله ﷻ دیو نوم په ذریعه سره تخت فوراً په مخکې موجود سو) هرکله چې سلیمان (ؑ) تخت په مخکې ولیدی نو (ډیر) شحاله سو او په طور دشکر یې) وې ویل چې دا زما دپروردګار یو فضل دی (چې زما په لاس بې دا معجزه ښکاره کړه) چې هغه زما آزمائش وکی چې زه شکر ادا کوم یا (خدای مه کړه) ناشکری کوم او ظاهره ده چې څوک شکر ادا کی ، هغه دخپل ځان دفائدی دپاره شکر کوی (دالله ﷻ هیڅ نفع نسته) او (دارنګه) کوم چې ناشکری کوی (هغه هم خپل نقصان کوی ، دالله ﷻ هیڅ نقصان نسته ځکه چې) زمارب غني دی کریم دی (ددې څخه وروسته) سلیمان (ؑ دبلقیس دعقل آزمایلو دپاره) حکم وکی چې ددې (دعقل دآزمائش) دپاره ددی دتخت صورت بدل کی (چې ددې ډیری طریقې کیدای سی مثلاً دملغلرو ځایونه بدل کی یا په یوه بله طریقه سره) مونږ ګورو چې دې ته یې پته لګیږی اوکه ددی شمیر په هغوکی دی کومو ته چې (دداسی خبرو) پته نه لګیږی (په اول صورت کې به معلومه سی چې داهوښیاره ده او دهوښیار څخه په حقه خبره دپوهیدو زیات امید وی او دی چې په حق پوه سی نو اثر یې هم ترلیری پوری رسیدی سی او په دوهم صورت کې به ددی څخه په حق دپوهیدو امید کم وی)

(معلومات اومسئلي : دبلقیس حاضري په دربار سليماني کي)

قرطبی دتاریخی روایتونو په حواله سره لیکلی دی چې دبلقیس قاصدان په بیره او رعب خورلو سره واپس سوه او دحضرت سلیمان ؑ دطرف څخه یې اعلان جنګ هغه ته ووایه نو بلقیس خپل قوم ته وویل چې مخکې هم زما دا خیال وو چې سلیمان ؑ ددنیا دبادشاهانو په شان بادشاه نه دی ، بلکې دالله ﷻ دطرف

شخه څه خاص منصب هم ده ته ورکول سوی دی او دالله ﷻ دنبی او رسول سره جنګ کول دالله ﷻ سره مقابله ده ، دکوم چی په مونږ کی طاقت نسته ، دا یی وویل او دحضرت سلیمان ﷺ په خدمت کی دحاضریدو تیاری یی شروع کړه دولس زره سرداران یی دخان سره واخستل چی ترهر یوه لاندی یو یو لك فوج وو حضرت سلیمان ﷺ ته الله ﷻ داسی رعب او جلال ورکړی وو چی د دوی په دربار کی به چا اوله خبره هم نه سوای کولی . یوه ورځ حضرت سلیمان ﷺ دلیری شخه دوړه پورته کیدل ولیدل ، نو دحاضرینو شخه یی پوښتنه وکړه چی دا څه دی ؟ خلقو جواب ورکی چی ای دخدای نبی ! ملکه بلقیس دخپلو ملګرو سره راروانه ده . په ځینو روایتونو کی دی چی دغه وخت هغه دحضرت سلیمان ﷺ د دربار شخه تقریبًا د دری میله په فاصله باندی وه . دغه وخت حضرت سلیمان ﷺ خپلو لښکرو ته خطاب وکی ، وي فرمایل .

يَاأَيُّهَا الْمَلَؤُا أَيُّكُمْ يَأْتِينِي بِعَرْشِهَا قَبْلَ أَنْ يَأْتُونِي مُسْلِمِينَ · حضرت سلیمان ﷺ ته چونکی دا اطلاع ورکول سوی وه چی بلقیس دده ددعوت شخه متاثره سوي ده او فرمانبرداره راروانه ده ، نو اراده یی وفرمایله چی هغه دشاهانه قوت او شوکت سره یوه پیغمبرانه معجزه هم ووینی نو دهغې په ایمان راوړلو کی به زیات مدد وکی . حضرت سلیمان ﷺ ته حق تعالی دجناتو دتسخیر عامه معجزه ورکړی وه ، شاید دالله ﷻ دطرف شخه ورته اشاره وسوه او دا اراده یی وفرمایله چی په یو ډول سره دبلقیس شاهی تخت دلته دهغې د را رسیدو شخه مخکی حاضر سی ، په دی وجه حاضرینو ته چی په هغوی کی پیریان هم وه ، ددی تخت دراوړلو خطاب وفرمایی او دهغه په ټول مال او دولت کی یی دشاهی تخت انتخاب شاید په دی وجه وکی چی دغه دهغه دټولو شخه زیات محفوظ شی وو کوم یی چی د اوو (۷) شاهی محلونو په مینځ کی په یو محفوظ محل کی دننه ځای پرځای کړی وو . ددی خپل خلق هم هلته نه سوای رسیدی . ددی بغیر دجرندی یا دروازی ماتیدو شخه منتقل کیدل او دومره لیری ځای ته رسیدل دحق تعالی شانه په قدرت کامله سره کیدای سی ، دا دهغې دپاره دحق تعالی په عظیم قدرت دیقین کولو دټولو شخه لویه ذریعه کیدای سوه ، ددی سره په دی هم یقین لازم وو چی حضرت سلیمان ﷺ ته دحق تعالی دطرف شخه یو خاص منصب حاصل دی چی د دوی په لاس داسی فوق العادت شیان ښکاره کیږی . (ذکره واختاره ابن جریر)

قَبْلَ أَنْ يَأْتُونِي مُسْلِمِينَ ، مُسْلِمِينَ دمُسْلِم جمع ده چی لغوی معنی یی تابع فرمان او فرمانبردار ده . دشریعت په اصطلاح کی مومن ته مسلم ویل کیږی دلته په قول د ابن عباس ﷺ لغوی معنی مراد ده یعنی فرمانبرداره ځکه چی دبلقیس ایمان راوړل دغه وخت ثابت نه دی بلکه هغه حضرت سلیمان ﷺ ته دحاضریدو اوځه خبرو کولو شخه وروسته مسلمانه سوه . لکه چی په خپله دقرآن کریم دراتلونکو الفاظو شخه ثابتیږی .

قَالَ الَّذِي عِنْدَهُ عِلْمٌ مِنَ الْكِتَابِ · یعنی وویل هغه سړی دچاسره چی علم وو دکتاب شخه . دا کوم سړی وو . ددی متعلق یو احتمال خو هغه دی کوم چی په لنډ تفسیر کی لیکل سوی دی ، چی په خپله حضرت سلیمان ﷺ ځینی مراد دی ، ځکه چی دکتاب الله دټولو شخه زیات علم دوی ته حاصل وو ، په دی صورت

کی دا ټوله معامله په طور دمعجزې وسوه ، او دا مقصود وو چې بلقیس پیغمبرانه معجزه ووینی او څه اشکال ورته په دې معامله کې پاته نه سی ، مګر دتفسیر د اکثرو امامانو قتاده وغیره څخه ابن جریرنقل کړې دی او قرطبی دا دجمهورو قول مقرر کړی دی چې دا یو سړی دحضرت سلیمان ﷺ په اصحابو کی وو ابن اسحاق دده نوم آصف بن برخیا ښوولی دی او دا چې دی دحضرت سلیمان ﷺ دوست وو او دځینو روایتونو په اعتبار سره دهغوی دعمه زوی هم وو، کوم ته چې د اسم اعظم علم وو . څکه چې دا څه بعیده نه ده چې حضرت سلیمان ﷺ مصلحت په دې کی لیدی چې دا عظیمه کارنامه دهغوی د امت دیو سړی په لاس وسی ، چې پر بلقیس نور زیات اثر لویږی . په دې وجه په خپله ددې عمل کولو پرځای یې خپلو اصحابو ته خطاب وفرمایه ، اَیُّکُمْ یَاْتِیْنِیْ، (کذافی فصوص الحکم) په دې صورت کی به دا واقعه دآصف بن برخیا کرامت وی .

(په معجزه او په کرامت کي فرق)

حقیقت دا دی چې لکه څنګه چې په معجزه کی دطبعی اسبابو دخل نه وی ، بلکه سیده په سیده دالله ﷻ فعل وی ، لکه چې په قرآن کریم کی فرمایی . وَمَارَمَیْتَ اِذْ رَمَیْتَ وَلٰکِنَّ اللّٰهَ رَمٰی، دغه ډول په کرامت کی هم دطبعی اسبابو څه دخل نه وی سیده په سیده دالله ﷻ دطرف څخه یو کار وسی . او معجزه او کرامت دواړه په خپله دمعجزې او کرامت دصاحب په اختیارکی نه وی . په دې دواړو کی فرق صرف دومره دی چې داسې څه خارق عادت کارکه دصاحب وحی په لاس وی ، نو معجزه ورته وایی او دغیر نبی په ذریعه چې یی ظهور وسی نو کرامت ورته وایی . په دې واقعه کی که دا روایت صحیح وی چې دا کار دحضرت سلیمان ﷺ په اصحابو کی دآصف بن برخیاپه لاسو وسو نو دهغه کرامت به ورته ویل کیږی او دهر ولی کمالات چونکی دهغه درسول او پیغمبر دکمالاتو عکس او دهغوی څخه مستفاد وی ، په دې وجه د امت د اولیاءُ الله په لاسو چې دځومره کرامتونو ظهور کیږی ، دا ټول درسول په معجزو کی شماریږی .

(دبلقیس دتخت واقعه کرامت وو که تصرف)

شیخ اکبر محی الدین ابن عربی رحمه الله دا دآصف بن برخیا تصرف مقرر کړی دی . تصرف په اصطلاح کی دخیال او نظر استعمالول او دحیرت انګیز کارکولو دپاره استعمالول کیږی ، دکوم دپاره چې نبی یا ولی بلکې مسلمانوالی هم شرط نه دی . دا دمسمریزم په شان یو عمل دی . صوفیایی کرامو دمریدانو د اصلاح دپاره کله کله دا استعمال کړی دی . ابن عربی رحمه الله فرمایی چې انبیاء چونکی دتصرف کولو څخه پرهیز کوی . په دې وجه حضرت سلیمان ﷺ دا کار دآصف بن برخیا څخه واخستی مګر قرآن کریم دی تصرف ته د . عِلْمٌ مِّنَ الْکِتٰبِ، نتیجه ښودلی ده ، ددې څخه ترجیح ددې خبرې کیږی چې دا دځه دعا یا د اسم اعظم اثر وو دکوم چې دتصرف سره هیڅ واسطه نسته ، دا دکرامت په مطلب کی دا خله ده .

پاته سوه دا شبهه چې دده دا ویل چې . اَنَا اٰتِیْکَ بِهٖ قَبْلَ اَنْ یَّرْتَدَّ اِلَیْکَ طَرْفُکَ ، یعنی زه به دا تخت دسترګو درپ څخه مخکی راوړم . دا نښانه ددې ده چې دا کار دده په قصد او اختیار سره وسو او دا نښانه دتصرف

ده . څکه چې کرامت دولي په اختيار کې نه وي ، نو دهغه دا جواب کيداى سي چې ممکنه ده الله ﷻ ده ته دا اطلاع کړې وي ، چې ته اراده وکړه نوموږ به دا کار دومره ژر وکو. دا تقرير دحضرت سيدي حکيم الامت مولانا اشرف علي تهانوی قدس سره دی کوم چې د احکام القرآن دسورة نمل دتفسير دليکلو په وخت کې حضرت ارشادفرمايلي وو . او دتصرف په حقيقت او ددې په احکامو باندې دحضرت يوه مستقله رساله په نوم د، التصرف، په عربي ژبه کې وه چې أردو ترجمه يې احقر ليکلې وه ، هغه جلا شائع سوې ده .

فَلَمَّا جَآءَتْ قِيْلَ أَهٰكَذَا عَرْشُكِ ۖ قَالَتْ كَأَنَّهُ هُوَ ۚ وَأُوْتِيْنَا الْعِلْمَ

بيا چې هرکله هغه راغله چاورته وويل آياداسې دی ستاتخت؟ وې ويل گوياداهغه دی اوموږته معلومه سوې ده ،

مِنْ قَبْلِهَا وَكُنَّا مُسْلِمِيْنَ ﴿۴۲﴾ وَصَدَّهَا مَا كَانَتْ تَّعْبُدُ مِنْ دُوْنِ اللّٰهِ ۖ

دمخکې څخه اوموږسوحکم منونکي،اومنع يې کړه دې دهغوشيانوڅخه دکوموچې يې عبادت کوې داالله څخه ماسوا

إِنَّهَا كَانَتْ مِنْ قَوْمٍ كٰفِرِيْنَ ﴿۴۳﴾ قِيْلَ لَهَا ادْخُلِي الصَّرْحَ ۚ فَلَمَّا رَأَتْهُ حَسِبَتْهُ

خامخاهغه وه دمنکروخلقوڅخه،چاورته وويل چې ننځه سه محل ته پس چې دې وليدې گمان يې پر وکې چې دا اوبه دې ژورې

لُجَّةً وَّكَشَفَتْ عَنْ سَاقَيْهَا ۚ قَالَ إِنَّهُ صَرْحٌ مُّمَرَّدٌ مِّنْ قَوَارِيْرَ ۗ قَالَتْ

اوبنکاره يې کړې خپلې پندې ، وې ويل چې دا خو محل دی چې را گرځول سوې ده باندې چيښه ، وې ويل

رَبِّ إِنِّيْ ظَلَمْتُ نَفْسِيْ وَأَسْلَمْتُ مَعَ سُلَيْمٰنَ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِيْنَ ﴿۴۴﴾

اې ربه ! ما ظلم کړې دی په خپل ځان او زه حکم منونکې سوم سره دسليمان داالله په مخکې چې رب دی دټول مخلوق.

لنډتفسير: (سليمان ﷺ دا ټول اسباب برابرکړي وه ، بيا بلقيس را ورسيده) وروسته هرکله چې بلقيس راغله نو دې ته (تخت وښودل سو) وويل سوه (برابره خبره ده که سليمان ﷺ ورته په خپله وويل يابل چا ورته وويل) چې آياستا تخت داسې دی ؟ هغه وويل چې هوا دی خو داسې (دبلقيس څخه په دې طور سره څکه پوښتنه وسوه چې هيئت خو يې بدل سوی وو او دخپل اصل په اعتبار سره خو هم هغه تخت وو اوصورت يې هغه نه وو، په دې وجه يې داسې ونه ويل چې آياداستاتخت دی ، بلکې داسې يې وويل چې ستا تخت داسې دی او بلقيس دا وپيژندی او په بدلولو يې هم پوه سوه ، په دې وجه جواب يې دسوال مطابق ورکې) او (دايې هم وويل چې) موږ خلقو ته خو ددې واقعې څخه مخکې (ستا دنبوت) تحقيق سوی دی او موږ (دهغه وخت څخه په زړه سره) تابعدار سوی يو (کله چې دقاصد څخه ستا کمالات معلوم سوي وو ددې معجزې څه دومره ضرورت نه وو) او (چونکې ددې معجزې څخه مخکې تصديق اواعتقاد کول

دکمالِ عقل دلیل دی ، په دی وجه الله ﷻ ددی دعاقلوالی تقریر فرمایی چی په واقع کی هغه پوه وه مگر ترخو ورځو پوری چی یی ایمان نه وو راوړی دهغه وجه دا ده چی» دا «دایمان راوړلو څخه» دغیر الله عبادت «دکوم چی دا عادت وه» منع کړی وه «او دغه عادت یی ځکه جوړسوی وو چی» هغه دکافرقوم څخه وه «وروسته چی دی تول لیدل ، نو دی هم هغه کول او قومی عادتونه اکثره د انسان په سوچ او پوه کی بندیز جوړیږی ، مگر چونکی دا هوښیاره وه په دی وجه کله چی به ورته خبر ورکړل سو نو پوه به سوه . ددی څخه وروسته سلیمان ﷺ دا وغوښتل چی علاوه دمعجزو او شان نبوت دښوولو څخه دی ته ظاهری شان دسلطنت هم وښودل سو ، چی خپل ځان ددنیا په اعتبار سره هم عظیم نه گڼی په دی وجه یوشیش محل یی جوړ کی ، په غولی کی یی حوض ورجوړ کی او د اوبو او دماهیو څخه یی ډك کی ، چیښه یی لوړه پرفیټ کړه او چیښه داسی شفافه وه چی ظاهر په نظرنه راتله او دغه حوض پرداسی موقع باندی وو چی دغه محل ته تلونکی به خامخا پردی پوری وتی ، چنانچی ددی ټول اسباب څخه وروسته» بلقیس ته وویل سوه چی دی محل ته دا خله سه «ممکنه ده چی دغه محل ددی دقیام دپاره تاکل سوی وی غرض دا چی دا روانه سوه په لاره کی حوض راغی» نوهرکله چی یی ددی غولی ولیدی نو دایی «د» اوبو «څخه ډك» وگڼی او «چونکی په قرینه سره یی گمان دپای آب پر وکی په دی وجه یی دپوری وتو دپاره لمن لوړه کړه او» خپلی دواړی پنډی یی ښکاره کړی «دغه وخت» سلیمان «ﷺ» وفرمایل چی دا خو محال دی کوم چی «تول غولی» دچیښو څخه جوړ سوی دی «او دا حوض هم په چیښه پټ سوی دی ، دلمنی پورته کولو ضرورت نسته دغه وخت» بلقیس «ته معلومه سوه چی دلته ددنیوی کاریگرو عجائبات هم داسی دی کوم چی ترننه پوری ما په سترگو نه دی لیدلی نو ددی په زړه کی په هر قسم سره دسلیمان ﷺ عظمت پیدا سو اوبی اختیاره یی» وویل چی ای زما پروردگاره ! ما «تر اوسه پوری» پرخپل نفس ظلم کړی وو «چی په شرك کی اخته وم» او زه «اوس» دسلیمان «ﷺ» سره «یعنی دده په طریقه» سوم ، په رب العلمین می ایمان راوړی .

﴿ معلومات او مسئلي : آیا بلقیس دحضرت سلیمان ﷺ په نکاح راغلي وه ؟ ﴾

په ذکرسوو آیتونو کی دبلقیس واقعه پردی ختمه سوه چی هغه حضرت سلیمان ﷺ ته حاضره سوه او په اسلام مشرفه سوه . ددی څخه وروسته څه حالات راپیښ سول ؟ قرآن کریم ددی څخه سکوت کړی دی . دا وجه ده چی هرکله یو سړی دعبدالله بن عیینه څخه پوښتنه وکړه ، چی آیاحضرت سلیمان ﷺ دبلقیس سره نکاح کړی وه ؟ نو هغه وفرمایل چی د دوی معامله پردی ختمه سوه . أَسْلَمْتُ مَعَ سُلَيْمَانَ لِلَّهِ رَبِّ الْعَالَمِينَ، مطلب دا وو چی قرآن تردی ځای پوری حال بیان کړی دی . ددی څخه وروسته حال ښوول یی قرآن پرېښی دی ، نو مونږ ته هم ددی په تفتیش کی دلگیدو ضرورت نسته . مگر ابن عساکر دحضرت عکرمه ﷺ څخه روایت کړی دی چی ددی څخه وروسته بلقیس دحضرت سلیمان ﷺ په نکاح سوه او دایی پخپل حکومت بر قراره وساتله ، یمن ته یی بیرته ولیږل ، په هره میاشت کی به حضرت سلیمان ﷺ هلته تشریف وړی او دری ورځی قیام به یی هلته کوی . حضرت سلیمان ﷺ ددی دپاره په یمن کی دری ښکلی محلات داسی

تیار کړی وه ، چې مثال او نظیر یې نه وو . والله سبحانه وتعالی اعلم .

وَلَقَدْ اَرْسَلْنَآ اِلٰى ثَمُوْدَ اَخَاهُمْ صٰلِحًا اَنِ اعْبُدُوا اللّٰهَ فَاِذَا هُمْ

او مونږ لیږلی وو ثمود طرف ته د دوی ورور صالح ﷺ ته چې بندګی کوئ د الله بیا هغه

فَرِيْقٰنِ يَخْتَصِمُوْنَ ﴿٤٥﴾ قَالَ يٰقَوْمِ لِمَ تَسْتَعْجِلُوْنَ بِالسَّيِّئَةِ قَبْلَ

دوه فرقې سول چنګ کوونکې ، وې ویل ای زما قومه ولې ژر غواړی بدی مخکې

الْحَسَنَةِ ۚ لَوْلَا تَسْتَغْفِرُوْنَ اللّٰهَ لَعَلَّكُمْ تُرْحَمُوْنَ ﴿٤٦﴾ قَالُوا اطَّيَّرْنَا بِكَ وَ

د نیکی څخه ولې بخښنه نه غواړی د الله ﷻ څخه شاید چې په تاسی رحم وسی ، وې ویل مونږ منحوس ګڼو تا

بِمَنْ مَّعَكَ ۚ قَالَ طٰٓئِرُكُمْ عِنْدَ اللّٰهِ بَلْ اَنْتُمْ قَوْمٌ تُفْتَنُوْنَ ﴿٤٧﴾ وَ

او ستا ملګرو ته وې ویل ستاسی بدقسمتی د الله سره ده ، بلکه تاسی په آزمائش کی غورځول سوی یاست ،

كَانَ فِى الْمَدِيْنَةِ تِسْعَةُ رَهْطٍ يُّفْسِدُوْنَ فِى الْاَرْضِ وَلَا يُصْلِحُوْنَ ﴿٤٨﴾

او وو په دغه ښار کی نه (۹) سړی چې خرابی به یې کوله په ملک کی او اصلاح به یې نه کوی ،

قَالُوْا تَقَاسَمُوْا بِاللّٰهِ لَنُبَيِّتَنَّهٗ وَاَهْلَهٗ ثُمَّ لَنَقُوْلَنَّ لِوَلِيِّهٖ مَا شَهِدْنَا

وې ویل چې په خپل مینځ کی قسمونه واخلی په الله چې خامخا به د شپې ور ولوېږې په ده او په اهل د ده بیا به
ووایو د ده دعوی کونکو ته چې مونږ نه دی لیدلی .

مَهْلِكَ اَهْلِهٖ وَاِنَّا لَصٰدِقُوْنَ ﴿٤٩﴾ وَمَكَرُوْا مَكْرًا وَّمَكَرْنَا مَكْرًا وَّهُمْ

چې تباه سو د ده کور او مونږ بیشکه رښتنا وایو ، او جوړ کی دوی فریب او جوړ کی مونږ یو تدبیر او دوی

لَا يَشْعُرُوْنَ ﴿٥٠﴾ فَانْظُرْ كَيْفَ كَانَ عَاقِبَةُ مَكْرِهِمْ ۙ اَنَّا دَمَّرْنٰهُمْ وَقَوْمَهُمْ

خبر نه سول ، بیا وګوره چې څنګه سو انجام د دوی د فریب چې هلاک کړل مونږ دوی ته او د دوی قوم

اَجْمَعِيْنَ ﴿٥١﴾ فَتِلْكَ بُيُوْتُهُمْ خَاوِيَةً ۢ بِمَا ظَلَمُوْا ۗ اِنَّ فِىْ ذٰلِكَ لَاٰيَةً لِّقَوْمٍ

ټول ، پس دا ولویدی د دوی کورونه ډیران سوی ، په سبب د ظلم د دوی ، خامخا په دی کی
نښانی دی دهغو خلقو د پاره .

يَعۡلَمُونَ ۝ وَأَنجَيۡنَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ وَكَانُواْ يَتَّقُونَ ۝

چی پوهیږی ، او محفوظ کړل مونږ هغه چی ایمان یی راوړی وو او ځان یی ساتی (د ګناه څخه)

لنډتفسیر: او مونږ (قوم د) ثمود ته د دوی (دبرادری) ورور صالح (ﷺ پیغمبر جوړ کړی) ولیږی (دا پیغام مو ور کی) چی تاسی (شرك پریږدی) دالله عبادت کوی (په کار خو دا وه چی ټولو ایمان راوړی وای، مګر دتوقع څخه خلاف) ناڅاپه دوی دوه ډلی سوی کوم چی ددین په باره کی دیوبل سره جنګیدل (یعنی یوی فرقی ایمان راوړی او یوی ایمان را نه وړی او په دوی کی چی کومه جګړه او خبری وسوی ، ځینی یی په سورة اعراف کی ذکردی . قَالَ الۡمَلَأُ الَّذِينَ اسۡتَكۡبَرُوا مِنۡ قَوۡمِهِ لِلَّذِينَ اسۡتُضۡعِفُوا، او ځینی یی مخ ته راځی . قَالُوا اطَّيَّرۡنَا بِكَ الخ، اوکله چی دغه خلق پرکفر باندی ټینګ سول نو حضرت صالح ﷺ د انبیاء علیهم السلام دعادت موافق دوی دالله ﷻ دعذاب څخه بیرول ، لکه چی په سورة اعراف کی دی . فَيَأۡخُذَكُمۡ عَذَابٌ أَلِيمٌ، نوهغوی وویل چی هغه عذاب دی راوله کومه دی لکه چی په سورة اعراف کی دی . قَالُوا يَا صَالِحُ ائۡتِنَا بِمَا تَعِدُنَا إِنۡ كُنتَ مِنَ الۡمُرۡسَلِينَ، په دی خبره) صالح (ﷺ) وفرمایل چی ای وړونو تاسی دنیك کار (یعنی توبی او ایمان) څخه مخکی عذاب ولی ژر غواړی (یعنی په کار خو دا وه چی دعذاب وعده تاسی اوریدلی وای او ایمان مو را وړی وای نه داسی چی ایمان خو مو را نه وړی چیه ددغه عذاب غوښتنه مو شروع کړه، دبی باکی خبره ده، په ځای دژرغوښتو دعذاب) تاسی خلق دالله ﷻ په مخکی (دکفرڅخه) معافی ولی نه غواړی چی درحم توقع ورڅخه کیدای سی او په تاسی رحم وسی (یعنی دعذاب څخه محفوظ سی) هغوخلقو وویل چی مونږخو تااوستاملګری منحوس ګڼو (چی دکله څخه تادامذهب را ایستلی دی اوستا دا ډله پیداسوی ده ، په قوم کی نااتفاقی جوړه سوی ده او دنا اتفاقی چی کوم ضررونه او خرابی وی هغه ټولی مرتب سوی بس ددی ټولوخرابیو سبب تاسی خلق یاست) صالح (ﷺ په جواب کی) وفرمایل چی ستاسی (داد) بدبختی (سبب) دالله ﷻ په علم کی دی (یعنی ستاسی دکفر عملونه الله ﷻ ته معلوم دی ، دا خرابی پردی عملونو مرتب ده ، چنانچی ښکاره ده چی نااتفاقی مذمومه هغه ده کومه چی دحق په خلاف کولو سره وی نو دهغه الزام پرایماندارو نه سی راتلی ، بلکی پرکافرانو باندی وی او په ځینی تفسیرونوکی دی چی پردوی قحط راغلی وو اوستاسی دکفر ضررونه څه په دی شرونو باندی ختم نه سول بلکی تاسی هغه خلق یاست چی (ددی کفرپه وجه) په عذاب کی اخته سواست او (هسی خوکافران په دغه قوم کی ډیر وه ، لیکن غټ بې لاری) په دغه کلی (یعنی حجر) کی نهه ۹ سړی وه کومو چی په مځکه کی (یعنی دکلی څخه دباندی هم فسادکوی او (یوه ذره) اصلاح یی نه کوله (یعنی ځینی فساد کوونکی داسی وی چی څه فساد او اصلاح کوی ، مګر هغه داسی نه وه ، بلکی خالص مفسدان وه ، چنانچی یو وار یی دا فساد وکی چی) دوی (یو بل ته) وویل چی په خپل مینځ کی تول (په دی) دالله ﷻ قسم وکی چی مونږ به دشپی په وخت پرصالح او دده په متعلقینو (یعنی ایماندارو باندی) چاپه ووهو ، مره به یی کړو بیا (که دتحقیق نوبت راغی نو) مونږ به د

دوی وارثانو ته (کوم چې دخون دعوی وکی) ووایو چې د دوی دمتعلقینو (اوپه خپله دده) په مره کولو کې موجود (هم) نه وو (وژل خولا پرېږده) او (دتاکید دپاره به داهم ووایو چې) مونږ بالکل رښتینې یو (اولیدونکی شاهد خو به څوك وی نه ، بس خبره به دغسې پرځای پاته سی) او (دا مشوره یې وکړه) دوی یو پټ تدبیر وکی (چې دشپې په وخت کې ددی کار روایې دپاره ولاړل) او یوپټ تدبیر مونږ وکی او هغوی خبر هم نه سول (هغه دا چې دیو غر څخه پردوی تړه را ولویده او ټول تر لاندې سول یعنې مړه سول ، لکه په درمنثورکې داسې دی) پس وګوری چې د دوی دشرارت څه انجام سو چې مونږ دغه (په ذکرسوی طریقه) او (بیا) ددغو (باقي) قوم (په آسمانی عذاب سره) ټول هلاك کړل (چې قصه یې په نورو آیتونوکې ده . فَعَقَرُوا النَّاقَةَ (الی) فَاَخَذَتْهُمُ الرَّجْفَةُ، وَاَخَذَ الَّذِينَ ظَلَمُوا الصَّيْحَةُ) پس دا دهغوی کورونه دی کوم چې وران پراته دی ، ددغو دکفر په سبب سره (کوم چې دمکې خلقو ته دشام په سفر کې مخ ته راځی) بیشکه په دی (واقعه) کې لوی عبرت دی دهوښیارانو دپاره، او مونږ ایماندار او تقوی دار (دهغه قتل څخه هم دکوم چې مشوره سوی وه او دقهری عذاب څخه هم) محفوظ کړل .

معلومات اومسئلې : تِسْعَةُ رَهْطٍ، لفظ درَهْطُ دجماعت په معنی کې راځی ، دلته په نهو سرو کې هر سړی ته رَهْط ویل سوی دی ، چې دغه خلق دخپل مال دولت او جاه او حشم په سبب دقوم مشران منل کیدل او دهر یوه سره جلا جلا جماعتونه وه . په دی وجه دی نهو سرو ته یې نه جماعتونه وفرمایل دا خلق دحضرت صالح ﷺ په قوم کې دکلي یعنی دحجر مشران منل کیدل ، حجر په شام کې معروف ځای دی .

لَنُبَيِّتَنَّهُ وَاَهْلَهُ ثُمَّ لَنَقُولَنَّ لِوَلِيِّهٖ مَاشَهِدْنَا مَهْلِكَ اَهْلِهٖ وَاِنَّا لَصٰدِقُوْنَ مطلب دا وو چې مونږ ټول به یو ځای سو او دشپې په تیاره کې به پرده او دده پرمتعلقینو چاپه ووهو، ټول به هلاك کړو. بیادده دخون دعوی کوونکی وارثان چې دتحقیق اوتفتیش دپاره راپورته سی نو مونږ به دا ووایو چې مونږ خو فلانی سړی نه دی وژلی او نه یې په وژلو مونږ څوك لیدلی دی او مونږ به په دی خپله خبره کې څکه رښتنی یو چې دشپې په تیاره کې به دا تعین چې چا څوك مړ کې مونږ ته معلوم نه وی .

په دی کې یوه خبره دا دغور قابله ده چې دا کفار او په دوی کې هم بیا لوړ بدمعاشان کوم چې په فسادکې مشهور وه . دا ټول کارونه دشرك او کفر او بد معاشی ، قتل اولوټ ماریې کوی او هیڅ فکر یې نه کوی . مګر دا فکر یې وو چې درواغ ونه وایو یا د درواغو اقرار ونه کو . ددی څخه اندازه ولګوی چې درواغ څومره لویه ګناه ده چې دټولو لویو لویو جرمونو کوونکی هم دخپل نفس دشرافت او دعزت دحفاظت دپاره د درواغوپه ویلو باندی اقدام نه کوی ، دوهمه خبره په دی آیت کې دا دفکر قابله ده چې کوم سړی دی خلقو دحضرت صالح ﷺ ولی مقرر کړی دی ، هغه خو په خپله دحضرت صالح ﷺ په اهل کې شامل وو هغه یې ولی دقتلولو څخه پاته کوی ؟ جواب دا دی چې ممکنه ده چې دغه ولی په خاندانی اعتبارسره ولی وی ، مګر کافر وی او دکافرانو سره یو ځای دی . دحضرت صالح ﷺ او دده دمتعلقینو دقتل څخه وروسته هغه د دوی دخون دعوی دخپل نسبی تعلق پربنا باندی وکی او دا هم ممکنه ده چې هغه مسلمان

وی ، مگر یو لوی سری وی چی په قتل کولو سره یی په قوم کی دانتشار او اختلاف بیره وی ، په دی وجه یی پریږدی ، والله اعلم.

وَلُوطًا إِذْ قَالَ لِقَوْمِهِ أَتَأْتُونَ الْفَاحِشَةَ وَأَنْتُمْ تُبْصِرُونَ ۝٥٤ أَئِنَّكُمْ لَتَأْتُونَ الرِّجَالَ

او لوط ﷺ کله چی وویل ده خپل قوم ته آیاتاسی کوی بی حیایی او تاسی وینی ، آیاتاسی را تلل کوی سړو ته

شَهْوَةً مِّن دُونِ النِّسَاءِ ۚ بَلْ أَنتُمْ قَوْمٌ تَجْهَلُونَ ۝٥٥ فَمَا كَانَ جَوَابَ

په شهوت سره بی له ښځو ښځه بلکه تاسی خلق یاست بی بوهی ، بیا هیڅ جواب نه وو

قَوْمِهِ إِلَّا أَن قَالُوا أَخْرِجُوا آلَ لُوطٍ مِّن قَرْيَتِكُمْ ۖ إِنَّهُمْ أُنَاسٌ

دده دقوم مگر دا چی ویل یی وباسی دلوط ﷺ کوروالا دخپل کلی ښځه دا خلق دی

يَتَطَهَّرُونَ ۝٥٦ فَأَنجَيْنَاهُ وَأَهْلَهُ إِلَّا امْرَأَتَهُ قَدَّرْنَاهَا مِنَ الْغَابِرِينَ ۝٥٧

صفایی کوونکی، بیامحفوظ کړل مونږ ده ﷺ ته او اهل دده مگر دده ښځه مقرر کړی وه مونږ دی پاته کیدونکو څخه

وَأَمْطَرْنَا عَلَيْهِم مَّطَرًا ۖ فَسَاءَ مَطَرُ الْمُنذَرِينَ ۝٥٨ قُلِ الْحَمْدُ لِلَّهِ

او ووروَل مونږ په دوی باندی اورول ، پس څومره بَد ورول وو دبیرول سوو ، ته وروایه ټول تعرفونه الله لره دی

وَسَلَامٌ عَلَىٰ عِبَادِهِ الَّذِينَ اصْطَفَىٰ ۗ آللَّهُ خَيْرٌ أَمَّا يُشْرِكُونَ ۝٥٩

او سلام دی دهغه په بندگانو کوم چی هغه غوره کړل آیا الله غوره دی یا کوم چی دوی شریکوی .

لنډ تفسیر: او مونږ لوط ﷺ (پیغمبر کی دده قوم ته مو) ولیږی کله چی دوی خپل قوم ته وفرمایل تاسی دادبی حیایی کار کوی ؟ حال دا دی چی پوه یاست (آیادی بدوالی نه گنی ، مخ ته ددغه بی حیایی بیان دی یعنی) آیاتاسی دسړو سره شهوت پوره کوی او ښځی پریږدی (ددی هیڅ وجه نه سی کیدای) بلکه (په دی معامله کی) تاسی (محض) جهالت کوی (ددی تقریر دپاره) دده دقوم هیڅ (معقول) جواب جوړ نه سو بغیر ددی څخه چی په خپل مینځ کی یی وویل چی دلوط ﷺ خلک (یعنی په ده ایمان راوړونکی سره دده) تاسی دخپل کلی څخه وباسی (څکه چی) داخلق ډیر پاك صفا جوړیږی وروسته (هرکله چی دی ته نوبت ورسیدی نو) مونږ (پر دغه قوم عذاب نازل کی او) لوط ﷺ او دده متعلقین مو (ددی عذاب څخه) محفوظ کړل بغیر دده دښځی څخه چی دی (په وجه د ایمان نه را وړلو) مونږ په دغو خلقو کی تاکلی وه کوم چی په عذاب کی پاته سوی وه او (دغه عذاب کوم چی پرهغو نازل سوی وو دا وو چی) مونږ پر هغوی یو نوی قسم باران ووروَی (چی هغه د ډبرو باران وو) پس ددغو خلقو ډیر بدباران وو ، کوم چی (اول دخدای

دعذاب څخه) بیرول سوی وه (کوم ته چې هغوی ونه کتل) تاسی (دتوحید دبیان دپاره دخطبی په طور) روایاست چې تول تعریفونه دالله ﷻ دپاره دی او دهغه په هغه بندګانو دی سلام (نازل) وی کوم چې هغه منتخب فرمایلی دی (یعنی انبیاء او صالحان . مخ ته مضمون زمونږ دطرف څخه بیان کړه هغه دا چې ای خلقو ؛ دا وښیاست چې) آیا (په کمالاتو او احساناتو کې) الله ﷻ ښه دی یاهغه شیان (ښه دی) کوم چې (په الوهیت کې) شریکوی (یعنی ظاهره او منل سوې ده چې الله ﷻ ښه دی پس مستحق دعبادت به هم هغه وی)

(معلومات اومسئلې)

ددی قصی متعلق په قرآن کې دیر ځایونه خاص بیا په سورة اعراف کې ضروری مضامین بیان سوی دی هلته یې وګوری .

قُلِ الْحَمْدُ لِلّٰهِ تیرانبیاء علیهم السلام او د دوی د امتونو څه حالات او پر دوی دعذاب راتلو دواقعاتو ذکر کولو څخه وروسته په دی جمله یې نبی کریم ﷺ مخاطب کړی دی ، فرمایلی یې دی چې ته دالله ﷻ شکر ادا کړه چې ستاامت یې ددنیادعذاب څخه مامون کړی دی اوپه تیروپیغمبرانو اودالله ﷻ په غورسوو بندګانو سلام لیږه . جمهورو مفسرینو دااختیارکړې ده اوځینو ددی مخاطب هم حضرت لوط ﷺ مقرر کړی دی .

په دی آیت کی د . اَلَّذِیْنَ اصْطَفٰی ، دالفاظو څخه ظاهره دا ده چې انبیاء علیهم السلام مراد دی ، لکه چې په یو بل آیت کی دی . وَسَلَامٌ عَلَى الْمُرْسَلِیْنَ ، او دحضرت ابن عباس ﷺ څخه په یو روایت کی دی چې ددی څخه مراد دنبی کریم ﷺ صحابه کرام دی ، سفیان ثوری دا اختیارکړې ده (اخرجه عبدبن حمید والبزار وابن جریر وغیر هم)

که په آیت کی د . اَلَّذِیْنَ اصْطَفٰی ، څخه مراد صحابه کرام واخستل سی ، لکه چې د ابن عباس ﷺ په روایت کی دی ، نو په دی آیت سره پرغیر انبیاء دسلام لیږلو دپاره پر دوی دعَلَیْهِ السَّلَامُ دویلو جواز ثابتیږی . ددی مسئلی پوره تحقیق په سورة احزاب کی دآیت . صَلُّوا عَلَیْهِ وَسَلِّمُوا ، په تفسیر کی به راسی . انشاء الله تعالی

مسئله : ددی آیت څخه دخطبی آداب هم ثابت سول چې دا دالله ﷻ دحمد او په انبیاء علیهم السلام باندی د درود او سلام څخه شروع کول په کار دی . دنبی کریم ﷺ او صحابه کرامو ﷺ تولی خطبی په دی معمول سره وی ، بلکی دهر مهم کار په شروع کی دالله ﷻ حمد او پرنبی کریم ﷺ درود او سلام سنت او مستحب دی (لکه چې داسی په روح کی دی)

نولسمه (۱۹) پاره ختمه سوه

وَالْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعَالَمِیْنَ

تفسیر

معارف القرآن

په قندهاری پښتوکی

(تالیف)

مفتی اعظم پاکستان مولانا محمدشفیع رحمة الله عليه

پښتو ترجمه کوونکي (ابو صدیق احمد .... مولوی نصیراحمد حقّانی)

تصحیح اوسمون... مولوی نصیراحمد (حقّانی) اومولوی آمین الله (حقّانی)

دکمپوز او ترجمي چارې .... الدین العلم کمپوزنگ (۰۳۰۱۳۷۸۴۹۵۶)

پاره (۲۰)

خپرونکي

مکتبه حنفیه

فون نمبر (۰۲۶۶۲۵۱۰)

کانسي روډ حاجي غیبي چوک کوئټه

چاپ ځای .... لاهور

فهرست تفسیر معارف القرآن

اَمَّنْ خَلَقَ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضَ وَاَنْزَلَ لَكُمْ مِّنَ السَّمَآءِ مَآءً ۚ

آیا چا پیدا کړل اسمانونه او ځمکه اونازلې یې کړې تاسې دپاره د اسمان څخه اوبه

فَاَنْۢبَتْنَا بِهٖ حَدَآئِقَ ذَاتَ بَهْجَةٍ ۚ مَا كَانَ لَكُمْ اَنْ تُنْۢبِتُوْا شَجَرَهَا ؕ

بیاشنه کړل مونږ په دې سره باغونه ښائسته ستاسې کار نه وو چې شنې کړې موږې ددې درختې .

ءَاِلٰهٌ مَّعَ اللّٰهِ ؕ بَلْ هُمْ قَوْمٌ يَّعْدِلُوْنَ ﴿٦٠﴾ اَمَّنْ جَعَلَ الْاَرْضَ

اوس د الله سره بل معبود سته ؟ بلکه دغه خلق دلارې څخه اوړي ، آیا چا جوړه کړه مځکه

قَرَارًا وَّجَعَلَ خِلٰلَهَآ اَنْهٰرًا وَّجَعَلَ لَهَا رَوَاسِيَ وَجَعَلَ بَيْنَ

لایقه دقرار اوجوړ یې کړل ددې په مینځ کې نهرونه ،اوجوړ یې کړل ددې دقرار دپاره غرونه ،اوجوړه یې کړه په مینځ

الْبَحْرَيْنِ حَاجِزًا ؕ ءَاِلٰهٌ مَّعَ اللّٰهِ ؕ بَلْ اَكْثَرُهُمْ لَا يَعْلَمُوْنَ ﴿٦١﴾

د دوو دریابونو کې پرده اوس د الله سره بل معبود سته ؟ بلکه اکثر د دوی څخه نه پوهیږي

اَمَّنْ يُّجِيْبُ الْمُضْطَرَّ اِذَا دَعَاهُ وَيَكْشِفُ السُّوْٓءَ وَيَجْعَلُكُمْ

آیا څوک قبلوي بلنه دبې اسرې کله چې هغه بولي اولیرې کوي سختي اوګرځوي تاسې .

خُلَفَآءَ الْاَرْضِ ؕ ءَاِلٰهٌ مَّعَ اللّٰهِ ؕ قَلِيْلًا مَّا تَذَكَّرُوْنَ ﴿٦٢﴾

خلیفه ګان دمځکنیو په مځکه کې ، اوس د الله سره بل څوک معبود سته ؟ تاسې ډیر کم فکر کوی

اَمَّنْ يَّهْدِيْكُمْ فِيْ ظُلُمٰتِ الْبَرِّ وَالْبَحْرِ وَمَنْ يُّرْسِلُ الرِّيٰحَ

آیا څوک لار ښیي تاسې ته په تیارو دځنګل او د دریاب کې اوڅوک چلوي هوا ګانې

بُشْرًاۢ بَيْنَ يَدَيْ رَحْمَتِهٖ ؕ ءَاِلٰهٌ مَّعَ اللّٰهِ ؕ تَعٰلَى اللّٰهُ عَمَّا

خوشخبري راوړونکې دهغه درحمت څخه مخکې اوس د الله سره څوک معبود سته ؟ لوی دی الله دهغه څخه چې دوی

يُشْرِكُوْنَ ﴿٦٣﴾ اَمَّنْ يَّبْدَؤُا الْخَلْقَ ثُمَّ يُعِيْدُهٗ وَمَنْ يَّرْزُقُكُمْ

ورله شریک جوړوي ، آیا څوک اول پیدا کوي بیا به یې بیرته پیدا کوي اوڅوک رزق درکوي .

مِّنَ السَّمَآءِ وَالْاَرْضِ ؕ ءَاِلٰهٌ مَّعَ اللّٰهِ ؕ قُلْ هَاتُوْا بُرْهَانَكُمْ

دآسمان څخه او دمځکې څخه ، اوس دالله سره بل معبود سته ؟ ووايه را وړئ دليل خپل

اِنْ كُنْتُمْ صٰدِقِيْنَ ﴿۶۴﴾

كه تاسي رښتيني ياست .

لنډتفسير: (دتير ايت په اخر كې يې فرمايلي وه . ءٰآللّٰهُ خَيْرٌ اَمَّا يُشْرِكُوْنَ ، يعني الله ﷻ ښه دي ياهغه بتان وغيره كوم چې دالله ﷻ په خلق دالله ﷻ سره شريكوي ، دا دمشركانو پر بې عقلي بلكه پرناپوهي باندې بد ويل وو. مخ ته دتوحيد ددليلونو بيان دی ای خلقو! دا وښياست چې) هغه ذات (ښه دی) كوم چې آسمانونه او مځكې جوړ كړل او هغه دآسمان څخه اوبه ووروّلې ، بيا ددې په ذريعه موږ رونق داره باغونه زرغونه كړل (كنه نو) ستاسي څخه ممكنه نه وه چې تاسي ددې (باغونو) درختي زرغونې كړل سئ (دا مو واوريدل اوس وښياست چې) ايا دالله ﷻ سره (په عبادت كې دشريكيدو لايق) څوك بل معبود سته ؟ (مگر مشركان يې بيا هم نه مني) بلكه دا داسې خلق دي چې (نور) دخداى سره برابر وي (ښه نو بيانوركمالونه يې واورئ وښياست چې دا بتان ښه دي) ياهغه ذات كوم چې مځكه (دمخلوق) دقرار نيولو ځاى جوړ كې او ددې په مينځ مينځ كې يې نهرونه ورلره جوړ كړل او ددې (مځكې دقرار نيولو) دپاره يې غرونه جوړ كړل او د دوو دريابونو په مينځ كې يې حد فاصل جوړ كې (لكه په سورة فرقان كې ، مَرَجَ الْبَحْرَيْنِ، را غلي دی دا مو واوريدل اوس وښياست چې) اياداللّٰه ﷻ سره (په خدايي كې دشريكيدو لائق) څوك بل معبودسته؟ (مگر مشركان يې نه مني) بلكه په دوی كې زيات څو (په ښه ډول) پوهيږي هم نه (ښه نو بيا نوركمالات يې واورئ او وښياست چې دا بتان ښه دي) ياهغه ذات كوم چې دبې قراره بنده دعا اوري كله چې هغه هغه بولي او (دهغه) مصيبت ليرې كوي او تاسي په مځكه كې دتصرف خاوندان جوړ وي (دا مو واوريدل اوس وښياست چې) ايا دالله ﷻ سره (په عبادت كې دشريكيدو لائق) څوك بل معبود سته ؟ (مگر) تاسي خلق ډير كم يادساتونكي ياست (ښه نوبيا نوركمالات يې واورئ وښياست چې دا بتان ښه دي) ياهغه ذات كوم چې تاسي ته دوچې او دريابونو په تيارو كې لار ښيي اوكوم چې هواگانې دباران څخه مخكې راليږي كوم چې (دباران په اميد وركولو زړونه) خو شحالوي (دا مو واوريدل اوس وښياست) اياداللّٰه ﷻ سره (په عبادت كې دشريكيدو لائق) څوك بل معبود سته؟ (هيڅكله نسته) بلكه الله ﷻ د دوی دشرك څخه لوی دی (ښه بيا نور كمالات او احسانات يې واورئ وښياست چې دا بتان ښه دي) ياهغه ذات كوم چې مخلوقات اول وار پيدا كوي بيابه دوی دوباره پيدا كې اوكوم چې دآسمان او مځكې څخه (اوبه وروی بوټي په را وباسي او) تاسي ته رزق دركوي (دا مو واوريدل نو اوس وښياست چې) اياداللّٰه ﷻ سره (په عبادت كې دشريكيدو لائق) څوك بل معبود سته؟ (او كه دا واوري او سره ددې هم وواياست چې هو ! بل معبود هم مستحق دعبادت

سته نو) ته وایه چې (نه ده) تاسي (دهغو دعبادت پر مستحق کیدو باندې) خپل دلیل پیش کې که تاسي (په دې دعوې کې) رښتینې یاست.

معلومات او مسئلې: اَمَّنْ یُجِیْبُ الْمُضْطَرَّ اِذَا دَعَاهُ وَیَکْشِفُ السُّوْءَ، مُضْطَرّ د اِضطِرار څخه مشتق دی. دضرورت څخه مجبور اوبې قرار کیدو ته اضطرار ویل کیږي او دا هلته وي کله چې دده څوك یار او مددګار اوتکیه نه وي. په دې وجه مضطر هغه سړی دی کوم چې دټولې دنیادکومکو څخه مایوسه سي، او خالص الله ﷻ فریادرس وګڼي، دهغه طرف ته متوجه سي. دمضطر دا تفسیر دسدي رحمه الله، ذوالنون مصري سهل بن عبدالله وغیره څخه نقل دی (قرطبي)

نبي کریم ﷺ دداسې سړي دپاره په دې الفاظو سره ددعا کولو هدایت فرمایلی دی. اَللّٰهُمَّ رَحْمَتَكَ اَرْجُوْا فَلَا تَکِلْنِیْ اِلٰی نَفْسِیْ طَرْفَةَ عَیْنٍ وَاَصْلِحْ لِیْ شَانِیْ کُلَّهٗ لَا اِلٰهَ اِلَّا اَنْتَ. (ترجمه) یا الله زه ستا درحمت امیدوار یم، په دې وجه ماديوي لحظې دپاره هم زمانفس ته مه حواله کوه او ته زما ټول کارونه برابر کې، ستا څخه ماسوا بل معبود نسته (قرطبي)

(دمضطر دعا د اخلاص پربنا ضرور قبلیږي)

امام قرطبي رحمه الله فرمایي چې الله ﷻ دمضطر ددعا دقبلولو ذمه اخستې ده او په دې آیت کې یې دهغه اعلان هم فرمایلی دی. ددې اصل وجه دا ده چې ددنیادټولو کومکو څخه مایوسه او دټولو علاقو څخه پرېکړل سوی صرف الله ﷻ کار ساز ګڼل او دعا کول سرمایه د اخلاص ده، او دالله ﷻ په نزد د اخلاص لویه درجه ده دغه چې دکوم یو بنده څخه پیداسي، هغه مومن وي او که کافر، او متقي وي اوکه فاسق، او فاجر دده د اخلاص په برکت سره دده طرف ته دالله ﷻ درحمت متوجه سي، لکه چې حق تعالی دکفارو حال ذکر کړی دی، چې کله دا خلق په دریاب کې وي اوڅپې دهر طرف څخه کښېنتی راګیر کې او دوی ګویا مرګ خپل مخ ته ولاړ ووینې. هغه وخت دا خلق په پوره اخلاص سره الله ﷻ را بولي چې که مونږ ته ددې مصیبت څخه تانجات راکې مونږبه شکرګذار سو. لیکن کله چې الله ﷻ ددوی دعاقبوله کې اووچې ته راسي نودوی بیاپه شرك کې اخته سي لکه داقول. دَعَوُا اللّٰهَ مُخْلِصِیْنَ لَهُ الدِّیْنَ فَلَمَّا نَجَّاهُمْ اِلَی الْبَرِّ اِذَا هُمْ یُشْرِکُوْنَ په یو صحیح حدیث کې دنبي کریم ﷺ ارشاد دی چې درې دعاګانې خامخا قبلیږي په کوموکې چې دشك څه ځای نسته، یوه دمظلوم دعا دوهمه دمسافر دعا، دریم پلارچې اولاد ته ښرا کوي. قرطبي ددې حدیث نقل کولو څخه وروسته فرمایي چې په دې درې دعاګانو کې هم هغه صورت دی کوم چې دمضطر په دعاکې لوړ لیکل سوی دی، چې کله یومظلوم ددنیادکومکو او مددګارانو څخه مایوسه سي، دځان څخه دظلم دفع کیدو دپاره الله ﷻ رابولي هغه هم مضطروي. دغسې مسافر په حالت دسفرکې دخپلو خپلوانو همدرد کونکو او غم کونکو څخه نا اُمیده سي. دغه شان پلار اولاد ته هیڅکله دخپل فطرت او پلاروالی دشفقت په بناء سره ښرا وي نه کوي، بغیر ددې څخه چې دده زړه بالکل مات سي او دخپل ځان دمصیبت څخه دمحفوظ کولو دپاره الله ﷻ وبولي.

داحادیثو امام اجری رحمه الله دحضرت ابوذر رضی الله عنه څخه روایت نقل کړی دی ، چې نبی کریم ﷺ فرمایلی دی چې دالله ﷻ ارشاد دی چې زه دمظلوم دعا هیڅکله نه رد کوم که څه هم هغه دکافر دخلې څخه وی (قرطبی) که یو مضطر یامظلوم یامسافر وغیره ته کله دا محسوس سی چې دده دعاقبوله نه سوه ، نوبدګمانه اومایوسه کیږی دی نه . ځینی وخت دعاقبوله سی ، مګر دالله ﷻ دخه حکمت اومصلحت په بناسره ددی ظهور وروسته کیږی او یا دی خپل نفس ته وګوری چې دده په اخلاص او توجه کی به کمی وی . والله تعالی اعلم

قُلْ لَّا يَعْلَمُ مَنْ فِي السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ الْغَيْبَ اِلَّا اللّٰهُ ۗ وَمَا يَشْعُرُوْنَ اَيَّانَ

ته ووایه چې خبر نه لری څوک چې دی په اسمانونو او په مځکو کی دغیبو مګر الله پاک دوی ته خبر نسته چې کله به

يُبْعَثُوْنَ ﴿٦٥﴾ بَلِ ادّٰرَكَ عِلْمُهُمْ فِي الْاٰخِرَةِ ۚ بَلْ هُمْ فِيْ شَكٍّ مِّنْهَا ۚ بَلْ هُمْ

پورته کول کیږي بلکه ستړی سوی وغورخیدی فکر د دوی داخرت په باره کی ، بلکه دوی په شک کی دی ددی څخه

مِّنْهَا عَمُوْنَ ﴿٦٦﴾ وَقَالَ الَّذِيْنَ كَفَرُوْٓا ءَاِذَا كُنَّا تُرٰبًا وَّاٰبَاۤؤُنَآ اَئِنَّا

بلکه دوی ددې څخه ړانده دی اووایی هغه خلق چې کافران دی آیاهرکله چې مونږ سو خاوری او زمونږ پلار نیکه

لَمُخْرَجُوْنَ ﴿٦٧﴾ لَقَدْ وُعِدْنَا هٰذَا نَحْنُ وَاٰبَاۤؤُنَا مِنْ قَبْلُ ۙ اِنْ

ایامونږ به دمځکی څخه را ویستل سو ؟ وعده سوی ده ددې مونږ سره او زمو دپلار نیکه سره دمځکې څخه هیڅ

هٰذَآ اِلَّآ اَسَاطِيْرُ الْاَوَّلِيْنَ ﴿٦٨﴾ قُلْ سِيْرُوْا فِي الْاَرْضِ فَانْظُرُوْا

نه دی دا مګر نقلونه دی د مخکنیو ، ته ووایه وګرځی په مځکه کی نو وګوری

كَيْفَ كَانَ عَاقِبَةُ الْمُجْرِمِيْنَ ﴿٦٩﴾ وَلَا تَحْزَنْ عَلَيْهِمْ وَلَا تَكُنْ

چې څنګه سو انجام کار دګناهګارانو ، اوغم مه کوه په دوی اومه خفه کیږه

فِيْ ضَيْقٍ مِّمَّا يَمْكُرُوْنَ ﴿٧٠﴾ وَيَقُوْلُوْنَ مَتٰى هٰذَا الْوَعْدُ اِنْ كُنْتُمْ

د دوی په فریب جوړولو او وایی کله به وی دا وعده که تاسی

صٰدِقِيْنَ ﴿٧١﴾ قُلْ عَسٰٓى اَنْ يَّكُوْنَ رَدِفَ لَكُمْ بَعْضُ الَّذِيْ

رښتینی یاست ، ته ووایه چې لیری نه ده چې ستاسی په شا را رسیدلی وی ځینی هغه

تَسۡتَعۡجِلُوۡنَ ﴿٧٢﴾ وَاِنَّ رَبَّكَ لَذُوۡ فَضۡلٍ عَلَى النَّاسِ وَلٰكِنَّ

شي دکوم چی تاسی تلوار کوی ، او ستا رب پوه دی ، خاوند دفضل دی په خلقو او لیکن په دوی کی

اَكۡثَرَهُمۡ لَا يَشۡكُرُوۡنَ ﴿٧٣﴾ وَاِنَّ رَبَّكَ لَيَعۡلَمُ مَا تُكِنُّ

دیر خلق شکر نه کوی. او ستا رب پوه دی په هغو چی پټوی

صُدُوۡرُهُمۡ وَمَا يُعۡلِنُوۡنَ ﴿٧٤﴾ وَمَا مِنۡ غَآئِبَةٍ فِى السَّمَآءِ

دوی په سینو خپلو کی او په هغو چی راهږوی ، او هیڅ شي نسته چی غائب وی په اسمان

وَالۡاَرۡضِ اِلَّا فِىۡ كِتٰبٍ مُّبِيۡنٍ ﴿٧٥﴾

او په مځکه کی مګر موجود دی په ښکاره کتاب کی

لنډتفسير: د ايتونو تړون : لوړ دنبوت څخه وروسته دتوحيد ذکر وسو، مخ ته دقیامت او اخرت ذکر دی دکوم طرف ته چی دتوحید په دلیلونو کی په دی قول سره اجمالی اشاره هم سوي ده ، ثُمَّ يُعِيۡدُهٗ، او چونکی کفار ددی درواغجن کولو یوه وجه دا هم مقرروله چی مونږ دقیامت دمقرر وخت پوښتنه کوو او ښوول کیږی نه . ددی څخه معلومیږی چی قیامت څه شی نه دی یعنی دوی به دمقرر وخت نه ښوول دنه واقع کیدو دلیل جوړوی . په دی وجه دا مضمون یی ددی خبری څخه شروع کړی دی چی علم غیب خاصه دالله ﷻ ده ، فرمایی ، قُلۡ لَّا يَعۡلَمُ الخ ، چی په دی کی ددغه شبهی جواب هم وسو چی دقیامت دتعین علم دالله ﷻ سره مخصوص دی . بیا د دوی په شك او انکار باندی تشنیع دی ، بَلِ ادّٰرَكَ ، بیا د دوی دیوی انکاری خبری نقل دی . وَقَالَ الَّذِيۡنَ كَفَرُوۡا . بیا په دی انکار باندی دوی پوهول دی ، قُلۡ سِيۡرُوۡا ، بیادهغوی پرانکار باندی حضور ﷺ ته تسلی ده . وَلَا تَحۡزَنۡ ، بیاددی هدایت متعلق دهغوی دیوی شبهی جواب دی . وَيَقُوۡلُوۡنَ الخ ، بیا دهدایت تاکید دی . وَاِنَّ رَبَّكَ لَيَعۡلَمُ ، لکه چی دتقریر دترجمی څخه به ښکاره سی .

(دا خلق کوم چی دقیامت په وخت نه ښوولو سره ددی په نه واقع کیدو باندی دلیل نیسی ، ددی په جواب کی) ته ووایه چی (دا دلیل نیول غلط دی ، څکه چی په دی سره خو د زیات څخه زیات دومره لازمه سوه چی زما اوستاسی څخه ددی مقرر وخت علم پټ پاته سو، وروسته په دی کی ددی څه تخصیص دی ، دغیبو په باره کی خو قاعده کلیه دا ده چی) څومره مخلوقات په آسمانونو او مځکو کی (یعنی عالَم کی) موجود دی (په دوی کی) هیڅوك دغیبو په خبره نه پوهیږی ، بغیر دالله ﷻ څخه او (په دی وجه) دوی (مخلوقاتو) ته دا خبر (هم) نسته چی دوی به کله بیرته ژوندی سی (یعنی الله ﷻ ته خو بی دښوولو څخه هر څه معلوم دی او بل چاته بغیر دښولو څخه هیڅ هم معلوم نه دی ، مګر لیدل کیږی چی ډیر کارونه دکومو

چې دمخکې ښخه علم نه وي واقع کيږي . ددې ښخه معلومه سوه ، چې په يو شي علم نه کيدل دا نه لازموي
چې هغه شي موجود نه دی ، بلکه خبره دا ده چې الله ﷻ ته په خپل حکمت سره دځينو علمونو په غيب کې
ساتل منظور دي ، دقيامت تعين هم په دغو کارونو کې دی په دې وجه مخلوق ته ددې علم ورنه کړل سو ،
مگر ددې ښخه نه واقع کيدل ښنګه لازم سوه ؟ او دا دتعين ناخبري خو په ټولو کې يو مشترك كار دی
ليکن په دې کفارو منکرانو کې صرف دا نه ده چې دغه په تعين سره قيامت نه مني) بلکه (ددې ښخه زياته
دا خبره ده چې) د اخرت په باره کې (په خپله) د دوی (نفس) علم (پرواقع کيدو باندې) نيست سوی دی (يعنی
په خپله ددې دواقع کيدو علم يې نسته کوم چې دتعين دعلم دنه کيدو ښخه زيات سخت دی) بلکه (ددې
ښخه زياته دا ده چې) داخلق ددې (دواقع کيدو) ښخه په شك کې دی بلکه (ددې ښخه ماسوا دا ده چې) دوی
ددې ښخه ړانده سوي دي (يعنی لکه ښنګه چې ړوند ته لار په نظر نه ورځی په دې وجه مقصود ته رسيدل
مستبعد دی ، دغه ډول په اخرت دتصديق چې کومه ذريعه ده ، يعنی صحيح دليلونه ، دا خلق دډير عناد
په وجه سره په دغو دليلونو کې غور او فکر نه کوي ، په دې وجه دغه دليلونه دوی ته په نظرنه راځي په
کومو چې مطلوب ته درسيدو اميد کيدای سی ، پس دا دشك ښخه زيات دی ښکه چې دشك خاوند ځينی
وخت پر دليل نظر کوی شك رفع کوی او دی نظر هم نه کوی) او (په کفارو ددې تشنيع ښخه وروسته مخ ته
د دوی يو انکاري قول نقل کوی چې) دا کافران داسې وايي ، اياموږ خلق هرکله چې (مړه سو) خاوري او
(دغه شان) زموږ مشران هم نو آيا (بيابه) موږ (ژوندي سو دقبرونو ښخه به) را ويستل سو ددې خو زموږ
او زموږ دمشرانو سره (دمحمد ﷺ ښخه) دمخکې ښخه وعده کيدل را روان دي (ښکه چې دټولو پيغمبرانو
دا مشهوره خبره ده ليکن نه ترننه پوري وسوه اونه چا وښوله چې کله به وي ددې ښخه معلوميږي چې) دا
بې سنده خبري دي ، کوم چې دمخکې ښخه نقل کيږي را رواني دي ، ته ووايه چې (کله ددې پرامکان
باندې عقلي دليلونه او پر وقوع باندې نقلي دليلونه ځای په ځای بار بار تاسې ته اوريدل کيږي نو تاسې ته
په کار دي چې د درواغجن کولو ښخه يې منع سی کنه نو دنورو درواغجن کوونکوچې کوم حال سوی دی
چې په عذاب کې گرفتار سول ، دغه به ستاسې حال وي که دهغوی په حالت کې شبهه کوی نو) تاسې په
مځکه کې وګرځی وګوري چې دمجرمانو څه انجام سو (ښکه چې دهغوی دهلاکيدو او دعذاب راتلو
نښاني تر اوسه پوري باقي وي) او (که باوجود ددې بليغو وعظونو بياهم مخالفت ته يې ملاتړلې وي نو) ته
د دوی غم مه کوه او دوی چې کوم شرارتونه کوي په هغه سره زړه تنګی کيږه مه (ښکه چې دنورو پيغمبرانو
سره هم داسې معامله سوې ده) او (په . قُلْ سِيرُوا الخ کې او ددې په مثل په نورو ايتونوکې چې دوی ته
دعذاب کومه وعده او ريدل کيږي نو چونکې په زړونو کې يې تصديق نسته په دې وجه) دا خلق (په بې
باکی سره) داسې وايي چې دا وعده (دعذاب او قهر) به کله وي که تاسې رښتينی ياست (نو وښياست) ته
ووايه چې عجيبه نه ده چې کوم عذاب تاسې ژرغواړی ، په دې کې څه تاسې ته را رسيدلی وي او (تر اوسه چې لانه
راځی نو ددې وجه دا ده چې) ستارب په خلقو (خپل) لوی فضل لري (ددې عام رحمت په وجه سره يې لږڅه مهلت

ورکړې دي) او لیکن اکثره خلق (په دې خبره) شکر نه کاږي (چې تاخیر غنیمت وګڼي او په دې مهلت کې د حق طلب وکې او قبول يې کې چې د عذاب څخه ورته ابدي نجات حاصل سي، بلکه د ددې پرعکس انکار او په طور د مسخرو تلواري کوي) او (دا تاخیر چونکې د مصلحت په وجه دي په دې وجه دي داسې نه ګڼې چې ددې کارونو به هیڅکله سزا نه وي ځکه چې) ستا رب د هرڅه څخه خبردی څه چې د دوې په زړونو کې پټ دي او کوم چې دوې په ډاګه کوي او (دا صرف په علم خداوندي کې نه بلکه په دفترِ خداوندي کې لیکل سوي دي چې په دې کې یوازې د دوې د کارونو تخصیص نسته بلکه) په آسمان او مځکه کې داسې څه پټ شی نسته کوم چې په لوحِ محفوظ کې نه وي (او دفترِ خداوندي دغه لوحِ محفوظ دی او کله چې پټ شیان کوم چې چاته معلوم نه وي په دغه کې موجود دي نو ظاهري شیان خو په کې په درجه اولی موجود دي، غرض دا چې د دوې د بدو عملونو څخه الله ﷻ خبردي او په اسماني دفتر کې هم محفوظ دي او دا عملونه په خپله د سزا مقتضي هم دي، او د سزا په واقع کیدو د ټولو پیغمبرانو ورکول سوي رښتیني خبرونه متفق هم دي، بیا ددې ګنلو څه ګنجائش دي چې سزا به نه وي بلکه وخت اوښتل په کې ممکن دي، چنانچې ځیني سزاګاني دې منکرانو ته په دنیا کې هم ورسیدې لکه قتل قحط، قید، وغیره او څه په قبر او برزخ کې به وي کوم چې لیرې نه دي او څه به په اخرت کې وي)

معلومات او مسئلې: قُلْ لَا يَعْلَمُ مَنْ فِي السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ الْغَيْبَ اِلَّا اللّٰهُ " رسول الله ﷺ ته حکم دی چې ته خلقو ته وښیه چې څومره مخلوق په آسمانونو کې دي، لکه فرښتې، او څومره مخلوق چې په مځکه کې دي، لکه انسانان پیریان وغیره په دوې کې هیڅوک هم په غیبو باندې نه پوهیږي بغیر د الله ﷻ څخه مخ ته ذکر سوی آیت په پوره وضاحت او صراحت سره دا ښوولی دہ چې علم غیب د الله ﷻ مخصوص صفت دی، چې یوه فرښته یا نبي یا رسول په کې هم شریکیدای نه سي. ددې مسئلې ضروري تفصیل د سورة انعام په آیت ۵۹ کې تیرسوی دي، ددې څخه علاوه پر دې موضوع د احقر یوه مستقله رساله په نوم د کشف الریب عن علم الغیب د احکام القرآن (عربي) جزء جوړ سوی شائع سوي دہ، اهل علم دې هلته وګوري.

بَلِ ادّٰرَكَ عِلْمُهُمْ فِي الْاٰخِرَةِ بَلْ هُمْ فِي شَكٍّ مِّنْهَا بَلْ هُمْ مِّنْهَا عَمُوْنَ په لفظ د، ادّٰرَكَ، کې قرآئتونه هم مختلف دي او په معنی کې يې هم څو قولونه دي عالمان ددې تفصیل په تفسیرونو کې کتلای سي، دلته صرف دومره پیژندل کافي چې د، ادّٰرَكَ، معنی ځینو مفسرینو د، تکامل، کړي دہ چې په اخرت کې به د دوې علم په دې معامله کې مکمل سي، ځکه چې هغه وخت به د هرشي حقیقت ښکاره سي او مخ ته به راسي، مګر هغه وخت به د دوې علم را تلل د دوې هیڅ په کار ورنه سي ځکه چې په دنیا کې به د دوې اخرت دروا غجن کوي او ځینو مفسرینو د لفظ د، ادّٰرَكَ، معنی، ضَلَّ، او، غَابَ کړي دہ او، فِي الْاٰخِرَةِ، يې د عِلْمُهُمْ سره متعلق کړی دي، چې د اخرت په باره کې د دوې علم غائب سو او په دې پوه نه سول.

إِنَّ هٰذَا الْقُرْاٰنَ يَقُصُّ عَلٰى بَنِىْٓ إِسْرَآءِيْلَ أَكْثَرَ الَّذِىْ هُمْ فِيْهِ يَخْتَلِفُوْنَ ۞

بیشکه دا قرآن اوری بنی اسرائیلوته ډیر شیان په کومو کی چی دوی اختلاف کوی.

وَإِنَّهٗ لَهُدًى وَّرَحْمَةٌ لِّلْمُؤْمِنِيْنَ ۞ إِنَّ رَبَّكَ يَقْضِىْ بَيْنَهُمْ

اوبیشکه هغه هدایت او رحمت دی د ایماندارانو دپاره ، ستا رب به د دوی فیصله وکړی په خپل حکم

بِحُكْمِهٖ ۚ وَهُوَ الْعَزِيْزُ الْعَلِيْمُ ۞ فَتَوَكَّلْ عَلَى اللّٰهِ ۖ إِنَّكَ عَلَى الْحَقِّ الْمُبِيْنِ ۞

سره او هغه دی زبردست په هرڅه پوه دی پس ته تکیه کوه په الله باندی بیشکه ته په صحیح ښکاره لاره باندی یاست

تفسیر: بیشکه دا قرآن پر بنی اسرائیلو باندی اکثره (د) هغو خبرو (حقیقت) ښکاره کوی په کومو کی چی دوی اختلاف کوی او هغه د ایماندارو دپاره (خاص) هدایت او (خاص) رحمت دی (هدایت په اعتبار دطاعاتو او عباداتو او رحمت په اعتبار دثمراو او نتائجو) په یقین سره به ستارب د دوی په مینځ کی په خپل حکم سره (هغه عملی) فیصله (دقیامت په ورځ) وکی (هغه وخت به معلومه سی چی حق دین کوم یو وو او باطل کوم یو، نو پر داسی خلقو افسوس څه کیدای سی ؟) او هغه زبردست علم والا دی (بغیر دهغه دمشیت څخه څوك چاته ضررنه سی رسولی) نو ته پرالله ﷻ باندی توکل ساته (دالله ﷻ مدد به خامخا درسره کیږی ځکه چی) ته پرښکاره حق باندی یی.

(معلومات او مسئلې)

په تیرو ایتونو کی یې دالله ﷻ قدرت کامل په مختلفو مثالونو سره ثابت کی چی دقیامت واقع کیدل او په دی کی دمړو دبرته ژوندی کیدل په عقل سره ممکن دی په دی کی هیڅ عقلی اشکال نسته په عقلی امکان سره ددی ضرور واقع کیدل دا د انبیاء علیهم السلام او اسمانی کتابونو دنقل څخه ثابته ده او دیو خبر صحیح او ثابت کیدل پر دی موقوف دی چی خبر ورکوونکی او روایت کوونکی صادق او رښتنی وی ، په دی وجه په دی آیت کی یی دا فرمایلی دی چی ددی خبر ورکوونکی قرآن دی او دا خبر ورکوونکی انتهایی رښتینی دی درښتینوالی څخه یی انکار نه سی کیدای . تر دی چی دبنی اسرائیلو عالمانو چی په کومو مسئلو کی دیو بل سره اختلاف درلو دی او هغه نه حل کیدی، قرآن حکیم په هغو مسئلو کی دصحیح فیصلو کولو هدایت فرمایلی دی او دا ظاهره ده چی دعلماؤ په اختلاف کی فیصله کوونکی به خامخا دهغو ټولو عالمانو څخه زیات اعلم وی په دی وجه دقرآن رښتینی مخبر کیدل واضح سوه. ددی څخه وروسته یی دنبی کریم ﷺ دتسلی دپاره ارشاد فرمایلی دی چی ته د دوی په مخالفت باندی زړه مه تنګوه ، الله ﷻ په خپله ستافیصله کوونکی دی ، ته پرالله ﷻ باندی تکیه کوه ، ځکه چی دالله ﷻ نصرت او امداد دحق سره دی او ستا پرحقه طریقه کیدل یقینی دی .

إِنَّكَ لَا تُسْمِعُ الْمَوْتَىٰ وَلَا تُسْمِعُ الصُّمَّ الدُّعَاءَ إِذَا وَلَّوْا مُدْبِرِينَ ﴿٨٠﴾

بیشکه ته نه سی او رولای مړوته او نه سي او رولای کانه ته خپل اواز هرکله چي هغه په شا وګرځی.

وَمَا أَنتَ بِهَادِي الْعُمْيِ عَن ضَلَالَتِهِمْ إِن تُسْمِعُ إِلَّا مَن يُؤْمِنُ بِآيَاتِنَا فَهُم مُّسْلِمُونَ ﴿٨١﴾

او نه ته هدایت کولای سی ړندو ته کله چي دوی بی لاری سی ته خو او رولای سی هغه چاته چي یقین ساتی زمونږ په آیتونو پس دوی حکم منونکی دی.

تفسیر: ته مړو ته نه سی اوروللی او نه کڼو ته خپل اواز اورولی سی (خاصکر) کله چي دوی شا کړی روان سی او نه ته ړانده ته د دوی دګمراهی څخه (بچ کړی) لاربښوولی سی، ته خو یې صرف هغو ته اورولی سی کوم چي زمونږ په ایتونو یقین لری (او) بیاهغوی منی هم.

معلومات اومسئلي: زمونږ نبی کریم ﷺ چي دټولو انسانانو سره کوم دشفقت او همدر دی جذبه لرله، دهغه تقاضاوه چي ټولو ته دالله ﷻ پیغام ورسوی دجهنم څخه یی بچ کی کومو خلقو چي به دا پیغام نه قبلوی نو ده ﷺ ته به سخته صدمه رسیدله او دی به داسی غمجن کیدی، لکه دچا اولاد چي دده دوینا خلاف اور ته ځی. په دی وجه قرآن ځای په ځای دنبی کریم ﷺ دتسلی دپاره په مختلفو عنواناتو سره بیان فرمایلی دی. په تیرو ایتونوکی. وَلَا تَحْزَنْ عَلَيْهِمْ وَلَاتَكُ فِي ضَيْقٍ، ددی سلسلی یو عنوان وو. په دی ذکر سوی آیت کی هم دتسلی مضمون په بل انداز سره بیان سوی دی چي ستا کار دپیغام رسولو وو هغه تاپوره کی. کومو خلقو چي دا قبول نه کی، په دی کی ستاڅه قصور اوکوتاهی نسته چي ته غم پرکوی، بلکه دغو خلقو دقبول والی صلاحیت ورك کړی دی. د دوی صلاحیت ورکول په دی آیت کی قرآن کریم په دری مثالونو کی ثابت کړی دی. اول دا چي دا خلق دحق قبلولو په معامله کی بالکل دمړو لاشونو په شان دی، کوم چي دخبرو اوریدو څخه څه فائده نه سی اخستی. دوهم دا چي د دوی مثال دهغه کڼو په شان دی کوم چي دکڼوالی سره خبره اوریدل هم نه غواړی، بلکی کله چي څوك ورته اورول غواړی نو هغه ته شا کړی تښتی دریم دا چي د دوی مثال دهغه ړندو په شان دی چي که څوك دوی ته لار ښوول هم وغواړی خو دوی وینی نه ددی درو مثالونو د ذکر کولو څخه وروسته په اخر کی فرمایی.

إِن تُسْمِعُ إِلَّا مَن يُؤْمِنُ بِآيَاتِنَا فَهُم مُّسْلِمُونَ ، یعنی ته خو صرف هغو خلقو ته اورولی سی کوم چي دالله ﷻ په ایتونو باندی ایمان را وړی او فرمانبرداری قبوله کړی، په دی ټول مضمون کی دا خبره بالکل واضحه ده چي دلته د اوریدلو او اورولو څخه مراد محض غوږونو ته اواز رسول نه دی، بلکه مراد ددی څخه هغه اورول او اوریدل دی کوم چي نفع رسوی، کوم او ریدل چي نفع نه ورکوی هغه قرآن دمقصد په اعتبار سره په عدم سماع باندی تعبیر کړی ده، لکه د ایت په اخر کی دا ارشاد دی چي ته یې صرف هغو خلقو ته اورولی سی، کوم چي ایمان راوړی. که په دی کی د اوریدو څخه مراد محض د دوی غوږ ته اواز رسول

وی نو دقرآن د ارشاد به خلاف مشاهده او خلاف واقع وی ، څکه چی دکافرانو غوږونو ته د اواز رسولو او دعوی د اوریدو او جواب ورکولو شهادتونه بی شمیره دی ، څوك هم ددی څخه انکارنه سی کولی . ددی څخه واضحه سوه چی د اورولو څخه مراد نفع مند اورول دی ، دوی ته چی یی دمړو لاشونو سره تشبیه ورکړې ده او دا یی فرمایلی دی چی ته مړو ته نه سی اورولی . ددی معنٰی هم دا سوه چی لکه څنګه چی مړی یوه خبره هم واوری او دغه وخت حق قبلول هم وغواړی خو دا د دوی دپاره نفع مند نه وی ، څکه چی دوی ددنیا ددار العمل څخه تیرسوی دی ، کوم ځای چی ایمان او عمل نفع مندکیدای سی . دمرګ څخه وروسته په برزخ یامحشرکی خو به ټول کافران او منکران د ایمان او نیك عمل تمنا کوی ، مګر دغه وخت د ایمان او عمل دقبلیدو وخت نه دی . په دی وجه ددی آیت څخه دا نه ثابتیږی چی مړی دچاڅه خبره اوریدای نه سی . په دی وجه دمړو د اوریدو په مسئله کی دا ایت په حقیقت کی ساکت دی . دا مسئله پرځپل ځای دنظر قابله ده چی مړی څه خبره اوریدای سی اوکه یې نه سی اوریدی .

مسئله دمړو داوریدو: دا مسئله چی مړی اواز اوری اوکه یې نه اوری دهغو مسئلو څخه ده په کومو کی چی په خپله دصحابه کرامو په مینځ کی اختلاف راغلی دی . عبدالله ابن عمر ﷺ دمړو اوریدل ثابت ګڼی او حضرت ام المومنین عائشه صدیقه ﷺ ددی نفی کوی . په دی وجه په نورو اصحابو او تابعینوکی هم دوی ډلی سوی دی ، ځینی یی دا ثبات قائل دی او ځینی دنفی . او په قرآن کی دا مضمون یو خو په دی موقع په سورة نمل کی را غلی دی ، دوهم په سورة روم کی تقریبًا په دی الفاظو سره بل آیت راغلی دی او په سورة فاطر کی دا مضمون په دی الفاظو سره راغلی دی . وَمَا اَنْتَ بِمُسْمِعٍ مَنْ فِی الْقُبُوْرِ، یعنی ته هغو خلقو ته نه سی اورولی ، کوم چی په قبرونو کی دی .

په دی دری سره ایتونو کی دا خبره دنظر قابله ده چی په دی کی یی په یوه کی هم دا نه دی فرمایلی چی مړی اوریدی نه سی ، بلکه په دری سره ایتونو کی یی نفی ددی کړې ده چی ته یې ورته نه سی اورولی . په دی دری سره ایتونو کی ددی تعبیر او عنوان په اختیارولو سره دی طرف ته اشاره راوزی ، چی په مړو کی د اوریدو صلاحیت خو کیدای سی ، مګر مونږ یې په خپله په خپل اختیار دوی ته نه اور وو .

ددی درو سره ایتونو په مقابله کی یو څلورم آیت کوم چی دشهیدانو په باره کی راغلی دی ، هغه دا ثابتوی چی شهیدانو ته په خپلو قبرونو کی یو خاص قسم ژوند ورکول کیږی او ددغه ژوند مطابق رزق هم دوی ته ورکول کیږی او دخپلو پاتو وروستنیو متعلقینو متعلق هم دالله ﷻ دطرف څخه دوی ته خوشخبری اوررول کیږی ، آیت دا دی . وَلَا تَحْسَبَنَّ الَّذِیْنَ قُتِلُوْا فِیْ سَبِیْلِ اللّٰهِ اَمْوَاتًا بَلْ اَحْیَاءٌ عِنْدَ رَبِّهِمْ یُرْزَقُوْنَ (۱۶۹) فَرِحِیْنَ بِمَا اٰتٰهُمُ اللّٰهُ مِنْ فَضْلِهٖ وَیَسْتَبْشِرُوْنَ بِالَّذِیْنَ لَمْ یَلْحَقُوْا بِهِمْ مِنْ خَلْفِهِمْ اَلَّا خَوْفٌ عَلَیْهِمْ وَلَاهُمْ یَحْزَنُوْنَ (۱۷۰) دا ایت ددی دلیل دی چی دمرګ څخه وروسته هم په روح انسانی کی شعور او ادراك باقی پاته کیدای سی ، بلکه دشهداوو په معامله کی ددی دوقوع شهادت هم دا ایت ورکوی ، پاته سوه دا معامله چی دا حکم خو

دشهیدانو سره مخصوص دی ، دنورو مړو دپاره نه دی . وروسته ددی جواب دا دی چی ددی آیت څخه کم ازکم دومره خو ثابته سوه چی دمرګ څخه وروسته هم په روح انسانی کی شعور او ادراك او ددی دنیا سره علاقه باقی پاته کیدای سی ، څنګه چی الله ﷻ شهیدانو ته دا اعزاز بخښلی دی ، چی د دوی دروحونو تعلق د دوی دجثو اوقبرونو سره قائم پاته کیږی . دغه ډول کله چی الله ﷻ وغواړی نو نورو مړو ته هم دا موقع ورکول کیږی . حضرت عبدالله بن عمرؓ کوم چی دمړو د اوریدو قائل دی . دهغه دا قول هم دیو صحیح حدیث پربنا باندی دی کوم چی دحضرت عبدالله ابن عمر رضی الله عنهما څخه په صحیح سندونو سره نقل دی ، هغه دا دی .

مَامِنْ اَحَدٍيَمُرُّ بِقَبْرِ اَخِيْهِ الْمُسْلِمِ * كَانَ يَعْرِفُهُ فِى الدُّنْيَافَيُسَلِّمُ عَلَيْهِ اِلاَّ رَدَّ اللهُ عَلَيْهِ رُوْحَهُ حَتّٰى يَرُدَّ عَلَيْهِ السَّلاَمَ (ذکره ابن کثیر فی تفسیره مُصَحِّحًا عَنْ ابن عمرؓ) کوم سړی چی دخپل یو مسلمان ورور پرقبر تیریږی کوم چی هغه په دنیا کی پیژندی او هغه ده ته سلام وکی نو الله ﷻ ددغه مړی روح ده ته بیرته را ولیږی چی دی دسلام جواب ورکی .

ددی څخه دا هم ثابته سوه چی کله یو سړی دخپل مړ ورور پر قبر ورسی سلام کوی نو هغه مړی دده سلام اوری او جواب ورکوی او ددی صورت داسی وی چی الله ﷻ دغه وخت دده روح دی دنیاته رالیږی . ددی څخه دوې خبری ثابتی سوی ، اول دا چی مړی اوری . دوهم دا چی دمړو اوریدل او زمونږ اورول ورته ، دا زمونږ په اختیار کی نه وی ، البته الله ﷻ چی کله وغواړی اوروی یې ورته ، کله چی نه غواړی نو نه یې اوروی ورته . دمسلمان دسلام کولو په وخت کی خو دی حدیث دا وښوولـه چی الله ﷻ دمړی روح بیرته راولی او ده ته سلام کوی او ده ته دسلام دجواب ورکولوهم قدرت ورکوی . دباقی حالاتو او کلمو متعلق څه قطعی فیصله نه سی کیدی چی مړی دا اوری او که نه .

په دی وجه د امام غزالی رحمه الله او علامه سبکی رحمه الله وغیره تحقیق دا دی چی دومره خبره خو په صحیحو احادیثو او دقرآن په ذکر سوی آیت سره ثابته ده چی ځینی وخت مړی دژوندو خبری اوری ، لیکن دا ثابته نه ده چی هرمړی په هرحال کی دهرسړی خبره خامخا اوری ، دغه شان د ایتونو او روایتونو تطبیق هم کیدی سی . کیدای سی چی مړی په یو وخت کی د ژوندو خبری اوریدی سی ، بل وخت یې نه سی او ریدی ، دا هم ممکنه ده چی دځینو خبری اوریدی سی دځینونه سی اوریدی یاځینی مړی اوری ځینی یې نه اوری . ځکه چی دسورة نمل ، سورة روم او سورة فاطر د ایتونو څخه دا هم ثابته ده چی مړوته اورول زمونږ په اختیار کی نه دی ، بلکه الله ﷻ چاته چی وغواړی اوری یې . په دی وجه په کومو مواقعو کی چی دصحیح احادیثو څخه اوریدل ثابت دی ، هلته په اوریدو عقیده ساتل په کار دی اوکوم ځای چی ثابت نه دی ، هلته دواړه احتماله دی په دی وجه نه قطعی دا اثبات ګنجائش سته ، نه قطعی دنفی (والله سبحانه وتعالی اعلم)

ددی مسئلی دمکمل تحقیق دپاره احقر یوه مستقله رساله په نوم د، تکمیل الحبور بسماع اهل القبور، لیکلی ده، کومه چی په احکام القرآن سورة روم حزب خامس کی په عربی ژبه کی شائع سوې ده، چی په دی

کی دایتونو اوروایتونو اوداقوالودمخکنیو اووروستنیو اودشرح صدور وغیره څخه ډیر واقعات اوخبری اتری داهل قبورونقل سوی دی ، عالمان یې هلته کتلی سی ، دعوامو دپاره دلته دهغه خلاصه ولیکل سوه

وَإِذَا وَقَعَ الْقَوْلُ عَلَيْهِمْ أَخْرَجْنَا لَهُمْ دَابَّةً مِّنَ الْأَرْضِ تُكَلِّمُهُمْ أَنَّ

اوهرکله چی ولوېږي په دوی خبره را وبه باسو مونږ د دوی دپاره یو حیوان د مځکی څخه د دوی سره به خبری کوی ،

النَّاسَ كَانُوا بِآيَاتِنَا لَا يُوقِنُونَ ﴿٨٢﴾

په دی وجه چی خلقو زمونږ په خبرو یقین نه کوی .

لنډتفسیر: او کله چی وعده (دقیامت) په دوی (خلقو) باندی پوره کیدونکی سی (یعني دقیامت زمانه نژدی سی) نومونږ به د دوی دپاره دمځکی څخه یو (عجیبه) حیوان را وباسو چی هغه به د دوی سره خبره کوی چی (کافرانو) خلقو زمونږ (یعني دالله ﷻ) په ایتونو (خصوصاًپه هغو آیتونوکوم چی دقیامت متعلق دی) یقین نه راوړی (مګر اوس قیامت را ورسیدی دهغه په علاماتو کی یوه علامه زماظهور دی)

(معلومات او مسئلې ، دآبة الارض څه شي دی ؟ او کله اوکوم ځای به راوزي)

په مسند احمدکی دحضرت حذیفه ﷺ څخه روایت دی چی نبی کریم ﷺ فرمایلی دی ، قیامت به ترهغه وخته پوری قایم نه سی تر څوپوری چی ته ددی څخه مخکی لس نښانی ونه وینی .

(۱) دلمر دمغرب څخه راختل (۲) دود (۳) دابه (۴) یاجوج ماجوج راوتل (۵) دعیسیٰ ﷺ راکښته کیدل (۶) دجال (۷) دری مځکی ننوتل (یوه په مغرب کی ، یوه په مشرق کی، یوه په جزیرة العرب کی (۸) یو اور چی دکښته عدن څخه به راوزي او ټول خلق په شړی او میدان دحشر طرف ته به یی بیایی ، کوم ځای چی خلق دشپی تیرولو دپاره پاته کیږی دا اور به هم ودریږی (دا ډول روایت کړی دی مسلم او اهل سنتو . او ویلی دی ترمذی چی دا حدیث حسن صحیح دی .

په دی حدیث کی دقیامت په نژدی کیدو کی دمځکی څخه دیو داسی حیوان را وتل ثابت دی چی دخلقو سره به خبری کوی اودلفظ ددابې په تنوین کی ددی حیوان عجیب الخلقت کیدو طرف ته هم اشاره پیدا سوه او دا هم چی دا حیوان به دعامو حیواناتو په شان دتولد تناسل په طریقه نه پیدا کیږی بلکه ناڅاپه به دمځکی څخه راوزي . او دا خبره هم په دی حدیث سره معلومیدای سی چی ددابة الارض را وتل به د اخری علاماتو څخه وی ، دکوم څخه وروسته چی به ډیر ژر قیامت راځی . ابن کثیر په حواله دابوداود طیالسی ، دحضرت طلحه بن عمر ﷺ څخه په یواوږد حدیث کی روایت کړی دی چی دادابة الارض به په مکه مکرمه کی دصفادغرڅخه راوزي او دخپل سرڅخه به خاوری څنډی په مسجد حرام کی به دحجر اسود او مقام ابراهیم مینځ ته ورسیږی، خلق چی دا وويني نوبه تښتی یو جماعت به پاته سی . دادابه به دهغوی مخونه لکه دستورو په شان روښانه کی . ددی څخه وروسته به هغه مځکی ته ووزي دهرکافر پرمخ به دکفر نښان

ولګوي خوك به دده دنيولو څخه په تښتيدو نه سي خلاصيدی ، دابه هرمومن اوكافر پيژني (ابن كثير)
اومسلم بن حجاج دحضرت عبدالله ابن عمر ﷺ څخه روايت کړی دی چي مادنبي کريم ﷺ څخه يوحديث او ريدلی وو چي زه يې هيڅکله هيرولی نه سم هغه دا دی چي نبي کريم ﷺ فرمايلي دی چي دقيامت په اخری نښانوکی دتولو څخه اول دمغرب څخه به دلمرختلوی اوددی څخه وروسته به دابة الارض راوزی په دی دواړو نښانو کی چي کومه يوه نښانه اول وسی ، ددی څخه فوراً وروسته به قيامت بيا راځی (ابن كثير)
شيخ جلال الدين محلی فرمايي چي ددابی دراوتلو په وخت کی به امر بالمعروف او دنهی عن المنکر احکام پريښوول سی او ددی څخه وروسته به يو کافر مسلمان نه سی ، دا مضمون دډيرو احاديثو څخه را اخستل سوی دی (مظهری)
ابن کثير وغيره دلته ددابة الارض هيئت او کيفيت او دحالاتو متعلق روايتونه نقل کړی دی چي په دی کی اکثره قابل اعتماد نه دی . په دی وجه څومره خبره چي دقرآن دايتونو او صحيح احاديثو څخه ثابته ده چي دابه يو عجيب الخلقت حيوان وی ، بغير دتولد تناسل دطريقی څخه به دمځکی څخه راوزی ، دی به په مکه مکرمه کې راوزی ، بيابه په توله دنياکی ګرځی ، دی به کافر اومومن پيژني او د دوی سره به خبری کوی . بس په دومره خبره عقيده ساتل په کار دی . دزياتو حالاتو او کيفيتونو تحقيق او تفتيش نه ضروری دی او نه څه فائده په کی سته .
پاته سوه دا معامله چي دابة الارض به دخلقو سره خبری کوی . ددی څه مطلب دی ؟ ځيني حضرات فرمايي چي ددی خبری به دا وی کومی چي په قرآن کی دی . أَنَّ النَّاسَ كَانُوا بِآيَاتِنَا لَا يُوقِنُونَ، داکلام به هغه دالله ﷻ دطرف څخه دخلقو سره کوی . ډيرو خلقو دنن څخه مخکی زموږ په ايتونو يقين نه درلودی او مطلب به يی داوی چي اوس هغه وخت راغلی دی چي دغو تولو ته به يقين راسی مګر ددغه وخت يقين به شرعاً معتبر نه وی او دحضرت ابن عباس ﷺ ، حسن بصری قتاده څخه نقل دی او يو روايت دحضرت علی ﷺ څخه هم دی چي دا دابه به دخلقو سره داسی کلام او خبری کوی څنګه چي عامی خبری دی (ابن كثير)

وَيَوْمَ نَحْشُرُ مِن كُلِّ أُمَّةٍ فَوْجًا مِّمَّن يُكَذِّبُ بِآيَاتِنَا فَهُمْ يُوزَعُونَ ﴿٨٣﴾ حَتَّىٰ إِذَا جَاءُوا

او په کومه ورځ چي را جمع کړو موږ دهر امت څخه يوه ډله کومو چي دروغجن کول زموږ آياتونه بيابه د دوی ډلی جوړی کړل سی تر دی چي کله حاضر سی

قَالَ أَكَذَّبْتُم بِآيَاتِي وَلَمْ تُحِيطُوا بِهَا عِلْمًا أَمَّاذَا كُنتُمْ

وبه ويل سی ورته آيادروغجن کړل تاسی زماآياتونه اونه وی پوه سوی ورڅخه ، يااوواياست چي تاسی

تَعْمَلُونَ ﴿٨٤﴾ وَوَقَعَ الْقَوْلُ عَلَيْهِم بِمَا ظَلَمُوا فَهُمْ لَا يَنطِقُونَ ﴿٨٥﴾

څه کول ؟ او ولوبيږي به په دوی خبره په سبب ددی چي ظلم يی کړی وو پس دوی به هيڅ نه سی ويلای

أَلَمْ يَرَوْا أَنَّا جَعَلْنَا الَّيْلَ لِيَسْكُنُوا فِيهِ وَالنَّهَارَ مُبْصِرًا ۚ

آیا دوی نه گوری چی مونږ جوړه کړی ده شپه چی آرام په کښی حاصل کړی او ورځ دلیدو دپاره

إِنَّ فِي ذَٰلِكَ لَآيَاتٍ لِّقَوْمٍ يُؤْمِنُونَ ﴿٨٦﴾ وَيَوْمَ يُنفَخُ فِي

خامخا په دی کښی نښانی دی دهغو خلقو دپاره چی یقین کوی ، او په کومه ورځ چی پو کړل سی په

الصُّورِ فَفَزِعَ مَن فِي السَّمَاوَاتِ وَمَن فِي الْأَرْضِ إِلَّا مَن

شپیلی کی نو وبه بیریږی څوک چی دی په آسمانونو کی او څوک چی دی په مځکه کی مګر کوم لره چی

شَاءَ اللَّهُ ۚ وَكُلٌّ أَتَوْهُ دَاخِرِينَ ﴿٨٧﴾ وَتَرَى الْجِبَالَ تَحْسَبُهَا

الله وغواړی ، او ټول به راسی هغه ته په عاجزی سره ، او ته به وینی غرونه چی ګمان به پر کړی

جَامِدَةً وَهِيَ تَمُرُّ مَرَّ السَّحَابِ ۚ صُنْعَ اللَّهِ الَّذِي أَتْقَنَ كُلَّ

دولاړو او هغه به ځی په شان د وریځی ، دا کار دهغه الله دی چاچی مضبوط کړی دی ټول

شَيْءٍ ۚ إِنَّهُ خَبِيرٌ بِمَا تَفْعَلُونَ ﴿٨٨﴾ مَن جَاءَ بِالْحَسَنَةِ فَلَهُ خَيْرٌ مِّنْهَا

شیان ، بیشکه هغه خبردار دیدهغه څخه چی تاسی یی کوی ، چاچی راوړه نیکی پس هغه ته به ورسیږی دهغه څخه

وَهُم مِّن فَزَعٍ يَوْمَئِذٍ آمِنُونَ ﴿٨٩﴾ وَمَن جَاءَ بِالسَّيِّئَةِ فَكُبَّتْ

غوره ، او هغوی به دبیریدو ددغه ورځی څخه په امن وی ، او چا چی راوړه بدی پس پرمخی به

وُجُوهُهُمْ فِي النَّارِ هَلْ تُجْزَوْنَ إِلَّا مَا كُنتُمْ تَعْمَلُونَ ﴿٩٠﴾

وغورځول سی په اور کی ، هغه بدله به بیا پیدا کړی څه چی تاسی کول .

لنډتفسیر: په کومه ورځ چی (دقبرونو څخه دژوندی کیدو څخه وروسته) مونږ دهر امت څخه (یعنی دتیرو امتونو څخه هم او ددی امت څخه هم) یوه یوه ډله دهغو خلقو (دحساب دپاره) جمع کړو کومو چی به زما ایتونه دروغجن کول (بیابه دوی دموقف طرف ته دحساب دپاره روان سی اوچونکی دوی به ډیر وی به دی وجه) دوی (په ټللو کی د وروسته سره دیو ځای کیدو دپاره) به ودرول سی (چی مخ ته او وروسته نه وی ټول یو ځای سی موقف ته دحساب دپاره ولاړسی ، مراد ددی څخه بیان د ډیروالی دی څکه چی په لویه

ګڼه کی عادتًا داسی کیږی برابره خبره ده که څه سپکی سپوری ورته کول کیږی او که نه) تردی پوری چی کله (په تلوتلو کی موقف ته) حاضر سی نو (حساب به شروع سی او) الله ﷻ به ارشاد وفرمایی چی ایاتاسی زما ایتونه درواغجن کړی وه ؟ حال دا دی چی تاسی هغه دخپل علم په احاطه کی هم نه وه راوستلی (چی په دی سره به درته دفکر کولو موقع رسیدل اوچی فکر موکړی وای نو یوه رایه به موقائمه کړی وه . مطلب دا دی چی داوریدو سره مو بغیر دڅه غور او فکر څخه هغوی درواغجن کړل او یوازی په درواغجن کولو مو بسوالی ونه کی) بلکه (یادخو وکړی چی ددی څخه علاوه) نور هم څه څه کارونه تاسی کړی دی (مثلاً پیغمبرانو او ایماندارو ته مو ازار ورسوی کوم چی د درواغجن کولو څخه هم ډیر زیات دی ، دغه شان نور دکفر په عقیدو او فسق او فجور کی اخته واست) او (اوس هغه وخت دی چی) پرهغوی (په وجه دقائم کیدو دجرم) وعده (دعذاب) پوره سوه (یعنی دسزا مستحق کیدل پرثابت سول) په وجه ددی چی (په دنیاکی) دوی (لوی لوی) زیاتی کړی وو (دکومو چی نن ظهور ثابت سو) وروسته (چونکی ثبوت قوی دی په دی وجه) هغه خلق به (دعذر وغیره متعلق) خبره هم نه سی کولای (اوپه ځینو ایتونوکی چی کوم د دوی عذر پیش کول ذکر دی ، دابه په ابتداء کی وی بیاچی حجت پرقائم سی نو څه خبره به نه سی کولی او دا خلق کوم چی دقیامت دامکان څخه منکره دی نو دا محض حماقت دی ، ځکه چی علاوه دربتینو نقلی دلیلونو څخه پردی عقلی دلیل خو هم قائم دی مثلاً) ایادوی دی ته نه ګوری چی مونږ شپه جوړه کړه چی خلق په دی کی ارام وکی (او دا ارام مشابه دمرګ دی) او ورځ مو جوړه کړه چی دوی په کی وینی ګوری (کوم چی موقوف دی په بیداری باندی او دا وروسته دمرګ څخه دژوندی کیدو سره مشابه دی پس) بیشکه په دی (روزانه خوب او بیداری) کی (په امکان دبیا ژوندی کیدو او ددی ایتونو په حقوالی کوم چی پردی دلالت کوی) لوی دلیلونه دی (ځکه چی دمرګ حقیقت دا دی چی دروح تعلق دجسم څخه جلاسی او دبیرته ژوندی کیدو حقیقت دا دی چی دا تعلق بیا بیرته راسی او خوب هم په یو حیثیت سره زوال دی ، ددی تعلق ځکه چی په خوب کی دا تعلق کمزوری سی او کمزوری هلته راځی کله چی دوجود په مرتبه کی یوه مرتبه زائله سی او بیداری دوجود ددی زائل سوی مرتبی دواپسی نوم دی په دی وجه مشابهت په دواړو کی تمام سو او دخوب څخه وروسته په بیداری باندی دالله ﷻ قدرت روزانه لیدل کیږی ، نو دمرګ څخه وروسته ژوند هم ددی یو مثال دی دغه به څنګه دالله ﷻ دقدرت څخه دباندی وی او دا عقلی دلیل دهرسړی دپاره عام دی ، مګر په اعتبار دنفع سره) دهغو خلقو دپاره (دی) کوم چی ایمان لری (ځکه چی هغوی فکر کوی او دغه نور سوچ او فکر نه کوی او نتیجی ته درسیدو دپاره نظر او فکر ضروری دی ، په دی وجه نور ددی څخه نفع نه سی اخستی) او (یوه هیبتناکه واقعه به دقیامت څخه مخکی وی چی ذکر یی راروان دی ، دهغه هیبت هم دیاد ساتلو قابل دی) په کومه ورځ چی به په شپیلی کی پوه ووهل سی وروسته څومره چی په آسمان او مځکه کی (ملائکی او انسانان وغیره) دی ، ټول به وبیریږی (او بیابه مړه سی او کوم چی مړه سوی وی ،

دهغوی روحونه به بی هوښه سی) مګر چاته چی خدای غواړی (هغوی به ددی بیری او مرګ څخه محفوظ
وی ، مراد ددی څخه دمرفوع حدیث مطابق حضرت جبرائیل ، میکائیل، اسرافیل اوملك الموت اوحاملان
دعرش دی ، بیا به دا ټول هم بغیر د اثر دشپیلی څخه وفات سی ، لکه چی داسی په درمنثور سورة زمرکی
دی) او (په دنیا کی چی څنګه عادت دی چی خلق دځه څخه بیریږی نو تبښتی ورڅخه ، هلته به دالله ﷻ څخه
هیڅوك نه سی تبښتیدی بلکه) ټول به دهغه په مخکی په عاجزی سره ټیټ سوی حاضریږی (تردی چی
ژوندی به مړه اومړه به بی هوښه سی) او (دشپیلی دا تاثیر او تغیر به په جانداروکی وی او مخ ته په بی
جانه شیانو کی چی کوم تاثیر وی دهغه بیان دی هغه دا چی ای مخاطبه!) ته (دا وخت) به غرونو په داسی
حالت کی وینی په کوم سره چی (ددغو دظاهری محکموالی په سبب په بادی النظرکی) تاته خیال راځی چی
دابه (همیشه دغه شان وی اوهیڅکله به دخپل ځای څخه) حرکت ونه کړی حال دا دی چی (هغه وخت به
دغرونو دا حالت وی چی) هغه به دوریځو په شان (ګډوډ سپك او اجزاء به یی منتشرسی دآسمان په فضاکی
به) الوتونکی ګرځی (لکه چی دا قول دالله ﷻ دی . وَبُسَّتِ الْجِبَالُ بَسًّا فَكَانَتْ هَبَآءً مُّنْبَثًّا . اوپه دی څه تعجب
نه دی کول په کار چی ددا سی دروند اوسخت شی به دا حال څنګه سی ، وجه دا ده چی) دا به دخدای کار
وی کوم چی هر شی (په مناسب انداز سره) جوړ کړی دی (او په اول کی په هیڅ شی کی څه مضبوطتیانه وه
څکه چی په خپله ددغه شی ذات نه وو ، نو دمضبوطتیا صفت خو په کی ګرسره وو نه نو څنګه چی هغه
دنیست څخه سته او دضعیف څخه قوی کړل دغه ډول ددی عکس هم کول کیږی . څکه چی دذاتی قدرت
نسبت دټولو مقدوراتو سره یو ډول دی او خاصکر کوم شیان چی دیوه سره مثل او مشابه دی ، په دوی کی
خو زیات واضح دی . دغه شان په نورو ایتونو کی ذکر دی . وَحُمِلَتِ الْأَرْضُ وَالْجِبَالُ فَدُكَّتَا دَكَّةً وَاحِدَةً
فَيَوْمَئِذٍ وَقَعَتِ الْوَاقِعَةُ وَانْشَقَّتِ السَّمَآءُ الخ ، بیا ددی څخه وروسته به دوهمه شپیلی وی چی په دی سره
به روحونه په هوښ کی راسی دخپلو بدنونو سره به پیوست سی او ټول عالم به دنوی سرڅخه جوړ سی او
لوړ چی کوم دحشر ذکر وو ، هغه به ددی دوهمی شپیلی څخه وروسته وی ، مخ ته داصل مقصود یعنی په
قیامت کی دجزا اوسزا بیان دی ، وروسته اول ددی دابتدایی په طور ارشاد دی چی) دا یقینی خبره ده چی
الله ﷻ ستاسی دټولو کارونو څخه پوره خبردار دی (کوم چی دجزاء اوسزا اولنی شرط دی اونور شرطونه
یی هم لکه قدرت وغیره په مستقلو دلیلونو سره ثابت دی وروسته دمجازاتو ممکن کیدل خو په دی سره
ښکاره دی او بیاحکمت مقتضی دی دواقع کیدو دمجازاتو، په دی سره دجزا اوسزا واقع کیدل ثابت سول
د ابتدایی څخه وروسته مخ ته دهغه واقع کیدل سره دهغه دقانون او طریقی بیان فرمایی چی) څوك نیکی
(یعنی ایمان) راوړی پس (هغه په ایمان راوړلو چی دکوم اجر مستحق دی) هغه سری ته به دده (دنیکی د
ذکر سوی اجر) څخه ښه (اجر) ورکول کیږی او هغه خلق به دلوی بیری څخه په دغه ورځ په امن وی ، (لکه
چی په سورة انبیاء کی دی . لَا يَحْزُنُهُمُ الْفَزَعُ الْأَكْبَرُ . الآية، اوکوم سری چی بدی (یعنی کفر اوشرك) راوړی نو هغه
خلق به پرمخی اورته وغورځول سی (او دوی ته به وویل سی چی) تاسی ته خو دهغو عملونو سزا درکول کیږی کوم

چې تاسې (په دنیا کې) کړې وه (دا عذاب بې وجهې نه دی)

معلومات او مسئلې: فَهُمْ يُوزَعُونَ د وَزَعْ څخه مشتق دی، چې معنی یې منع کول دی، مراد دا دی چې مخ ته برخه به منع سي، چې وروسته پاته سوي ورسره یو ځای سي او ځینې حضراتو دوَزَعْ معنی دلته ددفع کړې ده یعنی دوی به دکې ورکوی، دموقف طرف ته به یې راولي.

وَلَمْ تُحِيطُوا بِهَا عِلْمًا په دې کې اشاره ده چې دالله ﷻ د ایتونو درواغجن کول په خپله یو لوی جرم او ګناه ده، خاصکر هرکله چې دسوچ کولو، ځان پوهولو او فکر کولو طرف ته دتوجه کولو څخه بغیر یې درواغجن کې نو دا جرم دوچنده سي. ددې څخه معلومه سوه چې کوم خلق دفکر کولو باوجود حق پیدا نه کړی او نظر او فکر یې دګمراهی طرف ته بوزي نو د دوی جرم څه قدرسپک وی که څه هم دالله ﷻ دوجود او توحید وغیره درواغجن کول بیا هم دکفر اوګمراهی او دائمی عذاب څخه دوی نه سی خلاصولای، ځکه چې دا داسې بدیهی کارونه دی، په کومو کې چې دنظر او فکر غلطی معاف نه ده.

وَيَوْمَ يُنْفَخُ فِي الصُّورِ فَفَزِعَ مَنْ فِي السَّمَاوَاتِ، دفَزَعْ معنی ده بیریدل او پریشانه کیدل، او په یو بل آیت کې دلته دفزَعْ پرځای صَعِقَ راغلی دی چې معنی یې بې هوښه کیدل دی، که دا دواړه ایتونه د اولې شپیلې متعلق مقرر سی نو د دواړو لفظونو مطلب به دا وی چې دشپیلې دوهلو په وخت کې به اول ټول مرعوب او پریشانه سی بیا به بې هوښه سی او اخر مړه به سی او قتاده وغیره امامانو دتفسیر دا ایت د دوهمې شپیلې سره متعلق مقرر کړی دی په کومه چې به ټول مړی بیرته ژوندی سی، او مطلب دایت دا دی چې ټول به دژوندی کیدو په وخت کې بیریدلی پورته کیږی او ځینې حضرات فرمایی چې شپیلې به درې واره وهل کیږی، اوله شپیلې به دفزع وی چې ټول به په پریشانی او رعب او بیره کې اخته سی، دوهم به دصَعِقْ وی چې ټول مړی به ژوندی سی مګر دقرآن دایتونو او صحیح احادیثو څخه ثبوت د دوو شپیلیو ورکول کیږی (قرطبی و ابن کثیر)

ابن مبارک دحضرت حسن بصری څخه مرسلاً روایت کړی دی چې نبی کریم ﷺ فرمایلی دی چې د دواړو شپیلیو په مینځ کې به څلویښت کاله زمانه وی (قرطبی)

إِلَّا مَنْ شَاءَ اللَّهُ داستثناء دفزع څخه ده چې معنی یې بیره ده، مطلب دادی چې څه خلق به داسې وی پر کومو چې به څه بیره دحشرپه وخت کې نه وی، دحضرت ابوهریره ﷺ په یو روایت کې دی چې دا خلق به شهیدان وی دحشر، د بیرته ژوند په وخت کې به په دوی څه بیره نه وی، (صحح الحدیث ابن العربی وکلبی)

سعیدبن جبیر ﷺ هم داسې فرمایی چې مراد ددې څخه شهیدان دی کوم چې به دحشر په وخت کې خپلې تورې په غاړه دعرش چاپیره جمع وی او قشیری فرمایی چې انبیاء خو په درجه اولی په دې کې دا خل دی، ځکه چې دوی ته دشهادت مقام هم حاصل دی او دنبوت مقام پردې لوړ دی (قرطبی)

او په سورة زمر کې به مخ ته راسی. وَنُفِخَ فِي الصُّورِ فَصَعِقَ مَنْ فِي السَّمَاوَاتِ وَمَنْ فِي الْأَرْضِ إِلَّا مَنْ شَاءَ اللَّهُ، په دې کې دفزَعْ پرځای دصَعِقَ لفظ راغلی دی، چې معنی یې بې هوښه کیدل دی او مراد دلته بې هوښه

کیدل بیا مړه کیدل دی او په دی کی هم د" اِلَّا مَنْ شَاءَ اللّٰهُ، استثناء ده او ددی استثناء څخه مراد دمرفوع حدیث مطابق شپږ ملائکی حضرت جبرائیل ، میکائیل اسرافیل او عزرائیل او حاملان دعرش دی چی په دی شپیلۍ سره به نه مری ، بیاوروسته به دحدیث دوضاحت مطابق پر دی ټولو هم مرګ راسی . کومو حضراتو تفسیر لیکونکو چی فَزِعَ او صَعِقَ یو مقرر کړی دی ، هغوی د سورة زمر په شان دلته هم داستثناء څخه مراد مخصوصی ملائکی اخستی دی په لنډتفسیر کی هم دا اختیار سوي ده او چاچی فَزِعَ او صَعِقَ جلا جلا منلی دی ، دهغوی په نزد دفزع څخه مستثنٰی شهیدان دی ، لکه چی لوړ نقل سوی دی .

وَتَرَى الْجِبَالَ تَحْسَبُهَاجَامِدَةً وَهِيَ تَمُرُّمَرَّالسَّحَابِ ' مراد دا دی چی غرونه به دخپل ځای څخه لوړ سی او داسی به روان وی لکه وریځ چی لیدونکی دی پرخپل ځای ولاړه وینی ، حال دا وی چی هغه تیزه روانه وی ، ټول لوی جسمونه دکومو چی ابتداء او انتها دانسان دنظر په مخکی نه وی ، هرکله چی هغه یو طرف ته حرکت کوی ، نو برابره خبره ده که دغه حرکت که هر څومره تیز وی خو لیدونکو ته داسی ښکاری چی هغه پرخپل ځای ولاړه ده ، چی مشاهده یی په ګڼه وریځ او تر لیری پوری په خپور ګرد او دُهند سره کیدای سی چی دغه وریځ په خپل ځای ولاړه ښکاری حال دا وی چی هغه روانه وی ، مګر حرکت یی لیدونکو ته هغه وخت ښکاره سی کله چی دا دومره لیری ولاړه سی چی دآسمان کناری ښکاره سی .

لنډه دا چی دغرونو پرخپل ځای کلکوالی دلیدونکو دنظر په اعتبار سره دی او حرکت یی دحقیقت په اعتبار سره دی . عامو تفسیر لیکونکو دایت مطلب دا مقرر کړی دی او په ذکر سوی لنډتفسیر کی یی دا اختیار کړي ده چی دا دوه حالتونه د دوو وختونو دی . کلکوالی یی دهغه وخت په اعتبار سره کوم چی لیدونکی وینی او دا ګنی چی دا به هیڅکله دخپل ځای څخه ونه ښوروی او . تَمُرُّ مَرَّ السَّحَابِ، دقیامت دورځی په اعتبار سره دی .

ځینی علماء فرمایی چی په قرآن کریم کی دقیامت په ورځ دغرونو حالات مختلف بیان سوی دی ، اول حال یی ، انډکاك ، او زلزله ده کوم چی به دټولی مځکی پرغرونو محیط وی . اِذَا دُكَّتِ الْاَرْضُ دَكًّا دَكًّا، او: اِذَا زُلْزِلَتِ الْاَرْضُ زِلْزَالَهَا، دوهم حال ددی لویو لویو ترو دوهل سوی وړی په شان کیدل دی . وَتَكُوْنُ الْجِبَالُ كَالْعِهْنِ الْمَنْفُوْشِ، او دا به هغه وخت وی کله چی آسمان هم دویلی سوو سرپو په شان سی ، دمځکی څخه به غرونه د وړی په شان لوړ ځی او دلوړ څخه به آسمان لاندی راځی او دواړه به سره یو ځای کیږی . يَوْمَ تَكُوْنُ السَّمَاءُ كَالْمُهْلِ وَتَكُوْنُ الْجِبَالُ كَالْعِهْنِ . دریم حال دا دی چی هغه به دوهل سوی وړی دیو متصل جسم په ځای جلا جلا ذره ذره اوریزه ریزه سی . وَّبُسَّتِ الْجِبَالُ بَسًّافَكَانَتْ هَبَاءً مُّنْۢبَثًّا، څلورم حال دا دی چی دغه زره زره سوی به خپاره سی . فَقُلْ يَنْسِفُهَارَبِّي نَسْفًا، پنځم حال دا دی چی دا غرونه کوم چی زره زره سی دګرد په شان پرمځکه خپاره سی ، هواګانی به یی پورته یو سی او چونکی دا ګرد به پرټوله مځکه غوړول سوی وی ، نو که څه هم دا به دوریځی په شان تیز حرکت کوونکی وی ، مګر لیدونکو ته به په خپل ځای

ولاړ ښکاري . وَتَرَى الْجِبَالَ تَحْسَبُهَا جَامِدَةً وَهِيَ تَمُرُّ مَرَّ السَّحَابِ ، په دې کې په ځينې حالات د اولې شپيلې په وخت کې وي او ځينې د دوهمې څخه وروسته هغه وخت کله چې مځکه يوه هواره سطح جوړه سي ، چې نه په کې څه غار پاته سي او نه څه غر ، نه څه ابادي او نه څه درخته . فَقُلْ يَنْسِفُهَا رَبِّي نَسْفًا فَيَذَرُهَا قَاعًا صَفْصَفًا لَا تَرَى فِيهَا عِوَجًا وَلَا أَمْتًا (از قرطبي و روح المعاني) والله تعالى اعلم بحقيقة الحال)

صُنْعَ اللهِ الَّذِي أَتْقَنَ كُلَّ شَيْءٍ، صُنْع، په معنى دصنعت او آتْقَنَ داتقان ، څخه مشتق دی چې معنى يې يو شي مضبوط او مستحکم کول دي ، په ښکاره دا جمله دتيرو تولو مضامينو سره متعلق ده په کومو کې چې دالله ﷻ دکامل قدرت او عجيبه کاريگرې ذکر دی چې په هغه کې دشپې او ورځې بدلون هم دی او دشپيلې وهلو څخه تر حشر او نشر پورې ټول حالات هم ، او مطلب دا دی چې دا شيان دڅه حيرانتيا او تعجب نه دی ، ځکه چې ددې جوړوونکی څوك محدود علم او قدرت والا انسان يا ملائکه نه ده ، بلکه رب العالمين دی او که ددې تعلق تردې جملې .وَتَرَى الْجِبَالَ تَحْسَبُهَا جَامِدَةً الاية،سره وسي نو مطلب به دا وي چې دغرونو دا حال چې ليدونکې داپه ځای ولاړ وينې او هغه به په حقيقت کې روان او حرکت کوونکې وي ، څه ليرې خبره او دتعجب نه ده ، ځکه چې دا کاريگرې دالله رب العزت ده چې دهغه په قدرت کې هر څه ښته .

مَنْ جَاءَ بِالْحَسَنَةِ فَلَهُ خَيْرٌ مِنْهَا ، دا دحشر نشر او حساب کتاب څخه وروسته دراپيښيدونکې انجام ذکر دی او د ، حَسَنَة، څخه مراد کلمه د (لَآ اِلٰهَ اِلاَّ اللهُ) ده (لکه چې ويلې دی ابراهيم) يا اخلاص دی (لکه چې ويلې دی قتاده) او ځينې حضراتو مطلق طاعت په دې کې دا خل مقرر کړی دی ، معنى دا ده چې کوم سړی نيك عمل وکې ، او نيك عمل هغه وخت دنيك ويلو قابل وي کله چې دده اولنی شرط ايمان موجود وي ، نو ده ته به دخپل عمل څخه ښه شی ورکول کيږي ، مراد ددې څخه دجنت لازواله نعمتونه او دعذاب او دهر تکليف څخه دائمي نجات دی او ځينې حضرات فرمايي چې دخير څخه مراد دا دی چې ديوې نيکې جزا دلس چنده څخه واخله تر اووه سوه چنده پورې به ورکول کيږي (مظهری)

وَهُمْ مِنْ فَزَعٍ يَوْمَئِذٍ آمِنُونَ، دفَزَعٌ څخه مراد هر لوی مصيبت او پريشاني او بيره ده . مطلب دا دی چې په دنيا کې خو هر متقي پر هيزګار هم د انجام څخه په بيره کې وي او بيره په کار ده ، لکه چې دقرآن کريم ارشاد دی . اِنَّ عَذَابَ رَبِّهِمْ غَيْرُ مَأْمُونٍ، يعنى درب عذاب داسې نه دی چې بې فکره او مطمئن سي ورڅخه . دا وجه ده چې انبياء عليهم السلام او صحابه او اولياء د امت هميشه په بيره اولړزان اوسيږي ، مګر په دغه ورځ کله چې دحساب کتاب څخه فارغه سي نو نيکي راوړونکې نيك خلق به دهرې بيرې او غم څخه بې فکره او مطمئن وي . والله تعالى اعلم .

إِنَّمَا أُمِرْتُ أَنْ أَعْبُدَ رَبَّ هَٰذِهِ الْبَلْدَةِ الَّذِي حَرَّمَهَا وَلَهُ

بيشکه ماته دا حکم دی چې بندګي کوم ددې ښار دمالک کوم چې ده لره حرمت ورکړو او دهغه دی

كُلُّ شَيْءٍ وَّ اُمِرْتُ اَنْ اَكُوْنَ مِنَ الْمُسْلِمِيْنَ ﴿۹۱﴾ وَاَنْ اَتْلُوَا الْقُرْاٰنَ

هريو شي ، او ماته حکم دی چی سم زه د حکم منکونو څخه ، اودا چی واوروم قرآن

فَمَنِ اهْتَدٰى فَاِنَّمَا يَهْتَدِيْ لِنَفْسِهٖ ۚ وَمَنْ ضَلَّ فَقُلْ اِنَّمَآ

پس څوک چی په لاره سو نو په لاره سو دځان دفائدي دپاره اوڅوک چی بی لاری سو نو ته ووایه چی زه خو یم

اَنَا مِنَ الْمُنْذِرِيْنَ ﴿۹۲﴾ وَقُلِ الْحَمْدُ لِلّٰهِ سَيُرِيْكُمْ اٰيٰتِهٖ

بیره او رورنکی ، او وایه ثنا ټوله الله لره ده ژر به وښیی تاسی خپلی نښانی

فَتَعْرِفُوْنَهَا ۭ وَمَا رَبُّكَ بِغَافِلٍ عَمَّا تَعْمَلُوْنَ ﴿۹۳﴾

نو تاسی به یی وپیژنی او ستا رب نا خبره نه دی دهغو کارونو څخه کوم چی تاسی کوئ.

تفسير: (ای پیغمبر ﷺ ته خلقو ته ووایه چی) ماته خو دا حکم را کول سوی دی چی زه ددی ښار (مکی) دمالك (حقیقی) عبادت وکړم کوم چی دا (ښار) محترم جوړ کړی دی (چی حرم والی یی په دی احترام باندی مرتب دی ، مطلب دا دی چی په عبادت کی ورسره څوك شریك نه کړم) او (دهغه عبات به ولی نه سی کیدای کله چی) ټول شیان دهغه (ملك) دی اوماته دا (هم) حکم سوی دی چی زه (په عقیدو او عملونو ټولو کی) فرمانبردار اوسیږم (دا خو دتوحید حکم سو) او (ماته) دا (هم حکم را کړل سوی دی) چی زه (تاسی ته) قرآن وایم اوروم (زمادتبلیغ څخه وروسته) چی کوم سړی په لاری سی نو دخپلی فائدی دپاره به پرلاره سی (یعنی ده ته به دعذاب څخه نجات او دجنت لازوال نعمتونه ورکول کیږی زه دده څخه دځان دپاره دڅه مالی نفع یامرتبی غوښتونکی نه یم) اوکوم سړی چی گمراه پاته سی نو ته ووایه چی (زماهیڅ ضرورت نسته څکه چی) زه خو صرف دبیرونکو (یعنی حکم اورونکو) پیغمبرانو څخه یم (یعنی زما کار خو حکم رسول دی ددی څخه وروسته زما ذمه واری ختمه ده که ویې نه مني نووبال به یی پرتاسی وی) او ته (دا هم) ووایه چی (تاسی کوم فی الحال دقیامت څخه راتلل ددی دنیستوالی دلیل گنئ او انکار کوی دا ستاسی بی وقوفی ده دیو شی په واقع کیدو، وخت اونښتل ددی دلیل نه سی کیدی چی گوندی هغه به هیڅ وخت نه واقع کیږی ، ددی څخه علاوه چی تاسی ماته کوم وایاست چی زه ژر قیامت را ولم دا دوهمه غلطی ده څکه چی ما کله دا دعویٰ کړې ده چی دقیامت واقع کول زما په اختیار کی دی ، بلکه) ټول ثنا او صفت خالص الله ﷻ لره ثابت دی (قدرت هم، علم هم حکمت هم، هغه چی کله دهغه دحکمت تقاضاسی ، قیامت به واقع کی ، البته دومره خبره مونږ ته ښوول سوې ده چی قیامت ته ډیر وخت نه دی پاته بلکه) هغه به تاسی ته ډیری ژر خپل نښانی (یعنی دقیامت واقعات) وښیی (دوقوع په وخت کی) تاسی به یی وپیژنی (چی بیابه یی دپیژندو

ځکه هیڅ فائده نه وي) او (صرف دنښانو په ښوولو باندې به بسوالی نه وي ، بلکه دځپلو بدو عملونو سزا څکل به درلره هم وي ، ځکه چي) ستاسي رب دهغو کارونو څخه بې خبره نه دی کوم چي تاسي تول خلق یې کوي .

معلومات اومسئلي : رَبَّ هٰذِهِ الْبَلْدَةِ دبلدة څخه مراد دجمهورو مفسرینو په نزد مکه مکرمه ده . الله ﷻ خو رب العٰلمین او رب السمٰوٰت والارض دی یعنی دټولو مخلوقات او آسمانونو او مځکی رب دی . دمکی مکرمی تخصیص دلته ددی دلوی شان او دالله ﷻ په نزد دمکرّمی او محترمی کیدو اظهار دی ، لفظ دحرم دتحریم څخه مشتق دی . ددی معنٰی مطلق احترام او اکرام هم دی او ددی احترام او اکرام په وجه سره چي کوم خاص شرعی احکام دمکی مکرمی او دحرم دمځکی سره متعلق دی ، هغه هم په دی کی دا خل دی ، مثلاً کوم سړی چي په حرم کی پناه واخلی هغه په امن سی . په حرم کی ددښمن څخه بدل اخستل او قتل کول جائز نه دی او دحرم په مځکه کی ښکار قتلول هم جائز نه دی او دغه شان د درختو پریکول هم جائز نه دی ددی احکامو بیان تر ایت . وَمَنْ دَخَلَهٗ كَانَ آمِنًا ، لاندی اوځینی دسورۃ مائده په شروع کی او ځینی تر ایت . لَاتَقْتُلُوا الصَّيْدَ وَاَنْتُمْ حُرُمٌ ، لاندی بیان سوی دی .

الحمدلله دسورة نمل تفسیر نن شپه دوشنبه ۲۴ شوال سنه ۱۳۹۱ھ کی پوره سو ، بلی خواته دهندوستان هندوانو پر مغربی پاکستان باندی میدانی بحری او هوایی حملی کړی دی ، په خاص طور باندی کراچی یی په نښه کړي دی ، هره شپه بمباری کیږی ، پرښاری علاقو باندی بمونه او ریږی . توله شپه مکمله دتیاره کولو ضرورت وی ، دبمونو په دهماکو سره کورونه لرزیږی ، مگر دالله ﷻ فضل او کرم دی چی هغه په دی حالاتو کی هم ددی تفسیر سلسله جاری وساتله او ددی جنگ په لسو (۱۰) ورځو کی هم دتفسیر تقریبًا څلویښت (۴۰) صفحی ولیکل سوی .

(سورة القصص)

سُوْرَةُ الْقَصَصِ مَكِّيَّةٌ وَهِيَ ثَمَانٌ وَّثَمَانُوْنَ اٰيَةً وَّتِسْعُ رُكُوْعَاتٍ

سورة قصص په مکه کی نازل سو او په دی کی اته (۸۸) اتیا آیاتونه او نه (۹) رکوع گانی دی

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

شروع کوم دالله په نامه چی بی حده مهربانه نهایت رحم والا دی .

طٰسٓمّٓ ① تِلْكَ اٰيٰتُ الْكِتٰبِ الْمُبِيْنِ ② نَتْلُوْا عَلَيْكَ مِنْ

دا آیاتونه دی دښکاره کتاب ، مونږ اورږو ١ تا ته

نَبَاِ مُوْسٰى وَفِرْعَوْنَ بِالْحَقِّ لِقَوْمٍ يُّؤْمِنُوْنَ ③ اِنَّ فِرْعَوْنَ

خینی حالات دموسی ﷺ اوفرعون یقینی دهغو خلقو دپاره چی یقین کوی ، فرعون

عَلَا فِى الْاَرْضِ وَجَعَلَ اَهْلَهَا شِيَعًا يَّسْتَضْعِفُ طَآئِفَةً

لویی کوله په ملک کی اوجوړکړی یی وو دهغه خای خلق څو ډلی کمزوری کړی یی وه یوه ډوله

مِّنْهُمْ يُذَبِّحُ اَبْنَآءَهُمْ وَيَسْتَحْيٖ نِسَآءَهُمْ ۗ اِنَّهٗ كَانَ

دهغو څخه ذبح کول به یی دهغوی زامن او ژوندی به یی ساتل دهغوی ښځی ، بیشکه هغه وو

مِنَ الْمُفْسِدِيْنَ ④ وَنُرِيْدُ اَنْ نَّمُنَّ عَلَى الَّذِيْنَ اسْتُضْعِفُوْا

خرابی کوونکی ، او مونږ غواړو چی احسان وکړو په هغو خلقو کوم چی کمزوری کړل سوی ؤ

فِى الْاَرْضِ وَنَجْعَلَهُمْ اَئِمَّةً وَّنَجْعَلَهُمُ الْوٰرِثِيْنَ ⑤ وَنُمَكِّنَ

په ملک کی اوکړو هغه سرداران اوکړو هغه قائمقام ، اومضبوط کړو

لَهُمْ فِى الْاَرْضِ وَنُرِيَ فِرْعَوْنَ وَهَامٰنَ وَجُنُوْدَهُمَا مِنْهُمْ

دوی په مځکه کی او وښایو فرعون اوهامان ته او د دوی لښکروته د دوی لاس څخه

مَّا كَانُوْا يَحْذَرُوْنَ ⑥ وَاَوْحَيْنَآ اِلٰٓى اُمِّ مُوْسٰٓى اَنْ اَرْضِعِيْهِ ۚ

هغه شي چی د دوی ورڅخه بیره وه ، اومونږ حکم ولیږی مور دموسی ﷺ ته چی ده ته تی ورکوه

فَاِذَا خِفْتِ عَلَيْهِ فَاَلْقِيْهِ فِى الْيَمِّ وَلَا تَخَافِىْ وَلَا تَحْزَنِىْ ۚ

بیاچی کله ته وبیریږې په ده باندی پس وي غورځوه دریاب ته او مه بیریږه او مه غمجنه کیږه ،

اِنَّا رَآدُّوْهُ اِلَيْكِ وَجَاعِلُوْهُ مِنَ الْمُرْسَلِيْنَ ⑦ فَالْتَقَطَهٗ

بیا به مونږ دی بیرته را ولو تاته اوکړو به دی د رسولانو څخه ، بیاپورته کی

اٰلُ فِرۡعَوۡنَ لِيَكُوۡنَ لَهُمۡ عَدُوًّا وَّحَزَنًا ؕ اِنَّ فِرۡعَوۡنَ

دی دفرعن کو والا وو چی سی د دوی دپاره دښمن او په غم کی اچونکی ، بیشکه فرعون

وَهَامٰنَ وَجُنُوۡدَهُمَا كَانُوۡا خٰطِـئِيۡنَ ﴿۸﴾ وَقَالَتِ امۡرَاَتُ

او هامان او د دوی لښکر وو خطا کار ، او وویل دفرعون ښځی

فِرۡعَوۡنَ قُرَّتُ عَيۡنٍ لِّىۡ وَلَكَ ؕ لَا تَقۡتُلُوۡهُ ۖ عَسٰۤى اَنۡ يَّنۡفَعَنَاۤ

دا خو دسترگو یخوالی دی زما او ستا دپاره دی مه قتلوه ، څه لیری نه ده چی زمونږ په کار راسی

اَوۡ نَـتَّخِذَهٗ وَلَدًا وَّهُمۡ لَا يَشۡعُرُوۡنَ ﴿۹﴾ وَاَصۡبَحَ فُؤَادُ اُمِّ

یا مونږ دی ونیسو په زوی او دوی هیڅ خبر نه وه ، او سهار ته دموسی ﷺ دمور په زړه

مُوۡسٰى فٰرِغًا ؕ اِنۡ كَادَتۡ لَـتُبۡدِىۡ بِهٖ لَوۡلَاۤ اَنۡ رَّبَطۡنَا عَلٰى

کی قرار پاته نه سو ، نژدی وه چی ظاهره کړی یی وای بی قراری که مونږ ترلی نه وای ددې

قَلۡبِهَا لِتَكُوۡنَ مِنَ الۡمُؤۡمِنِيۡنَ ﴿۱۰﴾ وَقَالَتۡ لِاُخۡتِهٖ قُصِّيۡهِ ؗ

زړه ددی دپاره چی سی دیقین کوونکو ښځه ، او وې ویل دده خور ته چی ته پسی زه ،

فَبَصُرَتۡ بِهٖ عَنۡ جُنُبٍ وَّهُمۡ لَا يَشۡعُرُوۡنَ ﴿۱۱﴾ وَحَرَّمۡنَا عَلَيۡهِ

پس هغه ولیدی دی لیری ښځه او دوی خبر نه وه ، او منع کړی وو مونږ

الۡمَرَاضِعَ مِنۡ قَبۡلُ فَقَالَتۡ هَلۡ اَدُلُّكُمۡ عَلٰۤى اَهۡلِ بَيۡتٍ

موسی ﷺ ددایی گانو ښځه دمخکی ښځه پس هغه وویل زه وښایم تاسی ته یو کور والا ؟

يَّكۡفُلُوۡنَهٗ لَكُمۡ وَهُمۡ لَهٗ نٰصِحُوۡنَ ﴿۱۲﴾ فَرَدَدۡنٰهُ اِلٰٓى اُمِّهٖ كَىۡ

چی دده پالنه وکړی تاسی دپاره او هغوی به دده خیر خواه وی ، نو مونږ واپس کړو هغه مور خپلی ته

چی یخی سی.

تَقَرَّ عَيْنُهَا وَلَا تَحْزَنَ وَلِتَعْلَمَ اَنَّ وَعْدَ اللّٰهِ حَقٌّ وَّلٰكِنَّ

سترگی ددې او غمجنه نه سی او پوه سی چی دالله وعده حقه ده بیا هم

اَكْثَرَهُمْ لَا يَعْلَمُوْنَ ﴿۱۳﴾

دیر خلق نه پوهیږي .

تفسیر: طٰسٓمٓ (ددی په معنی الله ﷻ پوه دی) دا (مضامین کوم چی پر تا وحی کیږی) دواضح کتاب (یعنی قرآن) آیتونه دی (په کومو کی چی په دی موقع) مونږ تاته دموسیٰ (علیه السلام) او فرعون څه قصه صحیح صحیح وایو (یعنی نازلوو) او روو یې دهغو خلقو د (نفع د) پاره کوم چی ایمان لری (څکه دقصو مقصدونه یعنی عبرت او په دی سره په نبوت دلیل نیول وغیره ، دا دمومنانو سره خاص دی ، برابره خبره ده که دا وخت مومنان وی او یا د ایمان اراده لری او اجمال خو ددی قصی دا دی چی) فرعون په مځکه (دمصر) کی دیر لوړ سوی وو او ده دهغه ځای په اوسیدونکو کی مختلف قسمونه جوړ کړی وه (داسی چی قبطیانو یعنی دمصر خلق یی عزتمند جوړکړی وه او سبطیان یعنی بنی اسرائیل یی ذلیل او خوار کړی وه ، چی بیان یی مخ ته راځی) چی په دوی (اوسیدونکو) کی یی دیوی ډلی (یعنی بنی اسرائیلو) زورکم کړی وو (داسی چی د دوی زامن (کوم چی به نوی پیدا کیدل دجلا دیانو په لاس) به یی ذبح کول او د دوی ښځو (یعنی انجونی) به یی ژوندی پریښوولی (چی په دوی خپل خدمتونه وکی ، دا شان د دوی څخه بیره هم نه وه) واقعی هغه لوی فساد کوونکی وو (غرض دا چی فرعون خو په دی خیال کی وو) او مونږ ته دا منظوره وه چی دکومو خلقو په مځکه (دمصر) کی زور کمیږی ، مونږ په دوی (ددنیا او ددین) احسان وکی او (هغه احسان دا چی دوی (په دین کی) پیشوایان جوړ کړو او (په دنیاکی) دوی (ددی ملك) مالکان جوړ کړو او (دمالك کیدو سره) دوی (بادشاهان هم جوړ کړو یعنی) په مځکه کی حکومت ورکو او فرعون او هامان او د دوی تابعدارانو ته د دوی (بنی اسرائیلو) دطرف څخه هغه (ناخوښه) واقعات وښیو دکومو څخه چی دوی ځان ساتی (مراد ددی څخه دحکومت زوال او هلاکت دی ، چی ددی څخه دځان ساتلو دپاره یی دبنی اسرائیلو بچی دیو خوب دتعبیر پربنا کوم چی فرعون لیدلی وو او نجومیانو یی تعبیر ورکړی وو، قتلول (لکه داسی په درمنثور کی دی) وروسته زمونږ دتقدیر په مخکی ددغو خلقو تدبیر هیڅ په کارنه سو، دا دقصی اجمال سو) او (تفصیل ددی د اول څخه دا دی چی کله موسیٰ ﷺ په دغه دلتنو په ډکه زمانه کی پیدا سو نو) مونږ دموسیٰ (علیه السلام) مور ته الهام وکی چی (ترڅو پوری دده پټول ممکن وی) ته ده ته تی ورکوه بیاچی کله ته دده په باره کی (دجاسوسانو دخبریدو څخه) په بیره کی سی نو (بی خوف او خطره) دی (په صندوق کی کښیږده) دریاب (یعنی رود نیل) ته یی وغورځوه او مه خو (یی په غرقیدو) بیره کوه او مه (یی په

جدایی) غم کوه (څکه چې) مونږ به خامخا دی بیاتاته بیرته را ورسوو او (بیاپه خپل وخت به) دی پیغمبر جوړ کو (غرض دا چې هغې دغه رنگه تی ورلره ورکوی ، بیاچې کله دراز ښکاره کیدو بیره سوه نو په صندوق کی یی بند کی او دالله ﷻ په نوم یی رود نیل ته ورواچوی ، ددی دریاب یوښاخ دفرعون محل ته تللی وو یادسیل دپاره دفرعون دکور خلق دریاب ته را وتلی وه غرض دا چې هغه صندوق غاړی ته راغی) نو دفرعون خلقو موسٰی (عليه السلام یعنی دصندوق سره) لوړ کی چې هغه ددغو خلقو دپاره ددښمنی اوغم باعث جوړ سی ، بیشکه فرعون او هامان او دده تابعدارانو (په دی باره کی) ډیره خطاوکړه (چې خپل دښمن یی په خپل بغل کی وپالی) او (کله چې هغه دصندوق څخه را ویستل سو دفرعون مخ ته راوړل سونو) دفرعون بی بی (حضرت اسیې ﷺ فرعون ته) وویل چې دا (بچی) زما اوستادسترگو یخوالی دی (یعنی دده په لیدو به زمونږ زړه خوشحالیږی نو) دی مه قتلوه ، عجیبه نه ده چې (لوی سی) مونږ ته څه فائده ورسوی بیابه مونږ دی (خپل) زوی جوړ کو او دی خلقو ته (د انجام) خبر نه وو (چې دا هغه بچی دی دکوم دلاسه چې به دفرعون حکومت تاش په تاش سی) او (بلی خواته دا قصه وسوه چې) دموسٰی (عليه السلام) دمور زړه (دمختلفو خیالاتو په جمع کیدو سره) بی قراره سو (او بی قراری هم داسی اخوا دیخواته نه وه بلکه داسی سخته بی قراری وه چې) نژدی وه چې (د ډیری بی قراری څخه) هغه دموسٰی (عليه السلام) حال (پرټولو باندی) ښکاره کړی وای که مونږ ددی زړه په دی غرض سره مضبوط کړی نه وای چې دا (زمونږ په وعده) یقین کوونکی سی (غرض چې په مشکله دی خپل زړه کلك کی او تدبیر یی داسی شروع کی چې) دی دموسٰی (عليه السلام) خور (یعنی خپلی لور) ته وویل چې دموسٰی (عليه السلام) تلاش وکړه وروسته (دا ولاړه معلومه یی کړه چې صندوق په محل کی خلاص سوی دی ، محل ته ورسیده یاخو به دا تله راتله اویاخو په یوه حیله سره ورسیده او) دی موسٰی (عليه السلام) دلیری څخه ولیدی او هغه خلق ددی څخه خبرنه وه (چې گوندی دا دده خور ده اوپه دی فکرکی راغلی ده) او مونږ دمخکی څخه (یعنی دکله څخه چې دصندوق څخه راوتلی وو) په موسٰی (عليه السلام) باندی دایانی بندی کړی وی (یعنی دهیچا تی یی نه اخستی) وروسته هغې (چې دا حال ولیدی نو موقع یی پیدا کړه) وې

ویل چې ایازه تاسی خلقو ته دیو داسی کور پته وښیم کوم چې ستاسی دپاره ددی بچی پرورش وکی او هغه (دخپل خوی موافق په زړه سره) دده سره خیر خواهی کوی (هغه خلقو په داسی وخت کی چې په تی ورکولو کی ورته مشکلات وریپیښ وو ، دا مشوره غنیمت وگڼله او دداسی کور پوښتنه یی څینی وکړه ، هغې ورته دخپل مور پته وښووله ، نو هغه را وغوښتل سوه اوموسٰی ﷺ ورته په غیږکی واچول سو ، دورتلو سره هغه تی خوړل شروع کړل او ددغو خلقو په اجازه سره یی ښه په ارام خپل کورته راوړی اوکله کله به یی ور وړی هغو ته به یی ښووی) غرض دا چې مونږ موسٰی (عليه السلام) دغه شان دده مورته (دخپلی وعدی مطابق) بیرته ورسوی چې (خپل اولاد وینی) سترگی یی په یخی وی او چې (دفراق) په غم کی نه وی او ددی دپاره چې (په لیدو سره) په دی خبره (ښه په یقین سره) پوه سی چې دالله ﷻ وعده ربښتینی وی لیکن (د افسوس خبره ده چې) اکثره خلق (په دی) یقین نه لری (دا تعریض دی پرکفارو باندی)

معلومات اومسئلې : سورة قصص په مکی سورتونو کی دټولو څخه اخری سورة دی ، کوم چی دهجرت په وخت کی دمکی مکرمی او جحفه (رابغ) په مینځ کی نازل سو ، په ځینی روایتونو کی دی چی دهجرت په سفر کی کله نبی کریم ﷺ جحفه یعنی رابغ ته نژدی سو نو جبرایل امین تشریف را وړی او نبی کریم ﷺ ته یی وفرمایل چی ای محمد ﷺ ! ایاتاته خپل وطن په کوم کی چی تاسی پیدا سوی یاست ، یادیږی ؟ نو حضور ﷺ وفرمایل چی هو! ضرور می یادیږی ، په دی باندی جبرایل امین دقرآن دا سورة واوروی چی ددی په اخرکی نبی کریم ﷺ ته دا خوشخبری ده چی اخربه مکه مکرمه فتح سی اوستاپه قبضه کی به راسی ، هغه آیت دا دی . اِنَّ الَّذِیْ فَرَضَ عَلَیْكَ الْقُرْآنَ لَرَادُّكَ اِلٰی مَعَادٍ ° په سورة قصص کی دټولو څخه اول دحضرت موسیٰ ؑ قصه اول په اجمال سره بیاپه تفصیل سره بیان سوي ده دسورة ترنیمی پوری دحضرت موسیٰ ؑ قصه دفرعون سره او دسورة په اخر کی دقارون سره ذکر سوي ده .

دحضرت موسیٰ ؑ قصه په ټول قرآن کی یوځای په لنډو اویوځای په تفصیل سره باربار راغلی ده ، په سورة کهف کی خو دده دهغه قصی تفصیل راغلی دی کومه چی دحضرت خضر ؑ سره پیښه سوي ده ، بیاپه سورة طٰهٰ کی دپوره قصی تفصیل دی او څه تفصیل په سورة نمل کی هم راغلی دی بیا په سورة قصص کی ددی اعاده سوي ده ، په سورة طٰهٰ کی چی کوم ځای دحضرت موسیٰ ؑ دپاره دالله ﷻ ارشاد دی چی . وَفَتَنّٰكَ فُتُوْنًا ، محدثینو حضراتو امام نسائی وغیره ددی ټولی قصی مکمل تفصیل هلته لیکلی دی احقر هم د ابن کثیر په حواله سره دا مکمل تفسیر په سورة طٰهٰ کی بیان کړی دی . ددی قصی دمتعلقه اجزاو ټول بحثونه اوضروری مسئلی اوفائدی څه په سورة کهف کی او باقی په سورة طٰهٰ کی ذکرسوی دی دمسئلو اوبحثونو دپاره به دهغه کتل کافی وی . دلته صرف دایتونو پرلنډ تفسیرباندی بسوالی کول کیږی .

وَنُرِیْدُ اَنْ نَّمُنَّ عَلَی الَّذِیْنَ اسْتُضْعِفُوْا فِی الْاَرْضِ وَنَجْعَلَهُمْ اَئِمَّةً ، الایة په دی آیت کی دفرعونی تدبیر دخدایی تقدیر په مقابله کی نه صرف نامراده او تاوانی کیدل بلکه فرعون او دده ټول دربار والا دانتهایی بی عقله بلکه درنډو جوړولو ذکردی . دکوم هلك متعلق چی دخوب اوتعبیردخوب په بنادفرعون سره بیره پیداسوی وه اودکوم په وجه چی دبنی اسرائیلو دبی شمیره تازه پیداسوو هلکانو دذبح کولو قانون جوړسوی وو دهغه الله ﷻ دفرعون په کور کی دده په لاسو پرورش وکی او دمور داطمینان دپاره یی ددی غیږی ته په حیرانوونکی طریقه راورسوی او دفرعون څخه یی دتی ورکولو خرڅه کومه چی په ځینو روایتونو کی یو دینار روزانه ښوول سوي ده ، زیاته کړه او دتی ورکولو دا معاوضه چونکی دیوحربی کافر څخه دده په رضامندی سره اخستل سوي ده ، په دی وجه ددی په جواز کی هم څه اشکال نسته . او اخر دکومی خطری دلیری کولو دپاره چی پرټول قوم دا ظلم غوځول سوی وو ، هغه دده دکور دمینځ څخه دیو سخت اتش فشان په شکل کی راووتی او دخوب تعبیر ده ته الله ﷻ دده په سترګو سره وښووی ، د . وَنُرِیَ فِرْعَوْنَ وَهَامَانَ ، الی : مَا كَانُوْا یَحْذَرُوْنَ ° هم دا مطلب دی .

وَاَوْحَيْنَا اِلٰى اُمِّ مُوْسٰى " دوحی لفظ دلته په لغوی معنٰی کی استعمال سوی دی ، دنبوت وحی مراد نه ده .
تحقیق یی په سورة طٰهٰ کی تیر سوی دی .

وَلَمَّا بَلَغَ اَشُدَّهٗ وَاسْتَوٰٓى اٰتَيْنٰهُ حُكْمًا وَّعِلْمًا ۗ وَكَذٰلِكَ

او کله چی ورسیدی خپل زورته او برابر سو ورکړو مونږ ده ته حکمت او پوهه او دغه ډول

نَجْزِى الْمُحْسِنِيْنَ ۝۱۴ وَدَخَلَ الْمَدِيْنَةَ عَلٰى حِيْنِ غَفْلَةٍ مِّنْ اَهْلِهَا فَوَجَدَ

مونږ بدله ورکوو نیکی کوونکو ته او ورننوتلو ښارته داسی وخت چی بی خبره وو دهغه ځای خلق پس بیایی پیدا کړل

فِيْهَا رَجُلَيْنِ يَقْتَتِلٰنِ ۗ هٰذَا مِنْ شِيْعَتِهٖ وَهٰذَا مِنْ عَدُوِّهٖ ۚ فَاسْتَغَاثَهُ

په کی دوه سړی چی جنګ یی کوی دا یو دده دملګرو څخه او دا یو دده دښمنانو څخه ، پس فریاد وکی ده ته

الَّذِىْ مِنْ شِيْعَتِهٖ عَلَى الَّذِىْ مِنْ عَدُوِّهٖ ۙ فَوَكَزَهٗ مُوْسٰى

هغه کوم چی وو دده دملګرو څخه په هغه چی وو دده دښمنانو څخه ، پس په سوک ووهی دی موسی عليه السلام

فَقَضٰى عَلَيْهِ ۖ قَالَ هٰذَا مِنْ عَمَلِ الشَّيْطٰنِ ۭ اِنَّهٗ عَدُوٌّ

په دی یی ختم کی ، وې ویل چی دا خو دشیطان دکار څخه دی بیشکه هغه

مُّضِلٌّ مُّبِيْنٌ ۝۱۵ قَالَ رَبِّ اِنِّىْ ظَلَمْتُ نَفْسِىْ فَاغْفِرْ لِىْ فَغَفَرَ

ګمراه کوونکی ښکاره دی ، وې ویل ای زما ربه ! ما ظلم وکی په ځان پس بخښنه وکړی ماته بیایی دی وبخښی

لَهٗ ۭ اِنَّهٗ هُوَ الْغَفُوْرُ الرَّحِيْمُ ۝۱۶ قَالَ رَبِّ بِمَآ اَنْعَمْتَ عَلَىَّ فَلَنْ

بیشکه هغه بخښونکی مهربان دی ، وې ویل ای زما ربه ! لکه چی تا فضل وکی پرما پس چیری

اَكُوْنَ ظَهِيْرًا لِّلْمُجْرِمِيْنَ ۝۱۷ فَاَصْبَحَ فِى الْمَدِيْنَةِ خَآئِفًا يَّتَرَقَّبُ

به نه سم مددګار دمجرمانو ، بیاسهار پورته سو په دغه ښار کی ، بیریدونکی ، انتظار کوونکی

فَاِذَا الَّذِى اسْتَنْصَرَهٗ بِالْاَمْسِ يَسْتَصْرِخُهٗ ۭ قَالَ لَهٗ

بیا ناڅاپه چاچی پرون دده څخه مدد غوښتلی وو ، هغه نن بیا فریاد کوی ده ته ، وویل ده ته

مُوسَىٰٓ إِنَّكَ لَغَوِيٌّ مُّبِينٌ ﴿١٨﴾ فَلَمَّآ أَنْ أَرَادَ أَنْ يَّبْطِشَ

موسى ﷺ بیشکه ته بی لاری یی ښکاره ، پس هرکله چی ده وغوښتل چی لاس وروری

بِالَّذِىْ هُوَ عَدُوٌّ لَّهُمَا ۙ قَالَ يٰمُوْسٰٓى أَتُرِيْدُ أَنْ تَقْتُلَنِىْ

هغه لره چی هغه دښمن وو ددې دواړو ، وې ویل ای موسی ﷺ آیا ته غواړی چی قتل کړی ما

كَمَا قَتَلْتَ نَفْسًا بِالْأَمْسِ ۖ إِنْ تُرِيْدُ إِلَّآ أَنْ تَكُوْنَ جَبَّارًا

لکه چی قتل کړی دی تاپرون یو تن ته غواړی چی سی زور اور

فِى الْأَرْضِ وَمَا تُرِيْدُ أَنْ تَكُوْنَ مِنَ الْمُصْلِحِيْنَ ﴿١٩﴾ وَجَآءَ

په مځکه کی او نه غواړی چی سی صلح کوونکی او راغی

رَجُلٌ مِّنْ أَقْصَا الْمَدِيْنَةِ يَسْعٰى ۡ قَالَ يٰمُوْسٰٓى إِنَّ الْمَلَأَ

دښار دبل سرڅخه یو سړی منډه وهوونکی ، وې ویل ای موسی ﷺ د دربار خلق

يَأْتَمِرُوْنَ بِكَ لِيَقْتُلُوْكَ فَاخْرُجْ إِنِّىْ لَكَ مِنَ النّٰصِحِيْنَ ﴿٢٠﴾

مشوری کوی په تاباندی چی تا قتل کی پس وزه بیشکه زه ستا خیر خواه یم

فَخَرَجَ مِنْهَا خَآئِفًا يَّتَرَقَّبُ ۡ قَالَ رَبِّ نَجِّنِىْ مِنَ الْقَوْمِ الظّٰلِمِيْنَ ﴿٢١﴾ ع

بیاووتی دهغه خای څخه په بیره سره لاری ته یی کتل وی ویل ای ربه محفوظ کړی ما ددې قوم بی انصافه څخه.

تفسیر: اوهرکله چی (وپالل سو او) خپلی (د) خوانی (عمر) ته ورسیدی او (په بدنی اوعقلی قوت سره) برابر سو نومونږ ده ته حکمت او علم ورکی (یعنی دنبوت څخه مخکی برابر پوه او درست عقل په کوم سره چی په ښه او بد کی فرق کولای سی ورکی) اومونږ نیکو کارانوته هم دغسی بدله ورکوو (یعنی په نیک عمل سره په علمی فیضان کی ترقی کیږی، په دی کی اشاره ده چی دفرعون طریقه موسٰی ﷺ هیڅکله نه وه اختیار کړی ، بلکه لیری به ورڅخه اوسیدی) او (په دی زمانه کی یوه واقعه داسی وسوه چی یو وار) موسٰی (ﷺ) ښار ته (یعنی مصرته ، لکه چی داسی په روح کی د ابن اسحاق څخه دی ، ددباندی څخه) داسی وخت را ورسیدی چی دهغه ځای (اکثره) اوسیدونکی بی خبره (پراته بیده) وه (په اکثرو روایتونوکی دا وخت دغرمی معلومیږی او دځینو روایتونو څخه دشپی دڅه حصی دتیریدو وخت معلومیږی لکه په

درمنثور کی دی) نو دوی هلته دوه سړی په جنګ ولیدل یو خو دده دقوم (یعنی بنی اسرائیلو) څخه وو او دوهم د دوی دمخالفینو (یعنی فرعونیانو) څخه وو (دواړه پر یوه خبره په جنګ وه او زیاتی دفرعونی وو) وروسته هغه کوم چی دده دقوم څخه وو (چی) موسٰی (علیه السلام) ولیدی نو دده، څخه یې دهغه په مقابله کی کوم چی د دوی دمخالفینو څخه وو مدد وغوښتی (موسٰی علیه السلام اول هغه پوه کی خو چی په دی ونه سوه) نو موسٰی (علیه السلام) په طور دادب دظلم دفع کولو دپاره) هغه په (یو) سوك ووهی وروسته دهغه کار یی په دی سره پوره کی (یعنی اتفاقًا هغه مړ سو) موسٰی (علیه السلام) په دی خلاف توقع نتیجه ډیر پښیمانه سو او) وې ویل چی دا خو شیطانی حرکت وسو، بیشکه شیطان (هم دبنده) ښکاره دښمن دی ، په څه غلطی کی یی اچوی (اوپښیمانه سو الله ﷻ ته یی) عرض وکی چی ای زما پروردګاره ! زما څخه قصور وسو ته معافی وکی وروسته الله ﷻ معاف کی بیشکه هغه بخښونکی او مهربانه دی (که څه هم ظهور او علم ددی معافیٰ په قطعی طور سره دنبوت دورکولو په وخت کی وسو لکه چی په سورة نمل کی دی . اِلَّا مَنْ ظَلَمَ ثُمَّ بَدَّلَ حُسْنًا بَعْدَسُوْءٍ فَاِنِّي غَفُوْرٌ رَّحِيْمٌ، او دا وخت برابره خبره ده که په الهام سره معلومه سوی وی یابالکل معلومه سوی نه وی) موسٰی (علیه السلام) دتیری ګناه څخه دتوبی سره (دراتلونکی زمانی متعلق دا هم) عرض وکی چی ای زما پروردګار! چونکی تاپه ما (لوی لوی) انعامات فرمایلی دی (چی ذکر یی په سورة طٰهٰ کی . وَلَقَدْ مَنَنَّا عَلَيْكَ مَرَّةً اُخْرٰى ، تر دی قول پوری . وَلَا تَحْزَنْ) وروسته زه به هیڅکله دمجرمانو مدد ونه کړم (دلته دمجرمانو څخه مراد هغه دی کوم چی په نورو دګناه کار کول غواړی ، څکه چی په بل ګناه کول دا هم یو جرم دی ، وروسته په دی کی شیطان هم دا خل سو چی دی په خلقو ګناه کوی او ګناه کوونکی دده مدد کوی برابره خبره ده که قصدًا وی او که په خطاء سره ، لکه چی په دی آیت کی دی . وَكَانَ الْكَافِرُ عَلٰى رَبِّهٖ ظَهِيْرًا، یعنی دشیطان دپاره. مطلب دا سو چی زه به دشیطان خبره هیڅکله ونه منم ، یعنی کوم ځای چی دخطاکیدو احتمال وی ، هلته به د احتیاط څخه کار اخلم او اصل مقصد خو دومره دی ، مګر دحکم دشمول دپاره یی مُجرِمِيْن دجمع صیغه راوړه چی نوروته هم عامه سی غرض دا چی په دغه وخت ددی چرچه وسوه مګر بغیر داسرائیلی څخه بل هیڅوك دراز څخه خبر نه وو او چونکه دا واقعه دده په حمایت کی سوی وه نو څکه یی ده اظهار ونه کی نو چاته یی اطلاع ونه سوه ، مګر دموسٰی علیه السلام سره بیره وه ترڈی چی شپه تیره سوه) بیا موسٰی (علیه السلام) صبا کی په ښار کی په بیره ترهه سره چی ناڅاپه (څه ګوری چی) هغه سړی کوم چی پرون دده امداد غوښتلی وو ، هغهٔ بیاده ته (دمدد دپاره) چیغی وهی چی (دبل سره په جنګ وو) موسٰی (علیه السلام) دا ولیدل او پرونی حال ورياد سو نو خفه سو او) ده ته یی وفرمایل بیشکه ته ښکاره بی لاری (سړی) یې (چی روزانه دخلقو سره جنګونه کوی . موسٰی علیه السلام ته به دقرائنو څخه معلومه سوی وی چی دده دطرف څخه به هم څه غصه سوی وی ، لیکن دفرعونی زیاتی یی ولیده اودهغه دمنع کولو اراده یی وکړه) وروسته کله چی موسٰی (علیه السلام) هغه ته لاس ور اوږد کی کوم چی د دواړو دښمن وو (مراد فرعونی دی چی هغه داسرائیلی هم

مخالف وو او دموسیٰ ﷺ هم ، ځکه چې موسیٰ ﷺ دبنی اسرائیلو څخه دی او دغه خلق ټول دبنی اسرائیلو مخالف وه که څه هم په تعین سره هغوی موسیٰ ﷺ اسرائیلی نه ګڼی اویاموسیٰ ﷺ چونکه دفرعون دطریقی څخه نفرت کوونکی وو او دا خبره مشهوره سوه ، په دی وجه فرعونیان دده څخه مخالف سوی وه ، په هرحال کله چی موسیٰ ﷺ په دی فرعونی باندی لاسونه ورلوړ کړل او ددی څخه مخ ته یی داسرائیلی څخه خفګان ښکاره کړی وو نو په دی سره اسرائیلی شکمن سو چی شاید نن پرما باندی حمله کوی نو وبیریدی، هغه اسرائیلی وویل ، ای موسیٰ ایا (نن) ماقتل کول غواړی لکه چی پرون تایو سړی قتل کړی دی (معلومیږی چی) بس ته په دنیاکی خپل زور قائمول غواړی او صلح (او اصلاح) کول نه غواړی (دا خبره دی فرعونی واوریده او دقاتل تلاښ کیدی ، دومره پته لګیدل پوره وو، فرعون ته یی فوراً خبر ورسوی فرعون دخپل سړی په مرګ خفه وو چی دا یی واوریدل نو غصه سو اوشاید چی په دی سره دده دخوب هغه بیره قوی سوی وی چی هسی نه هغه سړی دا نه وی خاصکر که دموسیٰ ﷺ دفرعون دطریقی څخه نفرت کول هم فرعون ته معلوم وی نو څه دښمنی به یی په دغه سبب سره وی او دا پر سر بیره سوه . په هرحال ده خپل درباریان دمشوری دپاره جمع کړل او اخر چی دموسیٰ ﷺ دقتلولو رایه مقرره سوه او (په دی مجمع کی) یو سړی (دموسیٰ ﷺ خیرخواه وو هغه) دښار د (دی) غاړی څخه (کوم ځای چی دا مشوره کیده په موسیٰ ﷺ پسی په لنډو کو څو باندی) په منډه راغی (او) وي ویل چی ای موسیٰ (ﷺ) د دربار خلق ستاپه باره کی مشوری کوی چی تاقتل کی ، وروسته ته (ددی ځای څخه) ووزه ، زه ستاخیر خواهی کوم وروسته (چی دایی واوریدل نو) موسیٰ (ﷺ) دهغه ځای څخه (یو طرف ته) ووتی ، دبیری ترهی په حالت کی (اوچونکی لار ورته معلومه نه وه نو ددعا په طور یی) وي ویل ، چی ای زما پروردګاره ! ما ددی ظالمانو خلقو څخه وساتی (او د امن ځای ته می ورسوی)

معلومات اومسئلي: وَلَمَّا بَلَغَ اَشُدَّهٗ وَاسْتَوٰی ' داَشُدّ لفظی معنٰی قوت او دسختی انتهاته رسیدل دی ، یعنی انسان دکوچنیوالی دکمزوری څخه کرار کرار دسختوالی طرف ته زیاتیږی یو وخت داسی راسی چی دده په وجود کی څومره قوت او سختی راتلی سوه هغه پوره سی نو دغه وخت ته اَشُد ویل کیږی او دا دمځکی دمختلفو حصو او قومونو دمزاج په اعتبارسره مختلف وی . دچاد اَشُدّ زمانه ژر راځی دچاوروسته . لیکن دحضرت ابن عباس ﷺ او مجاهد څخه په روایت دعبد ابن حمید دا نقل دی چی داَشُد عمر په دری دیرشم ۳۳ کال وی ، دی ته سِنِ کمال یاسن دوقوف ویل کیږی چی دبدن نشو او نما په کښی یوحد ته ورسیږی ودریږی . ددی څخه وروسته ترڅلویښتو کالو پوری دوقوف زمانه ده ، دایی په لفظ داسْتَوٰی سره تعبیرکړي ده دڅلویښتو کالوڅخه وروسته انحطاط او کمزوری شروع سی ، ددی څخه معلومه سوه چی دعمر اَشُد د دری دیرشو کالو څخه شروع سی او تر څلویښتو کالو پوری وی (روح او قرطبی)

اٰتَیْنٰهُ حُکْمًاوَعِلْمًا، دحکم څخه مراد نبوت او رسالت دی او دعلم څخه مراد دالله ﷻ دشرعی احکامو علم دی.

وَدَخَلَ الْمَدِيْنَةَ عَلٰى حِيْنِ غَفْلَةٍ مِّنْ اَهْلِهَا، د: اَلْمَدِيْنَه . څخه مراد د اکثرو مفسرینو په نزد دمصر ښار دی . دی ته داخلیدو دلفظ څخه معلومه سوه چی موسیٰ ﷺ دمصر څخه دباندی یو ځای تللی وو، بیایوه ورځ دی ښار ته په داسی وخت کی دا خل سو چی دعامو خلقو دغفلت وخت وو. مخ ته دقبطی دقتل په قصه کی ددی هم ذکر دی چی دا هغه زمانه وه کله چی موسیٰ ﷺ دخپل نبوت او رسالت اوحق دین اظهار شروع کړی وو. ددی په نتیجه کی څه خلق دده فرمانبرداره سوی وه کومو ته چی به یی دده تابعداران ویل د، مِنْ شِيْعَتِه ، لفظ پردی باندی شاهد دی ، ددی تولو قرینو څخه ددی روایت تائید کیږی کوم چی د ابن اسحٰق او ابن زید څخه نقل دی چی کله موسیٰ ﷺ پوه سو او دحق دین څه خبری یی خلقو ته شروع کړی نو فرعون دده مخالف سو او دقتل اراده یی وکړه ، مگر دفرعون دښځی حضرت آسیې ﷺ په درخواست دده قتل څخه منع سو، مگر دښارڅخه یی دده د ایستلو حکم وکی . ددی څخه وروسته حضرت موسیٰ ﷺ په ښار کی یو ځای اوسیدی اوکله کله به په پته پته دمصر ښارته راتلی او د. عَلٰى حِيْنِ غَفْلَةٍ مِّنْ اَهْلِهَا ، څخه مراد داکثرو مفسرینو په نزد دغرمی وخت دی چی خلق په قیلوله کی وه (قرطبی)

فَوَكَزَهٗ مُوْسٰى، دوَكَزَ معنی په سوك وهل دی . فَقَضٰى عَلَيْهِ د: قَضَاهُ او: قَضٰى عَلَيْهِ محاوره هغه وخت ویل کیږی کله چی دچاپالکل کارتمام کی او فارغه سی . په دی وجه ددی معنی دلته دقتل کولو سوي ده .

قَالَ رَبِّ اِنِّیْ ظَلَمْتُ نَفْسِیْ فَاغْفِرْ لِیْ فَغَفَرَ لَهٗ ، ددی آیت مطلب دا دی چی ددی قبطی کافر قتل کوم چی دحضرت موسیٰ ﷺ څخه بلا ارادی صادر سوی وو . موسیٰ ﷺ دا هم دخپل نبوت او رسالت دمنصب او دپیغمبرانه لوی شان په لحاظ سره خپله گناه مقرر کړه ، دالله ﷻ څخه یی بخښنه وغوښتله او الله ﷻ معاف کی . دلته اول سوال خو دا پیدا کیږی چی دا قبطی کافر دشرعی اصطلاح په لحاظ سره یو حربی کافر وو چی قتل یی قصداً هم مباح او جائز وو څکه چی نه دی دیو اسلامی حکومت ذمی وو او نه دموسیٰ ﷺ سره دده څه معاهده وه بیاموسیٰ ﷺ دا دشیطان عمل او گناه څنگه مقرره کړه ؟ دده قتل خو په ظاهره د اجر موجب په کار وو چی په یو مسلمان باندی یی ظلم کوی او دهغه دبچ کولو دپاره دا قتل واقع سو .

جواب دا دی چی معاهده څنگه چی قولی او تحریری وی لکه چی په عام طور سره په اسلامی حکومتونو کی دذمیانو سره معاهده یا دیو غیر مسلم حکومت سره دصلح معاهده ، او دا معاهده په اتفاق سره واجب العمل او ددی خلاف ورزی د دوکی اوعهد ماتولو په سبب حرامه وی . دغه شان عملی معاهده هم یو قسم معاهده وی ، ددی هم پابندی لازمی او خلاف ورزی یی وعده ماتول دی .

دعملی وعدی صورت دا دی چی کوم ځای مسلمانان او څه غیر مسلم په یو بل حکومت کی دیو بل سره په امن او اطمینان باندی اوسیږی . په یو بل حمله کول یالوټ مارکول د دواړو طرفه څخه غداری گڼل کیږی نو داسی ژوند تیرول او معاملی هم یو قسم عملی معاهده وی . ددی خلاف ورزی جائز نه ده ، ددی دلیل دحضرت مغیره بن شعبه ؓ هغه اوږد حدیث دی کوم چی امام بخاری په کتاب الشروط کی په تفصیل سره

روایت کړی دی او واقعه یې دا ده چې مغیره بن شعبه ﷺ داسلام څخه مخکې په جاهلیت کې دکفارو دیو جماعت سره اوسیدی بیایې هغه قتل کړل او دهغوی پرمالونو یې قبضه وکړه او دنبی کریم ﷺ په خدمت کې حاضر سو او مسلمان سو اوکوم مال چې یې دهغه خلقو څخه اخستی وو، هغه یې دنبی کریم ﷺ په خدمت کې پیش کې، نو په دې باندې حضور ﷺ ارشاد وفرمایه . اَمَّا الْاِسْلَامُ فَاَقْبَلُ وَاَمَّا الْمَالُ فَلَسْتُ مِنْهُ فِیْ شَیْءٍ ، او دابوداود په یو روایت کې یې الفاظ دا دی . اَمَّاالْمَالُ فَمَالُ غَدْرٍلَاحَاجَةَ لَنَافِیْهِ، یعنی ستا اسلام خو مونږ قبول کې او اوس ته مسلمان یې ، مګر دا مال داسې مال دی کوم چې په غدر او وعده ماتولو سره حاصل سوی دی ، په دې وجه مونږ ته ددې مال هیڅ حاجت نسته دبخاری شارح حافظ ابن حجر رحمه الله فرمایې چې ددې حدیث څخه دا مسئله را ووتله چې دکفارو مال په حالت د امن کې لوټ کول حلال نه دی څکه چې دیوکلی اوسیدونکی یایوځای کارکوونکی دیو بل څخه ځانونه په امن ګڼي . د دوی دا عملی وعده هم یو امانت دی دکوم چې دامانتونو پرمالك ادا کول فرض دی برابره خبره ده که هغه کافر وی اوکه مسلمان او دکفارو مال چې دمسلمانانو دپاره حلالیږی نو هغه صرف دجنګ او غلبې په صورت کې حلال وی . د امن او امان په حالت کې کله چې دیو بل څخه ځان په امن ګڼي دیوکافر مال لوټ کول جائز نه دی .

او قسطلانی په شرح دبخاری کې فرمایي .

اِنَّ اَمْوَالَ الْمُشْرِکِیْنَ اِنْ کَانَتْ مَغْنُوْمَةً عِنْدَالْقَهْرِفَلَا یَحِلُّ اَخْذُهَا عِنْدَ الْاَمْنِ فَاِذَا کَانَ الْاِنْسَانُ مُصَاحِبًا لَهُمْ فَقَدْ اَمِنَ کُلُّ وَاحِدٍمِّنْهُمْ صَاحِبَهٗ فَسَفْكُ الدِّمَآءِ وَاَخْذُالْمَالِ مَعَ ذٰلِكَ غَدْرٌحَرَامٌ اِلَّااَنْ یَّنْبِذَ اِلَیْهِمْ عَهْدَهُمْ عَلٰی سَوَآءٍ.

بیشکه دمشرکانو مالونه دجنګ او جهاد په وخت کې غنیمتونه او مباح دی لیکن د امن په حالت کې حلال نه دی په دې وجه کوم مسلمان چې دکفارو سره یوځای اوسیږی چې په عملی طور دیو بل څخه په امن وی نو په داسې حالت کې دیوکافر وینې تویول یایې مال په زور اخستل غدر حرام دی ترڅو پورې چې د دوی ددې عملی معاهدې څخه ددست برداری اعلان ونه کې .

لنډه داچې دقبطی قتل ددې عملی معاهدې پربنا که په قصد وای نو جائز نه وو مګر حضرت موسٰی علیه السلام دده دقتل اراده نه وه کړې ، بلکه داسرائیلی سړی دده دظلم څخه دمحفوظ کولو دپاره یې دی ووهی کوم چې عادتًا دقتل سبب نه وی مګرقبطی ددغه وهلو څخه مړسو نو موسٰی علیه السلام ته دا احساس وسو چې دده ددفع کولو دپاره خو ددې څخه کم وهل هم کافي وه دا زیاتی زما دپاره صحیح نه وو. په دې وجه یې دی نه عمل دشیطان وویل او مغفرت یې وغوښتی .

فائده: دا تحقیق دحکیم الامت حضرت مولانا اشرف علی تهانوی رحمه الله دی کوم چې دوی په عربی ژبه د احکام القرآن سورة قصص دلیکلو په وخت کې ارشاد فرمایلی وو او دا اخری علمی تحقیق دی چې احقر دحضرت څخه ددې استفاده وکړه ، څکه چې دوی دا ارشاد په ۲ رجب سنه ۱۳۶۲ھ کې فرمایلی وو . ددې څخه وروسته یې مرض زیات سخت سو او په ۱۶ رجب دا دعالم لمر پناه سو . اناالله وانااليه راجعون .

اوځینې مفسرین حضرات فرمایي چې که څه هم دقبطي قتل مباح وو ، مګر انبیاء علیهم السلام په مباحاتو کې هم په مهمو معاملو تر هغه وخته پورې اقدام نه کوي تر څو پورې چې په خصوصي طور سره دالله ﷻ دطرف څخه اجازه او اشاره ورنه کړل سي ، په دې موقع حضرت موسیٰ ﷺ دخصوصي اجازه د انتظار کولو څخه بغیر دا اقدام فرمایلی وو ، په دې وجه دخپل شان مطابق یې دا ګناه مقرره کړه ، او استغفار یې وکی (کَذَا فِي الرُّوْحِ وَغَيْرِهٖ وَلَهٗ وَجْهٌ)

قَالَ رَبِّ بِمَآ أَنْعَمْتَ عَلَيَّ فَلَنْ أَكُوْنَ ظَهِيْرًا لِّلْمُجْرِمِيْنَ " دحضرت موسیٰ ﷺ دا خطا چې هر کله الله ﷻ معاف کړه نو ده ددې نعمت په شکریه کې عرض وکی چې زه به اننده دیو مجرم مدد نه کوم . ددې څخه معلومه سوه چې حضرت موسیٰ ﷺ چې دکوم اسرائیلي دمدد دپاره دا اقدام کړی وو او دبلې واقعې څخه دا خبره ثابته سوې وه چې هغه په خپله جګړال وو او جنګ جګړې یې عادت وی . په دې وجه یې هغه مجرم مقرر کی . اننده یې دیو داسې سړي دمدد نه کولو عهد وفرمایي او دحضرت ابن عباس ﷺ څخه دلته دمجرمین تفسیر په کافرین سره نقل دی او دقتاده څخه هم تقریباً داسې نقل دی . ددې تفسیر پربنا واقعه داسې معلومیږي چې هغه اسرائیلي دکوم چې حضرت موسیٰ ﷺ مدد کړی وو ، هغه هم مسلمان نه وو ، مګر مظلوم یې وګڼي امداد یې وکی . دحضرت موسیٰ ﷺ ددې ارشاد څخه دوې مسئلې ثابتې سوې .

مسئله : اوله دا چې مظلوم که څه هم کافر یافاسق وي بیا هم دده امداد کول په کار دي .

مسئله : دوهمه مسئله دا ثابته سوه چې دیو مجرم ظالم مدد کول جائزنه دي عالمانو ددې آیت دلیل نیولی دی اوظالمانو حاکمانو ملازمت یې هم ناجائز ګڼلی دی چې دغه به هم د دوی په ظلم کې شریك ګڼل کیږي او پر دې یې دسلفو صالحانو څخه ډیر راویتونه نقل کړي دي (کمافي روح المعاني) دظالمانو دامداد او اعانت مختلف صورتونه دي او احکام یې دفقهي په کتابونو کې په تفصیل سره ذکر دي ، احقر په احکام القرآن کې په عربي ژبه ددې آیت لاندې ددې مسئلې پوره تحقیق او صفایي لیکلې ده ، دعلم خاوندان یې هلته لیدلای سي .

وَلَمَّا تَوَجَّهَ تِلْقَآءَ مَدْيَنَ قَالَ عَسٰى رَبِّيْٓ أَنْ يَّهْدِيَنِيْ

او کله چې یې مخ وکی مدین طرف ته وې ویل امید دی چې زما رب بوزي ما

سَوَآءَ السَّبِيْلِ ﴿٢٢﴾ وَلَمَّا وَرَدَ مَآءَ مَدْيَنَ وَجَدَ عَلَيْهِ

په سیده لاره باندې ، او هر کله ورسیدی دمدین اوبو ته بیایې پیدا کې هلته ،

أُمَّةً مِّنَ النَّاسِ يَسْقُوْنَ ﴿ۖ﴾ وَوَجَدَ مِنْ دُوْنِهِمُ امْرَأَتَيْنِ

یو جماعت دخلقو او به کوونکی او بیا یې پیدا کې د دوی څخه په څنګ دوه ښځې چې

تَذُوْدٰنِ ۚ قَالَ مَا خَطْبُكُمَا ۖ قَالَتَا لَا نَسْقِيْ حَتّٰى يُصْدِرَ

منع کولې یې خپلې بزې وې ویل ستاسې څه حال دی ؟ وې ویل مونږ نه اوبه کوو ترڅو پورې چې داشپونکي

الرِّعَآءُ ۖ وَاَبُوْنَا شَيْخٌ كَبِيْرٌ ﴿٢٣﴾ فَسَقٰى لَهُمَا ثُمَّ تَوَلّٰۤى اِلَى

نه وي تلل ، او زمونږ پلار سپینږر دی د ډیر عمر ، پس ده اوبه کړل دهغو حیوانان پس بیا واپس سو

الظِّلِّ فَقَالَ رَبِّ اِنِّيْ لِمَاۤ اَنْزَلْتَ اِلَيَّ مِنْ خَيْرٍ فَقِيْرٌ ﴿٢٤﴾

یو سایې ته وروسته وې ویل ای ربه ! ته چې څه شی نازل کړی ماته دښو څخه زه دهغه محتاج یم

فَجَآءَتْهُ اِحْدٰىهُمَا تَمْشِيْ عَلَى اسْتِحْيَآءٍ ۫ قَالَتْ اِنَّ اَبِيْ

بیا راغله ده ته په هغه دوو کی یوه چی تلله په حیاء سره (شرم سره) وې ویل زما پلار

يَدْعُوْكَ لِيَجْزِيَكَ اَجْرَ مَا سَقَيْتَ لَنَا ۖ فَلَمَّا جَآءَهٗ وَقَصَّ عَلَيْهِ

تاغواړی چې بدله درکړی حق دهغه چې تااوبه کړل زمونږ څاروی، پس چې کله ورسیدی هغه ته اوبیان یې کړل هغه ته

الْقَصَصَ ۙ قَالَ لَا تَخَفْ ۫ نَجَوْتَ مِنَ الْقَوْمِ الظّٰلِمِيْنَ ﴿٢٥﴾

حلات وې ویل مه بیریږه ، محفوظ سوی ته دقوم بی انصافه څخه

قَالَتْ اِحْدٰىهُمَا يٰۤاَبَتِ اسْتَاْجِرْهُ ۫ اِنَّ خَيْرَ مَنِ اسْتَاْجَرْتَ

وویل په دی دواړو کی یوې ، ای پلاره ! دی نوکر کړه ، بیشکه غوره نوکر کوم چې ته ساتل غواړی هغه دی چې

الْقَوِيُّ الْاَمِيْنُ ﴿٢٦﴾ قَالَ اِنِّيْۤ اُرِيْدُ اَنْ اُنْكِحَكَ اِحْدَى ابْنَتَيَّ

زوراوروی امانتدار ، وې ویل زه غواړم چې په نکاح درکړم تاته یوه لور

هٰتَيْنِ عَلٰۤى اَنْ تَاْجُرَنِيْ ثَمٰنِيَ حِجَجٍ ۚ فَاِنْ اَتْمَمْتَ عَشْرًا فَمِنْ

خپله په دی دواړو کی په دی شرط چې ته زما نوکری وکړی اته کاله ، بیاکه تاپوره کړل لس کاله نو داستا

عِنْدِكَ ۚ وَمَاۤ اُرِيْدُ اَنْ اَشُقَّ عَلَيْكَ ۖ سَتَجِدُنِيْۤ اِنْ شَآءَ اللّٰهُ مِنَ

د طرف څخه دی اوزه نه غواړم چې په تا تکلیف واچوم ته به بیا پیدا کې ما که الله تعالی وغوښتله

الصّٰلِحِيْنَ ﴿۲۷﴾ قَالَ ذٰلِكَ بَيْنِيْ وَبَيْنَكَ ؕ اَيَّمَا الْاَجَلَيْنِ قَضَيْتُ فَلَا

دنیک بختونه وړ ویل دا وعده وسوه زما اوستا په مینځ کی ، کومه موده چی په دی دواړو کی پوره کړم پس

عُدْوَانَ عَلَيَّ ؕ وَاللّٰهُ عَلٰى مَا نَقُوْلُ وَكِيْلٌ ﴿۲۸﴾ ع

زیاتوب به نه وی په ما او په الله تعالی باور دی په هغه شي کی چی مونږ وایُو .

تفسیر: اوکله چی موسیٰ ﷺ دا دعا وکړه نو دخدای په توکل یو طرف ته روان سو او په غیبی تائید سره دمدین طرف ته یی مخ سو (چونکه لار ورته معلومه نه وه ، په دی وجه دزړه قوی کولو اوتوکل اونفس ته دتسکین ورکولو دپاره یی دخان سره) وویل امید دی چی زمارب ما (دامن دیومقام) په سیده لار روان کی (نو داسی وسوه او مدین ته ورسیدی) او کله چی دمدین اوبو (یعنی څاه) ته ورسیدی نوپه دی باندی یی د (مختلفو) خلقو یوه گڼه گونه ولیده کوم چی (دڅاه څخه اوبه را ایستلی خپل څاروی یی) اوبه کول او ددغو خلقو څخه یو طرف ته (جلا) دوی ښځی یی ولیدی چی هغوی (خپلی بزی) منع کړي دی موسیٰ ﷺ دهغوی څخه پوښتنه وکړه چی ستاسی څه مطلب دی ؟ هغو دواړو وویل چی (زمونږ معمول دا دی چی مونږ (خپلو څاروو ته) تر هغه وخته پوری اوبه نه ورکوو ترڅوچی دا دڅاروو خاوندان (کوم چی په څاه څاروی اوبه کوی) او به کړی (څاروی) اوولاړسی (یو خو دحیاء په سبب ، دوهم دسړو په رش کی ورتلل دکمزوری څخه کله کیدای سی) او (په دی حالت کی به مونږ راتلو هم نه مګر) زمونږ پلار ډیر بوډا دی (اوپه کور کی بل څوك کارکوونکی نسته او کار ضروری دی ددی مجبوری په وجه مونږ راځو) وروسته (چی دایی واوریدل نو) دموسیٰ ﷺ رحم پر راغی او هغه) د دوی دپاره اوبه را ویستلی په څاروو یی) وڅښلی (او هغوی یی د انتظار او اوبو را ایستلو دتکلیف څخه وساتلی) بیا (دهغه ځای څخه) ایسته سو په (یو) سایه (ځای) کی کښېنستی (برابره خبره ده که دیو غر سایه وه یادیوی درختی) بیایی (په درباردباری تعالی کی دعا)وکړه چی ای زما پروردګاره ! (دا وخت) چی کوم نعمت هم (لږ یاډیر) ته ماته را ولیږی زه دهغه (سخت) حاجتمند یم (ځکه چی په دی سفرکی ورته څه خوراك چنباك نه وو ورکړل سوی حق تعالی ددی دا انتظام وکی چی دغه دواړی بیبیانی خپل کورته بیرته ولاړی نو پلار ورڅخه دژر واپس کیدو وجهی پوښتنه وکړه ، هغوی دموسیٰ ﷺ پوره قصه بیان کړه نو پلار یی یوه انجلی ولیږله چی ولاړه سه هغه راوله) موسیٰ ﷺ ته یوه انجلی راغله چی شرمیدونکی راتله (کوم چی دشریفو خلقو طبعی حالت دی او راغله) وړ ویل چی زماپلار تاسی بولی چی تاسی ته دهغه بدله درکی کوم چی تاسی زمونږ په خاطر (زمونږ څاروو ته) اوبه ورکړی وی (دا به دی صاحبزادګی ته دخپل پلار دعادت څخه معلومه سوی وی چی داحسان بدلی به یی ورکولی ، موسیٰ ﷺ ورسره روان سو . که څه هم مقصود دموسیٰ ﷺ په یقین سره

دخپل خدمت معاوضه اخستل نه وو ، مګر د امن دځای او دیو مشفق ملګری دوخت دضرورت مطابق
خامخا لټوونکی وو او دلوړی سخت والی هم که ددی تلو یو علت وی نو هم باك نسته او د اجرت سره ددی
څه تعلق نسته او دمیلمستیا دعوت هم خاصکر دحاجت په وخت کی اوخصوصًا دکریم اوشریف سری څخه
څه ذلت نه دی بیاڅه کوی چی دبل په بلنه باندی میلمستیا قبلول ، په لاره موسیٰ ﷺ دی بی بی ته
وفرمایل چی ته زماڅخه وروسته سه ، زه دحضرت ابراهیم ﷺ د اولاد څخه یم ، پردی ښځه بی وجهی بی
قصده لیدل هم نه خوښوم ، غرض داچی دغه شان دغه بزرګ ته ورسیدل) وروسته کله چی هغه ته ورسیدل
او ټول حال یی ورته بیان کی نو هغوی (تسلی ورکړه او) وي ویل چی (اوس) فکرمه کوه ته دظالمانو څخه
خلاص سوی (ځکه چی دلته دفرعون حکم نه چلیږی ، لکه داسی په روح کی دی ، بیا) یوی انجلی وویل
چی اباجان (تاته دسړی ضرورت دی او مونږ اوس لوی سوی یو اوس په کور کی مونږ ته پاته کیدل مناسب
دی نو) ته دی نوکر کړه ځکه چی ښه نوکرهغه سړی دی کوم چی مضبوط (وی او) امانتدار (هم) وی (او په دا
کی دواړه صفتونه دی ، چنانچی قوت یی داوبو را ایستلو څخه او امانت یی دسلوك څخه ، خاصکرپه لاره
کی دښځی دوروسته کولو څخه ښکاره کیدی او خپل پلار ته یی هم بیان کړی وو ، په دی باندی) هغه
(بزرګ موسیٰ ﷺ ته) وویل ، زه غواړم چی په دی دواړو انجلیو کی یوه تاته واده کړم په دی شرط چی ته
اته (۸) کاله زما نوکری وکی (او ددی نوکری بدله دغه نکاح ده ، مطلب دا دی چی د اتو کالو خدمت ددی
نکاح مهر دی) بیا که تا لس کاله پوره کړل نو دا ستا دطرف څخه (احسان) دی (یعنی زمادطرف څخه زور نه
دی) او زه (په دی معامله کی) په تاڅه مشقت غورځول نه غواړم (یعنی په کار اخستو او دوخت دپابندی
وغیره په معامله کی به اسانی کوم او) ته به ما انشاء الله تعالی چی دښه معامله کوونکو څخه پیدا کی
موسیٰ (ﷺ رضا مند سو او) وویل چی (بس خو) دا خبره زما او ستا په مینځ کی (پخه) وسوه ، زه په دی
دواړو مودو کی چی کومه (موده) هم پوره کړم په مابه څه زور نه وی او مونږ چی (دمعاملی) کومه خبره اتره
کوو الله ﷻ ددی (کافی) شاهد دی (هغه حاضر ناظر ګڼل عهد پوره کول په کار دی)

معلومات او مسئلي : وَلَمَّا تَوَجَّهَ تِلْقَآءَ مَدْيَنَ، مَدْيَنَ، دشام په ملك کی دیو ښار نوم دی ، کوم چی دمَدْيَنَ
ابراهیم ﷺ په نوم سره مسمّیٰ سوی دی ، دا علاقه دفرعونی حکومت څخه دباندی وه ، دمصرڅخه
ترمدین پوری اته منزله لار وه . په موسیٰ ﷺ چی کله دفرعونی سپاپانو طبعی بیره راغله چی دوی به په
ماپسی کیږی او دا بیره نه دنبوت او معرفت منافی ده ، نه دتوکل څخه ، نو دمصر څخه یی دهجرت اراده
وکړه او دمدین طرف یی شاید په دی وجه متعین کی چی مدین هم د ابراهیم ﷺ د اولاد کلی وو او حضرت
موسیٰ ﷺ هم دحضرت ابراهیم ﷺ په اولاد کی وو .

دا وخت حضرت موسیٰ ﷺ بالکل دبی سروسامنی سره داسی دمصرڅخه ووتی چی نه ورسره څه توښه
دخرڅ وه او نه سامان او نه ورته لار معلومه وه ددی پریشانی په حالت کی دالله ﷻ طرف ته متوجه سو دبی
فرمایل . عَسٰی رَبِّیْٓ اَنْ یَّهْدِیَنِیْ سَوَآءَ السَّبِیْلِ ، یعنی امید دی چی زما رب ماته سیده لاره را وښیی ، الله

ﷺ دا دعاقبوله کړه ، دتفسیر لیکوونکو بیان دی چی په دی سفرکی دحضرت موسیٰ ﷺ خوراك صرف د درختو پانی وی . حضرت ابن عباس ﷺ فرمایی چی دحضرت موسیٰ ﷺ دا دټولو څخه آزمایش او امتحان وو ، دحضرت موسیٰ دا زمائشونو او امتحانونو تفصیل په سورة طٰه کی دیو اوږد حدیث (حدیث الفتون) په حواله سره تیر سوی دی .

وَلَمَّا وَرَدَ مَاءَ مَدْيَنَ وَجَدَ عَلَيْهِ أُمَّةً مِنَ النَّاسِ يَسْقُونَ د : مَاءِ مَدْيَنَ څخه مراد هغه څاه دی په کوم چی به ددی کلی خلقو خپل څاروی اوبه کول .

وَوَجَدَ مِنْ دُونِهِمُ امْرَأَتَيْنِ تَذُودَانِ ' یعنی دوې ښځی یی ولیدی چی هغوی خپلی بزی د اوبو طرف ته دتللو څخه منع کولی چی د دوی بزی دنورو خلقو په بزو کی شریکی نه سی .

قَالَ مَا خَطْبُكُمَا قَالَتَا لَا نَسْقِي حَتَّى يُصْدِرَ الرِّعَاءُ وَأَبُونَا شَيْخٌ كَبِيرٌ ' لفظ دخَطْبَ په معنٰی دشان او حال دی کله چی هغه یو مهم کار وی ، معنٰی دا ده چی موسیٰ ﷺ د دواړو ښځو څخه پوښتنه وکړه چی ستاسی څه حال دی چی تاسی خپلی بزی منع کوی ولاړی یاست . دنورو خلقو په شان یی د اوبو چښلو دپاره څاه ته نه راولی ، دا ولی ؟ دی دواړو جواب ورکی ، زمونږ عادت دا دی چی مونږ دسړو سره دخلط کیدو څخه ځان ساتو نو په دی وجه تر هغه وخته پوری خپلی بزی نه اوبه کوو ترڅو پوری چی دا خلق دڅاه څخه لیری نه سی کله چی دوی ولاړسی نو مونږ بیاخپلی بزی اوبه کوو او په دی کی چی کوم دا سوال کیدی چی ایا ستاسی یو سړی نسته چی ښځی دداسی کار دپاره راوباسی نو جواب یی هم دی ښځو ددی سره ورکی چی زمونږ پلار بوډا ضعیف دی هغه دا کار نه سی کولای ، په دی وجه مونږ مجبوره سو .

ددی واقعی څخه یو څو مهمی فائدی حاصلی سوی ، اول دا چی دضعیفانو امداد دانبیاوو علیهم السلام سنت دی ، حضرت موسیٰ ﷺ دوې ښځی ولیدی چی بزی یی اوبه کولو ته را وستلی دی ، مګر دخلقو دګڼی ګوڼی په وجه ورته موقع نه ورکول کیږی نو پوښتنه یی ورڅخه وکړه .

دوهم دا چی دپردی ښځی سره دضرورت په وخت کی په خبروکولو کی څه باك نسته ، ترڅو چی دڅه فتنی بیره نه وی .

دریم دا چی که څه هم دا واقعه دهغه زمانی ده کله چی دښځو دپاره پرده لازمه نه وه دکومی سلسله چی داسلام دابتدایی زمانی پوری جاری وه . دمدینی منوری دهجرت څخه وروسته دښځو دپاره دپردی احکام نازل سول ، لیکن هغه وخت هم دپردی چی کوم اصل مقصد دی ، هغه دطبعی شرافت او حیاء په سبب په ښځوکی موجود وو چی دضرورت باوجود به یی دسړو سره خلط نه خوښووی او تکلیف برداشت کول یی قبول کړل .

څلورم دا چی دښځو ددغه ډول کارونو دپاره هغه وخت هم وتل ښه کارنه وو ، په دی وجه دوی دخپل پلار دمعذور والی عذر بیان کی .

فَسَقَىٰ لَهُمَا ، یعنی دحضرت موسیٰ ﷺ په دی ښځو رحم راغی ، دڅاه څخه یی اوبه را ویستی او د دوی

بزی یی اوبه کړی . په ځینو روایتونو کی دی چی دځاروو دخاوندانو دا عادت وو چی خپلو ځاروو ته د اوبو ورکولو څخه وروسته به یی څاه په یوه درنه ډبره بند وی او دی ښځو به خپلی بزی په پاته سوو اوبو باندی اوبه کولی . دا درنه ډبره داسی وه چی لس تنه به یوځای سول نو دا به یی لوروله ، مګر موسیٰ ﷺ دا یوازی لوره کړه ، اخواته یی کښیښووله او دڅاه څخه یی اوبه را ویستی . شاید په دی وجه په دی ښځو کی یوی خپل پلار ته دا وویل چی دی قوی دی (قرطبی)

ثُمَّ تَوَلّٰٓى اِلَى الظِّلِّ فَقَالَ رَبِّ اِنِّىْ لِمَآ اَنْزَلْتَ اِلَىَّ مِنْ خَيْرٍ فَقِيْرٌ ۔ حضرت موسیٰ ﷺ د اوو ورځو څخه ځه غله نه وو خکلی . دغه وخت ډیوی درختی سایی ته رالی ، الله ﷻ ته یی سوال وکی او خپل حالت او حاجت یی ورته پیش کی ، کوم چی ددعا کولو یوه ښکلی طریقه ده . لفظ دخیر کله دمال په معنٰی کی راځی لکه چی په اِنْ تَرَكَ خَيْرًا نِ الْوَصِيَّةُ، کی دی . کله دقوت په معنٰی کی راځی لکه . اَهُمْ خَيْرٌ اَمْ قَوْمُ تُبَّعٍ، کله دخوراك په معنٰی کی راځی لکه دلته چی مراد دی (قرطبی)

فَجَآءَتْهُ اِحْدٰىهُمَا تَمْشِىْ عَلَى اسْتِحْيَآءٍ ۔ دقرانی اسلوب مطابق یی دلته قصه لنډه کړي ده . پوره واقعه داسی وسوه چی کله دا ښځی دخپل مقرر وخت څخه مخکی ژر کورته ورسیدی نو د دوی پلار ورڅخه دوجهی پوښتنه وکړه نو انجونو دا واقعه بیان کړه . پلار یی وغوښتل چی دی سړی احسان کړی دی ده ته بدله ورکول په کار دی . په دی وجه ددی انجونو څخه یی یوه دده درابللو دپاره ولیږله. دا په حیاء سره روانه وه ورسیده . په دی کی اشاره ده چی سره ددی چی دپردی باقاعده حکم نه وو نازل سوی . نیکو ښځو به دسړو سره په ازادی خبری نه کولی . دضرورت په بناسره دا هلته ورسیده نو په حیاء سره یی خبری وکړی چی صورت یی ځینو مفسرینو دا بیان کړی دی چی خپل مخ یی په لستونی پټ کی او خبری یی کولی . دتفسیر په روایتونو کی دی چی کله حضرت موسیٰ ﷺ ددی سره روان سو ، نو انجلۍ ته یی وویل چی ته زماڅخه شاته سه او په ژبه ماته لار ښیه ، مقصدیی دا وو چی دده نظر په انجلی پری نه وزی ، شاید په دی سبب سره انجلی خپل پلارته ددی متعلق دده دامین والی ذکر وکی ، ددی انجونو پلار څوك وو ؟ په دی کی دمفسرینو حضراتو اختلاف نقل سوی دی . مګر دقرآن دایتونو څخه په ظاهره دا معلومیږی چی هغه حضرت شعیب ﷺ وو لکه چی په قرآن کی دی . وَاِلٰى مَدْيَنَ اَخَاهُمْ شُعَيْبًا (قرطبی)

اِنَّ اَبِىْ يَدْعُوْكَ ۔ دلته دا هم کیدای سی چی دا انجلۍ په خپله دخپل طرف څخه ده ته بلنه ورکړی ، مګر داسی یی ونه کړل ، بلکه دخپل پلار پیغام یی واوریدی ځکه چی پردی سړی ته په خپله دعوت ورکول دحیاء خلاف وو .

اِنَّ خَيْرَ مَنِ اسْتَاْجَرْتَ الْقَوِىُّ الْاَمِيْنُ ۔ یعنی دحضرت شعیب ﷺ یوی لور خپل پلار ته عرض وکی چی تاته دکور دکارونو دپاره دنو کر ضرورت دی ، ته دی نو کر کړه ځکه چی په نو کر کی دوه صفتونه په کار دی ، یو دکار قوت او صلاحیت دوهم امانتداری . مونږ ته دده د ډبری لورولو او اوبو را ایستلو څخه دقوت او

قدرت ، او په لاره دښځي دځان څخه په ښاته کولو سره دامانتداری تجربه سوي ده .

(دیوی نو کری یا منصب سپارلو دپاره ضروری او اهم شرطونه دوه دی)

دحضرت شعیب ﷺ دلور په ژبه سره الله ﷻ لویه دحکمت خبره جاري کړه . نن صبا دسر کاری عهد او ملازمتونو دپاره دکار صلاحیت او وګړیو ته خو کتل کیږی ، مګر ددیانت او امانت طرف ته هیڅ توجه نه ورکول کیږی (دا خو دمولانامحمد شفیع رحمه الله دوخت اومعلوماتو خبره ده ، خو راسه نن صبا زمونږ وخت ته وګوره چی نه په کي صلاحیت او تعلمی قابلیت ته کتی سي او نه امانت او دیانت ته . صرف رشوت اوسفارش دی چی دعهدو او نوکرو دپاره معیار مقرر سوي دي ، مترجم) او هم ددی نتیجه ده چی دعامو دفترونو او عهدو په کارونو کی دپوره کامیابی په ځای درشوت خوری او اقربا پروری وغیره په وجه قانون معطل پاته سوی دی افسوس که خلقو په دی قرانی هدایتونو عمل وکی نو ټول نظام به برابر سی .

قَالَ اِنِّیۡۤ اُرِیۡدُ اَنۡ اُنۡکِحَكَ اِحۡدَی ابۡنَتَیَّ هٰتَیۡنِ " یعنی د انجونو پلارحضرت شعیب ﷺ په خپله دخپل طرف څخه دخپلی لور دده په نکاح کی د ورکولو اراده ښکاره کړه ددی څخه معلومه سوه چی د انجونو ولی ته په کار دی چی یو نیك سړی ووینی نو ددی انتظار دی نه کوی چی دهغه دطرف څخه دنکاح مطالبه وسی ، بلکه په خپله یی هم پیش کول دانبیاو علیهم السلام سنت دی ، لکه چی عمر بن خطاب ﷺ دخپلی لور حضرت حفصه رضی الله عنها دکونډیدو څخه وروسته په خپله حضرت صدیق اکبر ﷺ او حضرت عثمان غنی ﷺ ته ددی دنکاح پیشکش کړی وو (قرطبی)

اِحۡدَی ابۡنَتَیَّ هٰتَیۡنِ " حضرت شعیب ﷺ په دواړو انجونو کی دیوی په متعین کولو خبره ونه کړه ، بلکه دا یی مبهمه پاته کړه چی په دوی کی یوه تاته په نکاح کی درکول غواړم ، مګر چونکی دا خبری دباقاعده نکاح ترلو خبری نه وی چی ایجاب اوقبول دشاهدانو په مخکی شرط دی بلکه معامله دخبرو اترو وه چی که تاته اته کاله نوکری ددی نکاح په عوض کی منظوره وی ، نو نکاح به وکی . حضرت موسٰی ﷺ په دی معاهده وکړه ، مخ ته دا په خپله ظاهره ده چی باقاعده نکاح به سوی وی او قرآن کریم عموماً دقصی هغه اجزاء نه ذکر کوی دکومو واقع کیدل چی دسیاق اوسباق څخه ظاهر اویقینی وی . ددی تحقیق پربنا دلته داشبهه نه سی کیدای چی دنکاح کوونکی بی بی دمتعین کولو څخه بغیر نکاح څنګه وسوه یادشاهدانو څخه بغیر څنګه وسوه (کذافی الروح وبیان القرآن)

عَلٰۤی اَنۡ تَاۡجُرَنِیۡ ثَمٰنِیَ حِجَجٍ " دا اته کاله نو کری او خدمت دنکاح مهر مقرر سو ، په دی کی دفقهاوو امامانو اختلاف دی چی خاوند دخپلی ښځی نو کری او خدمت ددی مهر مقرر کولای سی او که نه ؟ ددی مکمل تحقیق سره ددلیلونو په عربی ژبه په احکام القرآن سورة القصص کی په تفصیل لیکل سوی دی . عالمان یی هلته کتی سی ، دعوامو دپاره دومره پوهیدل کافی دی چی که دمهر دا معامله دشریعت محمدی په لحاظ سره درسته نه وی نو کیدای سی چی دشریعت شعیب ﷺ په لحاظ سره درسته وی او د انبیاو علیهم السلام په شریعتونو کی داسی فروعی فرق را تلل په قطعی نصوصو سره ثابت دی .

دامام اعظم ابوحنیفه رحمه الله خخه په ظاهر روایت کی دا صورت نقل دی ، چی دبی بی خدمت مهرنه سی جوړولای . مگر یو روایت په کوم باندی چی وروستنیو عالمانو فتوی ورکړې ده ، دا دی چی په خپله دبی بی خدمت مهر جوړول خودخاوند دعزت او احترام خخه خلاف دی ، مگر دښځی څه داسی کارکوم چی دکور خخه دباندی کوی ، لکه څاروی څرول یاخه تجارت کول ، که په دی کی یی داجاری دشرطونو مطابق موده معینه کړی وی ، لکه چی په دی واقعه کی داتو کالو موده معینه ده ، نو ددی صورت به دا وی چی ددی مودی دملازمت تنخوا کومه چی دښځی پرذمه لازمه وی نو هغه تنخوامهر مقررول جائزدی (ذکره فی البدائع عن نوادر ابن سماعة)

البته یو بل سوال دلته داکیدای سی چی مهر خو دښځی حق دی ، دښځی پلار یابل قریب ته که بغیر دښځی د اجازی خخه دمهر رقم نقد هم ورکول سی خو مهر نه ادا کیږی . په دی واقعه کی د، أَنْ تَأْجُرَنِي، الفاظ پردی شاهددی چی پلار دی دخپل کاردپاره نو کر کی نو دنو کری چی کومه معاوضه ده ، هغه خو پلارته ورکړل سوه نوداښځی مهر څنګه مقرر سو ؟ ددی جواب دا دی چی اول خو دا هم ممکنه ده چی دغه بزی ددغو انجونو ملکیت وی او دا دنو کری فائده په دی حیثیت سره په خپله انجلی ته ورسیده . دوهم دا چی که دپلار کار یی وکی او تخوایی دپلار پرذمه لازمه سوه ، نو دادمهر رقم د انجلۍ سو ، د انجلی په اجازه سره پلارته هم ددی استعمال جائز دی ، دلته ظاهره ده چی دا معامله د انجلۍ په اجازه سره سوی ده .

مسئله : دلفظ د، أُنْكِحَكَ، خخه ثابته سوه چی دنکاح معامله پلار کړې ده . په اجماع دفقهاوو داسی په کار ده چی د انجلۍ ولی ددی دنکاح کفالت وکی انجلۍ په خپله خپل نکاح ونه کړی ، دا بیله خبره ده چی که یوی انجلی خپله نکاح په خپله په څه ضرورت یا مجبوری سره وکړه نو هغه نکاح کیږی او که نه ؟ په دی کی دفقهاوو امامانو اختلاف دی . دامام اعظم ابوحنیفه رحمه الله په نزد نکاح کیږی ، او دا ایت ددی متعلق هیڅ فیصله نه ورکوی .

فَلَمَّا قَضَىٰ مُوسَى الْأَجَلَ وَسَارَ بِأَهْلِهِ آنَسَ مِن جَانِبِ الطُّورِ نَارًا قَالَ

بیا چی هرکله پوره کړه موسی علیه السلام هغه موده اوراوان سو دخپل اهل سره وې ولیدی دکوه طور طرف ته اور وې ویل

لِأَهْلِهِ امْكُثُوا إِنِّي آنَسْتُ نَارًا لَّعَلِّي آتِيكُم مِّنْهَا بِخَبَرٍ أَوْ جَذْوَةٍ

خپل کور والا وو ته و دریږئ ، مالیدلی دی یو اور ، شاید راوړم تاسی ته دهغه خخه څه خبر یاسکروټه

مِّنَ النَّارِ لَعَلَّكُمْ تَصْطَلُونَ ﴿٢٩﴾ فَلَمَّا أَتَاهَا نُودِيَ مِن شَاطِئِ

د اور چی تاسی ورته گرم سی ، بیاچی ورسیدی هغه ته اواز ورته وسو دمیدان

الْوَادِ الْاَيْمَنِ فِى الْبُقْعَةِ الْمُبٰرَكَةِ مِنَ الشَّجَرَةِ اَنْ يّٰمُوْسٰٓى

دښه طرف څخه په مبارک مقام (ځای) کی دیوې درختی څخه چی ای موسی

اِنِّىْٓ اَنَا اللّٰهُ رَبُّ الْعٰلَمِيْنَ ﴿۳۰﴾ وَاَنْ اَلْقِ عَصَاكَ ؕ فَلَمَّا رَاٰهَا

زه یم الله رب دجهانونو ، او دا چی وغورځوه خپله لکړه ، بیا چی یی ولیده نو نبوریده

تَهْتَزُّ كَاَنَّهَا جَآنٌّ وَّلّٰى مُدْبِرًا وَّلَمْ يُعَقِّبْ ؕ يٰمُوْسٰٓى اَقْبِلْ

لکه مار چی بیرته راغی په شا او نه یی کتل شاته ، ای موسی ! را مخته سه

وَلَا تَخَفْ ۫ اِنَّكَ مِنَ الْاٰمِنِيْنَ ﴿۳۱﴾ اُسْلُكْ يَدَكَ فِىْ جَيْبِكَ

او مه بیریږه تاته هیڅ خطره نسته ، وغورځوه خپل لاس په خپل ګریوان کی

تَخْرُجْ بَيْضَآءَ مِنْ غَيْرِ سُوْٓءٍ ۫ وَّاضْمُمْ اِلَيْكَ جَنَاحَكَ مِنَ

را وبه وزی سپین بی دخه تکلیف څخه ، او پیوست کره دځان سره خپله څنګله د

الرَّهْبِ فَذٰنِكَ بُرْهَانٰنِ مِنْ رَّبِّكَ اِلٰى فِرْعَوْنَ وَمَلَا۟ئِهٖ ؕ اِنَّهُمْ

بیری څخه پس دا دوه دلیلونه دی ستا درب دطرف څخه فرعون او دده سردارانو ته بیشکه هغه

كَانُوْا قَوْمًا فٰسِقِيْنَ ﴿۳۲﴾ قَالَ رَبِّ اِنِّىْ قَتَلْتُ مِنْهُمْ نَفْسًا فَاَخَافُ

وو نافرمانه خلق ، وې ویل ای ربه ! ماقتل کری دی په هغو کي یو نفس پس بیریږم

اَنْ يَّقْتُلُوْنِ ﴿۳۳﴾ وَاَخِىْ هٰرُوْنُ هُوَ اَفْصَحُ مِنِّىْ لِسَانًا فَاَرْسِلْهُ

چی ما به قتل کی ، اوزما ورور هارون دهغه ژبه چلیږې زما څخه زیاته پس هغه ولیږه

مَعِىَ رِدْاً يُّصَدِّقُنِىْٓ ؗ اِنِّىْٓ اَخَافُ اَنْ يُّكَذِّبُوْنِ ﴿۳۴﴾ قَالَ سَنَشُدُّ

زماسره مددته چی زما تصدیق کوی زه بیریږم چی هغوی به ما درواغجن کی ، وې فرمایل مونږ به مضبوط کړو

عَضُدَكَ بِاَخِيْكَ وَنَجْعَلُ لَكُمَا سُلْطٰنًا فَلَا يَصِلُوْنَ اِلَيْكُمَا ۚ

ستالاسونه په ورور ستا او در به کړو تاسی ته غلبه پس دوی به ونه رسیږي تاسی ته ،

بِاٰيٰتِنَآ ۚ اَنْتُمَا وَمَنِ اتَّبَعَكُمَا الْغٰلِبُوْنَ ﴿۳۵﴾

زمونږ په نښانو سره ، تاسي او څوک چي تاسي سره دي غالب به یاست

تفسیر: غرض هر کله چي موسیٰ (ﷺ) دا موده پوره کړله او (دشعیب ﷺ په اجازه یې) خپله بي بي روانه کړه (مصر ته یاشام ته) روان سو نو (یوه شپه داسي اتفاق وسو چي یخ هم ؤ او لارهم ورڅخه ورکه سوه ، دغه وخت) ده ته دکوه طور دطرف څخه یوه (رڼاپه شکل د) اور وځلیدی هغوی خپل کور والاوو ته وویل چي تاسي (دلته) کښیني ما یو اور لیدلی دی (زه هلته ځم) شاید زه تاسي ته دهغه ځای څخه (دلاری) څه خبر راوړم یا د اور (ګرمه) سکروټه راوړم چي تاسي ورته ګرم سي وروسته هر کله چي هغه اور ته ورسیدی نو هغه ته دهغه میدان دراسته جانب څخه (کوم چي دموسیٰ ﷺ راسته طرف ته وو) په هغه مبارك مقام کي دیوی درختي څخه اواز راغی چي ای موسیٰ (ﷺ) زه رب العٰلمین یم او دا (آوازهم راغی) چي ته خپل لکړه وغورځوه (چنانچي دوی وغورځوله اوهغه مارجوړ سو روان سو) وروسته ده چي کله دا ښوریدونکی ولیدی لکه نری مار چه (تیز) وی نو شا یې کړه وتښتیدی او شاته یې کتل هم نه (حکم ورته وسوچي) ای موسیٰ (ﷺ) رامخ ته سه او بیریږه مه (په هر شان) ته په امن یې (او دا څه دبیری خبره نه ده ، بلکه ستامعجزه ده او دوهمه معجزه بله درته درکول کیږي چي) ته خپل لاس په ګریوان کي دننه کړه (اوبیایې راوباسه) هغه به بغیر دڅه مرض څخه ډیر روښانه راووزي او (که دِلکړي دبدلیدو په شان ددی معجزی څخه هم طبعًا ستاڅه بیره اوحیراني پیدا کیږي نو) دبیری (لیری کولو) دپاره خپل (دغه) لاس (بیا) دخپل ځان (ګریوان اوتخر) سره (دتیر په شان) پیوست کړه (چي هغه بیاپه اصلي حالت سي اوبیاطبعي بیره هم نه وی) وروسته دا (ستا دنبوت) دوه لیلونه (او سندونه) دي ستادرب دطرف څخه فرعون او دده سردارانو ته دتللو دپاره (دکوم چي تاته حکم کول کیږي څکه چي) هغوی ډیرنافرمانه خلق دي هغوی عرض وکی چي ای زمارب (زه دتللو دپاره حاضریم خوستادخاص امداد ضرورت دی څکه چي) مادهغوی څخه یوسړی قتل کړی وو وروسته زمابیره ده چي (هسی نه د اول څخه) هغه خلق ماقتل کی (او تبلیغ هم ونه سی) او (دوهمه خبره دا ده چي ژبه می هم زیاته روانه نه ده او) زماد ورور هارون (ﷺ) ژبه زماڅخه زیاته روانه ده ، نو هغه هم زمامددګار جوړ کړه ، زما سره ورلره رسالت ورکړی چي (هغه زما دتقریر تائید او) تصدیق (په مفصل او مکمل طور سره) کوی (څکه چي) زمابیره ده چي دغه خلق (فرعون او دهغه درباریان) به مادرواغجن کړی (نو دغه وخت به دمناظري ضرورت وی او دزباني مناظری دپاره عادتًاهغه سړی زیات فائده مند وی دکوم چي ژبه روانه وی) ارشاد وسو چي (ښه ده) مونږ اوس ستاپه ورور ستامتی مضبوطوو (یو درخواست خودا منظور سو) او (د دوهم درخواست منظوری داسي وسوه چي) مونږ تاسي دواړوته یو خاص شوکت (او هیبت) درکوو په کوم سره چي به دهغو خلقو په تاسي وس نه رسیږي (وروسته) زمونږ معجزی واخلی ولاړسی تاسي دواړه او

خوړ چې ستاسې تابعدار وي (پرهغو خلقو) به غالب یاست .

معلومات اومسئلې: فَلَمَّا قَضٰى مُوْسَى الْاَجَلَ یعني هرکله چې حضرت موسیٰ ﷺ مقرره موده دنوکرۍ پوره کړه کومه چې اته کاله لازمي اودوه کاله اختیاري وه نودلته سوال دادی چې حضرت موسیٰ ﷺ اته کال پوره کړل اوکه لس کاله؟ په صحیح بخاري کې دي چې دحضرت ابن عباس ؓ څخه دا سوال وسونو دوي وفرمایل چې دوي زیاته موده یعني لس کاله پوره کړل ځکه چې دانبیاؤ داشان دی چې څه وایي هغه پوره کوي دنبي کریم ﷺ عادت شریف هم دا وو چې حقدار ته به يې دهغه دحق څخه زیات ور ادا کوي او امت ته يې ددې هدایت فرمایلی دی ، چې په ملازمت ، اجرت او اخستلو خرڅولو کې دې داسانۍ او قربانۍ څخه کار اخستی سي .

نُودِيَ مِنْ شَاطِئِ الْوَادِ الْاَيْمَنِ (الی) اِنِّيْ اَنَا اللّٰهُ رَبُّ الْعَالَمِيْنَ ، دا مضمون په ضمن دقصې دحضرت موسیٰ ﷺ په طٰهٰ او نمل کې تېر سوی دی . په سورة طٰهٰ کې دي ، اِنِّيْ اَنَا رَبُّكَ ، او په سورة نمل کې دي . نُودِيَ اَنْ بُوْرِكَ مَنْ فِي النَّارِ ، او په دې سورة کې دي . اِنِّيْ اَنَا اللّٰهُ رَبُّ الْعٰلَمِيْنَ، دا الفاظ که څه هم مختلف دي ، مګر معنیٰ يې تقریبًا یوه ده . دواقعي قصه يې دهرمقام په مناسبو الفاظو سره کړې ده (کذا قال الامام) اوداتجلي په شکل د اور تجلي مثالي وه ځکه چې دذاتي تجلي مشاهده په دې دنیا کې هیچا ته نه سي کېدای ، او پخپله حضرت موسیٰ ﷺ ته ددې ذاتي تجلي په اعتبار سره . لَنْ تَرٰنِيْ . فرمایلي دي ، یعني ته مانه سي لیدلی ، مراد ورڅخه مشاهده دذات حق ده .

(په نېک عمل سره ځای هم مبارک کېږي)

فِي الْبُقْعَةِ الْمُبٰرَكَةِ، دکوه طور دې مقام ته قرآنکریم بقعه مبارکه فرمایلې ده او ښکاره ده چې ددې مبارک کېدو سبب دا تجلي خداوندي ده کومه چې په دې مقام کې په شکل د اور ښکاره سوه . ددې څخه معلومه سوه چې په کوم مقام کې یو نېک عمل یامهمه واقعه کېږي ، هغه مقام معتبر کېږي .

(په وعظ کې ښه خطابت او فصاحت مطلوب دی)

هُوَ اَفْصَحُ مِنِّيْ لِسَانًا " ددې څخه معلومه سوه چې په وعظ او تبلیغ کې دکلام فصاحت اومقبول طرز دخطاب محمود او مطلوب دی . ددې په حاصلولو کې کوشش کول هم بد نه دي .

فَلَمَّا جَآءَهُمْ مُّوْسٰى بِاٰيٰتِنَا بَيِّنٰتٍ قَالُوْا مَا هٰذَآ اِلَّا سِحْرٌ مُّفْتَرًى وَّمَا

بیاچې کله ورسیدی دوی ته موسی ﷺ زمونږ په ښکاره نښانو واضحو سره وي ویل هیڅ نه دی دا مګر جادو دی جوړ سوی او مونږ

سَمِعْنَا بِهٰذَا فِيْٓ اٰبَآئِنَا الْاَوَّلِيْنَ ﴿۳۶﴾ وَقَالَ مُوْسٰى رَبِّيْٓ اَعْلَمُ

نه دي اوریدلي دا ، په خپلو تیرو پلارانو نیکونو کې او وویل موسی ﷺ زما رب خوښه پوه دی

بِمَنْ جَآءَ بِالْهُدٰى مِنْ عِنْدِهٖ وَمَنْ تَكُوْنُ لَهٗ عَاقِبَةُ

په هغه چاچې راوړی دهدایت خبره دهغه دطرف څخه اوچاته چې ورسیږي دآخرت

الدَّارِ ۭ اِنَّهٗ لَا يُفْلِحُ الظّٰلِمُوْنَ ۝۳۷ وَقَالَ فِرْعَوْنُ يٰٓاَيُّهَا

کور ، بیشکه فلاح نه پیداکوی ظالمان خلق ، او وویل فرعون ای

الْمَلَاُ مَا عَلِمْتُ لَكُمْ مِّنْ اِلٰهٍ غَيْرِيْ ۚ فَاَوْقِدْ لِيْ يٰهَامٰنُ

درباریانو ماته خو معلوم نه دی چې ستاسې معبود وی زما څخه ما سوا ، پس اور ورکړه ای هامانه!

عَلَى الطِّيْنِ فَاجْعَلْ لِّيْ صَرْحًا لَّعَلِّيْٓ اَطَّلِعُ اِلٰٓى اِلٰهِ مُوْسٰى ۙ

زما دپاره ختې ته بیا جوړ کړه ما ته یو محل شاید چې وګورم دموسی ﷺ رب لره

وَاِنِّيْ لَاَظُنُّهٗ مِنَ الْكٰذِبِيْنَ ۝۳۸ وَاسْتَكْبَرَ هُوَ وَجُنُوْدُهٗ فِي

او زما په ګمان خو دی دروغجن دی ، او تکبر وکړو هغه اودهغه لښکر په

الْاَرْضِ بِغَيْرِ الْحَقِّ وَظَنُّوْٓا اَنَّهُمْ اِلَيْنَا لَا يُرْجَعُوْنَ ۝۳۹

ملک کې په ناحقه او داسې یې وګڼله چې دوی به مونږ ته بیرته را نه سي

فَاَخَذْنٰهُ وَجُنُوْدَهٗ فَنَبَذْنٰهُمْ فِي الْيَمِّ ۚ فَانْظُرْ كَيْفَ

بیا ونیول مونږ دی او دده لښکر ، بیا غوځار کړل مونږ دوی په دریاب کې پس وګوره څنګه

كَانَ عَاقِبَةُ الظّٰلِمِيْنَ ۝۴۰ وَجَعَلْنٰهُمْ اَئِمَّةً يَّدْعُوْنَ اِلَى النَّارِ ۚ

سو انجام دګناهګارانو ؟ او کړل مونږ دوی پیشوایان چې بولي دوږخ طرف ته

وَيَوْمَ الْقِيٰمَةِ لَا يُنْصَرُوْنَ ۝۴۱ وَاَتْبَعْنٰهُمْ فِيْ هٰذِهِ الدُّنْيَا

او دقیامت په ورځ به دوی ته مدد ورسیږي نه ، او ور پسې کړو مونږ په دوی پسې په دې دنیاکې

لَعْنَةً ۚ وَيَوْمَ الْقِيٰمَةِ هُمْ مِّنَ الْمَقْبُوْحِيْنَ ۝۴۲

لعنت ، او دقیامت په ورځ به دوی بد موره سي

لنډتفسير: غرض هرکله چې دې خلقو ته موسیٰ (علیه السلام) زمونږ واضح دليلونه راوړل راغی نو دغو خلقو (معجزې وليدی) وې ويل چې دا خو محض جادو دی چې (خامخاپه الله ﷻ دروغ جوړ وی (چې دا دهغه دطرف څخه معجزی او دليلونه درسالت دی) او مونږ داسې خبره هيڅکله نه ده اوريدلې چې زمونږ دمخکنيو پلرونو نيکه ګانو په وخت کې هم سوی وی او موسیٰ (علیه السلام) ددی په جواب کې) وفرمايل چې (هر کله سره دصحيح دليلونو قائمدو اوپه دی کې دڅه معقولې شبهې دنه را ايستلو څخه وروسته يې هم نه منی نو دا عناد دی او ددی اخری جواب دا دی چې) زما پروردګار هغه څوك ښه پيژنی کوم چې صحيح دين يې دده دطرف څخه راوړی وی ، او دچا انجام (يعنی خاتمه) چې ددی عالم (دنيا) څخه ښه کيدونکی دی (او) په يقين سره ظالمان خلق (کوم چې پرهدايت او صحيح دين باندی نه وی) به هيڅکله فلاح نه کی پيدا (څکه چې دهغوی انجام به ښه نه وی ، مطلب دا دی چې الله ﷻ ته ښه معلومه ده چې په مونږ کې اوپه تاسې کې څوك بد دی څوك ظالمان او څوك ښه انجام والا دی او څوك محروم دی . دکاميابی څخه وروسته دهر يوه دحالت او ثمری به دمرګ سره ډير ژر ظهور وسی ، اوس يې نه منی تاسې پوه سی) او (چې دموسیٰ (علیه السلام) دليلونه يې وليدل ، واوريدل) دفرعون (سره بيره پيدا سوه چې هسې نه زما معتقدين د دوی طرف ته مائل نه سی نو خلق يې جمع کړل) وويل ای د دربار خلقو! ماته خو دځان څخه ماسوا ستاسې بل خدای نه معلوميږی (ددی څخه وروسته يې دخلقو دوکه کولو دپاره خپل وزير ته وويل ، چې که په دی سره ددی خلقو اطمينان نه وی نو) ای هامانه ! ته ماته (د) خاورې (خښتې جوړې کړه) په اورکی پخې کړه بيا (ددغو پخو خښتو څخه) زما دپاره يوه جګه ابادی جوړه کړه ددی دپاره چې (زه دی ته وخيژم) دموسیٰ (علیه السلام) خدای وګورم او ووينم او زه خو (په دی دعوئ کی چی يو بل خدای سته) موسیٰ (علیه السلام) دروغجن ګنم او فرعون او دده تابعدارانو ناحقه په دنيا کې سر پورته کړی وو او داسې يې ګڼل چې د دوی مونږ ته بيرته راتلل نسته نو مونږ (ددی تکبر په سزا کی) دی او دده تابعداران ونيول ، په درياب کی مو وغورځول (يعنی غرق مو کړل) وروسته وګوری دظالمانو انجام څنګه وسو؟ (او دموسیٰ (علیه السلام) دقول ظهور وسو . مَنْ تَكُونُ لَهُ عَاقِبَةُ الدَّارِ اِنَّهُ لَايُفْلِحُ الظّٰلِمُوْنَ او مونږ هغه خلق داسې مشران جوړ کړی وه کوم چې (خلق) د دوږخ طرف ته بولې او (په دی واسطه) دقيامت په ورځ به (داسې بی کومکه پاته سی چی) څوك به د دوی مدد ونه کړی او (دا خلق په دواړه جهانه تاوان کوونکی او زيانکاره سول چنانچی) په دنيا کی هم مونږ په دوی پسی لعنت لګولی دی او دقيامت په ورځ به هم دبد حاله خلقو څخه وی .

معلومات اومسئلې: ، فَاَوْقِدْ لِيْ يٰهَامٰنُ عَلَى الطِّيْنِ ، فرعون ديو ډير لوړ محل تيارولو اراده وکړه ، نو خپل وزير هامان ته يې ددی تياری دپاره دا حکم وکی چې دخاورې څخه پخې خښتې جوړې کړه ، څکه چې دکچه خښتو څخه څه لوی اوجګ بنياد نه سی قائميدی . څينې حضرات فرمايې چې دفرعون ددې واقعې څخه مخکې دپخو خښتو دابادی رواج نه وو ، دتولوڅخه اول فرعون دا ايجادوکی . په تاريخی روايتونو کی دی چې هامان ددی محل داباد ولو دپاره پنځوس زره کاريګر جمع کړل ، مزدوران اودلرګی او اوسپنې

کار کوونکی ددی ځخه علاوه وه اومحل یی دومره جګ جوړکی چی په هغه زمانه کی ددی څخه جګه بله ابادی نه وه ، بیاچی کله دا تیار اومکمل سو نوالله ﷻ جبرائیل ﷺ ته حکم وکی . هغه په یوه ګذار باندی دامحل دری توتی کی او چپه یی کی چی دفرعون دفوج په زرګونو سری ترلاندی سول اومړه سول (قرطبی)

وَجَعَلْنَاهُمْ اَئِمَّةً يَّدْعُوْنَ اِلَى النَّارِ یعنی دفرعون درباریانوته الله ﷻ دده دقوم پیشوایان جوړکړی وه ، مګر دی غلط کار و پیشوایانو خپل قوم ته د اور یعنی دجهنم طرف ته دعوت ورکوی دلته اکثرو مفسرینو د اور طرف ته دعوت ورکول یوه استعاره او مجاز مقرر ګړی دی چی د اور څخه مراد هغه دکفر عملونه دی دکومو نتیجه چی دجهنم اورته تلل وو ، مګر داستاذ محترم حضرت مولاناسیدمحمد انور شاه کشمیری رحمه الله تحقیق دابن عربی رحمه الله په متابعت کی دا وو چی داخرت جزا عین عمل دی ، دانسان عملونه کوم چی هغه په دنیا کی کوی ، په برزخ بیاپه محشرکی به خپل شکلونه بدل کی او په جوهری صورتونو کی به نیك عملونه ګل اوګلزار سی دجنت نعمتونه به جوړ سی او دکفر او ظلم عملونه به اور اوماران لړمان او دقسم قسم عذابونو شکلونه اختیارکی . په دی وجه کوم سړی چی په دی دنیا کی څوك دکفر او ظلم طرف ته بولی هغه په حقیقت کی هغه د اور طرف ته بولی . که څه هم په دنیاکی ددغه شکل داور نه دی مګر حقیقت یی اوردی . دغه شان په آیت کی څه مجاز یا استعاره نسته ، برخپل حقیقت باندی محمول دی ، چی دا تحقیق اختیار سی ، نو دقرآن په بی شمیره ایتونو کی به دمجاز او استعاری تکلف کول نه راځی . مثلاً . وَوَجَدُوْا مَاعَمِلُوْا حَاضِرًا ، او . فَمَنْ يَّعْمَلْ مِثْقَالَ ذَرَّةٍ خَيْرًا يَّرَهٗ وغیره .

وَيَوْمَ الْقِيَامَةِ هُمْ مِّنَ الْمَقْبُوْحِيْنَ ، مَقْبُوْحِيْنَ ، دمَقْبُوْح جمع ده چی معنی یی ده خراب سوی . مراد دا دی چی دقیامت په ورځ به د دوی مخونه مسخ سی تور به سی او سترګی به یی زړی سی .

وَلَقَدْ اٰتَيْنَا مُوْسَى الْكِتٰبَ مِنْۢ بَعْدِ مَآ اَهْلَكْنَا الْقُرُوْنَ الْاُوْلٰى بَصَآئِرَ

اومونږ ورکړی موسی ته | کتاب | پس دهغه چی مونږ هلاک کړل | مخکنی جماعتونه | دپوهولو

لِلنَّاسِ وَهُدًى وَّرَحْمَةً لَّعَلَّهُمْ يَتَذَكَّرُوْنَ ﴿٤٣﴾ وَمَا كُنْتَ

دخلقو دپاره | اولار ښودونکی او رحمت چی دوی | یاد کړی ، | او ته نه وی

بِجَانِبِ الْغَرْبِيِّ اِذْ قَضَيْنَآ اِلٰى مُوْسَى الْاَمْرَ وَمَا كُنْتَ

مغرب | طرف ته | کله چی مونږ ولیږی | موسی ﷺ ته | حکم | او نه وی ته

مِنَ الشّٰهِدِيْنَ ﴿٤٤﴾ وَلٰكِنَّآ اَنْشَاْنَا قُرُوْنًا فَتَطَاوَلَ عَلَيْهِمُ

لیدونکی | او لیکن | مونږ | پیدا کړل ډیر جماعتونه بیا | اوږده سوه په دوی

الْعُمُرُ ۚ وَمَا كُنتَ ثَاوِيًا فِي أَهْلِ مَدْيَنَ تَتْلُو عَلَيْهِمْ

موده او ته نه وی او سیدونکی په مدین والاوو کی چی ویل دی دوی ته

آيَاتِنَا وَلَٰكِنَّا كُنَّا مُرْسِلِينَ ﴿٤٥﴾ وَمَا كُنتَ بِجَانِبِ الطُّورِ إِذْ

ایتونه زمونږ اولیکن مونږ یو رسولان لیږونکی ، او ته نه وی دطور په خوا کی کله چی

نَادَيْنَا وَلَٰكِن رَّحْمَةً مِّن رَّبِّكَ لِتُنذِرَ قَوْمًا مَّا أَتَاهُم مِّن

مونږ اواز وکی لیکن دا انعام دی ستا درب چی ته وبیروه هغه خلق کوموته چی نه دی راغلی

نَّذِيرٍ مِّن قَبْلِكَ لَعَلَّهُمْ يَتَذَكَّرُونَ ﴿٤٦﴾ وَلَوْلَا أَن تُصِيبَهُم

بیرونکی ستا څخه مخکښ چی دوی یاد وساتی ، او د دومره خبری دپاره چی که را ولویږی په دوی

مُّصِيبَةٌ بِمَا قَدَّمَتْ أَيْدِيهِمْ فَيَقُولُوا رَبَّنَا لَوْلَا أَرْسَلْتَ

څه آفت په سبب دهغه چی مخکښ کړی دی لاسونو د دوی نو وواییی چی ای ربه زمونږ ولی نه رالیږی تا

إِلَيْنَا رَسُولًا فَنَتَّبِعَ آيَاتِكَ وَنَكُونَ مِنَ الْمُؤْمِنِينَ ﴿٤٧﴾ فَلَمَّا

مونږ ته رسول چی مونږ تللی وای ستا په خبرو پسی اوسوی وای دایماندارو څخه ، بیا چی کله

جَاءَهُمُ الْحَقُّ مِنْ عِندِنَا قَالُوا لَوْلَا أُوتِيَ مِثْلَ مَا أُوتِيَ

ورسیده دوی ته صحیح خبره زمونږ دطرف څخه وې ویل ، ولی نه دی رسیدلی دی رسول ته لکه چی رسیدلی وو

مُوسَىٰ ۚ أَوَلَمْ يَكْفُرُوا بِمَا أُوتِيَ مُوسَىٰ مِن قَبْلُ ۖ قَالُوا

موسی ﷺ ته ، آیا دوی کافر سوی نه دی په هغه چی ورکړل سوی وو موسی ته دد‌ې څخه مخکښ وې ویل

سِحْرَانِ تَظَاهَرَا وَقَالُوا إِنَّا بِكُلٍّ كَافِرُونَ ﴿٤٨﴾ قُلْ فَأْتُوا

جادو گران دی دیو بل موافق ، او وې ویل مونږ دواړه یی نه منو ، ته وو وایه اوس تاسی راوړی

بِكِتٰبٍ مِّنْ عِنْدِ اللّٰهِ هُوَ اَهْدٰى مِنْهُمَآ اَتَّبِعْهُ

څه کتاب دالله د طرف څخه چی ددی ددې دواړو څخه غوره وی چی زه یی تابعداری وکړم

اِنْ كُنْتُمْ صٰدِقِيْنَ ﴿۴۹﴾ فَاِنْ لَّمْ يَسْتَجِيْبُوْا لَكَ فَاعْلَمْ

که تاسی رښتینی یاست؟ بیا که ستا خبره پوره نه کړی نو ته پوه سه

اَنَّمَا يَتَّبِعُوْنَ اَهْوَآءَهُمْ ؕ وَمَنْ اَضَلُّ مِمَّنِ اتَّبَعَ هَوٰىهُ بِغَيْرِ

چی دوی په خپلو خواهشاتو چلیږي ،اودهغه څخه زیات ګمراه څوک دی چی تابعداری کوی دخواهشاتو خپلو ، بغیر

هُدًى مِّنَ اللّٰهِ ؕ اِنَّ اللّٰهَ لَا يَهْدِى الْقَوْمَ الظّٰلِمِيْنَ ﴿۵۰﴾ وَلَقَدْ

دښودنی دالله څخه بیشکه الله لار نه ښیی بی انصافو خلقو ته ، اومونږ

وَصَّلْنَا لَهُمُ الْقَوْلَ لَعَلَّهُمْ يَتَذَكَّرُوْنَ ﴿۵۱﴾

پرله پسی لیږلی دی دوی ته خپلی خبری چی دوی یی یادی کړی .

لنډتفسير: او (درسالت سلسله دخلقو داصلاح داحتیاج په سبب دهمیشه څخه را روانه ده هم دارنګه) مونږ موسی (ﷺ) ته (چی قصه یی اوس وسوه) دمخکني امتونو (یعنی قوم دنوح ﷺ او عاد او ثمود) دهلاکیدو څخه وروسته (کله چی دهغو زمانو دپیغمبرانو تعلیمات نایابه سوی وو ، او خلق دهدایت سخت حاجتمندوه) کتاب (یعنی تورات) ورکړی وو کوم چی دخلقو (یعنی بنی اسرائیلو) دپاره دپوهیدو سبب او هدایت او رحمت وو ددی دپاره چی دوی (په دی سره) نصیحت حاصل کی (دحق دطلب کوونکی اول پوه برابریږی ، دا بصیرت دی ، بیا احکام قبلوی دا هدایت دی ، بیادهدایت ثمره او فائده یعنی نژدیکت او قبولیت ورته عنایت کیدای سی دا رحمت دی) او (دغه رنګه کله چی دا دوره هم ختم سی او خلق بیانوی هدایت ته محتاج سول ، دخپلو جاری سنتو مطابق مونږ ته رسول جوړ کړی چی ددی په دلیلونو کی یوه دا واقعه دموسٰی ﷺ یقینی خبر ورکول دی ځکه چی دقطعی خبر ورکولو دپاره یوه طریقه دعلم ضروری ده او دغه طریقه په څلورو امورو کی منحصره ده . په عقلی امورو کی عقل ، وروسته دا واقعه خو دعقلی امورد څخه نه ده او په نقلی امورو کی یا اوریدل د اهل علمو څخه کومه چی دوهمه طریقه ده ، وروسته دا هم په وجه دنه خلط کیدو اونه دویلو داهل خبرونو څخه نسته اویاخپله مشاهده کومه چی دریمه طریقه ده وروسته ددی نستوالی خو ډیر ظاهر دی ، هم دارنګه ظاهره ده چی) ته (دطور) په مغربی جانب کی موجود

نه وي كله چي مونږ موسىٰ (عليه السلام) ته احكام وركړي وه (يعني تورات وركړي وو) او (هلته خاص ته څه موجود وې) ته (خو) په هغه خلقو كي (هم) نه وي كوم چي (په هغه زمانه كي) موجود وه (وروسته احتمال دمشاهدي هم پاته نه سو) او ليكن (خبره دا ده چي) مونږ (دموسىٰ (عليه السلام) څخه وروسته) ډير نسلونه پيدا كړل ، بيا په دوی اوږده زمانه تيره سوه (چي په دی سره بياصحيح علمونه نايابه سول اوبيا خلق دهدايت محتاجه سول اوكه څه هم په مينځ مينځ كي انبياء عليهم السلام هم څو راغلل ، مگر دهغو علمونه هم دغسي ناياب سول ، په دی وجه زمونږ رحمت مقتضي سو چي مونږ تا په وحي درسالت سره مشرف كړو كوم چي څلورمه طريقه ده ديقيني خبر ، او نوری طريقي دعلم ظني دی كوم چي دبحث څخه خارجي دی ځكه چي ستا دا خبرونه بالكل يقيني او قطعي دی مطلب دا دی چي دعلم يقيني څلور طريقي دی او دری نسته دی ، وروسته څلورمه متعينه سوه او دا مطلوب ده) او (لكه څنگه چي تادتورات وركول نه دی ليدلی اوصحيح اويقيني خبر وركوی دغه ډول دحضرت موسىٰ (عليه السلام) دمدين اوسيدل دی نه دی ليدلی هم دارنگه ښكاره ده چي) ته په مدين كي اوسيدونكی هم نه وي چي تا (دهغه ځای حالات ليدلی وي او دهغو حالاتو متعلق) زمونږ ايتونه (خپلو) دی (دزماني) خلقو ته لولي اواوری اوليكن مونږ (ستا) رسول جوړونكی يو (چي رسول موجوړ كړی داواقعات مودرته په وحي ښوول) او (دغه ډول) ته دطور په (مغربي ذكرسوی) طرف كي هغه وخت هم موجودنه وی كله چي مونږ (موسىٰ (عليه السلام) ته) اواز كړی وو (چي . يَامُوسَىٰ إِنِّي أَنَا اللَّهُ رَبُّ الْعَالَمِينَ وَأَنْ أَلْقِ عَصَاكَ ، كوم چي، ده ته دنبوت وركولو وخت وو) او ليكن (دهغه علم هم داسي حاصل سو چي) ته دخپل رب په رحمت سره نبي جوړ سی چي ته داسي خلق وبيروی ، كوم ته چي ستا څخه مخكي بيرونكی (نبي) نه دی راغلی څه عجبه ده چي نصيحت قبول كړی (ځكه چي دنبي كريم ﷺ دزماني خلقو بلكه د دوی نژدی پلرونو هم يو نبي نه وو ليدلی ، كه څه هم ځيني شريعتونه خاصكر توحيد په واسطه سره دوی ته هم رسيدلی وو ، نو د . وَلَقَدْ بَعَثْنَا فِي كُلِّ أُمَّةٍ رَسُولًا ، سره يی تعارض پاته نه سو) او (كه داخلق لږ څه فكروكی نو پوه به سی چي په پيغمبر ليږلو سره زمونږ څه فائده نسته بلكه ددغو خلقو فائده ده چي دا خلق په ښه اوبد باندی خبر سی دعذاب څخه خلاصيدای سی كنه نو دكومو كارونو ناكاره والي چي په عقل سره معلوميدای سی پر هغه عذاب درسولانو دراليږلو څخه بغير هم كيدل ممكن وو ، ليكن هغه وخت به دوی يو قسم افسوس كولی چي های كه رسول راغلی وای نو مونږ به زيات پوه سوی وای ، او په دی مصيبت كي به نه وای لويدلي ، په دی وجه مونږ رسول هم راوليږی چي ددی افسوس څخه خلاصيدل دوی ته اسانه وی ، كنه نو احتمال وو چي) مونږ رسول ليږلی به هم نه كه دا خبره نه وای چي پر دوی د دوی دعملونو په سبب (كوم چي په عقل سره قبيح دی) څه مصيبت (په دنياياپه اخرت كي) نازل سوی وای (دكوم په نسبت چي دوی ته په عقل يادملائكو په ذريعه يقين سوی وای چي دا دعملونو سزاده) نو دوی به ويل چي ای زمونږ پروردگاره ! تامونږ ته څوك پيغمبر ولي نه راوليږی چي مونږ ستا د احكامو تابعداری كړی وای او (په دغو احكامو او رسولانو) دايمان راوړونكو سره سوی وای وروسته (ددی كار مقتضا خو دا وه چي درسول را تلل دوی غنيمت گڼلی او دده حق دين

یی قبلولی لیکن د دوی دا حالت سو چی، کله زمونږ دطرف ځخه دی خلقو ته حق کار (یعنی حق رسول او حق دین را ورسیدی نو (په دی کی دشکونو کولو دپاره یی داسی) وویل چی دوی ته داسی کتاب ولی ورنه کړل سو لکه چی موسیٰ (ﷺ) ته ورکول سوی وو، ددی ځخه مخکی داخلق دهغه ځخه نه دی منکره سوی (هم دارنګه ظاهره ده چی مشرکانو موسیٰ ﷺ او تورات هم نه منی ځکه چی دوی خو په اصل کی دنبوت ځخه منکره وه) دا خلق خو (دقرآن او تورات دواړو په نسبت) داسی وایی چی دادواړه جادو دی کوم چی دیو بل موافق دی (دا ځکه وایی چی په اصولو (شریعت کی دواړه متفق دی) او داسی هم وایی چی مونږ خو په دواړو کی یو هم نه منو (برابره خبره ده که دا عبارت د دوی خبره وی اوکه د دوی دخبرو ځخه لازمیږی او برابره خبره ده که پر یوځای یی د دواړو ځخه انکار کړی وی یا د دوی مختلفی خبری جمع سوی وی نو ددی ځخه صفا معلومیږی چی ددی شبهی منشاء قصد د ایمان په قرآن باندی په صورت دمثل کیدو دتورات نه دی (چی که دی دتورات په شان وای نومونږ به ایمان په راوړی وای) بلکه دا هم یوه حیله او شرارت دی مخ ته ددی جواب دی چی ای محمد ﷺ) ته ووایه چی ښه نو (علاوه دتورات او دقرآن ځخه) تاسی ځه بل کتاب دالله ﷻ دطرف ځخه راوړی کوم چی په هدایت کولو کی ددی دواړو ځخه ښه وی زه به دهغه پیروی شروع کړم که تاسی (په دی دعوٰی کی) ربښتنی یاست (چی، سٰحِرٰنِ تَظٰاهَرَا، چی په دی سره مقصود ددی دواړو کتابونو نعوذ بالله دځانه جوړول اوغلطول دی، یعنی مقصود خودحق تابعداری ده، نوکه دالله ﷻ کتابونه حق منی نوددی پیروی وکی دقرآن خومطلقًا او د تورات په توحید او په خوشخبری ورکولو دمحمد ﷺ کی او که دا حق منی نو تاسی یو حق پیش کی او دهغه حقوالی ثابت کی ، دایی په اَهدٰی سره ځکه تعبیرکړی دی چی مقصود دحق ځخه دهغه وسیله دهدایت کیدل دی ، که فرضًا یی ثابت کی نو زه به دهغه پیروی وکړم غرض دا دی چی زه حق ثابتوم نو تاسی یی تابعداری کوی او که تاسی حق ثابتوی نو زه به یی دتابعداری دپاره تیاریم او چونکی په قضیه شرطیه کی محض حکم داتصال وی ، په دی وجه په تابعداری دهغو کتابونو چی غیر الهیه وی اشکال نه لازمیږی) بیا (ددی احتجاج ځخه وروسته) که دا خلق ستا (دا) خبره (چی فَاْتُوْا بِکِتٰبٍ الخ) ونه کړل سی (او ښکاره ده چی نه یی سی کولی ، لکه دا قول دالله ﷻ . فَاِنْ لَّمْ تَفْعَلُوْا وَلَنْ تَفْعَلُوا ، او بیاهم ستا تابعداری نه کوی) نو ته پوه سه چی (ددی سوالونو منشاء ځه اشتباه او دحق لټولو تردد نه دی بلکه) دا خلق محض په خپلو نفسانی خواهشونو باندی چلیږی (د دوی نفس وایی چی هرڅنګه وی ، انکار کول غواړی ، وروسته دوی هم داسی کوی که ځه هم حق واضح هم سی) او ددداسی سړی ځخه زیات ګمراه به څوك وی کوم چی په خپلو نفسانی خواهشاتو باندی چلیږی ، بغیر ددی ځخه چی دالله ﷻ دطرف ځخه ځه دلیل (دده سره) وی (او) الله ﷻ داسی ظالمانو خلقو ته (کوم چی دحق واضح کیدو ځخه وروسته بغیر دځه صحیح دلیل ځخه هم دخپلی ګمراهی ځخه راواپس نه سی) هدایت نه کوی (چی سبب یی دهغه سړی په خپله قصد کول دی ، دخپل ګمراه پاته کیدلو او دقصد ځخه وروسته فعل پیدا کیدل عادت دی دالله ﷻ په دی وجه داسی سړی همیشه ګمراه وی ، تردی ځای پوری خوالزامی جواب وو ، د دوی ددی قول چی:

لولا اُوتیَ مثلَ ما اُوتیَ موسیٰ) او (مخ ته تحقیقی جواب دی چی په دی کی دقرآن په جمع اویو ځای دنه نازلیدو حکمت بیانوی چی) مونږ دا کلام (یعنی قرآن) ددی خلقو دپاره وقتاًفوقتاً په یوبل پسی راولیږی چی داخلق (باربار په تازه تازه اوریدو سره) نصیحت ومنی (یعنی مونږ خویی په یوځای په جمع نازلو باندی هم قادر یو ، مگر د دوی دمصلحت په وجه سره یی لږ لږ نازلوو خو دا خلق دخپل مصلحت مخالفت کوی)

معلومات اومسئلی : وَلَقَدْ آتَيْنَا مُوسَى الْكِتَابَ مِنْ بَعْدِ مَا أَهْلَكْنَا الْقُرُونَ الْأُولَىٰ بَصَائِرَ لِلنَّاسِ ، دقرون اول ځخه مراد دحضرت نوح ، هود ، صالح اولوط علیهم السلام قومونه دی ، کوم چی دحضرت موسیٰ ﷺ ځخه مخکی دسر کښی په وجه سره هلاك سوی وه . او بصآئر دبصیرت جمع ده چی لفظی معنیٰ خو یی پوه اولیدل کتل دی . مراد ددی ځخه هغه نور دی چی کوم الله ﷻ د انسانانو په زړونو کی پیداکړی دی ، په کوم سره چی دوی دشیانو حقیقت پیژندی سی او دحق او باطل فرق وکړل سی (مظهری)

په . بَصَائِرَ لِلنَّاسِ ، کی که دلفظ دناس ځخه مراد دحضرت موسیٰ ﷺ امت وی ، نو خبره صفاده . ددغه امت دپاره دتورات کتاب مجموعه د، بَصآئر وه ، اوکه دلفظ د، ناس ځخه مراد ټول انسانان وی چی امت محمدیه په کی هم دی . نو دلته به دا سوال پیدا کیږی چی د امت محمدی په زمانه کی چی کوم تورات موجود دی، هغه دتحریفاتو په ذریعه مسخ سوی دی نو د دوی دپاره به دغه بصآئر ویل ځنګه صحیح سی؟ او دا چی په دی سره خو دا لازمیږی چی مسلمانانو ته هم دتورات ځخه فائده اخستل په کار دی . حال دا دی چی په حدیث کی داواقعه مشهوره ده چی حضرت فاروق اعظم ﷺ یو وار دنبی کریم ﷺ ځخه ددی اجازه وغوښتله چی دی په تورات کی چی کوم نصیحتونه وغیره دی ، دا ووایی چی دده په علم کی ترقی کیږی ، په دی سره نبی کریم ﷺ غضبناك سو وي فرمایل چی که دا وخت موسیٰ ﷺ هم ژوندی وای نو پرهغه به زما تابعداری لازمه وای (ددی دا مطلب کیدای سی چی تاته صرف زماتعلیمات کتل کافی دی دتورات او انجیل کتل تاته صحیح نه دی ، مگر ددی په جواب کی دا ویل کیږی چی تورات چی کوم دغه وخت داهل کتابو سره نسخه وه ، هغه تحریف شده وه او زمانه د اسلام دابتداء وه په کومه کی چی دقرآن دنازلیدو سلسله جاري وه ، دغه وخت نبی کریم ﷺ دقرآن دمکمل حفاظت ترمخه دخپلو احادیثو دلیکلو ځخه هم ځینی حضرات منع کړی وه چی هسی نه خلق دقرآن سره احادیث یو ځای کی ، په داسی حالاتو کی دبل آسمانی کتاب ویل ښکاره ده چی د احتیاط خلاف وه . ددی ځخه دا نه لازمیږی چی مطلق دتورات او انجیل دمطالعی او ویلو ځخه یی منع فرمایلی ده ، ددغو کتابونو هغه برخې کومی چی دنبی کریم ﷺ متعلق پر پیش گویو باندی مشتمل دی دهغه مطالعه کول او نقل کول دصحابه کرامو ﷺ ځخه ثابت او معروف او مشهور دی . حضرت عبدالله بن سلام او کعب احبار په دی معامله کی دټولو ځخه زیات معروف دی ، نورو صحابه کرامو ﷺ هم دی ته بد نه دی ویلی . په دی وجه د ایت مطلب به دا وی چی په تورات او انجیل کی چی کوم غیر محرف مضامین اوس هم موجود دی او بیشکه بصائر دی ، دهغه ځخه فائده اخستل صحیح دی . مگر ظاهره ده چی ددی ځخه فائده صرف هغه خلق اخستی سی ، کوم چی په محرف او

غیر محرف کی فرق کولای سی او صحیح او غلط پیژندای سی ، دغه ماهران عالمان کیدای سی ، عوامو ته بیشکه چی ددی څخه ځان ساتل په کار دی ، چی هسی نه په څه مغالطه کی ولویږي نه . دا حکم دغو تولو کتابونو دی ، په کومو کی چی دحق سره دباطل ګډون دی چی عوامو ته ددغو دمطالعی څخه پرهیز کول په کار دی که ماهره عالمان یی ګوری نو څه باك نسته .

لِتُنذِرَ قَوْمًا مَّآ أَتَىٰهُم مِّن نَّذِيرٍ " دلته ددی قوم څخه عرب مراد دی کوم چی دحضرت اسمٰعیل ﷺ په اولاد کی دی او د دوی څخه وروسته تر خاتم الانبیاء ﷺ پوری په دوی کی یو پیغمبر نه دی راغلی ، دا مضمون په سورة یٰس کی هم راتلونکی دی ، ددی څخه معلومه سوه چی بل ځای دقرآن کریم دا ارشاد چی . وَإِن مِّنْ أُمَّةٍ إِلَّا خَلَا فِيهَا نَذِيرٌ ، چی یو امت داسی نسته په کوم کی چی دالله ﷻ څوك پیغمبر نه دی راغلی ، دا ددی آیت منافی نه دی ځکه چی مراد ددی آیت دادی چی تر اوږدی زمانی پوری دحضرت اسمٰعیل ﷺ څخه وروسته په دوی کی یو نبی نه دی راغلی، مګر دنبی اورسول دراتلو څخه بالکل خالی دا امت هم نه دی پاته سوی .

وَلَقَدْ وَصَّلْنَا لَهُمُ الْقَوْلَ لَعَلَّهُمْ يَتَذَكَّرُونَ ، وَصَّلْنَا ، دتوصیل څخه مشتق دی چی اصلی لغوی معنٰی یی درسی دتارونو سره دبل تاریو ځای کول او دهغه مضبوطول دی، مراد دا دی چی په قرآن کریم کی الله ﷻ دخلقو دهدایت سلسله یو په بل پسی جاری ساتلی ده او ډیر دنصیحت مضامین یی بار بار مکرر کړی هم دی، چی پراوریدونکو باندی اثر وکړی .

(دتبلیغ او دعوت ځیني اداب)

ددی څخه معلومه سوه چی دانبیاء علیهم السلام دتبلیغ مهم اړخ دا وو چی دوی به حقه خبره پرله پسی کوله او رسوله به یی ، دخلقو په انکار او درواغجن کولو به دوی په خپل کار او شغل کی څه بندیز نه راوستی ، بلکه دغه حقه خبره که به یو وار ونه منل سوه ، نو دوهم وار اوکه بیابه هم ونه منل سوه نو په دریم او څلورم وار به یی پر مخ پیش کوله ، دچاپه زړه کی زړه اچول خو دیو نصیحت کوونکی همدرد په وس کی نه دی ، مګرخپل کوشش بغیرد څه ستړی کیدو اوستومانی جاری ساتل کوم چی د دوی په قبضه کی وو ، هغه یی مسلسل پوره کوی، نن هم دتبلیغ او دعوت کار کوونکو ته ددی څخه سبق اخستل په کار دی .

الَّذِينَ آتَيْنَاهُمُ الْكِتَابَ مِن قَبْلِهِ هُم بِهِ يُؤْمِنُونَ ﴿۵۲﴾ وَإِذَا يُتْلَىٰ عَلَيْهِمْ قَالُوا

کومو له چی مونږ ورکړی دی کتاب ددې څخه مخکې دوی په دی یقین کوی ، اوکله چی دوی ته وویل سی نو وایی

آمَنَّا بِهِ إِنَّهُ الْحَقُّ مِن رَّبِّنَا إِنَّا كُنَّا مِن قَبْلِهِ مُسْلِمِينَ ﴿۵۳﴾

چی مونږ یقین راوړو په دی دا حق دی زمونږ د رب څخه راالیږل سوی مونږ ددې څخه مخکې حکم منونکی یو ،

أُولَٰئِكَ يُؤْتَوْنَ أَجْرَهُم مَّرَّتَيْنِ بِمَا صَبَرُوا وَيَدْرَءُونَ

دغه خلق به بیا پیدا کی خپل ثواب دوچنده په دی خبره چی قائم پاته سول

بِالْحَسَنَةِ السَّيِّئَةَ وَمِمَّا رَزَقْنٰهُمْ يُنْفِقُوْنَ ﴿۵۴﴾ وَإِذَا سَمِعُوا اللَّغْوَ

او نیکی کوی دبدی په جواب کی او زمونږ دورکړی مال څخه خرڅ کوی ، او کله چی واوری عبث خبری

أَعْرَضُوْا عَنْهُ وَقَالُوْا لَنَا أَعْمَالُنَا وَلَكُمْ أَعْمَالُكُمْ سَلٰمٌ عَلَيْكُمْ

نو ددی ورځخه کوی او وایی مونږ له زمونږ کار دی او تاسی له ستاسی کار دی سلامت وسیږی

لَا نَبْتَغِي الْجٰهِلِيْنَ ﴿۵۵﴾

مونږ له نه دی په کار جاهلان خلق.

تفسیر: (اودنبی کریم ﷺ رسالت دهغو خوشخبرو څخه هم ثابت دی دکومو چی هغو عالمانو تصدیق کړی دی کومو ته چی په تورات او انجیل کی ددغو خوشخبریو علم دی ، هم دارنګه) کومو خلقو ته چی مونږ دقرآن څخه مخکی (آسمانی) کتابونه ورکړی دی (په هغو کی چی کوم انصاف داردی) هغوی په هغو ایمان راوړی اوکله چی قرآن دهغوی په مخکی ویل کیږی نو وایی چی مونږ په دی ایمان راوړی ، بیشکه دا حق دی (کوم چی) زمونږ درب دطرف څخه (نازل سوی دی او) مونږ خو ددی (دراتلو) څخه مخکی هم (دخپلو کتابونو دخوشخبریو پربنا باندی) منو (اوس دنزول څخه وروسته خپل عهد تازه کوی، یعنی مونږ دهغو خلقو په شان نه یو کومو چی دقرآن دنزول څخه مخکی خوددی تصدیق کوی ، بلکه ددی دراتلو د انتظار په شوق کی وه مګر کله چی قرآن راغی نو ددی څخه منکره سول . فَلَمَّا جَاءَهُمْ مَا عَرَفُوا كَفَرُوا بِهٖ ، ددی څخه صفا ظاهره سوه چی دتورات او انجیل دخوشخبریو مصداق خاص نبی کریم ﷺ وو ، لکه چی د سورة شعراء په اخر کی فرمایی . أَوَلَمْ يَكُنْ لَهُمْ آيَةً أَنْ يَعْلَمَهُ عُلَمٰٓؤُا بَنِيْٓ إِسْرَآئِيْلَ ، تردی چی دبنی اسرائیلو دعلماؤ شهادت درسالت محمدی په خلاف بیان سو ، مخ ته د اهل کتابو مومنانو دفضیلت بیان دی چی) هغو خلقو ته به دهغوی دپو خوالی په وجه سره دوچنده ثوآب ورکول کیږی (ځکه چی هغوی په اولنی کتاب د ایمان ساتلو په ضمن کی هم په قرآن ایمان درلو دی او وروسته دنزول څخه هم پر دی قائم پاته سول او ددی تجدید یی وکی ، دا خو د دوی داعتقاد اوجزا بیان وو ، مخ ته دعملونو او اخلاقو ذکر دی چی) او هغه خلق په نیکی (او تحمل) سره بدی (او ازار) دفع کوی او مونږ چی څه هغوی ته ورکړی دی په هغه کی (د الله ﷻ په لاره کی) خرڅ کوی او (څنګه چی په عملی ازار رسیدو سره صبر کوی دغه ډول) هرکله چی دچا څخه (دځان متعلق څه خطا خبره واوری (کوم چی قولی ازاردی) نو دغه (هم) دنظر څخه غورځوی او (په طور دسلامت روی) وایی چی (مونږ هیڅ جواب نه درکوو) زمونږ عمل به مونږ ته راپیښیږی او ستاسی عمل به تاسی ته (وروره) مونږ خو تاسی ته سلام کوو (مونږ دجګړی څخه معاف کی) مونږ دناپوه خلقو سره مبتتل نه غوارو .

معلومات اومسئلې: اَلَّذِيْنَ آتَيْنَاهُمُ الْكِتَابَ مِنْ قَبْلِهٖ هُمْ بِهٖ يُؤْمِنُوْنَ ، په دې آيت کې دهغو اهل کتابو ذکر دی کوم چې دنبي کريم ﷺ دبعثت او نبوت څخه او دقرآن دنازليدو څخه مخکې دتورات او انجيل په ورکړو خوشخبريو دقرآن په نازليدو او دنبي کريم ﷺ په بعثت يې يقين درلودی ، بياچې کله دوی مبعوث سول نو دخپل مخکې يقين پربنا يې ايمان راوړی . دحضرت ابن عباس ﷺ څخه روايت دی ، چې دحبشې دنجاشي بادشاه د درباريانو څخه څلويښت سړي مدينې طيبې ته هغه وخت حاضر سول کله چې نبي کريم ﷺ دخيبر په غزا کې مشغول وو ، دا خلق هم په جهاد کې شريك سول ، ځيني په کې زخميان هم سول ، مګر قتل سوی په کې څوك نه وه . دوی چې کله دصحابه کرامو ﷺ دمعاشي تنګی حال وليدی نو دوی ته يې درخواست وکی چې مونږ دالله ﷻ په فضل سره مالدار او دجائدادونو خاوندان يو ، مونږ ته اجازه وکړی چې خپل ملك ته بيرته ولاړسو او دصحابه کرامو ﷺ دپاره څه مال جمع کړو او راېې وړو ، پردې دا ايت نازل سو .

اَلَّذِيْنَ آتَيْنَاهُمُ الْكِتَابَ مِنْ قَبْلِهٖ هُمْ بِهٖ يُؤْمِنُوْنَ ،(الی قوله) وَمِمَّا رَزَقْنَاهُمْ يُنْفِقُوْنَ ، پورې (اخرجه ابن مردويه والطبراني في الاوسط . مظهري)

او دحضرت سعيد بن جبير ﷺ څخه روايت دی چې حضرت جعفرﷺ هرکله دخپلو ملګرو سره دمدينې دهجرت څخه مخکې حبشې ته تللی وو او دنجاشي په دربار کې يې د اسلام تعليمات پيش کړل نو نجاشي او دده په دربار کې چې کوم اهل کتاب وه او په تورات او انجيل کې يې دنبي کريم ﷺ خوشخبری اونښانی ليدلې وې . د دوی په زړونو کې دغه وخت الله ﷻ ايمان واچوی . (مظهري)

(لفظ دمسلمين دامت محمدی مخصوص لقب دی اوکه دټولو امتونو دپاره عام دی)

اِنَّا كُنَّا مِنْ قَبْلِهٖ مُسْلِمِيْنَ ° يعنی دی اهل کتابوحضراتوو ويل چې مونږخودقرآن نازليدوڅخه مخکې مسلمانان وو .دلته لفظ دمسلم که په خپله لغوی معنی کې واخستل سي يعنی مطيع اوفرمانبردار، نوخبره صفاده چې دوی ته کوم يقين په قرآن او په نبي اخرزمان باندی دخپلوکتابونوپه وجه سره حاصل وو . دايقين يې په لفظ د اسلام ،اومسلمين ،سره تعبيروفرمايي چې مونږخودمخکې څخه دامنو . اوکه لفظ دمسلمين ، دلته په هغه معنی کې واخستل سي ،دکوم په لحاظ سره چې دامت محمدی لقب ، مسلمين ، دی نو ددی څخه به دا ثابته سي چې داسلام اودمسلمين لفظ صرف دامت محمدی دپاره مخصوص نه دی بلکه دټولوانبياؤ دين اسلام وو اوهغه ټول مسلمين وه .مګردقرآن کريم دځينو ايتونوڅخه اسلام او مسلمين ددی امت دپاره مخصوص لقب والی معلوميږی لکه چې دابراهيم ﷺ قول په خپله قرآن کريم نقل کړی دی . هُوَسَمّٰكُمُ الْمُسْلِمِيْنَ ، او علامه سيوطی ﷫ ددی خصوصيت قائل دی اوپه دی مضمون باندی دده يوه مستقله رساله ده . دده په نزدپه دی آيت کې دمسلمين څخه مراد دا دی چې مونږ خودمخکې څخه داسلام قبلولو دپاره تيار وو او که سوچ پر وسی نو په دی دواړو کې څه تعارض نسته چې اسلام دټولو پيغمبرانو ددين مشترك نوم هم دی او ددی امت دپاره مخصوص لقب هم ځکه چې دا کيدای سی چې اسلام دخپلی وصفی معنی په اعتبار سره په ټولو کې مشترك وی ، مګر دمسلم لقب صرف ددی امت دپاره

مخصوص وی ، لکه دصدیق او فاروق وغیره القاب دی چی مصداق یی خاص په دی امت کی ابوبکر ﷺ او عمر ﷺ دی ، حال دا دی چی دخپلی وصفی معنی په اعتبار سره نور حضرات هم صدیق او فاروق هم کیدای سی . هٰذَا مَا سَنَحَ لِیْ ، وَاللہُ اعلم .

اُولٰٓئِكَ یُؤْتَوْنَ اَجْرَهُمْ مَّرَّتَیْنِ ۔ یعنی اهل کتابو مومنانو ته به دوه واره اجر ورکړل سی . په قرآن کریم کی دغه رنګه وعده د ازواجو مطهراتو متعلق هم راغلی ده . وَمَنْ یَّقْنُتْ مِنْكُنَّ لِلہِ وَرَسُوْلِہٖ وَتَعْمَلْ صَالِحًا نُّؤْتِهَآ اَجْرَهَا مَرَّتَیْنِ او دصحیح بخاری په یو حدیث کی د درو (۳) سړیانو دپاره یې د دوچنده اجر ذکر فرمایلی دی . یو هغه اهل کتاب کوم چی اول په خپل مخکی نبی ایمان راوړی بیا په نبی کریم ﷺ باندی . دوهم هغه سړی کوم چی دیو چا مملوك غلام وی او هغه دخپل مالك هم اطاعت اوفرمانبرداری کوی او دالله ﷻ او دهغه درسول هم دریم هغه سړی چی په ملکیت کی یی مینځه وی چی بی دنکاح ځخه ورسره ده ته کوروالی جآئز وی ، او دی دغه مینځه دخپلی غلامی ځخه آزاده کړی او منکوحه ښځه ورځخه جوړه کړی .

دلته داخبره دغورطلب ده چی دی څوقسمونوته ددوو اجرونو ورکولو علت څه دی؟ که وویل سی چی ددوی دوه عملونه د دوچنده اجرسبب سی ځکه چی دمومنانو اهل کتابو دوه عملونه دادی چی اول په یونبی او د هغه په کتاب یی ایمان راوړی بیایی په دوهم نبی اودهغه په کتاب او د ازواجو مطهراتو دوه عملونه دا دی چی دوی دنبی کریم ﷺ اطاعت اومحبت په حیثیت درسول هم کوی اوپه حیثیت دخاوندهم اودمملوك غلام دوه عملونه دده غبرګ اطاعت اوفرمانبرداری ده دالله ﷻ اودرسول ﷺ هم اودمالك هم اومینځی ازادونکی اونکاح ورسره کوونکی چی دی دهغه یونیك عمل دهغه ازادول اوبیا ورسره نکاح کول دی او ښځه یې جوړول دی ، مګر په دی دا سوال پیدا کیږی چی د دوو عملونو دوه اجره کیدل خو په مقتضا دعدل او انصاف دټولو دپاره عام دی . په دی کی دمومنانو اهل کتابو یا ازواجو مطهراتو وغیره څه خصوصیت دی ؟ هر سړی چی دوه عمله وکی دوه اجرونه به پیداکی ، ددی سوال دجواب مکمل تحقیق احقر په احکام القرآن سورة قصص کی لیکلی په دی کی چی کومه خبره په خپله دقرآن دالفاظو ددلالت ځخه ثابتیږی ، هغه دا ده چی په دی ټولو اقسامو کی مراد صرف دوه اجره نه دی ځکه چی دهرعمل کوونکی دپاره خو دغه عامه قرانی قاعده ده . لَآ اُضِیْعُ عَمَلَ عَامِلٍ مِّنْكُمْ ، یعنی الله ﷻ په تاسی کی دچا عمل کوونکی عمل نه ضایع کوی ، بلکه هغه چی څومره نیك عمل کوی دهغه په حساب سره به اجر پیداکی ، بلکه په دی مذکوره قسمونو کی د دوو اجرونو ځخه مراد دا دی چی دی خلقو ته به د دوی دهر عمل دوچند ثواب رسیږي ، په هر لمونځ دوچند ، په هره روژه دوچند ، په هره صدقه حج اوعمره به دی دوچند ثواب پیدا کړي دقرآن په الفاظو چی غور وسی نو د دوه اجرونو ورکولو دپاره لنډ لفظ د ، اَجْرَیْنِ ، وو ، مګر قرآن دا پرینښوی او د ، اَجْرَهُمْ مَّرَّتَیْنِ ، لفظ یی اختیار کی چی په دی کی صفا اشاره ددی پیداکیدای سی چی د ، اَجْرَهُمْ مَّرَّتَیْنِ ، ځخه مراد دا دی چی دده هرعمل به مکرر لیکل کیږی او په هر عمل به ورته دوچنده ثواب ورکول کیږیَ .

پاته سوه دا معامله چی د دوی د دومره لوی فضیلت اوخصوصیت سبب څه دی ؟ نو ددی واضح جواب دا دی چی الله ﷻ ته اختیار دی چی یو خاص عمل دنورو عملونو څخه بنه مقرر کی او اجر یی زیات کړی ، چاته ددی سوال حق نسته چی دروژی ثواب الله ﷻ دومره زیات ولی کی دزکاة اوصدقی یی ولی داسی نه کړی ؟ کیدای سی چی دا عملونه دکومو ذکر چی په ذکر سوو ایتونو او دبخاری په حدیث کی دی ، دالله ﷻ په نزد دهغو درجه دنورو عملونو څخه په یو حیثیت سره زیاته وی . په دی یی دا انعام وفرمایی او ځینو مشرانو عالمانو چی ددی سبب دهغو خلقو غبرګ مشقت مقرر کړی دی ، هغه هم په خپل ځای یو احتمال کیدای سی ، او ددی آیت په اخر کی په لفظ د ، بِمَاصَبَرُوا ، سره په دی استدلال کیدای سی چی علت ددی دوچنده اجر د دوی پرمشقت باندی صبرکول دی ، والله اعلم

وَيَدْرَءُونَ بِالْحَسَنَةِ السَّيِّئَةَ " یعنی دا خلق بدی په نیکی سره دفع کوی ددی بدی اونیکی په تعبیرکی دتفسیر دامامانو ډیر اقوال دی ، ځینی فرمایی چی دنیکی څخه طاعت او دبدی څخه معصیت مراد دی ځکه چی نیکی بدی لیری کوی ، لکه چی په حدیث کی دی چی نبی کریم ﷺ حضرت معاذ بن جبل ؓ ته وفرمایل ، اَتْبِعِ الْحَسَنَةَ السَّيِّئَةَ تَمْحُهَا، یعنی دبدی اوګناه څخه وروسته نیکی کوه نو دغه ګناه به ختمه کړی اوځینی حضرات فرمایی چی دحسنه څخه مراد علم او حلم او دسَیِّئه څخه مراد جهل او غفلت دی ، یعنی دا خلق دنورو دجهالت جواب دجهالت پرځای په حلم او بردباری سره ورکوی اوپه حقیقت کی په دی اقوالو کی څه تضاد نسته ځکه چی لفظ دحَسَنَةٌ او سَيِّئَةٌ یعنی دنیکی او بدی الفاظ دی ټولو شیانو ته شامل دی .

(په دی آیت کی دوه اهم هدایتونه دی)

اول دا چی که دیو سړی څخه څه خطا اوګناه وسی نو دهغه علاج دا دی چی ددی څخه وروسته دنیك عمل سوچ وکړی ، نو نیك عمل به دده دګناه کفاره سی لکه چی دمعاذ ؓ دحدیث په حواله سره لوړ بیان وسو ، دوهم دا چی کوم سړی دچا سره ظلم او بدی وکی که څه هم دشریعت دقانون په روسره ده ته خپل بدل اخستل جائز دی ، په دی شرط چی انتقام برابر په برابر وی چی څومره نقصان یا تکلیف یی ده ته رسولی وی ، دومره دی خپل مقابل ته ورسوی مګر بنه اوبنه دا ده چی دانتقام پرځای دبدی په بدله کی نیکی او دظلم په بدله کی احسان وکی چی دا دمکارم اخلاقو اعلی درجه ده او په دنیا او په اخرت کی ددی نفعی بی شمیره دی . دقران کریم په یو بل آیت کی دا هدایت ډیر په واضحو الفاظو کی داسی راغلی دی . اِدْفَعْ بِالَّتِي هِيَ أَحْسَنُ فَإِذَا الَّذِي بَيْنَكَ وَبَيْنَهُ عَدَاوَةٌ كَأَنَّهُ وَلِيٌّ حَمِيمٌ ، یعنی بدی او ظلم په داسی طریقه سره دفع کوه کومه چی بنه وی (یعنی دظلم په بدله کی احسان کوه) نودکوم سړی اوستاپه مینځ کی چی دښمنی وی ، هغه به ستا مخلص دوست جوړ سی .

سَلَامٌ عَلَيْكُمْ لَا نَبْتَغِي الْجَاهِلِينَ " یعنی دهغو خلقو یو ښکلی خوی دا دی چی هرکله دوی دیوجاهل دښمن څخه خطاخبره واوری نو دجواب ورکولو پرځای دا وایی چی زمونږ سلام واخلئ ، مونږ دجاهلانو سره

انبنتل نه خو ښځو امام جصاص رحمه الله فرمايي چې دسلام دوه قسمونه دي ، يو سلام دتحيې کوم چې مسلمانان يوبل ته کوي ، دوهم سلام دمسالمت اومتارکت ، يعنې خپل مقابل ته دا ويل چې مونږ ستاسي دخطا خبرې هيڅ بدله ستاسې څخه نه اخلو ، دلته دسلام څخه دا دوهمه معنی مراد ده .

إِنَّكَ لَا تَهْدِي مَنْ أَحْبَبْتَ وَلَٰكِنَّ اللَّهَ يَهْدِي مَن يَشَاءُ

ته نه سې په لاره کولای څوک چې وغواړې او ليکن الله تعالی په لاره کوي څوک چې وغواړي او

وَهُوَ أَعْلَمُ بِالْمُهْتَدِينَ ﴿٥٦﴾

او هغه ښه پوه دی په لار مندونکو

لنډتفسير: ته چې چاته غواړې هدايت نه سې ورته کولای ، بلکه الله ﷻ چې چاته غواړي هدايت ورته کوي (او دهدايت کولو قدرت په چاته څنګه وسې چې دالله ﷻ څخه ماسوا چاته ددې علم هم نسته چې کوم کوم هدايت پيداکوونکې دي بلکه) دهدايت پيداکوونکو علم هغه ته دی .

معلومات او مسئلې : هدايت په څو معانيو کې استعماليږي ، يوه معنی يې صرف لار ښودل دي چې ددې دپاره ضروري نه ده چې چاته لار وښوول سوه ، هغه منزل مقصود ته ورسيدي ، او يوه معنی دهدايت دا هم راځي چې څوک منزل مقصود ته ورسوي . د اولې معنی په اعتبار سره خو نبي کريم ﷺ بلکه دټولو انبياوو هادي کيدل او دهدايت د دوی په اختيار کې کيدل ښکاره ده ، ځکه چې دا هدايت د دوی منصبي فرض دی ، که ددې قدرت د دوی نه وی نو دنبوت او رسالت فرض به څنګه ادا کي . په دې آيت کې چې يې کوم دوی ته پرهدايت نه قادريدل بيان کړی دی ، ددې څخه مراد دهدايت دا دوهمه معنی ده ، يعنې مقصود ته رسول ، او مطلب دا دی چې دخپل تبليغ او تعليم په ذريعه دچاپه زړه کې ايمان اچول او مومن يې جوړول ستا کار نه دی ، دا خو سيده په سيده دحق تعالی په اختيار کې دی ، دهدايت معنی او ددې د اقسامو مکمل تحقيق دسورة بقره په شروع کې تيرسوې دی .

په صحيح مسلم کې دي چې دا دنبي کريم ﷺ دا کا ابوطالب په باره کې نازل سوې دي چې دده ﷺ لوی خواهش دا وو چې دی په يو ډول سره اسلام قبول کړي ، په دې باندې نبي کريم ﷺ ته دا وښوول سوه چې دچامومن جوړول ستاپه قدرت کې نه دی ، په تفسير روح المعاني کې دي چې د ابو طالب دايمان اوکفر په معامله کې دبې ضرورته خبرو او بحث مباحثو څخه او ده ته دبدو ويلو څخه ځان ساتل په کار دي چې په دې سره نبي کريم ﷺ ته دطبعي ازار او خفګان رسيدو احتمال دی . والله تعالی اعلم

وَقَالُوا إِن نَّتَّبِعِ الْهُدَىٰ مَعَكَ نُتَخَطَّفْ مِنْ أَرْضِنَا ۚ أَوَلَمْ نُمَكِّن

او وايي که مونږ په لارې سو تاسره نو وبه تښتول سو دمځکې خپلې څخه ايا مونږ ځای دعزت

لَهُمْ حَرَمًا اٰمِنًا يُّجْبٰٓى اِلَيْهِ ثَمَرٰتُ كُلِّ شَيْءٍ رِّزْقًا مِّنْ لَّدُنَّا

دوی ته نه دی ورکړی دامن چی راکشیږی دی ظف ته میوی دهرشي رزق زمونږ دطرف څخه

وَلٰكِنَّ اَكْثَرَهُمْ لَا يَعْلَمُوْنَ ﴿۵۷﴾ وَكَمْ اَهْلَكْنَا مِنْ قَرْيَةٍۭ بَطِرَتْ

اولیکن ډیر په دوی کی نه پوهیږي ، او څومره هلاک کړی دی مونږ کلی چی تکبر یی کړی وو

مَعِيْشَتَهَا ۚ فَتِلْكَ مَسٰكِنُهُمْ لَمْ تُسْكَنْ مِّنْۢ بَعْدِهِمْ اِلَّا

په خپل ژوندکی پس دا دا دهغو کورونه دی چی نه دی آباد سوی د دوی څخه وروسته مګر

قَلِيْلًا ۗ وَكُنَّا نَحْنُ الْوٰرِثِيْنَ ﴿۵۸﴾ وَمَا كَانَ رَبُّكَ مُهْلِكَ الْقُرٰى

لږ او مونږ آخر دهرڅه اخیستونکی ، او ستا رب نه دی هلاکوونکی دکلو

حَتّٰى يَبْعَثَ فِيْٓ اُمِّهَا رَسُوْلًا يَّتْلُوْا عَلَيْهِمْ اٰيٰتِنَا ۚ وَمَا كُنَّا

ترڅو چی ونه لیږی په لوی کلی ددغه کی رسول چی وایی دوی ته زمونږ ایاتونه او مونږ هیڅکله نه

مُهْلِكِي الْقُرٰٓى اِلَّا وَاَهْلُهَا ظٰلِمُوْنَ ﴿۵۹﴾ وَمَآ اُوْتِيْتُمْ مِّنْ

هلاکوو کلی مګر کله چی دهغه خای خلق ګناهګار وی ، او څه چی تاسی ته ورسیدل دڅه

شَيْءٍ فَمَتَاعُ الْحَيٰوةِ الدُّنْيَا وَزِيْنَتُهَا ۚ وَمَا عِنْدَ اللّٰهِ خَيْرٌ وَّاَبْقٰى ۚ

شي څخه وروسته داسامان دژوند ددنیا دی او ددی خای ښائسته دی او څه چی دالله سره دی پس غوره دی او باقی

اَفَلَا تَعْقِلُوْنَ ﴿۶۰﴾ ع

پاته کیدونکی دی ، آیا تاسی نه پوهیږی ؟

لنډتفسیر: (لوړ دلیری څخه دکفارو د ایمان نه راوړو ذکر را روان دی په دی ایتونو کی دهغو منع کوونکو شیانو ذکر دی کوم چی کفارو ته د ایمان راوړو په لاره کی حائل ګڼل کیدل ، مثلاً دیو مانع بیان دا دی چی) او دا خلق وایی چی که ستاسره سی (ددی دین) په هدایت روان سی نو فوراً به دخپل خای څخه ویستل سی اوشړل کیږی (چی دبی وطنی تکلیف به ورته هم پیښ سی او دمعاش پریشانی به جلاوی ، لیکن دا

عذر بیکاره باطل دی) ایا مونږ دوی ته په امن او امان والاحرم کی ځای نه دی ورکړی کوم ځای ته چی دهر قسم میوی راځی ، کوم چی زمونږ دطرف څخه (یعنی زمونږ په قدرت او رزاقی سره) دخوارک دپاره ورکول کیږی (پس دحرم په وجه سره چی ټول یې احترام کوی ، دضرر هم څه بیره نسته او ددی نه ضرر په وجه سره دفوت کیدو دنفع درزق هم احتمال نسته ، نو دوی ته په کار وه چی دا حالت یې غنیمت گڼلی او نعمت یې گڼلی ، قدر یې کولی او ایمان یې راوړی) او لیکن په دوی کی اکثره خلق (دا) نه پیژنی (یعنی خیال یې نه کوی) او (یو سبب د دوی دایمان نه راوړو دا دی چی دوی په خپلو عیشو باندی نازیدونکی دی ، لیکن دا هم حماقت دی څکه چی) مونږ ډیر داسی خلق دکلیو هلاك کړی دی کوم چی په خپل سامان دعیش باندی ناز کوونکی وه ، وروسته (وگوری) دا دهغوی کورونه (ستاسی دسترگو په وړاندی پراته) دی چی دهغوی څخه وروسته هم آباد نه سول ، مگر دلږ وخت دپاره (لکه چی یو مسافر دبل ځای وارد دغه طرف ته اتفاقاً پیښ سی او دلږ وخت دپاره هلته ددمی یاتماشی دپاره کښیني یاشپی ته پاته سی) او اخر کار (د دوی ددی ټولو سامانونو) په مونږ مالکان یو (څوك ظاهری وارث هم ددی وارث نه سو) او (یوه شبه دوی ته دا کیږی چی که دهغو خلقو دهلاکت سبب کفر دی ، نو مونږ هم دمودی څخه کفر کوو ، مونږ یې ولی هلاك نه کړو ، لکه چی په نورو آیتونو کی دی . وَيَقُولُونَ مَتَىٰ هَٰذَا الْوَعْدُ الخ ، او ددې شبهې په وجه سره ایمان نه راوړی نو ددې حل دا دی چی) ستارب کلی (په اول وارکی) نه هلاکوی ترڅو پوری چی (دکلو) په صدر مقام کی یو څوك پیغمبر ونه لیږی او (دپیغمبر دلیږلو څخه وروسته هم فوراً) مونږ دغه کلی نه هلاکوو ، مگر په داسی حالت کی چی دهغه ځای اوسیدونکی ډیر شرارت شروع کړی (یعنی تر یوې مقرر مودې وار وار په نصیحت کولو سره نصیحت حاصل نه کړی نو دغه وخت یې هلاکوو ، چنانچه دکومو کلیو دهلاکت چی لوړ ذکر وو هغه هم ددې قانون موافق هلاك سول ، نو ددې قانون موافق ستاسی سره معامله کیدای سی ، په دی وجه نه درسول څخه مخکی هلاك سواست او نه وروسته درسول څخه تر اوسه پوری هلاك سواست مگر څو ورځی صبر وکړئ که ستاسی داعناد پرځای وو نو سزا به وی لکه چی په بدر وغیره کی وسوه) او (یوه وجه دایمان نه راوړلو دا ده چی دُنیا نقده ده ، په دی وجه د دوی خوښه ده او آخرت نسیا دی ، په دی وجه یې خوښ نه دی ، نو ددنیا دمینی څخه یې زړه نه خالی کیږی چی دآخرت مینه په کی ځای سی اوبیایې دحاصلولو طریقه تلاش سی ، کوم چی ایمان دی ، نو ددې په نسبت دا واورئ چی) څه چی تاسی ته درکړل سوي دی هغه محضی (دڅو ورځو) ددنیا دژوند داستعمال دپاره دی او ددې ځای (زیب او) زینت دی (چی دعمر ختمیدو سره به ددې هم خاتمه وسی) او څه (اجر او ثواب) چی دالله ﷻ سره دی هغه په ډیرو درجو ددې څخه (په کیفیت کی هم) غوره دی او (په کمیت کی هم) زیات (یعنی همیشه) پاته کیدونکی دی ، وروسته آیا تاسی خلق (دانفاوت یا ددې تفاوت اقتضا) نه پیژنئ (غرض چی ستاسی عذر اوپر اسبابو باندی اصرار پرکفر باندی ټول محضی بې بنیاده او عبث دی ، پوه سئ او وې منئ)

معلومات اومسئلي : وَقَالُوا إِنْ نَتَّبِعِ الْهُدَىٰ مَعَكَ نُتَخَطَّفْ مِنْ أَرْضِنَا ، يعني دمكې كفارو حارث بن عثمان وغيره
دخپل ايمان نه راوړو يوه وجه دابيان کړه چې که څه هم که مونږ ستا تعليمات حق منو ، مګر زمونږ سره دا
بيره ده چې که مونږ ستاپه هدايتونو عمل وکړو اوستاسره سو ، نوټول عرب به زمونږ دښمنان سي اومونږ
به زمونږ دمځکې دمکې څخه وشړي (اخرجه النسايي وغيره)
قرآن کريم د دوی دبې ځايه عذر دري جوابونه ورکړل ، اول دا چې . أَوَلَمْ نُمَكِّنْ لَهُمْ حَرَمًا آمِنًا يُجْبَىٰ إِلَيْهِ ثَمَرَاتُ
كُلِّ شَيْءٍ ، يعني د دوی دا عذر ځکه باطل دی چې الله ﷻ په خصوصيت سره دمکې دخلقو دحفاظت دپاره
قدرتي اسباب دمځکې څخه دا کړی دی چې دمکې مځکه يې حرم جوړ کې او دټول عرب قبائل دکفر او
شرك او په خپل مينځ کې ددښمنيو باوجود پردې متفق وه چې دحرم په مځکه کې قتل او جنګ جګړه
سخت حرام دی ، په حرم کې به دپلار قاتل د زوی سره مخامخ کيدی نو دانتقام دجوش باوجود دچا دا
مجال نه وو چې په حرم کې دننه خپل دښمن قتل کړي ياڅه بدله ورڅخه واخلی . په دې وجه په ايمان
راوړلو کې د دوی دا خطره محسوسول ځومره جهالت دی . کوم مالك چې په خپل رحم اوکرم سره د دوی
دکفراوشرك باوجودپه دې مځکه کې امن اينبې دی، نودايمان راوړوپه صورت کې به هغه دوی څنګه هلاکيدو
ته پريږدی ؟ يحيیٰ بن سلام فرمايي چې دايت معنٰی دا ده چې تاسې دحرم په وجه په امن اومحفوظ واست
زما درکړی رزق موپه فراخی سره خوړی او عبادت موزما څخه ماسوا دنورو کوی ، نوپه خپل دې حالت
کې خوستاسې بيره نه وه او برعکس بيره درته په الله ﷻ په ايمان راوړو سره پيدا سوه . (قرطبی)
په ذکرسوی آيت کې دمکې دحرم دوه صفتون بيان سوی دی يوداچې داځای دامن دی دوهم داچې هلته ددنيا
داطرافوڅخه دهرشي ميوی راوړل کيږي چې دمکې داوسيدونکوخپل ټول ضرورتونه په اسانی سره پوره کړل سي

(دمکې په حرم کې دهرشي دميوو راجمع کيدل خاص دالله ﷻ دقدرتونو دنښانو څخه دی)

مکه مکرمه کومه چې الله ﷻ په ټوله دنيا کې دخپل کور دپاره منتخب کړي ده، يو داسې مقام دی چې
هلته ددنيا دژوند يو شی هم په اسانی سره نه پيدا کيدل په کار دی ځکه چې غنم، نخود ، وريجی وغيره
کوم چې عام انسانی خوراك دی ، ددی شيانو پيدا کيدل هم هلته دنه پيداکيدو په حکم کې وو، دميوو
اوترکاريانو وغيره خو ګرسره څه سوال نه پيدا کيږي ، مګر دا ټول شيان چې ځومره په زيات مقدار کې په
مکه مکرمه کې پيدا کيږي ، عقل حيران پاته سی چې دحج دموسم په وخت کې دمکې په دوه دری لاکه
ابادی باندی دپنځلس شل لاکه مسلمانانو اضافه کيږي اوتقريبًا تردوه، دوه نيمو مياشتو پوری وی هيڅ
وخت نه دی اوريدل سوی چې په دوی کې چاته په يو وخت کې دخوراك ضرورتونه نه وی ورکړل سوی ،
بلکه دشپې او ورځی په ټولو وختونوکی تيارسوی خوراك هروخت ورکول کيږي، هرڅوك يې وينی
اودقرآن کريم په لفظ، ثَمَرَاتُ كُلِّ شَيْءٍ، کی چی فکر وسی، نوداسوال پيداکيږي چې دعام عرف په اعتبار
سره دثمراتو تعلق د درختو سره دی . ځای ددی وو چې، ثَمَرَاتُ كُلِّ شَجَرٍ، يې فرمايلی وای، ددی پرځای به

ثمرات كلّ شيءٍ، وفرمايل . ليري نه ده چې اشاره دې طرف ته وې چې لفظ دثمرات دلته صرف دميوو په معنٰی کې نه دی ، بلکه مطلقاً دحاصل اوپیداوار په معنٰی کې دی . دملونو اوکارخانو مصنوعات هم دهغه ثمرات یعنی میوې دي ، دغه شان مطلب ددې آیت به دا وي چې دمکې په حرم کې به صرف دخوړلو چښلو شیان جمع نه وي، بلکه دژوند تړول ضرورتونه به جمع کړل سي چې اوس په ښکاره سترګو لیدل کیږي چې شاید ددنیا په یو ملك کې هم دا خبره نه وي چې دهر ملك هرځای خوراکونه او دهرځای جوړسوی شیان هلته دومره پریمانه پیداکیږي ، لکه په مکه مکرمه کې چې پیداکیږي دا خو دمکې دکافرانو دعذر یو جواب سو. کوم مالك چې پرتاسې دکفر او شرك په حالت کې دا انعامات واورول چې ستاسې مځکه یې دهرې خطرې څخه په امن اومحفوظه کړه اوسره ددې چې په دې مځکه کې څه شی نه پیدا کیږي دټولې دنیا پیداوار دلته راځي جمع کیږي نوستاسې دا خطره څومره لوی جهالت دی چې په خالق کائنات د ایمان راوړلو په صورت کې به ستاسې څخه دا نعمتونه واخستل سي .

ددې څخه وروسته دوهم جواب ددې عذر دا دی . وَكَمْ أَهْلَكْنَا مِنْ قَرْيَةٍ بَطِرَتْ مَعِيشَتَهَا، چې په دې کې دا ښوول سوې ده چې ددنیا دنورو کافرانو قومونو پرحالاتو نظر واچوئ چې ددوی دکفر اوشرك په وبال سره څنګه د دوی کلې تباه سول او مضبوطې او محکمې قلعه ګانې او حفاظتي اسباب ټول په خاورو کې واچول سول ؟ نو اصل دبیرې شی کفر اوشرك دی کوم چې دتباهي او بربادي سبب وي ، تاسې څنګه بې خبره ، بې وقوفه یاست چې دکفر او شرك څخه نه بیریږې او د ایمان څخه بیره کوئ ؟

دریم جواب یې په دې آیت کې دا ورکی . وَمَا أُوتِيتُمْ مِنْ شَيْءٍ فَمَتَاعُ الْحَيَاةِ الدُّنْيَا، الاية، په دې کې یې دا وښووله چې که بالفرض د ایمان راوړو په نتیجه کې تاسې ته څه تکلیف ورسیږي نو دا دځو ورځو دی او څنګه چې ددنیا عیش عشرت مال دولت ټول دیو څو ورځو اسباب دی دچاسره همیشه نه پاته کیږي ، دغه شان ددې ځای تکلیف هم دیوځو ورځو دی ، ژر ختمیدونکی دی ، په دې وجه دعقلمند کار دا دی چې فکر دهغه تکلیف او راحت وکې کوم چې پائیدار او همیشه پاته کیدونکی دی دهمیشه پاته کیدونکي دولت او نعمت په خاطر څو ورځي تکلیف اومشقت برداشت کول دعقلمندی دلیل دی .

لَمْ تُسْكَنْ مِنْ بَعْدِهِمْ إِلَّا قَلِيلًا - یعنی دتیرو قومونو دکومو کلیو چې په عذاب الٰهي سره برباد سوي وه ، تر اوسه هم په هغو کې ابادي ونه سوه بغیر دلږ قدر څخه. دلږ قدر څخه مراد که مساکن اومقامات قلیله واخلی لکه چې دزجاج قول دی نومطلب به دا وي چې په دې تباه سوو کلیو کې یو مقام او مکان بیا اباد نه سو بغیر دلږ قدر څخه ، چې هغه اباد سول . مګر دحضرت ابن عباس ﷺ څخه ددې آیت دا تفسیر نقل دی چې په قدر قلیله سره دمقاماتو او مکاناتو قلیله وو استثناء نه ده بلکه دزمان دسکونت استثناء مراد ده ، او مطلب دا دی چې که په دې کلیو کې څوك او سدلي هم وي نوددیر لږ وخت دپاره لکه یو پرلارې تلونکی مسافر چې په یو ځای کې دلږ وخت دپاره پاته سي کوم چې ته چې دکلیو ابادي نه سي ویل کیدی .

حَتَّىٰ يَبْعَثَ فِي أُمِّهَا رَسُولًا - دلفظ دامّ مشهوره معنٰی والده اومور ده اومور چونکی دانساني پیدائش

بنیاددی، په دی وجه دلفظ دأُمّ اصل اوبنیاد معنٰی هم ډیره مستعمله ده . دأُمّها ضمیر دقرٰی طرف ته راجع دی . دأُمّهَا څخه مراد ام القرٰی ده ، یعني دکلیو اصل او دکار مدار ، مطلب دا دی چی الله ﷻ یو قوم ترهغه وخته پوری نه هلاکوی ترڅو چی دهغه قوم لویو ښارونو ته دخپل یورسول په ذریعه دحق پیغام ونه رسوی ، هر کله چی دحق دعوت ورسیږی او خلق یی قبول نه کړی نو هغه وخت په هغه کلیو کی عذاب راځی .

ددی آیت څخه معلومه سوه چی دالله ﷻ پیغمبران او رسولان په عام طور سره په لویو ښارونو کی مبعوث کیږی ، کوچنیو کلو او باندو ته نه راځی ځکه چی داسی باندی او کلی عادتًا دښار تابع وی ، په خپل معاشی ضرورتونو کی هم ، او په تعلیمی ضرورتونو کی هم او په ښار کی چی کومه خبره خپرول کیږی هغه په پیوستو کلیو او باندو کی خود بخوده خپرول کیږی ، په دی وجه هرکله چی په یو لوی ښار کی رسول مبعوث سی او دحق دعوت پیش کړی نو دا دعوت دی کلیو او باندو ته هم عادتًا رسیږی . دغه شان پردی تولو دالله ﷻ حجت تمام سی اوچی انکار وکی ا ودرواغجن یی کړی نو پر تولو عذاب راځی .

(په احکامو او قوانینو کي کلي او صحراء دښارونو تابع وي)

ددی څخه معلومه سوه چی څنګه په معاشی ضرورتونو کی کوچنی کلی دلویو ښارونو تابع وی او دهغه څخه د دوی ضرورتونه پوره کیږی ، دغه ډول کله چی دیو حکم اعلان په ښار کی وسی نو دهغه حکم منل پرپیوستو کلیو باندی هم لازم سی ، دنه پوهیدو یانه اوریدو عذر د اوریدو قابل نه وی .

درمضان او اخترونو دمیاشتو په لیدو کی هم فقهاء دا مسئله فرمایی چی په یوښار کی که په شرعی شهادت سره دښار قاضی دمیاشتی دلیدو حکم ثابت کړی نو پر پیوستو کلیو باندی هم په هغه عمل کول لازم دی ، لیکن په نورو ښارو باندی تر هغه وخته پوری لازم نه وی ، ترڅو چی په خپله ددغه ښار قاضی شهادت تسلیم کی ، ددی حکم ونه کی . کذا فی الفتاوٰی الغیاثیه

وَمَاعِنْدَاللّٰهِ خَيْرٌوَّاَبْقٰى یعنی ددنیامال او متاع او عیش او عشرت ټول فانی دی اودلته چی کومه بدله دعملونو په اخرت کی ورکیدونکی ده ، هغه دلته دمال اسباب او عیش وعشرت څخه دخپل کیفیت په اعتبار سره هم ډیره ښه ده چی ددنیا دلوی څخه لوی راحت اولذت هم دهغه مقابله نه سی کولی اوبیا هغه همیشه پاته کیدونکی هم دي ، په خلاف ددنیا دمال او متاع څخه چی دا که هر څومره ښه وی ، مګر اخرفانی اوزائل کیدونکی دی او دا ظاهره خبره ده چی یوعقلمند سړی داسی عیش چی کمی درجی والاهم وی اودیوڅو ورځو هم ، پرهغه ارام اوعیش ترجیح نه سی ورلره ورکولی کوم چی په راحت اولذت کی ددی څخه زیات هم وی او همیشه پاته کیدونکی هم .

(عقلمند په دی پیژندل کیږی چي ددنیا په کار او کسب کي زیات مشغول نه وي بلکه داخرت په فکر کي وي)

امام شافعی رحمه الله فرمایی چی که یوسړی دخپل مال اوجائداد متعلق دا وصیت وکی اومړسی چی زما مال دی هغه سړی ته ورکړل سی ، کوم چی دټولوڅخه زیات عقلمند وی، نوددی مال شرعی مصرف به هغه خلق وی کوم چی دالله ﷻ په طاعت اوعبادت کی مشغول وی ځکه دعقل تقاضا دا ده او په دنیا دارو کی دټولو

ښځه زيات عقل والا هغه دي . دا مسئله دحنفي فقهي په مشهور كتاب درمختار باب الوصية كي هم ذكرده.

اَفَمَنْ وَّعَدْنٰهُ وَعْدًا حَسَنًا فَهُوَ لَاقِيْهِ كَمَنْ مَّتَّعْنٰهُ

پس آيا كوم سړي چي مونږ ورسره وعده كړي ده ښه وعده پس هغه دي پيدا كونكي دي برابري دهغه كوم ته چي مونږ

مَتَاعَ الْحَيٰوةِ الدُّنْيَا ثُمَّ هُوَ يَوْمَ الْقِيٰمَةِ مِنَ

نفع وركړه ددنيا دژوند بيا دقيامت په ورځ به هغه

الْمُحْضَرِيْنَ ﴿۶۱﴾ وَيَوْمَ يُنَادِيْهِمْ فَيَقُوْلُ اَيْنَ شُرَكَآءِيَ الَّذِيْنَ

نيول سوي راسي ، او په كومه ورځ چي دوي ته اواز وسي پس وبه وايي چيري دي شريكان زما هغه چي تاسي بي

كُنْتُمْ تَزْعُمُوْنَ ﴿۶۲﴾ قَالَ الَّذِيْنَ حَقَّ عَلَيْهِمُ الْقَوْلُ رَبَّنَا هٰٓؤُلَآءِ

دعوا كوله ؟ وبه وايي چي لازم سوي دي په دوي عذاب اي ربه ! دا هغه خلق دي

الَّذِيْنَ اَغْوَيْنَا ۚ اَغْوَيْنٰهُمْ كَمَا غَوَيْنَا ۚ تَبَرَّاْنَآ اِلَيْكَ ؗ مَا كَانُوْٓا

كوم چي مونږ غلط كړي دي مونږ دوي ښځه غلط كړي وو چي مونږ غلط وو ، مونږ منكر سو ستا په مخكې چي دوي

اِيَّانَا يَعْبُدُوْنَ ﴿۶۳﴾ وَقِيْلَ ادْعُوْا شُرَكَآءَكُمْ فَدَعَوْهُمْ فَلَمْ

زمونږ عبادت نه دي كړي ، او وبه ويل سي چي را وبولئ خپل شريكان نو دوي به هغو ته اواز وكي ، نو

يَسْتَجِيْبُوْا لَهُمْ وَرَاَوُا الْعَذَابَ ۚ لَوْ اَنَّهُمْ كَانُوْا يَهْتَدُوْنَ ﴿۶۴﴾

جواب به ورنه كړي دوي ته او عذاب به ويني ارمان چي مونږ سمه لار پيدا كړي واي ؟

وَيَوْمَ يُنَادِيْهِمْ فَيَقُوْلُ مَاذَآ اَجَبْتُمُ الْمُرْسَلِيْنَ ﴿۶۵﴾ فَعَمِيَتْ

او په كومه ورځ چي دوي را وبولي پس وبه فرمايي چي څه جواب وركړي وو تاسي پيغمبرانو ته ؟ نو ختم به سي

عَلَيْهِمُ الْاَنْۢبَآءُ يَوْمَئِذٍ فَهُمْ لَا يَتَسَآءَلُوْنَ ﴿۶۶﴾ فَاَمَّا مَنْ تَابَ

د دوي خبري په دغه ورځ پس دوي به ديو بل ښځه هم پوښتنه نه سي كولاى ، پس چا چي توبه وكښله

وَأَمَّا مَنْ تَابَ وَآمَنَ وَعَمِلَ صَالِحًا فَعَسَىٰ أَنْ يَكُونَ مِنَ الْمُفْلِحِينَ ﴿٦٧﴾

او ایمان یی را وړی او نیک عمل یی وکی نو امید دی چی سی به د کامیابو څخه

لنډتفسیر: آیاهغه څوك دكوم سره چی مونږ یوه ښه وعده کړې ده بیاهغه سړی (دوعدی ددغه شي) پیداکوونکی دی ایادهغه سړی په شان کیدای سی کوم ته چی مونږ ددنیاپه ژوندکی دخوورخو فائده ورکړې ده ، بیابه هغه دقیامت په ورځ دهغو خلقو څخه وی کوم چی گرفتار سوی را وستل کیږی (مراد داول سړی څخه مومن دی چی دجنت وعده ده ورسره او د دوهم څخه مراد کافر دی چی دمجرم په شکل کی به راوستل سی اوچونکی ددنیا اسباب ددی خلقو د اخرت هیرولو سبب دی ، په دی وجه یی ددی وضاحت وفرمایی ، کنه نو د دواړو نه برابریدل خو په اصل کی په دی وجه سره دی چی هغوی به گرفتارکړی حاضریږی او دوی به دجنت په نعمتونو سره سر فرازه کړل سی) او (مخ ته ددی تفاوت اوکیفیت مخ ته دراوستو تفصیل دی چی هغه ورځ دیادولو قابله ده) په کومه ورځ چی خدای ﷻ دا کافران (په طور دسزا) راوبولی ووایی چی هغه زماشریکان چیری دی کوم چی تاسی (زماشریکان) گڼل؟ (مراد ددی څخه شیطانان دی چی دوی دمطلق اطاعت سره شرك کوی ، په دی وجه یی دوی ته شرکاء وویل چی داواوری شیطانان په کومو کی (چی خلقو دگمراه کولو په وجه سره) دخدای فرمان (یعنی مستحق کیدل دعذاب په دی قول سره چی . لَأَمْلَأَنَّ جَهَنَّمَ مِنَ الْجِنَّةِ وَالنَّاسِ أَجْمَعِينَ) ثابت سوی وی هغه به (په طوردعذر) ووایی چی ای زمونږ پروردگاره! بیشکه دا هغه خلق دی کوم چی مونږ بی لاری کړل (دا دجواب ابتدائیه ده ، ددی قصی وضاحت څکه وفرمایل سو چی دکومو دشفاعت چی د دوی امیددی ، هغه به چپه د دوی خلاف شاهدی ورکوی او مخ ته جواب دی چی مونږ خو بی لاری کړی خامخادی لیکن) مونږ دوی داسی (بغیر دجبر او اکراه څخه) بی لاری کړل لکه چی مونږ په خپله (بی دجبر اواکراه څخه) بی لاری سوی وو (یعنی لکه څنگه چی مونږ په خپله په خپل اختیار سره گمراه وو چامونږ مجبوره کړی نه وو ، دغه شان پردوی زمونږ جابرانه تسلط نه وو. زمونږ کارصرف غولول وو ، بیا دا دوی په خپل اختیار اورایی سره قبوله کړله ، لکه چی په سورة ابراهیم کی دی . وَمَا كَانَ لِيَ عَلَيْكُمْ مِنْ سُلْطَانٍ إِلَّا أَنْ دَعَوْتُكُمْ فَاسْتَجَبْتُمْ لِي، الاية، مطلب دا دی چی مونږ هم مجرمان یو خو دوی هم بری نه دی) اومونږ ستاپه مخکی د دوی (دتعلقاتو) څخه خپل لاس رانغاړو (او) دا خلق (په حقیقت کی صرف) مونږ ته عبادت نه کوی (یعنی هرکله چی دوی په خپل اختیار سره بی لاری سوی دی نو دوی په خپله خواهش پرست سول ، نه دا چی صرف شیطان پرست، مقصود ددی ټولی قصی څخه دا دی چی دکومو په اُمید باندی دوی ناست دی هغه به دقیامت په ورځ د دوی څخه لاس ونغاړی) او (هرکله چی دغه شریکان دغه شان د دوی څخه بی زاری اوبی مخی اختیارکی نوهغه وخت به دی مشرکینوته) وویل سی چی (اوس) خپل دغه شریکان راوبولی چنانچی هغه (دډیری حیرانی اوپریشانی

ځخه) به دغه راوبولی، وروسته هغه به دوی ته جواب هم ورنه کړی او (دغه وخت به) داخلق (په خپلو سترګو سره) به عذاب ووینی ، ای کاشکی! چی داخلق په دنیا کی پرسیده لاره وای (نو دامصیبت به یی نه لیدی) او په کومه ورځ چی دا کافران وبلل سی اوپوښتنه ورځخه وسی چی تاسی پیغمبرانوته څه جواب ورکړی وو، وروسته په دغه ورځ به د دوی (دذهن) څخه ټولی خبری ورکی سی نو دوی به (په خپله په هیڅ نه پوهیږی او) په خپل مینځ کی به پوښتنه هم نه سی کولای ، البته کوم سړی چی (په دنیاکی دکفر اوشرك ځخه) توبه وکاږی او ایمان راوړی او نیك کارونه کوی نو داسی خلق امیددی چی (په اخرت کی) دکامیابو ځخه به وی (او ددی افتونو څخه به محفوظ وی .

معلومات اومسئلې: په محشرکی به دکفارو اومشرکانو څخه اول سوال دشرك متعلق وی چی پیریان شیطانان وغیره تاسی زماسره شریك کړی وه ، نن هغه کوم ځای دی ، آیاهغه ستاسی څه مدد کولای سی؟ ددې په جواب کی ظاهره ده چی مشرکان به دا جواب ورکړی ، چی زمونږ څه قصور نسته ، مونږ دځانه شرك نه دی کړی بلکه مونږ خو دی شیطانانو بی لاری کړی وو. په دی وجه الله ﷻ په خپله دشیطانانو په ژبو سره وویل چی مونږخو بی لاری کړی خامخاوه،مګر مونږ مجبوره کړی نه وه . په دی وجه مجرمان مومږ هم یو خو دوی هم دجرم څخه بری نه دی ، ځکه چی لکه څنګه چی مونږ دوی لمسول ، ددی په مقابله کی انبیاء علیهم السلام او د دوی نائبانو دوی ته هدایت هم کوی او په دلیلونو سره یی دوی ته حق واضح کړی وو. دوی په خپل اختیار سره دانبیاء علیهم السلام خبره ونه منله او زمونږ خبره یی ومنله ، نو دوی څنګه بری کیدی سی . ددی څخه معلومه سوه چی دکوم سړی په مخکی دحق واضح دلیلونه موجود وی او هغه دحق ددعوت ورکوونکو په ځای دګمراه کوونکو خبره ومنی او په ګمراهی کی پرېوزی نو دده هیڅ عذر معتبر نه دی .

وَرَبُّكَ يَخْلُقُ مَا يَشَاءُ وَيَخْتَارُ ۗ مَا كَانَ لَهُمُ الْخِيَرَةُ ۚ سُبْحَٰنَ

او ستا رب پیدا کوی څه چی غواړی اوخوښوی څه چی غواړی ، د دوی په لاس کی نسته خوښول پاک دی

اللَّهِ وَتَعَالَىٰ عَمَّا يُشْرِكُونَ ﴿٦٨﴾ وَرَبُّكَ يَعْلَمُ مَا تُكِنُّ صُدُورُهُمْ

الله او ډیر لوی دی دهغه شي څخه چی دوی ورسره شریکوی ، او ستارب پوه دی په هغه چی پټوی دوی په سینو کی

وَمَا يُعْلِنُونَ ﴿٦٩﴾ وَهُوَ اللَّهُ لَا إِلَٰهَ إِلَّا هُوَ ۖ لَهُ الْحَمْدُ فِي الْأُولَىٰ

او څه چی په ظاهره کوی ، او هغه الله دی نسته معبود مګر هغه دی ، هغه لره ثنا ده په دنیا

وَالْآخِرَةِ ۖ وَلَهُ الْحُكْمُ وَإِلَيْهِ تُرْجَعُونَ ﴿٧٠﴾ قُلْ أَرَأَيْتُمْ إِنْ

او په آخرت کی او دهغه په لاس کی حکم دی او هغه ته به بیرته راسی ته ووایه وګوری که

جَعَلَ اللّٰهُ عَلَيْكُمُ الَّيْلَ سَرْمَدًا اِلٰى يَوْمِ الْقِيٰمَةِ مَنْ

الله تعالی کښېږدي په تاسې شپه دهمیشه دپاره تروروخی دقیامته پورې څوک دی

اِلٰهٌ غَيْرُ اللّٰهِ يَاْتِيْكُمْ بِضِيَاۤءٍ ؕ اَفَلَا تَسْمَعُوْنَ ﴿۷۱﴾ قُلْ اَرَءَيْتُمْ

حاکم دالله تعالی څخه ماسوا چې راوړي تاسې ته رڼا ، آیا پس تاسې نه اورئ؟ ته ووایه وګورئ

اِنْ جَعَلَ اللّٰهُ عَلَيْكُمُ النَّهَارَ سَرْمَدًا اِلٰى يَوْمِ الْقِيٰمَةِ مَنْ

که کښېږدي الله تعالی په تاسې ورځ همیشه دپاره تر ورځې دقیامته پورې څوک دی

اِلٰهٌ غَيْرُ اللّٰهِ يَاْتِيْكُمْ بِلَيْلٍ تَسْكُنُوْنَ فِيْهِ ؕ اَفَلَا تُبْصِرُوْنَ ﴿۷۲﴾

حاکم بغیر دالله تعالی څخه چې راوړي تاسې ته شپه چې تاسې په کې ارام وکړئ آیا تاسې نه وینئ؟

وَمِنْ رَّحْمَتِهٖ جَعَلَ لَكُمُ الَّيْلَ وَالنَّهَارَ لِتَسْكُنُوْا فِيْهِ

او په خپله مهربانۍ يې جوړ کړې دي تاسې دپاره شپه او ورځ چې آرام په کښې وکړئ

وَلِتَبْتَغُوْا مِنْ فَضْلِهٖ وَلَعَلَّكُمْ تَشْكُرُوْنَ ﴿۷۳﴾

او تلاش په کښې هم کړئ دهغه څه فضل او چې تاسې شکر وکاږئ

لنډتفسير: اوستارب (يوازې په کمالي صفتونو سره موصوف دی هم دارنګه هغه) څه شی چې غواړي پیداکوي (نوتکويني اختيارات هم هغه ته حاصل دي) اوکوم حکم چې غواړي خوښوي (او دانبياء عليهم السلام په ذريعه سره يې نازلوي پس تشريعي اختيارات هم ده ته حاصل دي) دي خلقوته (داحکامود) تاکلو هيڅ حق (حاصل) نسته (چې څه حکم غواړي وټاکي، لکه دامشرکان چې دخپل طرف شرك جائز ټاکي اوپه دي خصوصي اختيار سره ثابته سوه چې) الله ﷻ د دوی دشرك څخه پاك دی اولوړ دی (ځکه چې کله تکوينًا اوتشريعًا په خالق اومختاروالي کې يوازې دی نو دعبادت هم يوازې هغه مستحق دی ځکه چې معبود کيدل صرف دهغه حق دی کوم چې تکويني او تشريعي دواړه اختياره لري) اوستارب (علم داسې کامل لري چې هغه) دټولو شيانو خبر لري کوم چې د دوی په زړونو کې پټ وي اوڅه چې دوی ښکاره کوي (او دهيڅا داسې علم هم نسته په دې سره هم دده يووالي ثابت سو) او (مخ ته ددې وضاحت دی چې) الله هغه (کامل الصفات ذات) دی چې دهغه څخه ماسوا بل معبودنسته ، دثنا (اوحمد) لائق په دنيا اواخرت کې هغه دی

(ځکه چې دده تصرفات په دواړه عالم کې داسې دي کوم چې ددې جامع کمالات دي او پرمستحق کيدو دحمد اوثنا باندې يې شاهد دي) او (اختيارات دحکومت دهغه داسې دي چې) حکومت هم (په قيامت کې) دهغه به وي او (قوت اوفراخي دسلطنت دهغه داسې ده) چې تاسې ټول به هغه ته بيرته ولاړسې (داسې نه ده چې خلاص به سې يابه بلې خواته ولاړسې او پناه به واخلې او دهغه دقدرت ښکاره کولو دپاره) ته (دې خلقوته) ووايه چې ايا داخو ونبياست چې که الله ﷻ پرتاسې دهميشه دپاره ترقيامته پورې شپه پاته کې نو دخداى څخه ماسوا هغه کوم معبود دي چې ستاسې دپاره رڼا راولي (وروسته په قدرت کې هغه هم يوازې دي) نو آياتاسې (دتوحيد داسې صفادليلونه) نه اورې (او ددې قدرت داظهار دپاره) ته (دوى ته ددې دعکس په نسبت هم) ووايه چې ايا داخو ونبايااست چې که الله ﷻ په تاسې دهميشه دپاره ترقيامته پورې ورځ پاته کې نو دخداى څخه ماسوا هغه کوم معبود دي چې ستاسې دپاره شپه راولي چې تاسې ارام په کې وکې اياتاسې (داليدونکې قدرتونه) وينې نه؟ (په قدرت کې دهغه يووالي هم ددې مقتضي دي چې په معبوديت کې هم هغه يوازې وي) او (هغه منعم داسې دي چې) هغه په خپل رحمت سره ستاسې دپاره شپه او ورځ جوړکړل چې تاسې په شپه کې ارام وکې او چې په ورځ کې دهغه رزق تلاش کې اوچې (په دې دواړو نعمتونو) تاسې (دالله ﷻ) شکر وکاږې (نو په انعام اواحسان کې هم يوازې دي ، دا هم ددې دليل دي چې په معبوديت کې هغه يوازې دي)

معلومات اومسئلې: وَرَبُّكَ يَخْلُقُ مَا يَشَاءُ وَيَخْتَارُ ، ددې آيت يو مطلب خو هغه دي کوم چې په لنډ تفسير کې را اخستل سوى دي چې د ، يَخْتَارُ، څخه مراد اختيار د احکامو دي چې هرکله الله ﷻ ددې کائناتو يوازې پيداکونکې دي ځوك په کې شريك ورسره نسته ، نو حکمونه جاري کول هم يوازې دهغه کار دي ، څه حکم چې غواړي په خپل مخلوق کې يې نافذ کوي . لنډه دا چې لکه څنګه چې په تکويني اختيارکې دالله ﷻ ځوك شريك نسته ، دغه شان په تشريعي اختيار کې هم ځوك دهغه سره شريك نسته او ددې يو دوهم مطلب هغه دي کوم چې امام بغوى په خپل تفسير کې او علامه ابن قيم دزاد المعاد په مقدمه کې بيان کړى دي ، چې ددې اختيار څخه مراد دا دي چې الله ﷻ خپل مخلوق کې ځوك چې وغواړي دخپل اکرام او اعزاز دپاره يې منتخب فرمايي او په قول دبغوى دمکې دمشرکانو ددې قول دا جواب دي چې . لَوْلَا نُزِّلَ هَٰذَا الْقُرْآنُ عَلَىٰ رَجُلٍ مِّنَ الْقَرْيَتَيْنِ عَظِيمٍ، يعنى دا قرآن چې الله ﷻ نازلوى نو دعربو په دوو ښارونو مکه اوطائف کې به يې پر يو لوى سړي نازل کړى واى چې دهغه قدر او منزلت پيژندل کيدى ، په يو يتيم مسکين باندې يې په نازلولو کې څه حکمت وو . ددې په جواب کې فرمايي چې کوم مالك ټول مخلوقات بغير دځه شريك دامداد څخه پيدا کړي دي . دا اختيار هم هغه ته حاصل دي چې دخپل ديو خاص انداز دپاره په خپل مخلوق کې ځوك منتخب کړي ، په دې کې هغه ستاسې دتجويزونو ولې پابند دي چې فلانى ددې مستحق دي ، فلانى ددې نه دي ؟

(دیو شي پربل شي یا دیو سړی پر بل سړی دفضیلت دصحیح معیار اختیار دخدای پاک ﷻ دی)

حافظ ابن قیم ددی آیت څخه یوعظیم الشان قاعده اخذ کړي ده چی په دنیاکی یوځای ته پربل ځای یا یو شی ته پربل شی فضیلت ورکول کیږی ، دا ددغه شی دکسب اوعمل نتیجه نه وی بلکه دا بلاواسطی دخالق کائنات دانتخاب او اختیار نتیجه وی ، هغه اووه اسمانونه پیدا کړل . په دی کی یی لوړآسمان ته په نورو فضیلت ورکی حال دا دی چی ماده دټولو آسمانونو یوه وه ، بیاهغه جنت الفردوس ته په نورو ټولو جنتونو اوجبرائیل، میکائیل، اواسرافیل علیهم السلام اونورو خاصو ملائکوته پرنورو ملائکو، او پیغمبرانو ته په نورو ټولو انسانانو، او په دوی کی اولو العزم رسولانو ته پر نورو انبیاوو او خپل خلیل ابراهیم ﷺ او حبیب محمد مصطفٰی ﷺ ته پر نورو ټولو اولو العزمو رسولانو، بیا اولاد داسماعیل ﷺ ته دنوری ټولی دنیا پرخلقو، بیاقریشوته پردغو ټولو او بنی هاشم ته په ټولو قریشو اوسید ولد ادم حضرت محمد مصطفٰی ﷺ ته پر ټول بنی هاشم ، بیادغه ډول صحابه کرامو او د امت نورو اسلافوته پر نورو فضیلت ورکول دا ټول دالله ﷻ دانتخاب او اختیار نتیجه ده .

دغه ډول دمځکی ډیرو مقاماتو ته پر نورو مقاماتو او ډیرو ورځو او شپوته پرنورو ورځو او شپو فضیلت ورکول دا ټول ددغه اختیار او انتخاب دحق ﷻ اثر دی . غرض چی دفضیلت اومفضولیت اصل معیارپه ټولو کائناتو کی دغه انتخاب او اختیار دی ، البته دفضلیت یو بل سبب په انسانی عملونو او کارونو کی هم وی او په کومو ځایونو کی چی نیك عملونه وسی ، هغه مقامات هم ددی نیکو عملونو یادنیکانو بندګانو په اوسیدو سره مبارك سی ، دا فضیلت په کسب او اختیار او نیك عمل سره حاصلیدای سی .

لنډه دا چی په دنیا کی مدار دفضیلت دوه شیان دی ، یو غیر اختیاری کوم چی صرف دحق ﷻ انتخاب دی . دوهم اختیاری کوم چی په نیکو عملونو او فاضلو اخلاقو سره حاصلیږی . علامه ابن قیم رحمه الله پر دی موضوع باندی ډیر تفصیلی بیان کړی دی او په اخر کی په صحابه کرامو کی خلفاء راشدینو ته پرټولو نورو صحابه وو اوپه خلفاء راشدینو کی صدیق اکبر ﷺ ده څخه وروسته عمر بن خطاب ﷺ ده څخه وروسته عثمان غنی ﷺ، ده څخه وروسته علی مرتضٰی ﷺ داترتیب یی دپه دی دواړو معیارونو سره ثابت کړی دی. دحضرت شاه عبدالعزیز دهلوی هم یوه مستقله رساله په فارسی ژبه کی په دی موضوع باندی ده چی اُردو ترجمه یی احقرپه نوم د ، بعض التفصیل لمسئلة التفضیل، شائع کړي ده . او په احکام القرآن سورة قصص کی هم دا په عربی ژبه کی په تفصیل سره لیکلی ده دعالمانو د ذوق شی دی ، هلته دی وګوری.

اَرَاَیْتُمْ اِنْ جَعَلَ اللهُ عَلَیْکُمُ الَّیْلَ سَرْمَدًا اِلٰی یَوْمِ الْقِیٰمَةِ مَنْ اِلٰهٌ غَیْرُاللهِ یَاْتِیْکُمْ بِضِیَاءٍ اَفَلَا تَسْمَعُوْنَ قُلْ اَرَاَیْتُمْ اِنْ جَعَلَ اللهُ عَلَیْکُمُ النَّهَارَسَرْمَدًا اِلٰی یَوْمِ الْقِیٰمَةِ مَنْ اِلٰهٌ غَیْرُاللهِ یَاْتِیْکُمْ بِلَیْلٍ تَسْکُنُوْنَ فِیْهِ اَفَلَا تُبْصِرُوْنَ " په دی آیت کی الله ﷻ دشپی سره خو دهغه یوه فائده ذکر کړه چی . بِلَیْلٍ تَسْکُنُوْنَ، یعنی په شپه کی انسان ته سکون ورکول کیږی ددی په مقابله کی یی دورځی په ذکر کی د. بِضِیَاءٍ سره څه فائده ذکرونه فرمایله . سبب

ظاهردی چی دورخی رڼا په خپل ذات کی افضله ده اودتیاری څخه درڼا نه والی معلوم اومعروف دی درڼا بی شمیره فائدی دومره معلومی دی چی دبیان ضرورت یی نسته په خلاف دشپی څخه چی هغه تیاره ده کومه چی په خپل ذات کی څه فضیلت نه لری بلکه ددی فضیلت دخلقو دسکون او ارام په سبب سره دی ، په دی وجه یی دابیان کی . او په دی وجه دورخی دمعاملی ذکر یی وکی په اخر کی یی وفرمایل . اَفَلَا تَسۡمَعُوۡنَ، او دشپی دمعاملی ذکر یی وکی او ویی فرمایل . اَفَلَا تُبۡصِرُوۡنَ په دی کی دا اشاره کیدای سی چی دورخی فضائل او برکتونه بی شمیره دی ، دسترګو په احاطه کی نه سی راتلی البته او ریدل کیږی ، په دی وجه یی اَفَلَا تَسۡمَعُوۡنَ وفرمایل، ځکه چی دانسانی علم اوادراك لویه ذخیره دغوږونو په ذریعه حاصلیږی، په سترګو لیدل سوی شیان همیشه دغوږونو او ریدل سوو شیانو څخه ډیر کم وی او دشپی فائدی دورخی دفائدو په نسبت ډیری کمی دی، دغه لیدل کیږی هم، په دی وجه یی دلته د. اَفَلَا تُبۡصِرُوۡنَ کلمه اختیارکړه (مظهری)

وَيَوۡمَ يُنَادِيۡهِمۡ فَيَقُوۡلُ اَيۡنَ شُرَكَآءِىَ الَّذِيۡنَ كُنۡتُمۡ تَزۡعُمُوۡنَ ﴿۷۴﴾ وَنَزَعۡنَا

اوپه کومه ورځ چی دوی رابولی پس وبه وایی چیری دی زماشریکان دکوموچی تاسی دعوی کوله اوجلابه کړو مونږ

مِنۡ كُلِّ اُمَّةٍ شَهِيۡدًا فَقُلۡنَا هَاتُوۡا بُرۡهَانَكُمۡ فَعَلِمُوۡۤا اَنَّ الۡحَقَّ

دهری ډلی څخه یو حال ښودونکی بیا به ووایو را وړی خپل سند پس پوه به سی چی رښتیونی خبره

لِلّٰهِ وَضَلَّ عَنۡهُمۡ مَّا كَانُوۡا يَفۡتَرُوۡنَ ﴿۷۵﴾ ع

دالله ده او ورکي به سی د دوی څخه کومی خبری چی دوی جوړولی .

تفسیر: اوپه کومه ورځ چی الله ﷻ دوی راوبولی وبه فرمایی (ددی دپاره چی تول خلق ددوی رسوایی ووینی واوری) چی کوم تاسی زماسره شریك ګڼل هغه چیری ولاړل او(که څه هم دحجت تماميدو دپاره په خپله د دوی اقرارکافی وو،مګردزيات تأكيد دپاره به پردوی شهادت هم قائم سی داسی چی) مونږبه دهرامت څخه یویوشاهد(هم) راوباسو راولو(مراد ددی څخه انبياء عليهم السلام دی کوم چی ددوی دکفر شاهدی به ورکوی) بیابه مونږ (دی مشرکانوته) ووایو چی (اوس) خپل څه دلیل (دشرك ددعوی پرصحت باندی) پیش کی وروسته (هغه وخت به) دوی ته (په عين اليقين) معلومه سی چی رښتنی خبره دخدای وه (کومه چی دانبياوو عليهم السلام په ذريعه ښوول سوی وه او دشرك دعوی درواغجنه وه) او (په دنیا کی) څه خبری چی دوی جوړی کړی وی (نن به) دهیڅ یوی درك نه وی (ځکه چی دحق په ښکاره کیدو دباطل غائب کیدل لازمی دی)

فائده: ددی څخه په مخکی آیت کی چی کوم سوال په ، مَاذَآ اَجَبۡتُمۡ، کی سوی وو. په دی کی دکفارو څخه انبياوو ته دجواب ورکولو متعلق بازخواست وو او دلته په خپله په انبياوو باندی شهادی ورکول مقصود دی. په دی وجه په سوال کی څه تکرار نسته .

إِنَّ قَارُونَ كَانَ مِنْ قَوْمِ مُوسَىٰ فَبَغَىٰ عَلَيْهِمْ ۖ وَآتَيْنَاهُ مِنَ الْكُنُوزِ مَا إِنَّ

قارون چی کوم وو پس وو دقوم دموسی څخه بیا شرارت یی وکی په دوی او مونږ ورکړی وی ده ته خزانی دومره چی

مَفَاتِحَهُ لَتَنُوءُ بِالْعُصْبَةِ أُولِي الْقُوَّةِ إِذْ قَالَ لَهُ قَوْمُهُ

دهغو دکیلیانو او پورته کولو څخه ستړی کیدل څو کسان زور اور هرکله چی وویل ده ته دده قوم

لَا تَفْرَحْ ۖ إِنَّ اللَّهَ لَا يُحِبُّ الْفَرِحِينَ ﴿٧٦﴾ وَابْتَغِ فِيمَا آتَاكَ

مستی مه کوه الله تعالی نه خوښوی مستی کوونکی ، او غواړه چی تا ته الله تعالی درکړی دی

اللَّهُ الدَّارَ الْآخِرَةَ ۖ وَلَا تَنْسَ نَصِيبَكَ مِنَ الدُّنْيَا ۖ وَأَحْسِنْ

په هغه سره وکټه دآخرت کور او مه هیروه خپله برخه ددنیا څخه او نیکی کوه

كَمَا أَحْسَنَ اللَّهُ إِلَيْكَ ۖ وَلَا تَبْغِ الْفَسَادَ فِي الْأَرْضِ ۖ إِنَّ

لکه چی الله تعالی نیکی کړی ده ستاسره او مه غواړه خرابی کول په ملک کی ،

اللَّهَ لَا يُحِبُّ الْمُفْسِدِينَ ﴿٧٧﴾ قَالَ إِنَّمَا أُوتِيتُهُ عَلَىٰ عِلْمٍ

نه خوښوی الله خرابی کوونکی وې ویل دا مال خوماته رسیدلی دی په یو هنر سره

عِنْدِي ۚ أَوَلَمْ يَعْلَمْ أَنَّ اللَّهَ قَدْ أَهْلَكَ مِنْ قَبْلِهِ مِنَ

چی زما سره دی آیا ده ونه پیژندل چی الله تعالی هلاکړی دی دده څخه مخکی خومره

الْقُرُونِ مَنْ هُوَ أَشَدُّ مِنْهُ قُوَّةً وَأَكْثَرُ جَمْعًا ۚ وَلَا يُسْأَلُ

جماعتونه کوم چی دده څخه یی زیات درلو دی زور او زیات یی درلودی دمال جمع او پوښتنه نه سی کولای

عَنْ ذُنُوبِهِمُ الْمُجْرِمُونَ ﴿٧٨﴾ فَخَرَجَ عَلَىٰ قَوْمِهِ فِي زِينَتِهِ ۖ

دګناهګارانو څخه د دوی دګناهونو ، پس راووتی دخپل قوم مخ ته په خپل زول سره

قَالَ الَّذِيْنَ يُرِيْدُوْنَ الْحَيٰوةَ الدُّنْيَا يٰلَيْتَ لَنَا مِثْلَ مَآ

وویل هغو خلقو چې طالبان وه ددنیا دژوند ای کاشکې ! مونږ ته را کړل سوی وای

اُوْتِيَ قَارُوْنُ ۙ اِنَّهٗ لَذُوْ حَظٍّ عَظِيْمٍ ﴿۷۹﴾ وَقَالَ الَّذِيْنَ

لکه چې ورکول سوی دی قارون ته بیشکه دده لوی قسمت دی او وویل کومو ته چې

اُوْتُوا الْعِلْمَ وَيْلَكُمْ ثَوَابُ اللّٰهِ خَيْرٌ لِّمَنْ اٰمَنَ وَعَمِلَ

ورکړل سوی وه پوه خرابی ده تاسی لره دالله ورکړی ثواب غوره دی دهغو دپاره چې یقین وکړی او عمل

صَالِحًا ۚ وَلَا يُلَقّٰىهَآ اِلَّا الصّٰبِرُوْنَ ﴿۸۰﴾ فَخَسَفْنَا بِهٖ وَبِدَارِهِ

نیکی وکی ، او دا خبره لویږی په زړونو دصبر کوونکو کی ، بیا دننه کی مونږ دی او دده کور

الْاَرْضَ ۗ فَمَا كَانَ لَهٗ مِنْ فِئَةٍ يَّنْصُرُوْنَهٗ مِنْ دُوْنِ اللّٰهِ ۗ

په مځکه کی ، بیا نه وه دده څه ډله چې مدد یې کړی وی دده دالله تعالی څخه ما سوا

وَمَا كَانَ مِنَ الْمُنْتَصِرِيْنَ ﴿۸۱﴾ وَاَصْبَحَ الَّذِيْنَ تَمَنَّوْا مَكَانَهٗ

او نه ده په خپله دخان څه مدد وکړل سو ، او سهار له وویل هغو چې مابښام یی ارزو کوله

بِالْاَمْسِ يَقُوْلُوْنَ وَيْكَاَنَّ اللّٰهَ يَبْسُطُ الرِّزْقَ لِمَنْ يَّشَآءُ

دده په شان د درجی ای خرابی ده دا خو الله تعالی فرخوی رزق چا لرچی وغواړی

مِنْ عِبَادِهٖ وَيَقْدِرُ ۚ لَوْلَآ اَنْ مَّنَّ اللّٰهُ عَلَيْنَا لَخَسَفَ بِنَا ۗ

په خپلو بندګانو کی اوتنګوی یی که احسان نه وی کړی الله په مونږ نو مونږ به یی هم ننه یستلی وای ،

وَيْكَاَنَّهٗ لَا يُفْلِحُ الْكٰفِرُوْنَ ﴿۸۲﴾ ع

ای خرابی ده دا خو فلاح نه پیدا کوی منکران.

لنډتفسیر: (د) قارون (حال وویني چی په کفر او خلاف کولو ده ته څه ضرر ورسیدی او دده مال او اسباب

دده هیڅ په کار ورنغلل بلکه دده سره دده مال او اسباب هم برباد سول ، دده قصه په لنډو ټکو دا ده چی
هغه» دموسیٰ (علیه السلام) په قریبانو کی وو «یعنی دبنی اسرائیلو نه، بلکه دده د اکازوی وو، لکه داسی په دُرکی
دی» وروسته هغه «دډیروالی دمال په وجه سره» دهغو خلقو په مقابله کی تکبر وکی او «مال دده سره دومره
ډیر وو چی» مونږ ده ته دومره خزانی ورکړی وی چی دهغه کیلیانی په څو څو زورآورو سړو باندی درنی
سوی وی «یعنی دوی به په تکلیف سره پورته کولی ، نوهرکله چی کیلیانی دومره ډیری وی نو ظاهره ده
چی خزانی خو به هم ډیری زیاتی وی او تکبر یی هغه وخت کړی وو» کله چی ده ته دده خپلوانو «دپوهولو په
طور سره» وویل چی ته «په دی مال باندی» مستی مه کوه ، واقعی الله ﷻ مستی کوونکی نه خوښوی او
«دایی ورته هم وویل چی» تاته خدای پاك څومره درکړی دی په هغه کی د اخرت دپاره هم لټون کوه او ددنیا
څخه خپله حصه «اخرت ته وړل» مه هیروه او «مطلب د. اِبۡتَغِ وَلَاتَنۡسَ. څخه دا دی چی» څنګه خدای ﷻ ستا
سره احسان کړی دی ته هم «دبندګانو سره» احسان کوه او «دخدای په نافرمانی اوپه واجبو حقونو ضائع
کولو» په دنیاکی فساد کوونکی مه ګرځه «یعنی په ګناه کولو سره په دنیا کی فساد کیږی ، لکه دا قول
دالله ﷻ . ظَهَرَ الۡفَسَادُ فِی الۡبَرِّ وَالۡبَحۡرِ بِمَا کَسَبَتۡ اَیۡدِی النَّاسِ ، اوخاصکربیامتعدی ګناه» بیشکه الله ﷻ
فساد کوونکی نه خوښوی «دا ټول نصیحت دمسلمانانو دطرف څخه سو ، غالبًا دا مضامین به موسیٰ (علیه السلام)
اول فرمایلی وی ، بیابه مکرر نورو مسلمانانو ددی اعاده کړی وی» قارون «چی دا واوریدل» وي ویل چی
ماته دا هرڅه زما دذاتی هنر په وجه سره راکول سوی دی «یعنی زه دمعاش په چلونو اوتدبیرونو باندی ښه
پوه یم په دی سره مادا جمع کړی دی بیازما فخر بی ځایه نه دی او نه دی ته غیبی احسان ویل کیږی او نه
په دی کی دچاڅه استحقاق کیدای سی ، مخ ته الله ﷻ دده دا خبره رد کوی چی» ایاده «قارون په اخبار
متواتره سره» دا ونه پیژندل چی الله ﷻ دده څخه په مخکی امتونو کی داسی خلق هلاك کړی دی کوم چی په
قوت کی «هم» دده څخه ډیر زیات وه او ډله «هم دده څخه» هغوی زیاته درلوده «صرف دا نه چی هلاك سول
او خلاص سول بلکه په وجه د دوی دجرم کولو دکفر اوالله ﷻ ته د دوی ددی جرم معلومیدی په قیامت کی
به هم په عذاب وی ، لکه چی دا دهغه ځای قاعده ده چی» دمجرمانو څخه به د دوی دګناهونو «دتحقیق
کولو په غرض سره» پوښتنه نه کول وی «څکه چی الله ﷻ ته دا ټول هرڅه معلوم دی چی دزجر اوتنبیه دپاره
سوال وی ، لکه چی دا قول دالله ﷻ دی . لَنَسۡـَٔلَنَّهُمۡ اَجۡمَعِیۡنَ، مطلب دا دی چی که قارون پردی مضمون نظر
کولی نو دداسی جهالت خبره به یی نه کوله څکه چی دتیرو قومونو دعذاب په حالاتو سره دالله ﷻ دکامل
قدرت او د اخرت دمؤاخذی څخه دهغه احکم الحاکمین کیدل ظاهردی ، بیاچاته څه حق دی چی دالله ﷻ
نعمت ته دخپلی هنر مندی نتیجه ووایی اودواجبو حقونو څخه انکار وکی» بیا «یو وار داسی اتفاق وسو
چی» په خپل ډول ډال «او شان» سره دخپلی برادری په مخکی راووتی کوم خلق چی «دده په برادری کی»
ددنیا طالبان وه «که څه هم مومنان وه لکه چی د دوی دمخ ته قول . وَيۡكَاَنَّ اللّٰهَ يَبۡسُطُ الرِّزۡقَ الخ. څخه ظاهره
معلومیږی هغو خلقو» وویل چی څه ښه به وای که مونږ ته هم هغه سامان او اسباب راکول سوی وای کوم چی قارون

ته ورکول سوي دي ، واقعي هغه لوی دنصيب خاوند دي «دا ارزو دحرص وه په دي سره کافروالي نه لازميږي ، لکه اوس هم ډيري مسلمانان سره داسلام څخه شپه او ورځ دنورو قومونو ترقي ويني قصد او رشك يي وي ورته او فکر يي کوي» اوکومو خلقو ته چي «ددين» پوه ورکول سوي وه ، دوی «دي حريصانو ته» وويل ليري ورك سي «تاسي په دي دنيا پسي ولي ځئ» دالله ﷻ دکور ثواب «ددي دنيا دجاه اوجلال څخه» په زر درجي ښه دي کوم چي داسي سړي ته ورکول کيږي چي ايمان راوړي او نيك عمل کوي او «بياپه ايماندارو اونيك عمل والاوو کي هم» هغه «ثواب په کامل طور» هغو خلقو ته ورکول کيږي کوم چي «ددنيا دحرص او طمع څخه» صبر کوي «وروسته تاسي خلق دايمان په مکمل کولو او دنيك عمل په حاصلولو کي اخته سی او دشرعي حد دننه دنيا حاصلوی دزيات حرص اوطمع څخه صبرکوی» بيا مونږ دا قارون او دده محل سراي «دده دشرارت په زياتيدوسره» په مځکه کي ننه ايستل وروسته څوك داسي پيدا نه سو چي ده يي دالله «دعذاب» څخه محفوظ کړي واي «که څه هم دي دلويي ولي خاوند وو» اونه ده په خپله خپل ځان بچ کړل سو اوپرون «يعني په تيره نژدي زمانه کي» چي کومو خلقو دده په شان دکيدو ارزو کوله هغوی «نن چي دده ننوتل وليدل» وي ويل بس هو! داسي معلوميږي چي «درزق دفراخي دياتنگي دارمدار پرخوش نصيبي يابد نصيبي باندي نه دي ، بلکه دا محض په تکويني حکمت سره دالله ﷻ په قبضه کي دی نو» الله ﷻ چي په خپلو بندگانو کي چاته وغواړي زيات رزق ورکوی او «چاته چي وغواړي» په تنگي سره يي ورکوی «دا زمونږ غلطي وه چي دي به مونږ خوش نصيبه گڼو زمونږ توبه ده او واقعي» که پرمونږ دالله ﷻ مهرباني نه واي نو مونږ به يي هم ننه ايستلي واي «ځکه چي حرص او ددنيا دمحبت گناه خو مونږ هم کړی وه» بس هو! معلومه سوه چي کافران فلاح نه پيداکوی «که څه هم څوورځي مزي وکړي ، مگر انجام يي بياخسران دی ، بس فلاحي پيدا کول خاص دايماندارو دپاره دي»

معلومات اومسئلي: دسورة قصص دشروع څخه تر دي ځاى پوري دحضرت موسىٰ عليه السلام هغه قصه ذکر وه کومه چي ده ته دفرعون او دفرعونيانو سره پيښه سوي وه دلته دده دوهمه قصه بيانيږي کومه چي دخپلو خپلوانو دسړي قارون سره ورپيښه سوه او ددي مناسبت دتيرو آيتونو سره دا دی چي په تير آيت کي دا ارشاد سوی وو چي ددنيا دولت او مال کوم چي تاسي ته درکول کيږي دغه دځو ورځو سامان دی ، ددي په محبت کي لگيا کيدل هو ښيارتيا نه ده . وَمَآاُوتِيتُم مِّن شَىۡءٍ فَمَتَاعُ الۡحَيَاةِ الدُّنۡيَا، الاية، دقارون په قصه کي دا وښوول سوه چي هغه دمال او دولت دحاصلولو څخه وروسته دا نصيحت هير کي او ددي په نشه کي مست سو ، دالله ﷻ ناشکري يي هم وکړه او په مال چي کوم واجب حقونه دالله ﷻ دطرف څخه فرض وه ، دهغه دادا کولو څخه منکر هم سو چي په نتيجه کي يي هغه دخپلو خزانو سره په مځکه کي ننوتی .

قارون يو عجمي لفظ غالبًا دعبراني ژبي دی . دده متعلق دومره خبره خو په خپله دقرآن دالفاظو څخه ثابته ده چي دی دحضرت موسىٰ عليه السلام دخپلوانو بني اسرائيلو څخه وو. باقي دا چي دده قرابت دحضرت موسىٰ عليه السلام سره څه وو؟ په دي کي مختلف اقوال دي . دحضرت ابن عباس رضي الله عنه په يو روايت کي يي دی دحضرت

موسٰی ؑ د اکا زوی مقرر کړی دی او نور اقوال هم په کی سته (قرطبی اوروح)

په روح المعانی کی دمحمدبن اسحاق څخه روایت نقل دی چی قارون دتورات حافظ وو او دنورو بنی اسرائیلوڅخه ده ته تورات زیات یاد ؤ مګردسامری په شان منافق ثابت سو اودده دمنافقت سبب ددنیا مرتبه اوعزت اوبی خایه حرص وو دټولو بنی اسرائیلو مشری حضرت موسٰی ؑ ته حاصله وه او دده ورور حضرت هارون ؑ دده وزیر اوپه نبوت کی شریك وو دده سره یی داحسد پیداسوچی زه هم دده دقام ورور او نژدی قریب یم ، زماپه دی مشری اوسرداری کی څه حصه ولی نسته . هم دارنګه حضرت موسٰی ؑ ته یی ددی شکایت وکی. حضرت موسٰی ؑ ورته وفرمایل چی دا څه چی دی دا دالله ﷻ دطرف څخه دی ، ماته په دی کی هیڅ دخل نسته ، مګر هغه په دی مطمئن نه سو او دحضرت موسٰی ؑ سره یی حسد شروع کی.

فَبَغٰی عَلَیۡهِمۡ، لفظ دبَغٰی دڅو معانیو دپاره راځی ، مشهوره معنٰی یی ظلم دی ، دلته دا معنٰی هم مراد کیدای سی ، چی ده دخپل مال او دولت په نشه کی پر نورو ظلم کول شروع کړل . یحیٰی بن سلام او سعیدبن مسیب فرمایی چی قارون سرمایه دار سړی وو. دفرعون دطرف څخه دبنی اسرائیلو په نګرانی مامور وو. ددی امارت په زمانه کی ده پربنی اسرائیلو ظلم وکی (قرطبی)

او بله معنٰی یی تکبر هم راځی ، ډیرو مفسرینو دلته دا معنٰی مقرره کړي ده چی ده دمال او دولت په نشه کی پر بنی اسرائیلو تکبر شروع کی او دوی یی سپك او ذلیل ګڼل .

وَ اٰتَیۡنٰهُ مِنَ الۡکُنُوۡزِ، کُنُوۡز، دکنز جمع ده ، دفن سوی خزانی ته ویل کیږی او دشرع په اصطلاح کی کنز هغه خزانه ده دکومی څخه چی زکوٰة نه وی ورکړل سوی . دحضرت عطاء رحمه الله څخه روایت دی چی ده ته دحضرت یوسف ؑ یوه عظیم الشانه دفن سوی خزانه ورسیده (روح)

لَتَنُوۡٓاُ بِالۡعُصۡبَةِ ، دنآء لفظ دبوج لاندی دکښته کیدو په معنٰی کی راځی او دعُصۡبَة معنٰی جماعت دی . معنٰی دا ده چی دده خزانی دومره زیاتی وی او کیلیانی یی دومره وی چی یو قوی جماعت هم دهغو دلوړولو څخه کښته کیدل اوظاهره ده چی دقُلف چابی ډیره سپکه وی چی پورته کول اودځان سره ساتل یی مشکل نه وی مګر دډیروالی په سبب دا دومره وی چی وزن یی یو قوی جماعت هم په آسانی سره نه سوای لوړولای (روح)

لَا تَفۡرَحۡ ، د فرح لفظی معنٰی دهغه خوشحالی ده کومه چی انسان ته دڅه نژدی لذت په سبب سره حاصله وی . قرآن شریف په ډیرو آیتونو کی فرح مذموم مقرر کړی دی ، لکه چی یو په دی آیت کی دی . اِنَّ اللّٰهَ لَا یُحِبُّ الۡفَرِحِیۡنَ، او په یو ایت کی. لَا تَفۡرَحُوۡا بِمَاۤ اٰتٰکُمۡ، او په یو ایت کی دی. فَرِحُوۡا بِالۡحَیٰوةِ الدُّنۡیَا، او په څینو آیتونو کی دفرح اجازه بلکه یو قسم امر هم وارد سوی دی ، لکه په . یَوۡمَئِذٍ یَّفۡرَحُ الۡمُؤۡمِنُوۡنَ، کی، او په آیت فَبِذٰلِكَ فَلۡیَفۡرَحُوۡا، کی ارشاد سوی دی . ددی ټولو آیتونو دمجموعی څخه ثابتیږی چی مذموم او ممنوع هغه فرح دی کوم چی دمستی اوتکبرکولوحدته ورسیږی اودغه هلته کیدای سی چی دغه لذت اوخوشحالی هغه خپل ذاتی کمال او ذاتی حق وګڼی ، دالله ﷻ انعام او احسان یی نه ګڼی اوکومه خوشحالی چی دی حدته نه

وی رسیدلی هغه ممنوع نه ده، بلکه په یو حیثیت سره مطلوب ده چی دالله ﷻ دنعمت شکر گذاری ده .

وَابْتَغِ فِيمَا آتَاكَ اللَّهُ الدَّارَ الْآخِرَةَ وَلَا تَنسَ نَصِيبَكَ مِنَ الدُّنْيَا" یعنی مسلمانانو قارون ته دا نصیحت وکی چی الله ﷻ کوم مال او دولت تاته درکړی دی ددی په ذریعه د آخرت اسباب جمع کړه او په دنیا کی چی کومه ستا برخه ده هغه مه هیروه .

ددنیابرخه څه ده؟ ددی تفسیر اکثرو مفسرینو دا کړی دی چی ددی څخه مراد ددنیاعمر او په دی کی کړی هغه عملونه دی کوم چی په اخرت کی به دده په کار ورځی چی صدقه اوخیرات هم په کی داخل دی اونور نیك عملونه هم. دحضرت ابن عباس ﷜ اوجمهورومفسرینو څخه دامعنی نقل ده (لکه چی په قرطبی کی دی) په دی صورت کی به دوهمه جمله د اولی جملی تاکید اوتائید وی په اوله جمله کی چی ویل سوی دی چی څه تاته الله ﷻ درکړی دی یعنی مال دولت ، عمر اوصحت وغیره ددی ټولو څخه هغه کار واخله کوم چی په اخرت کی ستاپه کار درسی او په حقیقت کی ددنیا دا برخه ستاده کوم چی داخرت اسباب جوړسی ، باقی دنیا خو دنورو وارثانو برخه ده او ځینی مفسرین فرمایی چی د دوهمی جملی مطلب دا دی چی څه الله ﷻ درکړی دی ، په دی سره خپل د اخرت اسباب هم برابر کړه ، مگر خپل ددنیا ضرورتونه هم مه هیروه چی ټول خیرات او صدقه کړی ، تش لاس پاته سی ، بلکه په قدر دضرورت دځان دپاره هم پاته کړه . په دی تفسیر به دنصیب دنیا څخه مراد ددی معاشی ضرورتونه وی . والله اعلم

إِنَّمَا أُوتِيتُهُ عَلَىٰ عِلْمٍ عِندِي ، ځینی مفسرین فرمایی چی دلته دعلم څخه مرادعلم دتورات دی لکه چی په ځینو روایتونو کی دی چی قارون دتورات حافظ اوعالم وو او په هغو اویا ۷۰ اصحابوکی وو، کوم چی حضرت موسیٰ ﷺ د میقات دپاره منتخب فرمایلی وه ، مگر ده ته په دی خپل علم باندی ناز او غرور پیداسو، دایی خپل ذاتی کمال وگڼی او دده ددی کلام مطلب دا وو چی ماته څه مال او دولت راکړل سوی دی دا زما دخپل ذاتی علمی کمال په سبب سره دی . په دی وجه زه ددی په خپله حقدار یم ، په دی کی پرما دچاڅه احسان نسته . مگر ظاهره ده چی دلته دعلم څخه مراد دمعاشی تدبیرونو علم دی . مثلاً تجارت صنعت وغیره په کومو سره چی مال حاصلیږی او مطلب دا دی چی ماته کوم مال حاصل سوی دی ، په دی کی دالله ﷻ د احسان څه دخل دی ، دا خو ما په خپله هوښیاری اوکاریگری سره حاصل کړی دی او جاهل دانه گڼله چی دا هوښیاری او کاریگری او صنعت یاد تجارت تجربه اوعلم هم دالله ﷻ دطرفه څخه راکړل سوی دی، زما څه ذاتی کمال نه دی .

أَوَلَمْ يَعْلَمْ أَنَّ اللَّهَ قَدْ أَهْلَكَ مِن قَبْلِهِ" دقارون ددی قول چی زما مال دولت زما په ذاتی علم او هنر سره حاصل سوی دی ، اصل جواب خو دغه وو کوم چی لوړ لیکل سوی دی چی که دا ومنل سی چی ددی سبب څه خاص علم او هنر وو نو دا هم دالله ﷻ د احسان څخه څنگه بری سو، ځکه چی دا علم او هنر او قوت دکسب هم خو دالله ﷻ بخشش سوی دی . مگر ددی جواب دډیر واضح کیدو په وجه نظر انداز سو. قرآن دا

وښودله چې دا مال دولت فرض کړه که ده ته په خپل ذاتي کمال سره حاصل سوی وی . مګر په خپله ددی
مال او دولت هیڅ حیثیت نسته ، دمال زیاتوالی دیو انسان دپاره نه څه کمال او فضیلت دی او نه دغه په
هر حال کی دده په کار ورتلی سی . ددی په ثبوت کی یی دتیرو امتونو دلویو سرمایه دارو مثال پیش کی
چې هرکله دوی سرکښی وکړه ، نو دالله ﷻ عذاب دوی ناڅاپه ونیول مال اودولت دهغوهیڅ په کار ورنغی.
وَقَالَ الَّذِينَ أُوتُوا الْعِلْمَ وَيْلَكُمْ الاية، په دی آیت کی . الَّذِينَ أُوتُوا الْعِلْمَ ، یعنی دعلماؤ مقابله د. الَّذِينَ يُرِيدُونَ
الْحَيَاةَ الدُّنْيَا ، سره سوي ده ، په دی کی واضحه اشاره دی طرف ته سوي ده چې ددنیا مال او اسباب اراده
او دا مقصود جوړول د اهل علمو کار نه دی د اهل علمو نظر همیشه د اخرت پردائمی فائده باندی وی.
ددنیا اسباب په قدر دضرورت حاصلوی او قناعت په کوی .

تِلْكَ الدَّارُ الْآخِرَةُ نَجْعَلُهَا لِلَّذِينَ لَا يُرِيدُونَ عُلُوًّا فِي الْأَرْضِ وَلَا فَسَادًا

دغه کور دآخرت دی چې مونږ یی ورکوو هغو خلقو ته چې نه غواړی خپله لوئی په مځکه کی او نه فساد کول

وَالْعَاقِبَةُ لِلْمُتَّقِينَ ﴿۸۳﴾ مَنْ جَاءَ بِالْحَسَنَةِ فَلَهُ خَيْرٌ مِّنْهَا ۖ وَمَنْ جَاءَ

اوعاقبت غوره دی دبیریدونکو دپاره څوک چې راوړی نیکی، ده ته به ورسیږي ددغه څخه غوره ،اوڅوک چې راوړی

بِالسَّيِّئَةِ فَلَا يُجْزَى الَّذِينَ عَمِلُوا السَّيِّئَاتِ إِلَّا مَا كَانُوا يَعْمَلُونَ ﴿۸۴﴾

بدی پس بدی کوونکو ته به هغه سزا ورسیږي څه چې هغوی کول ،

تفسیر: دا اخرت (دکوم ثواب چې مقصود کیدل لوړ په . ثَوَابُ اللهِ خَيْرٌ الخ ، کی بیان سوی دی) مونږ
دهغو خلقو دپاره خاص کوو کوم چې په دنیا کی نه لوی جوړیدل غواړی اونه فساد کول (یعنی نه تکبرکوی
کوم چې باطنی ګناه ده اونه څه ظاهری ګناه داسی کوی په کوم سره چې په مځکه کی فسادجوړیږی او
صرف ددی باطنی او ظاهری بدیو څخه خلاصیدل کافی نه دی بلکه) نیکه نتیجه متقی خلقو ته رسیږی
(کوم چې دبدیو څخه دځان ساتلو سره دنیکو عملونو هم پابندوی اوپه کیفیت دعملونو به جزا اوسزا دا
وی چې) کوم سړی چې (دقیامت په ورځ) نیکی راوړی ، هغه ته به ددغه (دمقتضا) څخه ښه (بدله) ورکول
کیږی (څکه چې دنیك عمل اصل مقتضٰی خو دا ده چې ددی حیثیت موافق عوض ورکړل سی . مګر هلته به
ددی څخه زیات ورکړل سی چې دکم څخه کمه درجه به یی ددی دحیثیت څخه لس چنده وی) اوکوم سړی
چې بدی راوړی وروسته داسی خلقو ته به چې دبدی کارونه یی کول دومره بدله ورکول کیږی څومره چې
دوی کول (یعنی ددغه دمقتضٰی څخه زیاته بدله دسزا به نه ورکول کیږی)

معلومات اومسئلي : لِلَّذِينَ لَا يُرِيدُونَ عُلُوًّا فِي الْأَرْضِ وَلَا فَسَادًا : په دی آیت کی ددارِ اخرت نجات او فلاح یی
صرف دهغو خلقو دپاره مخصوصه فرمایلی ده ، کوم چې په مځکه کی دلویی او فساد اراده نه کوی . دعلو

څخه مراد تکبر دی یعنی خپل ځان دنورو څخه لوی جوړول او دنورو دسپك ګڼلو فکر. او دفساد څخه مراد پر خلقو ظلم کول دی (سفیان ثوری) اوځینی مفسرین فرمایي چي هر معصیت فساد فی الارض دی ځکه چي دګناه په وبال سره ددنیا په برکت کي کمي راځي . ددی آیت څخه معلومه سوه چي کوم خلق دتکبر او ظلم یا دمطلق معصیت اراده وکي دهغوی په اخرت کي برخه نسته .

فائده : تکبر دکوم حرمت او وبال چي په دی آیت کي ذکر سوی دی او دا هغه دی چي پر خلقو فخر او د دوی سپکوالی مقصود وی ، کنه نو دځان دپاره دښه لباس ، ښه خوراك ، ښه مکان انتظام هرکله چي دا پر نورو دفخر دپاره نه وی ، بد نه دی لکه چي دصحیح مسلم په یو حدیث کي ددی وضاحت دی .

(دمعصیت پوخ قصد کول هم ګناه ده)

په دی آیت کي دعلو اوفساد په اراده داخرت څخه په محروم والی دعذاب وعده ده. ددی څخه معلومه سوه چي دمعصیت پخه اراده چي دپوخ قصد په درجه کي راسی هغه هم معصیت یعنی ګناه ده (لکه چي په روح کي دی) البته که دادخدای دبیری څخه په دی اراده پریږدی نو دګناه په ځای ثواب دده په عملنامه کي لیکل کیږی او که په غیر اختیاری سبب سره یې پر دغه ګناه قدرت ونه سی او عمل په ونه کی ، مګر خپل دګناه کوشش یې پوره کړی وی ، نوهغه هم په ګناه کي لیکل کیږی (لکه چي داسی امام غزالی رحمه الله ذکرکړی دی) د ایت په اخر کي فرمایي . وَالْعَاقِبَةُ لِلْمُتَّقِينَ ، ددی مطلب دا دی چي داخرت دنجات او فلاح دپاره د دوو شیانو علو اوفساد څخه ځان ساتل هم لازم دی او دتقویٰ یعنی نیکو عملونو پابندی هم . صرف ددی دوو شیانو څخه ځان ساتل کافی نه دی ، بلکه کوم عملونه چي دشریعت په روسره فرض او واجب دی ، په دغو عمل کول هم داخرت دنجات دپاره شرط دی .

إِنَّ الَّذِي فَرَضَ عَلَيْكَ الْقُرْآنَ لَرَادُّكَ إِلَىٰ

چاچي حکم ولیږی دقرآن هغه بیرته په تا باندی را وستونکی دی ستا

مَعَادٍ ۚ قُل رَّبِّي أَعْلَمُ مَن جَاءَ بِالْهُدَىٰ وَمَنْ هُوَ فِي

او لنی ځای ته ته ووایي چي زما رب ښه پوه دی په هغه چاچي رایه وړه ښوونه او په هغه چاچي هغه په

ضَلَالٍ مُّبِينٍ ﴿٨٥﴾ وَمَا كُنتَ تَرْجُو أَن يُلْقَىٰ إِلَيْكَ الْكِتَابُ

ښکاره غلطی کي دی . او تا خو امید نه کوی چي درکول به سی تاته کتاب

إِلَّا رَحْمَةً مِّن رَّبِّكَ ۖ فَلَا تَكُونَنَّ ظَهِيرًا لِّلْكَافِرِينَ ﴿٨٦﴾

مګر دمهربانی د رب ستا څخه نو مه کیږه امداد کوونکی دا کافرانو

وَلَا يَصُدُّنَّكَ عَنْ اٰيٰتِ اللّٰهِ بَعْدَ اِذْ اُنْزِلَتْ اِلَيْكَ وَادْعُ

او منع دی نه کړي تا دوی دآیاتونو د رب څخه پس ددې چې نازل سو تاته او بلنه کړه

اِلٰى رَبِّكَ وَلَا تَكُوْنَنَّ مِنَ الْمُشْرِكِيْنَ ﴿۸۷﴾ وَلَا تَدْعُ مَعَ اللّٰهِ

خپل رب طرف ته او مه کیږه د مشرکانو څخه او مه بله د الله تعالی سره

اِلٰهًا اٰخَرَ لَآ اِلٰهَ اِلَّا هُوَ كُلُّ شَيْءٍ هَالِكٌ اِلَّا وَجْهَهٗ لَهُ

بل معبود ، نسته معبود څوک ماسوا دهغه څخه ، هر شي فنا کیږي ماسوا دذات دهغه څخه ، صرف دهغه

الْحُكْمُ وَاِلَيْهِ تُرْجَعُوْنَ ﴿۸۸﴾

حکم دی او هغه ته به بیرته رجوع کوونکی یو

لنډتفسیر: (او ستادی مخالفینو چی ته پریشانه کړی پر وطن پریښولو یی مجبوره کړی چی ددی جدایی تاته ډیره ګرانه ده نو ته تسلی ساته) کوم خدای چی پرتایی قرآن (په احکامو یی عمل او تبلیغ یی کوی) فرض کړی دی (کوم چی په جمع سره ستا دنبوت دلیل دی) هغه به تا (ستا) اصلی وطن (یعنی مکی) ته بیا ورسوی (او هغه وخت به ته ازاد او غالب او خاوند دحکومت یې ، او په داسی حالت کی که بل څای دقیام دپاره تاکل کیږی نو په مصلحت او په اختیار سره به وی چی په دی سره خفګان نه وی او سره ددی چی ستا نبوت حق دی ، دا خلق کوم چی تاپه غلطی او څان پرحقه ګڼی نو) ته (دوی ته) وفرمایه چی زما رب ښه پوه دی چی چا رښتنی دین (دالله ﷻ دطرف څخه) راوړی دی او څوك په ښکاره ګمراهی کی (اخته) دی (یعنی زماپرحقوالی او ستاسی پرباطلوالی قطعی دلیلونه موجود دی ، مګر هرکله چی ددی څخه کارنه اخلی نو اخری جواب دا دی چی خیر خدای ته معلومه ده هغه به وښیی) او (ستا دا دنبوت دولت محض خدایی دی حتی چی په خپله) تاته (دنبی کیدو څخه مخکی) دا توقع نه وه چی په تابه دا کتاب نازل سی ، مګر محض ستا درب په مهربانی سره ددی نزول وسو وروسته ته (ددی خلقو بی هوده خبرو طرف ته توجه مه کوه او لکه څنګه چی تر اوسه پوری د دوی څخه جلا پاته سوی یی ائنده هم دغه ډول) ددی کافرانو یوه ذره تائید مه کوه او هرکله چی دالله ﷻ احکام پر تا نازل سوه نو داسی دی ونه سی (لکه تر اوسه چی هم نه دی سوی) چی دا خلق تا ددغو احکامو څخه منع کړی او ته (پر مخ) دخپل رب (ددین) طرف ته (خلق) رابله او (لکه څنګه چی تر اوسه پوری دمشرکانو سره دی تعلق نه دی پاته سوی دغه ډول آئنده ،میشه) په دی مشرکانو

کې شامل نه سي او (لکه څنګه چې تر اوسه دشرك څخه پاك يې، دغه ډول آئنده هم) دالله ﷻ سره بل معبود مه بوله (په دې آيتونوکې دکفارو او مشرکانو د دوی د درخواستونو څخه نااميده کول دي او دخبرې مخ د دوی طرف ته دې چې تاسي کوم نبي کريم ﷺ ته په دين کې دموافق کيدو درخواست کوی ، په دې کې دکاميابي هيڅکله هم احتمال نسته ، مګر عادت دې چې کوم سړی لره زياته غصه وی ، دهغه سره خبره نه کوی ، دخپل محبوب سره خبرې کوی او هغه ته يې اوروی ، په معالم کې دحضرت ابن عباس ؓ روايت دې چې دا خطاب صرف په ظاهره حضور ﷺ ته دې او مقصود ورڅخه دوی نه دي . تردې ځای پورې درسالت مضمون قصداً وو که څه هم توحيد په کې هم ضمنًا راغی ، مخ ته دتوحيد مضمون قصداً دی چې) دهغه څخه ماسوا څوك بل معبود نسته (په دې وجه چې) ټول شيان فنا کيدونکي دي ، بغير دهغه دذات څخه (وروسته دهغه څخه ماسوا څوك دعبادت مستحق پاته نه سو ، دا مضمون دتوحيد سو مخ ته دمعاد مضمون دې چې) دهغه حکومت دی (دکوم کامل ظهور چې به په قيامت کې وی) او هغه ته به تاسي ټول واپس کيږی (پس ټولو ته به د دوی دعملونو جزا ورکړی ، دا دمعاد مضمون هم ختم سو)

معلومات اومسئلې : اِنَّ الَّذِیْ فَرَضَ عَلَیْكَ الْقُرْاٰنَ لَرَآدُّكَ اِلٰی مَعَادٍ ؕ دسورة په اخر کې داآيتونه دنبي کريم ﷺ دتسلي او دنبوت او رسالت پر خپلو فرضو باندې په پوره ډول سره دقائم پاته کيدو دتاکيد دپاره دي ، او دسورة دتيرو آيتونو سره ددې مناسبت دا دی چې په دې سورة کې الله ﷻ دحضرت موسیٰ ؑ تفصيلي قصه ، دفرعون او دده دقوم ددښمنی او دده څخه دبيرې ، بياپه خپل فضل سره د دوی پرفرعونيانو باندې دغالب کولو ذکر يې وفرمايي . نو دسورة په اخر کې يې خاتم الانبياء ﷺ ته دداسي حالاتو خلاصه بيان کړه چې دمکې کفارو دوی ﷺ پريشانه کړل ، دقتل منصوبې يې جوړې کړې ، دمسلمانانو ژوند يې په مکه کې تنګ کی ، مګر الله ﷻ دخپل پخواني عادت مطابق دوی ته پرټولو فتح او غلبه نصيب وفرمايله او مکه مکرمه دکوم ځای څخه چې کفارو دوی ايستلی وه ، هغه بياپه مکمل طور سره د دوی په قبضه کې راغله .

اَلَّذِیْ فَرَضَ عَلَیْكَ الْقُرْاٰنَ . کوم پاك ذات چې پر تا قرآن فرض کړی دی يعني ددی تلاوت او تبليغ او په دې عمل کول يې پرتا فرض کړی دی هغه ذات به تا بيا معاد ته واپس کړی . دمیعاد څخه مراد مکه مکرمه ده لکه چې په صحيح بخاري وغيره کې دحضرت ابن عباس ؓ څخه دمعاد دا تفسير نقل دی . مطلب دا دی چې که دڅو ورځو دپاره تاته خپل خوږ وطن خاصکر حرم او بيت الله شريفه پرېښوول پيښ سول ، مګر دقرآن نازلوونکی او په دې دعمل فرض کوونکی خدای تعالی به آخر تا بيا مکی مکرّمې ته بيرته راولی ، دتفسير په امامانو کې دحضرت مقاتل ؒ څخه روايت دې چې نبي کريم ﷺ دهجرت په وخت کې دغار ثور څخه دشپې په وخت کې ووتی او دمکې څخه مدينې ته تلونکې معلومه لار يې پرېښووله او په نورو لارو يې سفروکی ، څکه چې دښمن يې په تعاقب کې وو هرکله چې جحفه مقام ته ورسيدل کوم چې دمدينې طيبې پرلاره مشهور منزل رابغ ته نژدې دی او ددغه ځای څخه دمکې څخه مدينې ته معلومه لار

ور رسیږي دغه وخت چې دمکې مکرمې پرلاره یې نظر پریوتی ، نو بیت الله شریفه او وطن یې یاد سو، دغه وخت جبرائیل امین دا ایت راوړی نازل سو چې په دې کې دوی ته خوشخبري ورکول سوې ده چې دمکې مکرمې څخه دا جدایي دځو ورځو ده او اخر به تاسې بیا مکې مکرمې ته ورسول سې ، کوم چې دمکې مکرمې دفتح کیدو خوشخبري وه . په دې وجه دحضرت ابن عباس ﷺ په یو روایت کې دي چې دا ایت په جحفه کې نازل سو ، نه مکي دی او نه مدني (قرطبي)

(قرآن پر دښمنانو دفتح او په مقصدونو کې دکامیابۍ ذریعه ده)

په دې آیت کې حضور ﷺ ته دوباره مکې مکرمې ته دفاتحانه واپسۍ خوشخبري په دې عنوان سره ورکړل سوې ده چې کوم حق ذات پرتا باندې قرآن فرض کړی دی ، تابه پردښمنانو غالب کې دوباره به دې مکې مکرمې ته واپس کړي . په دې کې اشاره دې طرف ته هم ده چې دقرآن تلاوت او په دې عمل کول به ددې خدایي امداد او ښکاره فتح سبب وي .

كُلُّ شَيْءٍ هَالِكٌ اِلَّا وَجْهَهٗ " په دې آیت کې دوَجه څخه مراد ذات دحق سبحانه تعالی دی او معنی دا ده چې دحق سبحانه تعالی دذات څخه ماسوا هر شی هلاکیدونکی دی او فنا کیدونکی دی او ځینې مفسرین حضرات فرمایي چې دوَجْهَهٗ څخه مراد هغه عمل دی کوم چې خالص دالله ﷻ دپاره وسی نو دایت مطلب به داسې چې کوم عمل دالله ﷻ دپاره په اخلاص سره وسی ، هغه باقي پاته کیدونکی دی باقي نور ټول فاني دي . والله سبحانه وتعالی اعلم

الحمدلله سورة قصص نن ۹ دذیقعده سنه ۱۳۹۱ هـ په داسې حالاتو کې تمام سو چې پر پاکستان باندې دهندوستان او دنورو لویو طاقتونو په سازش زوروره حمله وسوه او څوارلس (۱۴) ورځې یو مخ پر کراچۍ باندې بمباري کیده ، ښاري ابادۍ ته ځای پرځای سخت نقصان ورسیدی ، په سوونو مسلمانان شهیدان اوکورونه ونړیدل او دڅوارلسو ورځو دا جنګ پر دې افسوسناکه حادثه باندې ختم سو چې مشرقي پاکستان (موجوده بنګله دیش) دپاکستان څخه جلا سو او تقریبًا نوی زره ۹۰۰۰۰ پاکستاني فوج هلته محاصره سو او وسله یې وغورځوله اوتردې وخته هلته دمسلمانانو قتل عام جاري دی ، دهر مسلمان زړه په دې واقعه خفه او غمجن دی .

﴿سورة العنکبوت﴾

سُوْرَةُ الْعَنْكَبُوْتِ مَكِّيَّةٌ بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ تِسْعٌ وَّسِتُّوْنَ اٰيَةً وَّسَبْعُ رُكُوْعَاتٍ

سُورة عنکبوت په مکه کې نازل سوی دی او په دی کښی نه شپیته (۶۹) آیاتونه دی اووه (۷) رکوع گانی.

شروع کوم د الله ﷻ په نامه سره چی بی حده مهربان نهایت رحم والا دی.

الٓمّٓ ۞ اَحَسِبَ النَّاسُ اَنْ يُّتْرَكُوْٓا اَنْ يَّقُوْلُوْٓا اٰمَنَّا وَهُمْ

آیا خلق داسی گنی چی خلاص به سی په دومره وینا سره چی مونږ یقین وکوو او د دوی

لَا يُفْتَنُوْنَ ۞ وَلَقَدْ فَتَنَّا الَّذِيْنَ مِنْ قَبْلِهِمْ فَلَيَعْلَمَنَّ

ازمائش به ونه سی، او مونږ ازمائش کړی دی دهغو چی د دوی څخه مخکې وو پس خامخا معلوموی

اللّٰهُ الَّذِيْنَ صَدَقُوْا وَلَيَعْلَمَنَّ الْكٰذِبِيْنَ ۞ اَمْ حَسِبَ

الله تعالی چی کوم خلق رښتنی دی او خامخا معلوموی درواغجنان ، آیا دوی دا گنی

الَّذِيْنَ يَعْمَلُوْنَ السَّيِّاٰتِ اَنْ يَّسْبِقُوْنَا ۭ سَاۗءَ مَا يَحْكُمُوْنَ ۞

چی کوم خلق کوی بدی چی زمونږ څخه محفوظ سی ، ډیره بده فیصله دوی کوی ،

مَنْ كَانَ يَرْجُوْا لِقَاۗءَ اللّٰهِ فَاِنَّ اَجَلَ اللّٰهِ لَاٰتٍ ۭ وَهُوَ

څوک چی امید لری دالله تعالی دملاقات پس د الله تعالی وعده را روانه ده او هغه

السَّمِيْعُ الْعَلِيْمُ ۞ وَمَنْ جَاهَدَ فَاِنَّمَا يُجَاهِدُ لِنَفْسِهٖ ۭ

اوریدونکی پوهیدونکی دی ، او څوک چی محنت وکړي پس محنت کوی دخان دپاره

اِنَّ اللّٰهَ لَغَنِيٌّ عَنِ الْعٰلَمِيْنَ ۞ وَالَّذِيْنَ اٰمَنُوْا وَعَمِلُوا الصّٰلِحٰتِ

الله تعالی بی حاجته دی دمخلوقات څخه ، او څوک چی ایمان راوری او نیک عملونه وکی

لَنُكَفِّرَنَّ عَنۡهُمۡ سَيِّاٰتِهِمۡ وَلَنَجۡزِيَنَّهُمۡ اَحۡسَنَ الَّذِىۡ كَانُوۡا يَعۡمَلُوۡنَ ۝

مونږ به لیری کو د دوی ځنه بدی د دوی او بدله به ورکو دوی ته ښه دښه کارونو د دوی

تفسیر: الٓمّٓ (ددی معنی خوالله ﷻ ته معلومه ده ځینی مسلمانان کوم چی دکفارو د ازارونو رسولو ځنه بیریږی نو) آیادی خلقو دا خیال کړی دی چی دوی به په دومره ویلو باندی خلاص سی چی مونږ ایمان راوړی او دوی به (په قسمونو دمصیبتونو سره) ونه ازمایل سی (یعنی داسی نه سی کیدای ، بلکه ددی قسم امتحانونه به پیښیږی ورته) او مونږ خو (په داسی واقعاتو سره) دهغو خلقو هم ازمائش کړی دی کوم چی د دوی ځنه مخکی (مسلمانان) تیر سوی دی (یعنی دنورو امتونو پر مسلمانانو باندی هم داسی معاملی تیری سوی دی) وروسته (دغه ډول به د دوی ازمائش هم کول کیږی او په دی ازمائش کی) الله ﷻ دا خلق (په ظاهری علم سره) معلوموی کوم چی (دایمان په دعوی کی) رښتنی وه او دروغجنان هم معلوموی (هم دارنګه څوك په رښتنی عقیدی سره مسلمانانیږی هغوی به په دی امتحاناتو کی ثابت قدم اوسیږی ، بلکه نور به زیات پخیږی او څوك چی دوخت سره مسلمانان سوی وی هغوی په داسی وخت کی اسلام پریږدی یعنی دا دامتحان یو حکمت دی ځکه چی دمخلص او غیر مخلص په خلط ملط کیدو کی ډیر ضررونه وی خاصکر په ابتدایی حالاتو کی ، دا مضمون خو دمسلمانانو متعلق سو ، مخکي دوی ته دازار رسوونکو کفارو په نسبت فرمایی چی) هاا ایاکوم خلق چی ناکاره کارونه کوی هغوی دا خیال کوی چی دوی به زمونږ ځنه خلاص سی وبه تښتی ؟ د دوی دا فکر ډیر عبث دی (دا دجملی معترضی په طور وو چی په دی کی یی دکفارو بد انجام بیان کی او دمسلمانانو یی یو قسم تسلی وکړه چی دوی ته دازار رسولو به دهغوی ځنه بدله واخستل سی ، مخ ته بیا دخبری مخ مسلمانانوته دی چی) کوم سړی دالله ﷻ سره دملاقات کولو امیدلری وروسته (ده ته په داسی اخوا دی خوا حادثو باندی پریشانی نه ده په کار ځکه چی) دالله ﷻ (سره دلیدو) هغه مقرر وخت خامخا راتلونکی دی (چی په هغه سره به ټول غم غلط سی لکه چی دا قول دالله ﷻ دی . اَلۡحَمۡدُ لِلّٰهِ الَّذِیۡۤ اَذۡهَبَ عَنَّا الۡحَزَنَ او هغه هر څه اوری په هرڅه پوه دی (نه ورځنه څه خبره پټه ده نه څه کار ، وروسته دملاقات په وخت کی به ستاسی دټولو قولی او فعلی عبادتونو بدله درکی ، او ټول غمونه به لیری کړی) او (یاد ساتی مونږ چی کم تاسی ته دمشقتونو دبرداشت کولو ترغیب درکوو ، وروسته په دی کی ظاهره او منل سوی خبره ده چی زمونږ څه نفع په کی نسته بلکه) څوك چی محنت کوی (هغه دخپل ځان دنفع د) پاره کوی (کنه نو) دالله ﷻ (خو) په ټول مخلوقات کی هیڅاته حاجت نسته (په دی کی هم ترغیب دی برداشت کولو دمشقتونو ته ځکه چی په خپله نفع پوه سی ، نو هغه کار زیات آسانه سی) او (هغه نفع کوم چی په طاعت سره رسیږی دهغه بیان دا دی چی) کوم خلق ایمان راوړی او نیك عملونه کوی مونږ به د دوی ګناهونه د دوی ځنه لیری کړو (چی په دی کی ځینی ګناهونه لکه شرك او کفر خو به په ایمان سره لیری سی ، او ځینی ګناهونه په توبه سره چی په نیکو عملونو کی دا خله ده او ځینی ګناهونه صرف به

نیکیوسره او ځینی ګناهونه به محض په فضل سره معاف سی او څه ګناهونه به وروسته د څه قدر سزا څخه، دلته تکفیرتولو ته عام دی) او ددوی ته به د دوی د(دی) عملونو (ایمان او نیکو عملونو د استحقاق) څخه زیاته ښه بدله ورکړو (وروسته په دومره ترغیباتو باندی د طاعت او مجاهدی کولو او د استقامت اهتمام ضروری دی)

معلومات او مسئلی: وَهُمْ لَا يُفْتَنُونَ، د فتنی څخه مشتق دی چی معنی یی ازمائش ده ایماندار او خاص کر انبیاء علیهم السلام او صالحان په دنیا کی د مختلف قسم ازمائشونو څخه تیریږی، بیا اخر فتح او کامیابی د دوی وی دا ازمائشونه د مخالفینو د کافرانو او فاجرانو د دښمن او د دوی د طرف څخه د تکلیفونو په ذریعه وی، لکه چی اکثرو پیغمبرانو او خاتم الانبیاء ﷺ او د دوی اصحابو ته اکثر وړپیښ سوی دی د کومو چی بی شمیره واقعات د سیرت او تاریخ په کتابونو کی ذکر دی او کله دا ازمائشونه د مرضونو او نور قسم تکلیفونو په ذریعه وی لکه چی حضرت ایوب ؑ ته وړپیښ سول او د ځینو د پاره دا ټول قسمونه جمع کیدی هم سی.

ددی آیت شان نزول که څه هم د روایتونو په روسره هغه صحابه دی کوم چی مدینی منوی ته د هجرت په وخت کی د کفارو د لاسه ازار سوی وه. مګر مراد یی عام دی، په هره زمانه کی عالمانو، صالحانو، او اولیاؤ د امت ته مختلف قسم ازمائشونه وړپیښیږی او پیښیدای سی (قرطبی)

فَلَيَعْلَمَنَّ اللَّهُ الَّذِينَ صَدَقُوا، یعنی ددی امتحاناتو او سختیو په ذریعه په مخلصو او غیرمخلصو، نیکو او بدو کی خامخا فرق کوو ځکه چی د مخلصینو سره د منافقانو خلط ملط ځینی وخت د پر نقصان رسوی مقصد ددی آیت د نیك او بد مخلص او غیرمخلص فرق واضح کوی کوم چی یی داسی تعبیر فرمایلی دی چی الله ﷻ وپیژنی صادقان او دروغجنان الله ﷻ ته خو د هر انسان صادق کیدل یا دروغجن کیدل د ده دپیدا کیدو څخه مخکی هم معلوم دی. په ازمائشونو او امتحانونو سره یی د معلومولو معنی دا ده چی دا فرق نورو ته هم ښکاره سی.

او حضرت حکیم الامت تهانوی رحمه الله د خپل شیخ مولانا محمد یعقوب صاحب رحمه الله څخه ددی توجیه دا هم نقل فرمایلی ده چی ځینی وخت د عوامو د علم درجه راکښته کړی هم خبره پر کول کیږی، عام انسانان په مخلص او منافق کی فرق د ازمائش په ذریعه معلوموی، د دوی د مذاق مطابق الله ﷻ فرمایی چی ددی مختلف قسم امتحاناتو په ذریعه مونږ دا معلوموو چی کوم مخلص دی کوم نه دی، حال دا دی چی د هغه په علم کی دا هر څه د ازل څخه دی. والله اعلم.

وَوَصَّيْنَا الْإِنسَانَ بِوَالِدَيْهِ حُسْنًا ۖ وَإِن

او مونږ تاکید کړی دی انسان ته | دخپل پلار | مور سره | د ښیګړی کولو | او که هڅوی

جَاهَدَاكَ لِتُشْرِكَ بِي مَا لَيْسَ لَكَ بِهِ عِلْمٌ فَلَا

په تا زور را ولی | چی ته شرک وکړه ما سره | د کوم چی | تا ته | خبر | نسته | نو

تُطِعْهُمَا ۭ اِلَيَّ مَرْجِعُكُمْ فَاُنَبِّئُكُمْ بِمَا كُنْتُمْ تَعْمَلُوْنَ ۝۸

د دوی خبره مه منه ، ماته ستا سی واپسی ده پس خبر به کړم تاسی په دی چی تاسی کول ،

وَالَّذِيْنَ اٰمَنُوْا وَعَمِلُوا الصّٰلِحٰتِ لَنُدْخِلَنَّهُمْ فِي الصّٰلِحِيْنَ ۝۹

او کوم خلق چی ایمان راوړی او نیک عملونه کوی مونږ به دا خل کړو دوی په نیکو خلقو کي ،

لنډتفسیر: او مونږ انسان ته دخپل مور او پلار سره دنیک سلوک کولو حکم کړی دی او (ددی سره مو ورته دا هم ویلی دی چی) که هغه دواړه په تاباندی ددی خبری زور اچوی چی ته داسی شی زما سره شریک جوړ کی ، دکوم (دمعبود کیدو) (صحیح) دلیل ستاسره نه وی (او هرشی داسی دی چی دتولو شیانو دعبادت دپاره په ناقابله کیدو باندی دلیلونه قائم دی) نو (په دی باره کی) دهغوی خبره مه منه تاسی ټول به ماته بیرته راځی ، وروسته زه به تاسی ته ټول کارونه (که نیك وی اوکه بد) دروښیم او (په تاسی کی) چی کومو خلقو ایمان راوړی وی او نیك عملونه یی کړی وی ، مونږ به هغه په نیکو خلقو (په درجو) کی (کوم چی جنت دی) داخل کړو (اودغه ډول به په بدو عملونو مناسبه سزا ورکړو، نو پر دی بنا چاچی دمور اوپلار اطاعت زمونږ پر اطاعت باندی مقدم کړی وی هغه به سزا پیدا اکی اوچاچی ددی عکس کړی وی، نیکه جزاء به پیدا اکی ښده داچی په لوړه واقعه کی دمور اوپلار په نافرمانی سره دګناه وسوسه کول نه دی په کاری)

معلومات اومسئلي : وَوَصَّيْنَا الْاِنْسَانَ، وصیت، وایی دیو سړی دیو کار طرف ته بلنی ته ، هرکله چی هغه بلل په نصیحت او خیر خواهی باندی مبنی وی (مظهری)

بِوَالِدَيْهِ حُسْنًا ،لفظ دحُسن مصدردی په معنٰی دښوکولو ،دلته دښه طرزعمل یی دمبالغی دپاره په حسن سره تعبیرکړی دی مرادواضح دی چی الله ﷻ انسان ته داوصیت فرمایی چی دخپل موراوپلارسره ښه سلوك کوی.

وَاِنْ جَاهَدَاكَ لِتُشْرِكَ بِيْ: یعنی دموراوپلارسره دښه سلوك کولوسره سره داهم ضروری ده چی د دوی دحکم اطاعت تر هغه حده پوری کول کیږی چی هغه حکم دالله ﷻ خلاف نه وی ، هغوی که اولاد پرکفر او شرك مجبوره کوی نو په دی کی به د دوی اطاعت نه کول کیږی ، لکه چی په حدیث کی دی ، لَاطَاعَةَ لِمَخْلُوْقٍ فِيْ مَعْصِيَةِ الْخَالِقِ (رواه احمدوالحاکم وصححه) یعنی دخالق په نافرمانی کی دچامخلوق فرمانبرداری جائز نه ده.

دا ایت دحضرت سعدبن ابی وقاص ؓ په باره کی نازل سوی دی ، دی په صحابه کرامو کی په هغو لسو حضراتو کی شامل وو کومو ته چی حضور ﷺ په یو وخت دجنتی کیدو خوشخبری ورکړي ده ، کومو ته چی عشره مبشره وایی . دی دخپلی مور ډیر فرمانبردار او هغه ته په راحت رسولو کی ډیر چسپ وو. دده مور حمنه بنت ابی سفیان ته چی کله دا معلومه سوه چی ددی زوی سعد ؓ مسلمان سو، نو دی خوی ته خبرداری ورکی او قسم یی واخستی چی زه به تر هغه پوری خوراك چښاك ونه کړم ترڅو پوری چی ته بیا

دخپل پلار نیکه دین ته ولاړ نه سی او یازه دغه ډول دلوږی تندی څخه مړه نه سم او په ټوله دنیاکی به دهمیشه دپاره دا رسوایی ستاپه سرپاته سی چی ته دخپلی مور قاتل یی (مسلم، ترمذی) دقرآن دی آیت حضرت سعد ﷺ ددی دخبری دمنلو څخه منع کی .

دبغوی په روایت کی دی چی دحضرت سعد ﷺ مور یوه شپه او ورځ او دخینو اقوالو مطابق دری شپی ورځی دخپل قسم مطابق وږی تږی وه ، حضرت سعد ﷺ ورته حاضرسو . د مور محبت او اطاعت پرخپل ځای وو مگر دالله ﷻ دفرمان په مخکی هیڅ نه وه . په دی وجه یی مور ته وفرمایل چی موری ! که ستاپه بدن کی سل روحونه وای او یو یو وتلی او ما ورته کتلی خو هم به می خپل دین نه وای پرینښی اوس ستا خوښه ده که خوراك اوڅښاك کوی اوکه مری په هرحال زه دخپل دین څخه نه سم گرځیدلی . مور دده په دی خبره باندی نا امیده سوه او خوراك یی وکی .

وَمِنَ النَّاسِ مَنْ يَّقُوْلُ اٰمَنَّا بِاللّٰهِ فَاِذَآ اُوْذِيَ فِي اللّٰهِ

او ځینی هغه خلق دی چی وایی مونږ ایمان راوړو په الله بیا چی هرکله ده ته تکلیف ورسیږي په لار دالله کی

جَعَلَ فِتْنَةَ النَّاسِ كَعَذَابِ اللّٰهِ ؕ وَلَئِنْ جَآءَ نَصْرٌ مِّنْ رَّبِّكَ

نو گرځوی دخلقو ازار په شان دعذاب دالله تعالی اوکه ورسیږي مدد ستا د رب دطرف څخه

لَيَقُوْلُنَّ اِنَّا كُنَّا مَعَكُمْ ؕ اَوَلَيْسَ اللّٰهُ بِاَعْلَمَ بِمَا فِيْ صُدُوْرِ

نو وایی مونږ خو تاسی سره یُو ، آیا نه دی الله ښه پوه؟ په هغو چی په سینو دمخلوق کی

الْعٰلَمِيْنَ ۝﴿۱۰﴾ وَلَيَعْلَمَنَّ اللّٰهُ الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا وَلَيَعْلَمَنَّ الْمُنٰفِقِيْنَ ۝﴿۱۱﴾

دی اوخامخابه معلوم کی الله هغه خلق چی ایمان یی راوړی دی او خامخابه معلوم کی هغه خلق چی منافقان دی ،

وَقَالَ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا لِلَّذِيْنَ اٰمَنُوا اتَّبِعُوْا سَبِيْلَنَا وَلْنَحْمِلْ

او وایی کافران ایماندارو ته چی تاسی راځی زمونږ په لاره او مونږ به پورته کو

خَطٰيٰكُمْ ؕ وَمَا هُمْ بِحٰمِلِيْنَ مِنْ خَطٰيٰهُمْ مِّنْ شَيْءٍ ؕ اِنَّهُمْ

ستاسی گناه ، او دوی هیڅ نه سی پورته کولای گناه د دوی ، بیشکه دغه

لَكٰذِبُوْنَ ﴿۱۲﴾ وَلَيَحْمِلُنَّ اَثْقَالَهُمْ وَاَثْقَالًا مَّعَ اَثْقَالِهِمْ

درواغجنان دي ، او خامخا به پورته کي بار خپل او نور بار سره د بار خپل خپله

وَلَيُسْـَٔلُنَّ يَوْمَ الْقِيٰمَةِ عَمَّا كَانُوْا يَفْتَرُوْنَ ﴿۱۳﴾

اوخامخا به د دوي څخه پوښتنه کيږي دقيامت په ورځ دهغو خبرو چي دوي درواغ جوړولې .

تفسير: او ځيني خلق داسي هم دي چي وايي مونږ ايمان راوړي دي په الله ﷻ باندي بياچي کله دوي ته دخداي په لاره کي څه تکليف ورسول سي نو دخلقو تکليف رسول داسي (لوي) ګني لکه دخداي عذاب (په کوم سره چي بنده بالکل مجبوره سي . حال دا دي چي يو مخلوق پرداسي عذاب دسره قدرت نه سي لرلي اوس خو د دوي دا حال دي) او که چيري څه مدد (دمسلمانانو) ستا درب دطرف څخه راسي (مثلاً جهاد وي او په دي کي داسي خلق په لاس راسي) نو (دغه وخت) وايي چي مونږ خو (په دين اوعقيده کي) ستاسي سره وو (يعني مسلمانان وو که څه هم دکفارو دزبردستي په وجه سره دکفارو سره سوي وه ، په دي باندي دحق تعالى ارشاد دا دي چي) ايا الله ﷻ ته ددنيادمخلوق دزړونو خبري معلومي نه دي ؟ (يعني د دوي په زړونو کي ايمان نه وو) او (دا واقعات ځکه کيږي چي) الله ﷻ ايماندار معلوموي او منافقان هم معلوموي او کفار مسلمانانو ته وايي چي تاسي (په دين کي) زمونږ پرلاره راځي او (په قيامت کي) ستاسي ګناه (کوم چي په کفر او معصيت سره وي) زمونږ پر ذمه ده (او تاسي ازاد ياست) حال دا دي چي دا خلق د دوي دګناهونو څخه يوه ذره هم (په دي طور چي دوي ته ورڅخه ازادسي) نه سي اخستي دغه بالکل درواغ خبري کوي او (البته داسي خو به وي چي) داخلق به خپل ګناهونه (پوره پوره) پر خپل ځان بار کي او دخپلو ګناهونو سره څه ګناهونه نور هم (په بارکي او دا هغه ګناهو نه دي دکومو دپاره چي به دوي سبب جوړيدل او په دي ګناه پر دوي دبار کولو سره به اصل ګناهکار هم ازاد نه وي ، غرض دا چي نور سپك نه سوه مګر دوي دهغوي دګمراه کولو په سبب نور زيات درانه سول) او دي خلقو چي ځنګه ځنګه درواغ خبري جوړولې په قيامت کي به د دوي څخه باز پرس (اوبيا پر دي سزا) خامخا وي .

معلومات اومسئلي: وَقَالَ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا ، دکفارو دطرف څخه د اسلام دلار بندولو او دمسلمانانو دغولولو تدبيرونه په مختلفو طريقو سره کيدل کله دزور او زرو په نمائش سره کله په شکونو او شبهو پيدا کولو سره ، په دي آيت کي هم د دوي ديو داسي تدبير ذکر دي ، چي کفارو مسلمانانو ته ويل ، تاسي بي وجهي د اخرت دعذاب دبيري څخه زمونږ په طريقه نه راځي ، خو مونږ ذمه واري اخلو چي که ستاسي خبره رښتني سوه چي زمونږ په طريقه په چليدو سره په اخرت کي عذاب وو نو ستاسي دګناهونو بار به مونږ پورته کړو ، څه عذاب او تکليف چي رسيږي ، مونږ ته به رسيږي پر تاسي به هيڅ نه وي .

دغه ډول دیوه سړي واقعه دسورة نجم په اخري رکوع کي ذکرسوي ده . اَفَرَءَيْتَ الَّذِي تَوَلَّى وَأَعْطَى قَلِيلًا وَأَكْدَى په دې کي ذکردي چي يوه سړي ته دده کافروملګرو داوويل دوکه يې ورکړه چي ته مونږته څه مال اودولت را کړه نو مونږبه دقيامت او اخرت په ورځ ستاعذاب پرخپله ذمه واخلواوتابه خلاص کو ، ده څه ورکول هم شروع کړل ، بیایي بندکړل ، دده دبې وقوفي او دده ددې عبث عمل بیان په سورة نجم کي په تفصیل سره ذکردی .

دغه ډول یوه خبره دکافرانو عامو مسلمانانو ته دلته ذکر ده . دلته الله ﷻ د دوی په جواب کي یوه خودا وفرمایله چي داسي ویونکي بالکل درواغجن دي دوی په قیامت کي ددغو خلقو دګناه هیڅ بارنه سی لوړولی . وَمَا هُم بِحَامِلِينَ مِنْ خَطَايَاهُم مِّن شَيْءٍ إِنَّهُمْ لَكَاذِبُونَ ، یعنی دهغه ځای هیبت ناکه عذاب چي ویني ، د دوی به همت نه وي چي ددغه دپورته کولو دپاره تیارسي ، په دې وجه د دوی دا وعده درواغجنه ده . او په سورة نجم کي دا هم ذکر سوي ده چي که داخلق څه بارلوړولو ته تیار هم سي ، خو دالله ﷻ دطرف څخه به دوی ته اختیار ورنه کړل سي ځکه چي دا قانون دعدل څخه خلاف دي چي دیوه په ګناه کي بل ونیول سي .

دوهمه خبره دا فرمایي چي ددې خلقو دا خبره خو غلطه او درواغ ده چي ستاسي دګناهونو بار به لوړ کړي او تاسي به خلاص کړي ، البته دا به خامخا وي چي ستاسي لمسول او تاسي دحقي لارې څخه دآړولو کوشش کول په خپله یوه لویه ګناه ده ، کوم چي به د دوی دخپلو عملونو دعذاب څخه علاوه پر دوی باندي بار کول کیږي ، دغه ډول به پر دوی دخپلو عملونو هم وبال وي او څوك چي یې لمسولي وي دهغوی هم .

(دګناه دعوت ورکوونکي هم ګناهګار دي دګناه کوونکي چي کوم عذاب وي هغه به دده هم وي)

ددې آیت څخه معلومه سوه چي کوم سړی دبل چاپه ګناه کي د اخته کولو تحریك کوي یاپه ګناه کي دده مدد کوي هغه هم داسي مجرم دی لکه څنګه چي دا ګناه کوونکی دی . په یو حدیث کي کوم چي دحضرت ابوهریره ؓ او انس بن مالك ؓ څخه روایت دی ، داسي دي چي نبي کریم ﷺ فرمایلي دي، کوم سړی چي دهدایت طرف ته خلق بولي نو څومره خلق چي دده ددعوت په وجه سره په هدایت عمل کوي ددې ټولو دعمل ثواب به ددې بلونکي په عملنامه کي هم لیکل کیږي ، بغیر ددې څخه چي دعمل کوونکو په اجر او ثواب کي څه کمي وسي او کوم سړی چي دڅه ګمراهي او ګناه طرف ته بلنه کوي نو څومره خلق چي دده په وینا په دغه ګمراهي کي اخته کیږي ددغو ټولو ګناه او وبال به پر دغه سړي هم پریوزي ، بغیر ددې څخه چي ددغو خلقو په ګناه او وبال کي څه کمي وسي (مسلم عن ابي هریره ؓ وابن ماجه عن انس ؓ) (قرطبي)

وَلَقَدْ أَرْسَلْنَا نُوحًا إِلَىٰ قَوْمِهِ فَلَبِثَ فِيهِمْ أَلْفَ سَنَةٍ إِلَّا خَمْسِينَ عَامًا فَأَخَذَهُمُ

او مونږ ولیږی نوح دده قوم طرف ته بیا پاته سو په هغوی کي زرکاله مګر پنځوس کاله کم ، بیاونیول هغه

الطُّوفَانُ وَهُمْ ظَالِمُونَ ﴿١٤﴾ فَأَنجَيْنَاهُ وَأَصْحَابَ السَّفِينَةِ

طوفان او دوی ګناهګار وو ، بیا محفوظ کي مونږ دی ، او کښتي والا ووته

وَجَعَلْنٰهَآ اٰيَةً لِّلْعٰلَمِيْنَ ﴿۱۵﴾ وَاِبْرٰهِيْمَ اِذْ قَالَ لِقَوْمِهِ اعْبُدُوا

او کړه مونږ دغه کښتئ نښانه دمخلوق دپاره ، او ابراهيم عليه السلام هرکله چې وويل ده خپل قوم ته عبادت کوئ

اللّٰهَ وَاتَّقُوْهُ ۚ ذٰلِكُمْ خَيْرٌ لَّكُمْ اِنْ كُنْتُمْ تَعْلَمُوْنَ ﴿۱۶﴾ اِنَّمَا تَعْبُدُوْنَ

دالله او بيره کوئ دهغه څخه ، دا غوره ده ستاسي په حق کې که تاسي پوهيږئ ، تاسي عبادت کوئ ،

مِنْ دُوْنِ اللّٰهِ اَوْثَانًا وَّتَخْلُقُوْنَ اِفْكًا ۚ اِنَّ الَّذِيْنَ تَعْبُدُوْنَ

دالله تعالى څخه ما سوا ددغو بتانو ، او جوړوئ درواغ خبرې ، بيشکه دکومو چې تاسي عبادت کوئ

مِنْ دُوْنِ اللّٰهِ لَا يَمْلِكُوْنَ لَكُمْ رِزْقًا فَابْتَغُوْا عِنْدَ اللّٰهِ الرِّزْقَ

دالله تعالى څخه ماسوا دغه مالکان نه دي ستاسي د رزق پس لټوئ دالله تعالى سره رزق

وَاعْبُدُوْهُ وَاشْكُرُوْا لَهٗ ۚ اِلَيْهِ تُرْجَعُوْنَ ﴿۱۷﴾ وَاِنْ تُكَذِّبُوْا فَقَدْ

او دهغه عبادت کوئ او دهغه حق منئ ، دهغه طرف ته به بيرته شئ ، او که تاسي مادرواغجن کې نو

كَذَّبَ اُمَمٌ مِّنْ قَبْلِكُمْ ۚ وَمَا عَلَى الرَّسُوْلِ اِلَّا الْبَلٰغُ الْمُبِيْنُ ﴿۱۸﴾

درواغجن کړي دي ډيرو قومونو تاسي څخه مخکې ، اودرسول په ذمه خو بس دا پيغام رسول دی ښکاره.

لنډتفسير: او مونږ نوح (عليه السلام) دده قوم طرف ته (پيغمبر جوړ کې) وليږې ، وروسته هغه په هغوی کې پنځوس کاله کوم زرکاله پاته سو (او قوم يې پو هوی) بيا (هرکله چې په ده هم خلقو ايمان را نه وړی نو) هغوی طوفان ونيول او هغوی لوی ظالمان خلق وه (چې د دومره او ږدی مودی پوهولو هم اثر پر ونه کې) بيا (ددی طوفان راتلو څخه وروسته) مونږ ده ته او کښتئ والو ته (کوم چې دده سره سپاره وه دهغه طوفان څخه) محفوظ کړل او مونږ دا واقعه دټولی دنيادخلقو دپاره (کومو ته چې په تواتر سره خبر ورسيدی) سبب دعبرت جوړکې (چې فکر وکی نو پوهيدای سی چې دحق دمخالفت څه انجام دی) او مونږ ابراهيم (عليه السلام) پيغمبر جوړ کې) وليږې هرکله چې دوی خپل قوم ته (کوم چې بت پرست وه) وفرمايل چې تاسي دالله ﷻ عبادت کوئ او دهغه څخه بيره کوئ (او وبيرېږئ دطريقې دشرك څخه چې محض بی وقوفی ده څکه چې) تاسي خلقوالله ﷻ پريښی دی ، محض بتان (کوم چې بالکل عاجزه او ناکاره دی) عبادت يې کوئ او (د دوی متعلق) درواغ خبرې تراش کوئ (چې په دوی سره زمونږ درزق اوروزگار کار کيږی دا محض درواغ

دی ځکه چې، تاسي خدای پرېږدی او دکومو چې عبادت کوی هغه تاسي ته هيڅ درزق درکولو اختيار نه لري پس تاسي خلق رزق دخدای سره تلاش کوی (يعنی دالله ﷻ څخه يې غواړی مالك درزق هغه دی) او (هرکله چې مالك درزق هغه دی نو) دهغه عبادت کوی او (چونکې اول رزق هم هغه درکړی دی نو) دهغه شکر کوی (يو خو سبب دوجوب دعبادت دا دی چې هغه مالك دنفع دی) او (دوهم سبب دا دی چې هغه مالك دضرر هم دی ، چنانچې) تاسي ټول به دهغه طرف ته ځی (هغه وخت به پرکفرتاسي ته سزادرکړی) او که تاسي (په دی خبرو کی) ما درواغجن ګڼی نو (ياد ساتی چې زما هيڅ ضرر نسته) ستاسي څخه مخکی هم ډيرو امتونو (خپل پيغمبران) دروغجن کړی دی (مګر ددغو پيغمبرانو هيڅ ضرر نه دی سوی) او (وجه ددی دا ده چې) دپيغمبر پرذمه خو صرف (دخبری) په صاف طور سره رسول دی (په چايي منل دهغه کار نه دی ، نو دټولو پيغمبرانو دتبليغ څخه وروسته غاړه ازاده سوه ، دغه ډول زما هم ، پس مونږ ته هيڅ ضرر نسته ، البته منل يې ستاسي پر ذمه واجب وه ، دهغه په پاته کولو سره ستاسي ضرر خامخا وسی)

معلومات اومسئلې : په تيرو آيتونو کی دکفارو دمخالفت او د دوی دازارونو رسولو بيان وو کوم چې مسلمانانو ته رسيږی ، په دی آيتونو کی په دغه ډول واقعاتو نبی کريم ﷺ ته دتسلی ورکولو دپاره دتيرو پيغمبرانو اوددوی دامتونو دځينوبيان دی چې دپخواڅخه دا سلسله هدايت والاووته دکافرانو دطرف څخه تکليفونه رسيدل جاری دی . مګر ددی تکليفونو په وجه سره دوی هيڅکله همت نه دی بايللی ، په دی وجه ته هم دکفارو دتکليفونو رسولو پرواه مه کوه اوخپل درسالت فرض په مضبوطی سره ادا کوه او کار کوه .

په تيرو پيغمبرانو کی دټولو څخه اول يې دحضرت نوح ﷺ قصه ذکر کړه اول خو په دی وجه سره چې هغه دټولو څخه اولنی پيغمبر دی ، کوم ته چې دکفر او شرك مقابله ورپيښه سوه ، دوهم په دی وجه هم چې څومره تکليفونه ده ته دخپل قوم څخه رسيدلی دی ، هغه بل پيغمبر ته نه دی رسيدلی ، ځکه چې الله ﷻ دوی ته داوږد عمر ورکولو خاص امتياز ورکړی وو. او ټول عمر يې دکفارو دطرف څخه په تکليفونو برداشت کولو کی تير سوی وو. دده عمر چې په قرآن کريم کی کوم نهه سوه پنځوس ۹۵۰ کاله ذکر دی ، هغه خو قطعی او يقينی دی . په ځينو روايتونو کی دا هم دی چې دا عمر دتبليغ او دعوت زمانه ده او ددی څخه مخکی او دطوفان څخه وروسته يې دنور عمر ذکر دی . والله تعالی اعلم

په هرحال دومره اوږد عمر پرله پسی په دعوت او تبليغ کی تيرول او دهر تبليغ او دعوت په وخت کی دکفارو دطرف څخه قسم قسم ازارونه ، وهل ټکول ، غاړی خپه کول زغمل او ددی ټولو باوجود هيڅکله همت نه بايلل دا ټول دحضرت نوح ﷺ خصوصيات دی .

دوهمه قصه دحضرت ابراهيم ﷺ ذکر فرمايي کوم چې دلويو لويو سختو امتحانونو څخه تير سوی دی. دنمرود اور، بيا دشام څخه هجرت کول په يو وچ اوبی اوبو اوګياه ميدان کی قيام ، بيا دزوی دذبح کولو واقعه وغيره ، دحضرت ابراهيم ﷺ دقصی په ضمن کی دحضرت لوط ﷺ او دده دامت واقعات او تر اخر دسورة پوری دنورو ځينو انبياوو عليهم السلام او د دوی دسر کښو امتونو دحالاتو سلسله دا ټول دنبی

کریم ﷺ او د امت محمدي دتسلي دپاره او دوی ددین پرکار دثابت قدم ساتلو دپاره بیان سوی دی.

أَوَلَمْ يَرَوْا كَيْفَ يُبْدِئُ اللَّهُ الْخَلْقَ ثُمَّ يُعِيدُهُ إِنَّ ذَٰلِكَ

آیا دوی نه گوری چي څنګه پیداکوی الله ﷻ اول وار بیا به یې واپس کوی دا په

عَلَى اللَّهِ يَسِيرٌ ﴿١٩﴾ قُلْ سِيرُوا فِي الْأَرْضِ فَانْظُرُوا كَيْفَ بَدَأَ

الله تعالی آسانه ده ، ته ووایه په ملک کی وګرځی بیا وګوری چی څنګه

الْخَلْقَ ثُمَّ اللَّهُ يُنْشِئُ النَّشْأَةَ الْآخِرَةَ إِنَّ اللَّهَ عَلَىٰ كُلِّ شَيْءٍ

شروع کړي دي الله پیدائش ،، بیا به یی الله پیداکوی په دوباره پیداکولو بیشکه الله تعالی په هر څه

قَدِيرٌ ﴿٢٠﴾ يُعَذِّبُ مَنْ يَشَاءُ وَيَرْحَمُ مَنْ يَشَاءُ وَإِلَيْهِ تُقْلَبُونَ ﴿٢١﴾

قادري دی ، عذاب به ور کی چا ته چی غواړي او رحم به وکړی په چا چی غواړی او هغه طرف ته به واپس سی ،

وَمَا أَنْتُمْ بِمُعْجِزِينَ فِي الْأَرْضِ وَلَا فِي السَّمَاءِ وَمَا لَكُمْ مِنْ

او تاسی نه یاست عاجز کوونکي په مځکه کي او نه په آسمان کي ، او نسته ستاسی

دُونِ اللَّهِ مِنْ وَلِيٍّ وَلَا نَصِيرٍ ﴿٢٢﴾ وَالَّذِينَ كَفَرُوا بِآيَاتِ اللَّهِ

دالله څخه ما سوا خوک حمایت کوونکي او نه مددګار ، او کوم خلق چی منکران سول دالله دخبرو څخه

وَلِقَائِهِ أُولَٰئِكَ يَئِسُوا مِنْ رَحْمَتِي وَأُولَٰئِكَ لَهُمْ عَذَابٌ أَلِيمٌ ﴿٢٣﴾

او دهغه درسیدو څخه دوی نا امیده سوي دي ، زما د رحمت څخه او د دوی دپاره دردناک عذاب دی.

لنډتفسیر: آیاهغه خلقو ته دا معلومه نه ده چی الله ﷻ څه رنګه مخلوق اول وار پیدا کوی (دمحض عدم څخه یی وجود ته راوړی) بیابه هغه دوی دوباره پیداکوی دا دالله ﷻ په نزد ډیره اسانه خبره ده (بلکه په اول نظر کی دوباره پیداکول د اول پیدائش څخه زیات اسان دی که څه هم دذاتی قدرت په اعتبار سره دواړه برابر دی او دا خلق د اولنی کار یعنی دالله ﷻ دخالق کائنات کیدو خو اعتراف کوی ، په وجه ددی قول دالله ﷻ څخه . وَلَئِنْ سَأَلْتَهُمْ مَنْ خَلَقَ السَّمَاوَاتِ الخ ، او دوهمه خبره یعنی دوباره پیدا کول ددیٔ په مثل دی ، ددی په قدرت کی دا خلیدل خو نور هم واضح دی ، په دی وجه . أَوَلَمْ يَرَوْا ، ددی سره هم متعلق کیدای سی

او په زیات اهتمام سره مخ ته بیا دا مضمون څه قدر دعنوان په تفاوت سره د اوریدو دپاره حضور ﷺ ته ارشاد فرمایي چي؛ ته «دی خلقو ته» ووایه چي تاسی خلق په ملك کی وګرځی او وګوری چي خدای ﷻ مخلوق څنګه په اول وار پیدا کړی دی بیابه یی الله ﷻ دوباره هم پیدا کوی بیشکه الله ﷻ پر هرڅه قادر دی «په اول عنوان کی یو عقلی دلیل دی او په دوهم عنوان کی حسی ، چي تعلق یی دکائناتو دحالاتو دمشاهدی سره دی ، دا خو دقیامت اثبات وو ، مخ ته دجزا بیان دی چي وروسته دپورته کیدو څخه» چاته چي وغواړی عذاب به ورکی «یعنی څوك چي ددی مستحق وی» اوپه چاچي غواړی رحمت به وفرمایی «یعنی څوك چي ددی اهل وی» او «په دی عذاب اورحمت کی به دهیچا دخل نه وی ځکه چي» تاسی ټول به هغه ته بیرته ورځی «نه دا چي دبل چاطرف ته» او «ددی عذاب څخه دمحفوظ کیدو هیڅ تدبیر نسته» تاسی نه په مځکه کی «پټیدای سی خدای» عاجزه کولی سی «چي دهغه په لاس به ورنه سی» او نه آسمان ته «الوتی سی» او نه دخدای څخه ماسوا ستاسی څوك کارساز سته او نه څوك مددګار «نو نه په خپل تدبیر خلاصیدای سی نه دبل په حمایت سره» او «لوړ چي مونږ کوم وویل . يُعَذِّبُ مَنْ يَشَاءُ . اوس په قاعده کلیه سره ددی مصداق ښیي چي» کوم خلق دخدای ﷻ دایتونو اوخاص دده مخ ته دورتلو څخه منکره دی هغه خلق «په قیامت کی» زما درحمت څخه به نا امیده وی «یعنی هغه وخت به ووینی چي په مونږ کی د «رحمت خای نسته» او هم دا دی چي کومو ته به دردناك عذاب وی .

فَمَا كَانَ جَوَابَ قَوْمِهٖٓ اِلَّآ اَنْ قَالُوا اقْتُلُوْهُ اَوْ حَرِّقُوْهُ

پس هیڅ جواب نه وو دده دقوم مګر دا چي وې ویل دی مر کی یا یی وسوزی

فَاَنْجٰىهُ اللّٰهُ مِنَ النَّارِ ؕ اِنَّ فِیْ ذٰلِكَ لَاٰیٰتٍ لِّقَوْمٍ یُّؤْمِنُوْنَ ﴿۲۴﴾

پس محفوظ کی الله دی د اور څخه ، په دی کی لوی نښانی دی دهغه قوم دپاره چي ایمان راوړی ،

وَقَالَ اِنَّمَا اتَّخَذْتُمْ مِّنْ دُوْنِ اللّٰهِ اَوْثَانًا ۙ مَّوَدَّةَ

او وویل ابراهیم ﷺ کوم چي تاسی نیولی دی ماسوا دخدای ﷻ څخه بتان پس دوستی کوی

بَیْنِكُمْ فِی الْحَیٰوةِ الدُّنْیَا ۚ ثُمَّ یَوْمَ الْقِیٰمَةِ یَكْفُرُ بَعْضُكُمْ

په خپل مینځ کی ددنیا په ژوند کی ، بیا به په ورځ دقیامت منکر سی ځینی

بِبَعْضٍ وَّيَلْعَنُ بَعْضُكُمْ بَعْضًا ۡ وَّمَاْوٰىكُمُ النَّارُ وَمَا

دخينو شخه او لعنت به کوی خيني په خينو او خای ستاسی اور دی او نه به وی

لَكُمْ مِّنْ نّٰصِرِيْنَ ﴿۲۵﴾ فَاٰمَنَ لَهٗ لُوْطٌ ۘ وَقَالَ اِنِّيْ مُهَاجِرٌ اِلٰى

هيخوک تاسی لره مدد گار ، بيا ومنی دی لوط ﷺ اوهغه وويل زه خو وطن پريږدم خپل

رَبِّيْ ؕ اِنَّهٗ هُوَ الْعَزِيْزُ الْحَكِيْمُ ﴿۲۶﴾ وَوَهَبْنَا لَهٗۤ اِسْحٰقَ وَيَعْقُوْبَ

رب طرف ته ، بيشکه هغه زبردست دی حکمت والا ، او ور کی مونږ ده ته اسحاق او يعقوب

وَجَعَلْنَا فِيْ ذُرِّيَّتِهِ النُّبُوَّةَ وَالْكِتٰبَ وَاٰتَيْنٰهُ اَجْرَهٗ فِي

او کښيښو وی مونږ ده په اولاد کی پيغمبری اوکتاب او ورکی مونږ ده ته ددی ثواب

الدُّنْيَا ۚ وَاِنَّهٗ فِي الْاٰخِرَةِ لَمِنَ الصّٰلِحِيْنَ ﴿۲۷﴾

په دنيا کي ، او هغه په آخرت کی خامخا دنيکانو شخه دی .

تفسير: وروسته (دابراهيم ﷺ ددی تقرير دلپذير څخه وروسته) دده دقوم (اخری) جواب بس دا وو چی (په خپل مينځ کی) يی وويل دی يې ياخو قتل کی يايی وسوزی (هم دارنگه دسوزلو اسباب يی ورته تيارکړل) وروسته الله ﷻ دی ددې اور څخه محفوظ کړئ (چی قصه يې په سورة انبياء کی تيره سوې ده) بيشکه په دی واقعه کی دهغه خلقو دپاره کوم چی ايمان لری ډيری نښی دی (يعنی دا واقعه دڅو شيانو دليل دی دالله ﷻ دقادروالی د ابراهيم ﷺ دنبی کيدو ، دکفر اوشرك دباطل کيدلو ، په دی وجه دا يو دليل د ډيرو دليلونو قائمقام سو) او ابراهيم (ﷺ په وعظ کی دا هم) وفرمايل چی تاسی کوم خدای پرينبی دی بتان مو (معبودان) جوړ کړی دی بس دا ستاسی په خپل مينځ کی ددنيا دتعلقاتو په وجه سره دی (هم دارنگه ليدل کيږی چی اکثره خلق دخپلو تعلقاتو او دوستی او قربيانو پرطريقه وی او په دی وجه سره په حقه خبره کی فکر نه کوی او که په حق پوه سی هم بيريږی چی تول دوستان او قربيان به راڅخه جلا سی) بيا به په ورځ دقيامت (ستاسی دا حال وی چی) په تاسی کی به يو دبل مخالف سی اوپر يو بل به لعنت کوی (لکه چی په سورة اعراف کی دی ، لَعَنَتْ اُخْتَهَا ، او په سورة سبا کی دی چی . يَرْجِعُ بَعْضُهُمْ اِلٰى بَعْضِ نِ الْقَوْلَ ، او په سورة بقره کی دی . اِذْ تَبَرَّاَ الَّذِيْنَ اتُّبِعُوْا الخ ، لنده دا چی نن دکومو دوستانو او خپلوانو په وجه تاسی گمراهی اختيارکړي ده دقيامت په ورځ به ستاسی دا خپلولی دښمنی جوړه سی) او (که تاسی ددی بت

پرستی څخه بیرته واپس نه سی نو) ستاسی ځای به دوږخ وی او ستاسی به هیڅوك حمایتی نه وی وروسته په دومره وعظ او پند باندی هم دده قوم ونه منله) صرف لوط (ﷺ) دده تصدیق وکی او ابراهیم (ﷺ) وفرمایل چی زه (ستاسی خلقو سره نه اوسیږم بلکه) دخپل پروردګار (دښوول سوی ځای) طرف ته وطن پریږدم څم ، بیشکه هغه زبردست حکمت والا دی (هغه به زما حفاظت کوی اوماته به ددی ثمره راکی) او مونږ (دهجرت څخه وروسته) ده ته اسحاق (زوی) اویعقوب (لمسی) ورکی اومونږ دده په نسل کی دنبوت اوکتاب (سلسلی) قائمی وساتل اومونږ ددی فائده ده ته په دنیاکی هم ورکړه اوپه اخرت کی هم (دلویی درجی) په نیکو بندګانو کی به وی (ددی فائدی څخه مراد قرب اوقبول دی ، لکه داقول دالله ﷻ دی ، په سورة بقره کی . وَلَقَدِ اصْطَفَيْنٰهُ فِي الدُّنْيَا الخ)

معلومات او مسئلي : فَاٰمَنَ لَهٗ لُوْطٌ وَقَالَ اِنِّيْ مُهَاجِرٌ اِلٰى رَبِّيْ " حضرت لوط ﷺ دحضرت ابراهیم ﷺ دخور زوی وو . دنمرود په اور کی چی یی دحضرت ابراهیم ﷺ معجزه ولیده نو دټولو څخه اول دی مسلمان سو ، دی او د دوی بی بی حضرت ساره رضی الله عنها کومه چی دده داکا لور هم وه او مسلمانه سوی وه ، دا دواړه یی دځان سره کړل . حضرت ابراهیم ﷺ دوطن څخه دهجرت اراده وکړه . د دوی وطن مقام کوثاوو ، کوم چی دکوفی یو کلی دی او وي فرمایل . اِنِّيْ مُهَاجِرٌ اِلٰى رَبِّيْ، یعنی زه خپل وطن پریږدم دخپل رب طرف ته څم، مراد دا دی چی یو داسی طرف ته څم کوم ځای چی درب په عبادت کی بندیز نه وی .

حضرت نخعی ﷫ او قتاده ﷫ د . اِنِّيْ مُهَاجِرٌ ویونکی حضرت ابراهیم ﷺ مقرر کړی دی ځکه چی ددی څخه وروسته وَوَهَبْنَا لَهٗ اِسْحٰقَ وَيَعْقُوْبَ ، خویقینًاد دوی دحال بیان دی اوځینی مفسرین فرمایی چی اِنِّيْ مُهَاجِرٌ،یې دحضرت لوط ﷺ قول مقررکړی دی دلند تفسیرترجمه ددی مطابق ده مګرپه راتلونکی کلام سره اولنی قول راجح معلومیږی اوحضرت لوط ﷺ که څه هم په دی هجرت کی شریك خامخاوو مګرلکه څنګه چی هغه دحضرت ابراهیم ﷺ تابع وو ، دغه دول دحضرت لوط ﷺ دهجرت ذکرهم جلانه کیدل څه بعیده نه ده

(په دنیاکي دټولو څخه اولني هجرت)

حضرت ابراهیم ﷺ اول پیغمبر دی کوم چی ددین دپاره وطن پریښی دی او هجرت یی وکی ، د دوی دا هجرت دپنځو اویا ۷۵ کالو په عمر کی سوی دی . (دا ټول بیان دقرطبی څخه را اخستل سوی دی)

(دخپنو عملونو جزاپه دنیاکي هم ورکول کیږي)

وَاٰتَيْنٰهُ اَجْرَهٗ فِي الدُّنْيَا. یعنی مونږ دحضرت ابراهیم ﷺ دالله ﷻ په لاره کی دقربانیو اودنوررونیکوعملونو جزا په دنیاکی هم ورکړه چی دی موپه ټول مخلوق کی مقبول اوامام جوړکی ، یهودیان، نصرانیان اوبت پرست ټول دده عزت کوی اوخپل پیشوا یی منی اوپه اخرت کی به هغه دصالحانوجنتیانوڅخه وی ددی څخه معلومه سوه چی دعملونو اصل جزا خوبه په اخرت کی ورکول کیږی مګرڅه برخه یی په دنیاکی نقده هم ورکول کیږی ، لکه چی په معتبرو احادیثو کی دډیرو ښو عملونو دنیوی فائدی او دبدو عملونو د دنیوی فسادونو بیان راغلی داسی عملونه حضرت حکیم الامت په یوه مستقله رساله ، جزاء الاعمال ، کی جمع کړی دی .

وَلُوطًا إِذْ قَالَ لِقَوْمِهِ إِنَّكُمْ لَتَأْتُونَ الْفَاحِشَةَ مَا سَبَقَكُم بِهَا

او ومو لیږی لوط علیه السلام کله چې یې وویل خپل قوم ته تاسی را تلل کوئ دبې حیایی کار ته تاسی څخه مخکې نه دی

مِنْ أَحَدٍ مِّنَ الْعَالَمِينَ ﴿٢٨﴾ أَئِنَّكُمْ لَتَأْتُونَ الرِّجَالَ

کړي دي دا چا په مخلوق کی ، آیا تاسی را تلل کوئ سړونه

وَتَقْطَعُونَ السَّبِيلَ وَتَأْتُونَ فِي نَادِيكُمُ الْمُنكَرَ

او تاسی لاری شکوی ، او کوئ په خپلو مجلسونو کې نا کاره کارونه

فَمَا كَانَ جَوَابَ قَوْمِهِ إِلَّا أَن قَالُوا ائْتِنَا بِعَذَابِ

بیا څه جواب نه وو دده دقوم ، مگر دا چې وې ویل را وله په مونږ عذاب

اللَّهِ إِن كُنتَ مِنَ الصَّادِقِينَ ﴿٢٩﴾ قَالَ رَبِّ انصُرْنِي

دالله ﷻ که ته یې رښتینی ؟ وې ویل ای زما ربه! زما مدد وکړه

عَلَى الْقَوْمِ الْمُفْسِدِينَ ﴿٣٠﴾ وَلَمَّا جَاءَتْ رُسُلُنَا إِبْرَاهِيمَ

په دې فسادیانو خلقو باندې ، او هر کله چې ورسیدل زمونږ لیږل سوی ابراهیم علیه السلام ته

بِالْبُشْرَىٰ قَالُوا إِنَّا مُهْلِكُو أَهْلِ هَٰذِهِ الْقَرْيَةِ ۖ إِنَّ أَهْلَهَا

دخوشخبری سره ، وې ویل مونږ به هلاکوو ددې کلی خلق بیشکه ددې کلی

كَانُوا ظَالِمِينَ ﴿٣١﴾ قَالَ إِنَّ فِيهَا لُوطًا ۚ قَالُوا نَحْنُ أَعْلَمُ

گناهونه کوی ، وې ویل په دې کی خو لوط علیه السلام هم دی ، هغوی وویل مونږ ته ښه معلوم دی

بِمَن فِيهَا ۖ لَنُنَجِّيَنَّهُ وَأَهْلَهُ إِلَّا امْرَأَتَهُ كَانَتْ مِنَ

څوک چې په دې کې دی ، محفوظ به کړو دی او دده کور والا مگر دده ښځه به

الْغٰبِرِيْنَ ﴿۳۲﴾ وَلَمَّآ اَنْ جَآءَتْ رُسُلُنَا لُوْطًا سِيْٓءَ بِهِمْ

پاته سی کیدونکو کي ، او هرکله چی ورسیدل زمونږ لیږل سوی لوط ﷺ ته نا خوښه سو د دوی په لیدو

وَضَاقَ بِهِمْ ذَرْعًا وَّقَالُوْا لَا تَخَفْ وَلَا تَحْزَنْ قف اِنَّا

او تنګ سو په زړه کی او دوی وویل مه بیریږي او مه غم کوه مونږ

مُنَجُّوْكَ وَاَهْلَكَ اِلَّا امْرَاَتَكَ كَانَتْ مِنَ الْغٰبِرِيْنَ ﴿۳۳﴾

به محفوظ کړو تا او ستا کور والا مګر ستا ښځه به پاته سی په پاته کیدونکو کی

اِنَّا مُنْزِلُوْنَ عَلٰٓى اَهْلِ هٰذِهِ الْقَرْيَةِ رِجْزًا مِّنَ السَّمَآءِ

مونږ نازلوونکی یو په دی کلي والا وو باندی یوافت داسمان څخه

بِمَا كَانُوْا يَفْسُقُوْنَ ﴿۳۴﴾ وَلَقَدْ تَّرَكْنَا مِنْهَآ اٰيَةًۢ بَيِّنَةً لِّقَوْمٍ يَّعْقِلُوْنَ ﴿۳۵﴾

په دی خبره چی هغه نافرمانی کوونکی دی او یښی ده مونږ ددې ښښانه لیدونکی دهو ښیارانو خلقو دپاره .

تفسیر: او مونږ لوط (ﷺ) پیغمبر جوړ کی ولیږی هرکله چی ده خپل قوم ته وفرمایل چی تاسی داسی دبی حیایی کار کوی چی ستاسی څخه مخکی چا په دنیاکی دجهان په خلقو کی هیچانه دی کړی آیا تاسی دسړو سره بد کاری کوی (دا دبی حیایی کار دی) او (ددی څخه علاوه نور نامعقوله حرکتونه هم کوی مثلاً دا چی) تاسی ډاکی کوی (لکه چی په دڑ کی دی د ابن زید څخه) او (غضب دا دی چی) په خپلو دکو مجلسونو کی نامعقوله حرکتونه کوی (او دګناه اعلان دا په خپله یوه ګناه او دعقل قباحت دی) وروسته دده دقوم (اخری) جواب بس دا وو چی په مونږ دالله ﷻ عذاب راوله که ته (په دی خبره کی) رښتنی یی (چی دا کارونه موجب دعذاب دی) لوط (ﷺ) دعا وکړه چی ای زمار به ماپه دی فساد کوونکو خلقو باندی غالب (او دوی په عذاب سره هلاك) کړی او (دده ددعادقبلیدو څخه وروسته الله ﷻ دعذاب دخبر ورکولودپاره ملائکی معینی کړی او دوهم کار یی دی ملائکو ته داوښوی چی ابراهیم ﷺ ته د اسحاق ﷺ دپیداکیدو خوشخبری ورکی هم دارنګه) زمونږ (هغه) لیږل سوی ملائکی کله ابراهیم (ﷺ) ته (دده دزوی اسحاق ﷺ دپیدا کیدو) خوشخبری راوړه راغلی نو (دخبرو اترو په درمیان کی دکومو تفصیلی بیان چی په نورو مواقعو باندی دی . قَالَ فَمَا خَطْبُكُمْ اَيُّهَا الْمُرْسَلُوْنَ الخ) هغو ملائکو (ابراهیم ﷺ ته) وویل چی مونږ ددی کلی دخلقو (په کوم کی چی قوم دلوط ﷺ اباد وو) هلا کولو والا یو (ځکه چی) ددغه ځای

اوسیدونکی ډیر شرارت کوونکی دی ، ابراهیم (ﷺ) وفرمایل چی هلته خولوط (ﷺ هم موجود) دی (هلته عذاب مه لیږی چی هغه ته به تکلیف ورسیږی) ملائکو وویل چی ښوك ښوك هلته دی مونږ ته ټول معلوم دی ، مونږ به دی او دده خاص متعلقین (یعنی دده دخاندان خلق او کوم چی مومنان وی ددی عذاب ښخه خلاص کړو (داسی چی دعذاب نازلیدو ښخه مخکی به دوی دکلی ښخه دباندی وباسو) بغیر دهغه دبی بی ښخه چی هغه به په عذاب کی دپاته کیدونکو سره وی (دکومو ذکر چی په سورة هود او سورة حجر کی تیر سوی دی ، دا خبری خو د ابراهیم ﷺ وسوی) او (بیاچی ددغه ځای ښخه فارغی سوی) هرکله چی زمونږ هغه لیږل سوی لوط (ﷺ) ته ورسیدی نولوط (ﷺ) د دوی (دراتلو) په وجه سره (ښکه) غمجن سو (چی هغوی دډیر ښائسته ځوانانو په شکل کی راغلی وی او لوط ﷺ دوی انسانان ګڼل او دخپل قوم دنامعقوله حرکت خیال سو ورسره) او (په دی وجه) د دوی (دراتلو) په سبب زړه تنګی سو او (ملائکو چی هرکله دا حال ولیدی نو) هغه ملائکو وویل (ته دغه خبری) فکرمه کوه او مه غمجن کیږه (مونږ انسانان نه یو بلکه دعذاب ملائکی یو لکه دا قول دالله ﷻ . اِنَّارُسُلُ رَبِّكَ. او ددی عذاب ښخه) مونږ به تا او ستا خاص متعلقین خلاص کړو ، بغیر ستا دبی بی ښخه چی هغه به په عذاب کی دپاته کیدونکو سره به وی (او تابه سره دمتعلقینو ددی ښخه خلاص کړو) مونږ ددی کلی پر (باقی) اوسیدونکو باندی یو آسمانی عذاب (دمخکی ښخه علاوه په طبعی اسبابو سره) د دوی دبد کاریو په سزاکی نازلوونکی یو (هم دارنګه هغه کلی سرچپه کړل سوه او دغیبی ډبرو باران باندی وسو) او مونږ ددغه کلی ښه ظاهری نښانی (تر اوسه) پری اینښی دی ، دهغو خلقو د (عبرت د) پاره کوم چی عقل لری (نو دمکی خلق چی شام ته په سفرځی په دغو خرابو کنډوالو تیریږی اوکوم چی دعقل خاوندان وه ، هغوی نفع هم ورښخه اخسته چی بیریدل به اوایمان به یی راوړی)

معلومات اومسئلي : وَلُوطًااِذْقَالَ لِقَوْمِهٖٓ اِنَّكُمْ لَتَاْتُوْنَ الْفَاحِشَةَ. دلته حضرت لوط ﷺ دخپل قوم دخلقو د دری سختو ګناهونو ذکر کړی دی اول دسړی دسړی سره بد فعلی ، دوهم لاری شکول ، یعنی پرمسافرانو ډاکی اچول ، دریم په خپلو مجلسونو کی په ډاګه دټولو په مخکی ګناه کول . قرآن کریم ددی دریمی ګناه تعین نه دی کړی . ددی ښخه معلومه سوه چی هره ګناه کوم چی په خپل ذات کی ګناه ده ، که هغه په ډاګه په بی پرواهی سره کول کیږی نو دا دوهمه مستقله ګناه سی ، دغه هر ښه ګناه چی وی ، ښینو امامانو دتفسیر دلته هغه ګناهونه شمار کړی دی کوم چی به هغه بی حیاوو په خپلو مجلسونوکی دټولو په مخکی کول ، مثلاً چی ښوك به پرلاره تلل هغه به یی په ډبرو ویشتل او مسخری به یی ور پوری کولی ، لکه چی د ام هانئ په یو حدیث کی ددی ذکر دی او ښینی حضرات فرمایی چی کومه بی حیایی د دوی مشهوره وه هغه به دوی په پټه نه په ښکاره مجلسونو کی دیو بل په مخکی کوله . نعوذ بالله .

دکومو دریو ګناهونو چی په دی آیت کی ذکر دی ، په دی ټولو کی سخته اوله ګناه ده ، کوم چی د دوی ښخه مخکی په دنیاکی هیچانه وه کړی او دځنګل حیوان هم ددی ښخه ځان ساتی ، د امت په اتفاق سره دا ګناه دزنا ښخه زیاته سخته ده (کذا فی الروح)

وَإِلَىٰ مَدْيَنَ أَخَاهُمْ شُعَيْبًا فَقَالَ يَٰقَوْمِ اعْبُدُوا اللَّهَ

اولیږلی مو وه مدین ته د دوی ورور شعیب (ع) ، پس ده وویل ای قومه ! بندګی کوئ دالله

وَارْجُوا الْيَوْمَ الْآخِرَ وَلَا تَعْثَوْا فِي الْأَرْضِ مُفْسِدِينَ ﴿٣٦﴾

او امید ساتئ د ورځې دآخرت او مه ګرځئ په مځکه کې فساد خوروونکي ،

فَكَذَّبُوهُ فَأَخَذَتْهُمُ الرَّجْفَةُ فَأَصْبَحُوا فِي دَارِهِمْ جَاثِمِينَ ﴿٣٧﴾

بیا دوی دروغجن کړ هغه پس ونیول دوی زلزلې بیا سهار ته سول په خپلو کورونو کې نسکو پراته ،

وَعَادًا وَثَمُودَا وَقَد تَّبَيَّنَ لَكُم مِّن مَّسَٰكِنِهِمْ وَزَيَّنَ لَهُمُ

او هلاک مو کړل عادیان او ثمودیان او په تاسې حال ښکاره سوی دی دهغوی د کورونو ، او ښائسته کړې وو دوی ته

الشَّيْطَٰنُ أَعْمَٰلَهُمْ فَصَدَّهُمْ عَنِ السَّبِيلِ وَكَانُوا مُسْتَبْصِرِينَ ﴿٣٨﴾

شیطان د دوی کارونه بیایې بند کړل دوی دلارې څخه او دوی وه هوښیاران ،

وَقَٰرُونَ وَفِرْعَوْنَ وَهَٰمَٰنَ وَلَقَدْ جَآءَهُم مُّوسَىٰ بِالْبَيِّنَٰتِ

او هلاک مو کړل قارون او فرعون او هامان او دوی ته راغلی وو موسی (ع) دښکاره نښانو سره

فَاسْتَكْبَرُوا فِي الْأَرْضِ وَمَا كَانُوا سَٰبِقِينَ ﴿٣٩﴾ فَكُلًّا أَخَذْنَا

بیادوی تکبر وکی په مځکه کې او نه وو زمونږ ګټه کوونکي ، بیاتوله ونیول مونږ

بِذَنۢبِهِۦ ۖ فَمِنْهُم مَّنْ أَرْسَلْنَا عَلَيْهِ حَاصِبًا وَمِنْهُم مَّنْ

په خپله خپله ګناه ، بیاځینې د دوی څخه وو چې ولیږل مونږ په دوی دبرې ورول په هوا سره ، او ځینې وو چې

أَخَذَتْهُ الصَّيْحَةُ وَمِنْهُم مَّنْ خَسَفْنَا بِهِ الْأَرْضَ وَمِنْهُم مَّنْ

نیول مونږ په چغه سره ، او ځینې وو چې دوی ننه ایستل مونږ په مځکه کې او ځینې وو چې

أُغْرِقْنَا ۚ وَمَا كَانَ اللّٰهُ لِيَظْلِمَهُمْ وَلٰكِنْ كَانُوْٓا أَنْفُسَهُمْ يَظْلِمُوْنَ ﴿۴۰﴾

ډوب کړل مونږ، او الله تعالی داسې نه وو چې ظلم پرې وکي، لیکن وو په خپل ځان ظلم کوونکي،

مَثَلُ الَّذِيْنَ اتَّخَذُوْا مِنْ دُوْنِ اللّٰهِ أَوْلِيَآءَ كَمَثَلِ الْعَنْكَبُوْتِ ۚ

مثال دهغو خلقو چې نیولي يې دي ما سوا دخدای ﷻ څخه نور مددګاران په شان دجولاګۍ

اِتَّخَذَتْ بَيْتًا ۚ وَإِنَّ أَوْهَنَ الْبُيُوْتِ لَبَيْتُ الْعَنْكَبُوْتِ ۘ

جوړ کړی يې دی ده یو کور او په ټولو کوروونو کی بې کاره کور دجولاګۍ کور دی

لَوْ كَانُوْا يَعْلَمُوْنَ ﴿۴۱﴾ إِنَّ اللّٰهَ يَعْلَمُ مَا يَدْعُوْنَ مِنْ دُوْنِهٖ مِنْ

که دوی پوهیدی، الله تعالی ته معلوم دي کومو کومولره چې دوی رابولي ما سوا دهغه څخه

شَيْءٍ ۚ وَهُوَ الْعَزِيْزُ الْحَكِيْمُ ﴿۴۲﴾ وَتِلْكَ الْأَمْثَالُ نَضْرِبُهَا لِلنَّاسِ ۚ

څه شي او هغه زبردست دي حکمتونو والا، او دا مثالونه بیانوو مونږ دخلقو دپاره

وَمَا يَعْقِلُهَآ إِلَّا الْعٰلِمُوْنَ ﴿۴۳﴾ خَلَقَ اللّٰهُ السَّمٰوٰتِ وَالْأَرْضَ بِالْحَقِّ ۚ

او په دی هغه پوهیږي چې عالمان وی، الله تعالی پیداکړی دي آسمانونه او مځکه ځکه چې يې غوښتل

إِنَّ فِيْ ذٰلِكَ لَاٰيَةً لِّلْمُؤْمِنِيْنَ ﴿۴۴﴾

په دی کی نښاني دی دیقین کوونکو دپاره.

لنډتفسیر: او دمدین والؤ ته مونږ د دوی (دبرادری) ورور شعیب (علیه السلام) پیغمبر جوړ کی ولیږی، وروسته دوی وفرمایل چې ای زماقومه دالله ﷻ عبادت کوی (او شرک پرېږدی) او دقیامت دورځې څخه وبیرېږی (او انکار يې مه کوی) او په مځکه کی فساد مه خپر وی (یعنی حقوق الله او حقوق العباد مه ضائع کوی، ځکه چې هغه خلق دکفر او شرک سره دکم تول اوکم ناپ هم عادت وو. چې په دی سره فساد غورول ښکاره وو) وروسته هغو خلقو شعیب (علیه السلام) دروا غجن کی، وروسته زلزلې دوی ونیول، بیاهغوی په خپلو کوروونو کی نسکور پاته سول، او مونږ عادیان او ثمودیان هم (د دوی دعناد او خلاف په وجه سره) هلاك کړل او دا هلاکیدل تاسی ته د دوی د اوسیدو دمقاماتو څخه په نظر راځی (چې ددغو ورانو کلیو کنډرونه

تاسی ته چی شام ته ځی په نظر راځي) او (حالت دهغوی دا وو چې) شيطان د دوی (بد) عملونه د دوی په نظر کې ښائسته کړی وو او (په دې ذريعه يې) دوی د (حقې) لارې څخه منع کړې وه او هغه خلق (داسې) هو ښیاران وه (لیونی اوبې وقوفه نه وه ، مګر دلته دوی دخپل عقل څخه کار وانه خستې) اومونږ قارون او فرعون اوهامان هم (د دوی دکفر په سبب) هلاك كړل او هغو (درو سره) ته موسیٰ (ﷺ) ښکاره دليلونه (دحق) راوړي وه بیاهغو خلقو په مځکه کې سرکښي وکړه او زمونږ (دعذاب) څخه يې تيښته ونه سوه نو مونږ (په دې پنځو کې) هريو د دوی دګناه په سزاکې ونيوی وروسته په دوی کې پرځينو مونږ سخته هوا راوليږله (مراد ددې څخه قوم دعاد دی) اوپه دوی کې ځيني يې په هيبتناك اواز سره يخ کړل (مراد ددې څخه قوم دثمود دی ، په وجه ددې قول دالله ﷻ په سورة هود کې. وَاَخَذَ الَّذِينَ ظَلَمُوا الصَّيْحَةُ) او په دوی کې ځيني مونږ په مځکه کې ننه ايستل (مراد ددې څخه قارون دی) او په دوی کې ځينو مونږ (په اوبو کې) ډوب کړل (مراد ددې څخه فرعون او هامان دی) او (پردې خلقو چې کوم عذاب نازل سو نو) الله ﷻ داسې نه وو چې په دوی يې ظلم کوی (يعني چې بې وجهي يې سزا ورکړه کومه چې په ظاهره دظلم مشابه ده . که څه هم په واقع کې په خپل ملك کې دتصرف کولو په وجه سره دا هم ظلم نه وو) ليکن دې خلقو (شرارتونه کول) په خپلو ځانونو يې ظلم کوی (چې ځانونه يې دعذاب مستحق جوړ کړل او هلاك سول نو خپل نقصان يې په خپله وکی) کومو خلقو چې دخدای څخه ماسوا نور کار جوړونکي تاکلي دي ددغو خلقو مثال په شان دجولاګي دی کوم چې يو کور جوړ کې او بيشکه چې په ټولو کورونو کې زيات بې كاره دجولاګي کور دی (وروسته لکه څنګه چې دی جولاګي په خپل خيال ځان ته دپناه ځای جوړ کړی دی مګر په واقع کې دا دپناه ځای د انتهايي کمزوري په سبب دنست برابر دی دغه ډول دا مشرکان خلق خپل باطل معبودان په خپل ګمان خپله پناه ګڼي مګر په واقع کې دغه هيڅ پناه نه ده) که دوی (په حقيقت حال باندې) پوهيدې نو داسې به يې نه کول (يعني شرك به يې نه کوی ، ليکن دوی نه پوهيږي نو څه وسوه) الله ﷻ (خو) ددې ټولو شيانو (په حقيقت او ضعف) پوه دی دکومو کومو چې هغه خلق دخدای څخه ماسوا عبادت کوی (پوروسته دا شيان خو نهايت ضعيف دي) او دی (په خپله يعني الله ﷻ) زبردست حکمت والادی (چې حاصل يې په قوت علمي او عملي کې کامل کيدل دي) او (چونکې مونږ ددې شيانو حقيقت پيژنو په دې وجه) مونږ دا (قراني) مثالونه (په کومو کې چې يو مثال پر دې مقام ذکر دی) دخلقو د (پوهولو د) پاره بيانوو او (په دې مثالونو سره په کار وه چې ددې خلقو جهل په علم سره بدل سوی وای مګر) په دې مثالونو باندې صرف علم والا پوهيږي (برابره خبره ده که بالفعل عالم وی يا دانجام په اعتبار سره ، يعني دعلم او حق طالب وی او دا خلق عالمان هم نه دي او طالبان هم نه دي ، په دې وجه په جهل کې اخته اوسيږي ليکن د دوی په جهل سره حق به حق وی کوم چې خدای پيژني او په خپل بيان سره يې ظاهر وی ، وروسته ثابته سوه چې غيرالله مستحق دعبادت نه دی . مخ ته دالله ﷻ دعبادت دمستحق کيدو دليل دی چې) الله ﷻ آسمانونه اومځکې په مناسب طور سره جوړ کړی دی (هم دارنګه هغه يې تسليموی) د ايماندارو دپاره په دې کې (دده دمستحق کيدو

دعبادت لوی دلیل دی .

معلومات او مسئلې : په دې ایتونو کې چې دکومو انبیاؤ علیهم السلام او د دوی دقومونو واقعات اجمالاً بیان سوی دی هغه په تیرو سورتونو کې په تفصیل سره راغلې دی ، مثلاً دحضرت شعیب ﷺ قصه په سورة اعراف اوسورة هود کې دغه ډول دعاد او ثمود قصه هم په اعراف او هود کې تیره سوي ده . او دقارون او فرعون او هامان قصه په سورة قصص کې اوس تیره سوه .

وَكَانُوا مُسْتَبْصِرِينَ ° د استبصار څخه مشتق دی کوم چې دبصیرت په معنی کې دی اومُسْتَبْصِر په معنی دمُبْصِر. مراد دا دی چې دا خلق کوم چې لوی کفر او شرك کوی ، په عذاب کې او په هلاکت کې اخته سول ، څه بې وقوفه یالیونی نه وه ، ددنیا په کارونو کې ډیر مبصر او هوښیار وه ، مګر د دوی عقل او هوښیارتیا په دې مادی دنیا کې بند پاته سوه ، دا یې ونه پیژنده چې دنیکو اوبدو دجزا اوسزا یوه ورځ راتلونکې په کار ده په کومه کې چې به مکمل انصاف وی څکه چې په دنیا کې خو اکثره مجرمان ظالمان ، خوندونه او چرچې کوی ګرځي او مظلوم او مصیبت زده مجبوری وی ، ددغه انصاف دورځې نوم قیامت او اخرت دی ددی په معالمه کې د دوی عقل کوته دی .

دا مضمون په سورة روم کې هم مخ ته راتلونکې دی . يَعْلَمُونَ ظَاهِرًا مِنَ الْحَيَاةِ الدُّنْيَا وَهُمْ عَنِ الْآخِرَةِ هُمْ غَافِلُونَ، یعنی دا خلق ددنیا دژوند په کارونو خو ښه پوه دی ، مګر د اخرت څخه غافله دی .

او ځینی دتفسیر امامان د . وَكَانُوا مُسْتَبْصِرِينَ ، معنی دا ښیی چې دا خلق په ایمان او اخرت باندی په زړه سره خو یقین لری او حق والی یې ښه ګڼی ، مګر دنیوی غرضونو دوی په انکار مجبوره کړی وه .

وَإِنَّ أَوْهَنَ الْبُيُوتِ لَبَيْتُ الْعَنْكَبُوتِ ،عنکبوت جولاګی ته ویل کیږی ددی مختلف قسمونه دی ، ځینی په دی کی په مځکه کورونه جوړوی په ظاهره هغه دلته مراد نه دی ، بلکه مراد هغه جولاګی دی کوم چې دتارونو څخه جاله جوړ وی او په هغه کې ژوړند اوسیږی او ددغه جالی په ذریعه مچان ښکار کوی ، دا ظاهره ده چې دحیوانانو څومره قسمونه چې جالی اوکورونه یې مشهور دی ، په هغه کی دا دتارونو جاله دټولو څخه کمزوری ده چې په معمولی هوا باندی پرهکیږی ، په دی آیت کی دغیر الله دعبادت کوونکو او پر دوی د اعتماد کوونکو مثال یې دجولاګی دهغه جالی سره ورکړی دی کومه چې ډیره کمزوری ده ، دغه ډول خلق چې دالله ﷻ څخه ماسوا په بتانو یابل انسان وغیره باندی اسره کوی دهغوی اسره داسی ده لکه داجولاګی چې دخپلی جالی پردی تارونو اسره کوی .

مسئله : دجولاګی دوژلو او دده دجالی دصفا کولو متعلق دعلماؤ اقوال مختلف دی . ځینی حضرات دا نه خو ښوی څکه چې دا حیوان دهجرت په وخت کې دغارِ ثور په خله باندی دجالی جوړولو په وجه سره قابل احترام سوی دی ، لکه چې خطیب دحضرت علی کرم الله وجهه څخه دده دقتل دممانعت روایت کړی دی . مګر ثعلبی او ابن عطیه دحضرت علی کرم الله وجهه څخه دا روایت نقل کړی دی . طَهِّرُوا بُيُوتَكُمْ مِنْ نَسْجِ

الْعَنْكَبُوتِ لَوْ كَانُوا يَعْلَمُونَ. یعنی د جولاګي د جالو څخه خپل کورونه صفا ساتي، ځکه چې ددې په پرتنونو سره فقر او فاقه پیداکیږي. سند ددې دواړو روایتونو قابل اعتماد نه دی او په نورو روایتونو کې د نورو احادیثو څخه یې تائید کیږي. په کومو کې چې د کورونو او دیوالونو د صفا ساتلو حکم دی (روح المعاني)

وَتِلْكَ الْأَمْثَالُ نَضْرِبُهَا لِلنَّاسِ وَمَا يَعْقِلُهَا إِلَّا الْعَالِمُونَ - د مشرکانو د خدایانو د کمزورۍ مثال د جولاګي د جالې سره د ورکولو څخه وروسته دا ارشاد فرمايي چې موږ په داسې داسې واضحو مثالونو سره د توحید حقیقت بیانوو، مګر په دې مثالونو سره هم پوهه صرف د دین عالمانو ته حاصلیږي، نور خلق فکر نه کوي چې حق دوی ته واضح سي.


(دالله ﷻ په نزد عالم څوک دی؟)

امام بغوي په خپل سند سره د حضرت جابر رضی الله عنه څخه روایت کړی دی چې نبي کريم ﷺ ددې آیت تلاوت وفرمایی نو وې فرمایل چې عالم هغه څوک دی کوم چې دالله ﷻ په کلام کې فکر کوي او په طاعت یې عمل کوي او ددې د ناراضه کوونکو څیزو څخه ځان ساتي.

ددې څخه معلومه سوه چې دقرآن او حدیث محض په الفاظو پوهیدو باندې دالله ﷻ په نزد څوک عالم کیدای نه سي، تر څو چې په قرآن کریم کې فکر او عادت جوړ نه کړي او ترڅو پورې چې خپل عمل دقرآن کریم مطابق جوړ نه کړي.

په مسند احمد رحمه الله کې د حضرت عمرو بن عاص رضی الله عنه څخه روایت دی چې ما د نبي کريم ﷺ څخه یو زر مثالونه زده کړي دي ابن کثیر ددې د نقل کولو څخه وروسته لیکي چې دا د حضرت عمرو بن عاص رضی الله عنه ډیر لوی فضیلت دی، ځکه چې الله ﷻ په دې ذکر سوي آیت کې عالم هغه چاته فرمایلی دی کوم چې دالله ﷻ او د رسول الله ﷺ په بیان کړي مثالونو باندې پوهیږي.

او حضرت عمرو رضی الله عنه بن مرة فرمایي چې کله زه د قرآن کریم یو ایت نه وو سیږم چې زما په فکر کې رانه سي نو زما سره ډیر غم وي ځکه چې الله ﷻ فرمایي. وَتِلْكَ الْأَمْثَالُ نَضْرِبُهَا لِلنَّاسِ وَمَا يَعْقِلُهَا إِلَّا الْعَالِمُونَ (ابن کثیر)



شلمه پاره ختمه سوه

تفسیر معارف القرآن د نصیر احمد احمدي لخوا سکین او pdf سو. د دعا په مېله احمدي ! واتساپ ۰۷۴۹۸۴۹۵۶۹

تفسیر

معارف القرآن

په قندهاري پښتو کي

(تالیف)

مفتی اعظم پاکستان مولانا محمد شفیع رحمة الله عليه

پښتو ترجمه کوونکي (ابو صدیق احمد .... مولوی نصیر احمد حقانی)

تصحیح اوسمون... مولوی نصیر احمد (حقانی) اومولوی آمین الله (حقانی)

دکمپوز او ترجمي چارې .... الدین العلم کمپوزنگ (۰۳۰۱۳۷۸۴۹۵۶)

پاره (۲۱)

خپرونکي

مکتبه حنفیه

فون نمبر (۲۶۶۲۵۱۰)

کانسي روډ حاجي غیبي چوک کوئټه

چاپ ځای .... لاهور

مضمون	فهرست تفسیر معارف القرآن	صفحہ

سورة لقمان ۷۰

﴿سورة الاحزاب﴾ ۱۲۰

اُتْلُ مَآ اُوْحِيَ اِلَيْكَ مِنَ الْكِتٰبِ وَاَقِمِ الصَّلٰوةَ ؕ اِنَّ الصَّلٰوةَ

ته ووایه کوم چې نازلیږي تاته دکتاب څخه اوقائم ساته لمونځ بیشکه لمونځ

تَنْهٰى عَنِ الْفَحْشَآءِ وَالْمُنْكَرِ ؕ وَلَذِكْرُ اللّٰهِ اَكْبَرُ ؕ وَاللّٰهُ يَعْلَمُ مَا تَصْنَعُوْنَ ۝۴۵

منع کوي دبې حیایی اودناکاره خبرو څخه اودالله تعالی یاددې دټولو څخه لوی او الله ﷻ خبردی په هغوچې تاسې کوی

لنډتفسیر: (ای محمد ﷺ چونکې ته رسول یې په دې وجه) کوم کتاب چې پرتاوحې کړل سوی دی (دتبلیغ دپاره) دا (دخلقو په مخکې) ووایه (او دقولي تبلیغ سره عملي تبلیغ هم کوه چې ددین کار د دوی په مخکې کوه ، دوی ته یې ښیه خاصکر) دلمانځه پابندی ساته (ځکه چې په ټولو عملونو کې لمونځ لوی عبادت هم دی او اثار یې هم ډېر لیری رسیدونکی دی چې) بیشکه لمونځ (دخپلې وضع په اعتبار سره) دبې حیایی او ناکاره کارونو څخه منع کول کوي (یعنی دحال په ژبه سره وایي چې ته دکوم معبود انتهایي تعظیم کوي او دفرمانبرداری اقرار یې کوی ، په بې حیایی او ناکاره کارونو کې ستا اخته کېدل دهغه په ډول کې بې ادبی ده) او (دغه ډول دلمانځه څخه ماسوا چې څومره نور نیک کارونه دی ، دټولو پابندی مناسب ده ، ځکه چې هغه ټول قولاً یا فعلاً د الله ﷻ یاددی) او دالله ﷻ یاد ډېر لوی شی دی او (که تاسې دالله ﷻ په یادوکې غفلت کوی ، نو دا هم واوری چې) الله ﷻ ستاسې ټول کارونه پیژني (څه چې کوي هغسې به درکول کیږي)

معلومات اومسئلې: اُتْلُ مَآ اُوْحِيَ اِلَيْكَ ، په تیرو آیتونو کې دځو انبیاؤ او دهغوی د امتونو ذکرو چې په کې دځو لویو لویو سرکښو کافرانو او پر هغوی دقسم قسم عذابونو بیان وو چې په هغه کې نبی کریم ﷺ او د امت مومنانو ته تسلی هم وه ، چې تیرو انبیاو دمخالفینو دلاسه څومره تکلیفونه تیرکړی دی اوصبریې کړی دی ، او ددی تلقین په کې هم وو چې دتبلیغ او دعوت په کار کې په هیڅ حال همت بایلل نه دی په کار.

(دخلقو د اصلاح جامع اومختصره نسخه)

په ذکر سوی آیت کې نبی کریم ﷺ ته دعوت الی الله یوه لنډه جامع نسخه ښودل سوي ده چې په دې باندې په عمل کولو سره په پوره دین دعمل کولو لاری خلاصیدای سی او ددی په لاره کې چې عادتاً کوم بندیزونه پیښیږي هغه لیری کیدای سی . ددې اکسیری نسخې دوه جزونه دی یو دقرآن تلاوت ، دوهم دلمونځ په پابندی سره قائم ساتل ، او دلته اصل مقصود خو دا دی چې خلق ددی دواړو پابنده سی لیکن دترغیب او تاکید دپاره یې ددې دواړو شیانو حکم اول په خپله نبی کریم ﷺ ته ورکړی دی چې د امت په دې عمل کولو ته زیات خواهش پیدا سی او دنبی کریم ﷺ په عملی تعلیم سره دوی ته په خپله عمل کول هم آسان سی .

په دې کې دقرآن تلاوت خو دټولو کارونو روح او اصل بنیاد دی ، د دې څخه وروسته دوهم شی لمونځ قائمول دی کوم چې یې دنورو ټولو فرضو او عملونو څخه دممتاز کولو او بیانولو دا حکمت هم بیان کې چې لمونځ په خپله په خپل ذات کې هم ډېر لوی اهم عبادت او ددین ستن ده . د دې سره ددې دا فائده هم ده

چي څوك لمونځ قائم ساتي نو لمونځ دی دبی حیایی اوبدو کارونو څخه منع کوی . فحشا ، هر داسي بدکار یاخبری ته ویل کیږي ، دکومی بدوالي چي ښکاره وي او داسي ښکاره وي چي هر دعقل خاوند که مومن وي اوکه کافر ، بد یی گڼی ، لکه زنا ، ناحق قتل ، غلا ، ډاکه وغیره ، او منکر هغه قول یافعل دی دکوم په حرام والي اوناجائز والي چي دشریعت دخاوندانو اتفاق وی . په دی وجه دفقهاؤ امامانو په اجتهادی اختلاف کي یو جانب ته منکر نه سی ویلای .

دفحشاء او منکر په دوو لفظونو کي ټول جرمونه او ښکاره او باطنی گناهونه راغلل کوم چي په خپله هم سراسر فساد دی او په نیکو عملونو کي دټولو څخه لوی بندیز هم دی .

(دلمانځه دټولو گناهونو څخه دمنع کولو مطلب)

دډیرو مستندو احادیثو په روسره دامطلب دی چي دلمانځه په قائم ساتلو کي خاص تاثیر دی څوك چي ادا کوی دگناهونو څخه خلاصیږي په دی شرط سره چي صرف لمونځ کول نه وي بلکی دقرآن دالفاظو مطابق لمونځ قائمول وی داقامت لفظی معنی سیده درول دی چي یوطرف ته په کی کوږوالي نه وی ، په دی وجه داقامت صلوٰة مطلب دا سو چي لمونځ دټولو ښکاره اوباطنی ادابو سره داسي ادا کړی څنګه چي نبی کریم ﷺ په عملی طور سره ادا کړی ښوولی دی او ټول عمر یی ددي زبانی تلقین هم فرمایلي دی چي بدن جامی او دلمانځه ځای په مکمل طور سره پاك هم وی ، بیادلمانځه دجماعت پوره اهتمام هم او دلمانځه ټول کارونه دسنتو مطابق جوړول هم ، دا خو ښکاره اداب دی ، باطنی دا چي په مکمله خشوع او خضوع سره داسي د الله ﷻ په مخکی ولاړوی چي گویا دی دالله ﷻ سره عرض معروض کوی ، دغه ډول لمونځ قائمونکی ته دالله ﷻ دطرف څخه خودبخوده دنیکو عملونو توفیق هم کیږي او دهر قسم گناهونو څخه دخلاصیدو توفیق هم ، اوکوم سړی چي دلمانځه کولو باوجود دگناهونو څخه محفوظ نه سو نو پوه دی سي چي دده په لمانځه کي قصور دی ، لکه چي دعمران بن حصین ؓ څخه روایت دی چي دنبی کریم ﷺ څخه پوښتنه وسوه چي د. انَّ الصَّلاةَ تَنْهٰى عَنِ الْفَحْشَاءِ وَالْمُنْكَرِ، څه مطلب دی ؟ دوی وفرمایل . مَنْ لَمْ تَنْهَهُ صَلَاتُهُ عَنِ الْفَحْشَاءِ وَالْمُنْكَرِ فَلَاصَلٰوةَ لَهُ، «رواه ابن ابی حاتم بسنده عم عمران بن حصین ؓ والطبرانی من حدیث ابی معاویه» یعنی کوم سړی چي دده لمونځ دفحشاوو اومنکرو څخه منع نه کړی ، نو دده لمونځ هیڅ هم نه دی . او دحضرت عبدالله بن مسعود ؓ څخه روایت دی چي نبی کریم ﷺ فرمایلی ، لَاصَلٰوةَ لِمَنْ لَمْ يُطِعِ الصَّلٰوةَ، «رواه ابن جریر بسنده» یعنی دهغه سړی لمونځ لمونځ نه دی چاچي دخپل لمونځ اطاعت ونه کي او دلمانځه اطاعت دا دی چي دفحشاؤ او منکرو څخه منع سی .

او حضرت ابن عباس ؓ د ذکرسوی آیت په تفسیر کي فرمایی چي دکوم سړی لمونځ دی په نیکو عملونو باندي عمل ته او دمنکراتو څخه پرهیز ته تیارنه کړی نو داسی لمونځ دی د الله ﷻ څخه زیات لیری کوی ابن کثیر دا دری سره روایتونه نقل کړی دی او ترجیح یی دی ته ورکړي ده چي دا احادیث مرفوع نه دی ، بلکی دعمران بن حصین ؓ . عبدالله بن مسعود ؓ او ابن عباس ؓ خپل قولونه دی کوم چي دی حضراتو

ددې آيت په تفسير کې ارشاد فرمايلې دی .

او دحضرت ابوهريره ﷺ څخه روايت دی چې يو سړی دنبی کريم ﷺ په خدمت کې حاضر سو او عرض يې وکی چې فلانی سړی دشپې تهجد کوی او کله چې سهار سي نو غلا کوی ، دوی وفرمايل چې ډېر ژر به يې لمونځ ددغه غلا څخه منع کړی (ابن کثير)

په ځينو روايتونو کې داهم دی چې دنبی کريم ﷺ ددی ارشادڅخه وروسته هغه دخپلې گناه څخه توبه گار سو .

(ديوی شبهې ځواب)

دلته ځينی خلق دا شبهه کوې چې مونږ ډېرخلق وينو چې دلمانځه دپابندی باوجود په لويو لويو گناهونو کې اخته وی ، کومه چې په ښکاره ددې آيت د ارشاد څخه خلاف ده .

ددی په ځواب کې ځينی حضرات خو دا فرمايي چې ددې آيت څخه دومره معلوميږي چې لمونځ ، لمونځ کوونکی دگناهونو څخه منع کوي ليکن دا څه ضروري ده چې يو څوك ديوکارڅخه منع سي اوهغه ورڅخه منع هم نه سی ، آخر قرآن او حديث خو ټول خلق دگناه څخه منع کوی ، مگر ډېر خلق دغه منع کولو ته گر سره گوری نه او دگناه څخه نه منع کيږي په ذکرسوی لنډ تفسير کې هم دا توجيه اخستل سوي ده .

مگر اکثره مفسرين حضرات فرمايي چې دلمانځه دمنع کولو مطلب صرف حکم ورکول نه دی ، بلکی په لمانځه کې په خاص طور سره دا اثر هم دی چې ددی کوونکی ته دگناهونو څخه دخلاصيدو توفيق نصيب کيږي ، اوچاته چې دا توفيق نه کيږي ، نو په سوچ کولو سره به ثابته سي چې دده په لمانځه کې څه خلل وو اولمونځ قائمولو حق ده نه دی ادا کړی ، په ذکر سوو احاديثو کې ددی مضمون تائيد کيږي .

وَلَذِكْرُ اللّٰهِ اَكْبَرُ وَاللّٰهُ يَعْلَمُ مَا تَصْنَعُوْنَ . يعنی دالله ﷻ ذکر ډېر لوی دی او هغه ستاسی ټول عملونه ښه پيژنی .

دلته د ذکرالله دا مطلب هم کيدای سي چې بنده دالله ﷻ کوم ذکر په لمانځه کې يادلمانځه څخه دباندی کوي هغه ډېر لوی شی دی او دا معنٰی هم کيدای سي چې بنده کله دالله ﷻ ذکر کوی نو دالله ﷻ وعده ده چې هغه دخپل ذکر کوونکی بنده ذکر دفرښتو په مجمع کې کوی ، فَاذْكُرُوْنِيْ اَذْكُرْكُمْ ، او دا دی عبادت گذارو بندگانو ته دالله ﷻ يادول دټولو څخه لوی نعمت دی . د ډيرو اصحابو کرامو ﷺ او تابعينو (رح) څخه دلته د ذکرالله د دوهم مطلب په لحاظ سره په دی کې دی طرف ته هم اشاره وسوه چې په لمونځ کولو سره دگناهونو څخه دخلاصون اصل سبب دا دی چې الله ﷻ په خپله دده طرف ته متوجه کيږي ، دده ذکر په فرښتو کې کوي او ددی په برکت سره ده ته دگناه څخه نجات ورکول کيږي .

وَلَا تُجَادِلُوْٓا اَهْلَ الْكِتٰبِ اِلَّا بِالَّتِيْ هِيَ اَحْسَنُ ۖ اِلَّا الَّذِيْنَ

او جنگ مه کوئ داهل کتابو سره مگر په داسی شان سره چې غوره وی ، مگر کوم چې په دوی کی

ظَلَمُوْا مِنْهُمْ وَقُوْلُوْٓا اٰمَنَّا بِالَّذِيْٓ اُنْزِلَ اِلَيْنَا وَاُنْزِلَ اِلَيْكُمْ وَاِلٰهُنَا

بی انصافه دی او داسی وايی چې مونږ منو کوم چې نازل سوی دي مونږ ته او نازل سوي دي تاسی ته اومعبود زمونږ

وَإِلٰهُكُمْ وَاحِدٌ وَّنَحْنُ لَهٗ مُسْلِمُوْنَ ﴿٤٦﴾ وَكَذٰلِكَ أَنْزَلْنَآ إِلَيْكَ الْكِتٰبَ ط

او معبود ستاسی یو دی اومونږ دهغه په حکم چلیږو ، او دغسی مونږ نازل کړی دي تاته کتاب

فَالَّذِيْنَ اٰتَيْنٰهُمُ الْكِتٰبَ يُؤْمِنُوْنَ بِهٖ ۚ وَمِنْ هٰٓؤُلَآءِ مَنْ يُّؤْمِنُ بِهٖ ط

پس هغه خلقوته چی مونږ ورکړي دي کتاب ایمان راوړی په دی او په دوی (مکی والا) کی هم خینی دی چی ایمان راوړی

وَمَا يَجْحَدُ بِاٰيٰتِنَآ إِلَّا الْكٰفِرُوْنَ ﴿٤٧﴾ وَمَا كُنْتَ تَتْلُوْا مِنْ قَبْلِهٖ مِنْ

په دی ، اومنکر هغه دی زمونږ دخبرو څخه چی نافرمانه دی اوتانه وایه ددې څخه مخکې څه

كِتٰبٍ وَّلَا تَخُطُّهٗ بِيَمِيْنِكَ إِذًا لَّارْتَابَ الْمُبْطِلُوْنَ ﴿٤٨﴾ بَلْ

کتاب او نه دی لیکل کول په خپل راسته لاس سره بیا خو به خامخا شک کوی دروغجنانو بلکه

هُوَ اٰيٰتٌۢ بَيِّنٰتٌ فِيْ صُدُوْرِ الَّذِيْنَ اُوْتُوا الْعِلْمَ ط وَمَا يَجْحَدُ

دا قرآن خو آیاتونه دی صفا په سینو دهغو خلقو کی چی علم ورته ورکړل سوي دي ، او انکار نه کوی

بِاٰيٰتِنَآ إِلَّا الظّٰلِمُوْنَ ﴿٤٩﴾ وَقَالُوْا لَوْلَآ أُنْزِلَ عَلَيْهِ اٰيٰتٌ مِّنْ

زمونږ دخبرو څخه مگر هغه چی بی انصافه دی ، او وایی ولی نه نازلیږي په ده باندی څخه نښانی دده

رَّبِّهٖ ط قُلْ إِنَّمَا الْاٰيٰتُ عِنْدَ اللّٰهِ ط وَإِنَّمَآ أَنَا نَذِيْرٌ مُّبِيْنٌ ﴿٥٠﴾

د رب څخه ، ته ووایه نښانی خو دالله تعالی په اختیار کی دی او زه خو بس بیریدونکی یم ښکاره

أَوَلَمْ يَكْفِهِمْ أَنَّآ أَنْزَلْنَا عَلَيْكَ الْكِتٰبَ يُتْلٰى عَلَيْهِمْ ط إِنَّ

آیا دوی ته دا پوره نه ده چی مونږ نازل کړو په تاباندی کتاب چی ویل کیږي په دوی ، بیشکه

فِيْ ذٰلِكَ لَرَحْمَةً وَّذِكْرٰى لِقَوْمٍ يُّؤْمِنُوْنَ ﴿٥١﴾ ع قُلْ كَفٰى بِاللّٰهِ

په دی کی رحمت دی اوپوهه ده دهغو خلقو دپاره کوم چی منی ، ته ووایه کافی دی الله

بَيْنِيْ وَبَيْنَكُمْ شَهِيْدًا ج يَعْلَمُ مَا فِي السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ ط

زما او ستاسی په مینځ کی شاهد پیژنی هغه څخه چی په اسمانونو اومځکو کی دی

وَالَّذِيْنَ اٰمَنُوْا بِالْبَاطِلِ وَكَفَرُوْا بِاللّٰهِ ۙ اُولٰٓئِكَ هُمُ الْخٰسِرُوْنَ ﴿۵۲﴾

او کوم خلق چې یقین کوی په دروغو او منکر سول دالله څخه هم دوی په نقصان کښې دی،

وَيَسْتَعْجِلُوْنَكَ بِالْعَذَابِ ؕ وَلَوْلَآ اَجَلٌ مُّسَمًّى لَّجَآءَهُمُ

او زر غواړی تا څخه عذاب او که نه وی یوه وعده مقرره نو راغلی به وای په دوی

الْعَذَابُ ؕ وَلَيَأْتِيَنَّهُمْ بَغْتَةً وَّهُمْ لَا يَشْعُرُوْنَ ﴿۵۳﴾ يَسْتَعْجِلُوْنَكَ

عذاب ، او خامخا به راسی په دوی ناڅاپه او دوی په خبر نه وی، زر غواړی ستا څخه

بِالْعَذَابِ ؕ وَاِنَّ جَهَنَّمَ لَمُحِيْطَةٌۢ بِالْكٰفِرِيْنَ ﴿۵۴﴾ يَوْمَ يَغْشٰهُمُ

عذاب او دوږخ گروونکي دی منکرانو لره، په کومه ورځ چې گیر کړی

الْعَذَابُ مِنْ فَوْقِهِمْ وَمِنْ تَحْتِ اَرْجُلِهِمْ وَيَقُوْلُ ذُوْقُوْا

دوی عذاب د دوی دپاسه څخه او د دوی دپښو دلاندی څخه او وبه ویل سی چې وڅکی

مَا كُنْتُمْ تَعْمَلُوْنَ ﴿۵۵﴾

هغه چې تاسی کول.

تفسیر: او (هرکله چې دنبی کریم ﷺ رسالت ثابت دی نو ای مسلمانانو! درسالت څخه دمنکرو سره کوم چې اهل کتاب دی تاسی ته دخبرو کولو طریقه ښیو، او دا تخصیص ځکه دی چې اول خو دا په وجه ددی چې دوی عالمان دی خبره اوری او مشرکان خو دخبری اوریدو څخه مخکی په ازار درپسی کیږي ، بل دعالمانو په ایمان راوړو سره دعوامو د ایمان راوړلو زیاته توقع ده ، او هغه طریقه دا ده چې) تاسی د اهل کتابو سره بغیر دمهذبی طریقی څخه بحث مباحثه مه کوی ، البته کوم چې په هغوی کي زیاتوب وکړی (نو هغوی ته دجواب سر په سر ورکولو کی باک نسته ، که څه هم ښه بیاهم ښه طریقه ده) او (هغه مهذبه طریقه دا ده چې مثلاً هغوی ته) داسي وایاست چې مونږ په دی کتاب هم ایمان راوړی دی ، کوم چې پر مونږ نازل سوی دی او په هغو کتابونو هم (ایمان لرو) کوم چې پر تاسی نازل سوی دی (ځکه چې مدار دایمان دالله ﷻ دطرف څخه نازلیدل دی ، وروسته هرکله چې زمونږ دکتاب دالله ﷻ دطرف څخه نازلیدل ستاسو په کتاب سره هم ثابت دی ، بیا تاسی ته په قرآن هم ایمان راوړل په کار دی) او (دا خو تاسی هم منی چې) زمونږ او

ستاسی معبود یو دی (لکه دا قول دالله ﷻ چی ، اِلٰی کَلِمَةٍ سَوَآءٍ بَیْنَنَا الخ، هرکله چي توحید متفق علیه دی او دخپلو عالمانو او شیخانو په وجه سره په نبی اخر زمان ﷺ ایمان نه راوړل دتوحید خلاف دی نو تاسی ته زمونږ په نبی ﷺ ایمان را وړل په کار دی ، لکه دا قول دالله ﷻ ، وَلَایَتَّخِذَ بَعْضُنَا الخ) او (ددی خبرو سره خپل مسلمانیدل دخبرداری دپاره ورته واوروی چی) مونږ خو دده فرمانبرداری کوو (په دی کي عقیدی او عملونه ټول راغلل ، یعنی داسي تاسی لره هم په کار دی ، هرکله چي مقتضٰی موجود ده ، لکه دا قول دالله ﷻ سو. فَاِنْ تَوَلَّوْا فَقُوْلُوا اشْهَدُوْا بِاَنَّامُسْلِمُوْنَ) او (لکه څنګه چي مونږ پرمخکنیو پیغمبرانو کتابونه نازل کړی دی) دغه ډول مو پر تا کتاب نازل کړی (چی ددي پربنا مونږ په احسنه طریقه سره دمجادلی تعلیم وکی) وروسته کومو خلقو ته چي مونږ (د) کتاب (نفعمندی یاپوهه) ورکړي ده هغوی په دی (ستا په) کتاب ایمان راوړی (او دغو سره دمجادلی نوبت هم کله کله پیښیږی) او په دی (اهل عربو مشرکانو) خلقو کي هم ځینی داسي (انصاف کوونکی) دی چي په دی کتاب کي ایمان راوړی (برابره خبره ده که په خپله باندي پوه سي یادعالمانو په ایمان راوړو سره دلیل ونیسی) او (ددلیلونو واضح کیدو څخه وروسته) زمونږ (ددی کتاب) دایتونو څخه بغیر د (ضدیانو) کافرانو څخه نور څوك انکار نه کوي (لوړ دمجادلی تقریر نقلی دلیل وو چي په دی سره خاص نقل کوونکو ته خطاب وو. مخکي دلیل عقلي دی چي په دی کي عام خطاب دی یعنی) او (کوم خلق چي ستادنبوت څخه منکردی ، دهغوی سره څه منشاء د اشتباه خو هم نسته ځکه چي) تا ددي کتاب څخه (یعنی قرآن څخه) مخکی نه څه کتاب ویلی وو اونه څه کتاب دی په خپل لاس سره لیکلی سوای چي په داسي حالت کي دی حق ناشناسو څه شبهه را ایستلی وي (چي دا تعلیم یافته سړی دی آسمانی کتابونه ګوری او دهغو په مدد سره دی سوچ کوي مضامین په وزګار وخت کي لیکی او یادوی یی مونږ ته یې اوروی ، یعنی که داسي وای نو بیا خو به د اشتباه څه منشاء وای ، که څه هم بیابه هم داشبهه کوونکی پرناحقه وو، ځکه چي دقرآن اعجاز بیاهم پرنبوّت باندي ددلالت کولو دپاره کافي وو، لیکن اوس خو دومره منشاء داشتباه هم نسته په دی وجه په دی کتاب کي هیڅ دشك ګنجائش نسته) بلکی دا کتاب (سره دیووالی ، چونکی هره برخه ددي معجزه ده اوحصی یی ډېری دی په دی وجه دا یوازي ګویا) په خپله ډېر واضح دلیلونه دی ، دهغو خلقو په ذهن کي کومو ته چي علم ورکول سوی دی او (سره دښکاره کیدو داعجاز) زمونږ دایتونو څخه بس ضدیان خلق انکار کوي (کنه نوانصاف کوونکو لره یوه ذره شبهه کول نه دی په کار) او دا خلق (سره ددي چي دقرآن معجزه ورته ورکول سوي ده ، محض دعناد په وجه) داسي وایی چي په دی (پیغمبر) باندي دده درب دطرف په قبضه (دقدرت) کي دی او (زما داختیارشیان نه دی) زه خو صرف یو صفاصفا (دالله دعذاب څخه) بیرونکی یم (یعنی رسول یم، او په خپل رسالت دلیلونه لرم په کومو کی چي دټولو څخه لوی دلیل قرآن دی بیا دخاص دلیل ضرورت څه دی ؟ خاص کر کله چي ددغه په نه واقع کیدو کي حکمت هم وي مخ ته دقرآن دلوی دلیل والی فرمایی) آیا (دنبوت ددلیل دپاره)

دی خلقو دا خبره پوره نه سوه چي مونږ په تا دا کتاب (معجز) نازل کړی کوم چي دوی ته (همیشه) اورولای سي (چي که په یو وار اوریدو سره ورته اعجاز ښکاره نه سي نو په دوهم وار به ښکاره سي یاددی څخه وروسته به ښکاره سی ، او په نورو معجزو کي خو به دا خبره هم نه وه ، ځکه چي دهغه خارق والی به همیشه نه وو لکه چي ښکاره ده او یو ترجیح په دی معجزه کي دا دی چي) بیشکه په دی کتاب کي (دمعجزی کیدو سره) د ایمان راوړونکو دپاره لوی رحمت او نصیحت دی (رحمت دا چي د احکامو تعلیم دی کوم چي محض نفع ده او نصیحت په ترغیب او ترهیب سره دی او دا خبره په نورو معجزو کي چیري ده وروسته په کار وه چي په دی ترجیحاتو سره یی دا غنیمت ګڼلی او ایمان یی راوړلی اوکه ددي دلیلونو دواضحه کیدو څخه وروسته هم ایمان نه راوړی نو د اخری ځواب په طور باندی) ته ووایه چي (خیر ورونو می منئ) الله ﷻ زما اوستاسو په مینځ کي (زمادرسالت) شاهد کافي دی هغه په هرڅه پوه دی کوم چي په آسمانونو کي دی او په مځکه کي دی او (کله چي زمارسالت او دالله علم محیط ثابت سو نو) کوم خلق چي د دروغو په خبرو یقین کوي او دالله ﷻ (دخبرو) څخه منکر دی (په کومو کی چي رسالت هم دا خل دی) نو هغه خلق لوی زیانکاره دی (یعنی هرکله چي دالله په ارشاد سره زما رسالت ثابت دی نو انکار ورڅخه کفر په الله دی ، او دالله علم محیط دی نوده ته ددی انکار اوکفر هم خبر دی اوالله ﷻ پرکفر باندي سزا دخساری ورکوی ، وروسته داسي خلق به لامحاله په خساره کي وی) او دا خلق ستاڅخه دعذاب (واقع کیدو تقاضاکوی) (او فوراً په عذاب نه راتلو سره ستاپه نبوت او رسالت کي شبهه او انکار کوی) اوکه چیری (په علم الهی کي دعذاب راتلو دپاره) میعاد معین نه وای نو (د دوی په تقاضاسره) پردوی به عذاب راغلی وای او (کله چي دغه میعادراسی نو) هغه عذاب به پر دوی ناڅاپه راسی او دوی ته به خبر هم نه وي (مخ ته ددی خلقو دجهالت د اظهار دپاره د دوی تلواری مکرر ذکر کوی ، دعذاب دمعین میعاد او په هغه کي دراپیښیدونکی عذاب ذکر کوی چي) داخلق ستا څخه دعذاب تقاضا کوي او (دعذاب صورت داسي دی چي) په دی کي هیڅ شك نسته چي جهنم به داکافران (دڅلور طرف څخه) ګیر کړی ، په کومه ورځ چي به پر دوی عذاب د دوی دلوړ څخه او د دوی دلاندی څخه ګیر کړی او (دغه وخت به دوی ته) الله ﷻ وفرمایی چي څه تاسی (په دنیا کي) کړی دی (اوس یی خوند) وڅکی.

معلومات اومسئلي : وَلَاتُجَادِلُوْا اَهْلَ الْكِتَابِ اِلَّا بِالَّتِي هِيَ اَحْسَنُ اِلَّا الَّذِيْنَ ظَلَمُوْا ، یعنی داهل کتابو سره چي دبحث او مباحثی نوبت راسی نو مجادله هم په داسي طریقه ورسره کوي کومه چي ښه وی ، مثلاً دسختی خبري ځواب په نرمو الفاظو سره دغصی ځواب په بردباری سره دجاهلانه شور زوږ ځواب په باوقاره خبرو سره، اِلَّاالَّذِيْنَ ظَلَمُوْا، مګرهغه خلق کوموچي پرتاسی ظلم وکی چي ستاسی دباوقاره نرموخبرو اوواضحو دلیلونومقابله یی په ضد اوعناد سره وکړه نو هغوی ددي احسان مستحق پاته نه سول ، بلکی دداسی خلقو ځواب چي سرپه سر ورکړل سي نو جائز دی . که څه هم ښه او بهتره دا وخت هم دا ده چي دهغوی

دبدخویی ځواب په بدخویی سره او دظلم ځواب په ظلم سره ورنه کړی ، بلکی دبدخویی په ځواب کي دښه خوی اودظلم په ځواب کي دانصاف مظاهره وکړی . لکه چي دقرآن کریم په بل آیت کي ددي وضاحت دی .
وَاِنْ عَاقَبْتُمْ فَعَاقِبُوا بِمِثْلِ مَاعُوقِبْتُمْ بِهٖ وَلَئِنْ صَبَرْتُمْ لَهُوَ خَيْرٌ لِلصَّابِرِيْنَ ، یعنی که دظلم او زیاتی بدله تاسی سر پر سر واخلی نو تاسی ته ددي حق سته . لیکن که صبر وکړی نو زیاته غوره ده .
په دی آیت کي چي یی د اهل کتابو سره په مجادله کي کوم هدایت په ښه طریقه دکولو ورکړی دی . دا په سورت نحل کي دمشرکانو متعلق هم دی . دلته د اهل کتابو تخصیص دهغه کلام په وجه دی ، کوم چي ورپسی راروان دی ، چي زمونږ اوستاسی په دین کي ډېر شیان مشترك دی چي تاسی فکر باندي وکړی نو د ایمان او د اسلام په قبلولو کي تاسی ته څه مانع نه دی راتلل په کار ، لکه چي ارشاد فرمایی . قُوْلُوْا آمَنَّا بِالَّذِیْ اُنْزِلَ اِلَیْنَا وَاُنْزِلَ اِلَیْکُمْ ، یعنی تاسی اهل کتابو ته دمجادلی پر وخت د دوی ځان ته دنږدی کولو دپاره ووایاست چي مونږ مسلمانان خو په هغه وحی هم ایمان لرو کومه چي مونږ ته په واسطه زمونږ درسول راليږل سوي ده او په هغه وحی هم کومه چي تاسی ته ستاسو دپیغمبر په ذریعه راليږل سوي ده ، په دی وجه زمونږ څخه دمخالفت هیڅ وجه نسته .

(ایا په دی آیت کي دموجوده تورات او انجیل دتصدیق حکم دی ؟)

په دی آیت کي یی داهل کتابو طرف ته دراغلو کتابونو په تورات اوانجیل باندي دمسلمانانو دایمان ذکر چي په کوم عنوان سره سوی دی هغه دا دی چي مونږ په هغه کتابونو اجمالی ایمان لرو په هغه زمونږ ایمان دی . په دی سره دا نه لازمیږي چي دموجوده تورات او انجیل په ټولو مضامینو زمونږ ایمان دی ، په کومو کي چي دنبی کریم ﷺ په مبارکه زمانه کي هم ډېر تحریفات سوی وه اودهغه وخت څخه تراوسه پوري په کي دتحریفاتو سلسله چلیږي ، ایمان صرف دتورات او انجیل په هغو مضامینو باندي دی ، کوم چي دالله ﷻ دطرف څخه په حضرت موسیٰ علیه السلام باندي نازل سوی وه ، تحریف سوی مضامین ددي څخه خارج دی .

(دموجوده تورات او انجیل به نه مطلقًا تصدیق کوئ او نه مطلقًا درواغجن کول)

په صحیح بخاری کي دحضرت ابوهریره رضی الله عنه څخه روایت دی چي اهل کتابو به تورات او انجیل دهغه په اصلی ژبه عبرانی کي ویل او مسلمانانو ته به یی دهغه ترجمه په عربی ژبه کي ویله ، نبی کریم ﷺ ددي متعلق مسلمانانو ته داهدایت وکی چي تاسی داهل کتابو مه تصدیق کوی ، مه تکذیب ، بلکی داسي وایاست : آمَنَّا بِالَّذِیْ اُنْزِلَ اِلَیْنَا وَاُنْزِلَ اِلَیْکُمْ ، یعنی مونږ اجمالاً په هغه وحی ایمان راوړی کومه چي ستاسی پرانبیاوو علیهم السلام نازله سوي ده ، اوکوم تفصیلات چي تاسی ښیاست هغه زمونږ په نزد داعتماد قابل نه دی ، په دی وجه مونږ ددی دتصدیق او تکذیب څخه ځان ساتو .
په تفسیرونو کي چي کوموعامو مفسرینو داهل کتابو روایتونه نقل کړی دی دهغه هم دا درجه ده او دنقل کولو منشاء یی هم صرف دهغه تاریخی حیثیت واضع کول دی ، دحلالو او حرامو د احکامو ددغو څخه استنباط نه سي کیدای .
وَمَاكُنْتَ تَتْلُوْمِنْ قَبْلِهٖ مِنْ كِتَابٍ وَّلَا تَخُطُّهٗ بِيَمِيْنِكَ اِذًا لَّارْتَابَ الْمُبْطِلُوْنَ ، یعنی دقرآن دنزول څخه مخکی نه

تاڅه کتاب وايه او نه دي څه ليکل کول بلکې ته اُمّي وی ، که داسي نه وای اوتاليکل ويل کولی نودغه باطلو خلقو ته بيادڅه شك اوشبهې گنجائش راوتی او دا الزام به يې لگوی چي تاتيرکتابونه تورات او انجيل ويلی دي يادی نقل کړی دی ، ته چي څه په قرآن کي فرمايي هغه ددغو تيرو کتابونو څخه را اخيستل سوی دی ، څه وحی او نبوت او رسالت نه دی .

(دنبي كريم ﷺ اُمّي والي د دوی لوی فضيلت اولويه معجزه ده)

الله ﷻ دنبی کريم ﷺ پرنبوت او رسالت څنگه ډېری ښکاره او واضحه معجزی ښکاره کړی دی ، په دغو کي يوه دا هم ده چي دوی يی دمخکی څخه امی وساتی ، نه يی څه ليکلی ويلای سول او نه يی څه په خپله ليکلای سول ، او دعمر څلويښت کاله يی په دی حال کي دمکی دټولو خلقو په مخکی تيرسول دوی په دی دوران کي د اهل کتابو سره هم هيڅکله نه وو يو ځای سوی چي دهغوڅخه يی څه اوريدلی وی ، ځکه چي په مکه کي اهل کتاب دسره وو نه ، دڅلويښتو کالو په پوره کيدو باندي يکدم د دوی پرژبه مبارکه سره داسي کلام جاري سو کوم چي دخپلو مضامينو او معانيو په اعتبار سره هم معجزه وه او دلفظی فصاحت او بلاغت په اعتبار سره هم.

ځينو عالمانو دا ثابتول غوښتی دی چي د دوی امی والی په ابتداء کي وو بيا الله ﷻ دوی ته ليکل ويل ورزده کړی وه او ددی په دليل کي دحُديبيی دواقعی يو حديث نقل کوی ، په هغه کي دی چي کله دصلح وعده وليکل سوه نو په دی کي اول . مِنْ مُحَمَّدٍ عَبْدِاللهِ وَرَسُوْلِهٖ ليکلی وه پردی دمکی مشرکانو اعتراض وکی چي که مونږ ته رسول منلی نو دا جګړه به ولی وای ؟ په دی وجه ستا دنوم سره د، رسول الله، لفظ مونږ نه قبلوو ليکونکی حضرت علی مرتضٰی ؓ وو. حضور ﷺ ورته وفرمايل چي دالفظ خراب کړه . حضرت علی کرم الله وجهه دادب څخه مجبوره سو او دداسی کولو څخه يی انکار وکی ، نو نبی کريم ﷺ کاغذ په خپل لاس کي واخستی او دا لفظ يی خراب کي او داسي يی وليکل . من محمد بن عبد الله .

په دی روايت کي دليکلو نسبت نبی کريم ﷺ ته سوی دی چي په دی سره ځينو حضراتو دليل نيولی دی چي دوی ليکل کولی سول مگر صحيح خبره دا ده چي په بل باندي ليکلو ته هم په عرف کي داسي ويل کيږي چي . هغه وليکل . لکه چي په عامو محاورو کي دی . ددی څخه علاوه دا هم امکان دی چي په دی واقعه کي په طور دمعجزی د دوی په لاسونو نوم مبارك الله تعالی ليکلی وی ، ددی څخه علاوه دخپل نوم په څو حرفونو ليکلو سره چاته ليکونکی ويونکی نه سي ويل کيدای ، ده ته ناخوانده اواُمّي ويل کيږي ، هرکله چي عادت يی ليکل نه وی ، او بی دليله دوی ته دکتابت نسبت کول د دوی فضيلت ثابتول نه دی که فکر وسی نو لوی فضيلت خو په اُمّي کيدو کي دی .

يٰعِبَادِيَ الَّذِيْنَ اٰمَنُوْٓا اِنَّ اَرْضِيْ وَاسِعَةٌ فَاِيَّايَ فَاعْبُدُوْنِ ۝ كُلُّ

ای زما بند گانو ، کومو چي ايمان راوړی دی ، زما مځکه پراخه ده پس زما عبادت کوی هر يو

نَفۡسٍ ذَآئِقَةُ الۡمَوۡتِ ثُمَّ إِلَيۡنَا تُرۡجَعُونَ ۝٥٧ وَالَّذِينَ آمَنُوا وَعَمِلُوا

نفس به وڅکي مرګ ، بيا به مونږ طرف ته بيرته راسی ، اوکوم خلق چې ايمان را وړی او نيک

الصَّالِحَاتِ لَنُبَوِّئَنَّهُم مِّنَ الۡجَنَّةِ غُرَفًا تَجۡرِي مِن تَحۡتِهَا الۡأَنۡهَارُ

کارونه وکی دوی ته به مونږ ځای وکړو په جنت کی بالاخانی بهيږي به لاندی دهغو څخه نهرونه

خَالِدِينَ فِيهَا ۚ نِعۡمَ أَجۡرُ الۡعَامِلِينَ ۝٥٨ الَّذِينَ صَبَرُوا وَعَلَىٰ

هميشه به وی په دی کی ، ښه بدله ورکړل سوه کار کوونکو ته ، کومو چې صبر وکی او په

رَبِّهِمۡ يَتَوَكَّلُونَ ۝٥٩ وَكَأَيِّن مِّن دَآبَّةٍ لَّا تَحۡمِلُ رِزۡقَهَا

خپل رب يې توکل وکی ، او ډېر حيوانان دي چې نه ګرځوی دځان سره رزق

اللَّهُ يَرۡزُقُهَا وَإِيَّاكُمۡ ۚ وَهُوَ السَّمِيعُ الۡعَلِيمُ ۝٦٠ وَلَئِن سَأَلۡتَهُم

الله رزق ورکوی هغو ته او تاسی ته هم ، او هغه اوريدونکی دی پوهيدونکی ، او که ته دخلقو څخه پوښتنه وکی

مَّنۡ خَلَقَ السَّمَاوَاتِ وَالۡأَرۡضَ وَسَخَّرَ الشَّمۡسَ وَالۡقَمَرَ

چې چا پيدا کړی دي آسمانونه او مځکي. او په کار يې لګولی دی لمر او سپوږمی

لَيَقُولُنَّ اللَّهُ ۖ فَأَنَّىٰ يُؤۡفَكُونَ ۝٦١ اللَّهُ يَبۡسُطُ الرِّزۡقَ لِمَن

نو وبه وايي الله ، بيا کوم طرف ته چپه ګرځي ، الله فراخوی رزق چاله

يَشَآءُ مِنۡ عِبَادِهِ وَيَقۡدِرُ لَهُ ۚ إِنَّ اللَّهَ بِكُلِّ شَيۡءٍ عَلِيمٌ ۝٦٢

چې وغواړي ، دبندګانو خپلو څخه اوتنګوی يې چا ته چې وغواړي ، بيشکه الله په هر څه خبردار دی

وَلَئِن سَأَلۡتَهُم مَّن نَّزَّلَ مِنَ السَّمَآءِ مَآءً فَأَحۡيَا بِهِ الۡأَرۡضَ

او که ته پوښتنه وکړي د دوی څخه چې چا نازل کړي دي اوبه د آسمان څخه بيا يې ژوندي کړه په دی سره مځکه

مِنۢ بَعْدِ مَوْتِهَا لَيَقُوْلُنَّ اللّٰهُ ۚ قُلِ الْحَمْدُ لِلّٰهِ ۚ بَلْ اَكْثَرُهُمْ لَا يَعْقِلُوْنَ ﴿۶۳﴾

پس د مرګ ددې ځخه نو وبه وايي الله، ته ووايه ټول تعریفونه الله ﷻ لره دی، بلکه اکثر د دوی ځخه نه پوهیږي.

تفسیر: ای زما ایماندارو بندګانو (کله چي داخلق د ډیري دښمنی اوعناد ځخه تاسی ته دشریعت په اختیارولو او دین باندي ازار رسوی نو دلته پاته کېدل څه ضروري دی) زمامځکه فراخه ده وروسته (که چیری دلته په اوسیدو عبادت نه سي کولای نو بل طرف ته ولاړسی او هلته چي ولاړاست) خالص زماعبادت کوي (ځکه چي دلته دمشرکانو زور دی نو داسی عبادت چي محض پر توحید مبنی وي او دشرک ځخه خالی وی، دلته مشکل دی، البته که دخدای سره دغیرالله هم عبادت وي نو دا ممکن دی، مګر دا دسره عبادت نه دی، او که تاسی ته په هجرت کي دخپلوانو او دوطن جدایی ګرانه معلومیږي نو دا پوه سي چي یوه نه یوه ورځ به داسي کیږي ځکه چي) هر سړی به دمرګ خوند (خامخا) ځکي (نو اخر دغه وخت خوبه دا ټول پاته کیږي او) بیا ستاسی ټولو مونږ ته را تلل وی (او چی نافرمانه راسی نو دسزا بیره ده په کی) او (دا جدایی که زمونږ د رضا دپاره وي نو مونږ ته په را رسیدو به ددی وعدی مستحق سي او هغه وعده دا ده چی) کوم خلق ایمان راوړی او نیک عمل وکړی (په کوم چي عمل کول ځیني وخت پرهجرت باندي موقوف وي نو په داسي وخت کي هجرت هم وکړی) مونږ به دوی ته دجنت په بالاخانوکی ځای ورکړو ترکومو لاندی چي نهرونه روان وي او هغه خلق به په دی کي همیشه همیشه اوسیږي (اودهغو نیک کار کوونکو ځه ښه اجر دی کومو چی (په واقع سوو سختیو باندي چي دهجرت سختی هم په کی دا خلی سوی) صبر وکی او (بل ملك یاښار ته چي ولاړل دکومو تکلیفونو او دګذاری کولو دمشکلاتوکومه بیره چي وه په هغه کی) دوی پرخپل رب توکل کوي او (که په هجرت کي تاسی ته دا وسوسه وي چي په پردیسی کي به خوراك دکومه ورکول کیږي نو په دی پوه سي چی) ډېر حوانات داسي دی کوم چي خپل خوراك دځان سره بارکړي نه ساتی (یعنی جمع کوي یی نه، که څه هم ځینی یی جمع کوي هم، مګر ډېر داسي دی چي هغه یی نه جمع کوی) الله ﷻ دغو ته (مقرر) رزق رسوی او تاسی ته هم (مقرر رزق در رسوی خواه که تاسی هر ځای چي یاست، بیاداسی وسوسه مه کوی، بلکی زړه قوی کړی، پرالله ﷻ توکل لری) او (هغه دتوکل لائق دی ځکه چی) هغه هر څه اوری هر څه پیژنی (دغه ډول په نوروصفتونو کی کامل دی او څوك چي داسي کامل الصفات وي هغه خامخا دتوکل قابل دی) او (دتوحیدفی الالوهیة چي کومه مبنی ده یعنی توحید فی التخلیق هغه خو ددی خلقو په نزد هم منل سوي ده هم دارنګه) که ته د دوی ځخه پوښتنه وکړی چي هڅه څوك دی چاچی اسمان او مځکه پیدا کړل او چاچی لمر او سپوږمی په کارلګولی دی نوهغه خلق به دا ووایی چي هغه الله دی، بیا (هرکله چي توحید فی التخلیق منی نو دتوحید فی الالوهیت په باره کی) چیری چپه چلیږی؟ (اولکه څنګه چي خالق الله دی دغه ډول) خاص الله ﷻ (رازق هم دی دارنګه) هغه په خپلو بندګانو کی دچا دپاره چي غواړی رزق فراخه کوي او دچا دپاره چي غواړی تنګوی، بیشکه الله ﷻ

دهر شی دحال څخه خبرداره دی (چی څنګه ورته مصلحت ښکاری هم هغه ډول رزق ورکوی ، مطلب دا چي رازق هغه مقرر سو ، په دی وجه د رزق بيره په هجرت کي نه ده مانع کول په کار) او (لکه څنګه چي دکائناتو په پيدا کولوکی دالله ﷻ توحيد د دوی په نزد منل سوی دی. دغه ډول دکائناتو په پيدا کولو کي دالله ﷻ توحيد د دوی په نزد منل سوی دی . دغه ډول دکائناتو په باقي ساتلو او ددی دنظام په چلولو کی هم توحيد منی چنانچی) که ته د دوی څخه پوښتنه وکړی چي هغه څوك دی چاچی دآسمانونو څخه اوبه را واورولی ، بيايی مځکه ددي دوچيدو (ناقابله دبوټو دراټوکيدو) څخه وروسته تر اوتازه (قابله دبوټو دراټوکولو) کړه نو (په ځواب کي به) هغه خلق دا ووايی چي هغه هم الله دی ، ته ووايه چي الحمدالله (دومره اقرار خو کوی چي په دی سره پر توحيد فی الالوهيت باندي استدلال هم بديهی دی ، مګر دا خلق يی منی نه) بلکی (ددی څخه زياته دا ده چی) په دوی کي اکثره پوهيږي هم نه (په دی وجه نه چي عقل يی نسته، بلکی دعقل څخه کار نه اخلی او غور نه کوی ، په دی وجه بديهی هم ورڅخه پټ وی)

معلومات اومسئلي : دسورة دشروع څخه تردی ځای پوري دمسلمانانو سره دکفارو ددښمنی او دتوحيد او رسالت څخه مسلسل انکار او دحق والاوو په لاره کي دقسم قسم خنډونو بيان وو. په دی ذکر سوو آيتونو کی دمسلمانانو دپاره دهغوی دشر څخه دخلاص کيدو او دحق شائع کولو او دحق او انصاف په دنيا کي دقائمولو ديو تدبير بيان دی ، چي ددي اصطلاحی نوم هجرت دی . يعنی هغه وطن اوملك پريښول په کوم کي چي انسان دحق څخه په خلاف ويلو او کولو باندي مجبوره کړل کيږي .

(دهجرت احکام اوددی په لاره کي دراپيښيدونکو شکونو اوشبهو ليری کول)

اِنَّ اَرْضِي وَاسِعَةٌ فَاِيَّایَ فَاعْبُدُوْنِ ، الله ﷻ فرمايی چي زمامځکه ډېره پراخه ده ، په دی وجه دچاعذر د اوريدو قابل نه دی چي په فلانی ښار يافلانی ملك کي دکفارو غلبه وه په دی وجه مونږ دالله ﷻ دتوحيد او دده دعبادت څخه بی وسه وو ، دوی ته په کار دی چي دهغه مځکی څخه کوم ځای چي دوی پر کفر او معصيت باندي مجبوره کړل کيږي ووزی او يو داسي ځای تلاش کړی ، کوم ځای چي په ازادی سره دالله ﷻ په احکامو په خپله هم عمل وسی ، او نورو ته يی هم تلقين کول کيږي ، ددي نوم هجرت دی .

دوطن څخه په هجرت کولو او بل ځای ته په تلو کی دوه قسمه خطری انسان ته عادتًا پيښيږي کوم چي ددی هجرت څخه يی منع کوی ، اوله خطره دخپل ځان ده چي هرکله دی وطن پرېږدی او يوځای څی نو ددی ځای کافران او ظالمان يی په لاره کي خنډ کيږي او مقابلی اوجنګ ته ورسره تياريږي ، دا رنګه ممکنه ده چي په لاره کي يی دنورو کافرانو سره هم مقابله راسی چي دځان خطره په کښی ده ، ددي ځواب يی په راتلونکی آيت کي دا ورکی چی . كُلُّ نَفْسٍ ذَآئِقَةُ الْمَوْتِ ، يعنی هريونفس دمرګ خوند څکونکی دی ، دمرګ څخه بيره او ترهه دمومن کار نه دی کېدل په کار. دا خو هر سړی ته په هر حال کي ورپيښيږي ، که په خپل ځای کي هر څومره دحفاظت اسباب وکی خو بيابه هم راځی . او دمومن دا هم عقيده ده چي د الله ﷻ دمقرر کړی وخت څخه مخکی مرګ نه سي راتلای ، په دی وجه پرخپل ځای پاته کېدل ياهجرت کول ، بل

ځای ته په تلوکی دمرگ خطره حائل کېدل نه دی په کار خاصکر هرکله چي دالله ﷻ داحکامو په اطاعت کولو کي دمرگ راتلل دهمیشه راحتونو او نعمتونو ذریعه ده کوم چي به ده ته په اخرت کي ورکول کیږي چي ذکر یې په وروسته دوو آیتونو کي فرمایی . اَلَّذِیْنَ آمَنُوْا وَعَمِلُوا الصَّالِحَاتِ لَنُبَوِّئَنَّهُمْ مِنَ الْجَنَّةِ غُرَفًا الایة.

دوهمه خطره دهجرت په لاره کي دا پیښیږي چي بل وطن او ملك ته ولاړسی د رزق به څه سامان کوی ، په خپل ځای کي خو څه په ابایی میراث سره ، څه په خپله گټه سره ، بنده ته دمځکی جائیداد یاکار، روزگار تجارت وغیره سره څه ساماکوی ، دهجرت په وخت کي دا هرڅه دلته پاته کیږي ، نو هلته به گذاره په څه ډول سره کوی . ددی ځواب په وروسته دری آیتونوکی داسي ورکول سوی دی چي تاسی دا حاصل کړی اسباب درزق علت اوکافی سبب گرځوی ؟ دا ستاسی غلطی ده ، رزق ورکوونکی په حقیقت کي الله ﷻ دی ، هغه چي کله غواړی نو بغیر دڅه ظاهری اسباب څخه هم رزق ورکوی او چی هغه نه غواړی نو درزق ددي ټولو اسبابو سره سره هم انسان درزق څخه محرومه کیدای سي ددي دبیان دپاره یی اول خو دا وفرمایل .

وَكَاَيِّنْ مِنْ دَابَّةٍ لَاتَحْمِلُ رِزْقَهَااَللّٰهُ يَرْزُقُهَاوَاِيَّاكُمْ، یعنی پردی فکر وکړی چي پرمځکه گرځیدونکی څومره په زرگونو قسمه حیوانان دی کوم چي دخپل رزق دجمع کولو او ساتلو هیڅ انتظام نه کوي اونه درزق دحاصلولو داسبابو جمع کولو څه فکرکوی ، مگرالله ﷻ دوی ته روزانه په خپل فضل سره رزق ورکوی علماء فرمایی چي عام حیوانان داسي دی چي په دوی کي صرف میږي اوموږکان داسي حیوانان دی چي دخپل خوراك دپاره په خپلو سوړو کي دجمع کولو فکر کوی . میږي دیخ په موسم کي بهر نه سي را وتلای . په دی وجه دگرمی په ورځوکی دخوارك اسباب په خپلو سوړو کي جمع کوي او مشهوره ده چي په الوتونکو حیواناتوکی عقعق (کارغه) هم خپل خوراك په خپله جاله کي جمع کوي مگرهغه چي کښیږدی، بیایی هیرسی په هرحال ددنیاټول حیوانان چي دانواعو او اقسامو شمیر یی هم پرانسان باندي مشکل دی چي زیات تره هغه دی کوم چي نن خپل خوراك حاصلوی، دصبادپاره نه خوراك تیاروی او نه یی ورسره څه اسباب وی .

په حدیث کي دی چي دا الوتونکی حیوان سهار دخپلو جالو څخه وږی ووزی او ماښام ډك نس بیرته راځی نه د دوی څه کرل ربېل سته او نه څه مځکه جائداد ، نه دوی دڅه کار خانی یادفتر نوکران دی ، دکوم څخه چي دوی خپل رزق حاصلوی ، دخدای ﷻ پراخی مځکی ته ووزی او ټولو ته په ډك نس رزق ورکول کیږي او دا دیوی ورځی معامله نه ده تر څو پوري چي دوی ژوندی وي دا سلسله جاری ده .

ددی څخه وروسته په آیت کي درزق اصل ذریعه ښیی کومه چي دالله ﷻ ورکړه ده اوفرمایی چي په خپله ددي منکرانو کافرانو څخه پوښتنه وکړه چي آسمان اومځکه چا پیداکړی دی ؟ او لمر سپوږمی دچا دحکم تابع چلیږي باران څوك اوروی؟ بیاددی باران په ذریعه دمځکی څخه بوټی څوك راباسی ؟ نو مشرکان به ددي هم اقرار وکړی چي داټول کارونه دیو ذات حق تعالی ﷻ دی ، نو دوی ته روایه چي بیا تاسی دالله ﷻ څخه ماسوا دنورو عبادت ولی کوي اوخپل کار سازان یی ولی گڼی ؟ په مځکی آیت کي د . وَلَئِنْ سَاَلْتَهُمْ مَنْ

خَلَقَ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضَ، څخه درکوع تراخره پوره ددي بیان دی .
لنډه دا ده چي دهجرت څخه منع کوونکی ، دوهم فکر دمعاش دی ، دا هم دانسان غلطی ده . دمعاش تیارول دانسان یادانسان دجمع کړو اسبابو اواسبابونو په قبضه کي نه دی، دابی دڅه واسطی څخه دالله ﷻ ورکړه ده هغه ورته په دی وطن کي دا اسباب جمع کړی وه، نوهغه بل ځای هم ورته دمعاش اسباب ورکولای سي او بغیر دڅه اسباب څخه هم دمعاش ضرورتونه ورتیارولای سی ، په دی وجه دا دوهمه خطره هم دهجرت څخه منع کوونکی په کار نه ده چي سی .

(هجرت کله فرض یا واجب وی؟)

دهجرت معنٰی او تعریف او ددی فضیلتونه او برکتونه دسورة نساء په آیت ۹۷ تا ۱۰۰ کی ، او په شرعی احکامو کي بدلون ددي سورة په آیت ۸۹ کي بیان سوی دی ، یو مضمون هلته دبیانولو څخه پاته سوی دی هغه دلته لیکل کیږي .
هرکله چي نبی کریم ﷺ دالله ﷻ په حکم سره دمکی معظمی څخه هجرت وفرمایی اوټولو مسلمانانو ته یی په شرط دقدرت دهجرت حکم وفرمایی ، هغه وخت دمکی معظمی څخه هجرت کول فرض عین وو چي یو سړی او ښځه ورڅخه مستثنا نه وه ، بغیر دهغو خلقو څخه کوم چي پر هجرت قدرت نه لری .
اوپه هغه زمانه کي هجرت صرف فرض نه بلکی دمسلمانیدوننبه اوشرط هم ګڼل کیدی چاچی به سره دقدرت څخه هجرت ونه کی هغه به مسلمان نه سوګڼل کیدی اودده سره به هغه معامله کول کیده کومه چي به دکفارو سره کیده چي بیان یی دسورة نساء په آیت ۸۹ کي دی . حَتّٰی یُهَاجِرُوْا فِیْ سَبِیْلِ اللهِ، دغه وخت دهجرت مقام په اسلام کي هغه ووکوم چي دکلمۀ شهادت . لَآاِلٰهَ اِلاَّ اللهُ، دی، چي دا شاهدی په خپله هم فرض ده او دمسلمانیدو شرط اوننبه هم ده . کوم سړی چي سره دقدرت د ژبی څخه د ایمان اقرار او د، لَآاِلٰهَ اِلاَّ اللهُ، دکلمی شاهدی ادانه کړی ، که څه هم په زړه کي یقین او تصدیق لري هغه مسلمان نه سي ګڼل کیدی .
عاجزکوم چي ددي کلمی په ویلوقدرت نه لري هغه ورڅخه مستثنادی دغه ډول دکومو خلقو چي پر هجرت باندي قدرت نه ووهغوی مستثناکېدل چي ذکر یی دسورة نساء په آیت ۹۸ . اِلاَّ الْمُسْتَضْعَفِیْنَ، کي راغلی دی اوکوم خلق چي سره دقدرت دهجرت څخه په مکه مکرمه کي مقیم پاته سول دهغوی دپاره دجهنم سخته وعده دعذاب په آیت نمبر ۹۷ . اِنَّ الَّذِیْنَ تَوَفّٰهُمُ الْمَلٰئِكَةُ (الی) فَاُولٰئِكَ مَاْوٰهُمْ جَهَنَّمُ، کي ذکر ده .
هرکله چي مکه مکرمه فتح سوه ، نو دهجرت دا حکم منسوخ سو ځکه چي دغه وخت مکه په خپله دار اسلام جوړه سوه . نبی کریم ﷺ هغه وخت دا حکم جاری وفرمایی . لَاهِجْرَةَ بَعْدَالْفَتْحِ، یعنی دمکی دفتح کیدو څخه وروسته دمکی څخه دهجرت کولو ضرورت نسته . دمکی مکرمی څخه دهجرت فرض کېدل، بیامنسوخ کېدل دقرآن اوسنت په نصونو سره ثابت سوکومه چي یوه جزئی واقعه وه . دامت فقهاؤ ددي واقعی څخه دا مسئلی را ایستلی دی .

مسئله: په کوم ښار یاملك کي چي بنده ته پرخپل دین دقائم پاته کیدو ازادی نه وي او هغه دکفر اوشرك یادشرعي احکامو څخه په خلاف ورزی باندي مجبوره وی ، دهغه ځای څخه هجرت کول یو بل ملك یاښار ته کوم ځای چي په دین دعمل کولو ازادی وی ، تلل په دی شرط چي قدرت یی وي واجب دی . البته چاته چي پرسفر قدرت نه وي یا داسی یو ځای نه ورته پیدا کیږي ، کوم ځای چي په ازادی سره په دین عمل وسی هغه شرعًا معذوره دی .

مسئله: په کوم دار الکفرکي چي په عامو دیني احکامو باندي دعمل کولو ازادی وی ، دهغه ځای څخه هجرت فرض او واجب خو نه دی ، مګر مستحب په هر حال دی او په دی کي دارالکفر والی هم ضروري نه دی دارالفسق کوم ځای چي دالله ﷻ د احکامو خلاف ورزی په ډاګه کیږي دهغه هم دا حکم دی ، که څه هم دهغه ځای دباچا دمسلمان والی په وجه هغه ته دار الاسلام ویل کیږي .

دا تفصیل حافظ ابن حجر رحمه الله په فتح الباری کي لیکلی دی او په حنفي قواعدو کي یو شی ددې منافی نسته ، او دمسند احمد (رح) په یو روایت کي کوم چي دحضرت ابو یحیٰی مولی زبیر ابن عوام ؓ څخه نقل دی هغه هم په دی شاهد دی . حدیث دا دی چي نبی کریم ﷺ فرمایلي دی .

"اَلْبِلَادُ بِلَادُ اللهِ وَالْعِبَادُ عِبَادُ اللهِ حَيْثُمَا اَصَبْتَ خَيْرًا فَاَقِمْ " (ابن کثیر)

یعنی ټول ښارونه دالله ﷻ ښارونه دی او ټول بندګان دالله ﷻ بندګان دی ، په دی وجه کوم ځای چي ستاسی دپاره اسباب دخیر جمع وی ، هلته اوسیږي .

او ابن جریر په خپل سند سره دحضرت سعید بن جبیر څخه نقل کړی دی چي دوی فرمایلي دی ، په کوم ښار کي چي ګناهونه اوفواحش عام وي هغه پریږدی .

او دتفسیر امام حضرت عطاء فرمایی چي کله تاسی په یو ښار کي دګناه دپاره مجبوره کړل کیږي نو دهغه ځای څخه تیښته کوی (ابن جریر طبری فی التفسیر)

وَمَا هٰذِهِ الْحَيٰوةُ الدُّنْيَآ اِلَّا لَهْوٌ وَّلَعِبٌ ؕ وَ اِنَّ الدَّارَ الْاٰخِرَةَ

او دا ددنیا ژوند خو بس زړه خوشحالول او لوبی دی ، او د آخرت کور

لَهِيَ الْحَيَوَانُ ۘ لَوْ كَانُوْا يَعْلَمُوْنَ ﴿۶۴﴾ فَاِذَا رَكِبُوْا فِي

هغه دی دژوندی پاته کیدو که دوی پوهیدی ، بیا چي هرکله سپاره سی

الْفُلْكِ دَعَوُا اللّٰهَ مُخْلِصِيْنَ لَهُ الدِّيْنَ ۚ فَلَمَّا نَجّٰىهُمْ

په کښتۍ کی بولی الله تعالی خالص په هغه عقیده کوونکی ، بیا چي هرکله مونږ محفوظ کړل دوی

إِلَى الْبَرِّ إِذَا هُمْ يُشْرِكُونَ ﴿٦٥﴾ لِيَكْفُرُوا بِمَا آتَيْنَاهُمْ وَلِيَتَمَتَّعُوا

دمځکی طرف ته دغه وخت شرک کوونکی سی ، چی منکر سی زمونږ د ورکړو څخه او چی خوندونه واخلی

فَسَوْفَ يَعْلَمُونَ ﴿٦٦﴾ أَوَلَمْ يَرَوْا أَنَّا جَعَلْنَا حَرَمًا آمِنًا وَيُتَخَطَّفُ

پس ژر ده چی پوه به سی ، آیا دوی نه ګوری چی مونږ جوړ کړی دی حرم دپناه ځای دامن او تښتول کیږي

النَّاسُ مِنْ حَوْلِهِمْ أَفَبِالْبَاطِلِ يُؤْمِنُونَ وَبِنِعْمَةِ اللَّهِ

خلق دشاؤخوا د دوی څخه ، آیا دوی په باطله یقین کوی او د الله ﷻ احسان

يَكْفُرُونَ ﴿٦٧﴾ وَمَنْ أَظْلَمُ مِمَّنِ افْتَرَىٰ عَلَى اللَّهِ كَذِبًا أَوْ

نه منی ؟ او څوک دی زیات بی انصافه دهغه څخه چی تړی په الله ﷻ پوری دروغ یا

كَذَّبَ بِالْحَقِّ لَمَّا جَاءَهُ أَلَيْسَ فِي جَهَنَّمَ مَثْوًى

دروا غجن کوی رښتینی خبره کله چی ده ته ورسیږي آیا نه دی په دوږخ کی ځای د اسیدو

لِلْكَافِرِينَ ﴿٦٨﴾ وَالَّذِينَ جَاهَدُوا فِينَا لَنَهْدِيَنَّهُمْ سُبُلَنَا

دمنکرانو دپاره ، او هغه چی محنت وکی زمونږ دپاره مونږ به وښایو ده ته خپلی لاری

وَإِنَّ اللَّهَ لَمَعَ الْمُحْسِنِينَ ﴿٦٩﴾

او بیشکه الله ﷻ ملګری دی دنیکو کارو .

لنډ تفسیر: او (وجه د دوی دفکر نه کولو زیات ننوتل دی ددنیا په شغلونو کی حال دا دی چی) دا ددنیا ژوند (دکوم چي دا شغلونه دی فی نفسه) بغیر دلهو لعب څخه نور هیڅ نسته او اصل ژوند دعالم اخرت دی (چنانچی ددنیا دفانی والی او داخرت دباقی والی څخه دا دواړه مضمونونه ښکاره دی نو په فانی کي دومره مشغولیدل چي باقي باندي پریږدی او محرومه سي ورڅخه په خپله دا دبی عقلي خبره ده) که دوی ته ددي (پوره) علم وای نو داسي به یی نه کولی (چی په فانی کي به داسي مشغولیدلی چي باقي به یی باندي هیرولی ، اوانتظام به یی نه ورته کولی ، بلکی دی خلقو به په دلیلونو کی فکر کولی او ایمان به یی راوړی وای ، لکه چي په خپله دوی دامنی چي دکائناتو په پیدا کولو او باقی ساتلو کی دخدای سره څوک

شريك نسته) بيا (لكه چي د دوی ددي اقرار او منلو مقتضاده چي په خدايي او عبادت كي يی هغه يو منلی
او ددی يی هم كله اقرار او اظهار كولی چنانچی) كله چي دا خلق په كښتی كي سپريږي (او دغه كښتی په
كښته پورته كيدو سی) نو (دغه وخت) په خالصه عقيده سره الله ﷻ رابولی (چی . لَئِنْ أَنْجَيْتَنَا مِنْ هَٰذِهِ
لَنَكُونَنَّ مِنَ الشَّاكِرِينَ) چي په دی كي دخدای په اختياراتو او معبوديت كي هم دتوحيد اقرار دی ، مگر
داحالت په وجه دمشغلو ددنيا كي دننوتو تر ډيره پوري پاته نه وي چنانچی دغه وخت خو تول قول او اقرار
دتوحيد وسی مگر) بيا چي كله دوی ته (ددی افت څخه) نجات وركړی ، او چی ته يی راولی نو هغوی فوراً
شرك كوونكی سي چي مطلب يی دا دی ، مونږ چي كوم نعمت (دنجات وغيره) دوی ته وركړی دی دهغه
ناقدری كوي او داخلق (دشرك په عقيدو او دفسق په كارونو كی دنفسانی خواهشاتو تابعداری وكړی) لږ
نور خوندونه حاصل كړی ، بيا نژدی ده چي دوی به په دی هرڅه باندي خبرسی (او اوس ددي دنياپه
شغلونو كی دننوتو په وجه هيڅ نه وينی . وروسته يو مانع خو دوی ته دتوحيد څخه دا شغلونه دی او دوهم
يی يوه بله نامعقوله حيله دمانع را ايستلی ده ، هغه دا وايی چی . إِنْ نَتَّبِعِ الْهُدَىٰ مَعَكَ نُتَخَطَّفْ مِنْ أَرْضِنَا ،
يعنی كه مونږ مسلمانان سو نو مونږ به دعربو خلق مړه كړی حال دا دی چي په خپله په مشاهده سره دوی ته
ددي لغوه والی معلوميږی) آيادی خلقو دی خبري ته نه دی كتلی چي مونږ (د دوی ښار مكه) امن والا حرم
جوړ كړی دی او ددي په خوا اوشا (ځايونو) كي (كوم چي دحرم دباندی دی) خلق (وهلی تكولی او دخپلو
كورونو څخه) ايستلای سي (په خلاف د دوی چي په امن سره ناست دی او دا خبره په خپله محسوسه ده نو
دبديهياتو څخه تيريږي په محسوساتوكی هم خلاف كوي او دهلاكت بيره په ايمان راوړو كي مانع عذر
جوړ وی او) بيا (دحق واضح كيدو څخه وروسته ددي حماقت اوضد) څه (ځای دی چی) دا خلق د دروا‌غو
په معبودانو خو ايمان راوړی (چی په دغو دايمان راوړو هيڅ مقتضی نسته او موانع يي ډېر دی) او دالله
ﷻ (په كوم چي دايمان راوړلو ډېری مقتضاګانی اوصحيح دليلونه دی دهغه) دنعمتونو ناشكری كوي
(يعنی د الله ﷻ سره شرك) كوي (ځكه چي دشرك څخه بله لويه ناشكری نسته چي رزق هغه وركوی پيدا
كوی يي هغه ، بقا او تدبير وغيره هغه كوي او عبادت كوم چي ددي نعمتونو شكر دی دبل دپاره غوره
كوی) او (واقعی خبره دا ده چی) دهغه سړی څخه زيات بی انصافه به څوك وي كوم چي (بی دليله) په الله ﷻ
پوري درواغ جوړكړی (چی هغه شريك لری) او كله چي رښتنی خبره ده ته ورسيږي (ددليل سره نو) هغه
درواغجنه كړی (ښكاره بی انصافی ده چي بی دليله خبره رښتنی كړی او ددليل خبره درواغجنه كړی) آيا
ددا سی كافرانو به (چی دومره بی انصافی كوی) په جهنم كي ځای نه وی؟ (يعنی خامخا به وی، ځكه چي
سزا مناسب دجرم وي وروسته لكه څنګه چي جرم لوی دی ، داسي يی سزا لويه ده ، لوږ دهغو حال وو،
كوم چي كافران اونفس پرست وی) او (اوس دهغوی دمخالفو بيان دی چی) كوم خلق چي زمونږ په لاره كي
تكليفونه برداشت كوی، مونږ به هغوی ته خپلي (دقرب اوثواب يعنی دجنت) لاری خامخا وښيو (پركومه

چي به هغوی جنت ته ورسیږي لکه داقول دالله ﷻ، وَقَالُوا الْحَمْدُ لِلّٰهِ الَّذِیْ هَدٰىنَا، الایة) اوبیشکه الله ﷻ (رضا او رحمت یی) دداسی اخلاص مندو سره دی (په دنیا کي هم او په اخرت کي هم)

معلومات اومسئلي: په تیرو آیتونوکي دکفارو او دمشرکانو دا حال ذکر سوی دی چي دآسمانونو اومځکو دپیدائش دلمر، سپوږمی دنظام، دباران نازلولو او په دی سره دشنو بوټو راټوکولو ټول نظام دا خلق هم منی او یقین کوي چي دالله ﷻ په قبضه کي دی . په دی کي دچابت وغیره شرکت نسته ، مګر بیاهم دغه خلق په خدایی کي بتان شریکوی . ددي وجه دا ده چی ، اَكْثَرُهُمْ لَا يَعْقِلُوْنَ، یعنی په هغو کي ډېر خلق هغه دی چي پوهیږي نه .

دلته دا سوال پیدا کیږي چي دا خلق مجنونان اولیونی خو نه دی هوښیار اوپوه دی . ددنیا لوی لوی کارونه ډېر ښه کوی ، بیا د دوی دناپوهیدو وجه څه ده؟ ددي ځواب د ذکر سوو آیتونو څخه په مخکی آیت کي دا ورکول سوی دی چي دوی دنیا او ددی مادی او فانی خوندونو او دخواهشاتو محبت په اخرت او انجام کي دغور او فکر کولو څخه رانده او بی پوهی جوړکړی دی حال دا دی چي دا ددنیا ژوند لهو لعب یعنی دوخت تیرولو مشغله او لوبو څخه ماسوا نور هیڅ نه دی او اصل ژوند چي همیشه دی ، هغه د اخرت دی.

وَمَا هٰذِهِ الْحَيٰوةُ الدُّنْيَا اِلَّا لَهْوٌ وَّلَعِبٌ وَاِنَّ الدَّارَ الْاٰخِرَةَ لَهِيَ الْحَيَوَانُ " دلته د، حَيَوَان، لفظ په معنی دژوند په مصدری معنی کي دی (قرطبی)

په دی کي یی ددنیاژوندته لهولعب فرمایلي دی، مطلب دادی چي لکه څنګه چي دلوبو څه ثبات قرار اوڅه لوی مقصد په دی سره نه حل کیږي دلږ وخت څخه وروسته ټوله تماشه ختمه سی، دا حال ددي دنیا دی.

ددی څخه وروسته په آیت کي یی ددي مشرکانو یو بدحال دا وښووی چي لکه څنګه چي دا خلق دکائناتو په پیدا کولو کي دالله ﷻ دیومنلوباوجودپه دی جهالت کي اخته سوی دی چي بتانوته دخدای سره شریك وایی، ددي څخه زیاته عجیبه داده چي کله پر دوی یو لوی مصیبت راسی نو ددغه مصیبت په وخت کي هم د دوی دایقین او اقرار وي چي په دی کي یو بت هم زمونږ مددنه سي کولای . دمصیبت څخه خلاصی صرف الله ﷻ کولای سی . ددي دپاره په طور دمثال فرمایی چي داخلق کله د دریاب په سفر روان سي او د ډوبیدو خطره ورپیښه سی ، نو ددی خطری دلیری کولو دپاره دبت دبللو پرځای صرف الله ﷻ را بولی اوالله ﷻ د دوی دمحتاجه اوبی قراره کیدو او په وقتی طور سره ددنیا دټولو طاقتو څخه دپریکیدو په بناء د دوی دعاقبوله کړی . دوی ته ددنیا دهلاکت څخه نجات ورکړی ، مګر دا ظالمان چي کله وچی ته ورسیږي او په اطمینان سی ، نو بیا بتانو ته دخدای سره شریك وایی ، دایت، فَاِذَا رَكِبُوْا فِي الْفُلْكِ، دامطلب دی .

فائده: ددي آیت څخه معلومه سوه چي کافرهم څه وخت چي خپل ځان عاجزه ووینی ، صرف الله ﷻ رابولی اودغه وخت دایقین کوي چي دخدای څخه ماسوا ددي مصیبت څخه بل څوك نه سي خلاصولای نوالله ﷻ دکافرهم دعا قبلوی ، ځکه چي هغه بی وسه وي اوالله ﷻ دلاچاره بنده ددعا قبلولو وعده کړي ده . (قرطبی)

اوپه يو آيت كي چي كوم دا ارشاد راغلى دى . وَمَادُعَاءُ الْكَافِرِينَ إِلَّافِي ضَلَالٍ، يعنى دكافرانو دعا ناقابل قبول ده ، دا حال د اخرت دى ، چي هلته به كافر دعذاب څخه دخلاصى دعاكوى نو قبليږي به نه .

أَوَلَمْ يَرَوْا أَنَّاجَعَلْنَا حَرَمًاآمِنًا، الاية، په لوړو آيتونو كى دمكى دمشركانو دجاهلانه حركتونو ذكر وو، چي دټولو شيانو خالق اومالك خداى ﷻ دمنلو باوجود د ډېرو څخه په خپله تراش كړى ، بتان دهغه سره په خدايى كي شريكوى او صرف دكائناتو دپيدائش خداى پاك مالك نه ګڼى بلكى په هرسخت وخت كي دمصيبت څخه نجات وركول هم دهغه په اختيار كي منى مگر دنجات څخه وروسته بياپه شرك كي اخته كيږي . د دوى دكفر اوشرك يو عذر دمكى دځينى مشركانو دطرف څخه دا هم پيش كيدى چي مونږ ستا دين حق او صحيح منو خو ددى په پيروى كولو او مسلمانيدو كي مونږ دخپلو ځانونو خطره محسوسوو، ځكه چي ټول عرب د اسلام څخه خلاف دى ، مونږ كه مسلمانان سو نو باقي عرب به مونږ ددي ځاى څخه وباسى او مړه به موكړى . (كمارُوى عن ابن عباس ﷺ . روح)

ددى په ځواب كي الله ﷻ فرمايى چي ددوى داعذرهم عبث دى ځكه چي مكى والاووته الله ﷻ دبيت الله په وجه سره هغه شرافت اوبزرګى وركړي ده كومه چي په دنياكي دبل ځاى خلقوته حاصله نه ده مونږدمكى توله مځكه حرم جوړكړى دى دعرب اوسيدونكى مومنان وي اوكه كافران ټول په جمع دحرم احترام كوى په دى كي قتلونه جنګونه حرام ګڼى په حرم كي انسانان خو انسانان دى ددغه ځاى ښكاروژل اوددغه ځاى درختى پريكول هم څوك جائز نه ګڼى . ددباندى يو سړى چي حرم ته دا خل سي نو هغه هم دقتل څخه په امن سي نو دمكى مكرمى اوسيدونكى چي په اسلام قبلولو سره دخپلوځانونوخطره وايى، داعذر د دوى بى كاره دى .

وَالَّذِينَ جَاهَدُوافِينَالَنَهْدِيَنَّهُمْ سُبُلَنَا ، دجهاد اصل معنى په دين كي دراپيښيدونكو بنديزونه په ليرى كولو كى خپل پوره طاقت لګول دى ، په دى كي هغه بنديزونه هم دا خل دى ، كوم چي دكافرانو او فاجرانو دطرف څخه پيښيږي . دكفارو سره جنګ كول ددي لوړ فرد دى . او هغه بنديزونه هم په كښى دا خل دى كوم چي دخپل نفس او شيطان دطرف څخه پيښيږي .

دجهادپه دى دواړو قسمونو باندي په دى آيت كي داوعده ده چي مونږجهادكوونكوته دخپلولاروهدايت كوو يعنى په كومو موقعوكي چي په خيراوشرياحق اوباطل يانفع اوضرركى التباس وى عقلمندانسان سوچ كوي چي كومه لار اختيار كړم ، په داسي موقعوكى الله ﷻ په خپله لاره كي جهاد كوونكو ته صحيح سيده بى خطره لار ښيى . يعنى د دوى زړونه هغه طرفته ګرځوى په كوم طرف كي چي د دوى دپاره خير او بركت وى .

(په علم باندي په عمل كولو سره په علم كي زياتوب)

اوحضرت ابودرداء ﷺ ددي آيت په تفسيركى فرمايى چي دالله ﷻ دطرف څخه كوم علم خلقو ته وركول سوى دى كوم خلق چي په خپل علم كي دعمل كولوجهادكوي مونږپردوى نورداسي علمونه خلاصووكوم چي تراوسه دوى ته حاصل نه دى او فضيل بن عياض (رح) فرمايى چي كوم خلق په طلب دعلم كي كوشش كوي مونږ دهغوى دپاره علم هم آسانوو . (مظهرى) والله سبحانه وتعالى اعلم

﴿سورة الروم﴾

سُوْرَةُ الرُّوْمِ مَكِّيَّةٌ وَهِيَ سِتُّوْنَ اٰيَةً وَسِتُّ رُكُوْعَاتٍ

سورة روم په مکه کی نازل سو په دی کی شپیته (۶۰) ایاتونه اوشپږ (۶) رکوع گانی دي .

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ ○

شروع کوم په نامه دالله چی بی حده مهربان نهایت رحم والا دی .

الٓمّٓ ۚ ① غُلِبَتِ الرُّوْمُ ② فِيْٓ اَدْنَى الْاَرْضِ وَهُمْ مِّنْۢ بَعْدِ

مغلوب سول رومیان ، په نژدی ملک کی او دوی به ددې مغلوب

غَلَبِهِمْ سَيَغْلِبُوْنَ ③ فِيْ بِضْعِ سِنِيْنَ ۗ لِلّٰهِ الْاَمْرُ مِنْ قَبْلُ

کیدو څخه وروسته ډیر ژر غالب سی ، په څو کالو کی دالله ﷻ په لاس کی دی ټول کار مخکې

وَمِنْۢ بَعْدُ ۗ وَيَوْمَئِذٍ يَّفْرَحُ الْمُؤْمِنُوْنَ ④ بِنَصْرِ اللّٰهِ ۗ يَنْصُرُ

او وروسته ، او په دغه ورځ به خوشحاله سی مسلمانان ، دالله ﷻ په مدد سره ، مدد کوی

مَنْ يَّشَآءُ ۗ وَهُوَ الْعَزِيْزُ الرَّحِيْمُ ⑤ وَعْدَ اللّٰهِ ۗ لَا يُخْلِفُ اللّٰهُ

دچا چی وغواړی او هغه دی زبردست رحم والا ، دالله ﷻ وعده وسوه ، خلاف نه کوی الله ﷻ

وَعْدَهٗ وَلٰكِنَّ اَكْثَرَ النَّاسِ لَا يَعْلَمُوْنَ ⑥ يَعْلَمُوْنَ ظَاهِرًا

دخپلی وعدی څخه اولیکن ډیر خلق نه پوهیږي ، پوه دی په ظاهری

مِّنَ الْحَيٰوةِ الدُّنْيَا ۚ وَهُمْ عَنِ الْاٰخِرَةِ هُمْ غٰفِلُوْنَ ⑦

ژوند ددنیا باندی او هغه خلق داخرت څخه ناخبره دی

لنډ تفسير: الٓمّٓ (الله ﷻ ته ددې معنی معلومه ده) اهل روم په یوه نژدی موقع کي (یعنی په مخکه دروم کي په

داسي مقام کي کوم چي په نسبت دفارس عربوته زیات نژدی دی ، مراد ددي څخه اذرعات او بصرئ ده کوم چي دشام په ملك کي دوه ښارونه دی ، کذافی القاموس، او دروم تر حکومت لاندي دی نو دروم په مځکه کي دا خل دی پر دی ځای رومیان دفارسیانو په مقابله کې) مغلوبه سول (په دی سره مشرکان خوشحاله سول) او هغه (رومیان) به دخپل (دی) مغلوب کیدو څخه وروسته د بر ژر (پرفارسیانو باندي په بله مقابله کې) د دری کالو څخه ترنهو کالو پوري په دننه وخت کي غالب راسی (اودامغلوب اوغالب کېدل تول دخدای دطرف څخه دی ځکه چي دمغلوب کیدو څخه) مخکی هم د الله ﷻ اختیار وو (چي په هغه سره یی مغلوبه کړی وای) او (دمغلوب کیدو څخه) وروسته هم (دالله ﷻ اختیار دی چي په هغه سره به یی غالب کړی) او په هغه ورځ (یعنی کله چي رومیان غالب سی) مسلمانان به دالله ﷻ په دی امداد باندي خوشحاله سی (ددی امداد څخه یاخو دا مراد دی چي الله ﷻ به مسلمانان د دوی په خبره کي رښتیني او غالب کړی ، ځکه چي دا پیش گویی مسلمانانو کفارو ته ښکاره کړه او هغوی درواغجنه کړه ، نو ددی په واقع کیدو به دمسلمانانو گټه وسی اویا دا مراد دی چي مسلمانان به په جنگ کي هم غالب کړی ، چنانچی دغه وخت په جنگ دبدر کی امتحان کیدونکی وو او په هرحال کي دفتح محل اهل اسلام دی ، او دمسلمانانو په ښکاره حالت دمغلوبیت لیدو باندي دی ، دا لیری نه گڼل کیږي چي دا مغلوب مسلمانان به دمقابلی په وخت کي پرکفارو څنگه غالب راسی ځکه چي نصرت دالله ﷻ په قبضه کي دی) هغه چي څوك وغواړی غالب کوي یی او هغه زبردست دی (کفار چي کله وغواړی قولاً یافعلاً مغلوب به یی کړی او) رحیم (هم) دی (مسلمانان چي کله وغواړی غالب به یی کړی) الله ﷻ ددي وعده فرمایلي ده (او) الله ﷻ دخپلي وعدی څخه خلاف نه کوي (په دی وجه سره دا پیشگویی به خامخا واقع کیږي) لیکن اکثره خلق (دالله ﷻ په تصرفاتو) نه پوهیږي (بلکی صرف ظاهری اسباب وینی په دغو اسبابو حکم لگوی، په دی وجه داپیشگویی ډېره بعیده گڼی، حالانکی مسبب الاسباب اومالك داسبابو حق تعالی دی ، هغه ته اسباب بدلول هم اسان دی او داسبابو خلاف دمسبب واقع کول ورته هم آسانه دی)

(اولکه څنگه چي دپیشگویی دواقع کیدو څخه مخکی دظاهری اسبابو په نه کیدو سره ددي انکارکوی ، دغه ډول چي پیشگویی پوره وويني هم دا به یو اتفاقی کار وگڼی او دالله ﷻ دوعدی ښکاره کېدل یی نه گڼی ، په دی وجه په لفظ د ، لَا يَعْلَمُوْنَ، کي دا دواړه شیان راغلل ، ددي خلقو دالله ﷻ اونبوت څخه دغافل اوجاهل کیدو سبب دا دی چي) داخلق صرف ددنیوی ژوند په ښکاره (حالت) باندي پوهیږي او داخلق داخرت څخه (بالکل) نا خبره دی (چي هلته به څه وی ، په دی وجه د دوی سره په دنیا کي نه دعذاب داسبابو څخه دخلاصیدو فکر سته او نه دنجات داسبابو دایمان اونیك عمل تلاش سته)

(معلومات اومسئلي : دسورة روم دنزول قصه او دفارس جنگ)

سورة عنکبوت په هغه آیت ختم سوی دی ، په کوم کي چي الله ﷻ په خپله لاره کي دجهاد اومجاهده کوونکو دپاره دخپلي لاری دخلاصولو او دهغوی دپاره په مقصدونو کي دکامیابیدو خوشخبری ورکړی

وه . دسورة روم شروع چي دکومې قصې څخه سوي ده ، هغه ددي نصرت الهي يو مظهر دی . په دی سورة کي چي کومه واقعه دروم او دفارس دجنګ ذکر ده ، هغه دواړه کفار وه ، په دغو کی دچافتح او دچا شکست په ښکاره داسلام اومسلمانانو دپاره څه ددلچسپی شی نه دی . مګر په دی دواړو کفارو کي اهل فارس مشرکان اتش پرست وه او دروم نصارٰی اهل کتاب وه . اوښکاره ده چي په دواړه قسمه کفارو کي اهل کتاب مسلمانانو ته نژدی دی ، څکه چي ددين ډير اصول په اخرت ايمان په وحی او رسالت ايمان په دوی کي قدر مشترك دی ، ددي قدر مشترك څخه نبی کريم ﷺ په خپل هغه خط کي کار واخستی کوم چي يی دروم باچا ته داسلام ددعوت ورکولو دپاره ليږلی وو چی . تَعَالَوْا إِلَىٰ كَلِمَةٍ سَوَاءٍ بَيْنَنَا وَبَيْنَكُمْ، دمسلمانانوسره داهل کتابو نژديکت ددي سبب جوړسو چي دنبی کريم ﷺ دمکی دقيام په زمانه کي فارس پرروم حمله وکړه دحافظ ابن حجر (رح) دقول مطابق د دوی داجنګ دشام دملك دا ذرعات اوبصرٰی مقام په مينځ کي واقع سوددي جنګ په دوران کي مشرکينو دمکی داغوښتل چي فارس غالب سی څکه چي هغوی په شرك اوبت پرستی کي ددوی سره شريك وه اومسلمانانو داغوښتل چي روم غالب سي څکه چي هغوی د دين اومذهب په اعتبارسره اسلام ته نژدی وه مګروسوه داچي دغه وخت فارس پرروم غالب سو ، تردی چي قسطنطنيه يی هم فتح کړه او هلته يی دخپل عبادت دپاره يوه اتشکده جوړه کړه او دا فتح دکسرٰی پرويز اخري فتح وه ددي څخه وروسته دده زوال شروع سو اوبيا دمسلمانانو دلاسه دده خاتمه وسوه (قرطبی) په دی . واقعه دمکی مشرکانو خوشحالی وکړه اومسلمانانوته يی پيغور ورکی چي تاسی چاته غوښتل هغه وبايلله اولکه چي روميانو اهل کتابو دفارس په مقابله کي شکست وخوړی ، زمونږ په مقابله کي به تاسی هم شکست خوری ، په دی مسلمانان خفه سول (ابن جرير، ابن ابی حاتم)

په قرآن کريم کي دسورة روم ابتدايي آيتونه ددي واقعی متعلق نازل سوه ، په کومو کی چي دا پيش ګويی او خوشخبری ورکول سوي ده ، چي څوکاله وروسته به بيا روم پرفارس غالب راسی .

حضرت صديق اکبر ﷺ چي هرکله دا ايتونه واوريدل نو دمکی اطرافو او دمشرکانو مجمعو اوبازارونو ته ولاړی او ددی اعلان يی وکی چي ستاسی دخوشحالی هيڅ ځای نسته په څوکاله کي به بياروم پرفارس غالب راسی دمکی په مشرکانوکی أبیّ ابن خلف يی مقابله وکړه او وی ويل چي تاسی درواغ واياست ، داسي نه سي کيدی . صديق اکبرﷺ وفرمايل چي دخدای دښمنه ته درواغجن يی اوزه خو په دی واقعه شرط لګولو ته تيار يم ، که په دری کاله کي دننه روم غالب نه سو ، نو لس اوښی به زه تاته درکوم اوکه غالب سو نو لس اوښی به ته راکوی (دا معامله خو دځماروه ، مګر دغه وخت ځمار حرام نه وو) دايی ودويل اوصديق اکبر ﷺ دنبی کريم ﷺ په خدمت کي حاضر سو او ددی واقعی ذکر يی وکی . نبی کريم ﷺ وفرمايل چي ماخو د درو کالو موده متعينه کړی نه وه ، څکه په قرآن کريم کي ددي دپاره لفظ د ، بِضْعَ سِنِيْنَ، ذکر دی ، چي اطلاق يی د درو څخه تر نهو کالو پوري پرموده کيدی سی . ته ولاړسه او دچاسره چي دی دا وعده کړي ده ، هغه ته ووايه چي زه دلسو او ښو پرځای دسلو شرط لګوم . مګر موده د درو کالو پرځای نه

کاله (اوپه ځینی روایتونوکی اووه کاله) مقرروم، صدیق اکبر ﷛ دا حکم ومنی او ولاړی اوأبیّ ابن خلف په دی نوی وعده راضی سو (ابن جریر په خپل سند سره دمجاهد څخه او ترمذی ددې قصی روایت دابی سعید خدری ﷛ او دینار بن مکرم الاسلمی څخه په لږ تغیر سره کړی دی)

دحدیث درو ایتونو څخه معلومیږي چي دا وقعه دهجرت څخه پنځه کاله مخکی پیښه سوي ده اوچی اووه کاله پوره سول نو دبدر دجهاد په وخت کي روم دوباره پرفارس غالب راغی دغه وخت أبیّ ابن خلف مړ وو. صدیق اکبر ﷛ یی دوارثانو څخه خپل شرط وغوښتی ، هغوی سل اوښی ورکړی .

په ځینو روایتونو کي دی چي دهجرت څخه مخکی هرکله چي دأبیّ ابن خلف سره دا فکر سو چي ابوبکر ﷛ شاید هجرت وکی او ولاړسی نو ده ورته وویل چي زه تا ترهغه وخته پوري نه پریږدم تر څو پوري چي ته ماته کفیل رانه کړی چي که ترمقرر میعاده پوري روم غالب نه سي نو چی سل اوښی هغه ماته راکړی . حضرت صدیق اکبر ﷛ خپل زوی عبد الرحمٰن ﷛ دهغه کفیل جوړکی .

هرکله چي دشرط مطابق حضرت صدیق اکبر ﷛ وګټله اوسل (۱۰۰) اوښی دده په لاس ورغلی نو تولی یی دنبی کریم ﷺ په خدمت کي حاضری کړی ، حضور ﷺ ورته وفرمایل چي دا اوښی صدقه کړه . اوپه ابویعلی او ابن عساکر کي دحضرت براء بن عازب ﷛ په روایت سره په دی کي دا الفاظ نقل دی . هٰذَا السُّحْتُ تَصَدَّقْ بِهِ . دا خو حرامی دی دا صدقه کړه . روح المعانی

مسئله دقمار: قماریعنی جواری دقرآن کریم په نصوصو سره قطعی حرامه ده دمدینی دهجرت څخه وروسته څه وخت چي شراب حرام سول نو ددی سره جواری هم حرام سوه اودایی دشیطان عمل مقررکی په آیت إِنَّمَا الْخَمْرُ وَالْمَيْسِرُ وَالْأَنصَابُ وَالْأَزْلَامُ رِجْسٌ مِّنْ عَمَلِ الشَّيْطَانِ، کي میسراوازلام دجواری صورتونه دی کوم چي حرام سوی دی او دا دواړه طرفه معامله او دګټی او بایللو شرط کوم چي حضرت صدیق اکبر ﷛ دابی ابن خلف سره تړلی وو، دا هم یو قسم جواری وه ، مګر دا واقعه دهجرت څخه مخکی ده کله چي جواری حرامه نه وه . په دی وجه په دی واقعه کي چي کله دا مال حضور ﷺ ته راوړل سو نوځه حرام مال نه وو.

په دی وجه دلته دا سوال پیدا کیږي چي حضور ﷺ ددې دصدقه کولو حکم ولی وفرمایی ، خاصکر په نورو روایتونو کي چي کوم ددې متعلق لفظ د، سُحت، راغلی دی چي مشهوره معنٰی یی دحرام ده ، دا څنګه رواکیدی سي ؟ ددې ځواب فقهاوو حضراتو دا ورکړی دی چي دا مال که څه هم دغه وخت حلال وو، مګر دجواری په ذریعه ګټلی مال دغه وخت هم دنبی کریم ﷺ خوښ نه وو. په دی وجه یی دصدیق اکبر ﷛ دشان مناسب ونه ګڼی او ده ته یی دصدقه کولو حکم وکی او دا داسي ده لکه چي دشرابو دحلالوالی په زمانه کي نبی کریم ﷺ اوحضرت صدیق اکبر ﷛ هیڅکله نه دی استعمال کړی .

اولفظ دسُحت چي په ځینو روایتونو کي راغلی دی ، اول خو دا روایت محدثینو صحیح نه دی منلی اوکه صحیح هم ومنل سي نو دا لفظ هم په ډېرو معانیو کي استعمالیږي ، لکه چي په معنٰی دحرام مشهور دی نوری معانی ددې مکروه او ناخوښه هم راځی ، لکه چي په یو حدیث کي نبی کریم ﷺ فرمایی، کَسْبُ

الْحَجَّام سُحْتٌ، يعنى دحجام (وينه ايستونكى) كټه سحت دى . دلته جمهور فقهاء ددې معنى ناخوښه او مكروه كوي او امام راغب اصفهانى (رح) په مفردات القرآن كي او ابن اثير (رح) په نهايه كي دلفظ د سحت دا مختلفى معانى دعربو دمحاورو او داحاديث نبويه وو څخه ثابتى كړى دى .
دفقهاؤ حضراتو دا خبره په دى هم قبلول واجب دى چي كه په واقع كي دا مال حرام واى ، نو دشرعى اصولو مطابق دا مال هغه سړى ته بيرته وركول لازم وو چي دچا څخه اخستل سوى وو. دحرام مال دصدقه كولو حكم صرف په هغو صورتونو كي دى كله چي دهغه مالك معلوم نه وي يايى ورته رسول مشكل وى، يايى په بيرته وركولوكى څه شرعى قباحت وى . والله سبحانه وتعالى اعلم
يَوْمَئِذٍ يَفْرَحُ الْمُؤْمِنُونَ بِنَصْرِ اللّٰهِ ۙ يعنى په هغه ورځ (په كومه چي روم په فارس غالب راسى) مسلمانان به خوشحاليږي دالله ﷻ په مدد سره، دعبارت دنظم په اعتبار سره ښكاره دا ده چي دلته دنصر او مدد څخه مراد دروميانو نصرت او امداد دى ، هغوى كه څه هم كافران وه ، مگر دنورو مقابلو كافرانو په اعتبار سره په كفركى سپك وه، په دى وجه د دوى نصرت دالله ﷻ دطرف څخه كېدل څه ليرى خبره نه ده ، خصوصاً كله چي د دوى په نصرت سره مسلمانانو ته هم خوشحالى حاصليږي او دكفارو په مقابله كي د دوى گټه هم وى.
او دا هم احتمال دى چي دنصرت څخه مراد دلته دمسلمانانو نصرت وي كوم چي په دووو جهو سره كيدى سي اول خو دا چي مسلمانانو دروميانو غلبه دقرآن دربښتنوالى او داسلام دحقوالى دليل پيش كړى وو، په دى وجه دروميانو غلبه په حقيقت كي دمسلمانانو نصرت وو. دوهمه وجه دنصرت دمسلمانانو دا هم كيدى سي چي په هغه زمانه كي دكفارو لوى طاقتونه هم دوه فارس اوروم وه . الله ﷻ دا دواړه ديوبل سره ونښلول او دواړه يى كمزورى كړل، كوم چي په راتلونكى وخت كي دمسلمانانو دفتوحاتو مقدمه جوړ سول. (روح)
يَعْلَمُونَ ظَاهِرًا مِّنَ الْحَيَاةِ الدُّنْيَا وَهُمْ عَنِ الْآخِرَةِ هُمْ غَافِلُونَ ۙ يعنى داخلق ددنيا دژوند يوطرف خو ښه پيژنى چي تجارت څنگه وكړى ، په كوم مال سره يى وكړى ؟ دكوم ځاى څخه يې واخلى؟ كوم ځاى يى خرڅ كړى ؟ او زميندارى څنگه وكړى ؟ كله تخم وكړى كله يى وريبى ؟ ابادى څنگه وكړى؟ دعيش عشرت اسبابونه څنگه څنگه تيار كړى . ليكن ددي ژوند دوهم طرف كوم چي ددي حقيقت او اصلى مقصد واضح كوي چي ددنيا داڅو ورځى قيام په حقيقت كي ديوى مسافرخانى قيام دى، انسان دلته مقامى سړى (نيشنل) نه دى، بلكى دبل ملك داخرت اوسيدونكى دى، دلته دڅه وخت دپاره په ويزا راغلى دى . دده اصل كار دا دى چي دخپل اصلى وطن دپاره دلته دراحت اسباب تيار كړى هلته يى وليږي او هغه دراحت اسباب ايمان اونيك عمل دى . ددي دوهم طرف څخه هغه خلق چي لوى لوى عاقلان ورته ويل كيږي بالكل غافله او جاهله دى .
دقرآن كريم په الفاظو كي فكر وكړى چي د ، يَعْلَمُونَ، سره يى، ظَاهِرًا مِّنَ الْحَيٰوةِ الدُّنْيَا، فرمايلي دى، په دى كي لفظ د ، ظَاهِرًا ، يى دتنوين سره نكره راوړى . دعربى قواعدو په روسره دى طرف ته اشاره ده چي په حقيقت كي داخلق دژوند په ظاهر هم پوره پوه نه دى ، ددي صرف يوطرف پيژنى د دوهم طرف څخه بى غافله دى او داخرت څخه خو بالكل غافل او جاهلان دى .

(ددنيا دمعاش فنونه که داخرت څخه دغفلت سره حاصل سي نو هغه هيڅ هوښيارتيا نه ده)

قرآنکريم ددنيا دقومونو دعبرتناکو قصو څخه ډك دی . کوم کسب کوونکی چي ددنيا او دعيش اوعشرت په اسباب جمع کولوکی دډېر نامداره وو . بيا دهغوی بد انجام هم په دنيا کي دخلقو مخ ته راغی او داخرت هميشه عذاب دهغوی حصه سوه په دی وجه هغوی ته هيڅوك پوه خلق حکيمان عاقلان نه سي ويلی ، افسوس دی چي نن صبادعقل اوحکمت ټول انحصار په دی کي ګڼل سوی دی چي کوم سړی دزياتو څخه زيات مال جمع کړی او دخپل عيش اوعشرت اسباب دټولو څخه ښه پيداکړی ، هغه ته دټولوڅخه لوی عقلمند ويل کيږي . که څه هم دانسانی اخلاقو څخه هم عاری وی . دعقل اوشرع په لحاظ سره ده ته عقلمندويل دعقل سپکوالی دی . دقرآن کريم په ژبه کي عقل والا صرف هغه خلق دی کوم چي الله ﷻ او اخرت وپيژنی ددي دپاره عمل وکړی ، ددنيا ضرورتونه په قدر دضرورت ساتی ، دخپل ژوند مقصد يی نه جوړوی . دقرآن دايت . إِنَّ فِي خَلْقِ السَّمَاوَاتِ الی قوله لَآيَاتٍ لِأُولِي الْأَلْبَابِ الَّذِينَ يَذْكُرُونَ اللَّهَ قِيَامًا وَقُعُودًا ، الاية .

أَوَلَمْ يَتَفَكَّرُوا فِي أَنفُسِهِم ۗ مَّا خَلَقَ اللَّهُ السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضَ

آيا دوی فکر نه کوی په خپلو خانونو کی چی الله ﷻ کوم جوړ کړي دي آسمانونه او مځکی

وَمَا بَيْنَهُمَا إِلَّا بِالْحَقِّ وَأَجَلٍ مُّسَمًّى ۗ وَإِنَّ كَثِيرًا مِّنَ

اوڅه چی د دوی په مينځ کی دی پس صحيح په حقه سره او په وعده مقرره او ډير

النَّاسِ بِلِقَاءِ رَبِّهِمْ لَكَافِرُونَ ۝٨ أَوَلَمْ يَسِيرُوا فِي الْأَرْضِ

خلق دخپل رب دملاقات څخه منکر دی ، آيا دوی نه دی ګرځيدلی په ملک کی

فَيَنظُرُوا كَيْفَ كَانَ عَاقِبَةُ الَّذِينَ مِن قَبْلِهِمْ ۚ كَانُوا أَشَدَّ

چی پس ووينی چی څنګه سو انجام د دوی څخه دمخکنی چی وو زيات

مِنْهُمْ قُوَّةً وَأَثَارُوا الْأَرْضَ وَعَمَرُوهَا أَكْثَرَ مِمَّا عَمَرُوهَا

د دوی څخه په زور کی او وارله دوی مځکه او اباده يی کړه دا ډيره د دوی دآبادولو څخه

وَجَاءَتْهُمْ رُسُلُهُم بِالْبَيِّنَاتِ ۖ فَمَا كَانَ اللَّهُ لِيَظْلِمَهُمْ وَلَٰكِن

او راغلل هغوی ته رسولان دهغوی دښکاره حکمونو سره ، پس نه وو الله تعالی په دوی ظلم کوونکی اوليکن

كَانُوْٓا اَنْفُسَهُمْ يَظْلِمُوْنَ ﴿۹﴾ ثُمَّ كَانَ عَاقِبَةَ الَّذِيْنَ اَسَآءُوا

هغوی په خپله په ځانونو ظلم کوونکي وو ، بيا سو انجام د بد کوونکو

السُّوْٓاٰى اَنْ كَذَّبُوْا بِاٰيٰتِ اللّٰهِ وَكَانُوْا بِهَا يَسْتَهْزِءُوْنَ ﴿۱۰﴾

بدٌ په دی وجه چي دروا غجن کولی يی دالله خبری او وه دوی په هغو پوری مسخری کوونکي.

لنډ تفسير: آيا (دليلونه دواقع کيدو د اخرت يی واوريدل بياهم د دوی نظرونه په دنيا پوري پيوست سوي دی او) هغوی په خپلو زړونو کي دا فکر ونه کي چي الله ﷻ آسمانونه اومځکی او هغه شيان کوم چي د دوی په مينځ کي دی ، په څه حکمت سره او ديو ميعاد مقرر دپاره پيدا کړی دی (لکه چي په دی آيتونوکي يی خبر ورکړی دی چي په هغو حکمتونو کي يو حکمت دجزا او سزا دی ، او ميعاد مقرر قيامت دی که په خپلو زړونو کی يی فکر کولی نو ددی واقعاتو امکان په عقل سره او ددی واقع کېدل په نقل يعني قرآن سره او ددی نقل رښتنوالی به په صفت داعجازسره ورته ښکاره سوی وو او داخرت څخه به يی انکار نه وو مگرچي غور نه کوي نو په دی وجه انکار کوی) او (داخه کوي نور) ډېر خلق دخپل رب سره دملاويدو څخه منکر دی آيادا خلق (کله دکور څخه نه دی وتلی او) په مځکه کي گرځيدلی نه دی چي ليدلی کتلی يی وای چي کوم (منکر) خلق د دوی څخه مخکی تير سوی دی دهغوی (اخری) انجام څنگه سو (حال دهغوی دا وو چي) هغه د دوی څخه په قوت کي زيات وه او هغوی مځکه هم (د دوی څخه زياته) کرلی وه او خومره چي دوی (په اسبابونو اومکانونو) دا اباده کړي ده ددي څخه زياته هغوی داابادہ کړی وه اوهغوی ته هم دهغوی پيغمبرانو معجزی راوړی وي (کومی چي هغوی ونه منلی او په عذاب سره هلاك سول دکومو دهلاکت نښی اووران مکانونه چي دشام په لاره کي ليدل کيږي ، ښکاره دی) وروسته (په دغه هلاکت کي) الله ﷻ داسي نه وو چي پر هغوی يی ظلم کوی ، هغوی په خپله پرخپلو ځانونو ظلم کوي (چي دپيغمبرانو څخه يی انکار وکی نو دهلاکت مستحق سول دا خو دهغوی حالت په دنياکی سو او) بيا (په اخرت کی) ددداسي خلقو انجام کوم چي (داسي) بدکار (يعني درسولانو څخه انکار) کړی وو بدسو (محض) په دی وجه چي هغوی د الله ﷻ ايتونه (يعني احکام اوخبرونه) دروا غجن کړی وه او (ددروا غجن کولو څخه ماسوا داچي) په هغوی پوري يی مسخری کولی (دغه انجام ددوږخ سزا ده).

معلومات اومسئلي: دذکر سوو دواړو آيتونو مضمون دتير تکمله اوپرهغه په طور دشاهدی دی چي داخلق ددنيادخو ورځو په روښنايي اوبرېښنايي اوخوندو کی داسي مست سول چي ددي کارخانی دحقيقت او انجام څخه بالکل غافله سول که دوی په خپله هم لږ په خپل زړه کي سوچ کولی او فکر يی کولی نو پر دوی به دا راز دکائناتو ښکاره سوی وای . چي دکائناتو خالق دا آسمانونه اومځکی او ددی دواړو دمينځ

مخلوقات فضول اوبی کاره نه دی پیدا کړی ، د دوی په پیدائش کي يو لوی مقصد اولوی حکمت دی او هغه دا دی چي خلق دالله ﷻ ددي بی شمیره نعمتونو په ذریعه ددي پیدا کوونکی هم وپيژني او ددی په تلاش کي سي چي هغه په کومو کارونو راضی کیږي او په کومو ناراضه کیږي ، چي دهغه درضا لټولو اسباب برابر کړی او دناراضتیا دکارونو څخه يې ځان وساتي او دا هم ښکاره ده چي ددي دواړه قسمه کارونو څه جزاء او سزا هم کېدل ضروري دی کنه نو نیك او بد په یوه پله کي اهښودل دعدل او انصاف څخه خلاف ده او دا هم معلومه ده چي دا دنیا دار الجزاء نه ده چي په دی کي انسان ته دده دښه یابد عمل پوره جزا ضرور ورکول سوه ، بلکی دلته خو اکثره داسي کیږي چي جرم کوونکی خلق ښه او خوشحاله وي او کامیاب په نظر راځي او دبدو کارونو څخه پرهیز کوونکی په مصیبتونو اوتنګی کي ليدل کیږي .
په دی وجه ضروري ده چي یو داسی وخت راسی کله چي دا ټوله کارخانه ختمه سي او دښو او بدو عملونو حساب وسی او جزا اوسزا باندي مرتب سي چي دهغه نوم قیامت او اخرت دی .
لنډه دا چي دی خلقو که غور او فکر کولی نو دی آسمانونو اومځکو او ددی مخلوقاتو به داشاهدی دوی ورکولی چي دا شیان دائمی نه دی بلکی دڅه مودی دپاره دی ، او ددی څخه وروسته بل عالم راتلونکی دی کوم چي به دائمی وی . په ذکر سوو دوو آیتونو کي د اول آیت دا مطلب دی . اَوَلَمْ يَتَفَكَّرُوْا فِيْٓ اَنْفُسِهِمْ الآیة . دا مضمون خو دیو عقلي استدلال دی ، په مخکی آیت کي ددنیامحسوسات اومشاهدات او تجربات ددي په شاهدی کي پیش سوی دی او دمکی خلقو ته خطاب کوي فرمایي چي .
اَوَلَمْ يَسِيْرُوْا فِي الْاَرْضِ ، یعنی دا دمکی خلق خو دیوی داسي مځکی اوسیدونکی دی کوم ځای چي نه کرونده سته ، نه څه صنعت ، نه دتجارت موقع او نه لوړی اوښائسته ابادی . مګر دشام اویمن سفر دی خلقو ته دخپل تجارتی مقصدونو دپاره وریپښیږي . آیا په دی سفرونو کی دی خلقو دځان څخه دمخکی قومونو ددنیا دانجام مشاهده نه ده کړی کومو ته چي الله ﷻ په مځکه کي دلویو لویو تصرفاتو کولو سلیقه ورکړی وه چي مځکه کیندل اوبه ورڅخه را ایستل ، باغونه اومځکی باندي اوبه کول او دمځکی دپټو کانونو څخه سره سپین او نور قسم دکانونو شیان را ایستل او دانسانی فائدو دپاره ورڅخه مختلف قسم شیان تیارول دهغوی دژوند وظیفه وه او هغوی دخپلي زمانی متمدن قومونه ګڼل کېدل ، مګر هغوی په دی مادی اوفانی عیش عشرت باندي مست سول اوالله ﷻ او اخرت یې هیرکی ، الله ﷻ هغوی ته دیادولو دپاره خپل پیغمبران او کتابونه را ولیږل ، مګر هغوی هیڅ ته هم ونه کتل او اخر په دنیا کي په عذاب کي ګیر سول ، په کوم باندي چي د دوی دکلو ورانی کنډوالی تردی وخته پوري شاهدی ادا کوي.
دایت په اخر کي فرمایي چي فکر وکړی چي ایاپه دی عذاب کي پر دوی دالله ﷻ دطرف څخه څه ظلم سوی دی یا دوی په خپله پر خپلو ځانونو ظلم کړی دی چي دعذاب اسباب یې جمع کړل .

اَللّٰهُ يَبْدَؤُا الْخَلْقَ ثُمَّ يُعِيْدُهٗ ثُمَّ اِلَيْهِ تُرْجَعُوْنَ ﴿۱۱﴾ وَيَوْمَ تَقُوْمُ السَّاعَةُ

الله ﷻ پيداکوي په اول وار بيا به يې دوباره کوي بيا به دهغه طرف ته بيرته راځئ ، او په کومه ورځ چې قائم سي

يُبْلِسُ الْمُجْرِمُوْنَ ﴿۱۲﴾ وَلَمْ يَكُنْ لَّهُمْ مِّنْ شُرَكَآئِهِمْ شُفَعٰٓؤُا وَكَانُوْا

قيامت نااُميده به پاته سي مجرمان ، او نه به وي د دوی په شريکانو کې څوک د دوی سفارش کوونکی او هغوی

بِشُرَكَآئِهِمْ كٰفِرِيْنَ ﴿۱۳﴾ وَيَوْمَ تَقُوْمُ السَّاعَةُ يَوْمَئِذٍ يَّتَفَرَّقُوْنَ ﴿۱۴﴾

به سي دخپلو شريکانو څخه منکر او په کومه ورځ چې قائم سي قيامت په دغه ورځ به خلق سي قسم قسم

فَاَمَّا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا وَعَمِلُوا الصّٰلِحٰتِ فَهُمْ فِيْ رَوْضَةٍ يُّحْبَرُوْنَ ﴿۱۵﴾

پس کومو خلقو چې ايمان راوړی او نيک عملونه کوي پس په باغ کې به دوی خوشحالول کيږي

وَاَمَّا الَّذِيْنَ كَفَرُوْا وَكَذَّبُوْا بِاٰيٰتِنَا وَلِقَآئِ الْاٰخِرَةِ فَاُولٰٓئِكَ فِي

او څوک چې ذمنکرر سول او درواغجنی يې کړی زمونږ خبري او يو ځای کيدل دآخرت پس هغوی به

الْعَذَابِ مُحْضَرُوْنَ ﴿۱۶﴾ فَسُبْحٰنَ اللّٰهِ حِيْنَ تُمْسُوْنَ وَحِيْنَ تُصْبِحُوْنَ ﴿۱۷﴾

په عذاب کې حاضر کړل سوي وي ، پس پاکي بيانوي دالله کله چې ماښام کړي او کله چې سهار کړئ

وَلَهُ الْحَمْدُ فِي السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ وَعَشِيًّا وَّحِيْنَ تُظْهِرُوْنَ ﴿۱۸﴾

او دهغه ثناء ده په آسمانونو کې او په مځکه کي او په ماخيګر کي او کله چې ماپښين سي

يُخْرِجُ الْحَيَّ مِنَ الْمَيِّتِ وَيُخْرِجُ الْمَيِّتَ مِنَ الْحَيِّ وَيُحْيِ

را وباسي ژوندی دمړی څخه او را وباسي مړی دژوندی څخه او ژوندی کوي

الْاَرْضَ بَعْدَ مَوْتِهَا ۭ وَكَذٰلِكَ تُخْرَجُوْنَ ﴿۱۹﴾ ع

مځکه ددې دمرګ څخه وروسته او دغه ډول به تاسې را ويستل سي.

لنډ تفسير: الله ﷻ مخلوق اول وار هم پيداکوی ، بيا به هغه دوباره هم دوی پيدا کوی بيا (دپيدا کيدو څخه

وروسته) به دهغه خواته (دحساب اوكتاب دپاره) را وستل سي او په كومه ورځ چي قيامت قائم سي (چي دا ذكر سوى اعاده به په كښي كيدونكي وي) په دغه ورځ به مجرمان (يعني كافران خلق (سوال او جواب په وخت كي) حيران پاته سي (يعنى څه معقول ځواب به ورنه كړل سي) او د دوى په (تراش كړو) شريكانو كي به (كوم چي به يې په عبادت كي شريكول) د دوى څوك سفارشي نه وي او (دغه وخت په خپله) دا خلق به (هم) دخپلو شريكانو څخه منكره سي (چي، وَاللهِ رَبِّنَا مَاكُنَّا مُشْرِكِيْنَ) او په كومه ورځ چي به قيامت قائم سي په هغه ورځ به (علاوه ددي ذكرسوى واقعى څخه يوه واقعه دا هم وي چي دمختلفو طريقو) ټول انسانان جلا جلا سي يعنى كومو خلقو چي ايمان راوړى وو او نيك كارونه يې كړي وه هغوى خوبه (دجنت) په باغ كي خوشحالي كوونكي وي اوكومو خلقو چي كفر كړى وو او زمونږ ايتونه او داخرت راتلل يې دروغجن كړي وه، هغه خلق به په عذاب كي ګرفتار وي (دا معنى ده دجلا جلا كيدو، كله چي دايمان اونيك عمل فضيلت تاسى ته معلوم سو) وروسته تاسى دالله ﷻ تسبيح (په عقيده او په زړه هم چي ايمان په كښي راغى او په وينا او ژبه هم چي اقرار او نور ذكرونه په كښي راغلل اوعملاً او اركانًا هم چي ټول عبادتونه عمومًا اولمونځ خصوصًا په كښي راغى مطلب دا چي تاسى دالله ﷻ تسبيح هروخت) كوي (اوخاصكر) دماښام په وخت او دسهار په وخت او (دالله ﷻ دتسبيح كولو چي كوم حكم سوى دى نو هغه په واقعى كي ددي مستحق هم دى ځكه چي) په ټولو آسمانونو اوځمكو كي دهغه حمد او ثناويل كيږي (يعني په آسمانونو كي ملائكي او په ځمكه كي ځيني اختيارًا اوځيني اضطرارًا دهغه حمد اوثنا كوى ، لكه داقول د الله ﷻ . وَاِنْ مِّنْ شَيْءٍ اِلَّايُسَبِّحُ بِحَمْدِهٖ، وروسته كله چي هغه داسي محمود الصفات دى كامل الذات دى نو تاسى ته هم خامخا دهغه تسبيح كول په كار دى) او وروسته دزوال څخه (هم تسبيح كوئ) او دماپښين په وخت كي (هم تسبيح كوئ چي دا وختونه دنوى كيدو دنعمت دى او دزيات والى دنښانو دقدرت دى ، په دى كي نوى نوى تسبيح كول مناسب دى ، خاصكر دلمانځه دپاره دا وختونه مقرر دى ، چنانچي په، مساء، كي ماښام او ماخستن راغلل او په، عَشِيْ، كي ماپښين اومازيګر دواړه داخل وه، مګر ماپښين په توضيح سره ذكر دى . په دى وجه ورځخه صرف مازيګر مرادپاته سو اوسهارهم صراحتًا ذكر دى اوهغه لره دوباره پيدا كول څه مشكل دى، ځكه چي دهغه داسي قدرت دى چي) هغه جاندار دبى جان څخه را باسى اوبى جانه دجاندار څخه دباندى راباسى (مثلاً دنطفى اوهګى څخه انسان اوچيچى او د انسان اومرغى څخه نطفه اوهګى) اوځمكه هغه دمړه كيدو (يعنى وچيدو) څخه وروسته ژوندى (يعنى تازه اوشنه) كوي او دغه ډول تاسى خلق به (دقيامت په ورځ) دقبرونو څخه را ويستل سى .

معلومات اومسئلي، فَهُمْ فِيْ رَوْضَةٍ يُّحْبَرُوْنَ، يُحْبَرُوْنَ، دحبور څخه مشتق دى چي معنى يې سرور او خوشحالى ده او ددى لفظ په عموم كي هر قسم خوشحالى داخلى دى كومى چي به دنعمتونو دجنت څخه جنتيانو ته حاصليږي . په قرآنكريم كي يې دا دلته هم عام ايښى ده ، دغه ډول بل ځاى دا ارشاد دى . فَلَا تَعْلَمُ نَفْسٌ مَّا اُخْفِيَ لَهُمْ مِّنْ قُرَّةِ اَعْيُنٍ، يعنى يوسړى ته په دنياكى معلومه نه ده چي د دوى دپاره په جنت كي دسترګو

دیخ والی ،اوراحت او خوشحالی، څه څه اسبابونه جمع دی . ځینی مفسرینو چي کوم خاص خاص دخوشحالو شیان ددي آیت لاندي ذکر کړی دی ، هغه ټول تر دی اجمال لاندي دا خل دی .

فَسُبْحَانَ اللهِ حِينَ تُمْسُونَ وَحِينَ تُصْبِحُونَ وَلَهُ الْحَمْدُ فِي السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضِ وَعَشِيًّا وَحِينَ تُظْهِرُونَ " لفظ دسُبْحٰنَ اللهِ مصدر دی ، ددي فعل محذوف دی ، یعنی، سَبِّحُوا اللهَ سُبْحَانًا ، حِيْنَ تُمْسُوْنَ ، یعنی کله چي تاسی دماښام په وخت کي دا خل سی . او حین تُصْبِحُوْنَ ، یعنی کله چي پرتاسی دسهار وخت راسی . وَلَهُ الْحَمْدُ فِي السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ ، دا جمله په مینځ کي په طور ددلیل راوړل سوي ده ، چي سهار ماښام دالله ﷻ تسبیح کول ځکه ضروري دی چي په آسمان اومځکه کي صرف هغه مستحق دحمد دی اوټول دآسمانونو اومځکی مخلوق دهغه په حمد کولو کي مشغول دی اولکه څنګه چي دایت په شروع کي دسهار اوماښام دتسبیح حکم دی ، دایت په اخر کي په عَشِيًّا اوحِيْنَ تُظْهِرُوْنَ سره یی په نورو دوو وختونو کي دتسبیح کولو حکم ورکړی دی ، یو وخت عشی دی کوم چي دورځی اخری حصی ته ویل کیږي چي دمازیګر وخت دی ، دوهم وخت دماپښین یعنی دزوال څخه وروسته .

اوپه ترتیب دبیان کي چي څنګه یی ماښام دسهارڅخه مخکی بیان کړی دی دغه ډول یی دورځی اخری حصه ترماپښین مخکی بیان کړي ده . دماښام یعنی دشپی دمخکی کولو وجه دا هم ده چي په اسلامی تاریخ کي شپه مخکی وي او تاریخ دلمر پریوتو څخه بدلیږي او دمازیګر دماپښین څخه دمخکی کولو یوه وجه دا هم کیدی سي چي دمازیګر وخت په عام طور سره دکار اوبار دمشغولیت وخت وی ، په دی کي څه دعا تسبیح یالمونځ عادتًا مشکل وی . په دی وجه په قرآن کریم کي دصلٰوة وسطیٰ چي تفسیر یی دجمهورو په نزد دمازیګر لمونځ دی ، په خصوصیت سره تاکید راغلی دی . حَافِظُوا عَلَى الصَّلَوٰتِ وَالصَّلٰوةِ الْوُسْطٰى .

دذکرسوی آیت په الفاظو کي دلمانځه یاصلٰوة توضیح نسته ، په دی وجه هرقسم دالله ﷻ ذکرقولی او عملی لره شامل دی ، لکه چي په لنډ تفسیر کي یی بیان سوی دی او دالله ﷻ د ذکر په ټولو اقسامو کی چونکی لمونځ دټولو څخه اعلی او افضل دی ، په دی وجه هغه په دی کي په درجه اولی سره شامل دی په دی وجه علماء وایی چي په دی آیت کي دپنځو لمونځونو سره دهغو دوختونو ذکر راغلی دی ، لکه چي دحضرت ابن عباس ؓ څخه چا پوښتنه وکړه چي ایاپه قرآن کي دپنځو لمنځونو ذکر واضح سته ؟ نو دوی فرمایل هو! او په دلیل کي یی دا ایت پیش کی، وي فرمایل چي په، حِيْنَ تُمْسُوْنَ، کي دماښام دلمانځه، او په حِيْنَ تُصْبِحُوْنَ کي دسهار دلمانځه، او په عَشِيًّا کي دمازیګر دلمانځه، او په حِيْنَ تُظْهِرُوْنَ کي دماپښین دلمانځه واضح ذکر موجود دی . اوس صرف یو دماخستن لمونځ پاته سو ، ددي په ثبوت کي یی دبل آیت جمله ارشاد وفرمایله ، مِنْ بَعْدِ صَلٰوةِ الْعِشَاءِ .

اوحضرت حسن بصری رحمه الله فرمایی چي په حِيْنَ تُمْسُوْنَ کي دماښام اوماخستن دواړه لمونځونه داخل دی

یوه عظیمه فائده: داایت دحضرت ابراهیم علیه السلام هغه دعاده دکومی په وجه سره چي قرآن کریم ده ته دوعدی پوره کوونکی خطاب ورکړی دی ارشاد فرمایی وَاِبْرٰهِيْمَ الَّذِيْ وَفّٰى، حضرت ابراهیم علیه السلام به دا کلمی سهارماښام ویلی .

لکه چي په صحیح سندونو سره دحضرت معاذ بن انس ﷺ څخه روایت دی چي دحضرت ابراهیم ﷺ په وفا کوونکی دوعدی سره دتعریف کولو سبب دهغه دا دُعا وه .

او ابوداود، طبرانی ، ابن سنی وغیره دحضرت ابن عباس ﷺ څخه روایت کړی دی چي نبی کریم ﷺ.

فَسُبْحَانَ اللهِ حِينَ تُمْسُونَ وَحِينَ تُصْبِحُونَ وَلَهُ الْحَمْدُ فِي السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضِ وَعَشِيًّا وَحِينَ تُظْهِرُونَ

يُخْرِجُ الْحَيَّ مِنَ الْمَيِّتِ وَيُخْرِجُ الْمَيِّتَ مِنَ الْحَيِّ وَيُحْيِي الْأَرْضَ بَعْدَ مَوْتِهَا وَكَذَٰلِكَ تُخْرَجُونَ ، ددي دوارو ایتونو متعلق فرمایی چي کوم سړی سهار دا کلمی وویلی ، نو په توله ورځ کي چي دده په عمل کي کومه کوتاهی راځی ، هغه به ددي کلمو په برکت سره پوره سی ، اوچاچی دماښام په وخت کي دا کلمی وویلی نو دده دشپی په عملونو کي چي کومه کوتاهی راځی ، ددي په ذریعه به پوره کړل سی . (روح)

وَمِنْ اٰيٰتِهٖٓ اَنْ خَلَقَكُمْ مِّنْ تُرَابٍ ثُمَّ اِذَآ اَنْتُمْ بَشَرٌ تَنْتَشِرُوْنَ ۝٢٠ وَمِنْ اٰيٰتِهٖٓ

او د هغه دنښانو څخه دی دا چی تاسی یی پیدا کړی یاست دخاورو څخه بیا اوس تاسی انسانان یاست په مځکه خواره سوی

او د هغه دنښانو څخه

اَنْ خَلَقَ لَكُمْ مِّنْ اَنْفُسِكُمْ اَزْوَاجًا لِّتَسْكُنُوْٓا اِلَيْهَا وَجَعَلَ بَيْنَكُمْ

دی داچی جوړیی کړی تاسی ته ستاسی دقسم څخه جوړی چی ارام وکړئ دهغوی سره اوپیدایی کړه ستاسی په مینځ کی

مَّوَدَّةً وَّرَحْمَةً ۭ اِنَّ فِيْ ذٰلِكَ لَاٰيٰتٍ لِّقَوْمٍ يَّتَفَكَّرُوْنَ ۝٢١ وَمِنْ

مینه اومهربانی ، خامخا په دی کی نښانی دی دهغو دپاره چی فکر کوی ، او د

اٰيٰتِهٖ خَلْقُ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ وَاخْتِلَافُ اَلْسِنَتِكُمْ وَاَلْوَانِكُمْ ۭ

نښانو دهغه څخه دی جوړول دآسمانونو او دمځکی او اختلاف دخبرو ستاسی او درنګو ستاسی

اِنَّ فِيْ ذٰلِكَ لَاٰيٰتٍ لِّلْعٰلِمِيْنَ ۝٢٢ وَمِنْ اٰيٰتِهٖ مَنَامُكُمْ بِالَّيْلِ

خامخا په دی کی نښانی دی دپوهانو دپاره ، او دنښانو دهغه څخه دی ستاسی بیده کیدل دشپی

وَالنَّهَارِ وَابْتِغَاۗؤُكُمْ مِّنْ فَضْلِهٖ ۭ اِنَّ فِيْ ذٰلِكَ لَاٰيٰتٍ لِّقَوْمٍ

او د ورځی اوتلاش کول ستاسی دهغه دفضل څخه ، بیشکه په دی کي نښانی دی هغو لره

يَسْمَعُوْنَ ﴿۲۳﴾ وَمِنْ اٰيٰتِهٖ يُرِيْكُمُ الْبَرْقَ خَوْفًا وَّطَمَعًا وَّيُنَزِّلُ

چې اوري ، او دهغه دنښانو څخه دي دا چې ښيي تاسي برق (دبجلۍ) دېيرې او اميد دپاره اونازلوي

مِنَ السَّمَآءِ مَآءً فَيُحْيٖ بِهِ الْاَرْضَ بَعْدَ مَوْتِهَا ؕ اِنَّ فِيْ ذٰلِكَ

دآسمان څخه اوبه بيا ژوندۍ کوي په دې سره مځکه پس دمرګ دهغه څخه ، بيشکه په دې کې

لَاٰيٰتٍ لِّقَوْمٍ يَّعْقِلُوْنَ ﴿۲۴﴾ وَمِنْ اٰيٰتِهٖۤ اَنْ تَقُوْمَ السَّمَآءُ وَالْاَرْضُ

نښانې دي دهغو دپاره چې فکر اوسوچ کوي او دنښانو دهغه څخه دا دي چې ولاړ دي آسمان اومځکه

بِاَمْرِهٖ ؕ ثُمَّ اِذَا دَعَاكُمْ دَعْوَةً ۖ ۗ مِّنَ الْاَرْضِ ۖ اِذَآ اَنْتُمْ تَخْرُجُوْنَ ﴿۲۵﴾

په حکم دهغه سره ، بيا چې هرکله را وبولي تاسي يو وار ، دمځکې څخه ، دغه وخت به تاسي را ووزئ

وَلَهٗ مَنْ فِي السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ ؕ كُلٌّ لَّهٗ قٰنِتُوْنَ ﴿۲۶﴾ وَهُوَ الَّذِيْ

او دهغه دي څه چې په آسمانونو او په مځکه کې دي ، ټول دهغه دحکم تابع دي ، او هغه دی

يَبْدَؤُا الْخَلْقَ ثُمَّ يُعِيْدُهٗ وَهُوَ اَهْوَنُ عَلَيْهِ ؕ وَلَهُ الْمَثَلُ

چې اول وار پيدا کوي بيا به يې دوباره کوي او دغه اسان دی په هغه ، او دهغه شان دټولو څخه

الْاَعْلٰى فِي السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ ۚ وَهُوَ الْعَزِيْزُ الْحَكِيْمُ ﴿۲۷﴾ ع

لوړ دی په آسمانونو او په مځکه کې ، او هغه دی زبردست حکمتونو والا.

لنډتفسير: اودهغه د(قدرت د) نښو څخه يو دا (کار) دی چې تاسي يې دخاورو څخه پيدا کړاست (ياخو داسې چې حضرت ادم ﷺ دخاورو څخه پيدا سو کوم چې مشتمل وو پر ټول اولاد باندې ، او يا داسې چې دنطفې اصل غذا ده او ددې اصل عناصر دي په کومو کې چې غالب جزء دخاورې دی) بيا لږ ورځې وروسته (څه وسوه چې) تاسي بنيادم جوړ سواست (په مځکه) خپاره سواست (ښکاره) سوی او دهغه د (قدرت د) نښو څخه دا (کار) دی چې هغه ستاسي د(فائدې د) پاره ستاسي دجنس بيبياني جوړې کړې (اوهغه فائده دا ده چې) تاسي ته د دوی په خوا کې ارام ورسيږي او په تاسي ښځه خاوند کې يې محبت اوهمدردي پيدا کړه په

دی (ذکرسوی کار) کي (هم) دهغو خلقو دپاره (دقدرت) نښې دی ، کوم چي دفکر څخه کار اخلی (څکه چي ددلیل دپاره دفکر ضرورت دی او نښې یې څکه جمع وفرمایل چي ذکر سوی کار پر ډیرو کارونو مشتمل دی) او دهغه د (قدرت د) نښو څخه دآسمان او مځکې جوړول دی او ستاسی دخبرو، دژبو او رنګونو جلا جلا کول دی (دلب او لهجې یعنی خبرو څخه مراد یالغات دی یا اوازونه اوطرز دخبرو) په دی (ذکر سوی کار) کي (هم) دهوښیارانو دپاره (دقدرت) نښې دی (دلته هم دجمع دصیغې راوړو هغه توجیه کیدی سي کومه چي ذکرسوې ده) او دهغه د (قدرت د) نښو څخه ستاسی بیده کیدل پریوتل دی دشپې او د ورځې (که څه هم دشپې زیات او د ورځې کم دی) او دهغه د رزق ستاسی تلاش کول دی (دورځې زیات او دشپې کم، په دی وجه په نورو ایتونوکی یې خوب دشپې سره اوتلاش دمعاش دورځې سره خاص کړی بیان کړی دی) په دی (کار ذکر سوی) کي (هم) دهغو خلقو دپاره (دقدرت) نښې دی کوم چي (دلیل لره په توجه سره) آوری او دهغه د (قدرت د) نښو څخه دا (کار) دی چي هغه تاسو ته (دباران په وخت کي) بجلی (بریښندونکی) ښکاره کوی ، په کوم سره چي (دهغه دراغورځیدو) بیره هم وی او (دهغه څخه دباران) امید هم وی او هغه داسمان څخه اوبه وروی ، بیاپه دی سره مځکې لره ددی دمړه (یعني اوچه) کیدوڅخه وروسته ژوندی (یعني تروتازه) کوی په دی (کار ذکر سوي) کي (هم) دهغو خلقو دپاره (دقدرت) نښې دی کوم چي عقل (نفع مند) لري او دهغه د (قدرت د) نښو څخه دا (کار) دی چي آسمانونه اومځکه دهغه په حکم (یعني اراده) سره قائم دی (په دی کي بیان دی چي ددي دا بقاء اولوړ په ، خَلْقُ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ، کي ذکر وو، ددي دپیدائښت دابتداء او دټول نظام عالم کوم چي ذکرسو، یعنی ستاسی سلسله دتوالد او تناسل جاری کیدل او دیوبل ښځه اوخاوند کیدل اوآسمانونه اومځکه په دی خپل هیئت سره موجود او قائم کیدل او دژبو او درنګونو اختلاف او دشپې او ورځې په بدلون کي دخاصو مصلحتونو کېدل او دباران کیدل او ددی دمبادی او اثارو ظهور دا ټول.تر هغه وخته پوري باقي دی ، تر څو پوري چي دنیا باقي ساتل مقصود دی اوبوه ورځ به دا هر څه ختم سی) بیا (په هغه وخت دا وی چي) تاسی به دمځکې څخه راوبولی نوتاسی به په یو وار دباندی راووزی (اوبل نظام به شروع سي کوم چي مقصود دمقام دی) او (لوړ به دقدرت ددلیلونو څخه معلومه سوی وی) چي څومره (فرښتې او انسانان وغیره) په آسمانونو اومځکه کي موجود دی ټول دهغه (مملوک) دی (او) ټول دهغه تابع (یعنی مسخر دقدرت) دی او (ددي ثبوت اوخاص والی دکامل قدرت څخه دا ثابته سوه چي) هغه دی چي اول وار پیدا کول کوی (هم دارنګه دا خو مخاطبین هم منی) بیا به هغه بیرته هم پیدا کوی (لکه چي په ذکرسوو دلیلونو سره دربنتني خبر په ملاویدو باندي معلومه سوه) او د (دوباره پیداکول) دهغه په نزد (دمخاطبو دبادی النظر په نسبت سره داول وار پیدا کولو څخه) زیات اسان دی (لکه چي دقدرت بشری په اعتبار سره غالب عادت دا دی چي دیوشی د اول وار جوړولو څخه دوهم وار جوړول زیات اسان وی) او په آسمانونو او په مځکه کي دهغه شان (دټولو څخه) اعلی دی (یعنی نه په آسمانونوکی څوك داسي لوی سته او نه په مځکه کي لکه داقول دالله ﷻ دی . وَلَهُ الْكِبْرِيَاءُ فِی السَّمٰوٰتِ

والارض اوهغه (لوی) زبردست (یعنی قادر مطلق او) حکمت والا دی (چنانچی ددي لورو تصرفاتو څخه قدرت او
حکمت دواړه ښکاره دی ، وروسته هغه به په خپل قدرت سره دوی دوباره پیدا کوی او په دی دوباره پیدا
کولوکی چي څومره توقف کیږي ، په دی کي حکمت او مصلحت دی نو دقدرت او حکمت دثبوت څخه
وروسته فی الحال په نه واقع کیدو سره انکار کول جهل دی)

معلومات اومسئلي: دسورة روم په شروع کي دروم اوفارس دجنگ دیوی واقعی داوریدلو څخه وروسته دمنکرانو اوکفارو دگمراهی او دحقی خبري داوریدو او دځان باندي دپوهولو څخه دلاپرواهی سبب یی صرف د دوی ددنیا فانی ژوند خپل دژوند مقصد جوړول او داخرت طرف ته توجه نه کول مقرر کړی وو . د دي څخه وروسته په قیامت کي ددوباره ژوندی کیدو اوحساب کتاب اوجزاء سزاء په واقع کیدو کي چي سرسری نظر کوونکی ته کوم استبعاد کیدی چي یعنی دانه سي کیدی ، ددي ځواب یی په مختلفو ارخونو سره ورکړی دی ، اول په خپل نفس کي دغور اوفکر بیا شاوخوا ته دتیرو سوو قومونو په حالاتو او دهغوی په انجام کي دنظر کولو دعوت ورکول سوی دی . بیا د الله ﷻ دقدرت کامله مطلقه ذکر فرمایی چي په دی کي دهغه څوک حصه دار اوشریك نسته ، ددي ټولو شواهدو او دلیلونو لازمی نیتجه دا راوزی چي مستحق دعبادت صرف دهغه یو او بی مثله ذات مقرر سی ، اوهغه چي کوم دخپلو انبیاوو علیهم السلام په ذریعه دقیامت قائمیدو او دټولو اولینو او اخرینو د دوباره ژوندی کیدو ، دحساب کتاب څخه وروسته جنت یادوزخ ته دتلو خبر ورکړی دی ، په دی ایمان راوړلی سی، په دی ذکرسوو ایتونوکی ددي کامل قدرت او ددي سره دبالغ حکمت شپږ مظاهر دقدرت دنښو په عنوان سره بیان سوی دی کوم چي د الله ﷻ دبی مثاله قدرت اوحکمت نښانی دی .

اوله نښه دقدرت : د انسان په شان اشرف المخلوقات او حاکم دکائناتو دخاوری څخه پیدا کول دی ، کوم چي په دی دنیاکی په ترکیبی عناصرو کي دټولو څخه دزیاتوب ادنٰی درجی عنصردی ، په کوم کي چي دحس حرکت او شعور او ادراك څه بوی قدرهم په نظر نه راځی ، څکه چي په مشهورو څلورو عناصرو، اور، اوبه، هوا اوخاوره کي دخاوری څخه ماسوا په نورو ټولو عناصرو کي څه ناڅه حرکت خوسته، خاوره ددي څخه هم محرومه ده . قدرت د انسان دپیدا کولو دپاره دا منتخب وفرمایله ، دابلیس دگمراهی سبب دا جوړ سو چي ده د اور عنصر دخاوری څخه اشرف اواعلی وگڼی اوتکبر یی اختیارکی ، او په دی پوه نه سو چي شرافت او بزرگی دخالق او مالك په لاس کي ده ، هغه څوك چي وغواړی لوی جوړولی سی .

اودانسان دپیدائش ماده دخاوری څخه کیدل دحضرت ادم ؑ په اعتبارسره ښکاره ده اوهغه چونکی دټولو انسانانودوجوداصل بنیاددی په دی وجه دنورو انسانانو پیدائش په واسطه سره دی طرف ته منسوب کول څه لیری خبره نه ده او دا هم ممکنه ده چي عام انسانان کوم چي دتوالد تناسل په سلسله سره دنطفی څخه پیدا کیږي ، په دوی کي هم نطفه چي دکومو اجزاوو څخه مرکبه ده ، په هغه کي دخاوری جزء غالب دی .

دوهمه نښه دقدرت : دا ده چي دانسان په جنس کي الله ﷻ ښځی پیدا کړی ، کومی چي دسړو بیبیانی

جوړې سوې ، دیوې مادې څخه په یوځای کې دیوې غذا څخه په پیدا کیدونکو بچیانوکې یې دا دوه مختلف قسمونه پیدا کړل ، چې په اندامونو بندونو، صورت اوسیرت، عادتونو او اخلاقو کې یې ښکاره تفاوت اوفرق پیدا کیدی سی . دالله ﷻ دکمال قدرت اوحکمت دپاره دا پیدا کول کافي ننبه ده، ددې څخه وروسته یې دښځو ددې خاص نوع دپیدا کولو حکمت اومصلحت دابیان وفرمایی . لِتَسۡكُنُوٓاْ إِلَيۡهَا ، یعنی دا په دی وجه پیدا سوې چې تاسی ته د دوی په خواکې سکون درکړل سی ، دسړي چې څومره ضرورتونه دښځی سره متعلق دی ، پردی تولو چې فکر وسی نو دتولو خلاصه دزړه سکون او راحت او اطمینان راوزی ، دقرآن کریم یوه لفظ دغه ټول جمع کړی دی .

ددې څخه معلومه سوه چې دښځی اوخاوند دژوند دټول کاروبار خلاصه سکون او دزړه راحت دی . په کوم کورکی چې دا موجود وی ، هغه دخپل تخلیق په مقصد کې کامیاب دی ، کوم ځای چې دزړه سکون نه وي اوبرابره خبره ده که نورهرڅه موجودوی، هغه دازدواجی ژوند په لحاظ سره ناکام اونامراد دی او دا هم ښکاره ده چې په خپل مینځ کې دزړه سکون صرف په هغه صورت کې ممکن دی چې دسړي او دښځی دتعلق بنیاد په شرعی نکاح او ښځی اوخاوندوالی باندې وی ، کومو ملکونو اوکومو خلقو چې ددې خلاف حرام صورتونه رواج کړی دی چې تلاش یې وسی نو دهغوی ژوند به هیڅکله پرسکون پیدانه سی . دحیوانانو په شان دوقتی خواهش پوره کولو نوم سکون نه سي کیدی .

(دښځي اوخاوندوالي دژوند مقصد سکون دی چې ددې دپاره په خپل مینځ کې الفت اومحبت ضروري دی)

دی آیت دښځی اوخاوند دژوند مقصد دزړه سکون مقرر کړی دی او دا هلته ممکنه ده چې دواړه طرف ته دیو بل حقمنه وپیژندل سي او اداسی ، کنه نو دحقونو غوښتلو جګړی دکور سکون بربادوی ، ددې حقونو ادا کولو دپاره یو صورت خو دا وو چې ددې په قوانینو جوړولو او احکامو نافذ کولو بسوالی وسی لکه دنورو دحقونو په معامله کې چې داسي سوی دی چې دیوبل حقونه وهل یې حرام کړی دی، په دی یې دعذاب سختی وعدې اورولی دی ، سزاګانی یې مقرر کړی دی او دقربانی او همدردی نصیحت یې کړی دی ، لیکن تجربه شاهده ده چې صرف دقانون په ذریعه یو قوم پراعتدال نه سي را وستل کیدی ترڅو پوري چې ددې سره دخدای بیره نه وی ، په دی وجه په معاشرتی معاملاتو کې دشرعی احکامو سره سره په ټول قرآن کې هرځای د ، اِتَّقُواْ اللهَ، وَاخۡشَوۡا، وغیره کلمی په طور دتکملی راوړل سوی دی .

دسړي او ښځې په مینځ کې معاملې څه دا قسم دی چې د دوی په مینځ کې دحقوقو په پوره اداکولو باندې نه څه قانون حاوی کیدی سي او نه څه عدالت د دوی پوره انصاف کولی سی، په دی وجه دنکاح په خطبه کې نبی کریم ﷺ دقرآن هغه ایتونه منتخب کړی دی، په کومو کې چې تقوی او دخدای بیره او د اخرت تلقین دی ، چې هغه په حقیقت کې دښځی اوخاوند په مینځ کې دحقونو ضامن کیدی سی .

پردې یوزیات انعام حق تعالی دا وفرمایی چې دښځی اوخاوند حقونه صرف شرعی او قانونی نه دی مقرر سو، بلکې طبعی اونفسانی جوړسوی دی، لکه څنګی چې دمور او پلار او اولاد په مینځ کې دحقونو سره

هم داسې معامله فرمايل سوې ده ، چې د دوی په زړونو کې فطرتًا يو داسې محبت يې پيدا کړی دی چې مور اوپلار دخپل ځان څخه زيات د اولاد په حفاظت کولو مجبوره دی او دغه ډول د اولاد په زړونوکی هم يو فطری محبت دمور اوپلار اينبوول سوی دی . دا معامله دښځی اوخاوند متعلق هم فرمايل سوې ده، په دی وجه ارشاد فرمايی . وَجَعَلَ بَيْنَكُمْ مَّوَدَّةً وَّرَحْمَةً يعنی الله ﷻ دښځی وخاوند په مينځ کې صرف شرعی اوقانونی تعلق نه دی اينبی ، بلکی د دوی په زړونوکې يې محبت او رحمت پيوست کړی دی . د، رَدَّ، او،مُوَدَّتْ، لفظی معنی دخواهش کولو ده، چې ثمره يې محبت اوالفت دی ، دلته الله ﷻ دوه لفظونه اختيار فرمايلي دی، يو مُوَدَّت بل رحمت، ممکنه ده چې په دی کې اشاره دې طرف ته وي چې د: مُوَدَّت تعلق دځوانی دهغه وخت سره وي په کوم کې چې دطرفينو خواهشات ديوبل سره پرمحبت اوالفت باندې مجبوره کوي او په زوړ والی کې چې کله داجذبات ختم سي نو د يو بل سره رحمت او ترحم طبعی سی . (لکه چې داسې قرطبی دځينو څخه ذکر کړی دی)

ددی څخه وروسته فرمايی . اِنَّ فِي ذٰلِكَ لَاٰيٰتٍ لِّقَوْمٍ يَّتَفَكَّرُوْنَ . يعنی په دی کې ډېری نښې دی دهغو خلقو دپاره چې غور او فکر کوی . دلته خو ذکر ديوی نښی سوی دی او ددی په اخر کې يې دی ته ايتونه اونښی وفرمايل ، وجه دا ده چې ازدواجی تعلق دکوم ذکرچې په دی کې وسو ددې په مختلفو اړخونو او ددی څخه په حاصلو سوو دينی او دنيوی فائدو چې نظر وسی نو يوه نه ډېری نښی دی .

دريمه نښه دقدرت: دآسمان او ځمکی پيدائش او دانسانانو دمختلفو طبقو دژبی او لب او لهجی دمختلف کيدو او دمختلفو طبقو په رنګونو کې فرق کېدل چې ځينی تور، ځينی سپين، ځينی سره، ځينی زړ، په دی کې دآسمان اوځمکی پيدا کول خو دقدرت يوه عظيمه نمونه دی . دانسانانو دژبو مختلف کېدل هم يوه عجيبه کرشمه دقدرت ده . د ژبو په اختلاف کې دلغاتو اختلاف هم دا خل دی ، عربی، فارسی، هندی، ترکی، انګريزی وغيره څومره مختلفی ژبی دی ، کومی چې په مختلفو ملکونو کی رواج لري اوځينی خو ديوبل څخه دومره مختلفی دی چې ديوبل سره يې څه تړاو اومناسبت هم نه معلوميږي او ددی ژبو په اختلاف کې دلب اولهجی اختلاف هم شامل دی چې قدرتِ حق دهر فرد انسان سړی ، ښځی، بچی بوډا په اواز کې داسې فرق پيدا کړی دی چې ديو فرد اواز دبل فرد سره دصنف اواز دبل صنف سره په پوره شان نه رسيږي، څه ناڅه فرق په کښی خامخا وی، حال دا دی چې ددې اواز آلی : ژبه، شونډی، تالو، حلق ټول مشترك اويوشان دی . تَبَارَكَ اللهُ اَحْسَنُ الْخَالِقِيْنَ .

دغه ډول درنګونو اختلاف دی چې ديومور اوپلارپه يوقسم حالاتوکی دوه بچی دمختلف رنګ پيدا کيږي دا خودتخليق اوکاريګری کمال وو. مخ ته ژبی اولهجی مختلفی کيږي . دغه ډول دانسانانو درنګونو په اختلاف کې څه څه پټ حکمتونه دی . د دې بيان اوږد دی او دډيرو حکمتونو په معمولي غور اوفکر سره پيژندل مشکل هم نه دی .

دقدرت په دی نښه کي دهر شيان آسمان، مځکه ، اختلاف دژبو اختلاف درنګونو او ددی په ضمن کي نوری دهری دقدرت او حکمت نښی دی ، او هغه داسي ښکاره دی چي دزيات غور اوفکر کولو هم ضرورت نسته ورته ، هر سترګو والا يې ليدی سی . په دی وجه ددي په ختميدو ارشاد فرمايی ، اِنَّ فِیْ ذٰلِكَ لَاٰیٰتٍ لِّلْعٰلِمِیْنَ، يعنی په دی کي دهری نښانی دی دپوهی لرونکو دپاره .

څلورمه نښه دقدرت: دانسانانو بيدېدل په شپه کي او په ورځ کی، دغه ډول د دوی تلاش دمعاش دی ، په شپه او په ورځ کي په دی آيت کي خوبی خوب هم په دواړو کي بيان کړی دی اوتلاش دمعاش هم، او په نورروايتونو کی يې خوب صرف په شپه کي اوتلاش دمعاش يې په ورځ کي ښوولی دی . وجه دا ده چي په شپه کي اصل کار خوب کول دی اوځه تلاش دمعاش هم په کښی چليږي او په ورځ کي ددي برعکس اصل کار تلاش دمعاش دی اوځه دخوب اوارام کولو وخت هم په کښی ورکول کيږي، په دی وجه دواړی خبري په خپل خپل ځای صحيح دی ځينی مفسرين تاويل په کښی کوی . په دی آيت کي هم خوب دشپی سره او تلاش دمعاش دورځی سره مخصوص کوي مګر ددي ضرورت نسته .

(خوب اوتلاش دمعاش دزهد اوتوکل منافي نه دی)

ددي آيت څخه ثابته سوه چي دخوب په وخت کي خوب او دويښتيا په وخت کي دمعاش تلاش دانسان فطرت جوړ سوی دی او ددی دواړو شيانو حاصلول د انسانی اسبابو اوکمالاتو تابع نه دی بلکی په حقيقت کي دادواړه شيان خالص دالله ﷻ ورکړه ده لکه چي شپه او ورځ داسي ليدل کيږي چي په ځينو وختونو کی دخوب او ارام ټول دښو څخه ښه اسبابونه جمع وي خوبياهم خوب نه ورځی، ځينی وخت ډاکتری ګولی هم په خوب راوستو کی ناکامه سي اوچاته چي مالك غواړی نوپه ډاګه مځکه غرمو اوګرميو کي خوب ورکوی دمعاش دحاصلولو دا حال شپه او ورځ ليدل کيږي چي دوه سړی ديو ډول علم اوعقل والا ، دبرابر مال والا ، دبرابر محنت والا دمعاش په حاصلولوکي يوشان کار کوی ، يو ترقی وکړی اوبل پاته سی . الله ﷻ دنيا عالم اسباب په لوی حکمت او مصلحت سره جوړه کړي ده ، په دی وجه دمعاش تلاش داسبابو په ذريعه کول لازم دی . مګر دعقل کار دا دی چي دحقيقت شناسی څخه ليری ولاړ نه سی . دا اسباب اسباب وګڼی او اصل رازق د اسبابو جوړوونکی وګڼی .

دقدرت ددي نښی په ختميدو ارشاد فرمايی . اِنَّ فِي ذٰلِكَ لَآيَاتٍ لِقَوْمٍ يَسْمَعُونَ، يعنی په دی کي دهری نښی دی دهغو خلقو دپاره کوم چي خبره په فکر کولو سره اوری . په دی کي د اوريدو دمدار جوړولو شايد داوجه وي چي په ليدو کي خو خوب خامخا راځی ، کله چي بنده دارام کولو په ځای کي پريوزی . دغه ډول دمعاش حصول په محنت مزدوری، تجارت وغيره سره کيږي ، په دی وجه دقدرت دلاسو کار سازی دظاهری نظرونو څخه پټه وی ، هغه دالله ﷻ پيغام راوړونکی انبياء عليهم السلام ښيی ، په دی وجه فرمايی چي دا نښی هغو ته کار ورکولی سي کوم چي خبرو ته فکر کوي اوری او کله چي باندي پوه سي نووی منی ، عناد او ضد نه کوی .

پنځمه نښه دقدرت: دا ده چې الله ﷻ انسانانو ته دبجلی بریښنیدل ښیي چې په دی کي دتندر درالویدو او نقصان رسولو خطره هم وی ، او په دی پسی دباران امید هم اوبیاباران نازلوی او په دی سره وچه بې جانه مځکه ژوندی تر او تازه کړی . قسم قسم درختی میوی اوګلونه په کښی را وتوکوی . ددې په اخرکې فرمایی ، اِنَّ فِیْ ذٰلِکَ لَاٰیٰتٍ لِّقَوْمٍ یَّعْقِلُوْنَ، یعنی په دی کې دډېری نښانی دی دعقل والاوو دپاره . ځکه چې برق اوباران او د دوی په ذریعه حاصلیدونکی بوټی او د دوی دمیوو اوګلونو پیدا کیدل دالله ﷻ دطرف ځخه دا په عقل او حکمت سره پیژندل کیږي .

شپږمه نښه دقدرت: دا ده چې دآسمان اودمځکی قائم والی دالله ﷻ په امرسره دی اوکله چې دهغه امرداسی وسی چې دا نظام دی مات مات اوختم سی، نودا ټول مضبوط اومحکم شیان په کوموکی چې په زرګونو کلونو چلیدو سره هم څه نقصان یاخلل نه راتلی ، په یودم کي به مات ګډاوختم سي اوبیابه دالله ﷻ په امر سره بیرته ټول مړی ژوندی سي او دحشر په میدان کي به جمع سی .

دا شپږمه نښانه دقدرت په حقیقت کي دمځکی تولو نښانو خلاصه اومقصد دی . په دی دپوهولو دپاره یې ددې ځخه مخکی پنځه نښانی بیان کړی او ددی ځخه وروسته یې تر څو آیتونو پوري ددې مضمون ذکر فرمایلي دی.

لَهُ الْمَثَلُ الْاَعْلٰی، لفظ دمَثَلْ په زبر دمیم اوثاء سره هر داسی شی ته ویل کیږي کوم چې دبل سره څه مماثلت او مناسبت لري . بالکل یې په شان دده کیدل ، په معنٰی کي دا خل نه دی . په دی وجه دحق تعالی دپاره مثل کیدل خو په قرآنکریم کي څو ځایه راغلی دی ، یو دلته ، دوهم فرمایی ، مَثَلُ نُوْرِهٖ کَمِشْکٰوۃٍ، لیکن دمثل او مثال ځخه دحق تعالی ذات پاک ، اوما وراء الوراء دی . والله اعلم .

ضَرَبَ لَکُمْ مَّثَلًا مِّنْ اَنْفُسِکُمْ هَلْ لَّکُمْ مِّنْ مَّا مَلَکَتْ اَیْمَانُکُمْ

بیانوی تاسی ته یو مثال ستاسی دنفسونو ځخه . آیاسته تاسی ته دهغو ځخه چې مالکان یې دی راسته لاسونه

مِّنْ شُرَکَآءَ فِیْ مَا رَزَقْنٰکُمْ فَاَنْتُمْ فِیْهِ سَوَآءٌ تَخَافُوْنَهُمْ

ستاسی شریکان ستاسی زمونږ په درکړي رزق کی چې تاسی ټول په دی کی برابر یاست چې بیریږي تاسی

کَخِیْفَتِکُمْ اَنْفُسَکُمْ ؕ کَذٰلِکَ نُفَصِّلُ الْاٰیٰتِ لِقَوْمٍ یَّعْقِلُوْنَ ﴿۲۸﴾

دهغوی ځخه لکه چې بیریږي تاسی دیوبل ځخه ، داسی بیا په تفصیل سره بیانوو مونږ خپلی نښانی هغوته چې

بَلِ اتَّبَعَ الَّذِیْنَ ظَلَمُوْۤا اَهْوَآءَهُمْ بِغَیْرِ عِلْمٍ ۚ فَمَنْ یَّهْدِیْ

پوهیږي ، بلکه چلیږي دا بې انصافه په خپلو خواهشونو بې پوهی پس څوک به پوه کړي دوی

مَنْ اَضَلَّ اللّٰهُ ؕ وَمَا لَهُمْ مِّنْ نّٰصِرِیْنَ ﴿۲۹﴾ فَاَقِمْ وَجْهَكَ لِلدِّیْنِ

چې الله یې بې لارې کړې او نشته ځوک د هغوی مددګار ، پس ته برابر کړه خپل مخ په دین چې

حَنِیْفًا ؕ فِطْرَتَ اللّٰهِ الَّتِیْ فَطَرَ النَّاسَ عَلَیْهَا ؕ لَا تَبْدِیْلَ لِخَلْقِ

یو طرف ته دی ، په فطرت د الله ﷻ هغه چې خلق یې پیدا کړي دي باندې ، نشته بدلیدل جوړ سوي

اللّٰهِ ؕ ذٰلِكَ الدِّیْنُ الْقَیِّمُ ۙ وَلٰكِنَّ اَكْثَرَ النَّاسِ لَا یَعْلَمُوْنَ ﴿۳۰﴾

د الله لره ، دا دی دین سیده برابر او لیکن اکثر خلق نه پوهیږي

مُنِیْبِیْنَ اِلَیْهِ وَاتَّقُوْهُ وَاَقِیْمُوا الصَّلٰوةَ وَلَا تَكُوْنُوْا مِنَ الْمُشْرِكِیْنَ ﴿۳۱﴾

تول رجوع وکې هغه ته او د هغه څخه بیره کوئ او قائم ساتي لمونځ او مه کیږي د مشرکانو څخه

مِنَ الَّذِیْنَ فَرَّقُوْا دِیْنَهُمْ وَكَانُوْا شِیَعًا ؕ كُلُّ حِزْبٍۭ بِمَا لَدَیْهِمْ

کومو چې تفرقه واچوله په دین خپل کي او سوي په دي کی ډیري ډلی هره فرقه چې څه ورسره دي په هغه

فَرِحُوْنَ ﴿۳۲﴾ وَاِذَا مَسَّ النَّاسَ ضُرٌّ دَعَوْا رَبَّهُمْ مُّنِیْبِیْنَ

خوشحاله دي ، او کله چې ورسیږي خلقو ته څه سختی نو بولی خپل رب دهغه طرف ته

اِلَیْهِ ثُمَّ اِذَاۤ اَذَاقَهُمْ مِّنْهُ رَحْمَةً اِذَا فَرِیْقٌ مِّنْهُمْ بِرَبِّهِمْ

رجوع کوونکی بیا چې کله وڅکو مونږ دوی ته د خپل طرف څخه څه مهربانی دغه وخت یوه ډله په دوی کی د خپل

یُشْرِكُوْنَ ﴿۳۳﴾ لِیَكْفُرُوْا بِمَاۤ اٰتَیْنٰهُمْ ؕ فَتَمَتَّعُوْا ٝ فَسَوْفَ تَعْلَمُوْنَ ﴿۳۴﴾ اَمْ

رب سره شریک جوړوی ، چې منکر سی زمونږ په ورکړو ، وروسته خوندونه واخلی ژر ده چې پوه به سی ، آیا

اَنْزَلْنَا عَلَیْهِمْ سُلْطٰنًا فَهُوَ یَتَكَلَّمُ بِمَا كَانُوْا بِهٖ یُشْرِكُوْنَ ﴿۳۵﴾ وَاِذَاۤ

مونږ په دوی باندی نازل کړي دي څه سند وروسته هغه وایی کوم چې دوی شریک جوړ وی ، او کله

اَذَقْنَا النَّاسَ رَحْمَةً فَرِحُوْا بِهَا ۭ وَاِنْ تُصِبْهُمْ سَيِّئَةٌۢ بِمَا قَدَّمَتْ

چی وڅکو مونږ خلقوته څه مهربانی نو خوشحالیږي باندی ، او که ورسیږي دوی ته څه بدی په وجه دکړو

اَيْدِيْهِمْ اِذَا هُمْ يَقْنَطُوْنَ ﴿٣٦﴾ اَوَلَمْ يَرَوْا اَنَّ اللّٰهَ يَبْسُطُ الرِّزْقَ

دلاسونو د دوی مخکښ نو دغه وخت نا اُمیده سی ، آیا دوی ونه لیدل چی الله تعالی فراخه کوی رزق

لِمَنْ يَّشَاۗءُ وَيَقْدِرُ ۭ اِنَّ فِيْ ذٰلِكَ لَاٰيٰتٍ لِّقَوْمٍ يُّؤْمِنُوْنَ ﴿٣٧﴾ فَاٰتِ

په چاچی غواړی او تنګوی په چاچی غواړی ، بیشکه په دی کی نښانی دی دهغوخلقو دپاره چی یقین کوی وروسته

ذَا الْقُرْبٰى حَقَّهٗ وَالْمِسْكِيْنَ وَابْنَ السَّبِيْلِ ۭ ذٰلِكَ خَيْرٌ لِّلَّذِيْنَ

ورکوه خپلوانو ته دهغو حق او محتاج ته او مسافر ته ، دا غوره ده دهغو دپاره

يُرِيْدُوْنَ وَجْهَ اللّٰهِ ۡ وَاُولٰۗىِٕكَ هُمُ الْمُفْلِحُوْنَ ﴿٣٨﴾ وَمَآ اٰتَيْتُمْ

کوم چی غواړی دالله ﷻ رضا او دغه دی فلاح پیداکوونکی ، او کوم چی ورکوی

مِّنْ رِّبًا لِّيَرْبُوَا۟ فِيْٓ اَمْوَالِ النَّاسِ فَلَا يَرْبُوْا عِنْدَ اللّٰهِ ۚ وَمَآ

تاسی په سود کی چی زیات سی باندی مالونه دخلقو وروسته نه زیاتیږي په نزد دالله ﷻ او هغه

اٰتَيْتُمْ مِّنْ زَكٰوةٍ تُرِيْدُوْنَ وَجْهَ اللّٰهِ فَاُولٰۗىِٕكَ هُمُ الْمُضْعِفُوْنَ ﴿٣٩﴾

چی ورکوئ تاسی په زکات کی چی غواړی پری رضامندی دالله ﷻ وروسته دغه دی زیاتونکی دمال

اَللّٰهُ الَّذِيْ خَلَقَكُمْ ثُمَّ رَزَقَكُمْ ثُمَّ يُمِيْتُكُمْ ثُمَّ يُحْيِيْكُمْ ۭ هَلْ

الله ﷻ هغه چی تاسی یی پیداکړاست بیا یی رزق درکی بیا به تاسی مړه کوی بیا به تاسی ژوندی کړی آیا

مِنْ شُرَكَاۗىِٕكُمْ مَّنْ يَّفْعَلُ مِنْ ذٰلِكُمْ مِّنْ شَيْءٍ ۭ سُبْحٰنَهٗ وَتَعٰلٰى

شوک سته ستاسی په شریکانو کی چی وکی ددې کارونو څخه یو کار ، هغه پاک دی او ډیر لوی دی

عَمَّا يُشْرِكُونَ ﴿٤٠﴾

دهغو څخه چې تاسې يې ورسره شريکوي.

تفسير: الله ﷻ (دشرك دبدوالي اوباطلوالي ثابتولو دپاره) تاسې ته يوعجيبه مضمون ستاسې دحالاتو څخه بيانوي (هغه دا چې فكر وكړئ) اياستاسو په غلامانو كې څوك سړي ستاسې په هغه مال كې كوم چې مونږ تاسې ته دركړى دى شريك سته چې تاسې اوهغه (په اعتبار داختياراتو) په هغه كې برابر ياست دكوم چې تاسې (دتصرفاتو كولو په وخت) داسې گنئ څنگه چې په خپل مينځ كې (دشريك اوحصّه ازاد خود مختار) خيال ساتئ (او دهغه څخه اجازه اخلئ، تصرفات كوئ، ياكم از كم دمخالفت فكر خو دهغه څخه درسره وي، اوښكاره ده چې غلام داسې شريكيدى نه سي، پس كله چې ستاسو غلام چې په نوع دبشر او ډيرو شيانو كې ستاسې سره شريك دى، اوستاسې په شان دى، فرق صرف په يو شي كې دى چې تاسې دمال دولت مالكان ياست، هغه نه دى، ددې باوجود كله چې هغه ستاسې دتصرف په خاص حق كې ستاسې سره نه سي شريكيدى، نوستاسې دا مقرر كړي باطل معبودان كوم چې دالله ﷻ غلامان دي او په څه ذاتي ياوصفي كمال كې دخداى ﷻ مماثل نه دي، بلكې څيني خو په دغو كې دخداى دمخلوق جوړ سوي دي دا معبودان د الله ﷻ په خاص حق دمعبوديت كې څنگه دهغه سره شريكيدى سي؟ او مونږ لكه څنگه چې دا كافي شافي دليل دشرك دباطلوالي بيان كړ) مونږ دغه ډول دپوه خلقو دپاره صفا صفا دليلونه بيانوو (اومقتضادا وه چې دغو خلقو دحق تابعداري اختيار كړې واى اوشرك يې پرې ايښې واى مگر دغه دحق تابعداري نه كوي) بلكې دغو ظالمانو بې د (څه صحيح) دليل څخه (محض) دخپلو (فاسدو) خيالاتو تابعداري كړې ده پس څوك چې (دناراميء دده دعناد او ضد اوپه باطل باندې د اصرار په وجه سره چې) الله ﷻ گمراه كړى هغه به څوك پرلارې كړي (ددې مقصد دا نه دى چې گوندې هغه معذوردى، بلكې نبي كريم ﷺ ته تسلي وركول دي چې ته غم مه كوه، ستاچې كوم كار وو هغه تا وكى اوكله چې په دې گمراهانو عذاب راسي نو) د دوى به هيڅوك مدد گار نه وي (اوكله چې دلوړمضمون څخه دتوحيد حقيقت معلوم سو) نو (په مخاطبو كې هر يو سړى ته ويل كيږي چې) تاسې (دباطلو دينونو څخه) يكطرفه سي خپل مخ دهغه (حق) دين طرف ته كړئ (اوټول) دالله ﷻ د دركړى قابليت تابعداري وكړئ په كوم (قابليت) چې الله ﷻ خلق پيدا كړي دي (مطلب دفطرت الله څخه دا دى چې الله ﷻ په هرسړي كې پيدائشي دا استعداد ايښى دى، چې كه حق اوريدل اوځان باندې پوهول وغواړي نو پوهيدى سي او دتابعداري مطلب دا دى چې ددغه استعداد او قابليت څخه كار واخلئ او په مقتضايي عمل وكړئ، مطلب دا چې ددغه فطرت تابعداري په كار ده او) دالله ﷻ ددې پيدا كړل سوي شي په كوم چې هغه ټول انسانان پيدا كړي دي، بدلول نه دي په كار پس (لار) سيده (د) دين دا ده ليكن اكثره خلق (په دې په وجه دعدم تدبر) نه پوهيږي (په دې

وجه ددي تابعداري نه کوي غرض دا چې) تاسي دخدای طرف ته رجوع وکړی، دفطرت الهي تابعداري کوي او ددی (دمخالفت او دمخالفت دعذاب) څخه وبیریږي او (اسلام قبول کړی) دلمانځه پابندی کوي (کوم چي دتوحید عملي اظهار دی) او دشرك کوونکو څخه مه کیږي، کومو خلقو چي خپل دین ټکړي ټکړي کي (یعنی حق خو یو وو او باطل ډیر وو دغو خلقو حق پري ایښي دی او دباطل مختلفی لاری یې اختیار کړی ، دا ټکړي ټکړي کول دی چي یو یوه لار ونیوله او بل بله) او ډیر (مختلف) ټولگي سول (او که پرحق وای نو یوه ډله به وای او سره ددي چي په دی حق پرېښوونکو کی دټولو طریقی باطلی دی ، مگر بیا هم د انتهایي جهل څخه په دوی کی) هره ډله په خپله هغه طریقه نازکوونکی ده کومه چي ددغو سره ده او (دکوم دتوحید طرف ته چي مونږ بلنه کوو سره ددي دانکار اوخلاف کولو داضطرار په وخت کي په عام طور سره دخلقو دحال اوقال څخه ددي اظهار او اقرار هم کیږي چي دتوحید دمضمون دفطری کیدو تائید هم ورڅخه کیږي هم دارنگه لیدل کیږي) کله چي خلقو ته څه تکلیف ورسیږي (دغه وخت بی قراره سي) خپل (حقیقی) رب ته دهغه طرف ته رجوع کوونکی سي رابولی یې (اونور ټول معبودان پریږدی مگر بیا (دیر ژر یی دا حالت سي چي) کله الله ﷻ دوی ته دخپلي څه مهرباني خوند ور وڅکی نو وروسته په دوی کي ځینی خلق (بیا) دخپل رب سره شرك کوونکی سي چي ددي مطلب دا دی چي مونږکوم (عیش او ارام) دوی ته ورکړی دی ، دهغه ناشکری کوي (چی عقلاًهم قبیح کاردی) پس (خیر) څه ورځی نورخوندحاصل کړی، بیابه ډیر ژر تاسی (په حقیقت) پوه سي (او دا خلق چي کوم شرك کوي خاصکر دتوحید داقرار څخه وروسته نوځوك دی پوښتنه ورڅخه وکړی چي ددي څه وجه ده ؟) ایا مونږ په دوی څه سند (یعنی څه کتاب) نازل کړی دی چي هغه دوی ته دخدای سره دشریك جوړولو وایي؟ (یعنی د دوی سره ددي څه نقلي دلیل هم نسته ، او په مقتضا دهدایت دعقل څخه خلاف والی په خپله د دوی دمنلو څخه په حالت داضطرارکی ښکاره کیږي، پس سراسر باطل سو) او (مخ ته دلوړ مضمون تتمه ده او هغه دا ده چي) مونږکله (دی خلقو ته دڅه مهرباني خوندوروڅکوو نوهغوی په دی سره (داسی) خوشحاله سي (چی دخوشحالی څخه مست سي شرك کول شروع کړی ، لکه چي ذکر یی تیرسو) اوکه چیری د دوی د (بدو) عملونو په بدله کي کوم چي دوی مخکی په خپلو لاسونو کړی دی ، پردوی څه مصیبت راسی، نوبس هغه خلق نا امیده سي (په دی مقام کي په فکر کولو سره معلومیږي چي په دی تتمه کي اصل مقصود اولنی جمله . اذا اذقنا الناس. ده چي په دی کي د دوی په شرك کي داخته کیدو سبب بدمسته اوغافله کېدل ذکردی ، دوهمه جمله محض دتقابل په مناسبت سره ذکرسوي ده ، څکه چي په دی دواړو حالتونو کي دومره خبره ثابتیږي چي د دوی تعلق دالله ﷻ سره ډیرکم اوضعیف دی لږ لږ سي دا تعلق هیر وی، مخ ته ددي دوهم دلیل دی چي داخلق کوم شرك کوي نو) ایادوی ته دا معلومه نه ده چي الله ﷻ چاته وغواړی زیات رزق ورکوی اوچاته چي وغواړی کم ورکوی (او دمشرکینو په نزد دا منل سوی هم وه چي درزق کمول زیاتول په اصل کي دخدای پاك کار دی لکه چي دا قول د الله ﷻ دی. وَلَئِنْ سَاَلْتَهُمْ مَنْ نَزَّلَ مِنَ السَّمَاءِ مَاءً فَاَحْيَا بِهِ الْاَرْضَ مِنْ بَعْدِ مَوْتِهَا لَيَقُوْلُنَّ

الله پـه دی (کار) کي (هم دتوحيد) نښې دي دهغو خلقو دپاره کوم چي ايمان لري (يعني هغوی پوهيږي او نور باندي هم پوهيدی سی، ځکه چي څوك داسي قادر وی، مستحق دعبادت هغه وی) بيا (کله چي دتوحيد په دليلونو کی معلومه سوه چي په رزق کي فراخی اوتنگی د الله ﷻ دطرف څخه ده نو ددی څخه يوه خبره بله هم ثابته سوه چي بخل کول بدکاردی، ځکه چي څومره رزق په تقدير کي وی، هغه په بخل کولو سره زيات نه ورکول کيږي، په دی وجه په نيکو کارونو کي دخرڅ کولو څخه بخل نه دی کول په کار بلکی) خپلوانو ته د دوی حق ورکوه او (دغه ډول) مسکينانو اومسافرو ته هم (د دوی حقونه ورکړه چي تفصيل يی په شرعی دليلونو سره معلوم دی) دا دهغو خلقو دپاره ښه ده کوم چي د الله ﷻ رضا طلب کوي او داسي خلق مراد پيداکونکی دی او (مونږ چي کوم داقيد ولگوی چي دامضمون ښه دی دهغو خلقو دپاره کوم چي د الله ﷻ درضا طلب گار وی، وجه ددي دا ده چي زمونږ په نزدمطلق مال خرڅ کول موجب دفلاح پيداکيدو نه دی بلکی قانون دهغه دا دی چي) کوم شی تاسی (ددنيا په غرض سره خرڅ کړی، مثلاً يوشی په دی غرض سره چاته) ورکړی چي هغه دخلقو په مال کي (شامل سي يعني دهغوی ملك اوقبضی ته) ورسيږي (ستاسو دپاره) زيات سي (بيرته) راسی (لکه چي دالُوش اوبدل وغيره په رواجونو کي اکثره په دی غرض سره ورکول کيږي چي دغه سړی به زماپه موقع باندي څه نور زيات ورسره شامل کړی رابه يی کړی) نو دا دالله ﷻ په نزد نه زياتيږي (ځکه چي دخدای ﷻ په نزد رسيدل اوزياتيدل دهغه مال سره خاص دی کوم چي دالله ﷻ دخوشحالولو دپاره خرڅ سی، لکه چي مخ ته راځی او په حديث کي هم دی چي يوه خرما مقبوله د احد دغره څخه هم زياته ډېريږي او په دی کي خو دانيت نه وو، ځکه نه مقبوله سوه او نه زياته سوه) او کوم زکوٰة (وغيره) چي ورکوی په کوم سره چي دالله ﷻ رضا طلب کوي نو داسی خلق (دخپلو ورکړو) دالله ﷻ سره زياتوونکی دی (لکه چي اوس دحديث مضمون تيرسو او دامضمون دالله ﷻ په لاره کي دخرڅ کولو چونکی د الله ﷻ پرصفت درزق باندي ددلالت کولوپه وجه سره دتوحيدد تاکيد ذريعه ده، په دی وجه داتبعًاراغی اصل مقصود دتوحيد بيان دی، په دی وجه مخ ته بيان د دي توحيد ذکر دی)

الله ﷻ هغه ذات دی کوم چي تاسی پيدا کړی ياست، بيايی تاسی ته رزق درکی بياتاسی لره مرگ درکوی بيابه (دقيامت په ورځ) تاسی ژوندی کړی (په دی کي ځينی کارونه خو دمخاطبو په اقرار سره ثابت دی او ځينی په دليلونو سره، مطلب دا چي هغه داسي قادر دی، اوس دا ووایاست) چي ستاسو په شريکانو کی هم څوك داسي سته کوم چي په دی کارونو کي څه وکړی؟ (اوښکاره ده چي هيڅوك هم نسته، په دی وجه ثابته سوه چي) هغه دهغوی دشريك جوړولو څخه پاك اوبرتردی (يعني دهغه هيڅوك شريك نسته)

معلومات او مسئلي: په ذکرسوو آيتونوکی دتوحيد مضمون په مختلفو شواهدو او دليلونو اومختلفو عنواناتوکی ښودل سوی دی کوم چي دهرانسان زړه ته کښته کيږي اول يی په يومثال سره پوه کړی دی چي ستاسی غلام نوکر کوم چي ستاسی په شان انسان دی په لاسو پښو طبعی خواهشونو اوټولو شيانو کی ستاسی سره شريك دی، مگر تاسی يی په خپل اقتدار او اختيار کی دځان سره برابر نه جوړوی چي هغه هم ستاسو

په شان چي څه غواړي هغه وکړي ، څه غواړي خرڅ کړي ، بالکل دغه شان په شان برابر خوځه کوي ، په خپل مال او اختيار کي ورته د ادنی شان شرکت هم نه ورکوي ، لکه چي ديو جز وي او معمولي شريك څخه تاسي بېرېږي چي که دهغه درضا څخه بغير مي څه تصرف وکي نو هغه به اعتراض وکړي غلامانو نو کرانو ته دا درجه هم نه ورکوي . نو فکر وکړي چي ټول مخلوقات په کومو کي چي فرښتي انسانان او نور کائنات ټول دا خل دي ، دا ټول هرڅه دالله ﷻ مخلوق او دهغه بندګان اوغلامان دي ، دوی تاسي دالله ﷻ برابر يا دهغه شريکان څنګه ګڼي .

په بل آيت کي پردي خبرداری ده چي دا خبره خوساده اوصفا ده مګر مخالف خلق دخپل نفساني خواهش تابع سوي دي او دعلم اوحکمت هيڅ خبره نه مني .

په دريم آيت کي نبی کريم ﷺ ته ياعامو مخاطبو ته حکم ورکول سوی دي چي کله دشرك نامعقول والی او زيات عظيم کيدل ثابت سول نو ته ټول مشرکانه خيالات پريږده . خپل مخ صرف ددين اسلام طرف ته وګرځوه . ﴿فَأَقِمْ وَجْهَكَ لِلدِّينِ حَنِيفًا﴾.

ددی څخه وروسته ددي دين اسلام مطابق کيدل او په مقتضا دفطرت کيدل داسي بيان فرمايي . ﴿فِطْرَتَ اللَّهِ الَّتِي فَطَرَ النَّاسَ عَلَيْهَا لَا تَبْدِيلَ لِخَلْقِ اللَّهِ ذَٰلِكَ الدِّينُ الْقَيِّمُ﴾، ﴿فِطْرَتَ اللَّهِ الَّتِي فَطَرَ النَّاسَ عَلَيْهَا﴾ دا جمله د اولی جملی . ﴿فَأَقِمْ وَجْهَكَ لِلدِّينِ حَنِيفًا﴾، توضيح دی ، اودين حنيف دکوم دتابعداری حکم چي په اوله جمله کي ورکول سوی دی ، دهغه ديو مخصوص صفت بيان دی چي هغه دين دفطرت دی ، او د، فطرت الله، په ترکيب نحوی کي دمنصوب کيدو وجه مفسرينو مختلفه ليکلی ده، چي لفظ اتَّبِعْ، دلته محذوف دی، يالفظ د، أعْنِي، په هرحال دا متعينه ده چي دين حنيف، دکوم دتابعداری چي په اوله جمله کي حکم ورکول سوی دی ، دايي په دی جمله کي فطرت الله مقرر کړی دی اومعنی يی ددي په خپله په راتلونکی جمله کي دا وښودله چي دالله ﷻ دفطرت څخه مراد دا دی چي په کوم فطرت، الله ﷻ خلق پيدا کړی دی .

(دفطرت څخه مراد څه دی؟)

په دی معامله کي دتفسير ليکونکو ډېر اقوال نقل دي چي دوه زيات په کتبی مشهور دي .

اول دا چي دفطرت څخه مراد اسلام دی او مطلب دا دی چي الله ﷻ هر يو انسان دخپل فطرت اوجبلت په اعتبار سره مسلمان پيدا کړی دی . که دی په شاوخوا اوماحول کي څوك خراب کوونکی خراب نه کړي نو هر پيدا کيدونکی بچی به مسلمان وای ، مګر عادتاً کيږي داسي چي مور اوپلار ده ته څيني وخت دا اسلام څخه خلاف شيان وښيي چي دهغه په سبب دی پراسلام قائم پاته نه سي ، لکه چي دصحيحينو په يو حديث کي ذکر دی . قرطبی (رح) دا قول دجمهورو سلفو قول مقرر کړی دی .

دوهم قول دا دی چي دفطرت څخه مراد استعداد دی يعنی دانسان په پيدائش کي الله ﷻ دا خاصيت ايښی دی چي په هرانسان کي دخپل خالق دپيژندو او منلو صلاحيت او استعداد موجود دی چي اثريی دا اسلام

قبلول وی . په دی شرط چي ددي استعداد څخه کار واخلی .
مګر په دی قول باندي ډېر اشکالات دی ، اول دا چي په خپله په دی آیت کي دا هم مخکی ذکردی، لَا تَبْدِيلَ لِخَلْقِ اللهِ، او دلته دخلق الله څخه مراد هغه فطرت الله دی چي لوړ یی ذکر سوی دی . په دی وجه معنیٰ ددي جملی دا ده چي دالله ﷻ دا فطرت څوك نه سي بدلولی . حال دا دی چي په صحیح حدیث کي په خپله دا راغلی دی ، چي بیا ځینی وخت مور اوپلار بچی یهودی یانصرانی جوړوی که دفطرت معنیٰ په خپله اسلام واخستل سي چي بدلون نه راتلل په کبنی په خپله په دی آیت کي ذکردی نوپه ذکر سوی حدیث کي به دیهودی یا نصرانی جوړولو بدلون څنګه صحیح وی ، او دا بدلون خوعامه لیدل کیږي چي هرځای دمسلمانانو څخه زیات کافران وي که اسلام داسي فطرت دی چي بدلون نه سي په کبنی کیدی ، نو بیا دا بدلون څنګه اوولی ده ؟
دوهم حضرت خضر ﷺ چي کوم هلك قتل کړی وو دهغه متعلق په صحیح حدیث کي دی چي ددي هلك په فطرت کي کفر وو ، په دی وجه حضرت خضر ﷺ دی قتل کی ، دا حدیث هم ددي منافی دی چي هر انسان پر اسلام باندی پیدا کیږي .
دریمه شبهه دا ده چي که اسلام یو داسی شی دی چي دانسان په فطرت کي داسي اینبوول سوی دی چي په بدلون باندي یی دده هم قدرت نسته نودا خو څه اختیاری فعل نه سو. بیاپه دی باندي داخرت ثواب څنګه؟ څکه چي ثواب خوپه اختیاری عمل باندي ورکول کیږي .
څلورمه شبهه دا ده چي دصحیح احادیثو مطابق دفقهاوو دامت په نزد بچی دبالغیدو څخه مخکی دمور او پلار تابع ګڼل کیږي که مور اوپلار کافر وی نو بچی به هم کافر مقرّریږي او دده کفن دفن به په اسلامی طرز نه سي کولی .
دا ټولی شبهی امام التور بشتی ﷫ په شرح دمصابیح کي بیان کړی دی اوپه دی بنا دوی دوهم قول ته ترجیح ورکړي ده . څکه چي ددي پیدائشی استعداد متعلق دا هم صحیح ده چي په دی کي څه بدلون نه سي کیدی کوم سړی چي دمور او پلار یا د نورو په ګمراه کولو سره کافر سی په ده کي استعداد اوقابلیت دحق یعنی داسلام حقانیت دپیژندونه ختمیږي دحضرت خضر ﷺ دهلك په واقعه کي دده پرکفر دپیدا کیدو څخه هم دانه لازمیږي چي په ده کي دحق دپیژندو استعداد نه وو پاته سوی اوچونکی ددي خداداد استعداد او قابلیت صحیح استعمال انسان په خپل اختیار سره کوی ، په دی وجه په دی دعظیم ثواب مرتب کیدل هم واضح سوه . او دصحیحینو په حدیث کي چي دا ذکر دی چي دبچی مور اوپلار دی یهودی یانصرانی جوړ وی ، ددي مطلب هم ددي بلی معنیٰ په اعتبار سره واضح اوصفاسو ، که څهم په ده کي استعداد فطری وو ، کوم چي الله ﷻ دده په تخلیق کي اینبی دی هغه دده داسلام طرف ته بیوونکی وو ، مګر عوارض او موانع حائل سول او دغه طرف ته یی دی پری نه بنوی او دسلفو حضراتو څخه چي کوم مخکی قول نقل دی ، په ښکاره ددغه څخه مراد هم اصل اسلام نه دی ، بلکی دااستعداد داسلام او ددی

قابلیت اوصلاحیت دی . محدث دهلوی (رح) په لمعات شرح دمشکوة کي دجمهورو دقول دا مطلب بیان کړی دی .

او ددی تائید په هغه مضمون سره کیږي کوم چي حضرت شاه ولی الله دهلوی (رح) په حجة الله البالغه کي لیکلی دی . خلاصه دهغه دا ده چي الله ﷻ بی شمیره قسمه مخلوقات دمختلفو طبائعو اومزاجونو جوړ کړی دی ، دهر مخلوق په فطرت او جبلت کي یې یوه خاصه ماده ایښې ده چي په دی دغه مخلوق دخپل تخلیق منشا پوره کړل سی . په قرآن کریم کي د. أَعْطَى كُلَّ شَيْءٍ خَلْقَهُ ثُمَّ هَدَى، څخه هم دا مطلب دی چي کوم مخلوق دکائناتو خالق دڅه خاص مقصد دپاره پیدا کړی دی ، ده ته یې دهغه مقصد هدایت هم ورکړی دی ، دهدایت دا ماده او استعداد دی ، دشاتو په مچی کي یې دا ماده ایښې ده چي هغه درختی اوګلونه وپیژني او انتخاب وکړی ، بیا دهغه رس په خپله خیته کي محفوظ کړی اوخپل ګبین ته یې راوړی جمع کړی . دغه ډول دانسان په فطرت اوجبلت کي یې داسي ماده ایښې ده چي هغه خپل پیداکوونکی وپیژني دهغه شکر ګذاری او اطاعت شعاری وکړی . ددي نوم اسلام دی .

لَا تَبْدِيلَ لِخَلْقِ اللهِ، ددي ذکر سوی تقریر څخه ددي جملی مطلب هم واضح سو چي دالله ﷻ دورکړل سوی فطرت یعنی دحق پېژندو صلاحیت او استعداد کی څه بدلون نسي کیدی . دی غلط ماحول کافر خو جوړولی سی ، مګر دده استعداد دحق قبلولو بالکل فنا کولی نه سی . او په دی سره ددي آیت مطلب هم واضح کیږي په کوم کي چي ارشاد دی: وَمَا خَلَقْتُ الْجِنَّ وَالْإِنْسَ إِلَّا لِيَعْبُدُونِ، یعنی مونږ پیریان انسانان دبل کار دپاره نه دی پیداکړی ، بغیر ددي څخه چي دوی زماعبادت وکړی ، مطلب دا دی چي د دوی په فطرت کي مونږ دعبادت رغبت او استعداد ایښی دی که هغه ددي استعداد څخه کار واخلی نو بغیر دعبادت څخه به بل کار ددي خلاف د دوی څخه هیڅکله هم ونه سی .

(دباطلو خلقو دصحبت او غلط ماحول څخه جلا اوسېدل فرض دی)

په ذکرسوی آیت کي د، لَا تَبْدِيلَ لِخَلْقِ اللهِ " جمله که څه هم په صورت دخبر ده، یعنی دالله ﷻ دا فطرت څوك نه سي بدلولی . لیکن په دی کي یوه معنی د امر هم ده چي بدلول یې په کار نه دی په دی وجه ددي جملی څخه دا حکم هم فائده سوچی انسان ته دداسی اسبابو څخه ډېر پرهیزکول په کار دی ، کوم چي ددي دحق قبلولو استعداد معطل یاکمزوری کوي او هغه اسباب زیات تره غلط ماحول اوناکاره صحبت دی ، یا دباطلو خلقو کتابونه کتل ، هرکله چي دخپل مذهب اسلام پوره عالم او مبصر نه وی . والله تعالی اعلم

وَأَقِيمُوا الصَّلَاةَ وَلَا تَكُونُوا مِنَ الْمُشْرِكِينَ " په تیرآیت کي دانسانی فطرت دحق قبلولو قابل اومستعد جوړولو ذکر وو ، په دی آیت کي اول دحق قبلولو صورت دا وښوول سو چي لمونځ قائم کړی ، ځکه چي دا په عملی طور دایمان اواسلام او داطاعتِ حق اظهار دی ، ددي څخه وروسته فرمايي وَلَا تَكُونُوا مِنَ الْمُشْرِكِينَ، یعنی په شرك کوونکوکی مه شاملیږی ، کومو چي دخپل فطرت اوحق قبلولو داستعداد څخه کار وانه خستی . مخ ته د دوی دګمراهی ذکر دی . مِنَ الَّذِينَ فَرَّقُوا دِينَهُمْ وَكَانُوا شِيَعًا " یعنی دا مشرکان هغه خلق

دی کوموچي په خپل دين دفطرت او دين حق کي تفريق پيدا کړی ياداچي ددين حق څخه بيل اوجلا سول اونيتجه داسوه چي هغوی په مختلفو پارتيوکی تقسيم سول شيعاًشيعه جمع ده . داسي جماعت کوم چي ديو مقتدا پيروکار وی ، هغه ته شيعه ويل کيږي . مطلب دا دی چي دين دفطرت خو توحيد وو چي اثر يی دا په کار وو چي ټولو انسانانو دا اختيار کړی وای او يو قوم يو جماعت وای ، مگر دوی دا توحيد پرې ايښي دی او دمختلفو خلقو دخيالاتو تابع سول او په انسانی خيالاتو او رايوکی اختلاف يو طبعی امر دی . په دی وجه هر يو خپل خپل يو مذهب جوړ کی ، عوام د دوی په سبب په مختلفو پارتيو کی تقسيم سول اوشيطان دوی په خپلو خيالاتو اوعقيدو حقو ګرځولو کی داسي ولګول چی ، كُلُّ حِزْبٍۭ بِمَالَدَيْهِمْ فَرِحُوْنَ ٭ يعنی د دوی هره يوه پارټی په خپلو عقيدو او خيالاتو باندي مينه او خوشحاله ده او نورو ته په غلطه وايی . حال دا دی چي دا ټول دگمراهی پرغلطو لارو باندي لګيدلی دی .

فَاٰتِ ذَاالْقُرْبٰى حَقَّهٗ وَالْمِسْكِيْنَ وَابْنَ السَّبِيْلِ ٭ددي څخه په مخکی آيت کي يی دابيان کړی وو ، چي درزق معامله صرف دالله ﷻ په لاس کي ده هغه چي چاته وغواړی رزق فراخه ورکوی اوزياتوی اوچالره چي غواړی رزق کموی اوتنګوی . ددي څخه معلومه سوه چي کوم سړی دالله ﷻ ورکړی رزق دهغه په مصرفونو کي خرڅ کوي نو په دی سره په هغه کي کمی نه راځی او که څوك په خرڅ کولو کی بخل کوي او څه چي ورسره وي هغه جمع کوي او دمحفوظ کولو کوشش يی کوی ، په دی سره په مال کي فراخی نه راځی .

ددی مضمون په مناسبت سره په ذکر سوی آيت کي نبی کريم ﷺ ته او په قول دحسن بصری (رح) هرمخاطب انسان ته کوم ته چي الله ﷻ په مال کي فراخی ورکړی وی ، دا هدايت ورکړی دی چي کوم مال الله ﷻ تاته درکړی دی په هغه کي بخل مه کوه ، بلکی هغه دهغه په مصرفونوکی په خوشحاله زړه سره خرڅوه ، په دی سره به ستا په مال او رزق کي کمی نه راځی او ددی حکم سره يی په دی آيت کي دمال يوڅو مصرفونه هم بيان کړل . اول ذوی القربٰی ، دوهم مساکين ، دريم مسافرين ، چي دخدای ﷻ دورکول سوی مال څخه يې دی خلقو ته ورکوی او په دوی يی خرڅ کوی . او ددی سره يی دا هم وښووه چي دا دهغو خلقو حق دی کوم چي الله ﷻ ستاسو په مال کي شامل کړی دی ، په دی وجه دوی ته يی دورکولو په وخت کي پردوی څه احسان مه وراچوی ځکه چي دحقدار حق ادا کول مقتضا دعدل او انصاف ده څه احسان او انعام دی .

او د ذوی القربٰی څخه مراد ښکاره ده چي عام قريب دی برابره خبره ده که ذورحم محرم وي اوکه نور (لکه چي دا قول دجمهورو مفسرينو دی) او دحق څخه مراد هم عام دی برابره خبره که واجب حقونه وی ، لکه دمور اوپلار او اولاد او دنورو ذوی الارحامو حقونه يامحض تبرع او احسان وي کوم چي دقريبانو سره په نسبت دنورو ډېر زيات ثواب لري . تردی چي دتفسير امام مجاهد فرمايی چي دکوم سړی ذوی الارحام قريبان محتاج وي او هغه دوی پريږدی ، پر نورو يې صدقه کوي نو دالله ﷻ په نزد مقبوله نه ده . او د ذوی القربٰی حق صرف مالی امداد نه دی بلکی د دوی خبر اخستل ، جسمانی خدمت اوچی هيڅ ونه کړی نوکم

از کم زبانی همدردی اوتسلی وغیره، لکه چي حضرت حسن ﷺ فرمایي چي دذوی القربٰی حق دهغه سړی دپاره کوم ته چي مالی فراخي حاصله وی ، دا دی چي په مال سره د دوی امداد وکړی اوچاته چي دا فراخي حاصله نه وي دهغه دپاره جسمانی خدمت او زبانی همدردی ده . (قرطبی)

د ذوی القربٰی څخه وروسته دمسکین او مسافر حق یی ښوولی دی ، دا هم دغه ډول عام دی چي دمالی امداد وسعت نه وي نو ښه سلوك ورسره کول دی .

وَمَآ اٰتَيۡتُمۡ مِّنۡ رِّبًا لِّيَرۡبُوَا۟ فِيۡۤ اَمۡوَالِ النَّاسِ ؕ په دی آیت کي دیو ناکاره رواج اصلاح کړل سوي ده کوم چي په عامو خاندانونو اوخپلولوکي چلیږي ، هغه دا چي په عام طور سره دخاندان اوقرابت خلق چي څه یوبل لره ورکوی ، دی ته ګوری چي هغه به هم پریو موقع باندي بیا ماته څه راکوی، خصوصًا دکوزدی او واده په خوشحالوکي چي څه ورکول اواخستل کیږي دهغه هم داحیثیت وي کوم ته چي په عرف کي جَنْجَ ویل کیږي په دی آیت کي دا هدایت ورکول سوی دی چي خپلوانو ته دکوم حق اداکولوحکم په مخکی آیت سوی دی ، دوی ته دی دغه حق داسي ورکړی چي نه احسان باندي اچوی اونه دبدلی طمع ورڅخه کوی ، اوچاچي دبدلی په نیت سره ورکی چي دده مال به دبل قریب په مال کي دشاملیدو څخه وروسته څه زیات دخان سره بیرته راولی ، نودالله ﷻ په نزد ددي هیڅ درجه اوثواب نسته اوقرآن کریم دا زیاتوب په لفظ دربوا سره تعبیرکی او ددی دقباحت طرف ته یی اشاره وکړه چي دا دسود یو صورت جوړ سو .

مسئله : د ډالی او بخشش ورکوونکی دی ته کتل چي ددي بدله به پیدا سي ، دا خو یو ډېر ناکاره حرکت دی کوم چي په دی آیت کي منع سوی دی ، لیکن دخپل طرف څخه چي کوم سړی ته دچاطرف څخه څه ډالی یابخشش ورسیږي دده دپاره اخلاقی تعلیم دا دی چي هغه هم کله چي موقع ورپیدا سی ، ددي بدله ورکړی . دنبی کریم ﷺ عادت شریف دا وو چي کوم سړی به دوی ته څه تُحفه پیش کړه نو په خپله موقع به یی هغه ته هم ډالی ورکوله (لکه چي داسي دحضرت عائشی ؓ څخه روایت دی) قرطبی .

البته ددي بدلی صورت داسي جوړول نه دی په کار چي هغه بل سړی دا محسوسه کړی چي دا زما دهغه ډالی بدله راکوی .

ظَهَرَ الۡفَسَادُ فِى الۡبَرِّ وَالۡبَحۡرِ بِمَا كَسَبَتۡ اَيۡدِى النَّاسِ لِيُذِيۡقَهُمۡ بَعۡضَ

خوره سوه خرابی په وچه اودریاب کی په سبب دکړو دلاسونو دخلقو ځکول په کار دی دوی ته څه د

الَّذِىۡ عَمِلُوۡا لَعَلَّهُمۡ يَرۡجِعُوۡنَ ﴿۴۱﴾ قُلۡ سِيۡرُوۡا

هغه کارونو چي دوی کړي دي چي دوی واپس سی ، ته ووایه وګرځی

فِى الْاَرْضِ فَانْظُرُوْا كَيْفَ كَانَ عَاقِبَةُ الَّذِيْنَ مِنْ قَبْلُ ط

په ملک کی پس وګورئ چې څنګه سو انجام د مخکنيو خلقو،

كَانَ اَكْثَرُهُمْ مُّشْرِكِيْنَ ﴿۴۲﴾ فَاَقِمْ وَجْهَكَ لِلدِّيْنِ الْقَيِّمِ مِنْ

وو ډېر په هغو خلقو کی مشرکان. پس ته برابر کړه خپل مخ دین برابر ته

قَبْلِ اَنْ يَّاْتِىَ يَوْمٌ لَّا مَرَدَّ لَهٗ مِنَ اللّٰهِ يَوْمَئِذٍ يَّصَّدَّعُوْنَ ﴿۴۳﴾

مخکې ددې څخه چې راسی هغه ورځ کومه چې نه واپس کیږي د الله ﷻ د طرف څخه په دغه ورځ به خلق جلا جلا وي

مَنْ كَفَرَ فَعَلَيْهِ كُفْرُهٗ ج وَمَنْ عَمِلَ صَالِحًا فَلِاَنْفُسِهِمْ

څوک چې منکر سو پس په ده به ولویږي دده کفر، او څوک چې وکی نیک کار پس هغوی خپله لار ښائسته

يَمْهَدُوْنَ ﴿۴۴﴾ لِيَجْزِىَ الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا وَعَمِلُوا الصّٰلِحٰتِ مِنْ فَضْلِهٖ ط

کړه ، چې بدله ورکی هغو ته چې ایمان یې راوړی دی او نیک عملونه یې وکړل د خپل فضل څخه

اِنَّهٗ لَا يُحِبُّ الْكٰفِرِيْنَ ﴿۴۵﴾

بیشکه هغه نه خوښوی کافران.

تفسیر: (شرك او معصیت داسې ناکاره شی دی چې) په وچه او دریاب (یعنی په ټوله دنیا) کې دخلقو د (بدو) عملونو په سبب بلاګانی خپرېږي (مثلاً قحط، وبا، طوفان چې الله ﷻ د دوی دځینو عملونو (د سزا) خوند دوی ته وڅکی چې هغوی (دخپلو دی عملونو څخه) بیرته واپس سي (لکه چې په بل آیت کې دی. وَمَآ اَصَابَكُمْ مِّنْ مُّصِيْبَةٍ فَبِمَا كَسَبَتْ اَيْدِيْكُمْ، او دځینو عملونو مطلب دا دی چې که پرټولو عملونو دا عذابونه مرتب سي نو یو دساه خاوند به ژوندی پاته نه سي لکه دا قول دالله ﷻ دی. وَلَوْ يُؤَاخِذُ اللّٰهُ النَّاسَ بِمَا كَسَبُوْا مَا تَرَكَ عَلٰى ظَهْرِهَا مِنْ دَآبَّةٍ، په دی معنی سره یې په لوړ آیت کی، وَيَعْفُوْا عَنْ كَثِيْرٍ، فرمایلي دی، یعنی د ډېر ګناهونه خو الله ﷻ معاف کوی، دځینو عملونو سزا ورکوی، مطلب دا چې کله چې بدعملونه مطلقاً سبب دوبال دی نو کفر او شرك خو دټولو څخه زیات به موجب دعذاب وي اوکه مشرکانو ته ددې په منلوکې تردد وی نو) ته (دوی ته) ووایه چې په ملك کې وګرځی بیاوګوری چې کوم (کافران او مشرکان) خلق مخکی

تیر سوی دی دهغوی اخری انجام څنګه سو؟ په هغوی کي اکثره مشرکان وه (پس وګوري چي هغوی په آسماني عذاب سره څنګه هلاك سول ، ددي څخه صفا واضحه سوه چي دشرك وبال ډېر لوی دی ، او ځيني دکفر په نورو اقسامو کی اخته وه لکه قوم دلوط ﷺ اوقارون اوکوم خلق چي مسخ سوی اوبيزوګان او خنزيران سوی وه ، څکه چي آيتونه يي درواغجن کړل ، دنهی مخالفت يی وکی ، په کفر او لعنت کي اخته سول . او خصوصًا دشرك ذکر شايد په دی وجه وي چي دمکی دکافرانو خاص او مشهور حالت دا وو او کله چي دشرك موجب دوبال کيدل ثابت سول پس (ای مخاطبه) ته خپل مخ دی برابر دين (يعنی د اسلامی توحيد) طرف ته ساته، مخکی ددي څخه چي هغه ورځ راسی دکوم دپاره چي بيا دخدای دطرف څخه واپس کيدل نه وي (يعنی لکه څنګه چي په دنياکي دخاص عذاب وخت الله ﷻ دقيامت په وعده باندي وروسته کوی ، کله چي هغه وعده سوی ورځ راسی ، بيابه هغه نه سي واپس کيدی اوځنډ اومهلت به په کښی نه وی ، په دی جمله کي دشرك داخروی وبال ذکر وسو لکه چي لوړ په ، ظَهَرَ الْفَسَادُ الخ او ، كَيْفَ كَانَ عَاقِبَةُ الخ ، کي ددنيوی وبال ذکروو او) هغه ورځ به (دا وي چي) ټول (عمل کوونکی) خلق (په اعتبار دجزا) جلا جلا سی (په دی طور چي) کوم سړی کفر کوي پرده خوبه دده (وبال د) کفر راسی اوڅوك چي نيك عمل کوي پس دا خلق دخپل ځان د (نفع د) پاره اسباب برابر وی چي حاصل به يی دا وی چي الله ﷻ به دی خلقو ته په خپل فضل سره (نيکه) جزا ورکړی کومو چي ايمان راوړی اونيك عمل يی وکی (او ددي څخه به کفار محرومه وی ، لکه چي لوړ د ، فَعَلَيْهِ كُفْرُهُ ، څخه معلومه سوه ، وجه يی دا ده چي) واقعی الله ﷻ کافران نه خوښوی (بلکی د دوی پرکفر باندي د دوی څخه خفه دی)

معلومات اومسئلي: ظَهَرَ الْفَسَادُ فِي الْبَرِّ وَالْبَحْرِ بِمَا كَسَبَتْ أَيْدِي النَّاسِ " يعنی په وچه او په درياب کي په ټول جهان کي فساد وغوړول سو ، دخلقو دبدو عملونو په وجه سره په تفسير روح المعانی کي دی چي دفساد څخه مراد قحط او وبايی مرضونه او اورلګيدل اوپه اوبوکي ډوبيدو واقعات دی او دهرشی برکت ختميدل دی ، دنفع لرونکو شيانو نفع کمه اونقصان زياتی کېدل وغيره افتونه دی ، او ددی آيت څخه معلومه سوه چي ددي دنيوی افتونو سبب دانسانانو ګناهونه اوبدعملونه وي چي په دی کي شرك اوکفر دټولو څخه زيات سخت دی ، ددي څخه وروسته نور ګناهونه دی .

او دا مضمون په بل يو آيت کي داسي راغلی دی . وَمَا أَصَابَكُمْ مِنْ مُصِيبَةٍ فَبِمَا كَسَبَتْ أَيْدِيكُمْ وَيَعْفُو عَنْ كَثِيرٍ يعنی تاسی ته چي کوم يو مصيبت هم رسيږي هغه ستاسو دلاسو دکتی په سبب وي يعنی دهغو ګناهونو په سبب وي کوم چي تاسی کوي او ډير ګناهونه خوالله ﷻ معاف کوی ، مطلب دا دی چي په دی دنيا کي کوم مصيبتونه او افتونه چي پرتاسو راځی دهغه حقيقی سبب ستاسو ګناهونه وی ، که څه هم په دنيا کي نه ددي ګناهونو پوره بدله ورکول کيږي ، او نه پرهره ګناه مصيبت اوآفت راځی ، بلکه ډېر ګناهونه معاف کيږي ، پرځينوځينو ګناهونو نيول وي اوافت اومصيبت باندي راځی، که دهری ګناه په وجه په دنيا کي

مصیبت راتلی نو یو انسان به هم ژوندی نه وای پاته سوی ، مگر کیږي داسي چي ډېر گناهونه الله ﷻ معاف کوي اوکوم چي معاف نه سی ، دهغه هم پوره بدله په دنیاکی نه ورکول کیږي بلکی لږڅه خوند یې ورڅکول کیږي،لکه چي ددي آیت په اخرکی فرمایی.لِيُذِيقَهُم بَعْضَ الَّذِي عَمِلُوا ، یعنی چي وڅکوی الله ﷻ څه حصه د دوی دبدوعملونو.او ددی څخه وروسته ارشاد فرمایی چي دبدو عملونو اوگناهونو په وجه چي کوم مصیبت او افت په دنیاکی راځی ، هغه هم که سوچ وکړی نو دالله ﷻ رحمت اوعنایت دی ، ځکه چي مقصود ددي دنیادمصیبت څخه دا وی چي غافل انسان پوه سي اوهغه دخپلوگناهونو اونافرمانیو څخه منع سی ، کوم چي اخر دده دپاره مفید اولوی نعمت دی لکه چي دایت په اخرکي فرمایی . لَعَلَّهُمْ يَرْجِعُونَ.

(ددنیا لوی لوی افتونه او مصیبتونه دانسانانو دگناهونو په سبب راځي)

په دی وجه ځینی علماء فرمایی چي کوم انسان یوه گناه کوی ، هغه دټولی دنیا پرانسانانو ځاروو ، او ځریدونکو الوتونکو حیوانانو ظلم کوی ، ځکه چي دده دگناهونو په وبال سره چي کوم دباران قحط او نور مصیبتونه په دنیا کي راځی په هغه سره جاندار متاثره کیږي ، په دی وجه به دقیامت په ورځ هغه ټول دگناهگار انسان خلاف دعویٰ کوی .

او شقیق زاهد فرمایی چي کوم سړی حرام مال خوری هغه صرف پرهغه ظلم نه کوي دچا څخه چي یی دا مال په ناجائز طور سره حاصل کړی دی بلکی پرټولو انسانانو ظلم کوي (روح) ځکه چي اول خو دیوه په ظلم سره په نورو خلقو کی دظلم کولو رواج زیاتیږي او دا سلسله ټوله انسانیت راگیروی دوهم د ده دظلم په وجه په دنیا کي افتونه اومصیبتونه راځی چي په ټولو انسانانو باندي یی اثر کیږي .

(دیوی شبهې ځواب)

په صحیح احدیثو کي دنبی کریم ﷺ دا ارشادات هم موجود دی چي دنیا دمومن دپاره جیل خانه (بندی خانه) او دکافر دپاره جنت دی او دا چي کافر ته دده دنیکو عملونو بدله په دنیاکی په صورت دمال دولت اوصحت ورکول کیږي ، او دمومن دعملونو بدله داخرت دپاره محفوظیږي او دا چي دمومن مثال په دنیا کي دیو نازك ښاخ په شان دی ، چي هواگانی دی کله یو طرف ته او کله بل طرف ته اړوی ، کله یی سیده کوی ، تردی چي په دی حالت کي دی ددنیا څخه رخصت سی . او دا چي . اَشَدُّ النَّاسِ بَلاَءً الأَنْبِيَاءُ ثُمَّ الأَمْثَلُ فَالأَمْثَلُ ، یعنی په دنیاکی دټولو څخه زیاتی بلاگانی پرانبیاوو علیهم السلام راځی ، بیاچي څوك هغوی ته نژدی وی ، بیاچي څوك هغوی ته نژدی وی .

داټول صحیح احادیث په ښکاره ددي آیت دمضمون څخه مختلف دی اوپه عامه دنیاکي هم دالیدل کیږي چي په دنیاکي په عام طورسره مومن مسلمان په تنگی اوتکلیف کي اوکافران فاجران په عیش اوعشرت کي وی که دذکرسوی آیت مطابق ددنیامصیبتونه اوتکلیفونه دگناهونو په سبب سره وي نو معامله به برعکس وه .

ددی ځواب دا دی چي په ذکر سوی آیت کي یی گناهونه دمصیبتونو سبب ضرور ښوولی دی ، مگر علت تامه یی نه دی فرمایلی ، چي کله پرچاڅه مصیبت راسی نو دگناه په سبب سره به وي اوپه چاچی څه

مصیبت راځي نوګناهګار کیدل یې ضروري دي ، بلکې دعامو اسبابو کوم چي په دنیا کي دستور دی چي دسبب واقع کیدو څخه وروسته دهغه مسبب اکثره واقع کیږي ، او کله یو بل سبب ددي اثر دښکاره کیدو څخه مانع سي نو ددی سبب اثر نه ښکاره کیږي لکه یو سړی ددستونو راوستونکو دارو په باره کي دا ووایي چي په دی سره به دستونه کیږي ، دا په خپل ځای صحیح ده مګرځیني وخت دڅه نورو دارو، خوراك یاهوا وغیره په اثر سره دستونه ونه سی ، کومی دوایانی چي دتبی کښته کولو دی ځینی وخت داسي عوارض پیښ سي چي دغه دوایانی اثر ونه کړی . دخوب راوستونکو ګولیو په خوراك سره هم خوب رانه سی ، ددي په زرګونو مثالونه په دنیا کي هر وخت لیدل کیږي .

په دی وجه دایت مطلب دا سو چي اصل خاصه دګناهونو دا ده چي په دی سره افتونه او مصیبتونه راسی ، لیکن ځیني وخت نور څه اسباب ددي منافی جمع سي دکومو په وجه چي مصیبتونه ښکاره نه سي او په ځینی صورتونو کي بغیر دڅه ګناه څخه څه افت اومصیبت راتلل هم ددي منافی نه دی ، ځکه چي په آیت کي دا نه دی فرمایلي چي بغیر دڅه ګناه څخه څه تکلیف اومصیبت چاته نه ورپیښیږي ، بلکی کیدی سي چي چاته څه مصیبت او افت په یوبل سبب سره ورپیښ سي لکه انبیاؤ علیهم السلام او اولیاؤ ته چي کوم مصـیبتونه اوتکلیفونه ورپیښیږي ، ددي سبب څه ګناه نه وی ، بلکی د دوی ازمائش او دازمائش په ذریعه د دوی ددرجو ترقی ددي سبب وی .

ددی څخه علاوه قرآنکریم چي کوم افتونه اومصیبتونه دګناهونو سبب مقرر کړی دی ، ددي څخه مراد هغه افتونه اومصیبتونه دی کوم چي په پوره دنیا یاپوره ښار یاکلی باندي عام وي اوعام انسانان اوحیوان یې داثر څخه محفوظ نه سی . دداسی مصیبتونو او افتونو سبب په عام طور سره په خلقو کي دګناهونو ډېروالی خصوصاً په ډاګه ګناهونه کول وی ، په شخصی او انفرادی تکلیف اومصیبت کي داقاعده نه ده ، بلکې دا کله دیو انسان دازمائش کولو دپاره راليږل کیږي ، او کله چي دغه انسان په دغه ازمائش کي پوره وخیژی ، نو دده داخرت درجی باندي لوړيږي . دامصیبت په حقیقت کي دده دپاره رحمت او نعمت وی . په دی وجه په انفرادی طور سره یو سړی په مصیبت کي په اخته لیدلو باندي دانه سي ویل کیدی چي هغه ډېر ګناهګاردی ، دغه ډول څوك خوشحاله او په عافیت کي په لیدلو باندي داحکم نه سي لګولی چي هغه ډېر نیك صالح اوبزرګ دی، البته عام مصیبتونه اوافتونه، لکه قحط، طوفان، وبایی مرضونه، دضرورت دشیانوګرانی، دشیانودبرکت ختمیدو وغیره،ددي اکثراولوی سبب دخلقوپه ډاګه ګناهونه اوسرکښی وی

فائده: حضرت شاه ولی الله (رح) په حجة الله البالغه کي فرمایی چي په دی دنیا کي دخیر او شر، مصیبت اوراحت ، دمشقت او آسانی دوه قسمه اسباب وی ، یو ظاهری او دوهم باطنی . ظاهری اسباب خو هغه مادی اسباب دی کوم چي دعامی دنیاپه نظرکي اسباب ګڼل کیږي اوباطنی اسباب انسانی عملونه او ددی په بناباندي دفرښتو امداد او نصرت یا دهغوی لعنت او نفرت دی ، لکه په دنیاکي چي دباران اسباب دفلسفیانو او تجربه کارو په نظر کي دسمندر څخه پورته کیدونکی بخارات (مون سون) اوبیا پورته هواته

رسيدل ، ددي منجمد كيدل ، بيا دلمر په شغلو ويلی كيدل او اوريدل دی . مگر دحديث په روايتونوكی يی دا شيان دفرښتو عمل ښودلی دی . په حقيقت كي په دی دوارو كي هيڅ تضاد نسته ، ديو شي اسباب ډېر هم كيدی سی . په دی وجه كيدی سي چي ښكاره اسباب يی دغه وي او باطنی اسباب يی دفرښتو تصرف وی ، چي دا دواړه قسمه اسباب جمع سي نو دباران اميد او دضرورت مطابق به وي او كوم ځای چي دا دواړه اسباب جمع نه وی ، هلته دباران په كيدو كي به اختلاف وی .

حضرت شاه صاحب (رح) فرمايی چي دغه ډول ددنيا دمصيبتونو او آفتونو څه اسباب طبعی مادی دی كوم چي نيك او بد نه پيژنی . اور دسوزلو دپاره دی هغه بغير دامتيازڅخه متقی اوفاجر تول سوزی ، بغيرددي څخه چي دڅه خاص فرمان په ذريعه دی ددي كار څخه منع سی ، لكه دنمرود اور دحضرت ابراهيم ﷺ دپاره برد او سلام جوړكړل سو ، اوبه دوزني شيانو دغرقولو دپاره دی ، هغه به همدا كار كوی . دغه ډول نور عناصر كوم چي دخاصو خاصو كارونو دپاره دی ، هغه په خپل سپارل سوی خدمت كي لگيدلی دی .

دا طبعی اسباب ديو انسان دپاره دراحت اوسهولت اسباب هم جوړوی او دچادپاره مصيبت او آفت هم جوړيږي . ددي ښكاره اسبابو په شان په مصيبتونو ، افتونو او راحت او سهولت كي اثر كوونكی د انسان خپل عملونه دخير او شرهم دی ، كله چي دواړه ښكاره او باطنی اسباب ديو فرد ياجماعت په راحت ، ارام او سهولت او خوش عيشی باندي جمع سي نو دی فرديا جماعت ته په دنيا كي عيش او راحت په مكمل طور سره حاصليدی سی ، چي هر سړی يی ليدی سی . ددي بالمقابل دكوم فرد ياجماعت دپاره چي مادی طبعی اسباب هم مصيبت اوتكليف راوړی او دده عملونه هم دمصيبت اوآفت مقتضی وی ، نودده مصيبت او آفت هم مكمل سي كوم چي عام ليدل كيږي . اوځينی وخت داسي هم كيدی سي چي مادی طبعی اسباب خو پر مصيبت او آفت جمع وی . مگر دده نيك عملونه په باطنی طور باندي دراحت اوسكون مقتضی وی ، په داسي صورت كي دا باطنی اسباب په دی ظاهری آفتونو ليری كولو ياكمولو كی لگول كيږي . دده عيش او راحت په مكمل طور سره مخ ته نه راځی . دغه ډول ځينی وختونه مادی اسباب دعيش او ارام مقتضی وی ، مگرباطنی اسباب يعنی دده دبدوعملونوپه وجه ددغوتقاضا دمصيبت او آفت را وستلو وي نوددی متضاد تقاضو په وجه نه عيش او راحت مكمل كيږي اونه ډېر زيات مصيبت اوافت دی گير وی .

دغه ډول ځينی وخت مادی اسباب طبعيه ديوی لوی درجی دنبی او رسول او ولی مقبول دپاره ناسازگار جوړ كړی ، دده د ازمائش او امتحان دپاره هم استعماليږي ، په دی تفصيل چي پوه سي نو دقرآن د آيتونو او احاديثو ديو بل سره تړاو او اتفاق واضح كيږي ، دتعارض او تضاد شبهي رفع كيدی سی . والله سبحانه وتعالی اعلم

(دمصيبتونو په وخت كي په ازمائش او امتحان ياسزا اوعذاب كي فرق)

دمصيبتونو اوآفتونوپه ذريعه چي كوموخلقوته د دوی دگناهونو څه سزا وركول كيږي او كومو نيكو خلقو ته چي د درجو لوړولو يادگناهونو دكفاری دپاره په طور د امتحان په مصيبتونو كي اخته كيږي ، دظاهری

صورت د ازمائش یو شان وی ، په دی دوارو کي فرق څنګه پېژندل کيږي ، ددي پېژندل حضرت شاه ولی الله رحمه الله داسي ليکلی دی چي کوم نيک خلق په طور دامتحان په مصيبتونوکی اخته کيږي ، الله ﷻ دهغوی زړونه مطمئن کوي اوهغوی په دی مصيبتونو اوآفتونو داسي راضی وي لکه ناجوړی چي په ترخو دوايانو يا اپريشن باندي سره دتکليف محسوسولو راضی وی ، بلکی ددي دپاره مال هم خرڅ کوی ، سفارشونه هم کوی ، په خلاف دهغو ګناهګارو کوم چي په طور دسزا اخته کول کيږي د دوی پريشانی او جزع فزع بی حده وی ، خينی وخت دناشکری بلکی کلمو دکفر ته نوبت رسيږي .

حکيم الامت تهانوی (رح) ددي يو شناخت دا ښودلی دی چي دکوم مصيبت سره انسان ته دالله ﷻ طرف ته توجه په خپلو ګناهونو دپوهيدو او دتوبی او استغفار رغبت زيات سی ، دغه علامه ددي ده چي داقهر نه دی بلکی مهربانی او عنايت دی او په کوم کي چي دا صورت نه وی ، بلکی جزع فزع او په ګناهونوکی نور زيات انهماك زيات سی ، دغه علامه دقهر الهی او عذاب دی . والله اعلم

وَمِنْ اٰيٰتِهٖٓ اَنْ يُّرْسِلَ الرِّيَاحَ مُبَشِّرٰتٍ وَّلِيُذِيْقَكُمْ مِّنْ رَّحْمَتِهٖ

اودهغه دنښانونو څخه يوه دا ده چي رالیږي هوا ګانی خو شخبری ورکوونکی او چی وڅکوی تاسی ته څه خوندونه

وَلِتَجْرِيَ الْفُلْكُ بِاَمْرِهٖ وَلِتَبْتَغُوْا مِنْ فَضْلِهٖ وَلَعَلَّكُمْ تَشْكُرُوْنَ ﴿۴۶﴾

دخپلی مهربانی اوچی وچلیږي کښتی دهغه په حکم سره اوچی تلاش کړی دهغه دفضل څخه اوچی تاسی حق ومنئ

وَلَقَدْ اَرْسَلْنَا مِنْ قَبْلِكَ رُسُلًا اِلٰى قَوْمِهِمْ فَجَآءُ ۱

او مونږ لیږلی دی خومره رسولان تا څخه مخکي خپل خپل قوم ته وروسته راغلل دوی ته

وْهُمْ بِالْبَيِّنٰتِ فَانْتَقَمْنَا مِنَ الَّذِيْنَ اَجْرَمُوْا ۭ وَكَانَ

په ښکاره نښانو سره بيا بدله واخيسته مونږ دهغو څخه چی ګناهګار وو

حَقًّا عَلَيْنَا نَصْرُ الْمُؤْمِنِيْنَ ﴿۴۷﴾ اَللّٰهُ الَّذِيْ يُرْسِلُ الرِّيٰحَ

او حق دی په مونږ مدد دايماندارو ، الله هغه دی چی رالیږی هواګانی

فَتُثِيْرُ سَحَابًا فَيَبْسُطُهٗ فِي السَّمَآءِ كَيْفَ يَشَآءُ وَيَجْعَلُهٗ كِسَفًا

بيا هغه پورته کوی وريځ پس خور وی يی په آسمان کی چی څنګه غواړی او ګرځوی دی لاندی باندی

فَتَرَى الْوَدْقَ يَخْرُجُ مِنْ خِلٰلِهٖ ۚ فَاِذَآ اَصَابَ بِهٖ مَنْ يَّشَآءُ

بیا ته وینی باران چې را ووزی ددې دمینځ ښخه بیا چې ورسوی دی لره چا ته چې یې غواړی

مِنْ عِبَادِهٖٓ اِذَا هُمْ يَسْتَبْشِرُوْنَ ﴿۴۸﴾ وَاِنْ كَانُوْا مِنْ قَبْلِ

دخپلو بندګانو ښخه نو هغه خوشحالیږي ، او وو دوی مخکې

اَنْ يُّنَزَّلَ عَلَيْهِمْ مِّنْ قَبْلِهٖ لَمُبْلِسِيْنَ ﴿۴۹﴾ فَانْظُرْ اِلٰٓى اٰثٰرِ رَحْمَتِ

دنازلیدو ددی ښخه په دوی باندی مخکې نا امیده ، پس ته وګوره داالله ﷻ دمهربانی

اللّٰهِ كَيْفَ يُحْيِ الْاَرْضَ بَعْدَ مَوْتِهَا ۭ اِنَّ ذٰلِكَ لَمُحْيِ الْمَوْتٰى ۚ

نښانو ته چې ښنګه ژوندی کوی مځکه ددې دمرګ ښخه وروسته ، بیشکه هغه دی دمړو ژوندی کوونکي

وَهُوَ عَلٰى كُلِّ شَيْءٍ قَدِيْرٌ ﴿۵۰﴾ وَلَىِٕنْ اَرْسَلْنَا رِيْحًا فَرَاَوْهُ مُصْفَرًّا

او هغه په هر څه باندی قادر دی ، او که ولیږو مونږ یوه هوا پس ووینی دوی فصل زیړ

لَّظَلُّوْا مِنْۢ بَعْدِهٖ يَكْفُرُوْنَ ﴿۵۱﴾ فَاِنَّكَ لَا تُسْمِعُ الْمَوْتٰى وَلَا تُسْمِعُ

نو سی وروسته ددې ښخه ناشکری کوونکی ، پس ته نه سی اوروِلی مړو ته او نه سی اوروِلی

الصُّمَّ الدُّعَآءَ اِذَا وَلَّوْا مُدْبِرِيْنَ ﴿۵۲﴾ وَمَآ اَنْتَ بِهٰدِ الْعُمْيِ عَنْ

ګنو ته اواز کله چې په شا وګرځی ، او نه ته لار ښودلای سی روندو ته ، د

ضَلٰلَتِهِمْ ۭ اِنْ تُسْمِعُ اِلَّا مَنْ يُّؤْمِنُ بِاٰيٰتِنَا فَهُمْ مُّسْلِمُوْنَ ﴿۵۳﴾ ع

دوی دبې لاری کیدو ښخه ، ته خو اوروِلای سی هغو ته چې یقین کوی زمونږ په خبرو پس دوی مسلمانانیږي .

لنډ تفسیر: او دالله ﷻ د (قدرت، یو والی او نعمت د) نښو ښخه یوه دا (هم) ده چې هغه (دباران ښخه مخکی) هواګانی رالیږي چې هغه (دباران) خوشخبری ورکوی (وروسته ددې رالیږل یو خو دزړه خوشحالولو دپاره وی) او (دارنګه په دی وجه) چې (ددی ښخه وروسته باران وي او) تاسی ته دخپل (دی) رحمت (باران) خوند

دروخکی (یعنی دباران فائدی درکړی) او (دارنګه ددي دپاره هوا رالیږي) چي (ددی په ذریعه بادبانی) کښتی دهغه په حکم سره وچلیږي اوچی (ددی هوا په ذریعه په واسطه دکښتی د دریاب دسفر څخه) تاسی دهغه رزق تلاش کوي (یعنی دکښتیو چلیدل او رزق تلاش کول دواړه دهوا دلیږلو څخه حاصلیږي اول بی دواسطی څخه او دوهم په واسطه دکښتی) او ددی دپاره چي تاسی شکر وکاږی او (پردی بالغو دلیلونو او فراخو نعمتونو هم دا مشرکان دالله ﷻ چي کومه ناشکری کوي (یعنی شرك اومخالفت درسول ﷺ او ازار مومنانو ته وغیره) نو ته په دی غمجن کیږه مه ځکه چي مونږ به ډیر ژر د دوی څخه بدله واخلو او په دی کي به دوی مغلوب او حق غالب کړو لکه چي مخکی هم ذکرسوي ده چنانچي) مونږ ستاڅخه مخکی ډیر پیغمبران د دوی قومونو ته لیږلی دی او هغوی هغوته دلیلونه (دحق دثبوت) راوړل (چي په هغه څینو ایمان راوړی اوځینو باندي رانه وړی) وروسته مونږ دهغو خلقو څخه بدله واخسته کومو چي جرمونه کول (اوهغه جرمونه حق درواغجن کول اومخالفت داهل حقودی اوپه دغه بدل اخستوکی مونږ هغوی مغلوب او ایماندار غالب کړل) او دایماندارو غالب کول (موافق دوعدی اوعادت) زمونږ پرذمه وو (دغه بدل اخستل دالله ﷻ عذاب وو ، اوپه دی کي دکفارو هلاکیدل مغلوب کیدل دی اودمسلمانانو خلاصیدل د دوی غالب کیدل دی ، مطلب دا چي دغه رنګه به ددي کفارو څخه بدله واخستل سی ، برابره خبره ده که په دنیاکي وي او برابره خبره ده که وروسته دمرګ څخه ، او دا مضمون دتسلی په طور دمعترضی جملی وو مخ ته دراليږلو دهواګانو ، دځینو په اجمال سره دذکرسوو نښو تفصیل دی چي) الله ﷻ داسي (قادرحکیم اومنعم) دی چي هغه هواګانی رالیږي بیاهغه (هواګانی) وریځی (کومی چي کله ددي هواګانو څخه مخکی بخارات پورته سوی وریځ ورڅخه جوړه سوی وي اوکله هغه بخارات په دی هواګانو سره لوړ سي وریځ ورڅخه جوړه سی ، بیادغه هواګانی وریځی د دوی دځای څخه یعنی داسمانی فضاء څخه یادمخکی څخه) پورته کوي بیاالله ﷻ دا (وریځی کله خو) څنګه چي غواړی په آسمان (یعنی اسمانی فضا) کي خپروی او (کله) دا ټکړی ټکړی کوي (دبسط مطلب دا دی چي جمع یی کړی ترلیری پوري یی خپروی او د ، کَیْفَ یَشَآءُ ، مطلب دا دی چي کله یې تر لرځای پوری ، کله تردیر لري پوری او دکسفا مطلب دا دی چي جمع کیږي نه جلا جلا وی) بیا (په دواړو حالتونو کی) تاسی باران وینی چي ددي (وریځی) دمینځ څخه راوزی (دجمع وریځی څخه وریدل خو ډیر دی او په ځینو موسمونو کی اکثره باران دجلاجلا وریځی څخه هم کیږي) بیاد (وریځی دراوتلو څخه وروسته) کله چي هغه (باران) په خپلو بندګانو کی چاته غواړی ورته یی رسوی ، نوبس هغوی خوشحالی کوي اوهغه خلق مخکی ددي څخه چي د دوی دخوشحاله کیدو څخه مخکی پردوی ووربږي (بالکل) ناامیده (کیدل) وو (یعنی اوس اوس ناامیده وه او اوس خوشحاله سول او داسي هم لیدل کیږي چي دانسان حالت په داسي وختونو کي ډیر ژر ژر بدلیږي) وروسته درحمت الهی (یعنی باران) نښی (خو) وګوری چي الله ﷻ (ددی په ذریعه) مځکه ددي دمره کیدو (یعنی وچیدو) څخه وروسته څنګه ژوندی

(یعنی تر او تازه) کوي (او دا خبره دنعمت او ددلیل دوحدت کیدو څخه علاوه ددې هم دلیل دی چې الله ﷻ
دمرګ څخه وروسته په دوباره ژوندی کولو پوره قدرت لري ، ددې څخه معلومیږي چې کوم خدای مړه
مځکه ژوندی کړه) هیڅ شك نسته چې هغه (خدای) دمړو ژوندی کوونکی دی (پس په عقلاً ممکن کیدو کی
دواړه برابر اوقدرت ذاتی ددواړو سره برابر او په مشاهده کې ددواړو کارونو یو ډول والی دا ټول شیان
ددې استبعاد دفع کوونکی دی چې دمرګ څخه وروسته به بیا څنګه ژوندی سی) اوهغه په هرشی قدرت
لرونکی دی (دا مضمون دژوندی کیدو دمړو په مناسبت دژوندی کیدو دمځکی جمله معترضه وه) او (مخ
ته بیا دباران اوهوا متعلق مضمون دی چې په دی کې دغافلانو دناشکری بیان دی یعنی غافلان داسې حق
ناشناسه اوناشکره دی چې د دومره لویو لویو نعمتونو څخه وروسته) که مونږ پردوی بل (قسم) هوا راولو
بیا (په دغه هوا سره) داخلق فصل (وچ او) ژړ ووینی (چې شینوالی اوتازه والی ورڅخه تللی وی) نو دوی به
ددې څخه وروسته ناشکری کوونکی سي (او تیر نعمتونه به ټول هیرکړی) وروسته (کله چې د دوی غفلت
او ناشکری کول په دی درجه کې دی ، نو ددی څخه دا هم ثابته سوه چې دوی بالکل بی حسه دی نو د دوی
په ایمان نه راوړو اوفکر اوتدبر نه کولو غم کول هم بی کاره دی څکه چې) ته یې مړوته (خو) نه سي اورولی
او کڼوته (هم) اوازنه سې اورولی (خصوصاً) کله چې شا کړی روان سي (چې بیا اشاره هم نه وینی) او (دغه
رنګه) ته (داسې) ړندو ته (کوم چې دلیدونکی تابعداری نه کوي) د دوی دبی لاری کیدو څخه نه سې پرلاره
کولای (یعنی هغوی خو دهغه چاپه شان دی چې حواس او ژوند یې بیکاره وی) ته خو یې بس هغو ته
اورولی سې کوم چې زمونږ په آیتونو یقین لري (او) بیا هغوی یې منی (هم، او کله چې داخلق دمړو، کڼو او
ړندو مشابه دی ، بیا د دوی څخه توقع دایمان مه ساته او غم یې هم مه کوه)

معلومات اومسئلې: فَانْتَقَمْنَا مِنَ الَّذِينَ أَجْرَمُوا وَكَانَ حَقًّا عَلَيْنَا نَصْرُ الْمُؤْمِنِينَ، مونږ دمجرمانو کافرانو څخه
بدله واخسته او زمونږ پرذمه وه چې مونږ دمومنانو مدد وکړو. ددې آیت څخه معلومه سوه چې دمومنانو
مدد کول الله ﷻ په خپل فضل سره پرخپله ذمه اخستی دی. ددې تقاضا په ښکاره دا وه چې مسلمانانو ته
دکافرانو په مقابله کې هیڅکله شکست نه وی. حال دا دی چې ډېر واقعات ددې خلاف هم سوی دی او
کیږي. ددې خواب په خپله په دی آیت کې موجود دی چې دمومنانو څخه مراد هغه مجاهدین فی سبیل الله
دی ، کوم چې خالص دالله ﷻ دلپاره دکفارو سره جنګ کوي دداسی خلقو بدل الله ﷻ دمجرمانو څخه اخلی
او دوی غالب کوی ، کوم ځای چې ددې خلاف څه صورت پیښ سی ، هلته په عام طور سره دمجاهدینو څه
خطا د دوی دشکست سبب جوړیږي ، لکه چې دغزوه احد متعلق په خپله په قرآنکریم کې دی . إِنَّمَا
اسْتَزَلَّهُمُ الشَّيْطَانُ بِبَعْضِ مَا كَسَبُوا، یعنی شیطان دی خلقو ته خطا ورکړه د دوی دځینو عملونو دغلطی په
سبب ، اوپه داسې حالاتوکې هم اخر الله ﷻ هغوی ته غلبه اوفتح ورکوی، هرکله چې دوی په خپله غلطی
پوه سې لکه چې د احد په غزا کې وسوه او کوم خلق چې محض خپل نوم مسلمان کښیږدی ، دالله ﷻ د

احکامو څخه دغفلت او سر کښنی عادت وي او دکفارو دغلبی په وخت کي هم دخپلو ګناهونو څخه توبه ګار نه سی ، هغوی په دی وعده کي شامل نه دی او هغوی دنصرت الهی مستحق نه وی . هسی الله ﷻ په خپل رحمت سره بغیر دځه استحقاق څخه هم نصرت او غلبه ورکوی ، ددي امید ساتل او دهغه څخه دعا غوښتل ، په هر حال کي فائده او فائده ده .

فَاِنَّكَ لَا تُسْمِعُ الْمَوْتٰى، ددي آیت مطلب دا دی چي ته مړو ته رږغ نه سي اورولی. پاته سوه دا معامله چي په مړو کي د اوریدو صلاحیت سته اوکه نه . او عام مړی دژوندو خبري اوری اوکه نه ؟ ددي مسئلی لنډ تحقیق په سورة نمل کي تیر سوی دی ، او مکمل تحقیق یی داحقر په مستقله رساله کي دی کومه چي په عربی کي ده او نوم یی ، تکمیل الحبور بسماع اهل القبور، دی اوکومه چي داحکام القرآن عربی دحزب خامس جزء سوی چهاپ سوي ده .

اَللّٰهُ الَّذِیْ خَلَقَكُمْ مِّنْ ضُعْفٍ ثُمَّ جَعَلَ مِنْۢ بَعْدِ ضُعْفٍ

الله هغه دی چي پیدا یی کړاست تاسی دکمزوری بیا یی درکی دکمزوری څخه وروسته

قُوَّةً ثُمَّ جَعَلَ مِنْۢ بَعْدِ قُوَّةٍ ضُعْفًا وَّشَیْبَةً ؕ یَخْلُقُ مَا یَشَآءُ ۚ

قوت بیا یی درکړه د قوت څخه وروسته کمزوری او زوړوالی پیدا کوی څه چي غواړی

وَهُوَ الْعَلِیْمُ الْقَدِیْرُ ۝۵۴ وَیَوْمَ تَقُوْمُ السَّاعَةُ یُقْسِمُ الْمُجْرِمُوْنَ ۙ۵

او هغه په هر څه پوه او قادر دی ، او په کومه ورځ چي قائم سی قیامت قسمونه به خوری مجرمان

مَا لَبِثُوْا غَیْرَ سَاعَةٍ ؕ كَذٰلِكَ كَانُوْا یُؤْفَكُوْنَ ۝۵۵ وَقَالَ الَّذِیْنَ

چي مونږ نه یُو پاته سوی دیوي ګړی څخه زیات دغه ډول وو چپه تلونکی ، او وبه وایی کومو ته چي

اُوْتُوا الْعِلْمَ وَالْاِیْمَانَ لَقَدْ لَبِثْتُمْ فِیْ كِتٰبِ اللّٰهِ اِلٰی یَوْمِ الْبَعْثِ ؗ

ورکړل سوی دی علم او یقین ستاسی په پاته کیدل وو دالله ﷻ په کتاب کی تر ورځی دپورته کیدو پوری

فَهٰذَا یَوْمُ الْبَعْثِ وَلٰكِنَّكُمْ كُنْتُمْ لَا تَعْلَمُوْنَ ۝۵۶ فَیَوْمَئِذٍ لَّا یَنْفَعُ

پس دا ده ورځ دپورته کیدو او لیکن تاسی واست نه پوهیدونکی ، په دغه ورځ به په کار را نه سی

الَّذِيْنَ ظَلَمُوْا مَعْذِرَتُهُمْ وَلَا هُمْ يُسْتَعْتَبُوْنَ ﴿۵۷﴾ وَلَقَدْ ضَرَبْنَا

ظالمانو ته د دوی عذرونه کول او نه به د دوی څخه طلب د ېخلا کولو وکړل سی ، او مونږ بیان کړي دي

لِلنَّاسِ فِيْ هٰذَا الْقُرْاٰنِ مِنْ كُلِّ مَثَلٍ ؕ وَلَئِنْ جِئْتَهُمْ بِاٰيَةٍ

دخلقو دپاره په دی قرآن کي هر قسم مثالونه ، او که ته راوړې دوی ته څه آیت

لَّيَقُوْلَنَّ الَّذِيْنَ كَفَرُوْۤا اِنْ اَنْتُمْ اِلَّا مُبْطِلُوْنَ ﴿۵۸﴾ كَذٰلِكَ يَطْبَعُ اللّٰهُ

نو خامخا به ووایی دغه منکران چې تاسی ټول دروغ جوړ وی ، دغه ډول مهر لګوی الله

عَلٰى قُلُوْبِ الَّذِيْنَ لَا يَعْلَمُوْنَ ﴿۵۹﴾ فَاصْبِرْ اِنَّ وَعْدَ اللّٰهِ حَقٌّ وَّ

دهغو په زړونو کوم چې نه پوهیږي ، پس ته صبر کوه بیشکه دالله ﷻ وعده حقه ده

لَا يَسْتَخِفَّنَّكَ الَّذِيْنَ لَا يُوْقِنُوْنَ ﴿۶۰﴾ ع

او خطادی نه کړی تا هغه خلق چې یقین نه کوی .

لنډ تفسیر: الله ﷻ داسي دی کوم چې تاسی دکمزوری په حالت کي پیدا کړاست (مراد ددي څخه ابتدایی حالت دکوچنی والی دی) بیاد (دی) کمزوری څخه وروسته یې توانایی (یعنی ځوانی) درکړه بیاد (دی) توانایی څخه وروسته یې کمزوری او بوداګان کړاست (او) هغه چې څه غواړی پیدا کوی او هغه (په هر یو تصرف) پوه (او ددي تصرف په نافذ کولو باندی) قدرت لرونکی دی (وروسته څوك چې داسي قادر دی ، هغه ته بیرته ژوندی کول څه مشکل وی ، دا خو بیان وو دبیا ژوندی کولو دامکان او (مخ ته ددی دواقع کیدو بیان دی یعنی) په کومه ورځ چې قیامت سی ، مجرمان (یعنی کافران خلق به (دهغه ځای دبیری او هیبت او پریشانی په لیدو دقیامت راتلل دهر ناخوښه وګنی) قسمونه به اخلی چې (قیامت دهر ژر راتلل او) دغه خلق (یعنی مونږ خلق په عالم برزخ کی) دیوه ساعت څخه زیات نه دی پاته سوی (یعنی کوم میعاد چې دقیامت دراتلو مقرر وو هغه هم پوره نه سو چې قیامت را ورسیدی ، لکه چې لیدل کیږي که دپانسی والا میعاد یوه میاشت مقرر کړل سي نو هرکله چې میاشت تیره سي نو ده ته داسي معلومیږي لکه چې ګویا میاشت نه ده تیره سوی او مصیبت ژر راغلی دحق تعالی ارشاد دی چې) دغه رنګه دا خلق (په دنیا کی) چپه چلیدل (یعنی لکه څنګه چې دلته په اخرت کي دقیامت مخکی دوخت څخه په راتلو قسمونه اخلی ، دغه

رنګه په دنیاکې دقیامت دوجود څخه منکره وه او په نه راتلو به یې قسمونه اخستل) اوګومو خلقو ته چې ایمان او علم ورکړل سوی دی (مراد ورڅخه اهل ایمان دی چې دشرعي خبرونو علم ورته حاصل دی) هغه (ددی مجرمانو په خواب کې) به وایي چې (تاسې په برزخ کي دمیعاد څخه کم خو نه یاست پاته سوی ستاسو دا دعوی غلطه ده بلکې) تاسې خود (میعاد) لیکل سوی دخدای ﷻ موافق دقیامت تر ورځې پورې واست، وروسته دقیامت ورځ دا ده (کوم میعاد چې مقرر وو په برزخ کي دپاته کیدو) او لیکن (وجه ددې خبرې چې قیامت دمیعاد څخه مخکې راتلونکی ګڼی دا ده چې) تاسې (په دنیا کي دقیامت په واقع کیدو) یقین (او عقیده) نه لرله (بلکې درواغجن کوې مو او انکار مو ورڅخه کوې ددې انکار په وبال کي نن دپریشانی سره مخامخ سواست ، په دی وجه وبیریداست او دا خیال مو وسو چې لاتراوسه میعاد نه دی پوره سوی اوکه تصدیق مو کړی وای او ایمان مو راوړی وای نو دا دقیامت واقع کیدل به مو ژر نه ګڼل ، بلکې دا به مو غوښتلې چې تردی هم ژر راسی څکه چې د انسان سره کله دراحت او ارام وعده وی ، نو په طبعي طور ددغه ژر راتلل غواړی او انتظار ورته ګران وي او موده ورته او ږده معلومیږي ، لکه په حدیث کي هم دی چې کافران په قبرکې وایی ، رَبِّ لاَ تُقِمِ السَّاعَةَ، او مومن وایی ، رَبِّ أَقِمِ السَّاعَةَ، او دمومنانو په دی خواب سره هم کوم چې دلته ذکر دی چې برزخ دوی دپرلیری ګڼی دا ورڅخه معلومیږي چې دوی مشتاق وه په دی وجه یی غوښتل چې ژر راسي) غرض په په دغه ورځ به دظالمانو (یعنی دکافرانو دپریشانی او مصیبت دا حال وي چې دوی) ته به د دوی (هیڅ قسم درواغ رښتني) عذر کول نفع ورنه کړي او نه به د دوی څخه دخدای دخفګان تدارک وغوښتل سي (یعنی ددي موقع به ورنه کړل سي چې توبه وکاږي خدای راضی کړي) اوموږ دخلقو د (هدایت د) پاره په دی قرآن کي (یعنی په ټول قرآن یا دده په دی خاص جزء یعنی دی سورة کې) هرقسم ښه (اوعجیبه) مضامین (ضروري) بیان کړی دی (کوم چې دخپل بلاغت اوکمال په وجه مقتضی ددي دی چې دی کافرانو ته هدایت وسی ، مګر دی خلقو ددیر عناد څخه دا قبول نه کي او نفع مند ورڅخه نه سوه) او (دقرآن څه تخصیص دی ، ددي خلقو عناد خو دومره زیات سوی دی چې) که چیری (دقرآن څخه علاوه دهغو معجزو څخه دکوموچې دوی په خپله فرمائش کوی) ته دوی ته څه نښه راوړی نو بیاهم دغه خلق کوم چې کافران دی دا به ووایي چې تاسي ټول (یعنی پیغمبر ﷺ او مومنان کوم چې دتشریعی اوتکوینی نښانو تصدیق کوی) خالص باطل خلق یاست (پر پیغبر یی دسحر تهمت ولګوی ، صاحبِ باطل یی ورته وویل او مسلمانانو ته یی دسحر په تصدیق کوونکو سره اهل باطل وویل ، او ددی خلقو ددي عناد په باره کي اصل خبره دا ده چې) کوم خلق (سره دپرله پسی نښو او دحق دلیلونو دښکاره کیدو) یقین نه کوي (اونه یی دحاصلولو کوشش کوی) الله ﷻ دهغوی پرزړونو باندې هم دغسی مهر لګوی (لکه چې دهغوی په زړونو باندي کیږي ، یعنی هره ورځ دحق قبلولو استعداد یی کمزوری کیږي اوختمیږي په دی وجه په حکم منلوکی ضعف او په عنادکی یی قوت زیاتیږي) وروسته (هر

کله چي دوی داسي عنادګردی نو د دوی په مخالفت او ازار رسولو او بدکلامی وغیره) ته صبر کوه ،
بیشکه د الله ﷻ وعده (چی په اخر کی به دوی ناکامه او اهل حق کامیاب وی) رښتنی ده (دا وعده به خامخا
واقع کیږي نو لږ ورځی صبر او تحمل کول دي) او دا بد یقینه خلق دی تا بی برداشته نه کی (یعنی د دوی
د طرف څخه برابره خبره ده که هر څنګه خبره چي پیښه سی ، مګر هسی نه چي ته یی برداشت ونه کړل سی)
معلومات اومسئلې: ددي سورة زیاته برخه دقیامت څخه دمنکرانو دشبهو دلیری کولو متعلق ده چی ددي
دپاره دالله ﷻ دمطلق اوکامل قدرت اوبالغ حکمت ډېری ښنبی ښودل سوی دی ، دغافل انسان دغفلت
څخه دبیدارولو اسباب یی بیان کړي دی ، په دی ذکر سوو اولنیو آیتونوکی په یو نوی انداز سره ددي
مضمون اثبات دی ، هغه دا چي انسان په خپل طبیعت سره تلواری واقع سوی دی او دمخ شیان چي وینی
نو دتیرو او دراتلونکو دهیرولو عادت دی او دده دا عادت دی په ډیرو هلاکوونکو غلطیانو کي اخته
کوی . څه وخت چي انسان ځوان سی ، دده قوت ښه په طاقت کي سی ، نو دی دخپل قوت په نشه کي څوك
هیڅ نه ګڼی ، په حدودو کي قائم اوسیدل ده ته ګران معلومیږي. ددي دخبرولو دپاره په دی آیت کي دقوت
او ضعف په اعتبار سره د انسان دوجود یوه مکمله خاکه مخکي سوي ده په دی کي یی ښوولی دی چي
دانسان ابتداء هم کمزوری ده او انتها هم . په مینځ کي دلږو ورځو دپاره ده ته یو قوت رسیږي ، دعقل
تقاضا دا ده چي ددي څو ورځو دقوت په زمانه کي دخپلي تیری کمزوری او راتلونکی کمزوری څخه غافله
نه سی ، بلکه دخپلي ددي کمزوری مختلفی درجی همیشه ځان ته په مخکی ساتی ، دکومو څخه په
تیریدو سره چي دی دی قوت او شباب ته رسیدلی دی .
خَلَقَكُمْ مِّنْ ضُعْفٍ، کي انسان ته دا سبق ورکړل سوی دی ، چي خپل اصل بنیاد ته وګوره څومره ضعیف
بلکی عین ضعف دی چي یوه قطره بی روحه ، بی شعوره ناپاکه ګنده شی دی ، دی ته فکر وکړه چي دچا
قدرت او حکمت دا ګنده قطره دپرم (کلکی) سوی وینی په صورت کي بیا دوینی په صورت کي بیا دوینی
څخه دغوښی په صورت کي بیاپه غوښه کي دننه دهډوکی پیوست کولو بدلون وکړه ؟ بیایی ددي
داندامونو او بندونو نازك مشینونه جوړکړل ، چي دا یو کوچنی وجود ګرځیدونکی کارخانه جوړه سوه چي
په سوونو عجیبه او نا اشنا خودکار مشینونه په کښی لګیدلی دی اوکه دزیات غور څخه کار واخلی نو دا
یوه کار خانه نه ده ، بلکی یو کوچنی دنیا ده چي دټول جهان نمونی ددي په وجود کي شاملی دی ، ددي
پیداکول او جوړول هم یوځای په یولوی ورکشاپ کي نه دی سوی ، بلکه دمور دنس دننه په دریو ۳ تیارو
کی سوی دی اونهه ۹ میاشتی په دغه تنګ اوتیاره ځای کي دمور په نس کي دننه دوینی اوګندګو څخه
خوراك ورکول کیدی لو دحضرت انسان وجود تیار سو.
ثُمَّ السَّبِيلَ يَسَّرَهُ، بیاالله ﷻ دده دظهور دپاره لار آسانه کړه ، دی دنیا ته راغی ، نو دده شان دا وو چی .
أَخْرَجَكُمْ مِنْ بُطُونِ أُمَّهَاتِكُمْ لَا تَعْلَمُونَ شَيْئًا، یعنی تاسی الله ﷻ دمور دنس څخه په داسي حالت کي را

ويستلاست چي تاسي په هيڅ نه پوهيداست . اوس قدرت دتعليم او تلقين سلسله شروع کړه ، دټولو څخه اول هنر يې دژړا وروښووی چي مور او پلار ورته متوجه سی ، دده لوږه تنده او هرتکليف ليری کول شروع کړی ، بيايې دشونډو او وريو ښورول او دمور دسينې څخه دشيدو را ايستلو هنر وروښووی ، په کوم سره چي دی خپل خوراك حاصل کړی ، دچا مجال وو چي دی ناپوه بچی ته يې دادواړه هنرونه ښوولی وای کوم چي دده موجوده ټول ضرورتونه پوره کوی ، بغير دهغه قدرت څخه کوم چي دده دپيدا کولو مالك دی . اوس ضعيف بچی دی که معمولي هوا باندي راځی نو مړاوی کيږي که معمولي ګرمی يايخ ورته رسيږي . نو ناجوړه کيږي نه خپل څه ضرورت غوښتی سی ، نه څه تکليف ليری کولای سی ، ددي ځای څخه تر خوانی پوري دده څينه په څينه منزلونو ته فکر وکړی نو دحق تعالی يو داسی عظيم شاهکار به مخ ته درته راسی چي عقل به ورته حيران سی .

ثُمَّ جَعَلَ مِنْ بَعْدِ ضَعْفٍ قُوَّةً " اوس دی دقوت منزل ته ورسيدی نو دمځکی او آسمان تنابونه يو ځای کول يی شروع کړل ، سپوږمی او مريخ ته رسی، غورځوی ، پروچه اولنده خپله قبضه راولی ، دخپل تير او راتلونکی وخت څخه غافله سو د، مَنْ اَشَدُّ مِنَّا قُوَّةً، (زمونږ څخه څوك زيات قوی کيدی سی) نعری يی شروع کړی . تردی چي ددي قوت په نشه کي يی خپل پيدا کوونکی هم هيرکی اودهغه داحکامو پيروی هم مګر قدرت حق دده دبيدارولو دپاره وفرمايل . ثُمَّ جَعَلَ مِنْ بَعْدِ قُوَّةٍ ضَعْفًا وَشَيْبَةً، چي غافله ښه پوه سه داقوت ستا ديو څو ورځو دی ، بيابه ددغه کمزوری طرف ته ځی او په دغه تدريج سره به کمزوری شروع کيږي چي اثر به يی ديو وخت څخه وروسته دوربينتانو دسپينوالی په صورت کي ښکاره سي او بيابه دټولو اندامونو او بندونو په شکل او شباهت کي بدلون راځی . ددنيادتاريخ اونور کتابونه يوازي نه بلکی په خپله په دی خپل وجودکی ليکل سوی دا پټ تحرير ووايه ، نو ددي يقين او اقرار څخه ماسوا به دی بله چاره نه وي چي . يَخْلُقُ مَا يَشَاءُ وَهُوَ الْعَلِيمُ الْقَدِيرُ، داټوله کارسازی دهغه رب العزت ده، کوم چي پيداکوی څه چي غواړی اوڅه رنګه چي يی غواړی اوپه علم کي هم دټولو څخه لوی دی او په قدرت کي هم . آيادي څخه وروسته هم په دی کي دڅه شك اوشبهی ګنجائش پاته سو، چي هغه کله غواړی مړی بيرته ژوندی کولای سي ؟

مځکي دقيامت څخه دمنکرانو دبی هوده خبرو اوجهالت بيان دی . وَيَوْمَ تَقُومُ السَّاعَةُ يُقْسِمُ الْمُجْرِمُونَ مَا لَبِثُوا غَيْرَ سَاعَةٍ، يعنی په کومه ورځ چي قيامت قائم سي نو دا دقيامت څخه منکر به ددغه وخت دهيبتناکو مناظرو څخه بی هوښه سي او دا قسمونه به اخلی چي زمونږ پاته کيدل څو ديوه ساعت څخه زيات نه دی سوی ، مراد ددي قيام څخه کيدی سي چي ددنيا قيام وی ، ځکه چي د دوی دنيا په ارام اوعيش سره تيره سوی وه اواوس سخت مصيبتونه مخ ته راغلل نولکه څنګه چي دانسان طبعی عادت دی چي دراحت زمانه ډيره لنډه ګڼی ، په دی وجه به قسمونه اخلی چي په دنيا کي څو زمونږ موده دقيام ډيره لنډه يوه ګنټه وه .

او دا هم احتمال دی چي ددي قيام څخه مراد دقبر او برزخ قيام وي او مطلب دا وی چي مونږ خوګنله چي په قبريعنی عالم برزخ کي به قيام ډېر اوږد وي اوقيامت به ډېره زمانه وروسته راځي، مګر معامله پرعکس سوه چي مونږ خو په برزخ کي لږ وخت پاته سو چي قيامت راغی او دا ژر راتلل به دوی ځکه محسوسوی، چي په قيامت کي د دوی دپاره دخوشحالي اوراحت څه شی خو نسته، تول مصيبت اومصيبت دی، او انساني فطرت دا دی چي دمصيبت راتلو په وخت کي دراحت تيره زمانه ډېره لنډه ګڼي او دکافرانو دپاره خو که څه هم په قبر او برزخ کي هم عذاب وی، مګر دقيامت دعذاب په مقابله کي به ورته هغه هم راحت محسوسيږي او دا زمانه به لنډه وګڼي اوقسمونه به اخلي چي په قبرکی خوزمونږقيام ډېرلنډ يوساعت وو.

(آياپه محشرکي به دالله ﷻ په مخکي څوک درواغ ويلي سي ؟)

ددي آيت څخه معلومه سوه چي په محشرکي به کفارقسمونه اخلي چي مونږ په دنيا کي بياپه قبرکي ديوه ساعت څخه زيات نه يوپاته سوی . دغه رنګه په يوبل آيت کي دمشرکانو دا قول ذکر دی چي دوی به قسمونه اخلي او وايي به چي مونږ مشرکان نه وو، وَاللّٰهِ رَبِّنَا مَاكُنَّا مُشْرِكِيْنَ، وجه دا ده چي په محشرکی به درب العٰلمين عدالت قائم سی، هغه به ټولو ته ازادی ورکړی چي څه غواړی بيان دی کړی که درواغ وايي او که رښتيا وايي، ځکه چي درب العزت ذاتی علم هم پوره په پوره دی او دعدالتی تحقيقاتو دپاره هغه د دوی داقرارکولو او نه کولو محتاج نه دی. کله چي انسان درواغ ووايي نو دده پرخُله به مهر ولګول سی او دده دلاسو پښو او څرمن او وريښتانو څخه به شاهدی واخستل سی هغه به رښتيا رښتيا ټول هرڅه بيان کړی او ددی څخه وروسته به دده هيڅ حجت پاته نه سي د. اَلْيَوْمَ نَخْتِمُ عَلٰی اَفْوَاهِهِمْ وَتُكَلِّمُنَا اَيْدِيْهِمْ الاٰية، دا مطلب دی، او دقرآن کريم دنورو آيتونو څخه معلوميږي چي په محشرکي به مختلف مواقف وی، ډېر موقف حالات به جلا جلاوی، يو موقف به هم هغه وي په کوم کي چي به بغير دخدای ﷻ داذن څخه دچا دخبرو کولو طاقت نه وي او هغه به صرف رښتني او صحيح خبره کولای سی، په درواغو به يی قدرت نه وی، لکه چي ارشاد دی· لَايَتَكَلَّمُوْنَ اِلَّا مَنْ اَذِنَ لَهُ الرَّحْمٰنُ وَقَالَ صَوَابًا.


(په قبرکي به هيڅوک درواغ نه سي ويلای)

ددي برخلاف دقبر په سوال اوجواب کي په صحيح احاديثو کي ذکر دی چي هرکله دکافر څخه پوښتنه وسی چي ستارب څوك دی ؟ او محمد ﷺ څوك دی ؟ نو هغه به ووايي چي، هاه هاه لا ادری، يعنی های های زه هيڅ نه پيژنم، که هلته د درواغو ويلو اختيار وای نو څه مشکله وه، ويل به يی چي زمارب الله دی او محمد ﷺ دالله رسول دی، نو دا يوه عجيبه خبره ده چي کافران خلق د الله ﷻ په مخکی خوپه درواغو ويلو به قادر وي او دفرښتو په مخکی به درواغ نه سي ويلای، مګر چي غور وسی نو څه دتعجب خبره نه ده وجه دا ده چي ملائکي نه خو عالم الغيب دی، نه دوی ته دا اختيار سته چي دلاسو اوپښو شاهدی واخلي حجت باندي تمام کړی، که د دوی په مخکی د درواغو ويلو اختيار وای، نو ټول کافران فاجران به

دعذاب دقبرڅخه بی فکره وای په خلاف دالله ﷻ څخه ، چي هغه دزړونو دحال څخه هم خبر دی او
داندامونو او بندونو په شاهدی سره دده د درواغو په ښکاره کولو هم قادر دی په دی وجه په محشرکي دا
ازادی ورکول په عدالتی انصاف کي څه خلل نه سي پیدا کولای . والله اعلم .

سورة روم ختم سو

والحمد لله رب العالمين



﴿ سورة لقمان ﴾

سُوْرَةُ لُقْمٰنَ مَكِّيَّةٌ وَّهِيَ اَرْبَعٌ وَّثَلٰثُوْنَ اٰيَةً وَّاَرْبَعُ رُكُوْعَاتٍ

سورة لقمان په مکه کي نازل سو په دی کی څلور دیرش (۳۴) ایاتونه اوڅلور رکوع (۴) ګانی دی

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

شروع کوم دالله په نامه سره چی بی حده مهربان نهایت رحم والا دی

الٓمّٓ ﴿۱﴾ تِلْكَ اٰيٰتُ الْكِتٰبِ الْحَكِيْمِ ﴿۲﴾ هُدًى وَّرَحْمَةً لِّلْمُحْسِنِيْنَ ﴿۳﴾

دا آیا تونه دی دکتاب محکم ، هدایت دی اومهربانی ده دنیکی کوونکو دپاره

الَّذِيْنَ يُقِيْمُوْنَ الصَّلٰوةَ وَيُؤْتُوْنَ الزَّكٰوةَ وَهُمْ بِالْاٰخِرَةِ

کوم چی قائم ساتی لمونځ او ورکوی زکوة اودغه دی چی په آخرت

هُمْ يُوْقِنُوْنَ ﴿۴﴾ اُولٰٓئِكَ عَلٰى هُدًى مِّنْ رَّبِّهِمْ وَاُولٰٓئِكَ هُمُ

دهغو یقین دی ، دغو بیا پیدا کړه لار دخپل رب دطرف څخه اودغه خلق مراد نه

الْمُفْلِحُونَ ۝٥ وَمِنَ النَّاسِ مَنْ يَشْتَرِي لَهْوَ الْحَدِيثِ لِيُضِلَّ

ورسیدل ، او یو هغه خلق دی چې اخیستونکی دی دلوبو دخبرو چې بې لاری کړی

عَنْ سَبِيلِ اللَّهِ بِغَيْرِ عِلْمٍ ۖ وَيَتَّخِذَهَا هُزُوًا ۚ أُولَٰئِكَ لَهُمْ

دالله ﷻ دلاری څخه په بې علمی سره ، او جوړه کړی دغه خندا دغه دی چې دغو لره

عَذَابٌ مُهِينٌ ۝٦ وَإِذَا تُتْلَىٰ عَلَيْهِ آيَاتُنَا وَلَّىٰ مُسْتَكْبِرًا كَأَنْ

د ذلت عذاب دی ، او کله چې وایی دغو ته زمونږ آیاتونه شاکړی په غرور سره ګویا چې ده

لَمْ يَسْمَعْهَا كَأَنَّ فِي أُذُنَيْهِ وَقْرًا ۖ فَبَشِّرْهُ بِعَذَابٍ أَلِيمٍ ۝٧

ګرسره اوریدلی نه دی ، ګویا چې دده دواړه غوږونه کانه دی ، نو خوشخبری ورکړه ده ته د دردناک عذاب

إِنَّ الَّذِينَ آمَنُوا وَعَمِلُوا الصَّالِحَاتِ لَهُمْ جَنَّاتُ النَّعِيمِ ۝٨ خَالِدِينَ

کوم خلق چې یقین وکی او وکړئ ښه کارونه دهغوی دپاره دی دنعمت باغونه ، همیشه به وی

فِيهَا ۖ وَعْدَ اللَّهِ حَقًّا ۚ وَهُوَ الْعَزِيزُ الْحَكِيمُ ۝٩

په دی کی وعده سوی ده دالله ﷻ رښتنی ، او هغه زبردست دی حکمتونو والا .

لنډ تفسیر: الٓمٓ (ددی معنی خاص الله ﷻ ته معلومه ده) دا (کوم چې په دی سورة یاقرآن کې ذکردی) آیتونه دی دیوکتاب چې دحکمت څخه ډك دی (یعنی قرآن) کوم چې (د) هدایت اورحمت (سبب) دی ، دنیکانو دپاره کوم چې دلمانځه پابندی کوي او زکوٰة ادا کوی او دغه خلق په اخرت پوره یقین کوي (وروسته) دا خلق (په دی قرآن داعتقاد اوعمل په وجه) دخپل رب پرسیده لاره باندي دی او دا خلق (ددی هدایت په وجه) مراد پیدا کونکی دی (نو قرآن په دی شان دهغوی دپاره دهدایت او رحمت سبب سو چې اثر یی مراد پیدا کول دی ، وروسته ځینی خلق خو داسی دی لکه چې بیان یی وسو) او (د دوی برخلاف) ځینی خلق داسي (هم) دی کوم چې (دقرآن څخه منع کوی) دهغو خبرو اخستونکی جوړیږي (یعنی داسي خبري اختیار وی) کومی چې (دالله ﷻ څخه) غافله کوونکی دی (وروسته اول خو دعبثو اختیارول ، هرکله چې ددي سره دالله ﷻ د آیتونو څخه منع کول هم وی ، په خپله کفر او ګمراهی ده ، بیا خصوصاً چې دا په دی غرض سره

اختيارسي) چي (ددی په ذريعه نور هم) دالله ﷻ دلاری څخه (يعنی دحق دين څخه) بی دپوهی څخه گمراه
کړی او (ددی گمراه کولو سره) پردی (حقی لاری) پوري خندا وکړی (چی دنورو خلقو دزړونو څخه بالکل
ددي وقعت اوتاثير ووزی ، نو بيا خو کفر پرکفر او گمراهی پرگمراهی هم ده او) دداسی خلقو دپاره (په
اخرت کی) دذلت عذاب (کيدونکی) دی (لکه چي د دوی دمخالفو دپاره دفلاح کيدل معلوم سوه) او (ددی
ذکرسوی سړی دمنعی کولو دا حالت دی چی) کله دده په مخکی زمونږ ايتونه وويل سي نو دا سړی تکبر
کوونکی (داسی په بی التفاتی سره) مخ اړوی ، لکه چي ده گر سره اوريدلی نه دی لکه چي دده په غوږونو
کی بار دی (يعنی لکه چي کوڼ دی) وروسته ده (سړی) ته ديو دردناك عذاب خبر واوروه (دا خو داعراض
کوونکی دسزا بيان سو . مخ ته دهدايت پيدا کوونکو دجزا بيان دی ، کوم چي دوعده سوی فلاح تفصيل
دی يعنی) خامخا کومو خلقو چی ايمان راوړی او هغوی نيك کار وکی ، دهغوی دپاره دعيش جنتونه دی
په کومو کی چي به هغوی همیشه اوسيږي ، داالله ﷻ رښتينی وعده فرمايلي ده اوهغه زبردست حکمت والا
دی (پس په کمال قدرت سره وعده اووعده واقع کيږي او په حکمت سره به دا دوعدی موافق واقع کړی)

معلومات اومسئلي: يُؤْتُونَ الزَّكٰوةَ، په دی آيت کي دزکوٰة حکم دی حال دا دی چي داآيت مکی دی . ددي څخه
معلومه سوه چي دزکوٰة اصل حکم په مکه معظمه کي دهجرت څخه مخکی راغلی وو او دا چي کومه
مشهوره ده چي دزکوٰة حکم دهجرت په دوهم کال نافذ سو ، ددي څخه مراد دنصابونو تقرر او دواجب
مقدار تفصيلات او داسلامی حکومت دطرف څخه ددي دوصولولو او په مصرف کي دخرڅ کولو انتظام
دی ، دا دهجرت په دوهم کال کي سوی دی .

ابن کثير دسورة مزمل دايت : اَقِيْمُوا الصَّلٰوةَ وَاٰتُوا الزَّكٰوةَ، لاندي دا تفصيل فرمايلي دی ، څکه چي سورة
مزمل خو په مکی سورتونو کي بالکل دقرآن کريم دابتدايی نزول په زمانه کي نازل سوی دی ، ددي څخه
معلوميږي چي څنگه دقرآن کريم په آيتونو کي اکثره لمونځ او زکوٰة يو دبل سره سره بيان سوی دی ، ددي
فرضيت هم يوځای سوی دی . والله اعلم

وَمِنَ النَّاسِ مَنْ يَّشْتَرِیْ لَهْوَ الْحَدِيْثِ · دلفظ داشتراء لغوی معنٰی داخستلو ده اوځينی وخت ديو کار پرځای
دبل کار داختيارولو دپاره هم لفظ داشتراء استعماليږي ، لکه . الَّذِيْنَ اشْتَرَوُا الضَّلٰلَةَ بِالْهُدٰى، وغيره ايتونو
څخه په قرآن کي دا معنٰی د اشتراء مراد ده .

ددی آيت شان نزول يوه خاص واقعه ده چي نضر بن حارث دمکی په مشرکانو کي يو لوی تاجر وو او
دتجارت دپاره به يی دمختلفو ملکونو سفر کوی . ده به دفارس دملك څخه دعجمو دباچاهانو کسری
وغيره تاريخی قصی اخستی او راوړی به يی اودمکی مشرکانو ته به يی ويل چي محمد (ﷺ) تاسی ته
دعاديانو او دثموديانو قصی اوروی ، زه به تاسی ته ددي څخه ښه درستم اسفند ار او دفارس دنورو
باچاهانو قصی اوروم ، دغو خلقو دده دقصو اوريدل په شوق اورغبت سره اوريدل شروع کړل ، څکه چي

په هغوی کي څه تعلیم خو وو نه چي دعمل کولو محنت باندي اوسی ، صرف خوندوري قصی وی ، ددي په وجه سره ډېر مشرکان کوم چي ددي څخه مخکی دکلام الهي داعجاز اوبی مثلی په وجه ددي داوریدو رغبت درلودی او په پټه به یی اوریدی هم . دی خلقو ته دقرآن څخه دمنعی کولو بهانه په لاس ورغله ، (ذکره فی الروح عن اسباب النزول للواحدی ومقاتل وذکر نحوه فی الدر المنثور بروایة البیهقی).

او په درمنثور کي دحضرت ابن عباس ﷺ څخه روایت دی چي دی ذکرسوی تاجر دبهر څخه یوه مینځه سندر غاړی اخستی او را وستلی وه او ددی په ذریعه ده خلق دقرآن د اوریدو څخه دمنع کولو دا صورت جوړکی چي کومو خلقو به دقرآن اوریدو اراده وکړه ده به په دی خپله مینځه باندي هغوی ته سندری اوریدی او ویل به یی چي لمونځ کوی ، روژه نیسی اوخانونه قربانوی چي په دی کي سرار تکلیف دی ، راسی زه تاسی ته سندری اورم اوجشن اوخوشحالی کوی .

دقرآن کریم ذکرسوی آیت په دی واقعه کي نازل سو او په دی کي د ، اِشْتِرَاءِ لَهْوَالْحَدِيْث، څخه دغه دعجمو دباچاهانو قصی یادغه مینځه سندر غاړی مراده ده . دواقعی دنزول په اعتبار سره لفظ داشتراء په خپله حقیقی معنٰی کي داخستلو دپاره استعمال سوی دی .

اودلَهْوَا الْحَدِيْثِ چي کومه عامه معنٰی مخکی بیانیږي . ددي په اعتبارسره لفظ داشتراء هم دلته عام دی ، یعنی دیوکار په بدله کي بل اختیارول په دی کي داسباب دلهو اخستل هم داخل دی .

او په لهو الحدیث کي لفظ دحدیث خو دخبرو اوقصو په معنٰی کي دی او دلهو لفظی معنٰی په غفلت کي دپریوتلو ده . کوم شیان چي انسان دضروري کارونو څخه په غفلت کي اچوی ، هغوته لهو وایی اوځینی وخت داسي کارونو ته هم لهو وایی دکومو چي څه معتدبه فائده نه وي محض دوخت تیرولو مشغله یادزړه خوشحالولو سامان وی .

په ذکرسوی آیت کي دلهو الحدیث په معنٰی او تفسیرکي دمفسرینو اقوال مختلف دی دحضرت ابن مسعود ﷺ او ابن عباس ﷺ اوجابرﷺ په یو روایت کي ددي تفسیر په گانو اوغزلو یعنی سندرو او سرودنو سره سوی دی (روایت کړی دی او صحیح کړی یی دی بیهقی په شعب وغیره کي)

او دجمهورو صحابه او تابعین او دعامو مفسرینو په نزد لهوالحدیث عام دی هغو ټولو شیانو ته کوم چي انسان دالله ﷻ دعبادت اویادو څخه په غفلت کي اچوی په دی کي سرودونه اوسندری هم داخلی دی اوبی کاره قصی هم ، امام بخاری (رح) په خپل کتاب ادب المفرد کي بیهقی په خپل سنن کي دلهو الحدیث دا تفسیر اختیار کړی دی په دی کي فرمایی چي، لَهْوَ الْحَدِيْثِ هُوَ الْغِنَآءُ وَاَشْبَاهُهٗ، یعنی دلهوالحدیث څخه مراد سروزونه او ددي په شان نور شیان دی (یعنی کوم چي دالله ﷻ دعبادت څخه غافله کول کوی) او په سنن بیهقی کي دی چي داشتراء لهو الحدیث څخه مراد دسروز گر سړی یاښځی اخستل دی یاددی په مثال داسي بی کاره شیان اخستل دی کوم چي دالله ﷻ دیادوڅخه غافله کول کوی ، ابن جریر (رح) هم داعامه معنی اختیار کړي ده (روح ملخصًا) او دترمذی دروایت څخه هم داعموم ثابتیږي ، په کوم کي چي دنبی

کريم ﷺ دا ارشاد دی چي دسروزګرو مينځو تجارت مه کوي اوبيا فرمايي ، وَفِيْ مِثْلِ هٰذَا اُنْزِلَتْ هٰذِهِ الْاٰيَةُ وَمِنَ النَّاسِ مَنْ يَّشْتَرِيْ الخ

(لهو لعب او ددی دسامان شرعي احکام)

ددي احکامو پوره تفصيل دقرآن او سنت په دليلونو سره داحقر په مستقله رساله، السعي الحثيث في تفسير لهوالحديث ، کي ذکردی ، چي په هغه کي پرسرودونو سازونو هم په تفصيل سره خبره دقرآن او دحديث څخه ، بيا دامت دفقهاؤ اودصوفياء کرامو داقوالوڅخه ذکرده، دا رساله په عربي ژبه داحکام القرآن په حزب خامس کي شائع سوي ده ، عالمان يې مطالعه کولای سي ، دعوامو دپاره يې خلاصه دلته نقل کيږي.

اوله خبره دسوچ قابله دا ده چي قرآنکريم په څومره ځايونو کي چي دلهولعب ذکرکړی دی ، هغه ناکاره او بد ځايونه دی چي ادنی درجه يې کراهيت دی «روح المعانی وکشاف» اوپه ذکرسوی آيت کي دلهو مذمت بالکل واضح دی ، او ښکاره دی .

او په مستدرك دحاکم کتاب الجهاد کي دحضرت ابوهريره ﷺ څخه روايت دی چي نبی کريم ﷺ فرمايلي دی

كُلُّ شَيْءٍ مِّنْ لَّهْوِ الدُّنْيَا بَاطِلٌ إِلَّا ثَلَاثَةً اِنْتِضَالُكَ بِقَوْسِكَ، وَتَأْدِيْبُكَ لِفَرَسِكَ، وَمُلَاعَبَتُكَ لِأَهْلِكَ، فَإِنَّهُنَّ مِنَ الْحَقِّ،

يعنی ددنيا ټولی لهو «لوبی» باطلی دی مګر دری شيان يو دغشو او ليندیو لوبی دوهم خپل آس ته دښودنه کولو دريم دخپلي بی بی سره لوبی کول .

«حاکم دی حديث ته صحيح په شرط دمسلم ويلی دی ، مګر ذهبی وغيره ددي دسند متصل کيدل نه دی منلی ، بلکی حديث ته يی مرسل ويلی دی ، مګر دجمهورو محدثينو په نزد مرسل حديث هم حجت دی»

په دی حديث کي هره لهوه باطله مقرره سوي ده اوکوم دری شيان چي يی ورڅخه مستثنی کړي دی ، په حقيقت کي هغه په لهوه کي دا خل نه دی ، ځکه چي لهوه خو هغه کار ته ويل کيږي ، په کوم کي چي نه دينی او دنيوی معتدبه فائده نه وي او دا دری شيان مفيد کارونه دی ، دکومو سره چي ډيری دينی او دنيوی فائدی تړل سوی دی ، غشی ويشتل او آس ته پوهه ورکول خو دجهاد په تياری کي دا خل دی او دښځی سره لوبی کول دتوالد او تناسل مقصد پوره کول دی ، دی ته يی صرف دصورت اوښکاره په اعتبار سره لهو ويلی دی ، دا دحقيقت په اعتبار سره په لهوکی دا خل نه دی ، دغه رنګه ددي دری شيانو څخه علاوه نور هم ډير داسی کارونه دی دکومو سره چي دينی يادنيوی فائدی متعلق دی او دصورت په اعتبار سره هغه لهو «لوبی» ګڼل کيږي ، هغه هم په نورو روايتونو دحديث کي جائز بلکی ځينی يی مستحسن مقرر کړی دی چي تفصيل به يی مخ ته راسي .

لنډه دا چي کوم کار په حقيقت کي لهو وی ، يعنی نه په کښی څه دينی فائده وي نه دنيوی ، هغه ټولی بدی اومکروه خوځامخادی، بياپه دی کي تفصيل دی ځينی دکفرحدته رسيږي، ځينی واضح حرامی دی او د کموڅخه کمه درجه په کښی مکروه تنزيهی يعنی خلاف اولی دی ، دکومو څخه چي يوه لهوه کومه چي به

حقیقت کي لهووی، مستثنی نه ده. لکه په یو حدیث کي په خپله ددي توضیح موجود دی، په ابوداود ترمذی، نسایي او ابن ماجه کي دحضرت عقبه بن عامر رضی الله عنه په روایت په کتاب الجهاد کي دی چي الفاظ یي دا دی.

لَيْسَ مِنَ اللَّهْوِ ثَلَاثٌ تَأْدِيبُ الرَّجُلِ فَرَسَهُ وَمُلَاعَبَتُهُ أَهْلَهُ وَرَمْيُهُ بِقَوْسِهِ وَنَبْلِهِ (نصب الرایه ص ۲۷۳ ج۴)

دی حدیث په خپله دا وضاحت وکی چي دا دری شیان کوم چي مستثنی سوی دی. په حقیقت کي دا په لهو کي دا خل نه دی او کوم چي په حقیقت کي لهو دی هغه باطل او مذموم دی، مخ ته دهغو دمذموم والی مختلفی درجی دی.

(۱) کومی لوبی چي ددین څخه دګمراه کولو یا نوروته دګمراه کولو ذریعه جوړیږي هغه کفر دی. لکه چي په ذکرسوی آیت. وَمِنَ النَّاسِ مَنْ يَشْتَرِي لَهْوَ الْحَدِيثِ. کي ددي کفروالی اوګمراه والی بیان سوی دی او ددی سزایی سپکوونکی عذاب مقرر کړی دی کوم چي دکفارو سزا ده، ځکه چي دا آیت دنضربن حارث په کومه واقعه کي چي نازل سوی دی، په دی کي دغه لهوه ده داسلام خلاف دخلقو دګمراه کولو دپاره استعمال کړی وه. په دی وجه دا لهوه دحرامیدو سره کفر ته ورسیده.

(۲) دوهم صورت دا دی چي یوه لهوه خلق داسلامی عقیدو څخه خو نه ګمراه کوی، مګر دوی په څه حرام اومعصیت کي اخته کوی، دا کفرخو نه دی مګرحرام اوسخته ګناه ده، لکه هغه ټولی لوبی په کوموکي چي دځمار او ګټلو یا بایللو معامله وي یاکومی چي انسان دفرضو لمونځ روژی وغیره ادا کولو څخه منع کوی.

(فحش او فضول ناولي یافحش اشعار او دباطلو خلقو کتابونه کتل هم ناجائز دی)

په دی زمانه کي دهرځوانان فحش ناولی یادجرائم پیشه خلقو پرحالاتو مشتملی قصی یادفحش اشعارو دکتلو عادت دی. دا ټول شیان په دی قسم حرامو لهو کی دا خل دی، دغه ډول دګمراه اوباطلو خلقو دخیالاتو مطالعه هم دعوامو دپاره دګمراهی دسبب کیدو په وجه ناجائز دی که راسخ العلم علماء یی د دوی دجواب دپاره ګوری نو هیڅ باك نسته.

(۳) او په کومو لوبو کی چي نه کفر وي نه څه ښکاره معصیت هغه مکروه دی چي په یو بی فائدی کارکي خپل طاقت اوتوانایی ضائع کول دی.

(دلوبو داسبابو اخستل او خرڅول)

د ذکرسوی تفصیل څخه دلوبو داسبابو داخستلو خرڅولو حکم هم معلوم سو، چي کوم اسباب دکفر ګمراهی یاحرام او معصیت په لوبو کي استعمالیږي، دهغه تجارت او اخستل خرڅول هم حرام دی او کوم چي په مکروه لهو کي استعمالیږي دهغه تجارت هم مکروه دی او کوم اسباب چي په جائز اومستثنی لوبو کي استعمالیږي دهغه تجارت هم جائز دی او کوم اسباب چي په جائز اوناجائز دواړو قسمونو کارونو کي استعمالیږي دهغه تجارت جائز دی.

(مباح او جائزه لوبه)

دلته دا خبره په تفصیل سره راغلی ده چي مذموم او ممنوع هغه لهو او لوبه ده په کومه کي چي څه دینی او

دنیوي فائده نه وي، کومه لوبه چي دبدن دورزش، صحت اوتندرستی قائم ساتلو دپاره یادځه بل دیني او دنیوي ضرورت دپاره یاکم از کم دطبیعت دمه کولو دپاره وي اوغلو په کښي ونه کړل سي، چي مشغله یې جوړه کړي او په ضروري کارونو کي ورځخه حرج جوړسي نوداسي لوبه شرعًا مباح اوکه ددیني ضرورت په نیت سره وي نو ثواب هم دی.

په ذکرسوي حدیث کي دری لوبی دممانعت ځخه مستثنٰی کول لوړ تیری سوي دي، تیر اندازي، داس سپرلي، دخپلي بي بي سره لوبي کول او دحضرت ابن عباس ځخه په یو مرفوع حدیث کي دي. خَیْرُ لَهْوِ الْمُؤْمِنِ السِّبَاحَةُ وَخَیْرُ لَهْوِ الْمَرْاَةِ الْمِغْزَلُ، (جامع صغیر برمز ابن عدی باسناد ضعیف) یعني دمومن ښه لوبه لامبو وهل دي او دښځي ښه لوبه څرخه ده.

په صحیح مسلم اومسند احمد کي دحضرت سلمه ابن اکوع ﷺ ځخه روایت دی چي دمدیني په انصارو کي یو صاحب په منډه کي لوی ماهر وو، ځوك به ورځخه نسوای مخ ته کیدلی. ده یوه ورځ اعلان وکی چي ځوك دی چي زماسره په منډه کي مقابله وکړي؟ مادنبي کریم ﷺ ځخه اجازه وغوښتله چي زه ورسره مقابله کوم حضور ﷺ اجازه را کړه نو زه مقابلي ته ورواندی سوم ددي ځخه معلومه سوه چي دپیاده مندی مشق کول هم جائز دي.

یو مشهور پهلوان رکانه نبي کریم ﷺ ته دکشتي کولو (غیږ ایستلو) وراندیز وکی نو حضور ﷺ هغه پهلوان (رکانه) په غیږ کي راغوځار کی. (ابوداود فی المراسیل)

دحبشي ځه ځوانان په مدینه طیبه کي دسپاه ګیری دفن دمشق کولو دپاره په نیزو وغیره سره لوبیدل، نبي کریم ﷺ حضرت عائشه رضی الله عنها خپلي شاته ودروله او د دوی لوبه یي ورته ښودله اوهغو خلقو ته یي وفرمایل چي، اُلْهُوْا وَالْعَبُوْا، یعني لوبي کوي (رواه البیهقي فی الشعب کذافی کنز من باب اللهو) او په ځینو روایتونو کي ددي سره دا الفاظ هم راغلي دي. فَاِنِّیْ اَکْرَهُ اَنْ یُّرٰی فِیْ دِیْنِکُمْ غِلْظَةٌ، یعني زه دا نه خوښوم چي ستاسو په دین کي خشکي او سختوالي ولیدل سي.

دغه ډول دځینو صحابه کرامو ځخه نقل دي چي کله به هغوی دقرآن او حدیث په شغل کي ستړي سول نو ځیني وخت به یي دعربو په اشعارو یا تاریخي واقعاتو سره زړه مشغولوی. (ذکره عن ابن عباس ﷺ فی کف الرعاع)

او په یو حدیث کي ارشاد دی: رَوِّحُوا الْقُلُوْبَ سَاعَةً فَسَاعَةً، (اخرجه ابوداود فی مراسیله عن ابن شهاب مرسلاً) یعني تاسي خپل زړونو ته کله کله ارام ورکوی، ددي ځخه دزړه او دماغ دتفریح او ددی دپاره ځه وخت ابستلو جواز معلوم او ثابت سو.

شرط په دی تولوشیانو کی دادی چي نیت ددي صحیح مقصدونه وی کوم چي په دی لوبو کي پیداکیدی سی دلوبو ځخه لوبي مقصدنه وي اوهغه هم په قدرد ضرورت وی په دی کي زیاتوالی اوغلونه وي اووجه ددي تولو لوبو دجواز داده چي په حقیقت کي کله چي دا په خپل حد کي دننه وي، نودلهو په تعریف کي داخلي نه دي.

(ځيني لوبې کومې چې په صراحت سره ممنوع سوې دي)

ددې سره ځينې لوبې داسې هم دي کومې چې نبي کريم ﷺ په خاص طور سره منع فرمايلې دي، که څه هم په دې کې څه فائدې هم وښودل سي، لکه شطرنج، چوسر (دنردشير لوبه) وغيره که د دوی سره دګټې اوبايللو او مال معامله وي نو دا څُمار او قطعي حرام دي ، اوکه دا نه وي ، محض دزړه خوشحالولو دپاره لوبه کوی ، نو بيا هم په حديث کې يې ددې څخه منع فرمايلې ده ، په صحيح مسلم کې دحضرت بريده ﷺ روايت دی چې نبي کريم ﷺ فرمايي چې کوم سړی دنرد شير يعنې چوسر لوبه کوي هغه داسې دی لکه چې دی خپل لاسونه دخنزير په وينو کې رنګ کوی ، دغه رنګه په يو روايت کې دشطرنج دلوبې په کوونکی دلعنت الفاظ راغلي دي (عقيلي في الضعفاء عن ابي هريرة ﷺ كذا في نصب الرايه)

دغه رنګه کبوتربازی نبي کريم ﷺ ناجائزه ګرځولې ده (ابوداود في المراسيل عن شريح كذافي الكنز) ددې منع ښکاره وجه دا ده چې په عام طور سره په دې کې مشغوليت داسې وي چې سړی دضروري کارونو څخه تردې چې دلمانځه او نورو عبادتونو څخه هم غافله کوی .

(دسرودونو، سورنا، اوباجو احکام)

په ذکرسوی آيت کې څوصحابه کرامو ﷺ خود ، لَهْوَ الْحَدِيْثِ ، تفسير په تينګ تکور (سرود) سره کړی دی اونورو حضراتو که څه هم تفسير عام مقرر کړی دی ، هره داسې لوبه کومه چې دالله ﷻ څخه غافله کول کوی ، لَهْوَ الْحَدِيْثِ ، يې ورته فرمايلي دی ، مګر د دوی په نزد هم تنګ تکور (سرود) په دې کې دا خل دی او دقرآن کريم په يوبل آيت ، لَايَشْهَدُوْنَ الزُّوْرَ ، کې امام ابوحنيفه (رح) مجاهد (رح) اومحمدبن الحنفيه (رح) وغيره د ، زُوْر ، تفسير په سرود (تنګ تکو) سره کړی دی .

او ابو داود او ابن ماجه په سنن کې او ابن حبان په خپل کتاب صحيح کې دحضرت ابو مالك اشعری ﷺ څخه روايت کړی دی چې نبي کريم ﷺ فرمايلي دی .

لَيَشْرَبَنَّ نَاسٌ مِنْ أُمَّتِي الْخَمْرَ يُسَمُّوْنَهَا بِغَيْرِ اسْمِهَا يُعْزَفُ عَلَى رُءُوْسِهِمْ بِالْمَعَازِفِ وَالْمُغَنِّيَاتِ يَخْسِفُ اللهُ بِهِمُ الْأَرْضَ وَيَجْعَلُ مِنْهُمُ الْقِرَدَةَ وَالْخَنَازِيْرَ . زما دامت ځينې خلق به دشرابو نوم بدلوی چنبې به يې د دوی په مخکې به سندر غاړی او سروزګری ښځې سندرې وايي الله ﷻ به دوی په مځکه ننباسی او دځينو صورتونه به مسخ سی ، بيزوګان او خنزيران به ورځخه جوړ سی .

اودحضرت ابن عباس ﷺ څخه روايت دی چې نبي کريم ﷺ فرمايلي دی چې الله ﷻ شراب، څُمار اودکړی او سريندی حرام کړې دی اوفرمايي چې هره نشه را وستونکی شی حرام دی (رواه الامام احمد وابوداود وابن حبان)

رُوِيَ عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ ﷺ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اِذَا اتُّخِذَ الْفَيْءُ دُوَلًا وَالْأَمَانَةُ مَغْنَمًا وَالزَّكَاةُ مَغْرَمًا وَتُعُلِّمَ لِغَيْرِ الدِّيْنِ وَأَطَاعَ الرَّجُلُ امْرَأَتَهُ وَعَقَّ أُمَّهُ وَأَدْنَى صَدِيْقَهُ وَأَقْصَى أَبَاهُ وَظَهَرَتِ الْأَصْوَاتُ فِي الْمَسَاجِدِ وَسَادَ الْقَبِيْلَةَ فَاسِقُهُمْ وَكَانَ زَعِيْمُ الْقَوْمِ أَرْذَلَهُمْ وَأُكْرِمَ الرَّجُلُ مَخَافَةَ شَرِّهِ

وَظَهَرَتِ الْقِيَانُ وَالْمَعَازِفُ وَشُرِبَتِ الْخُمُورُ وَلَعَنَ آخِرُ هَذِهِ الْأُمَّةِ أَوَّلَهَا فَلْيَرْتَقِبُوا عِنْدَ ذَلِكَ رِيحًا حَمْرَاءَ وَزَلْزَلَةً وَخَسْفًا وَمَسْخًا وَقَذْفًا وَآيَاتٍ تَتَابَعُ كَنِظَامٍ بَالٍ قُطِعَ سِلْكُهُ فَتَتَابَعَ بَعْضُهُ بَعْضًا. (رواه الترمذي وقَالَ هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ غَرِيبٌ)

ترجمه : دحضرت ابوهريره ﷺ څخه روايت دی چي نبی کريم ﷺ فرمايلي دی چي کله مال غنيمت شخصي دولت جوړکړل سي او دخلقو امانتونه مال غنيمت وګڼل سي او زکوٰة تاوان وګڼل سي او هرکله چي علم دين ددنيا دپاره زده کول شروع سي او کله چي سړی دخپلي ښځی حکم منل او دمور نافرمانی کول شروع کړی او دوست ځان ته نژدی کوي او پلار ليری کوي او په جماتونو کي په زوره خبري شروع سي او دقبيلي سردار د دوی فاسق اوبدکاره جوړسی او کله چي دقوم سردار په دوی کي ارذل بدترين سړی جوړسی او کله چي دشريرو خلقو عزت د دوی دشر دبيری څخه شروع سي او کله چي دسندر غاړو ښځو اوسرودو او باجو رواج عام سي او کله چي شراب چښل شروع سي او ددی امت اخری خلق په مخکنی خلقو لعنت کول شروع کړی نو دغه وخت تاسی انتظار کوي ديوی سری هوا اوزلزلي او دمځکی دننوتو او دصورتونو دمسخ کيدو او دقيامت دداسی نښانو چي په يوی بلی پسی به داسي راځی لکه چي دهار تار وشکيږي او دانی يی تولی وار په وار پر مځکه را لويږي .

(ضروري خبرداری)

ددي حديث الفاظ بار بار وواياست اووګوری چي دا وخت ددنيا پوره په پوره نقشه داسي ده اوهغه ګناهونه کوم چي په مسلمانانو کي عام سوی دی او زياتيږي ددي خبر څوارلس سوه کاله مخکی نبی کريم ﷺ ورکړی دی او مسلمانان يی په دی خبردارکړی دی چي دداسی حالاتو څخه خبردار اوسيږي او دګناهونو څخه دخلاصيدو پوره اهتمام کوي کنه نوهرکله چي دا ګناهونه عام سی ، نو په داسي ګناه کوونکو باندي به اسمانی عذابونه نازليږي اوبيابه دقيامت اخری نښی مخ ته راځی ، په دی ګناهونو کي دښځو دسندرو او سروزونو الات باجی او سرناوی وغيره هم دی ، دلته دا روايت په دی مناسبت سره نقل سوی دی .

ددی څخه علاوه نور ډېر مستند احاديث دی په کوموکی چي سرود اوباجې حرام اوناجائزه فرمايل سوی دی او دعذاب سختی وعدی باندي راغلی دی دا ټول روايتونه احقر په خپله رساله ، کشف العناء عن وصف الغناء ، کي ليکلی دی . دا رساله هم په عربی ژبه احکام القرآن حزب خامس کي شائع سوي ده دلته ددغه څخه يو څو نقل سوی دی .

(په خوش اوازی سره بغير دسروز څخه مفيد اشعار ويل ممنوع نه دی)

ددي په مقابله کي دځينو روايتونو څخه دسندرو ويلو جواز هم معلوميږي ، دا روايتونه هم په ذکرسوی رساله کي جمع سوی دی ، تطبيق په دواړو کي داسي دی چي کومه غزل (سندره) دپردی ښځی وي يا ددی سره سرنا،باجه وغيره سروزونه وي هغه حرامه ده ، لکه چي دقرآن دذکرسوو ايتونو او داحاديثو

درواېتونو څخه معلومه اوثابته سوه اوكه محض په خوش او ازى سره څه اشعار ووايي او وېونكي ښځه يابي رېږى هلك نه وي او داشعارو مضامين هم فحش ياپه بله گناه مشتمل نه وي نو جائز ده .
دځينو صوفياءِ كرامو څخه دغنا اورېدل ذكر دى ، هغه ددې قسم په جائزو اشعارو باندې محمول دى ، ځكه چې ددغو صاحبانو اتباع دشرېعت او اطاعت درسول ﷺ دلمر په شان يقيني دى ، دهغوى څخه دداسى گناه دكيدلو گمان هم نه سي كيدى ، محققينو صوفياءِ كرامو په خپله ددې توضيح فرمايلي دى .
په دى معامله كي دځلورو مذهبونو دفقهاؤ اوصوفياءِ كرامو اقوال په ذكرسوى رساله كي په تفصيل سره جمع سوى دى ، دلته په دى لنډو باندې بسوالى وسو. والله المستعان

خَلَقَ السَّمٰوٰتِ بِغَيْرِ عَمَدٍ تَرَوْنَهَا وَاَلْقٰى فِى الْاَرْضِ رَوَاسِىَ اَنْ تَمِيْدَ بِكُمْ

جوړ كړي دي اسمانونه بغير دستنو څخه چې تاسى يې وينى او اېښى دى په مځكه غرونه چى تاسى تينگ كړى

وَبَثَّ فِيْهَا مِنْ كُلِّ دَآبَّةٍ ؕ وَاَنْزَلْنَا مِنَ السَّمَآءِ مَآءً فَاَنْۢبَتْنَا

اوخواره كړى يې دى په دى كى دهرقسم حيوان ، او نازل كړى دى مونږ داسمان څخه اوبه پس زرغونى كړى دى

فِيْهَا مِنْ كُلِّ زَوْجٍ كَرِيْمٍ ﴿۱۰﴾ هٰذَا خَلْقُ اللّٰهِ فَاَرُوْنِىْ مَاذَا خَلَقَ

مونږ په مځكه كى دهرقسم جوړى خاصى ، دا هر څه پيداكړي دي الله پس وښيى ماته چى څه پيداكړى دى

الَّذِيْنَ مِنْ دُوْنِهٖ ؕ بَلِ الظّٰلِمُوْنَ فِىْ ضَلٰلٍ مُّبِيْنٍ ﴿۱۱﴾ ع

نورو چى ما سوا دهغه څخه دى داسى نه ده بلكه ظالمان په ښكاره گمراهى كي دى

لنډ تفسير : الله ﷻ آسمانونه بغير دستنو څخه جوړ كړل (هم دارنگه) تاسى دا وينى او په مځكه باندې يې (درانه درانه) غرونه اېښى دى چې دا پرتاسو ونه ښورى او په دى (مځكه) كي يې هر قسم حيوان خپاره كړى دى اومونږ دآسمان څخه اوبه وورولى ، بيا په دى سره مو دمځكى څخه هر قسم ښه ښكلى (شينكى) را وټوكول (او دغو خلقو ته كوم چې شرك كوي ووايه چې) دا خو دالله ﷻ پيداسوى شيان دى (وروسته كه تاسى نور په خدايى كي شريك جوړ وى نو) اوس تاسى خلق ماته وواياست چې دهغه څخه ماسوا چې كوم (ستاسو معبودان) دى هغو څه شيان پيدا كړى دى (چې استحقاق دخدايى يې ثابت سى ، او ددى دليل مقتضى دا وه چې دغه خلق په هدايت سوى وى ، مگر دغو خلقو هدايت قبول نه كى) بلكى دا ظالمان خلق (پرمخ) په ښكاره گمراهى كي (اخته) دى .

معلومات اومسئلې : خَلَقَ السَّمٰوٰتِ بِغَيْرِ عَمَدٍ تَرَوْنَهَا ددې مضمون يو آيت دسورة رعد په سركي تيرسوى دى .

اَللّٰهُ الَّذِیْ رَفَعَ السَّمٰوٰتِ بِغَیْرِ عَمَدٍ تَرَوْنَهَا ، دترکیب نحوی په اعتبار سره ددي عبارت دوه مطلبونه کیدی سی . یو دا چې ، تَرَوْنَهَا دعَمَدٍ صفت مقرر سی او ضمیر یې دعمد طرف ته راجع سي نو معنٰی به یې داسي چې الله ﷻ آسمانونه پیدا کړل بغیر دستنو څخه کوم چې تاسي وینی ، یعنی که ستنی وای نوتاسی به لیدلای هرکله چې ستنی په نظر نه راځی نو معلومه سوه چې دا دآسمان عظیم الشانه چت بغیر دستنو څخه جوړ سوی دی . دا تفسیر دحضرت حسن ؓ او قتاده څخه نقل دی . (ابن کثیر)

دوهم صورت دا دی چې د. تَرَوْنَهَا ضمیر دسمٰوٰت طرف ته راجع وي او داجمله مستقله مقررسی ، معنٰی به دا وی چې الله ﷻ آسمانونه بغیر دستنو څخه پیدا کړل لکه چې تاسی یې وینی . او داولنی ترکیب په صورت کي یوه معنٰی دا هم کیدی سی ، چې آسمان پرستنو قائم دی ، دا تاسی نه سي لیدی ، دغه غیر لیدونکی دی . دا تفسیر دحضرت ابن عباس ؓ، عکرمه ؓ اومجاهد ؓ څخه نقل دی . (ابن کثیر)

په هرصورت دی آیت دحق تعالٰی دکامل قدرت دا نښه وښودله چې دآسمان دومره لوی اوپلن او دومره لوړ عظیم الشان چت داسي جوړ کړی دی چې په دی کي هیڅ ستن نه لیدل کیږي .

(یوسوال اودهغه ځواب)

دلته دا سوال پیدا کیږي چې آسمان لکه چې فلاسفران وایی او په عام طور باندي مشهوره ده چې دایوه کره یعنی ګول شی دی او په داسي ګول کره کي په عام طور سره هرځای چې وي عادتاً ستنی نه وی ، نو دآسمان څه خصوصیت دی ؟

ددی ځواب دا هم کیدی سي چې لکه څنګه چې قرآنکریم په اکثرو مواقعو کي مځکی ته فرش ویلی دی ، کومه چې دګول اوکره کیدو څخه په ښکاره منافی ده ، مګر ددي دفراخی په وجه دا په عامو نظرونو کي یوه هواره سطح لیدل کیږي ، ددي عوامی خیال پربنا باندي قرآنکریم دی ته فرش وفرمایی دغه رنګه آسمان دیوچت په شان په نظر راځی دکوم دپاره چې عادتاً دستنو ضرورت وی . ددي عام خیال مناسب یې ددي بې ستنو کیدل بیان کړل ، او په حقیقت کي دقدرت کامله دثبوت دپاره دومره لویه عظیم الشانه کره پیدا کول کافي دی او دځینی مفسرینو ابن کثیر وغیره تحقیق دا دی چې دآسمان اومځکی مکمله کره کیدل دقرآن اوسنت په رو سره ثابت نه دی ، بلکی دځینو آیتونو او روایتونو څخه ددي دقُبې په شکل کي کیدل معلومیږي . د دوی وینا ده چې په یو صحیح حدیث کي په کوم کي چې هره ورځ دلمر دعرش لاندي ته رسیدل او سجده کول ذکر دی ، هغه په دی صورت کي کیدی سي چې آسمان مکمله کره نه وی ، په دی صورت کي په دوی کي پورته کښته جهت متعین کیدی سی ، په مکمله کره کي یو جهت او طرف ته پورته کښته نه سي ویل کیدی . والله سبحانه وتعالٰی اعلم

وَلَقَدْ اٰتَيْنَا لُقْمٰنَ الْحِكْمَةَ اَنِ اشْكُرْ لِلّٰهِ ؕ وَمَنْ يَّشْكُرْ فَاِنَّمَا يَشْكُرُ

او مونږ ورکړی وه لقمان ته پوه چې حق ومنه دالله ، او څوک چې حق ومنی دالله نومنی

لِنَفْسِهٖ ۚ وَمَنْ كَفَرَ فَاِنَّ اللّٰهَ غَنِیٌّ حَمِیْدٌ ﴿۱۲﴾ وَاِذْ قَالَ لُقْمٰنُ لِابْنِهٖ

دخان دپاره ، اوڅوک چی منکر سو نوالله ﷻ بی پرواه دی تولو تعریفونو والا ، اوهرکله چی وویل لقمان خپل زوی ته

وَهُوَ یَعِظُهٗ یٰبُنَیَّ لَا تُشْرِكْ بِاللّٰهِ ؕ اِنَّ الشِّرْكَ لَظُلْمٌ عَظِیْمٌ ﴿۱۳﴾

او ده ورته نصیحت کوی ای زویه ! شریک مه جوړه وه دالله ﷻ سره ، بیشکه شریک جوړول ډیره لویه بی انصافی ده

وَوَصَّیْنَا الْاِنْسَانَ بِوَالِدَیْهِ ۚ حَمَلَتْهُ اُمُّهٗ وَهْنًا عَلٰی وَهْنٍ وَّ

اومونږ تاکید کړی دي انسان ته دده دمور اوپلار په حق کی په نس کی ساتلی دی ده لره مور بار په بار او دتی څخه

فِصٰلُهٗ فِیْ عَامَیْنِ اَنِ اشْكُرْ لِیْ وَلِوَالِدَیْكَ ؕ اِلَیَّ الْمَصِیْرُ ﴿۱۴﴾ وَ

پریکول دی دده په دوه کاله کی چی حق ومنه زما او دخپل مور او پلار ، اخر ماته را تلل دی ، او

اِنْ جَاهَدٰكَ عَلٰی اَنْ تُشْرِكَ بِیْ مَا لَیْسَ لَكَ بِهٖ عِلْمٌ ۙ فَلَا تُطِعْهُمَا

که دغه دواړه تینګ سی تاته په دی خبره چی شریک ومنه زما هغه شي چی تاته معلوم نه دی نو د دوی مه منه

وَصَاحِبْهُمَا فِی الدُّنْیَا مَعْرُوْفًا ۫ وَّاتَّبِعْ سَبِیْلَ مَنْ اَنَابَ اِلَیَّ ۚ

او ملګرتیا کوه د دوی په دنیا کی د دستور موافق اوتابعداری کوه دلاری دهغه چاچی رجوع کوی ماته

ثُمَّ اِلَیَّ مَرْجِعُكُمْ فَاُنَبِّئُكُمْ بِمَا كُنْتُمْ تَعْمَلُوْنَ ﴿۱۵﴾ یٰبُنَیَّ اِنَّهَاۤ

بیا ما ته ده ستاسی واپسی وروسته زه به خبر کړم تاسی په هغه څه چی تاسی کول ، ای زویه ! که

اِنْ تَكُ مِثْقَالَ حَبَّةٍ مِّنْ خَرْدَلٍ فَتَكُنْ فِیْ صَخْرَةٍ اَوْ فِی

یو شي وی د سپلنی ددانی برابر بیا وی هغه په څه ګټه کي یا په

السَّمٰوٰتِ اَوْ فِی الْاَرْضِ یَاْتِ بِهَا اللّٰهُ ؕ اِنَّ اللّٰهَ لَطِیْفٌ خَبِیْرٌ ﴿۱۶﴾

اسمانون کی یا په مځکه کی را حاضر به کی دغه الله ﷻ ، بیشکه پوهه دی په پټو شیانو خبردار دی

يٰبُنَيَّ اَقِمِ الصَّلٰوةَ وَ أْمُرْ بِالْمَعْرُوْفِ وَانْهَ عَنِ الْمُنْكَرِ وَاصْبِرْ

اى زويه! قائم ساته لمونځ امر كوه دنيكى خبرى منع كوه دبدى څخه اوصبر كوه

عَلٰى مَآ اَصَابَكَ ؕ اِنَّ ذٰلِكَ مِنْ عَزْمِ الْاُمُوْرِ ﴿۱۷﴾ وَلَا تُصَعِّرْ خَدَّكَ

په هغه چى تا ته ورسيږي ، بيشكه دا دى دهمت دكارونو څخه ، او خپل اننگى مه پرسوه

لِلنَّاسِ وَلَا تَمْشِ فِى الْاَرْضِ مَرَحًا ؕ اِنَّ اللّٰهَ لَا يُحِبُّ كُلَّ

خلقو ته او مه گرځه په مځكه په تكبر سره بيشكه الله ﷻ نه خوښوى هر

مُخْتَالٍ فَخُوْرٍ ﴿۱۸﴾ وَاقْصِدْ فِىْ مَشْيِكَ وَاغْضُضْ مِنْ صَوْتِكَ ؕ

تكبر كوونكى فخر كوونكى ، او ميانه روى كوه په خپلو تللو كى او كښته ساته اواز خپل

اِنَّ اَنْكَرَ الْاَصْوَاتِ لَصَوْتُ الْحَمِيْرِ ﴿۱۹﴾

بيشكه دټولو څخه ناكاره اواز دخر اواز دى .

لنډ تفسير: اوموږ لقمان ته پوهه (چى حقيقت يى علم سره دعمل نه دى) وركړه (او دي سره دا حكم مو وركى) چي (په ټولو نعمتونو عمومًا او په دى نعمت دحكمت چي دټولو نعمتونو څخه افضل نعمت دى خصوصًا) دالله ﷻ شكركوى او كوم سرى چي شكر ادا كوى هغه دخپلي ذاتى نفعى دپاره شكركوى (يعنى دده نفع په كښى ده چي په دى سره په نعمت كي ترقى كيږي ، لكه چي الله ﷻ فرمايى ، لَئِنْ شَكَرْتُمْ لَاَزِيْدَنَّكُمْ، په دينى نعمت كي خو ترقى په دنيا كي هم كيږي اوپه اخرت كي هم ، په دنيا كي خو په شكر دنعمت سره علم زياتيږي او دعمل په توفيق كي زياتوالى راځى او په اخرت كي عظيم ثواب پيداكيږي او په دنيوى كي داخرت ترقى يعنى په ثواب كي زياتوالى خو يقينى دى اوكله په دنيا كي په شكر كولو سره نعمت زياتيږي) اوڅوك چي ناشكرى كوي نو (خپل نقصان كوى ، ځكه چي) الله ﷻ (خو) بى نيازه (اوټولو صفتونو والادى (يعنى چونكى هغه په خپل ذات كي كامل دى چي مذكوره دى دحَمِيْدٌ په دى وجه هغه غنى دى ، دهغه دچاشكر ثناء ته احتياج نسته چي په دى سره استكمال بالغير لازميږي ، اوچونكى لقمٰن موصوف دى په حكمت يعنى په علم اوعمل سره ددي څخه معلومه سوه چي هغه په تعليم دشكر به هم شكر كړى وي . وروسته هغه شاكر هم وو او دشاكروالى په وجه به دده په حكمت كي هم ترقى سوى وي نو هغه د

اعلی درجی حکیم سو» او «دداسی حکیم تعلیم خامخا قابل عمل کیدل په کار دی ، وروسته دده تعلیمات ددي خلقو په مخکی ذکر کړه» هرکله چي لقمان خپل زوی ته نصیحت کوی ، وي ویل چي ای زویه ! دخدای سره شوك مه شریکوه ، بیشکه شرك کول دېرلوی ظلم دی «دظلم حقیقت علماؤ دا بیان کړی دی چي یو شی بی محله استعمال سي او دا خبره په شرك کي دټولو څخه زیاته واضحه ده چي دپیدا کوونکی پرځای دبتانو عبادت وسی» او «دقصی په مینځ کي دتوحید دامر دتاکید دپاره دحق تعالی ارشاد دی چي» مونږ انسان ته دده دمور او پلار متعلق تاکید کړی دی «چي ددي اطاعت اوخدمت کوي ځکه چي هغوی دده دپاره لوی مشقتونه تیر کړی دی خاصکر مور یی هم دارنگه» د «ده مور» ضعف پرضعف پورته کړی دی یی په نس کي ساتلی دی «ځکه چي څومره حمل غټیږي دحاملی ضعف زیاتیږي» او «بیا» په دوه کاله کي دده دتی څخه پریکول دی «په دی ورځوکی هم هغه هر قسم خدمت کوی ، دغه ډول دخپل حالت موافق پلار هم مشقت تیروی ، په دی وجه مونږ دخپل حق سره دمور اوپلار دحق ادا کولو حکم وفرمایی هم دارنگه دا ارشاد یی وفرمایی» چي ته زما او دخپل مور او پلار شکر گذاری کوه «دحق تعالی شکر گذاری خو په عبادت او حقیقی اطاعت سره او دمور اوپلار خدمت او دشرعی حقوقو په ادا کولو سره ځکه چي ، زما طرف ته (ټولو ته) بیرته را تلل دی (دغه وخت به دعملونو جزاء او سزا ورکوم ، په دی وجه داحکامو په ځای کول ضوروي دی) او (سره ددي چي دمور او پلار دومره لوی حق دی لکه چي اوس معلومه سوه ، لیکن دتوحید امر داسي عظیم الشان دی چي» که هغه دواړه په تاباندی «هم» ددي خبري زور واچوی چي ته زماسره داسي شی شریك کړی دکوم چي «په خدایی کي دشریکیدو» ستاسره څه دلیل «اوسند» نه وي «اوښکاره ده چي هیڅ شی هم داسي نسته دکوم چي دشرکت پرمستحق کیدو باندي څه دلیل قائم وي بلکی په نه مستحق کیدو ډیر دلیلونه قائم دی ، نو مراد داسو چي هغوی که دهرشی په خدایی کي دشریکولو پرتا باندي زور واچوی» نو ته دهغوی خبره مه منه «او البته دا ضروري ده چي» په دنیا «وی حاجتونو او معاملو» کي «لکه چي د دوی ضروري خرڅونه اوخدمت وغیره کی» د دوی سره ښه ژوند تیروه او «ددین په باره کي صرف» دهغه سړی پرلاره چلیږه کوم چي زماطرف ته رجوع کوي «یعنی زماداحکامو معتقد اوعامل وی» بیاتاسی ټول به زماطرف ته راځی ، بیا «دراتلو په وخت کی» به زه تاسی ته وښیم څه چي تاسی کول «په دی وجه په یوکار کي هم زمادحکم خلاف مه کوی ، مخکي بیادلقمان دنصیحتونو تکمیل دی چي» هغه خپل زوی ته نور نصیحتونه هم وکړل هم دارنگه دتوحید اوعقیدو په باره کي یی دانصیحت هم وکی چي» زویه ! «دالله ﷻ علم اوقدرت په دی درجه کي دی چي» که چیری «دچا» څه عمل «داسی پټ وی، مثلاً فرض کړه چي هغه» دسپلنی ددانی برابر «په مقدارکی» وي «او» بیا «فرض کړه چي» هغه په یوه ډبره کي دننه «پټ اینبی» وي «کومه چي داسي پرده ده چي لیری کول یی گران وي اوبغیر دلیری کولو څخه یی دننه چاته علم نه وی» یاهغه په آسمانونوکی دننه وي «کوم چي دعامو خلقو څخه دځای په لحاظ سره لیری دی» یاهغه دمځکی دننه وي «کوم ځای چي ښه تیاره وي او دا اسباب دی دعامو خلقو دنظرونو څخه دپناه کیدو، ځکه چي کله

یوشی کوچنی اوباریك وي چي په نظر نه راځي او كله چي په سختو پردوكي دننه وي ، كله دځای دليری والی په وجه ، كله دتیاری په وجه ، لیکن دالله ﷻ داسي شان دی چي که دا تول اسباب دپتیدو هم جمع وی، خوبیابه هم (دقیامت په ورځ دحساب په وخت کی) هغه الله ﷻ حاضرکړی (چی په دی سره یی علم او قدرت دواړه ثابت سول) بیشکه الله ﷻ ډیر باریك بین (او) باخبره دی (او دعملونو په باره کي یی دا نصیحت وکی چی) زویه ! لمونځ کوه (چی وروسته دعقیدی صحیح کیدو څخه داعلی درجی عمل دی) او (لکه چي دعقیدی په صحیح کیدو اوعملونو کي دځان پوره کول په کار دی وروسته خلقوته) دنیکو کارونو نصیحت کوه او دبدو کارونو څخه یې منع کوه او (په دی امربالمعروف اونهی عن المنکر کي په خاص طور او په هرحالت کي په عام طور سره) که پرتاڅه مصیبت واقع سي پرهغه صبرکوه دا (صبر کول) دهمت دکارونو څخه دی او (داخلاقو اوعادتونو په باره کي یی دا نصیحت وکی زویه !) دخلقو څخه خپل مخ مه اړوه اوپرمځکه په تکبر سره مه گرځه ، بیشکه الله ﷻ هیڅ تکبرکوونکی فخر کوونکی نه خوښوی او په خپل رفتارکی میانه روی اختیار کړه (مه ډیرېه منډه څه چي دوقار خلاف ده، دارنگه دغوځاریدو هم احتمال دی اومه ډیر په دمه قدمونه ږده چي دا واضح دمتکبرینو نښانه ده بلکی بی تکلفه او درمیانه رفتار دتواضع اوسادگی تګ اختیار کړه کوم چي یی په بل آیت کي په دی عنوان سره ذکرکړی دی . يَمْشُونَ عَلَى الْأَرْضِ هَوْنًا) او (په خبرو کی) خپل اواز کښته کړه (یعنی ډېر شور مه کوه او دا مطلب نه دی چي دومره اواز کښته کړه چي خوك یی اوری هم نه مخ ته دشور کولو څخه نفرت پیداکوی چی) بیشکه په اوازونو کي دټولو څخه ناکاره اواز دخرو اواز وي (نو سړو ته دخرو په شان چیغی وهل څه مناسب دی ، دارنگه په چیغو او نعرو سره خیني وخت دنورو بیره اوتکلیف هم پیدا کیږی)

معلومات اومسئلي: وَلَقَدْ آتَيْنَا لُقْمَانَ الْحِكْمَةَ، حضرت لقمان ﷺ دوهب بن منبه دروایت مطابق دحضرت ایوب ﷺ دخور زوی وو اومقاتل دده دعمه زوی ښوولی دی ، اوپه تفسیر بیضاوی وغیره کي دی چي دده عمر اوږد سو تردی چي دحضرت داود ﷺ زمانه یی پیداکړه دا خبره دنورو روایتونو څخه هم ثابته ده چي حضرت لقمان ﷺ دحضرت داود ﷺ په زمانه کي وو.

او په تفسیر درمنثورکي دحضرت ابن عباس ﷺ روایت دا دی چي لقمان یوحبشی غلام وو، دترکانی (نجاری) کاریی کوي (اخرجه ابی ابی شیبه واحمد فی الزهد وابن جریر وابن المنذر وغیره)

او دحضرت جابر بن عبدالله ﷺ څخه دده دحالاتو پوښتنه وسوه نووی فرمایل چي لوړ قد لوړی پوزی والا حبشی غلام وو اومجاهد فرمایی چي حبشی غلام پنډو شونډو والا او چاودلو پښو والاوو. (ابن کثیر)

یو تور رنگ حبشی حضرت سعید بن مسیب ته دڅه مسئلی معلومولو دپاره حاضر سو نو حضرت سعید دده دتسلی دپاره وفرمایل چي ته په خپل توروالی غم مه کوه ځکه چي په تورو خلقو کي دری بزرگان داسي تیر سوی دی کوم چي په خلقو کي دټولو څخه ښه وه . حضرت بلال حبشی ﷺ اومهجع ﷺ دحضرت عمر بن خطاب ﷺ ازاد کړی غلام او حضرت لقمان ﷺ .

(حضرت لقمان ﷺ دجمهورو سلفو په نزد نبي نه وو بلکې ولي اوحکيم وو)

ابن کثير فرمايي چي دجمهورو سلفو په دی اتفاق دی ، چي هغه نبی نه وو ، صرف دحضرت عکرمه څخه دده نبی والی نقل دی ، مګر ددي سند ضعيف دی . او امام بغوی فرمايي چي په دی اتفاق دی چي هغه فقيه اوحکيم وو ، نبی نه وو . (مظهری)

ابن کثير فرمايي چي دحضرت قتاده (رح) څخه دده په باره کي يو عجيبه روايت نقل دی چي حق تعالی حضرت لقمان ﷺ ته اختيار ورکړی وو چي نبوت واخله ياحکمت ، نو هغوی حکمت اختيار کی ، او په خينی روايتونو کي دی چي ده ته دنبوت اختيار ورکړل سوی وو نو دوی عرض وکی چي که دقبلولو حکم يې وي نو په سر سترګو کنی نو ما معاف وفرمايي .

او دحضرت قتاده څخه دا هم نقل دی چي دحضرت لقمان ﷺ څخه چاپوښتنه وکړه چي تاحکمت ته پرنبوت ولی ترجيح ورکړه ؟ هرکله چي تاته د دواړو اختيار درکړل سوی وو؟ دوی وفرمايل چي دنبوت منصب دلوی ذمه واری دی که هغه ماته بغير زما داختيار څخه راکړل سوی وای نو حق تعالی به په خپله ددي کفالت فرمايلي وای چي زه يې فرائض ادا کوم او که ما په اختيار سره دا طلب کړی وای نو ذمه واری به يې پرما وای . (ابن کثير)

اوهرکله چي دلقمان ﷺ نبی والی دجمهورو په نزد مسلم نه دی نو بيا ده ته هغه حکم کوم چي په قرآن کي ذکر دی ، أَنِ اشْكُرْ لِي، دا په ذريعه دالهام کيدی سي کوم چي اولياء الله ته حاصل وی .

حضرت لقمان ﷺ به دحضرت داود ﷺ څخه مخکی په شرعی مسئلو کي خلقو ته فتواوی ورکولی ، هر کله چي حضرت داود ﷺ ته نبوت ورکړل سو نو فتوٰی ورکول يې پريښودل چي اوس زما ضرورت پاته نه سوو په خينو روايتونو کي دی چي دبنی اسرائيلو قاضی وو . دحضرت لقمان ﷺ دحکمت ډيری کلمی نقل دی . وهب بن منبه وايي چي ما دحضرت لقمان ﷺ دلسو زرو څخه زيات بابونه ويلی دی (قرطبی)

حضرت لقمان ﷺ يوه ورځ په يولوی مجلس کي خلقو ته دحکمت خبري اورولی ، يو سړی راغی اوپوښتنه يې ورڅخه وکړه چي اياته هغه نه يې چي زماسره دی په فلانی ځنګل کي بزی څرولی؟ حضرت لقمان ﷺ وفرمايل چي هو! زه هغه يم ، هغه سړی پوښتنه وکړه چي بيا تاته دا مقام څنګه حاصل سو ، چي دخدای مخلوق ستا تعظيم کوي اوستا دخبرو اوريدو دپاره دليری څخه راجمع کيږی؟ حضرت لقمان ﷺ وفرمايل چي ددي سبب زمادوه کارونه دی ، يوهميشه رښتياويل ، دوهم دفضولو خبرونه ځان ساتل ، اوپه يو روايت کي دا دی چي حضرت لقمان ﷺ فرمايي څو کارونه داسي دی کومو چي زه دی درجی ته ورسولم که تاسی يې اختيار کړی ، نو تاسی ته به هم دا درجه او مقام حاصل سی ، هغه کارونه دا دی ، خپل نظرکښته ساتل ژبه بنده ساتل په حلال رزق قناعت ، دخپل شرمګاه حفاظت کول ، په خبرو کی پررښتياوباندی قائم پاته کيدل ، وعده پوره کول ، دميلمه عزت کول ،دهمسايه حفاظت کول اوفضول کاراوفضول خبره پريښودل . (ابن کثير)

(حکمت کوم چي حضرت لقمان ﷺ ته ورکړل سو ددې څخه څه مراد دی؟)

لفظ دحکمت په قرآن کريم کي د ډيرو معانيو دپاره استعمال سوی دی . علم، عقل، حلم، بردباری، نبوت، درايي صحيح والی . ابوحيان (رح) فرمايي چي دحکمت څخه مراد هغه کلام دی ، چي خلق ورڅخه عبرت حاصل کړی او د دوی په زړونو اثر وکړی اوچي خلق يي محفوظ کړی او نورو ته يي ورسوی .

او حضرت ابن عباس ﷺ فرمايي چي دحکمت څخه مراد عقل، پوهه اوذهانت دی او ځيني حضرات فرمايي چي دعلم مطابق عمل کول حکمت دی ، او په حقيقت کي په دی کي هيڅ تضاد نسته ، دا ټول شيان په حکمت کي دا خل دی ، لوړ په لنډ تفسير کي دحکمت ترجمه په دانشمندی سره سوي ده او ددی تفسير په علم باعمله سره سوی دی ، دا ډير جامع او واضح دی .

په ذکرسوی آيت کي يي حضرت لقمان ﷺ ته دحکمت ورکولو ذکر فرمايلي دی . مخ ته فرمايي ، اِنِ اشْكُرْ لِيْ، په دی کي يو احتمال خو دا دی ، چي دلته، قُلْنَا ، محذوف ومنل سي نو مطلب به دا وی چي موږ لقمان ته حکمت ورکی او دا حکم مو ورکی چي زماشکر ادا کوه ، اوځيني حضراتو دا هم فرمايلي دی چي اِنِ اشْكُرْ لِيْ ، په خپله دحکمت تفسير دی ، يعنی هغه حکمت کوم چي لقمان ﷺ ته ورکړل سو دا وو چي موږ ده ته دشکر حکم ورکی ، ده ومنی . په دی صورت کي به مطلب داسي چي دالله ﷻ دنعمتونو شکر گذار کيدل ، دټولو څخه لوی حکمت دی . ددي څخه وروسته يي دا وښودله چي دا دشکر گذاری حکم موږ څه دخپلي فائدی دپاره نه دی ورکړی . زموږ دچاشکر ته حاجت نسته بلکی دا په خپله د دوی دفائدی دپاره ورکړل سوی دی ، ځکه زموږ قاعده دا ده چي کوم سړی زموږ دنعمتونو شکر ادا کوی ، موږ ده ده په نعمت کي نور زياتوب کوو.

ددی څخه وروسته يي دلقمان ﷺ دحکمت څه کلمی ذکر فرمايلي دی کوم چي هغه خپل زوی ته ارشاد فرمايلي وی هغه دحکمت کلمی قرآنکريم ددي دپاره نقل وفرمايلي چي نورخلق هم ددي څخه فائده واخلي دحکمت په دی کلموکی دټولو څخه اوله خو دعقيدو دصحيحوالی ده ، اوپه دی کي دټولو څخه اولنی خبره دا ده چي خدای ﷻ دټول عالم خالق اومالك بغير دشركت دغيرڅخهٔ ومنی ، دده سره هيڅ غيرالله په عبادت کي شريك نه کړی چي په دی دنيا کي ددي څخه لوی غټ ظلم نه سي کيدی چي دخدای ﷻ يو مخلوق دخالق برابروگڼی په دی وجه فرمايي. يٰبُنَيَّ لَاتُشْرِكْ بِاللّٰهِ اِنَّ الشِّرْكَ لَظُلْمٌ عَظِيْمٌ، مخ ته دحضرت لقمان ﷺ نور نصيحتونه اودحکمت کلمی راغلی دی کومی چي يي خپل زوی ته فرمايلي وی په مينځ کي الله ﷻ دشرك دلوی ظلم کيدو اوپه هيڅ حال کي دی ته دنه نژدی کيدو دهدايتونو دپاره يوبل حکم ارشاد وفرمايي.

(دمور اوپلار شکر گذاری او اطاعت فرض دی، مگر دحکم الهي خلاف دچا اطاعت جائز نه دی)

که څه هم موږ اولاد ته دخپل مور اوپلار داطاعت اوشکر گذاری اواطاعت سره سره دمور اوپلار دشکر گذاری او اطاعت حکم مو ورکړی دی ، ليکن شرك داسي عظيم ظلم اوسنگين جرم دی چي دا دمور اوپلار په وينا سره اومجبوره کولو سره هم دچا دپاره نه جائز کيږي . که څوك دده مور اوپلار دالله ﷻ سره ديوچا

په شريكولو مجبوره كوى ، نو په دى معامله كي دمور اوپلار وينا منل هم جائز نه دى .
او دلته چي يى دمور اوپلار دحقونو او د دوى دشكرگذارى حكم وركى نو ددي حكمت يى دا وښووى چي ددى مور دده دوجود په باقي ساتلو كي لوى محنت برداشت كرى دى ، چي نه مياشتى خو يى دى په خپله نس كي وساتى ، دده حفاظت يى وكى او ددى په وجه كوم چي ورځ په ورځ دى ته ضعف پرضعف اوتكليف پرتكليف زياتيدى ، دايى برداشت كي بيادده دپيداكيدوځخه وروسته هم ده ته يى دتى وركولو زحمت تر دوه كاله پوري برداشت كي چي په دى كي هم مور ته خاص محنت شپه او ورځ تيرول غوارى او ضعف يى هم په دى سره زياتيږي اوچونكى دبچى په پرورش كي محنت اومشقت زيات مور تير وى ، په دى وجه يى په شريعت كي دمور حق دپلار ځخه مخكى ابښى دى . د. وَوَصَّيْنَا الْإِنسَانَ بِوَالِدَيْهِ حَمَلَتْهُ أُمُّهُ وَهْنًا عَلَىٰ وَهْنٍ وَفِصَالُهُ فِي عَامَيْنِ "دا مطلب دى . او ددى ځخه وروسته په، وَإِن جَاهَدَاكَ، كي يى داښوولى ده چي دغيرالله دالله ﷻ سره دشريكولو په معامله كي دمور اوپلار اطاعت هم حرام دى .

(داسلام دعدل بې نظير قانون)

او په داسي صورت كي چي مور اوپلار دى په شرك اوكفر مجبوره كوي او دالله ﷻ حكم دا وى چي د دوى خبره مه منه، نو په طبعى طور سره انسان پرحد قائم نه سي پاته كيدى . په دى په عمل كولو سره داامكان وو چي زوى دمور اوپلار سره بدكلامى يابد خويى وكرى اوسپكاوى يى وكرى . اسلام يو دعدل قانون دى دهر شي يو حد دى . په دى وجه په شرك كي دمور اوپلار داطاعت نه كولو دحكم سره يى دا حكم هم وركرى چي . وَصَاحِبْهُمَا فِي الدُّنْيَا مَعْرُوفًا .
يعنى په دين كي خوته د دوى خبره مه منه . مگر ددنيا په كارونو كي مثلاً د دوى جسمانى خدمت يامالى خرخونه وغيره، په دى كي كمى مه كوى ، بلكى په دنياوى معاملاتو كي دعام دستور مطابق معامله ورسره كوه، د دوى بى ادبى مه كوه ، د دوى دخبرى ځواب داسي مه وركوه چي بى ضرورته باندي د دوى زړه ازارسى ، مطلب دا دى چي د دوى دشرك اوكفر په معامله كي په نه منلو سره چي د دوى كوم زړه ازاريږي ، دا خو دمجبورى دپاره برداشت كوه ، مگر ضرورت دضرورت په حد كى ساته ، په نورو معاملو كى د دوى دزړه ازارولو ځخه ځان ساته .
فائده: په دى آيت كي چي يى كوم دبچى په دوه كاله كي دتى ځخه دخلاصولو ويلى دى ، دا دعام عادت مطابق دى ، په دى كي ددي خبري څه تشريح او وضاحت نسته چي كه ددي ځخه تر زياتى مودى پوري شيدى وركرل سى ، نو څه حكم يى دى ؟ ددي مسئلى توضيح دسورة احقاف دايت، وَحَمْلُهُ وَفِصَالُهُ ثَلَاثُونَ شَهْرًا. لاندي په ان شاء الله تعالى چي راسى .

(دوهم لقماني وصيت دعقيدو متعلق)

دا دى چي ددي كلكه عقيده وساتل سى چي په آسمان اومځكه او ددى دننه چي څه دى ددي په يوه يوه ذره باندي دالله ﷻ علم هم محيط او وسيع دى اوپرتولو دده قدرت هم كامل دى ، هيڅ شى كه هرڅومره كوچنى

وي كوم چي په عامو نظرونوكى نه سي راتلى دغه رنگه څه شى كه هرڅومره ليرى وي پايوشى كه هرڅومره په تيارو او په پردوكى وى ، دالله ﷻ دعلم اونظر څخه نه سي پټيدى اوهغه چي چالره كله وغواړى او كوم ځاى وغواړى حاضرولى سي د: يٰبُنَيَّ اِنَّهَا اِنْ تَكُ مِثْقَالَ حَبَّةٍ مِّنْ خَرْدَلٍ، هم دا مطلب دى ، او دالله ﷻ دعلم اوقدرت په هرشى محيط كيدل په خپله هم داسلام بنيادى عقيده ده اودتوحيد دعقيدى ډيرلوى دليل دى.

(دريم لقماني وصيت دعمل دااصلاح متعلق)

واجب كارونه خو ډير دى ، مگرپه دى ټولوكي دټولوڅخه لوى اواهم كارلمونځ دى اوپه خپله دا هم كيدو سره دنورو عملونو د درستى ذريعه هم ده لكه چي دلمانځه په باره كي درب العلمين ارشاد دى . اِنَّ الصَّلٰوةَ تَنْهٰى عَنِ الْفَحْشَآءِ وَالْمُنْكَرِ، په دى وجه په نيكو واجبو عملونو كى يى دلمانځه پرذكر بس والى وفرمايى، يٰبُنَيَّ اَقِمِ الصَّلٰوةَ، يعنى اى زمازويه! لمونځ قائم ساته اولكه چي مخكى تير سوى دى چي داقامت صلوة مطلب صرف لمونځ كول نه دى ، بلكى ددي ټول اركان او اداب په پوره ډول سره پرځاى كول دى. ددي دوختونو پابندى كول او په دى هميشوالى كول داقامت صلوة په مطلب كي دا خل دى .

(څلورم لقماني وصيت دااصلاح خلق متعلق)

اسلام يو اجتماعى دين دى ، دفرد دااصلاح سره دجماعت اصلاح ددي نظام اهم جزء دى په دى وجه دلمانځه په شان دمهمى فريضى سره يى دامر بالمعروف اونهى عن المنكر دفريضى ذكر وفرمايى چي خلقو ته دنيكو كارونو دعوت وركوه او دبدو كارونو څخه يى منع كوه . وَأْمُرْ بِالْمَعْرُوْفِ وَانْهَ عَنِ الْمُنْكَرِ، دا دوه فريضى دى ، يوه دخپلي اصلاح، دوهمه دعام مخلوق دااصلاح، دواړه داسي دى چي ددواړو په پابندى كي خاص مشقت اومحنت برداشت كول دى . په دى ثابت قدم پاته كيدل آسان نه دى خصوصاً د اصلاح خلق دپاره دامر بالمعروف دخدمت بدله په دنياكي هميشه ددښمنو، مخالفتونو سره مخامخ كيدل وى . په دى وجه يى ددي وصيت سره دا وصيت هم وفرمايى چي . وَاصْبِرْ عَلٰى مَآ اَصَابَكَ اِنَّ ذٰلِكَ مِنْ عَزْمِ الْاُمُوْرِ، يعنى په دى كارونوكي چي تاته كوم تكليف در رسيږي ، په دى دصبر اوثابت قدمى څخه كار اخله .

(پنځم لقماني وصيت دمعاشرت داادابو متعلق)

وَلَا تُصَعِّرْ خَدَّكَ لِلنَّاسِ، وَلَا تُصَعِّرْ دصَعَرَ څخه مشتق دى كومه چي د اوښ يوه ناجورى ده چي څټ يى په كښى كږيږي لكه دانسانانو چي لقوه معروفه (يوقسم فلج) ناجورى ده چي مخ يې په كى كوږ سى ، مراد ددي څخه مخ اړول دى ، مطلب دا دى چي دخلقو سره دملاقات او خبرو په وخت كي په اړولى مخ خبري مه كوه ، كومه چي د دوى څخه د اعراض كولو او تكبر كولو نښه ده او دشريفانه اخلاقو څخه خلاف ده.

وَلَا تَمْشِ فِى الْاَرْضِ مَرَحًا، مَرَحًا په تكبر اوغرورسره تلل دى ، مطلب دا دى چي په ټولو عناصرو كي مخكه الله ﷻ پرته جوړه كړي ده او ته ددي څخه پيدايى . پردى باندي دګرځيدو په وخت كي خپل حقيقت پيژنه په غرور سره مه ګرځه كومه چي دمتكبرانو طريقه ده ، په دى وجه ددي څخه وروسته فرمايى . اِنَّ اللّٰهَ لَا يُحِبُّ

كُلَّ مُخْتَالٍ فَخُورٍ، يعنى الله ﷻ نه خوښوى متكبر فخر كوونكى .
وَاقْصِدْ فِىْ مَشْيِكَ، يعنى په خپل تګ كي ميانه روى اختيار وه ، مه ډيرى منډى وهه چي دا دوقار خلاف ده . په حديث كي دى چي په تلو كي ډير تلوار كول دمومن رونق ضائع كوي (جامع صغير عن ابى هريرة‌ؓ)
او په داسي تلوكى په خپله خپل ځان ياىل ته دتكليف رسولو هم خطره وي اومه ډير كرار كرار ځه كوم چي ياخو دهغو متكبرانو اوتصنع كوونكو عادت دى كوم چي پرخلقو خپل امتياز ښكاره كول غواړى يا دښځو عادت دى كوم چي په دى مجبوره دى . اول صورت خو حرام دى او دوهم هم كه دښځو سره دمشابهت پيدا كولو په غرض وي نو ناجائز دى اوكه دا غرض يى نه وي نو بيا دا دسړو دپاره عيب دى او په دريم صورت كي د الله ﷻ ناشكرى ده ، چي دصحت باوجود دناجوړانو په شان هيئت جوړول دى .
حضرت عبدالله بن مسعود‌ؓ فرمايى چي صحابه كرام به ديهودو په شان دمنډو وهلو څخه هم منع كيدل او دنصاراؤ په شان دكرار تللو څخه هم اوحكم دا وو چي ددي دواړو په درميانه حال سره ځى .
حضرت عائشه ؓ يو سړى په ډير كرار تللو سره وليدى لكه چي اوس به مړى دخلقو څخه يى پوښتنه وكړه چي دى ولى داسي ځى ؟ خلقو ورته وويل چي دى دقرّاء څخه دى . قراء دقارى جمع ده . په هغه زمانه كي به قارى هغه چاته هم ويل كيدل كوم چي به دقرآن دتلاوت دصحت اوادابو سره دقرآن عالم هم وو. مطلب دا وو چي دا يو لوى قارى عالم دى ، په دى وجه داسي ځى ، په دى باندي حضرت عائشه ؓ وفرمايل چي حضرت عمر ‌ؓ دده څخه زيات قارى وو مګر دهغه عادت دا وو چي كله به تلى نو تيز به تلى (مراد ورڅخه هغه تيزى نه ده دكوم څخه چي ممانعت سوى دى بلكى ددي بالمقابل تيزى ده) اوكله چي به هغوى خبري كولى نو داسي چي خلق يى په ښه ډول سره واورى يعنى اواز به يى داسي كرار نه وو چي اوريدونكى پوښتنه وكړى چي څه يى وفرمايل .
وَاغْضُضْ مِنْ صَوْتِكَ، يعنى اواز كښته كړه، مراد دكښته كولو څخه دا دى چي دضرورت څخه زيات لوړ اواز مه راباسه او شور مه كوه لكه چي اوس دحضرت فاروق اعظم‌ؓ متعلق تيرسوه، چي خبري به يى داسي كولى چي حاضرين يى واورى او دوى ته په اوريدو كي څه تكليف نه وى .
ددى څخه وروسته فرمايى . إِنَّ أَنكَرَ الْأَصْوَاتِ لَصَوْتُ الْحَمِيرِ، يعنى په حيوانانوكي دټولوڅخه زيات مكروه اواز دخر دى كوم چي ډير شور كوى .
دلته په اداب معاشرت كي څلورشيان ذكرسوى دى اول دخلقوسره په خبرو اوملاقات كي په متكبرانه انداز سره په اړولى مخ دخبروكولوممانعت دوهم په مځكه په تكبرسره دتللوممانعت، دريم په درميانه حال سره دتللوهدايت څلورم په زوره زوره په شورسره دخبروكولوممانعت دنبى كريم ﷺ په عاداتو اوشمائلوكي دا ټول شيان جمع وه په شمائل ترمذى كي حضرت حسين ‌ؓ فرمايى چي مادخپل پلارحضرت علي ‌ؓ څخه پوښتنه وكړه چي نبى كريم ﷺ به كله دخلقوسره كښېنستى نوپه خپل مينځ كي به ددوى طرزڅنګه ووهغوى وفرمايل .

كَانَ دَائِمَ الْبِشْرِ سَهْلَ الْخُلُقِ لَيِّنَ الْجَانِبِ لَيْسَ بِفَظٍّ وَلَا غَلِيظٍ وَلَا صَخَّابٍ وَلَا فَحَّاشٍ وَلَا عَيَّابٍ وَلَا مُشَاحٍ يَتَغَافَلُ عَمَّا لَا يَشْتَهِيْ وَلَا يُؤْيِسُ مِنْهُ وَلَا يُجِيْبُ فِيْهِ قَدْ تَرَكَ نَفْسَهُ مِنْ ثَلَاثٍ اَلْمِرَاءِ وَالْإِكْبَارِ وَمَا لَا يَعْنِيْهِ.

نبی کریم ﷺ به همیشه خوښ او خرم معلومیدی د دوی په اخلاقو کې نرمی او په سلوك کې آسانی وه د دوی طبیعت سخت نه وو ، خبره یې هم سخته نه وه دوی به شور نه کوی ، نه فحش ویونکی وو ، نه به یې پر چاعیب لګوی نه به یې بخل کوی، کوم شی چې به د دوی خوښ نه وو په هغه به یې ځان ناخبره کوی ، (مګر بل خوك به یې دهغه شخه نا امیده کوي هم نه (كه حلال به وو اودهغه به ورته خواهش وو) او كوم شی چې به یې دځان دپاره نه خوښوی بل خوك به یې ورځخه نه محرومه کوي (بلكې خاموشی به یې باندې اختیاروله دری شیان دوی بالكل پرې ایښي وه (۱) جګړې کول (۲) تکبر کول (۳) په بې کاره شی کې مشغولیدل.

اَلَمْ تَرَوْا اَنَّ اللّٰهَ سَخَّرَ لَكُمْ مَّا فِی السَّمٰوٰتِ وَمَا فِی الْاَرْضِ وَاَسْبَغَ

آیا ته نه ګوری چې الله په کار لګولی دی ستاسی خه چې په اسمانونو او په مځکه کې دی او پوره کړی یې دی

عَلَیْكُمْ نِعَمَهٗ ظَاهِرَةً وَّ بَاطِنَةً ؕ وَمِنَ النَّاسِ مَنْ یُّجَادِلُ

په تاسی خپل نعمتونه ښکاره او پټ او ځینی په خلقو کی داسی هم دی چې جنګ کوی

فِی اللّٰهِ بِغَیْرِ عِلْمٍ وَّلَا هُدًی وَّلَا كِتٰبٍ مُّنِیْرٍ ﴿۲۰﴾ وَاِذَا قِیْلَ لَهُمُ اتَّبِعُوْا مَاۤ اَنْزَلَ

دالله ﷻ په خبره کی نه پوه لری او نه فکر او واضح کتاب، او هر کله چې وویل سی دوی ته چلیږي په هغه حکم چې نازل

اللّٰهُ قَالُوْا بَلْ نَتَّبِعُ مَا وَجَدْنَا عَلَیْهِ اٰبَآءَنَا ؕ اَوَلَوْ كَانَ الشَّیْطٰنُ یَدْعُوْهُمْ اِلٰی عَذَابِ

کړي دی الله وایی مونږ خو چلیږو په هغه چې موندلی دی باندی مونږ خپل پلاران نیکونه که څه هم شیطان بولی دوی

السَّعِیْرِ ﴿۲۱﴾ وَمَنْ یُّسْلِمْ وَجْهَهٗۤ اِلَی اللّٰهِ وَهُوَ مُحْسِنٌ فَقَدِ اسْتَمْسَكَ

عذاب د دوږخ ته نو بیا هم ؟ او خوك چې تابع کړي خپل مخ الله ﷻ طرف ته او هغه وی په نیکی نو هغه ونیول

بِالْعُرْوَةِ الْوُثْقٰی ؕ وَاِلَی اللّٰهِ عَاقِبَةُ الْاُمُوْرِ ﴿۲۲﴾ وَمَنْ كَفَرَ فَلَا یَحْزُنْكَ

کړی مضبوطه ، او الله ﷻ طرف ته دی انجام دهر کار ، او خوك چې منکر سو نو ته غم مه خوره

كُفْرُهٗ ؕ اِلَیْنَا مَرْجِعُهُمْ فَنُنَبِّئُهُمْ بِمَا عَمِلُوْا ؕ اِنَّ اللّٰهَ عَلِیْمٌۢ بِذَاتِ

دهغه په انکارسره مونږ طرف ته را تلل دی دهغوی بیابه مونږ وښیو هغوی ته څه چې یې کړي دي خامخا الله پیژنی

الصُّدُورِ ﴿٢٣﴾ نُمَتِّعُهُمْ قَلِيلًا ثُمَّ نَضْطَرُّهُمْ إِلَىٰ عَذَابٍ غَلِيظٍ ﴿٢٤﴾

کومه خبر چی ده په زړونو کی ، کار به وچلو مونږ دهغوی لږ ورځی بیابه یې نیولی وبلو عذاب سخت ته ،

وَلَئِن سَأَلْتَهُم مَّنْ خَلَقَ السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضَ لَيَقُولُنَّ اللَّهُ ۚ قُلِ

او که ته پوښتنه وکړی د دوی څخه چی چا پیدا کړي دي آسمانونه او مځکه نوخامخا به ووایي چی الله ، ته ووایه

الْحَمْدُ لِلَّهِ ۚ بَلْ أَكْثَرُهُمْ لَا يَعْلَمُونَ ﴿٢٥﴾ لِلَّهِ مَا فِي السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضِ ۚ

توله ثناء الله لره ده ، بلکه اکثر دغه خلق پوه نه لري ، دالله دی څه چی دی په اسمانونو او مځکه کي

إِنَّ اللَّهَ هُوَ الْغَنِيُّ الْحَمِيدُ ﴿٢٦﴾ وَلَوْ أَنَّ مَا فِي الْأَرْضِ مِن شَجَرَةٍ أَقْلَامٌ

بیشکه هغه الله دی بی پروا دتولو خوبیا نومالک ، او که خومره درختی په مځکه کي دي قلمونه وي

وَالْبَحْرُ يَمُدُّهُ مِن بَعْدِهِ سَبْعَةُ أَبْحُرٍ مَّا نَفِدَتْ كَلِمَاتُ اللَّهِ ۗ إِنَّ

او سمندر وی دده سیاهی او په دی پسی اووه سمندرونه نور وی تمامی به نه سی خبری دالله ، بیشکه

اللَّهَ عَزِيزٌ حَكِيمٌ ﴿٢٧﴾ مَّا خَلْقُكُمْ وَلَا بَعْثُكُمْ إِلَّا كَنَفْسٍ وَاحِدَةٍ ۗ إِنَّ

الله زبردست دی حکمتونو والا ، ستاسی دتولو پیدا کول او پس دمرگ څخه ژوندی کول داسی دی لکه دیو نفس

اللَّهَ سَمِيعٌ بَصِيرٌ ﴿٢٨﴾ أَلَمْ تَرَ أَنَّ اللَّهَ يُولِجُ اللَّيْلَ فِي النَّهَارِ وَيُولِجُ النَّهَارَ

بیشکه الله ﷻ هرڅه اوری وینی ، آیا تا نه دی کتلی چی الله ﷻ دا خلوی شپه په ورځ کی او دا خلوی ورځ

فِي اللَّيْلِ وَسَخَّرَ الشَّمْسَ وَالْقَمَرَ كُلٌّ يَجْرِي إِلَىٰ أَجَلٍ مُّسَمًّى وَ

په شپه کي او په کار کي یی لګولی دی لمر او سپوږمی هر یو چلیږي تر یو وخت مقرر پوری

أَنَّ اللَّهَ بِمَا تَعْمَلُونَ خَبِيرٌ ﴿٢٩﴾ ذَٰلِكَ بِأَنَّ اللَّهَ هُوَ الْحَقُّ وَأَنَّ مَا

او دا چی الله خبر لری دهغه چی تاسی یی کوی ، دا یی ددې دپاره (وویل) چی هم هغه الله دی حق او چا چی دوی

يَدْعُونَ مِنْ دُونِهِ الْبَاطِلُ ۙ وَأَنَّ اللَّهَ هُوَ الْعَلِيُّ الْكَبِيرُ ﴿٣٠﴾ أَلَمْ تَرَ

بولی دهغه څخه ماسوا نو هغه دی درواغ او الله هغه دی دټولو څخه لوړ لوی ، آیا تا نه دی لیدلی

أَنَّ الْفُلْكَ تَجْرِي فِي الْبَحْرِ بِنِعْمَتِ اللَّهِ لِيُرِيَكُمْ مِنْ آيَاتِهِ ۚ إِنَّ فِي

چی جهاز چلیږي په درياب کي د الله ﷻ د نعمت سره ددې دپاره چی تاسی ته وښیی څه قدری خپل قدرتونه ، بیشکه

ذَٰلِكَ لَآيَاتٍ لِكُلِّ صَبَّارٍ شَكُورٍ ﴿٣١﴾ وَإِذَا غَشِيَهُمْ مَوْجٌ كَالظُّلَلِ دَعَوُا

په دی کی نښانی دی ډیر صبر کوونکی احسان منونکی دپاره ، او هر کله چی په سر راسی د دوی څپه لکه وریځ نو

اللَّهَ مُخْلِصِينَ لَهُ الدِّينَ فَلَمَّا نَجَّاهُمْ إِلَى الْبَرِّ فَمِنْهُمْ مُقْتَصِدٌ ۚ وَمَا

بولی الله چی خالص کوونکی وی هغه لره د بندگی بیا چی کله محفوظ کي دوی دوچی طرف ته نو څوک خووی په

يَجْحَدُ بِآيَاتِنَا إِلَّا كُلُّ خَتَّارٍ كَفُورٍ ﴿٣٢﴾

دوی کی په اعتدال ، او انکار هغه کوی زمونږ دقدرتونو څخه چی دا خبری درواغجن دی دحق نه منونکی (دی)

تفسیر: ایاتاسو خلقو ته (ددلیلونو په لیدو) دا خبره نه ده معلومه سوی چي الله ﷻ ټول شیان (په واسطه سره یابی دواسطی څخه) ستاسو په کار کي لګولی دی څه چي په اسمانونو کی (موجود) دی او څه چي په مځکه کي (موجود) دی او هغه پرتاسو خپل نعمتونه ښکاره او باطنی پوره کړی دی (ظاهری هغه دی چي په سترګو او غوږونو وغیره سره معلومیږي او باطنی هغه دی چي په عقل سره معلومیږي او د نعمتونو څخه مراد هغه دی چي دآسمانونو او مځکی پرمسخر کولو مرتب کیږي ، نو په دی سره دټولو مخاطبو خلقو په اسلام مشرف کیدل نه لازمیږي) او سره ددي چي (ددی دلیل څخه توحید ثابتیږي مګر) ځینی خلق داسي دی چي د الله ﷻ په باره کي (یعنی دهغه دتوحید په باره کي) بی دڅه پوهی څخه (یعنی ضروري علم) او بی ددلیل (یعنی علم استدلال عقلي) څخه او بی دڅه روښن کتاب (یعنی علم استدلال نقلي) څخه جګړه کوي او هر کله چي هغوی ته وویل سي چي دهغه شی تابعداری کوي کوم چي الله ﷻ نازل کړی دی (یعنی په حق ثابتوونکو دلیلونو کی فکر کوی او دهغه پیروی وکړی) نو (په ځواب کی) وایی چي (مونږ دهغه پیروی) نه (کوو) مونږ (خو به) صرف دهغه تابعداری کوو ، پرکومه چي مونږ خپل مشران پیدا کړی دی (مخ ته پردوی رد دی چي) ایاکه شیطان د دوی مشران د دوزخ عذاب ته (یعنی ګمراهی ته چي د دوزخ دعذاب سبب دی)

بلې نو بیا به هم (دهغوی پیروي کوي ، مطلب دا دی چې داسې ضدیان دي چې سره ددې چې دوی ددلیل طرف ته بلل کیږي ، مگر بیاهم بې دلیله بلکې ددلیل خلاف محض دگمراه پلار اونیکه پرلاره چلیږي ، دا خو حالت دی دگمراهانو) اوکوم سړی چې (دحق په تابعداری کولو سره) خپل مخ دالله ﷻ طرف ته کښته کې (یعنی فرمانبرداری اختیار کړي ، په عقیدوکې هم اوپه عملونوکې هم ددې څخه مراد اسلام او توحید دی) او (ددې سره) هغه مخلص هم وي (یعنې محض ظاهري اسلام یې نه وي) نوهغه سړي لويه مضبوطه کړۍ ونیوله (یعنی دی دهغه سړي په شان سو چاچې دمضبوطی رسۍ حلقه په لاس کې ونیوله او دلوېدو څخه په امن سو ، دغه رنګه دا سړی دهلاکت او تاوان څخه محفوظ سو) اواخر دټولوکارونوانجام دالله ﷻ طرف ته رسیږي (وروسته دا عملونه یعنی دباطل پیروي او دحق پیروي به هم دهغه په حضور کې پیش کیږي نو هغه به هریوه ته مناسبه جزا اوسزاورکوي) اوکوم سړي چې (دحق ثابتوونکو دلیلونو سره) کفرکوي نوستا دپاره دهغه کفر دغم باعث کېدل نه دي په کار (یعنې ته غم مه کوه) او ددې ټولو مونږ ته واپسې ده نومونږ به دې ټولوته وښيو کوم کوم څه چې هغوی (په دنیا کې) کول (ځکه چې) الله ﷻ ته (خو) دزړونو خبرې (هم) ښې معلومې دي (نو دظاهري عملونو معامله خو ښکاره ده، نو زمونږ څخه څه کار پټ نه دی ، ټول به ښکاره کړو او مناسبه سزا به ورکړو، په دې وجه تاسو څه غم مه کوی، داخلق که محض دڅو ورځو په عيش نازیږي نو دا د دوی لویه غلطی ده ځکه چې دا دهمیشه ژوند نه دی بلکې) مونږ دوی ته دڅو ورځو عيش ورکړی دی ، بیابه مونږ دوی په راکشولو دیوسخت عذاب طرف ته راولو (نو په دې نازېدل جهالت دی) او (مونږ چې دوی کوم توحيد ته رابلو دهغه مقدمات خوپه خپله داخلق هم مني ، مگر ددې څخه صحیح نتیجې ته درسیدو کارنه اخلي هم دارنګه) که ته د دوی څخه پوښتنه وکړې چې آسمانونه اومځکه چاپيدا کړي دي؟ نو دوی به خامخاوايي چې الله (په دې) تاسې ووایاست چې الحمد لله (کومه مقدمه چې مهمه وه هغه خوستاسو په اقرار سره ثابته سوه او دوهمه مقدمه خونهایت ښکاره ده چې کوم شي په خپله مخلوق او جوړ سوی وي هغه دعبادت لائق نه سي کیدی ، وروسته مطلوب ثابت سو لیکن دا خلق مطلوب نه مني) بلکې په دوی کې اکثره (خودامجموعه دمقدماتو هم) نه پيژني (چنانچې دنورو ښکاره مقدمو طرف ته هم توجه نه کوي چې معبود کېدل صرف دخالق دی او دا الله ﷻ دغه رنګه دی چې) څه چې په آسمانونو او په مځکه کې موجود دي ، ټول صرف دالله ﷻ (ملکیت) دی (وروسته سلطنت خو دهغه دی هم دغسی) او بیشکه الله ﷻ (په خپله په خپل ذات کې هم) بې نیازه (او) دټولو خوبیانو مالك دی (نو دالوهیت مالك اوقابل هم هغه دی) او (دهغه خوبیانی دومره زیاتی دي چې) څومره درختی په ټوله مځکه کې دي که هغه ټول قلمونه جوړسي (یعنی دعامو مستعملو قلمونو په برابر یې دټولو اجزاؤ څخه قلمونه جوړسي او ښکاره ده چې دغه ډول په یوه یوه درخته کې په زرګونو قلمونه تیاریدی سي) او داکوم چې سمندردی ، ددې څخه علاوه اووه سمندرونه (دسیاهی پرځای) په دې کې نورشامل سي (اوبیاپه دې قلمونو او په دې سیاهی باندې دالله ﷻ کمالات لیکل شروع سي) نو (ټول قلمونه او سیاهی به ختمې سي او) دالله ﷻ خبرې (یعنی

هغه کلمې په کومو سره چې دالله ﷻ دکمالاتو بیان کیدی سي) به ختمې نه سي، بیشکه خدای ﷻ زبردست حکمت والادی (چې هغه په قدرت کي هم کامل دی او په علم کي هم او دادواړه صفتونه چونکی دټولو صفتونو اوکارونو سره تعلق لري په دی وجه وروسته دعموم څخه یې داخصوصًا بیان کړل او ددی کمال صفت دقدرت یوه فرعه عالم اخرت هم دی ، کوم چې ناپوه خلق مشکل ګڼی حال دا دی چې هغه داسي قادر دی چې) ستاسو دټولو (په اول وار) پیدا کول او (دوهم وار) ژوندی کول (دهغه په نزد) بس داسي دی لکه چې دیو سړی (پیدا کول او ژوندی کول ، که څه هم دلته مقصود دقرینې دمقام څخه دبیا پورته کولو ذکر فرمایل دی ، لیکن په ذکر دپیدا کولو یې دلیل نور قوی سو) بیشکه الله ﷻ هرڅه اوري او هر څه ویني (نوکوم خلق چې سره ددې دلیلونو څخه دقیامت څخه انکار کوي او په دی جرأت سره فسق او فجور کوي ﷺ ټول اوري او ویني ، دوی لره به سزا ورکړی ، مخ ته بیادتوحید بیان دی چې) ای مخاطبه ! آیا تاته دا معلومه نه ده چې الله ﷻ (د) شپې (اجزاء) په ورځ کي او (د) ورځې (اجزاء) په شپه کي داخلوی او ده لمر اوسپوږمی په کارکی لګولی دی چې هريو ترمقرر وخته پوره (یعنی ترقیامته) به چلیږي او (ایاتاته) دا (معلومه نه ده) چې الله ﷻ ستاسو دټولو دعملونو پوره خبرلری (نوددی علمي اوعقلي کمال مقتضٰی دا ده چې شرك پرینبوول سي او لوړ چې کوم ددې ذکر سوو کارونو اختصاص دحق تعالی سره بیان سوی دی) دا (اختصاص) په دی سبب سره دی چې الله ﷻ په خپل ذات کي کامل (اوواجب الوجود) دی او دکومو شیانو چې دالله ﷻ څخه ماسوا دا خلق عبادت کوي بالکل بی بنیاده دی اوالله ﷻ عالی شان او (دټولو څخه) لوی دی (په دی وجه دا ټول تصرفات دهغه دپاره مختص دی ، البته که نور موجودات باطل اوفانی اوممکن نه وی ، بلکی نعوذ بالله که څوك بل هم واجب الوجود وی نو بیا داتصرفات به دحق تعالی سره مختص نه وی لکه چې ښکاره ده) ای مخاطبه! ایاتاته (دتوحید) دا (دلیل) معلوم نه دی چې دالله ﷻ په فضل سره کښتی په دریاب کي چلیږي، ددی دپاره چې تاسوته خپلي (دقدرت) نښانی وښیی (چنانچی دهر ممکن وجود، دخپل پیدا کوونکی دوجود دلیل دی په دی طور) په دی کي (هم دقدرت) نښانی دی دهر داسي سړی دپاره کوم چې صابر او شاکر وي (مراد ددي څخه مومن دی چې په صبر اوشکر کي کامل والی دده صفت دی، دارنګه صبر او شکر محرك دی دتذکر اوتدبر دعالم دپاره او داستدلال دپاره تذکر اوتفکر ضروري دی، په دی وجه دا دواړه وصفونه دلته مناسب سول، خاصکر دکښتی دحالت په اعتبار سره چې دڅپو پورته کیدل محل دصبر دی او په سلامت سره غاړی ته رسیدل محل دشکردی نوکوم خلق چې په دی ټولو واقعاتوکی فکرکوی ، داستدلال توفیق هغو ته کیږي) او (لکه چې لوړ په آیت، وَلَئِنْ سَاَلْتَهُمْ، کي ددلیل دمقدمو اعتراف ددي کفارو دطرف څخه ثابت دی ، ځینی وخت په خپله نتیجه ددلیل یعنی دتوحید هم اعتراف کوي چې توحید ورڅخه ښه واضح سو، چنانچی) هرکله چې دا خلق څپی دسائبانونو (یعنی وریځو) په شان (دهر طرف څخه) ګیر کړی نو دوی په خالصه عقیده سره الله ﷻ بولی ، بیاچې کله دوی ته نجات ورکړی او وچې ته یې راولی ، وروسته ځینی خو په دوی کي پراعتدال باندي وي (یعنی دشرك کوړوالی پریږدی

اوتوحید چي برابره لارده اختیارکړی) او (ځینی بیازمونږ دایتونو څخه منکره سي او) زمونږ دایتونو څخه بس هغه خلق انکار کوی ، کوم چي بدوعده اوناشکره دی (چي په کښتی کي یی کومه دتوحید وعده کړی وه ، هغه یی ماته کړه او وچی ته دراتلو مقتضاوه ، شکر کول ، هغه یی پرېښووی)

معلومات اومسئلي: دسورة په شروع کي کفارو اومشرکانو ته په دی خبرداری وو چي دالله ﷻ دعلم محیط اوقدرت مطلقه دښو دلیدو سره بیاهم داخلق په خپل کفر اوشرك اړدی او د دوی په مقابله کي داطاعت شعارو مومنانو ستاینه او د دوی دښه انجام ذکروو. په مینځ کي دحضرت لقمان ﷺ د وصیتونو ذکر هم په یوحیثیت سره ددي مضامینو مکمل کول وو، په ذکرسوو ایتونو کي دالله ﷻ دلوی علم اوقدرت او په مخلوق یی دده داحساناتو په ذکر سره بیا دتوحید طرف ته دعوت دی .

سَخَّرَ لَكُمْ مَا فِي السَّمَاوَاتِ وَمَا فِي الْأَرْضِ ° یعنی مسخرکړی دی الله ﷻ ستاسو دپاره هغه ټول شیان کوم چي په آسمانونوکي دی اوکوم چي په مځکه کي دی ، دمسخرکولو مشهوره معنی یوشی دیوتابع فرمان جوړول دی . دلته په دی داسوال پیدا کیږي چي اول خو دمځکی هم ټول شیان دانسان تابع فرمان نه دی ، بلکی ډیر شیان دده دمزاج خلاف کار کوی ، خاصکر کوم شیان چي په آسمانونوکي دی ، په هغه کي خو د انسان دتابع فرمان کیدو هیڅ احتمال نسته . ځواب دا دی چي په اصل کي دتسخیر معنی یو شی په زبردستی په یوخاص کارکي لګول او پرهغه یی مجبوره کول دی . دآسمانونو اومځکی ټول مخلوقات دانسان دمسخرکولو مطلب دا دی چي داټول مخلوقات یی دانسان په خدمت اونفع رسولو باندي لګولی دی . په دی کي ډیر شیان خو یی داسي په خدمت کي ولګول چي دایی دانسان تابع فرمان هم جوړکړل ، هغه چي څه وخت ځنګه وغواړی دا استعمالوی . ډیر شیان داسي دی چي هغه دانسان په کارکی خولګول سوی دی او دانسان خدمت کوي مګر په تقاضا دحکمت ربانی یی هغه دانسان تابع کړی نه دی ، لکه چي اسمانی مخلوق ستوری، اوبرق باران وغیره،که دایی دانسان دحکم تابع جوړکړی وی ، نو د انسانانو دطبیعتونو، مزاجونو اوحالاتو داختلافاتو به پر دوی اثر لویدی . یو ٓانسان به غوښتله چي لمر دی ژر را وخیژی ، بل به غوښتله چي نه ناوخته دی کړی . یو سړی به باران غوښتی ، بل به په سفر کي پر ډاک وو، هغه به غوښتل چي باران دی نه وی ، نو دی متضادو تقاضاوو به داسمانی کائناتو په عمل کي تضاد او خلل پیدا کولی . په دی وجه الله ﷻ داټول شیان دانسان په خدمت کي ولګول ، مګر دده دحکم تابع یی نه کړل دا هم یو قسم تسخیر دی . والله اعلم

وَأَسْبَغَ عَلَيْكُمْ نِعَمَهُ ظَاهِرَةً وَبَاطِنَةً ° داسباغ معنی مکمل کول دی . معنی دا ده چي مکمل کړل الله ﷻ پرتاسو خپل ظاهری نعمتونه اوباطنی نعمتونه . دظاهری نعمتونو څخه مراد هغه نعمتونه دی کوم چي انسان په خپلو حواسو خمسه وو سره محسوس اومعلوموی مثلاً ښائسته صورت دانسانی اندامونو اعتدال اوهر اندام په داسي تناسب سره جوړول کوم چي دانسان په کارکی د زیات څخه زیات مددګار هم وي اوشکل

صورت یې هم خراب نه وي . دغه رنګه رزق، مال دولت، دمعیشت اسباب، تندرستي اوعافیت داټول ښکاره نعمتونه اومحسوس نعمتونه دي . دغه رنګه ددین اسلام اسانول او دالله ﷻ او درسول ﷺ داطاعت توفیق کیدل او داسلام پر نورو دینونو غالب راتلل او ددښمنانو په مقابله کي دمسلمانانو مدد کیدل هم په دې ظاهري نعمتونو کي دا خل دي اوباطني نعمتونه هغه دي کوم چي دانسان دزړه سره متعلق دي لکه ایمان او دالله ﷻ معرفت ، علم او عقل ، ښه اخلاق ، دګناهونو پرده پوشي او په جرمونو فوراً سزا نه ورکول او داسي نور دي .

وَلَوْاَنَّمَافِی الْاَرْضِ مِنْ شَجَرَةٍ اَقْلَامٌ په دې آیت کي الله ﷻ دخپلو معلوماتو، دخپل قدرت دتصرفاتو او دخپلو نعمتونو یو مثال ورکړی دی چي دا غیر متناهي دي ، نه په یوه ژبه دغه ټول ادا کیدی سي ، نه په قلم سره ټول لیکلی سي . مثال یې دا فرمایلي دی چي په ټوله مځکه کي څومره درختی دي که ددې ټولو دښاخونو څخه قلمونه جوړ سي او ددې دلیکلو دپاره سمندر سیاهي سي او دا ټول قلمونه دالله ﷻ معلومات اوتصرفات دقدرت لیکل شروع کړي ، نوسمندر به ختم سي اومعلومات اوتصرفات به ختم نه سي او دسمندرڅخه که ددې په شان ورسره اووه سمندرونه نور هم شامل سي ، بیابه هم سمندرونه ختم سي لیکن دالله ﷻ کلمي به ختمي نه سي . دکلمي څخه مراد دهغه دعلم اوحکمت کلمي دي «روح او مظهري» او دقدرت شان او د الله ﷻ نعمتونه هم په دې کي دا خل دي او د اووه سمندرونو مطلب دا نه دی چي یو ځای اووه سمندرونه موجود دي بلکي مراد دا دی چي دیو سمندر سره فرض کړه چي نور اووه سمندرونه یو ځای سي خو بیابه هم په دې ټولو سره دالله ﷻ ټولي کلمي ونه لیکل سي او د اووه شمیر هم په طور دمثال دی ، حصر مقصود نه دی او ددې دلیل دقرآن په بل آیت کي دی ، په کوم کي چي فرمایي . قُلْ لَوْكَانَ الْبَحْرُمِدَادًالِكَلِمَاتِ رَبِّي لَنَفِدَالْبَحْرُ قَبْلَ اَنْ تَنْفَدَكَلِمَاتُ رَبِّي وَلَوْجِئْنَابِمِثْلِهٖ مَدَدًا، یعنی که سمندر د الله ﷻ دکلمو لیکلو دپاره سیاهي جوړه سي ، نو سمندر به ختم سي او دالله ﷻ کلمي به ختمي نه سي او صرف دا سمندر نه دده په شان که بل سمندر هم ورسره شامل کي ، بیابه هم خبره دا وي . په دې آیت کي یې بِمِثْلِهٖ وفرمایل او اشاره یې وکړه چي که دا سلسله ترلیرې پورې ولاړه سي چي ددې سمندر په مثل بل سمندر ووینی ، بیاددې په مثل دریم څلورم مطلب دا چي دسمندرونو څومره مقدار چي فرض کړی ددې سیاهي دالله ﷻ دکلمو احاطه نه سي کولای په عقلي طور سره وجه ښکاره ده چي سمندرونه اووه نه که اووه زره هم وي خوهغه په هرحال محدود اومتناهي دي او دالله ﷻ کلمات یعني معلومات غیر متناهي دي یو متناهي شی دغیر متناهي احاطه به څنګه وکړل سي .

په ځینو روایتونو کي دي چي دا آیت دیهودو دعالمانو دیوسوال په ځواب کي نازل سو، وجه دا وه چي په قرآن کي آیت دی . وَمَآاُوتِیْتُمْ مِنَ الْعِلْمِ اِلَّا قَلِیْلًا، یعنی تاسي ته نه دي درکړل سوي ، مګر لږ علم ، کله چي نبی کریم ﷺ مدیني طیبې ته تشریف راوړی نو یو څو عالمان دیهودو حاضر سول او ددې آیت په باره کي یې

معارضه وکړه چي ته کوم وايي چي تاسي ته لږ علم درکړل سوی دی ، دا تا دخپل قوم حال ذکرکړی دی یاکه په دی کي تامونږ هم دا خل کړی یو؟ نبی کریم ﷺ وفرمایل چي زمامراد ټول دی ، یعنی زمونږ قوم هم او یهود اونصارا هم . نودوی دا معارضه وکړه چي مونږ ته خوالله ﷻ تورات راکړی دی ، چي شان یی ، تِبْيَانًا لِّكُلِّ شَيْءٍ ، یعنی دهر شی بیان دی ، نوحضور ﷺ وفرمایل چي دا هم دعلم الهی په مقابله کي ډیر لږ دی ، بیاپه تورات کي چي څومره علم دی دهغه هم تاسی ته پوره علم نسته ، په قدر دکفایت دی . په دی وجه دعلم الهی په مقابله کي دټولو آسمانی کتابونو او دټولو انبیاؤ دعلمونو مجموعه هم ډیره لږ ده . ددي خبري دتائید دپاره دا آیت نازل سو. وَلَوْ أَنَّمَا فِي الْأَرْضِ مِن شَجَرَةٍ أَقْلَامٌ ، الاية (ابن کثیر)

يَا أَيُّهَا النَّاسُ اتَّقُوا رَبَّكُمْ وَاخْشَوْا يَوْمًا لَّا يَجْزِي وَالِدٌ عَن وَلَدِهِ وَلَا مَوْلُودٌ هُوَ

ای خلقو ! وبیریږي دخپل رب څخه او بیره وکی دهغه ورځی څخه چي په کار به رانه سی یو پلار دخپل زوی په بدله کی ، او نه یو زوی په کار راتلای سی

جَازٍ عَن وَالِدِهِ شَيْئًا ۚ إِنَّ وَعْدَ اللَّهِ حَقٌّ ۖ فَلَا تَغُرَّنَّكُمُ الْحَيَاةُ الدُّنْيَا وَلَا يَغُرَّنَّكُم

دپلار په ځای هیڅ هم بیشکه دالله وعده رښتني ده پس دوکه دې نه کی تاسی ددنیاژوندا او دوکه دی نه کی تاسی

بِاللَّهِ الْغَرُورُ ﴿٣٣﴾ إِنَّ اللَّهَ عِندَهُ عِلْمُ السَّاعَةِ وَيُنَزِّلُ الْغَيْثَ وَ

دالله ﷻ دنوم څخه دغه دوکه باز ، بیشکه دالله ﷻ سره دی علم دقیامت ، او نازلوی باران ،

يَعْلَمُ مَا فِي الْأَرْحَامِ ۖ وَمَا تَدْرِي نَفْسٌ مَّاذَا تَكْسِبُ غَدًا ۖ وَمَا تَدْرِي

او پوه دی په هغه چي وی په نس کی دمور او هیڅ نفس ته معلومه نه ده چي صبا به دی څه کوی ؟ او هیڅ

نَفْسٌ بِأَيِّ أَرْضٍ تَمُوتُ ۚ إِنَّ اللَّهَ عَلِيمٌ خَبِيرٌ ﴿٣٤﴾

نفس ته معلومه نه ده چی په کومه ځمکه به مرکیږي ، بیشکه الله ﷻ په هرڅه پوه خبر دار دی .

لنډتفسیر: ای خلقو! دخپل رب څخه بیره کوي (اوکفر اوشرك پریږدی) او دهغه ورځی څخه وبیریږي په کومه کي چي نه پلار دخپل زوی دطرف څخه څه مطالبه اداکولای سي اونه یو زوی سته چي هغه دخپل پلار دطرف څخه یوه ذره هم مطالبه ادا کړی (او دا ورځ خامخا راتلونکی ده ځکه چي ددي په نسبت دالله ﷻ وعده ده او) یقینًا دالله ﷻ وعده رښتنی وی ، وروسته تاسی دی ددنیا ژوند په دوکه کي وانه چوی (چي په دی کي مشغوله سي او ددغه ورځی څخه غافله پاته سی) او نه دی تاسی دوکه باز (شیطان) دالله ﷻ په

نسبت په دوګه کي واچوی (چي تاسی ﷺ په دی لمس کي راسی چي الله ﷻ به تاسی لره عذاب درنه کړی
لکه چي ویل به یی . وَلَئِنْ رُجِعْتُ إِلَىٰ رَبِّي إِنَّ لِي عِندَهُ لَلْحُسْنَىٰ) بیشکه خاص الله ﷻ ته دقیامت خبر دی او
هغه (دخپل علم مطابق) باران وروی (وروسته دهغه علم اوقدرت هم ددي سره خاص دی) اوهغه پوه دی څه
چي (هلك يا انجلۍ دحاملی) په رحم کي دی او یو سړی نه پوهیږي چي هغه به صبا څه کارکوی (په دی هم
هغه عالم دی) او یو سړی نه دی پوه چي دی به په کومه مځکه مری (ددی علم هم هغه ته دی او ددی شیانو
څه تخصیص دی خومره غیب چي دی) بیشکه الله ﷻ په دی هرڅه باندي پوه (اوددغو څخه) خبردار دی (بل
خوك په دی کي شریك نسته)

معلومات اومسئلي: دذکرسوو دوو ایتونو څخه په اول آیت کي یې مومن اوکافر عامو خلقوته خطاب
وفرمایی او دالله ﷻ او دقیامت دحساب څخه یی وبیرول ، ددي دپاره یی دتیاری هدایت کړی دی، يَأَيُّهَا
النَّاسُ اتَّقُوا رَبَّكُمْ، یعنی ای خلقوا وبیریږي دخپل پروردگار څخه، ذلته دالله ﷻ دنوم یادبل صفت پرځای
درب دصفت په انتخاب کولو کي دی طرف ته اشاره ده چي دالله ﷻ څخه دبیری چي کوم حکم دی دا هغه
بیره نه ده ، کومه چي ددرنده یادښمن څخه عادتًا کیدی سی . ځکه چي الله ﷻ خوستاسو رب اوپالونکی
دی ، دهغه څخه داسي هیڅ خطره کول نه دی په کار، بلکی دبیری څخه مراد دلته هغه بیره ده کومه چي
دخپلو مشرانو اوبزرګانو دلویی اوهیبت په وجه لازمه وی ، لکه چي زوی دخپل پلار څخه اوشاګرد د
استاذ څخه بیریږي . هغوی دده دښمنان یاضرر رسوونکی نه وي خو دهغوی لویی اوهیبت یی په زړونو کي
وي او دا دوی دپلار او استاذ په اطاعت مجبوره کوی . دلته هم دامراد دی چي د الله ﷻ لویی اوهیبت
ستاسو پرزړونو باندي غالب په کار دی چي تاسو دده مکمل اطاعت په آسانی سره وکړل سی .

وَاخْشَوْا يَوْمًا لَّا يَجْزِي وَالِدٌ عَن وَلَدِهِ وَلَا مَوْلُودٌ هُوَ جَازٍ عَن وَالِدِهِ شَيْئًا ، یعنی دهغه ورځی څخه وبیریږي په کومه
کي چي نه یو پلار خپل زوی ته څه نفع رسولای سي او نه زوی خپل پلارته څه نفع رسوونکی وی .

مراد ددي څخه هغه پلرونه او اولادونه دی په کومو کي چي یو مومن وي بل کافر، ځکه چي مومن پلار به
دخپل کافر زوی په عذاب کي څه کمی نه سي کولی او نه به ورته څه نفع رسولای سی ، دغه ډول به مومن
زوی دخپل کافر پلار څه په کار ورنه سی .

ددی تخصیص وجه دقرآن کریم نور آیتونه او داحادیثو روایتونه دی، په کومو کي چي ددي توضیح دی
چي دقیامت په ورځ به مور اوپلار د اولاد او اولاد به دمور پلار شفاعت کوي او ددی شفاعت په وجه به
دوی ته کامیابی وی ، په قرآن کریم کي دی . وَالَّذِينَ آمَنُوا وَاتَّبَعَتْهُمْ ذُرِّيَّتُهُم بِإِيمَانٍ أَلْحَقْنَا بِهِمْ ذُرِّيَّتَهُمْ، یعنی کومو
خلقو چي ایمان را وړی او د دوی اولاد هم په ایمان کي د دوی تابع سول یعنی هغوی هم مومنان سول نو
مونږ به د دوی اولاد هم د دوی دصالحانو مور اوپلار درجی ته ورسوو. که څه هم د دوی خپل عملونه ددي
درجی قابل نه وی ، مګر دصالحانو مور اوپلار په برکت سره به په قیامت کي دوی ته هم دا نفع ورسیږي

چي دمور اوپلار مقام ته به ورسول سي مګر په دی کي شرط دا دی چي اولاد مومن وی ، که څه هم په عمل کي ورڅخه څه کوتاهی سوی وی .
دغه رنګه په يوبل آيت کي دی . جَنَّاتُ عَدْنٍ يَدْخُلُونَهَا وَمَنْ صَلَحَ مِنْ آبَائِهِمْ وَأَزْوَاجِهِمْ وَذُرِّيَّاتِهِمْ. يعنى دهميشه اوسيدو په جنتونو کي به دا خل سي او د دوی سره به هغه خلق هم دا خل سي کوم چي د دوی دمور اوپلار، ښځو او اولاد څخه ددې قابل وی . مراد دقابل کيدو څخه مومن کيدل دی .
ددی دواړو آيتونو څخه ثابته سوه چي مور اوپلار او اولاد دغه رنګه خاوند اوښځه که په مومن والی کي شريك وی ، نوبيابه په يوسره بل ته په محشر کي هم فائده رسيږي . دغه رنګه داحاديثو په ډيرو روايتونو کي د اولاد، دمور اوپلار شفاعت کول نقل دی . په دی وجه د ذکرسوی آيت دا قاعده چي يو پلار به زوی ته او زوی به پلار ته په محشرکی څه فائده نه سی رسولای . دا په دی صورت کي دی چي يومومن وي اوبل کافر وی . (مظهری)
فائده: دلته دا خبره دفکر قابله ده چي په دی آيت کي پلار به زوی ته نفع نه سي رسولای . دا خو دفعليه جملی په صورت کی ، لَا يَجْزِي وَالِدٌ عَنْ وَلَدِهِ، په الفاظو سره يی ذکر کړه او په دوهم طرف کي يی دوه تغيره وکړل . يو دا چي دايی داسميه جملی په صورت کي بيان کړه . دوهم په دی کي يی دولد پرځای لفظ دمولود اختيارکی ، حکمت په دی کي دا دی چي جمله اسميه په نسبت دفعليی، زياته مؤکده وی . دجملی په دی تغير کي يی ددي فرق طرف ته اشاره وکړه کوم چي دپلار او اولاد په مينځ کي وي چي دپلار محبت د اولاد سره زيات دی . ددي برعکس د اولاد دمحبت دا درجه په دنيا کي هم د اولاد نفع نه رسول يی مؤکد بيان کړل ، او دلفظ دولد پرځای په دلفظ دمولود اختيارولو کي دا حکمت دی چي مولود صرف اولاد ته ويل کيږي اولفظ دولد عام دی او داولاد اولاد هم په کښی شامل دی په دی کي ددوهم طرف څخه ددي مضمون تائيد داسي وکړل سو چي په خپله دخپل ځان څخه پيدا زوی هم دپلار په کار نه سي ورتلی نو دلمسی او کروسی حال خو معلوم دی .
او په دوهم آيت کي يی دپنځو شيانو علم خاص دالله ﷻ سره مخصوص کيدل ، ده څخه ماسوابل هيڅ مخلوق ته ددغو علم نه کيدل يی بيان کړی دی او په دی يی سورة لقمان ختم کړی دی .

إِنَّ اللَّهَ عِندَهُ عِلْمُ السَّاعَةِ وَيُنَزِّلُ الْغَيْثَ وَيَعْلَمُ مَا فِي الْأَرْحَامِ وَمَا تَدْرِي نَفْسٌ مَّاذَا تَكْسِبُ غَدًا وَمَا تَدْرِي نَفْسٌ بِأَيِّ أَرْضٍ تَمُوتُ ۚ يعنى دالله ﷻ سره دی علم دقيامت (چی په کوم کال په کوم تاريخ به راځی) اوهغه باران ورَوی او هغه پوهيږي په هغه چي په نس دمور کي دی (چی انجلۍ ده اوکه هلك دی اوچی په کوم شکل او صورت دی) او يو سړی نه پوهيږي په دی چي صبابه څه کار کوی (يعنی دخير او شر څخه به څه ورته رسيږی) او يو سړی نه پوهيږي چي دی به پرکومه ځمکه مری .
په اولنيو درو شيانو کي که څه هم دا وضاحت نه دی سوی چي ددي علم ماسوا دالله ﷻ څخه بل چاته نسته

مگرخبره په داسي عنوان سره ذکر سوي ده چي ددغو شیانو دعلم انحصار ورڅخه په علم الهي پوري معلومیږي او په باقي دوو شیانوکی ددی توضیح موجود دی چي ددي علم دالله ﷻ څخه ماسوا بل چاته نسته ، دی پنځو شیانو ته یی دسورة انعام په آیت کي مفاتح الغیب فرمایلي دی . وَعِنْدَهُ مَفَاتِحُ الْغَيْبِ لَا يَعْلَمُهَا إِلَّا هُوَ. یعنی صرف دالله ﷻ سره دمفاتح غیب علم دی هیڅوك پوه نه دی په دی بغیر دالله ﷻ څخه . په حدیث کي یی دی ته مفاتیح الغیب ویلی دی، مَفَاتِحِ او: مَفَاتِيحِ، دمفتاح جمع ده، کیلی یاچابی ته ویل کیږي په کوم سره چي دغیبو معلومات واضح کیږي .

(دعلم غیب مسئله)

ددي مسئلی تفصیل په قدر دضرورت دسورة نمل دایت . قُلْ لَا يَعْلَمُ مَنْ فِي السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضِ الْغَيْبَ إِلَّا اللهُ . لاندي تیرسوی دی ، په دی آیت کي یی مطلق علم غیب دالله ﷻ دپاره مخصوص کیدل په توضیح سره بیان کړی دی او دا دټول امت دمخکنیو او وروستنیو عقیده ده . په زیر بحث آیت کي چي یی کوم صرف پنځه شیان په خصوصیت سره بیان کړی دی چي ددی علم هیڅ مخلوق ته نسته ، صرف الله ﷻ په پوه دی ، دا څه دتخصیص دپاره نه دی کنه نو دسورة نمل آیت به ددي تضاد سی ، بلکی ددي پنځو شیانو دخاص اهتمام ښوولو دپاره یی دلته ددي شیانو ذکر فرمایلي دی .

او وجه دتخصیص او اهتمام دا ده چي په عام طور سره دکومو غیبو دشیان معلومولو چي انسان شوقی وی ، هغه دا پنځه شیان دی . دارنگه دعلم غیب دعوٰی کوونکی نجومیان وغیره چي دکومو شیانو خبرونه خلقو ته ښیی او خپل علم غیب ثابتوی ، هغه دا پنځه شیان دی او په ځینی روایتونو کي دی چي یو سړی دنبی کریم ﷺ څخه ددي پنځو شیانو متعلق پوښتنه کړی وه . په دی دا ایت نازل سو په کوم کي چي ددي پنځو شیانو علم دالله ﷻ سره خاص والی بیان سوی دی (روح)

او په حدیث کي چي کوم په روایت د ابن عمرؓ او ابن مسعودؓ دا ارشاد راغلی دی چی، أُوتِيتُ مَفَاتِحَ كُلِّ شَيْءٍ إِلَّا الْخَمْسَ، (اخرجه امام احمد ،ابن کثیر) په دی کي لفظ د أُوتِيتُ په خپله دا خبره واضحه کړه چي ددي پنځو شیانو څخه علاوه دکومو غائباتو علم چي نبی کریم ﷺ ته حاصل سو هغه دالله ﷻ دطرف څخه په طور دوحی ورکړل سوی وو ، په دی وجه دا دعلم غیب په تعریف کي شامل نه دی ، ځکه چي انبیاء علیهم السلام ته په ذریعه دوحی او اولیاؤ ته په ذریعه دالهام چي کوم دغیبو دشیانو خبر دالله ﷻ دطرف څخه ورکول کیږي ، دهغه حقیقت په اعتبار سره علم غیب نه دی چي ددي پربنا دوی ته عالم غیب وویل سی ، بلکی دا أَنْبَاءُ الْغَيْبِ یعنی دغیب خبرونه دی الله ﷻ چي کله وغواړی اوځومره غواړی خپلو فرښتو او رسولانو او مقبولو بندگانو ته یې ورکوی ، په قرآنکریم کي دی ته : أَنْبَاءُ الْغَيْبِ ویل سوي دی . ذَٰلِكَ مِنْ أَنْبَاءِ الْغَيْبِ نُوحِيهَا إِلَيْكَ ۔

په دی وجه مطلب دحدیث دا دی چي دا پنځه شیان خو الله ﷻ دخپل ذات سره داسي خاص فرمایلي دی چي په طور دانباء غیب یی هم فرښتی او رسول ته ددي علم نه دی ورکړی ، ددي څخه علاوه دنورو غیبو علم لږ

ډیر انبیاء علیهم السلام ته په ذریعه دوحی ورکول کیږي ددی تقریر څخه هم یوه بله وجه ددي پنځو شیانو دخصوصی ذکر معلومه سوه .

(یوه شبهه اوجواب یې)

دذکرسوی آیت څخه داثابته سوه چي مطلق علم غیب کوم چي دالله ﷻ خصوصیت دی ، په دی کي هم په خاص طور سره پنځه ذکر سوی شیان داسي دی چي دهغه علم چاپیغمبر ته په ذریعه دوحی هم نه ورکول کیږي ، ددي تقاضا دا ده چي دا شیان هیڅکله چاته معلوم نه سی . حال دا دی چي دامت د ډیرو اولیاء الله څخه داسي بی شمیره واقعات نقل دی چي دوی کله دباران خبر ورکړی دی یایی چاته دحمل متعلق څه خبر ورکړی دی . دچامتعلق یی اننده دڅه کار کولو یانه کولو خبر ورکړی دی ، دچادمرګ ځای یی متعین ښودلی دی او بیا دا پیش ګویانی ښه په مشاهده سره صحیح ثابتی سوی دی . دغه رنګه ځینی نجومیان یادجفر او رمل وغیره پوهان ددي شیانو متعلق خبرونه ورکوی او ځینی وخت هغه هم صحیح کیږي نو بیا ددي پنځو شیانو خصوصیت دعلم الهی سره څنګه پاته سو؟

ددی یو جواب خو هغه دی کوم چي په سورة نمل کي په تفصیل سره راغلی دی او په لنډه توګه لوړ ذکر سوی دی چي علم غیب په حقیقت کي هغه علم ته ویل کیږي کوم چي دطبعی سبب په واسطه سره نه وی ، بی دواسطی څخه خود بخوده وی . داشیان انبیاء علیهم السلام ته په ذریعه دوحی او اولیاؤ ته په ذریعه دالهام اونجومیانو وغیره ته دخپلو حسابونو اوطبعی اسبابو په ذریعه که حاصل سي نو دا علم غیب نه دی بلکی اِنْبَاءُ الْغَیْبِ دی کوم چي په یوه جزئی او شخصی معامله کي یومخلوق ته حاصلیدل دذکر سوی آیت منافی نه دی . ځکه چی ددي آیت مطلب دا دی چي ددي پنځو شیانوکلی علم کوم چي پرټول مخلوقات اوټولو حالاتو باندي حاوي وي هغه الله ﷻ چاته په ذریعه دوحی یاالهام نه دی ورکړی . کله نا کله ده یوی یانیمی واقعی څه جزئی علم په ذریعه دالهام حاصلیدل ددي منافی نه دی .

ددی څخه علاوه دعلم څخه مراد علم قطعی دی ، دا دالله ﷻ څخه ماسوا بل چاته نسته ، دالهام په ذریعه چي کوم علم یو ولی ته حاصلیږي هغه قطعی نه وي په دی کي دمغالطو ډیر احتمالات وي او دنجومیانو وغیره په خبرونو کي خو هره ورځ لیدل کیږي چي په لسو درواغو کي دیو صحیح مناسب هم نه وي دی ته علم قطعی څنګه ویل کیږي ؟

(دعلم غیب متعلق یوه اهمه فائده)

استاذ محترم شیخ الاسلام حضرت مولانا شبیراحمدعثمانی رحمه الله دخپل تفسیر په فوائدوکی یوه لنډه جامعه خبره فرمایلي ده چي دا ذکرسوی ټول قسمونه داشکالاتو باندي ختمیږي، هغه دا ده چي دغیب دوه قسمونه دی . یو غیبی احکام دی ، لکه دشریعت احکام په کومو کي چي دالله ﷻ دذات اوصفاتو علم هم دا خل دی کوم ته چي دعقیدو علم ویل کیږي اوهغه ټول شرعی احکام هم دکومو څخه چي دا معلومیږي چي دالله ﷻ کوم کارونه خوښ دی او کوم ناخوښه دا ټول شیان دغیبو دی .

دوهم قسم غیبی اکوان یعنی په دنیا کي دراپیښیدونکو واقعاتو علم . د اول قسم غیبو علم حق تعالی خپلو انبیاؤ او رسولانو علیهم السلام ته ورکړی دی چي ذکر یی په قرآنکریم کي داسي راغلی دی . فَلَا يُظْهِرُ عَلٰى غَيْبِهٖۤ اَحَدًا اِلَّا مَنِ ارْتَضٰى مِنْ رَّسُوْلٍ، یعنی الله ﷻ په خپلو غیبو هیڅوك نه خبروی بغیر دهغه درسول څخه کوم چي الله ﷻ ددي کار دپاره خوښ کړی .

او د دوهم قسم یعنی غیبی اکوان، ددي کلی علم خو حق تعالی هیچاته نه ورکوی ، هغه بالکل دذات حق سره مخصوص دی . مگر جزئی علم دخاصو خاصو واقعاتو کله چي غواړی څومره چي غواړی ورکوی یې . دغه دوڼ اصل علم غیب خو تول دالله ﷻ سره مخصوص دی . بیاهغه دخپل علم غیب څخه دغیبو داحکامو علم خو عادتًا انبیاء علیهم السلام ته په ذریعه دوحی ښیی . او دا علم د دوی دبعثت مقصد دی . دغیبی اکوانو علم جزئی هم انبیاؤ او اولیاؤ ته په ذریعه دوحی یا الهام څومره چي الله ﷻ ته منظور وي ورکوی ، کوم چي دالله ﷻ دطرف څخه ورکول سوی علم دی . دی ته دحقیقی معنٰی په اعتبار سره علم غیب نه سي ویل کیدی ، بلکی دغیب خبرونه اِنْبَاءُ الْغَيْبِ ورته ویل کیږي .

(دایت دالفاظو سره متعلق فائدی)

په دی آیت کي دپنځو شیانو علم دالله ﷻ سره مخصوص کیدل په یو خاص اهتمام سره بیانول مقصود دی چي ظاهری تقاضایی دا وه چي په یوعنوان سره پنځه سره شمار سوی وی او ویل سوی وی چي ددي علم دالله ﷻ دذات سره مخصوص دی ، هیڅ مخلوق ته ددي علم نه دی ورکړل سوی مگر په ذکر سوی آیت کي یی داسي ونه کړل ، بلکی د اولنیو درو شیانو علم یی خوپه مثبت طور دالله ﷻ دپاره دخاصوالی ذکر وفرمایی او د دوو شیانو یی دغیرالله څخه دعلم نفی وفرمایله . په اولنیو دروشیانوکی یی هم دعلم ساعت یعنی قیامت ذکر خو داسی وفرمایی چی، اِنَّ اللّٰهَ عِنْدَهٗ عِلْمُ السَّاعَةِ، یعنی دالله ﷻ سره دی علم دقیامت، او د دوهم شی دذکر دپاره یی عنوان بدل کی ، په فعلیه جمله کي یی داسي ذکر وفرمایی: يُنَزِّلُ الْغَيْثَ، یعنی الله ﷻ نازلوی باران، په دی کي دباران دعلم ذکرنسته ، بلکی په دی کي دنازلولو ذکر دی . د دریم ذکر یی بیا عنوان بدل کي او داسي یی وفرمایل چی، وَيَعْلَمُ مَا فِي الْاَرْحَامِ، دعنوان دی بدلولوته دکلام دبلاغت یو تفتن هم ویل کیږي اوچی فکر باندی وسی نو څه نور حکمتونه هم په کښی معلومیږي کوم چي په بیان القرآن کي حضرت تهانوی (رح) بیان کړی دی .

لنډه دا چي اخری دوه شیان یعنی چي صبابه انسان څه کوي او دا چي هغه به په کومه مځکه مری، په خپله دانسان دذات متعلق حالات دی ، په دی کي دااحتمال کیدی سو چي انسان ددي علم حاصل کړی ، په دی وجه یی په دی دوارو کي په خصوصیت سره دغیرالله علم نفی کړی بیان کړی چي په دی سره داولنیو درو شیانو علم دغیرالله دپاره نه کیدل په درجه اولی ثابت سو. چي هرکله انسان دخپلو کارونو اوکسبونو او خپلي انتها یعنی مرگ او ددی ځای نه پیژنی نو دآسمان اوباران نازلیدو او دمور دنس په تیاروکي پټ شی به څه معلوم کړی . او په اخری شی کي یی صرف دمرگ دځای علم انسان ته نه کیدل بیان کړی دی ،

حال دا دی چي دمرگ دځای په شان دمرگ وخت هم دانسان په علم کي نه سي راتلی . وجه دا ده چي ځای دمرگ که څه هم په متعين طور سره معلوم نه وي مگر دښکاره حالاتو په اعتبار سره انسان څه پوهيدی سي چي کوم ځای اوسيږي، هلته به مری اوکم از کم هغه ځای په کوم کي چي دده مرگ دی په دنيا کي موجود خو دی ، په خلاف دمرگ دوخت څخه چي راتلونکی زمانه ده ، تر اوسه په وجود کي هم نه ده راغلی ، نو کوم سړی چي دمرگ ځای کوم چي بالفعل موجود هم دی نه پيژني دهغه متعلق دا تصور څنگه کيدی سي چي دمرگ وخت چي لا تراوسه يی وجود هم نسته دا به وپيژني .


لنډه دا چي دلته ديوشی په نفی سره خود بخوده دنورو شيانو نفی په درجه اولی سره معلوميږي، په دی وجه يی دا دواړه په منفی انداز سره بيان کړل اواولنی دری شيان خو دانسانی وس څخه په ښکاره حالاتو کي په خپله خارج دی ، په دی کي دانسان دعلم دخل نه ليدل واضحه خبره ده په دی وجه يی په دی کي مثبت عنوان اختيارکی ، ددي خاصوالی يی دحق تعالی سره بيان کی .

او په دی کي اوله جمله په جمله اسميه سره او وروسته دواړی جملی په فعليه عنوان سره په ذکر کولوکی شايد دا حکمت دی ، چي قيامت خو يومتعين کار دی ، په دی کي نوی کيدل نسته ، په خلاف دنازليدو دباران او دحمل څخه چي ددي په حالاتو کي نوی کيدل راځی او جمله فعليه پرنوی کيدو باندي دلالت کوی ، په دی وجه يی په دی دواړو کي دا استعمال کړه او په دی دواړو کي يی هم دحمل په حالاتو کي دعلم الهی ذکر وفرمايی . وَيَعْلَمُ مَافِي الْاَرْحَامِ، او دباران په نازليدو کي يی دعلم الهی ذکر ونه فرمايی.

وجه دا ده چي دلته دباران نازلولو ذکر يی وکی . ضمنًا يی دا هم وښودله چي باران دکوم سره چي دانسان په زرگونو نفعی تړل سوی دی هغه هم دالله ﷻ په کولو سره راځی او دچاپه تصرف کي نه دی او ددی دالله ﷻ دعلم سره خاصوالی خو په سياق دکلام سره ثابتيږي . والله سبحانه وتعالی اعلم .

سورة لقمان ختم سو

وَالْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعَالَمِينَ



﴿ سورة السجدة ﴾

سُوْرَةُ السَّجْدَةِ مَكِّيَّةٌ بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ ثَلٰثُوْنَ اٰيَةً وَّثَلٰثُ رُكُوْعَاتٍ

سورة سجده په مکه کي نازل سو په دی کی ديرش (۳۰) آياتونه او دری (۳) رکوع گانی دی

شروع کوم دالله ﷻ په نامه چي بی حده مهربان نهايت رحم والا دی .

الٓمٓ ﴿١﴾ تَنْزِيلُ الْكِتٰبِ لَا رَيْبَ فِيهِ مِنْ رَّبِّ الْعٰلَمِينَ ﴿٢﴾ أَمْ يَقُولُونَ

نازل سوی کتاب دی په دی کی هیڅ شک نسته، درب العالمین دطرف څخه آیا دوی وایی

افْتَرٰىهُ بَلْ هُوَ الْحَقُّ مِنْ رَّبِّكَ لِتُنْذِرَ قَوْمًا مَّآ أَتٰىهُمْ مِّنْ نَّذِيرٍ

چی دایی درواغ جوړ کړی دی، نه ده داسی بلکه هغه حق دی ستا د رب دطرف څخه چی ته وبیروی هغه خلق کوم چی نه دی راغلی بیرونکی.

مِّنْ قَبْلِكَ لَعَلَّهُمْ يَهْتَدُونَ ﴿٣﴾

ستا څخه مخکی چی دوی لار پیدا کی.

لنډتفسير: الٓمٓ (الله ﷻ ته ددی معنی معلومه ده) دا نازل سوی کتاب دی (او) په دی کي هیڅ شبهه نسته (او) دا درب العٰلمین دطرف څخه دی (لکه چي ددی کتاب اعجاز په خپله ددی دلیل دی) آیا دا (منکر) خلق دا وایی چي پیغمبر (ﷺ) دا په خپل زړه کي جوړ کړی دی (یعنی دا وینا محض لغوه او درواغ ده، دا جوړ سوی نه دی) بلکی دا ربښتنی کتاب دی، ستا درب دطرف څخه (راغلی دی) چي ته (ددی په ذریعه) داسي خلق (د الله ﷻ دعذاب څخه) وبیروی کوموته چي ستاڅخه مخکی بیرونکی نه ؤ راغلی چي هغه خلق لار پیدا کی.

معلومات اومسئلي: مَآ أَتٰىهُمْ مِّنْ نَّذِيرٍ، دنذیر څخه مراد دلته رسول دی، مطلب دا دی چي دمکی په قریشو کی دنبی کریم ﷺ څخه مخکی هیڅ رسول نه وو راغلی. ددي څخه دا نه لازمیږي چي دانبیاؤ علیهم السلام دعوت هم دوی ته لانه ؤ را رسیدلی څکه چي دقرآن په نورو آیتونوکی په واضح طور سره ارشاد دی. وَإِنْ مِّنْ أُمَّةٍ إِلَّا خَلَا فِيهَا نَذِيرٌ، یعنی یو امت اوجماعت په دنیاکی داسي نسته په کوموکي چي دالله ﷻ بیرونکی او دهغه طرف ته دعوت کوونکی نه وي راغلی.

په دی آیت کي لفظ دنذیرپه خپله عامه لغوی معنی کي دی یعنی دالله ﷻ طرف ته دعوت ورکوونکی، هغه برابره خبره ده که رسول اوپیغمبروی یادهغوی څوك نائب خلیفه، یاعالم دین، نو ددی آیت څخه معلومیږي چي تولو امتونو اوقومونو ته دتوحید دعوت رسیدلی دی هغه پرخپل ځای صحیح اوټیك اودالله ﷻ درحمت عامه مقتضیٰ ده لکه چي ابوحیان فرمایی چي دتوحیداوایمان دعوت په هیڅ زمانه اوهیڅ ځای اوهیڅ قوم کي هیڅ کله قطع سوی نه دی اوکله چي پرنبوت ددیري زمانی تیریدوڅخه وروسته دهغه نبوت علم لرونکی عالمان ډیرکم پاته سول نوبل نبی اورسول راغلی دی ددي مقتضیٰ داده چي دعربو په قومونوکی هم خامخا دتوحید دعوت به دمخکی څخه رسیدلی وی. مګر ددي دپاره دا ضروري نه ده چي دا دعوت په خپله یو نبی او رسول راوړی وی. کیدی سي چي د دوی دنائبانو عالمانو په ذریعه رسیدلی وی. په دی وجه ددي سورة او

دسورة یٰس وغیره هغه ایتونه دکوم څخه چي دا ثابتیږي چي دعربو په قریشوکی ستاڅخه مخکی یو بیرونکی هیڅ نبی اورسول نه ؤ راغلی که څه هم دایمان اوتوحید دعوت په نورو سره دلته هم رسیدلی وی.
دفطرت زمانه یعنی دنبی کریم ﷺ دبعثت څخه مخکی د ډیرو حضراتو متعلق دا ثابته سوي ده چي هغه پر دین ابراهیم او اسماعیل باندي قائم ؤ، په توحید د دوی ایمان ؤ، دبت پرستی او دبتانو دپاره دقربانی کولو څخه به یی نفرت کوی.
په روح المعانی کي دموسیٰ بن عقبه دمغازی څخه دا روایت نقل دی چي زید بن عمر بن نفیل کوم چي دنبی کریم ﷺ دبعثت او نبوت څخه مخکی د دوی سره لیدلی هم وه . مگر دنبوت څخه مخکی دده انتقال په هغه کال وسو په کوم کي چي قریشو بیت الله آباده کړه او داواقعه د دوی دنبوت څخه پنځه کاله مخکی ده . دده حال موسیٰ بن عقبه دا بیان کړی دی چي قریش به یی دبت پرستی څخه منع کول او دبتانو په نوم قربانی کولو ته به یی ډیر بد ویل او دمشرکانو دذبحو غوښه به یی نه خوړله .
او ابوداود طیالسی د زید بن عمرو بن نُفَیْل دزوی حضرت سعید ﷺ بن زیدبن عمرو څخه کوم چي په اصحابو کراموکی په عشره مبشّره کي دا خل دی ، دا روایت کړی دی چي دوی نبی کریم ﷺ ته عرض وکی چي زما دپلار چي کوم حال ؤ، هغه تاته معلوم دی چي پر توحید قائم دبت پرستی څخه بیزاره ؤ، نو آیا زه دهغه دپاره دبخښنی دعا کولی سم ؟ نبی کریم ﷺ ورته وفرمایل چي هوا کولی یې سی . دهغه دپاره دبخښنی دعا جائز ده ، هغه به دقیامت په ورځ دیو مستقل امت په شکل کي پورته کیږي . (روح)
دغه رنگه ورقه بن نوفل کوم چي دنبوت دشروع کیدو په زمانه او دقرآن دنزول په ابتداء کي موجود ؤ پر توحید قائم ؤ او دنبی کریم ﷺ دمدد کولو خپله اراده یی ښکاره کړی وه، مگر فوراً وروسته دده وفات وسو . دا واقعات ثابتوی چي دعربو قومونه هم ددعوت الهی او دعوت ایمان او توحید څخه محرومه خونه وه ، مگر په خپله په دوی کي دننه نبی نه ؤ راغلی والله اعلم.
په دی دری سره آیتونو کی دقرآن دحقوالی او دنبی کریم ﷺ دبر حق رسول کیدو اثبات دی.

اَللّٰهُ الَّذِیْ خَلَقَ السَّمٰوٰتِ وَ الْاَرْضَ وَمَا بَیْنَهُمَا فِیْ سِتَّةِ اَیَّامٍ ثُمَّ اسْتَوٰی

الله ﷻ هغه ذات دی چي جوړ یی کړل اسمانونه اومځکه او څه چي د دوی په مینځ کی دی په شپږو ورځو کی بیا

عَلَی الْعَرْشِ ؕ مَا لَكُمْ مِّنْ دُوْنِهٖ مِنْ وَّلِیٍّ وَّلَا شَفِیْعٍ ؕ اَفَلَا تَتَذَكَّرُوْنَ ۝۴ یُدَبِّرُ

قائم سو په عرش باندی ، نسته تاسی لره ماسوا دهغه څخه دوست اونه سفارشی آیاتاسی فکرنه کوی ؟په تدبیره سره

الْاَمْرَ مِنَ السَّمَآءِ اِلَی الْاَرْضِ ثُمَّ یَعْرُجُ اِلَیْهِ فِیْ یَوْمٍ كَانَ

نازلوی کار داسمان څخه مځکی ته بیا خیژی دغه کار ده طرف ته په یوه ورځ کي چی

مِقْدَارُهٗٓ اَلْفَ سَنَةٍ مِّمَّا تَعُدُّوْنَ ۝۵ ذٰلِكَ عٰلِمُ الْغَيْبِ وَالشَّهَادَةِ

مقدار یې زرکاله دی ستاسی په شمیرکی دا دی پوهه په پټو او په ښکاره وو

الْعَزِيْزُ الرَّحِيْمُ ۝۶ الَّذِيْٓ اَحْسَنَ كُلَّ شَيْءٍ خَلَقَهٗ وَبَدَاَ خَلْقَ

زبردست رحم والا ، چا چې ښه جوړ کی کوم شي چې یې جوړ کی او شروع یې کی

الْاِنْسَانِ مِنْ طِيْنٍ ۝۷ ثُمَّ جَعَلَ نَسْلَهٗ مِنْ سُلٰلَةٍ مِّنْ مَّآءٍ مَّهِيْنٍ ۝۸

دانسان پیدائش د دختی څخه ، بیا یې جوړ کی دده اولاد دخلاصه سوو بې قدره اوبو څخه ،

ثُمَّ سَوّٰىهُ وَنَفَخَ فِيْهِ مِنْ رُّوْحِهٖ وَجَعَلَ لَكُمُ السَّمْعَ وَالْاَبْصَارَ

بیا یې ده لره برابر کی او پوه یې کی په ده کی خپل روح او جوړ یې کړل ستاسی غوږونه او سترګی

وَالْاَفْـِٕدَةَ قَلِيْلًا مَّا تَشْكُرُوْنَ ۝۹

او زړه تاسی ډیر لږ شکر کوی .

لنډتفسیر: الله دی چاچی اسمانونه اومځکی او هغه مخلوق کوم چي ددي دوارو په مینځ کي (موجود) دی (د) شپږو ورځو (په مقدار) کي پیدا کړل بیاپرعرش (کوم چي مشابه دی دتخت دسلطنت سره داسی) قائم (او جلوه فرما) سو (کوم چي دده دشان سره لائق دی هغه داسي عظیم دی چی) بغیر دده (درضا اواذن) څخه نه ستاسو څوك مددګار سته او نه سفارش کوونکی (البته په اذن سره به شفاعت کیږي او دمدد سره به اذن متعلق نه وی) نو آیاتاسی پوهیږي نه (چی دداسی ذات څوك شریك نسته او) هغه (داسی دی چی) دآسمان څخه واخله ترمځکی پوري (څومره کارونه چي دی) دهرکار (هغه) تدبیر (اوانتظام) کوی ، بیاهرکار به دهغه حضور ته رسیږي په یو داسی ورځ کي دکوم مقدار چي به ستاد شمیر موافق یو زرکاله وي (یعنی په قیامت کي به ټول کارونه او ددی متعلقات دهغه په حضور کي پیش کیږي ، لکه داقول دالله ﷻ، وَاِلَيْهِ يُرْجَعُ الْاَمْرُ كُلُّهٗ) هغه دی پوه په پټو او په ښکاره شیانو زبردست رحمت والا ، هغه چي څه شی جوړکی ښه یې جوړکی (یعنی دکوم مصلحت دپاره چي یی جوړ کی دهغه مناسب یی جوړ کی) او دانسان (یعنی ادم ﷺ) پیدائش یی دخاوری څخه شروع کی ، بیایی دده (انسان یعنی ادم) نسل دنچوړ داخلاطو یعنی یو بی قدره اوبو څخه (یعنی نطفی څخه کومه چي فضله ده دهضم رابع دغذا چي څلور اخلاط وینه، بلغم سودا، صفرا په کښی جوړیږي) جوړ کی بیا (دمور په رحم کی) یی دده اندامونه برابر کړل اوپه ده کي یی (د) خپل (طرف څخه)

روح پُف کړ او (وروسته د پيدا کيدو څخه يې) تاسې ته سترګې او زړه (يعنې ظاهرې او باطنې ادراکات) در کړل (او ددې ټولو خبرو کوم چې په قدرت او انعام باندې دلالت کوي، مقتضا دا وه چې شکر موکولې چې ددې فرد اعظم توحيد دی مګر) تاسې خلق ډير کم شکر ادا کوئ (يعنې نه يې ادا کوئ)

(معلومات اومسئلې: دقيامت دورځې اوږدوالی)

فِي يَوْمٍ كَانَ مِقْدَارُهُ أَلْفَ سَنَةٍ مِمَّا تَعُدُّونَ ' يعنې دهغه ورځې مقدار به ستاسو دشمير په اعتبار سره يو زر کاله وي، او دسورة معارج په آيت کې دي. فِي يَوْمٍ كَانَ مِقْدَارُهُ خَمْسِينَ أَلْفَ سَنَةٍ، يعنې ددغه ورځې مقدار به پنځوس زره کاله وي، ددې يوساده ځواب خوهغه دی کوم چې په بيان القرآن کې اختيارسوی دی چې د هغه ورځې دهيبتناکوالی په سبب سره به هغه خلقوته ډيره اوږده محسوسيږي او دا اوږدوالی به په مقدار دخپل ايمان اوعملونو وي، کوم چې لوی مجرمان دي، هغوی ته زياته اوکم چې کم وي هغوی ته به کمه محسوسيږي، تردې چې کومه ورځ ځينوته يوزر کاله معلوميږي هغه به دنورو په نزد پنځوس زره کاله وي.

په تفسير روح المعاني کې نور هم ډير توجيهات دعلماؤ اوصوفياء کرامو څخه نقل سوي دي، مګرهغه ټول قياسونه دي. داسې شی کوم ته چې دقرآن مدلول وويل سي ياپرکوم چې يقين وسی، يو هم نه دی. په دې کې مسلمه هغه طريقه ده کومه چې سلفوصالحينوصحابوو کرامو اوتابعينو اختيار کړې ده چې دا ډيو اوپنځوس فرق علم الهی ته حواله کې او په خپله يې په دومره وينا بسوالی وکی چې مونږ ته معلومه نه ده.

حضرت ابن عباس ﷺ ددې متعلق فرمايي. هُمَا يَوْمَانِ ذَكَرَهُمَا اللهُ تعالى فِي كِتَابِهِ اللهُ تعالى أَعْلَمُ بِهِمَا وَأَكْرَهُ أَنْ أَقُولَ فِي كِتَابِ اللهِ مَا لاَ أَعْلَمُ، (اخرجه عبدالرزاق والحاکم وصححه) يعنې دا دوې ورځې دي دکومو ذکر چې الله ﷻ په خپل کتاب کې کړی دی او الله ﷻ يې په حقيقت پوه دی او زه به دابده ګنم چې په قرآن کې هغه خبره وکړم دکومې چې ماته علم نسته.

(ددنياهرشې په خپل ذات کې حسن اوښه دی بدوالې په کښې په غلط استعمال سره راځي)

اَلَّذِيْ اَحْسَنَ كُلَّ شَيْءٍ خَلَقَهُ، يعنې الله ﷻ هغه ذات دی کوم چې دهرشی خلقت حسين اوښه جوړکړی دی. وجه دا ده چې په دې عالم کې الله ﷻ څه پيدا کړی دي، هغه يې دعالم دحکمت او مصلحت په اقتضاسره جوړ کړی دي. په دې وجه هر شی دخپل ذات په اعتبار سره يو حُسن لري او ددې ټولو څخه زيات حسين اوښه يې انسان جوړ کړی دی، لکه چې ارشاد فرمايي. لَقَدْ خَلَقْنَا الْإِنْسَانَ فِي أَحْسَنِ تَقْوِيْمٍ، يعنې مونږ انسان دټولو څخه زيات په ښائسته انداز اوښه شکل او صورت کې پيدا کړی دی.

او نور مخلوقات برابره خبره که هغه په ښکاره کې هرڅومره قبيح اوبدګڼل کيږي، سپی، خنزير، مار، لړم، زمرې اوشرمښ، دا ټول زهرناك او درنده حيوان په عامو نظرونو کې بد ګڼل کيږي. مګر دمجموعه عالم دمصلحتونو په اعتبار سره په دې کې هيڅ بدوالی نسته، چاڅه ښه ويلی دی.

نهی هی چيز حکمی کوئی زمانی می کوئی برا نهی قدرت کی کارخانی می

هيڅ شی بی کاره په دنيا کې نسته او دقدرت په کارخانه کې هيڅ شی ناکاره نسته

حضرت حکیم الامة (رح) فرمایی چي په . كُلَّ شَيْءٍ کي تول جواهر او اعراض دا خل دي یعنی هغه شیان هم
کوم چي جوهری وجود لري لکه حیوانات نباتات، جمادات وغیره او اعراض هم په کوموکی چي اخلاق او
اعمال هم دا خل دي ، تر دي چي کومو اخلاقو ته بد ویل کیږي ، لکه غصه، حرص شهوت وغیره دا هم په
خپل ذات کي ناکاره نه دي ، د دوی بدی په بغیر دمصرف کي صرف کول او په بی محله استعمالولو سره
وي چي په خپل محل کي وی ، نو په دی کي هیڅ شی بد نه دی . لیکن مراد ددي څخه ددي شیانو جهت
دتخلیق اوتکوین دی چي هغه سراسر خیر او خیر اوښه اوښه دی ، او دعملونو بل جهت دانسان کسب او
اکتساب دی یعنی خپل اختیار دیو کار په کولو کی صرف کول ، نو په دی حیثیت سره تول حسن نه دی ،
بلکه په دی کي تفصیل دی چي الله ﷻ دکومو اجازه نه ده ورکړی هغه حسن نه دی قبیح دی.والله تعالی اعلم
وَبَدَأَ خَلْقَ الْإِنسَانِ مِن طِينٍ، ددي څخه مخکی دا ښودل سوي ده چي الله ﷻ دعالم هرشی حسن جوړکړی
دی ، ددي څخه وروسته د انسان ذکر فرمایی کوم چي په دی تولو کي زیات حسین دی . ددي سره دکمال
قدرت د اظهار دپاره یی دا هم وښودله چي کوم انسان مونږ دتول مخلوق څخه زیات ښه جوړکړی دی ، دا
داسی نه ده چي دده دپیدائش ماده څه زیاته شریفه او اعلی اخستل سوي ده ، په دی وجه دتولو څخه
غوره سوبلکی دپیدائش ماده خودده دتولو څخه کمتر شی یعنی مَنی جوړه سوي ده . بیا قدرت کامله او حکمت
بالغه دا کمترین شی دکوم خای څخه کوم خای ته ورسوی او اشرف المخلوقات یی وګرځوی .

وَقَالُوا أَءِذَا ضَلَلْنَا فِي الْأَرْضِ أَءِنَّا لَفِي خَلْقٍ جَدِيدٍ ۚ بَلْ هُم بِلِقَاءِ

او وایی چي کله مونږ ورک سو په مځکه کی نو آیا مونږ په بیا نوی جوړ سو ؟ هیڅ نه دی بلکه دوی په ملاقات

رَبِّهِمْ كَافِرُونَ ۝١٠ قُلْ يَتَوَفَّاكُم مَّلَكُ الْمَوْتِ الَّذِي وُكِّلَ بِكُمْ ثُمَّ إِلَىٰ رَبِّكُمْ تُرْجَعُونَ ۝١١

دخپل رب منکردی ته ووایه قبض کوی تاسی ملائکی دمرګ کومی چي په تاسی مقرردی بیابه خپل رب طرف ته

وَلَوْ تَرَىٰ إِذِ الْمُجْرِمُونَ نَاكِسُو رُءُوسِهِمْ عِندَ رَبِّهِمْ رَبَّنَا أَبْصَرْنَا

بیرته راسی اوکله چي ته ووینی څه وخت چي مجرمان کښته کړي وي سرونه خپل دخپل رب په مخکي ای ربه زمونږ

وَسَمِعْنَا فَارْجِعْنَا نَعْمَلْ صَالِحًا إِنَّا مُوقِنُونَ ۝١٢ وَلَوْ شِئْنَا لَآتَيْنَا

مونږ ولیدل او واورېدل اوس مونږ ولیږه چي وکړونیک کار زمونږیقین راغی ، اوکه مونږ غوښتلای نوورکړی به

كُلَّ نَفْسٍ هُدَاهَا وَلَٰكِنْ حَقَّ الْقَوْلُ مِنِّي لَأَمْلَأَنَّ جَهَنَّمَ مِنَ

مو وه هر یو نفس ته دده لار ، اولیکن ثابته سوه خبره زمونږ چي زه به ډک کړم د دوږخ

الْجِنَّةِ وَالنَّاسِ اَجْمَعِيْنَ ﴿۱۳﴾ فَذُوْقُوْا بِمَا نَسِيْتُمْ لِقَآءَ يَوْمِكُمْ

دپیریانو او انسانانو څخه په جمع ، پس اوس وڅکی خوندونه لکه چی تاسی هیره کړی وه دا ورځ دملاویدو

هٰذَا ۚ اِنَّا نَسِيْنٰكُمْ وَذُوْقُوْا عَذَابَ الْخُلْدِ بِمَا كُنْتُمْ تَعْمَلُوْنَ ﴿۱۴﴾ اِنَّمَا

مونږ هم هیر کړل تاسی او وڅکی عذاب دهمیشه په بدله دخپلو کړو کي زمونږ

يُؤْمِنُ بِاٰيٰتِنَا الَّذِيْنَ اِذَا ذُكِّرُوْا بِهَا خَرُّوْا سُجَّدًا وَّسَبَّحُوْا بِحَمْدِ

خبری هغه منی چی کله ورته یادی کړل سی نو پری په وزی په سجده او تسبیح وایی دخپل رب دثنا سره

رَبِّهِمْ وَهُمْ لَا يَسْتَكْبِرُوْنَ ﴿۱۵﴾ السجدة تَتَجَافٰى جُنُوْبُهُمْ عَنِ الْمَضَاجِعِ

او دوی تکبر نه کوی ، جلا وسیږي د دوی بغلونه دخپل بیده کیدو دځای څخه

يَدْعُوْنَ رَبَّهُمْ خَوْفًا وَّطَمَعًا وَّمِمَّا رَزَقْنٰهُمْ يُنْفِقُوْنَ ﴿۱۶﴾ فَلَا تَعْلَمُ

بولی خپل رب ته په بیره او په طمع سره او زمونږ د ورکړو څخه خرچ کوی ، پس هیڅ

نَفْسٌ مَّآ اُخْفِيَ لَهُمْ مِّنْ قُرَّةِ اَعْيُنٍ ۚ جَزَآءًۢ بِمَا كَانُوْا يَعْمَلُوْنَ ﴿۱۷﴾

نفس ته معلوم نه دی کوم چی پټ دی د دوی دپاره دسترګو یخوالی بدله دهغه چی دوی کول ،

اَفَمَنْ كَانَ مُؤْمِنًا كَمَنْ كَانَ فَاسِقًا ؕ لَا يَسْتَوٗنَ ﴿۱۸﴾ اَمَّا الَّذِيْنَ

آیا پس هغه څوک چی په ایمان دی برابر دی دهغه سره چی نافرمان دی ، نه دی برابر ، پس هغه خلق چی

اٰمَنُوْا وَعَمِلُوا الصّٰلِحٰتِ فَلَهُمْ جَنّٰتُ الْمَاْوٰى ۫ نُزُلًۢا بِمَا كَانُوْا

ایمان راوړی او نیک کارونه وکړی دهغوی دپاره باغونه دی د اوسیدو میلمستیا ده دهغوی دکارونو په وجه

يَعْمَلُوْنَ ﴿۱۹﴾ وَاَمَّا الَّذِيْنَ فَسَقُوْا فَمَاْوٰىهُمُ النَّارُ ؕ كُلَّمَآ اَرَادُوْٓا اَنْ

چی کول یی ، او هغه خلق چی نافرمانه سول پس دهغوی کور دی اور هرکله چی غواړی

يَخْرُجُوْا مِنْهَآ اُعِيْدُوْا فِيْهَا وَقِيْلَ لَهُمْ ذُوْقُوْا عَذَابَ النَّارِ الَّذِيْ

چې ووزي ددې څخه واپس کوالی سی بیاهغه ته او وبه ویل سی هغوی ته وڅکی عذاب داور هغه

كُنْتُمْ بِهٖ تُكَذِّبُوْنَ ﴿۲۰﴾ وَلَنُذِيْقَنَّهُمْ مِّنَ الْعَذَابِ الْاَدْنٰى دُوْنَ

کوم چې تاسی درواغجن کول ، او خامخا به وڅکؤ مونږ دوی ته لږ عذاب مخکې

الْعَذَابِ الْاَكْبَرِ لَعَلَّهُمْ يَرْجِعُوْنَ ﴿۲۱﴾ وَمَنْ اَظْلَمُ مِمَّنْ ذُكِّرَ بِاٰيٰتِ

د لوی عذاب څخه ددې دپاره چې دوی بیرته راسی ، او څوک دی بی انصافه زیات دهغه څخه چې یادی سی

رَبِّهٖ ثُمَّ اَعْرَضَ عَنْهَا اِنَّا مِنَ الْمُجْرِمِيْنَ مُنْتَقِمُوْنَ ﴿۲۲﴾

ورته د رب خبری بیا مخ واړوی دهغه څخه ، خامخا مونږ ددی ګناهګارانو څخه بدله اخیستونکی یُو

تفسیر: او دا (کافران) خلق وایی چې مونږ کله په مخکه کي (خاوری سو) نیست نابوده سو نو آیامونږ به بیا (په قیامت کی) دنوی سره ژوندی سو (او دا خلق په دی بیا پورته کیدو صرف تعجب نه کوي لکه چي په ښکاره د دوی دعنوان څخه معلومیږی) بلکی (په حقیقت کی) هغه خلق دخپل رب سره دلیدلو منکر دی (او دا استفهام د دوی انکار دی) ته (په ځواب کی) وفرمایه چي ستاسو روح دمرګ فرښته قبض کوي کومه چي په تاسو (دالله ﷻ دطرف څخه) مقرره ده بیابه تاسو دخپل رب طرف ته بیرته را وستل سی (په ځواب کي اصل مقصود خودا، تُرْجَعُوْنَ، دی او،يَتَوَفّٰكُمْ، په مینځ کي زیاتول دبیرولو دپاره دی چي مرګ هم دفرښتی په ذریعه راځی کوم چي به تاسو دروح اخستو په وخت کي وهی تکوی هم بلکی چي په بل آیت کي دی. وَلَوْ تَرٰٓى اِذْ يَتَوَفَّى الَّذِيْنَ كَفَرُوا الْمَلٰٓئِكَةُ يَضْرِبُوْنَ وُجُوْهَهُمْ وَاَدْبَارَهُمْ، وروسته دمرګ انجام صرف خاورو کیدل نه سو لکه چي ستاسو دخبری ، ءَاِذَا ضَلَلْنَا، الخ څخه معلومیږی) او (ددی دواپس کیدو په وخت کي چي ترجعون دلالت باندي کوی) که ته (ددی خلقو حال) ووینی نوعجیبه حال به ووینی ، هرکله چي دا مجرمان خلق (د ډیر شرم څخه) دخپل رب په مخکی سرونه کښته کری (ولاړ) وي (او وایی به) چي ای زمونږ پروردګاره ! (اوس) سترګي اوغوږونه خلاص سول او معلومه سوه (چي پیغمبرانو څه ویلی وه تول حق وه) وروسته مونږ (دنیا ته) بیا ولیږه مونږ به (اوس چي ولاړ سو ښه) نیک کارونه وکړو (اوس) زمونږ پوره یقین رالی او (دا وینا به د دوی محض بی کاره وي ځکه چي) که مونږ ته (دا) منظوره وای (چي خامخادوی پرلاره سی) نو مونږ به هر یو سړی ته دده (دنجات) لاره (مقصود ته درسید وپه درجه کي خامخا) ورکولی (لکه چي

هدایت په معنٰی دلاره ښوولو دوی ته ورکول کیږی) اولیکن زما (خو) دا (ازلی تقدیری) خبره ده (په ډیرو حکمتونو سره) ثابته سوي ده چي زه به جهنم دپیریانو او انسانانو دواړو څخه (چي کوم کافران وی) خامخا ډکوم (او بیان دځینو حکمتونو دسورة هود په اخر کی دداسی آیت په تفسیر کي تیرسوی دی) نو (دوی ته به وویل سي چي) اوس ددي خوند وڅکی چي تاسو خپله دا ورځ راتلل هیره کړی وه مونږ تاسو هیرکړاست (یعنی درحمت څخه مو محرومه کړاست چي دی ته یی هیرول مجازاً وویل) آو (مونږچی دا وایوچی خوند وڅکی نو دیوی دوو ورځو نه بلکی ددي حقیقت دا دی چي) دخپلو (بدو) عملونو په وجه دهمیشه عذاب خوند وڅکی (دا خو دکفارو حال او د دوی انجام سو، مخ ته دمومنانو دحال اوانجام ذکر دی، یعنی) بس زمونږ په ایتونو خو هغه خلق ایمان راوړی چي کله دوی ته هغه ایتونه وریاد سي نوهغوی پرسجده پریوزی (چي ددي تحقیق دسورة مریم په څلورمه رکوع کي سوی دی) او دخپل رب په ثناء صفت کي شروع سي او دا خلق (دایمان څخه) تکبر نه کوي (لکه چي دکافر حال راغلی دی ، ولٰی مُستَکبِراً، دا خو د دوی دتصدیق او اقرار او اخلاص حال ؤ او دعملونو حال یی دا دی چي دشپی) د دوی بغلونه دخوب دځایونو څخه جلا وی (برابره خبره ده که دماخستن دفرض لمونځ دپاره وي یادتهجدلمانځه دپاره هم او په دی سره تول روایتونه جمع سول او یوازي جلانه وی) بلکی په دی طور (جلاوی) چي هغه خلق خپل رب (دثواب) په امید سره او (دعذاب) په بیره سره بلی (په دی کي لمونځ او دعا او ذکر تول را غلل) او زمونږ دورکړو شیانو څخه خرځ کوي (مطلب دا دی چي دایمان راوړونکو دا صفتونه دی چي په دی کي ځینی دنفس ایمان موقوف علیه دی اوځینی دکمال ایمان) وروسته هیچاته خبر نسته کوم کوم دسترګو دیخوالی اسبابونه چي دداسی خلقو دپاره په خزانه دغیب کي موجود دی دا دوی ته د دوی د (نیکو) عملونو بدله ورکول کیده (اوکله چي د دواړو فریقو حال او انجام معلوم سو) نو (اوس ووایاست) کوم سری چي مومن وي آیادهغه سری په شان به وي کوم چي بی حکم (یعنی کافر) وي (نه) هغوی په خپل مینځ کي (نه په حال او نه په انجام سره) برابریدی نه سي (هم دارنګه معلومه سوی هم ده اوخاص په انجام کي دنه برابریدو تفصیل دتاکید دپاره بیاهم واوری چي) کوم خلق ایمان راوړی او دوی نیك کارونه وکړی وروسته د دوی دپاره دهمیشه اوسیدو جنتونه دی کوم چي د دوی د (نیکو) عملونو په بدله کي په طور د دوی دمیلمستیا دی (یعنی دمیلمه په شان به دوی ته دا شیان په عزت او اکرام سره ورکول کیږي نه دا چي دسوال کوونکی محتاج په شان په بی قدری اوبی وقعتی سره) او کوم خلق چي بی حکم وه وروسته د دوی ځای دوزخ دی ، هغه خلق چي کله ددي څخه دباندی وتل غواړی (اوغاړی ته ورایسته کیږي ، که څه هم په وجه دژوروالی او دروازو دتینګوالی وتلی نه سي مګر په داسي وخت کي دا حرکت طبعی وی) نو بیابه دی ته وردیکه کول کیږي او دوی ته به وویل سي چي د دوزخ هغه عذاب وڅکی کوم چي تاسی درواغجن کوي (اودا عذاب وعده سوی خو به په اخرت کي وی) اومونږ به دوی ته دا نژدی (یعنی په دنیا کي راتلونکی)عذاب هم دهغه لوی عذاب

(چي وعده يې په اخرت كي ده) ځينې ځكى وځكوو (لكه مرضونه مصيبتونه، لكه چي په دُرِّ كي مرفوعًا اوموقوفًا دي ، ځكه چي مرضونه او افتونه موافق دوضاحت دقرآن اكثره دبدو عملونو په سبب سره وي ددي دپاره چي دا خلق (متاثره سي دكفر ځنې) بيرته را وګرځي (لكه دا قول دالله ﷻ دى ، ظَهَرَالْفَسَادُ (تر) يَرْجِعُوْنَ، پوري (بياچي ځوك را ونه ګرځي دهغه دپاره لوى عذاب دى) او (په داسي خلقو دعذاب راتلو څه تعجب نه دى كول په كار ځكه چي) دهغه سړي ځنې زيات ظالم به ځوك وي كوم ته چي دده درب آيتونه ورياد سى ، بيا هغه ددغو ځنې منع وكړي (نو دده دعذاب په مستحق كيدو كى څه شبهه ده ، په دى وجه) مونږ به دداسى مجرمانو ځنې بدله واخلو.

معلومات اومسئلي: قُلْ يَتَوَفّٰكُمْ مَلَكُ الْمَوْتِ الَّذِى وُكِّلَ بِكُمْ، ددي ځنې په مخكى آيت كي دقيامت منكرانو ته خبرداري او د دوى دتعجب ځواب ؤ چي دمړ كيدو او خاورى كيدو ځنې وروسته به دوباره څنګه ژوندى سو؟ په دى آيت كي ددي بيان دى چي خپل مرګ ته وګورى اوفكر باندي وكى نو دا په خپله دالله ﷻ دكامل قدرت يولوى مظهر دى . تاسو په خپل غفلت اوجهل سره داګنى چي دانسان مرګ خود بخوده راځى . خبره دانه ده بلكى دالله ﷻ په نزد ستاسو دمرګ يو وخت مقرر دى او ددى دپاره دفرښتو يوخاص نظام دى چي مشر په كښي عزرائيل ﷺ دى چي دټولى دنيا مرګ يې دده په انتظام كي وركړى دى . دكوم سړي چي څه وخت په كوم ځاى كي مرګ مقرر وى ، خاص پرهغه وخت روح ورقبض كوى . په ذكرسوى آيت كي ددي بيان دى ، او په دى كي يې ملك الموت په لفظ دمفرد ذكر كړى دى ، ددي ځنې مراد عزرائيل ﷺ دى. اوپه يو بل آيت كي فرمايي . اَلَّذِيْنَ تَتَوَفّٰهُمُ الْمَلٰئِكَةُ په دى كي يې ملائكه په لفظ دجمع راوړى دى . په دى كي اشاره ده چي عزرائيل ﷺ يوازي داكار نه كوي دده لاندي ډيرى فرښتي په دى كي دده شريكى دى.

(د روح قبض كول او دملك الموت متعلق ځيني تفصيلات)

دتفسير امام مجاهد فرمايي چي ټوله دنيا دملك الموت په مخكى داسي ده لكه ديوانسان په مخكى چي په يو ښكاره تالى كي دانى پرتى وي او دى چي كومه وغواړي پورته كولاى يې سى ، دا مضمون په يو مرفوع حديث كي هم راغلى دى . (ذكره القرطبى فى التذكرة)

او په يوحديث كي دى چي نبى كريم ﷺ يو وار ديو انصارى صحابى سرته ملك الموت وليدى نووى فرمايل چي زما دصحابى سره دنرمى معامله كوه . ملك الموت ځواب وركى چي ته مطمئن اوسه ، زه دهرمومن سره دنرمى معامله كوم اووى فرمايل چي ځومره خلق په ښارونو كي ياپه كليو، ځنګلونو، غرونو او دريابونو كي اباد دى ، زه په دوى كي هريو د ورځى پنځه وارى وينم ، په دى وجه زه د دوى دهر كوچنى لوى ځنې بى دواسطى ځنې خبرداريم ، بيايى وفرمايل چي اى محمدا (ﷺ) دا هرڅه چي دى دالله ﷻ په حكم سره دى كنه نو زه كه ديوي غوماشى روح قبض كول هم وغواړم نو زما پر دى قدرت نسته ، تر ځو پورى چي دالله ﷻ امر ددي دپاره رانه سى .

(ایا د حیواناتو روحونه هم ملك الموت قبض کوي؟)

دحدیث د ذکر سوو روایتونو څخه معلومیږي چي دغو ماشي روح هم دالله ﷻ په اذن سره ملك الموت قبض کوي . حضرت امام مالك دیوې پوښتني په ځواب کي دا هم فرمایلي دی . مګر دنورو روایتونو څخه دا معلومیږي چي دفرښتو په ذریعه دروح قبض کول دانسان سره خاص دی ، دده دشرافت اوکرامت دپاره باقي حیوانان دخدای په اذن بی دواسطي دفرښتي څخه مړکیږي . (ذکره ابن عطیه ازقرطبي)

دا مضمون ابو الشیخ، عقیلی، دیلمي وغیره دحضرت انس ﷜ په روایت سره مرفوعًا نقل کړی دی چي نبی کریم ﷺ فرمایلي دی چي حیوانان اوحشرات الارض ټول دالله ﷻ په تسبیح کي مشغوله وي «دا د دوی ژوند دی» کله چي د دوی تسبیح ختم سی ، نوالله ﷻ د دوی روح قبض کړی دځاروو مرګ ملك الموت ته نه دی سپارل سوی . ددي مضمون یو حدیث دحضرت ابن عمر ﷜ څخه هم روایت سوی دی . (مظهري)

او په روایت کي دی چي هرکله الله ﷻ عزرائیل ﷤ ته دټولي دنیادمرګ معامله وسپارله نو دوی عرض وکی چي ای زماپروردګاره ! تاماته داسي خدمت وسپاری چي ټوله دنیا اوټول انسانان زما بد وایی ، او کله چي زماذکر راځي نو په دی سره به یی کوی . حق تعالی ﷻ وفرمایل چي مونږ ددي تدارك داسي کړی دی چي په دنیا کي مو دمرګ څه ظاهري اسباب اومرضونه اینبي دی ، چي ددي په وجه به ټول خلق دمرګ نسبت ددغه اسبابو اومرضونو طرف ته کوي ، ته به د دوی دبدګویی څخه محفوظ یی . (قرطبي في التفسير والتذكرة)

او امام بغوي دحضرت ابن عباس ﷜ څخه روایت کړی دی چي نبی کریم ﷺ فرمایلي دی چي څومره مرضونه دردونه او زخمونه وغیره دی دغه ټول دمرګ قاصدان دی ، انسان ته دده مرګ ورياد وی ، بیاچي کله دمرګ وخت راسی نو ملك الموت مړ کیدونکی ته وایی چي ای دخدای بنده مادخپلو راتلو څخه مخکی څومره خبرونه څومره قاصدان پرله پسی ستا دخبردارولو دپاره او دمرګ دتیاری کولودپاره په صورت دمرضونو اوحادثو درلیږلی وه اوس زه راورسیدم، چي ددي څخه وروسته به یوخبر کوونکی یایو قاصد رانه سي اوس به ته دخپل رب حکم لامحاله مني خواه که په خوشحالی سره یاپه مجبوری سره وی (مظهري)

مسئله: ملك الموت دچا دمرګ وخت دمخکي څخه نه پیژني تر څو چي ده ته حکم نه وي سوی چي دفلاني روح قبض کړه . (اخرجه احمد وابن ابی الدنیا عن معمر، مظهري)

تَتَجَافٰى جُنُوبُهُمْ عَنِ الْمَضَاجِعِ يَدْعُوْنَ رَبَّهُمْ خَوْفًا وَّطَمَعًا ، په تیرو آیتونوکي کفارو مشرکینو اومنکرینوته دقیامت خبرداری وو ، ددي څخه وروسته په اِنَّمَا يُؤْمِنُ بِاٰيٰتِنَا ، سره دمخلصو مومنانو خاص صفتونه او د دوی دپاره دلویو درجو ذکر دی . ددي مومنانو یو صفت یی په ذکرسوی آیت کي دابنولی دی، چي د دوی ارخونه دخپلو بسترو څخه جلاوی او دبسترو څخه پورته سوی دالله ﷻ په ذکر او دعاکي مشغوله وی ، ځکه چي دا خلق دالله ﷻ دناراضتیا اوعذاب څخه بیریږي او دهغه درحمت اوثواب امید واروی ، ددي امید او بیری ګډوډ حالت دی د ذکر او دعا دپاره مضطرب ساتي .

(دتهجد لمونځ)

دبسترو څخه دپورته کیدلو اوپه ذکر او دعا کی دمشغولیدلو څخه مراد، دجمهورو مفسرینو په نزد دتهجد لمونځ او نفلونه مراد دی کوم چي دخوب څخه دپورته کیدو څخه وروسته کول کیږي «داقول دحسن مجاهد، مالك او او زاعی دی» او د احادیثو د روایتونو څخه هم ددي تائید کیږي.

په مسنداحمد، ترمذی، نسائی وغیره کي دحضرت معاذ بن جبل ﷺ څخه روایت دی چي زه یو وار دنبی کریم ﷺ سره په سفر کي وم. یوه ورځ دسفر په دوران کي دسهار په وخت کي دوی ته نژدی سوم نوعرض می وکی. یارسول الله ﷺ! ماته یو داسي عمل وښیاست کوم چي ماجنت ته دا خل کړی او دجهنم څخه می لیری کړی، دوی وفرمایل چي تادیولوی شی سوال وکی، مګر چاته چي یی الله ﷻ آسان کړی، هغه ته دا آسانه سي او وی فرمایل چي هغه عمل دا دی چي دالله ﷻ عبادت کوه او دهغه سره څوك مه شریکوه او لمونځ قائم کړه او زکوٰة ورکوه او د رمضان روژه نیسه او دبیت الله حج کوه اوبیایی وفرمایل چي واخله اوس زه تاته دخیر یعني دنیکی دروازی ښیم «هغه دا دی چي» روژه ډال «سپر» دی «دعذاب څخه ساتنه را ولي» او صدقه دبنده دګناهونو اور وژنی، دغه ډول دبنده لمونځ دشپی په مینځ کي او ددی فرمایلو څخه وروسته یی دقرآن مجید ذکرسوی آیت. تَتَجَافٰى جُنُوْبُهُمْ عَنِ الْمَضَاجِعِ، تلاوت کی.

حضرت ابودرداء ﷺ او قتاده «رح» اوضحاك «رح» فرمایلي دی چي ارځ دبسترو څخه دجلا ساتلو دا صفت پر هغو خلقو هم صادق دی کوم چي دماخستن لمونځ په جماعت سره ادا کړی او بیا دسهار لمونځ په جماعت سره وکی.

او په ترمذی کي په صحیح سند سره دحضرت انس ﷺ څخه روایت دی چي تَتَجَافٰى جُنُوْبُهُمْ، دماخستن دلمانځه څخه مخکی دنه بیدیدو او دماخستن دجماعت دپاره دانتظار کوونکو په باره کي نازل سو.

او په ځینو روایتونوکی دی چي دا آیت دهغو خلقو متعلق دی کوم چي دماښام او ماخستن په مینځ کي نفل کوی. «رواه محمد بن نصر»

او حضرت ابن عباس ﷺ ددي آیت متعلق فرمایی چي دکومو خلقو سترګي خلاص کیږي او دالله ﷻ ذکر کوی په پروتی ناستی او ارځ هغه هم په دی کي دا خل دی.

ابن کثیر او دتفسیر نور امامان فرمایی چي په دی ټولو اقوالو کي هیڅ تضاد نسته. صحیح خبره دا ده چي دا آیت دی ټولو ته شامل دی او داخری شپی لمونځ په دی ټولو کي اعلی او افضل دی. په بیان القرآن کي یی هم دا اختیار کړي ده.

او دحضرت اسماء بنت یزیدرضی الله عنها څخه روایت دی چي نبی کریم ﷺ فرمایلي دی چي هرکله الله ﷻ اولین او اخرین دقیامت په ورځ جمع کی نو دالله ﷻ دطرف څخه به یو اواز کوونکی پورته سي چي اواز به یی ټول مخلوقات واوری هغه به اواز وکی چي دمحشر خلق به نن پوه سي چي دالله ﷻ په نزد کوم خلق دعزت او اکرام مستحق دی، بیابه دغه فرښته اواز وکی چي دمحشر دخلقو څخه دی هغه خلق پورته سي

دکومو صفت چي دا وو. تَتَجَافٰى جُنُوبُهُمْ عَنِ الْمَضَاجِعِ، يعني چي د دوی اړخونه دبسترو څخه جلاوی، په دی سره وینا به داخلق پورته چي شمیر به یی کم وي (ابن کثیر) او ددی روایت په څینو الفاظو کي دی چي دا خلق به بغیر دحساب څخه جنت ته ولیږل سی. ددې څخه به نور ټول خلق پورته سي چي د دوی سره به حساب کیدی سی. (مظهری)

وَلَنُذِيقَنَّهُمْ مِنَ الْعَذَابِ الْأَدْنَىٰ دُونَ الْعَذَابِ الْأَكْبَرِ لَعَلَّهُمْ يَرْجِعُونَ اَدْنٰی په معنٰی داقْرَبْ دی او دعذاب ادنٰی څخه مراد ددنیامصیبتونه، افتونه اومرضونه وغیره دی اودعذاب اکبر څخه مراد داخرت عذاب دی.

(ددنیامصیبتونه دهغو خلقو دپاره رحمت دی کوم چي دالله ﷻ طرف ته رجوع کوی)

مطلب دا دی چي الله ﷻ ډیرو خلقو ته دهغوی په ګناهونو دخبرولو دپاره په دنیا کي پر هغوی مصیبتونه، مرضونه او افتونه مسلط کوي چي هغه پوه سی، دخپلو ګناهونو څخه بیرته را وګرځی او داخرت دلوی عذاب څخه نجات پیدا کی.

ددی آیت څخه معلومه سوه دګناهګارو دپاره ددنیامصیبتونه، افتونه مرضونه اوتکلیفونه هم یوقسم رحمت دی چي دغفلت څخه بیرته را واپس سي او داخرت دعذاب څخه خلاص سی. البته کوم خلق چي پرافتونو هم دالله ﷻ طرف څخه رجوع نه کوی، دهغوی دپاره دا دوچنده عذاب سی، یو په دی دنیا کي نقد او دوهم داخرت عذاب اکبر. او په انبیاء علیهم السلام اواولیاؤ چي کوم افتونه اومصیبتونه راځی، د دوی معامله دټولو څخه جلاده، دغه د دوی امتحان وي او دامتحان په ذریعه د درجو لوړوالی وي او دا داسي پیژندل کیږي چي ددې خلقو دافتونو او مرضونو په وخت کي هم یوقسم قلبی سکون او اطمینان په الله ﷻ باندي وی، والله تعالی اعلم

(دځینو ګناهونو سزا داخرت څخه مخکي په دنیاکي هم ورکول کیږی)

اِنَّا مِنَ الْمُجْرِمِيْنَ مُنْتَقِمُوْنَ، په ښکاره په لفظ دمجرمین کي هرقسم مجرمان دا خل دی اوانتقام هم عام دی برابره خبره ده که په دنیاکی وي یاپه اخرت کي یاپه دواړوکی دځینو روایتونو دحدیث څخه معلومیږي چي دری ګناهونه داسي دی چي دهغه سزاداخرت څخه مخکی په دنیاکي هم ورکول کیږي یودحق خلاف دجنډو او نعروپه داګه ملګرتیاکول دوهم دمورواوپلارنافرمانی دریم دظالم امداد (رواه ابن جریر عن معاذ بن جبل ﷺ)

وَلَقَدْ آتَيْنَا مُوسَى الْكِتَابَ فَلَا تَكُنْ فِي مِرْيَةٍ مِنْ لِقَائِهِ وَجَعَلْنَاهُ

او مونږ ورکړي دي موسی ﷺ ته کتاب پس ته مه کیږه په شک کی ددہ دملاویدو څخه او کړي دی مونږ دی

هُدًى لِبَنِي إِسْرَائِيلَ ﴿٢٣﴾ وَجَعَلْنَا مِنْهُمْ أَئِمَّةً يَهْدُونَ بِأَمْرِنَا

هدایت دپاره دبنی اسرائیلو، او کړل مونږ په دوی کی پیشوایان چی ښودنه بی یی کوله زمونږ په حکم

لَمَّا صَبَرُوا ۗ وَكَانُوا بِآيَاتِنَا يُوقِنُونَ ﴿٢٤﴾ إِنَّ رَبَّكَ هُوَ يَفْصِلُ بَيْنَهُمْ

کله چې هغو صبروکی او وو په خبرو زمونږ یقین کوونکی ، ستارب چې دی هغه به فیصله وکړی په دوی کی

يَوْمَ الْقِيَامَةِ فِيمَا كَانُوا فِيهِ يَخْتَلِفُونَ ﴿٢٥﴾ أَوَلَمْ يَهْدِ لَهُمْ كَمْ

په ورځ دقیامت په کومه خبره کی چې دوی اختلاف کوی ، آیادوی ته هدایت ونه سو په دی خبره

أَهْلَكْنَا مِنْ قَبْلِهِمْ مِنَ الْقُرُونِ يَمْشُونَ فِي مَسَاكِنِهِمْ ۚ إِنَّ

چې څومره حلاك كړل مونږ د دوی څخه مخکې جماعتونه چې ګرځی دوی دهغوی په کورونو کی

فِي ذَٰلِكَ لَآيَاتٍ ۖ أَفَلَا يَسْمَعُونَ ﴿٢٦﴾ أَوَلَمْ يَرَوْا أَنَّا نَسُوقُ الْمَاءَ إِلَى

په دی کی ډیری نښانی دی آیا دوی اوری نه ؟ آیا ونه لیدل دوی چې مونږ را کاږو اوبه یوی

الْأَرْضِ الْجُرُزِ فَنُخْرِجُ بِهِ زَرْعًا تَأْكُلُ مِنْهُ أَنْعَامُهُمْ وَأَنْفُسُهُمْ

مځکې وچې ته بیا مونږ را وباسو په دی سره فصل چې خوری دهغه څخه حیوانان دهغوی او په خپله دوی

أَفَلَا يُبْصِرُونَ ﴿٢٧﴾ وَيَقُولُونَ مَتَىٰ هَٰذَا الْفَتْحُ إِنْ كُنْتُمْ صَادِقِينَ ﴿٢٨﴾

پس آیادوی نه وینی ؟ او وایی کله به وی دا فیصله که تاسی رښتنی یاست ؟

قُلْ يَوْمَ الْفَتْحِ لَا يَنْفَعُ الَّذِينَ كَفَرُوا إِيمَانُهُمْ وَلَا هُمْ يُنْظَرُونَ ﴿٢٩﴾

ته ووایه دفیصلی په ورځ به نفع ورنه کړی منکرانو ته دهغوی ایمان راوړل او نه به دوی ته مهلت ورکړل سی

فَأَعْرِضْ عَنْهُمْ وَانْتَظِرْ إِنَّهُمْ مُنْتَظِرُونَ ﴿٣٠﴾

پس ته منعه وکړه دهغوی څخه او انتظار کوه هغوی هم انتظار کوی

تفسیر: او مونږ موسیٰ (علیه السلام) ته (ستا په شان) کتاب ورکړی ؤ (چې په اشاعت کې یې ده تکلیفونه برداشت کړل ، دغه شان تاته هم برداشت کول په کار دی ، یوه تسلی خو دا سوه ، بیایی دغه رنګه تاته هم

کتاب درکی) وروسته ته د (خپل) دی (کتاب) په ملاویدو کي شك مه کوه (لکه دا قول دالله ﷻ دی ، وَاِنَّكَ لَتُلَقَّى الْقُرْاٰنَ، مطلب دا چي ته صاحب کتاب صاحب خطاب یې، وروسته هرکله چي ته دالله ﷻ په نزد داسی مقبول یې نوکه یو څو احمقان تانه قبلوی نوهیڅ دغم خبره نه ده یوه دتسلی خبره داسوه) او مونږ دا (کتاب دموسٰی ؑ) دبنی اسرائیلو دپاره موجب دهدایت جوړکړی وو (دغه رنګه ستا په کتاب سره به هم ډیرو ته هدایت وسی ، ته خوشحاله اوسه ، یوه تسلی دا سوه) اومونږ په دوی (بنی اسرائیلو) کي ډیر (ددین) پیشوایان جوړکړی وه ، کومو چي زمونږ په حکم سره به هدایت کوي هرکله چي هغوی خلقو (پر تکلیف) صبر کوی او زمونږ په آیتونو یې یقین در لودی (په دی وجه به یې ددي په اشاعت او مخلوق ته په هدایت کي مشقت برداشت کوی ، دا تسلی ده مومنانو ته چي تاسی خلق صبرکوی اوهرکله چي تاسو دیقین خاوندان یاست او دیقین مقتضا صبرکول دی نو تاسی ته صبر ضروري دی دغه وخت به مونږ تاسی هم ددین امامان جوړ کړو، دا تسلی خو ددنیا په اعتبار سره ده او یوه تسلی داخرت په اعتبارسره تاسی ته ساتل په کار دی او دغه کار دتسلی موجب دا دی چي) ستاسو رب به دقیامت په ورځ ددي تولو په مینځ کي (عملی) فیصله په هغو کارونوکی وکی په کوموکی چي دوی په خپل مینځ کي اختلاف کوي (یعنی مومنان به په جنت کي اوکافران به په دوږخ کي واچوی اوقیامت هم څه لیری نه دی په دی سره هم تسلی حاصلول په کار دی ، او ددی مضمون په اوریدو کفارو دوي شبهی کولی سوی یوه دا چي مونږ دا نه منو چي دالله ﷻ زمونږ کفر ناخوښه دی لکه چي دیَفْصِلُ څخه معلومیږي ، دوهمه دا چي مونږ قیامت ناممکن ګڼو . مخ ته د دواړو ددفع دپاره دوه مضمونونه دی اول دا چي دوی ته کوم دکفر په بدوالی کي شبهه ده نو) ایا دوی ته په دی خبره باندي رهنمایی ونه سي چي مونږ د دوی څخه مخکی (د دوی دکفر او شرك په سبب) څومره امتونه هلاك کړی دی (چی د دوی دهلاکت دطریقی څخه ، دا ډول دنبی دپیش ګویی څخه وروسته په طور دخرق عادت واقع کیدو څخه دخدای غضب معلومیدی چي په دی سره دکفر مبغوض کیدل صفا واضح کیږی) دکومو د اوسیدو په ځایونو کي چي دا خلق (دشام دسفر په وخت کی) ځی راځی (تیریږی) په دی (کار) کي (خو) صفا نښانی (دمبغوضیت دکفر موجودی) دی آیا دا خلق (ددی تیرو امتونو قصی) نه اوری (کومی چي مشهوری دی او په ژبو ویل کیږي ، دوهم مضمون دا چي دوی ته کومه شبهه دقیامت په نه واقع کیدوکی ده نو) آیا دوی دی خبري ته نه دی کتلی چي مونږ (دوریځو یانهرونو وغیره په ذریعه) دوچی مځکی طرف ته اوبه رسوو ، بیاددی په ذریعه فصل پیداکوو چي دهغه څخه د دوی څاروی او دوی په خپله خوراك کوي نوایا (دا خبره ښه او ورځ) وینی نه (دا صفانمونه ده دمرګ څخه وروسته دژوندی کیدو ، لکه ډیر ځایه ددي دا تقریر تیر سوی دی ، وروسته دواړی شبهی دفع سوی) او دا خلق (چی دقیامت او فیصلی ذکر واوری په طور دټر راتلو اومسخرو) وایی چي که تاسی (په دی خبره کی) رښتنی یاست نو (وښیاست) دا فیصله به کله وی ، ته وفرمایه چي (تاسو عبث ددي تقاضا کوي ستاسو دپاره خو دغه پوره دمصیبت ورځ ده ځکه چي) ددي فیصلی په ورځ به کافرانو ته د دوی ایمان راوړل (بالکل) نفع ورنه کړی (او دا یو

صورت د دوی دخلاصون وو او دا مفقود دی) او (نفع او نجات څه کوی) دوی ته به مهلت هم نه رسیږی وروسته (ای پیغمبر ﷺ) د دوی خبروته خیال مه کوه (څکه چي په خیال کولو سره به غمجن کیږی) او ته (دوعدی سوی فیصلی) انتظار کوه هغوی هم (په خپل خیال کي ستا دضرر) منتظر دی (لکه د دوی دا قول دی نتربص به ریب المنون، مگر معلومه به سي چي دچا انتظار مطابق دواقع دی او دچانه دی لکه دا قول دالله ﷻ دی ، د دوی په خواب کی . قُلْ تَرَبَّصُوا فَإِنِّي مَعَكُمْ مِنَ الْمُتَرَبِّصِينَ)

(معلومات اومسئلي)

فَلَا تَكُنْ فِي مِرْيَةٍ مِنْ لِقَائِهِ " دلقاء معنٰی ملاقات دی ، په دی آیت کي دچاملاقات دچا سره مراد دی ؟ په دی کي دتفسیر دلیکونکو اقوال مختلف دی . په دی کي یوهغه دی کوم چي په لنډ تفسیرکی اختیار سوی دی چي د. لِقَائِهِ ضمیر دکتاب یعنی قرآن طرف ته راجع دی ، مطلب یی دا دی چي لکه څنګه چي حضرت موسٰی ﷺ ته الله ﷻ کتاب ورکی ، دغه رنګه ته هم په خپل کتاب راتلو کي شك مه کوه لکه چي په یوبل آیت کي دقرآن متعلق داسي الفاظ راغلی دی ، وَإِنَّكَ لَتُلَقَّى الْقُرْآنَ .

او دحضرت ابن عباس ﷺ اوقتاده ﷺ څخه یو تفسیر ددي داسي نقل دی چي دلِقَائِهِ ضمیر دحضرت موسٰی ﷺ ته راجع دی اوپه دی آیت کي یی دنبی کریم ﷺ دحضرت موسٰی ﷺ سره دملاقات خبر ورکړی دی او فرمایلي یی دی چي ته په دی کي شك مه کوه چي ستا ملاقات به دحضرت موسٰی ﷺ سره وسی هم دارنګه دمعراج په شپه کي یی یو ملاقات کیدل په صحیح احادیثو سره ثابت دی، بیاپه قیامت کي یی ملاقات کیدل هم ثابت دی .

او حضرت حسن بصری رحمه الله ددي دا تفسیر فرمایی، چي څنګه موسٰی ﷺ ته یو کتاب ورکړل سوی دی او خلقو یی تکذیب وکی او دی یی ازارکی ، ته هم یقین ساته چي دا هر څه به تاته هم درپیښ سی ، په دی وجه ته دکفارو په ازارونو دلګیرکیږه مه ، بلکی دا دانبیاؤ علیهم السلام سنت ګڼه او برداشت کوه یی .

(دیوقوم دمقتدا او امام جوړیدو دپاره دوه شرطونه)

وَجَعَلْنَا مِنْهُمْ أَئِمَّةً يَهْدُونَ بِأَمْرِنَا لَمَّا صَبَرُوا وَكَانُوا بِآيَاتِنَا يُوقِنُونَ " یعنی مونږ دبنی اسرائیلو څخه ځینی خلق دخلو امامان او پیشوایان اومقتداء جوړکړل کومو چي به دخپلو پیغمبرانو دنائب کیدو په حیثیت خلقو ته په اذن درب هدایت کوي او چي دوی صبر وکی او چي زمونږ په ایتونو یی یقین کوی .

په دی آیت کي یی دبنی اسرائیلو ځینی عالمانو ته د امامت اوپیشوایی درجه ورکولو دوه سببونه فرمایلي دی ، اول صبر کول ، دوهم دالله ﷻ په ایتونو یقین کول ، دصبر مطلب دعربی ژبی په اعتبار سره ډیر وسیع او عام دی ، ددي لفظ معنٰی ترل او ثابت قدم پاته کیدل دی . دلته دصبرڅخه مراد دالله ﷻ په احکامو پابند ثابت قدم پاته کیدل اوکوم شیان چي الله ﷻ حرام یامکروه مقرر کړی دی ، دهغو څخه خپل نفس منع کول دی چي په دی کي دشریعت دټولو احکامو پابندی راځی او دا ډیر لوی عملی کمال دی . دوهم سبب د

دوی دالله ﷻ په ایتونو یقین ساتل دی . په دی کي دایتونو مطلب پیژندل بیا دپوهیدو ښخه وروسته باندي یقین کول، دواړه په کي دا خل دی دا ډیر لوی علمي کمال دی .
لنډه دا چي دامامت اوپیشوایي لائق دالله ﷻ په نزد صرف هغه خلق دی کوم چي په عمل کي هم کامل وي. اوپه علم کي هم او دلته یې عملی کمال دعلمی کمال ښخه مخکی بیان کړی دی، چي په ترتیب طبعی کي علم دعمل ښخه مخکی وي په دی کي اشاره دی طرف ته ده چي دالله ﷻ په نزد هغه علم قابل اعتبار دس نه دی ، دکوم سره چي عمل نه دی .
ابن کثیر دځینو علماؤ قول ددي آیت په تفسیرکي نقل کړی دی چي . بِالصَّبْرِوَالْيَقِيْنُ تُنَالُ الْاِمَامَةُ فِي الدِّيْنِ یعنی دصبر او یقین په ذریعه په دین کي چاته دامامت درجه ورکول کیدی سی .

اَوَلَمْ يَرَوْا اَنَّا نَسُوْقُ الْمَاءَ اِلَى الْاَرْضِ الْجُرُزِ فَنُخْرِجُ بِهٖ زَرْعًا · یعنی آیا دا خلق نه ګوری چي مونږ دوچی مخکی طرف ته اوبه په ځینو مواقعو کي چلوو، په مخکه کي بیایو چي په دی سره دهغه فصل را وخیژی ، جُرُز، وچی مخکی ته وایی په کومه کي چي بوټی درختی نه توکیږي .

(دمځکي د اوبه کیدو یوخاص حکیمانه نظام)

دمځکی دسیراب کولو او په دی کي دبوټو دشنوکولو ذکر په قرآنکریم کي ځای پرځای داسي راغلی دی چي په دی مخکه باران کیږي ، په دی سره مخکه تازه سي او دبوټو شنه کولو قابله سی ، مګر په دی آیت کي دباران پرځای اوبه پر مځکه دچلولو، وچی مخکی طرف ته دبیولو او په دی سره د درختو راټوکیدو ذکر یې فرمایلي دی ، یعنی باران پربله مځکه وسی . دهغه ځای ښخه دنهرونو نالیوپه ذریعه پرمځکه اوبه بیول کیږي دوچی مځکی طرف ته کوم ځای چي باران نه وي سوی .
په دی کي اشاره دی طرف ته ده چي ځینی مځکی داسي کچه او نرمی وي چي دباران برداشت نه لري که هلته پوره باران وورول سي نوآبادی به خرابی سي درختی به وخیژی په دی وجه قدرت دداسی مځکو دپاره دانظام جوړکړی دی چي باران خوپه هغه مځکه کول کیږي کومه چي یې برداشت لري بیاددي ځای ښخه اوبه وبهیږي اودداسی مځکو طرف ته بوتلل سي کوم چي دباران برداشت نه لري لکه دمصر مځکه سوه او ځینومفسرینودیمن اوشام ځینی مځکی ددي مصداق ګرځولی دی (کماروی عن ابن عباس ﷺ والحسن ﷺ) او صحیح دا ده چي دا مضمون داسي ټولو مځکو ته شامل دی او دمصر مځکه په خصوصیت سره په دی کي شامله ده ، کوم ځای چي باران ډیرکم کیږي مګر دافریقی دحبشی دملك دبارانونو اوبه د دریاب دنیل په ذریعه مصر ته راځي او دهغه ځای سره خاوره دځان سره راوړی په کومه کي چي دبوټو دټوکیدو ماده زیاته ده . په دی وجه دمصر خلق په خپل ملك کي دباران دنه کیدو باوجود هرکال دنوو اوبو اونوی خاوری ښخه فائده اخلی . فَتَبَارَكَ اللّٰهُ اَحْسَنُ الْخَالِقِيْنَ .


وَيَقُوْلُوْنَ مَتٰى هٰذَا الْفَتْحُ ، کفار دا وایی چي دا فتح به کله وی ، دکومی چي ته ذکر کوي چي مومنان به پر

کفارو غلبه پیدا کی ، مونږ ته خو هیڅ ځای ددې اثار په نظر نه راځی ، مونږ خو دا وینو چې مسلمانان په بیره کې دی ، پټ پټ ګرځی.

ددی په ځواب کې الله ﷻ فرمایی . قُلْ يَوْمَ الْفَتْحِ لَا يَنفَعُ الَّذِينَ كَفَرُوا إِيمَانُهُمْ، یعنی ته د دوی په ځواب کې دا ووایه چې تاسو زمونږ دفتح دورځی څه پوښتنه زمونږ څخه کوی ، هغه ورځ خوبه ستاسو دمصیبت وی ځکه چې څه وخت زمونږ فتح وسی نو هغه وخت به تاسو په عذاب کې ګرفتار یاست برابره خبره ده که په دنیا کې لکه دبدر په غزاکی چې وسوه یاپه اخرت کی ، او کله چې دالله ﷻ عذاب ځوك ونیسی ، بیادده ایمان نه قبلیږي (لکه چې ابن کثیر ذکر کړی دی)

او ځینو حضراتو دلته د. مَتَىٰ هَٰذَا الْفَتْحُ ، معنی دقیامت ورځ کړې ده لکه چې په لنډتفسیرکې دا اختیار سوي ده ، والله سبحانه وتعالی اعلم.

سُوْرَةُ السجدة بِحَمْدِ اللهِ سُبْحَانَهُ فِي لَيْلَةِ عَرَفَةِ مِنْ ذِي الحجه سنہ ۱۳۹۱ ھ



﴿سورة الاحزاب﴾

سُورَةُ الْأَحْزَابِ مَدَنِيَّةٌ وَهِيَ ثَلَاثٌ وَسَبْعُونَ آيَةً وَتِسْعُ رُكُوعَاتٍ بِسْمِ اللَّهِ الرَّحْمَٰنِ الرَّحِيمِ ○

سورة الاحزاب په مدینه کی نازل سو او په دی کی دری اویا (۷۳) آیتونه اونهه (۹) رکوع ګان دی

شروع کوم دالله ﷻ په نامه سره چی بی حده مهربانه او نهایت رحم والا دی

يَا أَيُّهَا النَّبِيُّ اتَّقِ اللَّهَ وَلَا تُطِعِ الْكَافِرِينَ وَالْمُنَافِقِينَ ۗ إِنَّ اللَّهَ

ای نبی ! بیره کوه دالله ﷻ څخه اوخبره مه منه د منکرانو او دمنافقانو بیشکه الله ﷻ

كَانَ عَلِيمًا حَكِيمًا ① وَاتَّبِعْ مَا يُوحَىٰ إِلَيْكَ مِن رَّبِّكَ ۚ إِنَّ اللَّهَ

دی په هر څه پوه حکمتونو والا ، او تابعداری کوه دهغه چی راسی تا ته ستا درب دطرفه څخه ، بیشکه الله ﷻ

كَانَ بِمَا تَعْمَلُونَ خَبِيرًا ② وَتَوَكَّلْ عَلَى اللَّهِ ۚ وَكَفَىٰ بِاللَّهِ وَكِيلًا ③

دی ستاسی په کارونو خبردار ، او توکل کوه په الله ﷻ او پوره دی الله ﷻ کارساز

تفسير: اى نبي! د الله ﷻ څخه بيره كوه (دبل چا څخه بيره مه كوه او د دوى په اخطارو يوه ذره پرواونه كې) او د كافرانو (كوم چي په ډاګه ددين خلاف مشورې كوى) او د منافقانو (كوم چي په پټه دعوى سره يو دى) خبره مه منه (بلكې د الله ﷻ خبره منه) بيشكه الله ﷻ لوى علم والا لوى حكمت والا دى (دهغه هريوحكم په فائدو اومصلحتونو باندي مشتمل دى) او (د الله ﷻ خبره منل دا دى چي) ستا دپروردګار د طرفه چي كوم حكم پرتا وحى كيږي پرهغه چليږي (او اى خلقو!) بيشكه ستاسو دخلقو دټولو عملونو څخه الله ﷻ پوره پوره خبردار دى (په تاسو كي چي څوك زمونږ دپيغمبر مخالفت اومزاحمت كوي مونږ به دټولو سره پوه سو) او (اى نبي!) ته (ددى خلقو د اخطارو په معامله كې) په الله ﷻ توكل ساته او الله ﷻ پوره كار ساز دى (دهغه په مقابله كي ددي خلقو هيڅ تدبير نه سي چليدى ، په دى وجه هيڅ فكر مه كوه ، البته كه د الله ﷻ حكمت دڅه امتحان مقتضى سي او دهغه په وجه څه عارضى تكليف درته ورسيږي نو دا ضرر نه دى بلكى عين نفع ده)

معلومات اومسئلي: دا مدنى سورة دى ددي زيات مضامين دنبى كريم ﷺ په محبوبيت اود الله ﷻ په نزد د دوى په خصوصيت باندي مشتمل دى چي په دى كي د دوى دتعظيم واجبوالى اودوى ته دازاررسولو حراموالى په مختلفوعنواناتوسره بيان سوى دى اوباقي مضامين دسورة هم ددي دتكميل او اتمام سره مناسبت لرى .

﴿ شان نزول ﴾

ددي سورة دنزول په سبب كي څو روايتونه نقل دى يو دا چي نبى كريم ﷺ كله هجرت وكى اومدينى منورى ته يى تشريف وفرمايى نو دمدينى خوا او شاته بنو قريظه بنو نضير، بنو قينقاع وغيره اباد وه . درحمة للعٰلمين خواهش اوكوشش دا وو چي په يو ډول سره دا خلق مسلمانان سى . اتفاقًا په دى يهودو كي يو څو كسان د دوى خواته راتلل شروع سول او په منافقانه طور يى ځان ته مسلمانان ويل شروع كړل خو په زړونو كي يى ايمان نه ؤ. نبى كريم ﷺ دا غنيمت وګڼى چي ځينى خلق مسلمانان سي نو نورو ته به دعوت وركول آسان سى ، په دى وجه به دوى ددي كسانو سره خاص دار مدار كوي او د دوى دلويو اوكوچنيانو په راتلو به يى د دوى ډير اكرام كوي اوكه څه بده خبره به د دوى څخه صادره سوه نو ددينى مصلحت په وجه يى دهغه څخه چشم پوشى فرمايله . دسورة احزاب په دى واقعه اولنى آيتونه نازل سول . (قرطبى)

يوه بله واقعه ابن جرير دحضرت ابن عباس ؓ څخه نقل كړي ده چي دهجرت څخه وروسته دمكى دكفارو څخه وليد بن مغيره اوشيبه ابن ربيعه مدينى طيبى ته راغلل او دنبى كريم ﷺ په مخكى يى دا وړانديز وكى چي مونږ ټول دمكى قريش به خپل نيم مالونه تاته دركړو كه ته خپله دا دعوه پريږدى او دمدينى منورى منافقانو او يهودو دا اخطارورته وركړى چي كه ته دخپلي دعوى او دعوت څخه منع نه سوى نو مونږ به تاقتل كړو. په دى دا آيتونه نازل سول . (روح)

يوه دريمه واقعه ثعلبى او واحدى بغير دسند څخه دا نقل كړي ده چي ابوسفيان او عكرمه بن ابى جهل او ابو الاعور سلمى په هغه زمانه كي كله چي دحديبيه په واقعه كي دمكى دكفارو او نبى كريم ﷺ په مينځ

کي دجنګ نه کولو وعده سوی وه نو دا خلق مدینې طیبې ته راغلل او نبی کریم ﷺ ته یې عرض وکی چې ته زمونږ دمعبودانو په بدی سره ذکر پرېږده ، صرف دومره ووایه چې دوی به هم شفاعت کوي او نفع به رسوی ته دومره وکړه نو مونږ به تا اوستا رب پرېږدو او جګړه به ختمه سی .

د دوی دا خبره په نبی کریم ﷺ اومسلمانانو ډېره بده ولګیده . مسلمانانو د دوی دقتل اراده وکړه. نبی کریم ﷺ وفرمایل چې ماد دوی سره دصلحې وعده کړې ده، داسې نه سي کیدی په دې دا آیتونه نازل سول (روح) دا روایتونه که څه هم مختلف دی مګر په حقیقت کي په دې کي څه تضادنسته ، دا واقعات هم ددې آیتونو دنزول سبب کیدی سی .

په دې آیتونو کي نبی کریم ﷺ ته دوه حکمونه ورکړل سول ، اول ، اِتَّقِ اللهَ، یعنی دالله ﷻ څخه بیره کوه، دوهم ، لَاتُطِعِ الْكٰفِرِيْنَ ، یعنی دکافرانو خبره مه منه ، دالله ﷻ څخه دبیری حکم ځکه ورکړل سوچی ددغو خلقو قتلول وعده ماتول دی ، کومه چې حرامه ده او دکفارو دخبری نه منلو حکم ځکه چې په دې تولو واقعاتو کي دکفارو کوم فرمائشونه دی هغه دمنلو قابل نه دی ددې تفصیل مخ ته راځی .

يٰاَيُّهَا النَّبِيُّ اتَّقِ اللهَ، دا دنبی کریم ﷺ خاص اعزاز او اکرام دی ، چې په ټول قرآن کي هیڅ ځای دوی ته د دوی په نوم سره خطاب نه دئ سوی ، لکه چې نورو انبیاؤ ته په خطاب کی . يٰۤاٰدَمُ، يٰنُوْحُ، يٰۤاِبْرٰهِيْمُ، يٰمُوْسٰى بار بار راغلی دی . بلکی خاتم الانبیاء ته چې کوم ځای په قرآن کي خطاب سوی دی ، هغه په یو لقب نبی یارسول وغیره سره سوی دی . صرف څلور ځایونه په کومو کي چې دا ښودل منظور وو چې دوی دالله ﷻ رسول دی ، په دغوکی د دوی نوم ذکرسوی دی کوم چې ضروري وو .

په دې خطاب کي نبی کریم ﷺ ته دوه حکمونه ورکړل سول ، یو دخدای ﷻ دبیرېدو چې دمکی دمشرکانو سره کومه وعده سوې ده دهغه خلاف ورزی نه دی کول په کار . دوهم دمشرکانو او منافقانو او یهودو دخبری نه منلو چې دلته کوم دا سوال پیداکیږي چې نبی کریم ﷺ خو دهری ګناه څخه معصوم دی ، وعده ماتول هم کبیره ګناه ده او دکفارو او مشرکینو هغه خبري کومې چې په شان نزول کي لوړی بیان سوی دهغو منل هم عظیمه ګناه ده نو دوی په خپله ددې څخه محفوظ وه نو بیا ددې حکم ضرورت څه پیښ سو؟

په روح المعانی کي دی چې مراد ددې احکامو څخه آئنده هم پردی دقائم پاته کیدو هدایت دی ، لکه چې په دې واقعه کي دوی پر دې قائم پاته سول او داتَّقِ الله حکم یې ځکه مخکی کي چې مسلمانانو دمکی ددې مشرکانو دقتل کولو اراده کړی وه دکومو سره چې دصلحې وعده سوی وه په دې وجه دوعدې ماتولو څخه دځان ساتلو هدایت یې دلفظ اتَّقِ الله په ذریعه مخکی ذکرکی . په خلاف دکفارو او مشرکانو دخبری منلو څخه چې ددغه چا اراده هم نه وه کړی ، په دې وجه یې دا وروسته کی .

اوځینی تفسیر لیکونکی حضرات فرمایی چې په دې آیت کي که څه هم خطاب نبی کریم ﷺ ته دی ، مګر مراد ورڅخه امت ته او رول دی . دوی خو معصوم وو او دالله ﷻ داحکامو دخلاف ورزی د دوی څخه هیڅ احتمال نه وو، مګر قانون دټول امت دپاره دی . دوی ته د او رولو عنوان یې دا اختیار کي چې خطاب یې

نبی کریم ﷺ ته وفرمایی چي په دی سره دحکم اهمیت ډیر زیات سو ، چي کله نبی کریم ﷺ هم ددي مخاطب دی نو د امت یو فرد ددي څخه څنګه مستثنی کیدی سی .

او ابن کثیر فرمایی چي په دی آیت کي دکفارو او مشرکانو دخبری منلو څخه دمنع کولو اصل مقصد دا دی چي ته د دوی سره مشوری مه کوه ، دوی ته دمجلس زیاته موقع مه ورکوه ، څکه چي داسي مشوری او دیو بل سره رابطی ساتل ډیر کله ددي سبب جوړیږي چي د دوی خبره ومنل سی ، نوکه څه هم د دوی دخبری دمنلو دنبی کریم ﷺ څخه خو څه احتمال نه وو ، مګر د دوی سره دداسی رابطوساتلو او د دوی په خپلو مشورو کی دشریکولو څخه هم دوی منع سوه او دایی د اطاعت په لفظ سره څکه تعبیرکي چي داسي مشوری او رابطی عادتًا دمنلو سبب جوړي دی سی ، نو دلته په حقیقت کي دوی داسبابو د اطاعت څخه منع سوی دی . دنفس د اطاعت خو د دوی څخه ګرسره څه احتمال نه وو .

پاته سو دا سوال چي په ذکر سوی آیت کي دکافرانو دطرف څخه دخلاف شرع او خلاف حق خبرو اظهار خو څه بعیده خبره نه ده د دوی داطاعت څخه منع کول هم ښکاره خبره ده . مګر منافقانو که داسلام څخه خلاف څه خبره دوی ته وکړه نو بیاخو هغوی منافقان پاته نه سول ، ښکاره کافران سول ، د دوی دجلا ذکرکولو څه ضرورت سو ؟ څواب ددي دا کیدی سي چي منافقانو بالکل ښکاره خو څه داسلام خلاف نه وي کړی ، مګر دنورو کافرانو په تائید او حمایت کي یی څه کلمه ویلی وی .

او دمنافقانو کومه واقعه چي په شان نزول کي لوړه بیان سوي ده که هغه دنزول سبب مقرر سي نو بیا خو دسره اشکال نه په کښی پاته کیږي ، څکه چي ددي واقعي په اعتبار سره نبی کریم ﷺ ددي څخه منع کړل سوی دی چي ددغو څان ته دمسلمان ویونکو یهودو سره ته زیات دمدارات معامله مه کوه .

ددي آیت په اخرکی ، اِنَّ اللّٰهَ کَانَ عَلِیۡمًا حَکِیۡمًا ، یی وفرمایل او ددی حکم حکمت یی بیان کي چي لوړ ورکړل سوی دی چي دالله ﷻ څخه بیره کوه او دکفارو اومنافقانو خبره مه منه ، څکه چي دکارونو په انجام او نتیجو پوه الله ﷻ لوی حکیم دی ، هغه ته دبندګانو مصلحتونه معلوم دی ، دایی څکه وفرمایل چي دکفارو یامنافقانو څینی خبري داسي هم وي په کومو سره چي دشر اوفساد کمیدو او په خپل مینځ کي درواداری دفضاء قائمیدو وغیره فائدی حاصلیدی سی . مګر الله ﷻ ددي څخه منع وفرمایله چي دی خلقو سره دا خوا خوږي او رواداری هم دمصلحت خلاف ده او انجام یی ښه نه دی .

وَّاتَّبِعۡ مَا یُوۡحٰۤی اِلَیۡکَ مِنۡ رَّبِّکَ اِنَّ اللّٰهَ کَانَ بِمَا تَعۡمَلُوۡنَ خَبِیۡرًا ۰ دا داولنی حکم تکمله ده چي ته دکفارو او منافقانو په خبرو کی مه راځه دهغوی خبره مه منه ، بلکی څه چي تاته دالله ﷻ دطرف څخه په ذریعه دوحی ښودل کیږي بس ته او اصحاب دهغه تابعداری کوی چونکی په دی خطاب کي صحابه کرام اوعام مسلمانان هم شامل دی . په دی وجه یی په اخر کي صیغه دجمع بِمَا تَعۡمَلُوۡنَ ، وفرمایله او خبرداری یی ورکړه .

وَّتَوَکَّلۡ عَلَی اللّٰهِ وَکَفٰی بِاللّٰهِ وَکِیۡلًا ۰ دا هم ددي حکم تکمیل دی ، په دی کي ارشاد دی چي ته ددغو خلقو خبرو

ته غوږ مه ږده او دخپل مقصد په کامیابی کي صرف پر الله ﷻ توکل ساته چي هغه کافي کار ساز دی دهغه په موجودګی کي تاته دچا درواداری ضرورت نسته .

مسئله : د ذکرسوی آیت څخه ثابته سوه چي ددین په کارونوکی دکفارو څخه مشوره اخستل هم جائز نه دی په نورو کارنو کي چي تعلق یی دتجربی وغیره سره وی ، په هغه کي په مشوره اخستو کي څه باك نسته . والله تعالی اعلم

مَا جَعَلَ اللّٰهُ لِرَجُلٍ مِّنْ قَلْبَيْنِ فِيْ جَوْفِهٖ ۚ وَمَا جَعَلَ اَزْوَاجَكُمُ

نه دی ایښی الله ﷻ په یو سړی کی په ده کی دننه دوه زړونه ، او نه دی کړی ستاسی ښځی (بیبیانو)

الّٰٓـِٔيْ تُظٰهِرُوْنَ مِنْهُنَّ اُمَّهٰتِكُمْ ۚ وَمَا جَعَلَ اَدْعِيَآءَكُمْ اَبْنَآءَكُمْ ؕ

چي تاسی ورته میندی ویلی دی (اصلی) میندی ستاسی ، اونه یی دی ستاسی پاللو (کسانو) لره ستاسی زامن

ذٰلِكُمْ قَوْلُكُمْ بِاَفْوَاهِكُمْ ؕ وَاللّٰهُ يَقُوْلُ الْحَقَّ وَهُوَ يَهْدِي السَّبِيْلَ ۝۴

داستاسی خبره ده ، ستاسی دخلی او الله وایی حقه خبره او هغه ښیی لار

اُدْعُوْهُمْ لِاٰبَآئِهِمْ هُوَ اَقْسَطُ عِنْدَ اللّٰهِ ۚ فَاِنْ لَّمْ تَعْلَمُوْٓا اٰبَآءَهُمْ

بولی دغه (متنبی) ددوی پلارانو طرف ته یی نسبت کوئ داپوره انصاف دی دالله په نزد بیاکه نه پیژنی د دوی پلرونه

فَاِخْوَانُكُمْ فِي الدِّيْنِ وَمَوَالِيْكُمْ ؕ وَلَيْسَ عَلَيْكُمْ جُنَاحٌ فِيْمَآ

نو ستاسی وروڼه دی په دین کی اوملګری دی ستاسی ، اونسته په تاسی ګناه په هغه کی

اَخْطَاْتُمْ بِهٖ ۙ وَلٰكِنْ مَّا تَعَمَّدَتْ قُلُوْبُكُمْ ؕ وَكَانَ اللّٰهُ غَفُوْرًا رَّحِيْمًا ۝۵

چی تاسی خطاسی په هغه او لیکن هغه چی په زړه سره اراده وکړی او دی الله بخښنی والا مهربان

لنډتفسیر: الله ﷻ دیو سړی په سینه کي دوه زړونه نه دی جوړ کړی او (دغه ډول) ستاسی هغه بیبیانی یی دکومو سره چي تاسی ظهارکوی ، ستاسومیندی نه دی جوړی کړی او (دغه ډول پوه سي چي) ستاسو دخلی ویلو زامن یې ستاسو (رښتنی) زامن (هم) نه دی جوړ کړی دا ستاسو دخلو ویلی خبره ده (چی غلطه ده دواقع مطابق نه ده) اوالله ﷻ حقه خبره کوي اوهم هغه سیده لار ښیی (اوهرکله چي ستاسو په خلی ویل

سوی زوی په واقع کي ستاسو زوی نه دی نو) تاسو دوی ته (دمتبنٰی جوړونکی زوی مه وایاست بلکی) د دوی د (حقیقی) پلرونو طرف ته يې نسبت کوي دا د الله ﷻ په نزد حقه خبره ده اوکه تاسو د دوی پلرونو نه پیژنی نو(دوی ته خپل ورونه یاخپل دوستان وایاست بولی یی ځکه چي اخر) هغه ستاسو دینی ورونه دی او ستاسو دوستان دی اوستاسو څخه چي په دی کي کومه غلطی وسی نو په دی کي پرتاسو هیڅ گناه نسته لیکن البته کومه چي تاسو په زړه سره اراده وکړی ووایاست (نو په دی سره به گناه وی) او (که ددي څخه هم معافی وغواړی نو معاف به سي ځکه) چي الله ﷻ غفور رحیم دی.

معلومات اومسئلي: په تیرو آیتونوکي نبی کریم ﷺ ته دکفارو اومنافقانو په مشورو دعمل نه کولو او دهغوی دخبری دنه منلو هدایت دی ، په دی ذکر سوو آیتونو کی په کفاروکي چي دچلیدونکو درو رواجونو اوباطلو خیالاتو تردیددی . اوله خبره دا ده چي دجاهلیت په زمانه کي په عربو کي داسي سړی ته چي زیات ذهین به وو، دا ویل چي دده په سینه کي دوه زړونه دی ، دوهمه دا چي په دوی کي دخپلو بیبیانو متعلق یو دا رواج وو چي چابه خپلي بی بی ته دخپلي مور دشا یا دبل یو اندام سره تشبیه ورکړه او وبه یی ویل چي ته زما دپاره داسي يې لکه زما دمور شا . دی ته به یی د دوی په محاوره کي ظهار وایه کوم چي دظهر څخه مشتق دی دظهر معنٰی ده شا . او د دوی دا خیال وو چي کوم سړی دخپلي بی بی سره ظهار وکی ، هغه دهمیشه دپاره پرده حرامه سوه .

دریم دا چي په دوی کي یو رسم دا وو چي یو سړی به دبل زوی خپل متبنٰی (دخولی ویلی زوی) جوړ وی او چاچي به داسي زوی جوړ کی نو هغه هلك به بیا دده په زوی مشهور وو او دده زوی به یی ورته وایه او د دوی په نزد به دا دخلی ویلی زوی په ټولو احکامو کی داصل زوی په شان منل کیدی . مثلاً په میراث کي به هم دده دخپل اولاد په شان شریك وو او په نسبی قرابت سره چي دکومو ښځو سره نکاح حرامه وي دا دخولی ویلی زوی به هم په قرابت کي داسي مقررکیدی مثلاً لکه چي دخپل زوی ښځه دطلاق څخه وروسته هم په پلار حرامه وي دغه ډول به ددي خلی ویلی زوی ښځه وه چي دطلاق څخه وروسته به ددي سړی دپاره حرامه وه .

دجاهلیت دزمانی دادری باطل خیالات اورسمونه وه.په دی کي اوله خبره که څه هم دمذهبی عقیدی یاعمل سره متعلق نه وه په دی وجه اسلامی شریعت ته ددي دردکولو څه ضرورت نه وو. داصرف دفن دتشریح او طب معامله وه چي دانسان په سینه کي یو زړه وي اوکه دوه زړونه وي نو ددی ظاهری باطلوالی ټولوته معلوم وو. په دی وجه ددي دبطلان ذکریی هم دباقی دوومسئلودتائیداوتمهیدپه طوربیان کي چي لکه څنگه چي دجاهلیت دخلقو دا خبره باطله ده چي دیو انسان په سینه کي دوه زړونه کیدی سي او ددی په باطلوالی عام او خاص ټول پوه دی ، دغه ډول دظهار اومتبنٰی جوړولو په مسئلو کي هم د دوی خیالات باطل دی.

باقی دوي مسئلی یوه دظهار او بله دمتبنٰی زوی احکام ، دا دهغه معاشرتی اوخاندانی مسئلو څخه دی دکومو چي په اسلام کي خاص اهمیت دی ، ترڅو چي ددي جزئیات او تفصیلات هم الله ﷻ په خپله په

قرآن کي بيانوی دنورو معاملاتو په شان يې صرف اصول بيان کړی اوتفصيلات يې پيغمبرته نه دی حواله کړی ، په دی دواړو مسئلو کي دجاهليت خلقو په خپلو بې بنياده خواهشاتو باندي دحلالو حرامو اوجائزو ناجائزو دځان څخه قوانين جوړ کړی ، دحق دين فرض وو چي هغه ددي باطلو رسمونو اوخيالاتو ابطال وکی اوحقه خبره واضحه کړی، په دی وجه بيان فرمايي .

وَمَاجَعَلَ أَزْوَاجَكُمُ اللَّائِي تُظَاهِرُونَ مِنْهُنَّ أُمَّهَاتِكُمْ، يعني ستاسو دا خيال غلط دی چي که چاخپلي ښځی ته دمور برابر مثل وويل نو دا دحقيقي مور په شان دهميشه دپاره پرده حرامه سوه ، ستاسو په ويناسره ښځه په حقيقت کي مور کيدی نه سی ، ستاسو مندی هغه دی دکومو څخه چي تاسو پيدا سوی ياست . دی آيت دجاهليت دا خيال خو باطل کي چي په ظهار کولو سره دهميشه دپاره حرمت نه سي کيدی . مخ ته دا خبره چي پر داسی وينا باندي څه شرعی اثر مرتب کيدی سي يانه سي کيدی ؟ ددي حکم مستقلاً په سورة مجادله کي ښوول سوی دی چي داسي ويل گناه ده ، ددي څخه ځان ساتل واجب دی او داسي ويونکی که دظهار کفاره ادا کړی نو ښځه به دده دپاره حلاله سي دظهار دکفاری تفصيل به په سورة مجادله کي راسي.

دوهمه مسئله دمتبنٰی زوی ده ، ددي متعلق فرمايي . وَمَاجَعَلَ أَدْعِيَاءَكُمْ أَبْنَاءَكُمْ، اَدْعِيَاء دَدَعِیٌ جمع ده . دعیٌ هغه هلك دی کوم ته چي په خُله باندي زوی وويل سی . مطلب دا دی چي لکه څنګه چي ديو انسان په سينه کي دوه زړونه نه وي اولکه څنګه چي ښځی ته دمور په شان په ويلو سره هغه مورکيدی نه سی . دغه ډول دخلی وړا، زوی ستاسو زوی نه سي کيدی ، يعني دنورو زامنو سره به نه دی په ميراث کي شريك وي او نه دنکاح دحرمت مسئلی پرده عائد کيدی سي چي د زوی طلاقه سوی ښځه پرپلار باندي دهميشه دپاره حرامه وي نو دمتبنٰی دا دی هم حرامه وی .

او چونکی ددي اخری معاملی اثر پر ډيرو معاملاتو باندي راځی په دی وجه دا حکم يې نافذکی چي متبنٰی زوی ته کله اواز کوي بيايي ذکر کوي نو دهغه اصلی پلارته يې نسبت کوي اوياد وی يی . چاچی ورته په خلی زوی ويلی دی ، دهغه زوی مه ورته واياست څکه چي په دی سره په ډيرو معاملو کي داشتباه او التباس پيدا کيدو خطره ده .

په صحيح بخاری اومسلم وغيره کي دحضرت ابن عمر ﷺ حديث دی چي ددي دنازليدو څخه مخکی به مونږ زيد بن حارثه ﷺ ته زيد بن محمد (ﷺ) ويل څکه چي نبی کريم ﷺ دی متبنٰی جوړ کړی وو ددي آيت دنزول څخه وروسته مونږ دا عادت پري اينبی دی .

مسئله : ددي څخه معلومه سوه چي اکثره خلق دنورو بچيانوته زوی وايی اواواز ورته کوي ، هرکله چي محض دشفقت په وجه وی ، دمتبنٰی جوړولو په وجه نه وي نو دا که څه هم جائز دی ، مگر بياهم ښه نه دی څکه چي صورتًا په منع کي دا خل دی . (کذا فی الروح عن الخفاجی علی البيضاوی)

او دا هغه معامله ده کوم چي دعربو قريش په مغالطه کي واچول او ديوی ډيری لويی عظيمی گناه مرتکب سول ، چي پرنبی کريم ﷺ يی دا الزام ولگوی چي تادخپل زوی دطلاقی کړی بی بی سره نکاح وکړه . حال

دا دي چي هغه د دوی زوی نه وو ، بلکې متبنٰی وو چي ذکر یې په دې سورة کي راتلونکی دی .

اَلنَّبِيُّ اَوْلٰى بِالْمُؤْمِنِيْنَ مِنْ اَنْفُسِهِمْ وَاَزْوَاجُهٗٓ اُمَّهٰتُهُمْ ؕ وَ

نبی نژدی دی مؤمنانوته د دوی دنفسونو څخه او دده بیبیانی د دوی میندی دی

اُولُوا الْاَرْحَامِ بَعْضُهُمْ اَوْلٰى بِبَعْضٍ فِيْ كِتٰبِ اللّٰهِ مِنَ

او نسبیان ځیني نژدی دی ځینوته په کتاب دالله ﷻ کي

الْمُؤْمِنِيْنَ وَالْمُهٰجِرِيْنَ اِلَّآ اَنْ تَفْعَلُوْٓا اِلٰٓى اَوْلِيٰٓئِكُمْ مَّعْرُوْفًا ؕ كَانَ

زیات دټولو مؤمنانو اومهاجرینو څخه مګر دا چي کول غواړی دخپلو دوستانو سره احسان

ذٰلِكَ فِي الْكِتٰبِ مَسْطُوْرًا ﴿٦﴾

دا دی په کتاب کي لیکل سوی

تفسیر: نبی (ﷺ) دمومنانو سره د دوی دنفس (او ذات) څخه هم زیات تعلق ساتی (ځکه چي دانسان نفس خو کله ده ته نفع رسوی کله نقصان ځکه چي که نفس ښه وي او د ښو کارونو طرف ته ځي نو نفع ده اوکه دبدو کارونو طرف ته ځي نو په خپله خپل نفس دخپل ځان دپاره مصیبت جوړسی ، په خلاف دنبی کریم ﷺ څخه چي د دوی تعلیم سراسر نفع او خیر خیردی اوخپل نفس که ښه هم وي او دنیکی طرف ته ځي خوبیاهم دده نفع دنبی کریم ﷺ دنفعی سره نه سي برابریدی ، ځکه چي خپل نفس ته خو په خیر او شر، مصلحت او مضرت کي غلطی هم کیدی سي اوده ته دمصلحت اومضرت پوره علم هم نه وی ، په خلاف دنبی کریم ﷺ څخه چي د دوی په تعلیماتوکي دهیڅ مغالطی خطره نسته اوکله چي په نفع رسولوکی نبی کریم ﷺ زمونږ دځان اوزمونږدنفس څخه هم زیات دی نو د دوی حق پرمونږ زمونږدځان څخه هم زیات دی اوهغه حق دا دی چي په هرکارکي د دوی اطاعت وسی اود دوی تعظیم اوتکریم دټول مخلوقات څخه زیات وکړو) او د دوی بیبیانی ددغو (مومنانو) میندی دی (یعني دذکرسوی تقریرڅخه معلومه سوه چي نبی کریم ﷺ دمومنانودپاره روحانی پلاردی کوم چي ددوی دخپل ذات څخه هم پردوی زیات مشفق مهربان دی ، په دې مناسبت سره د دوی پاکی بیبیانی دامت میندی سوی ، یعني په تعظیم او تکریم کي د دوی حق دمندو په شان دی .
دی آیت پاکی بیبیانی صراحتًا دامت میندی اونبی کریم ﷺ اشارتًا دامت روحانی پلار مقررکی ، نو په دی سره هم دغه شان یوالتباس او اشتباه کیدی سوه ، څنګه اشتباه چي دمتبنٰی غیرحقیقی پلار طرف ته په

نسبت کولو کي کيده ، چي ددي څخه دانتيجه را ايستل کيده چي دامت مسلمانان تول په خپل مينځ کي حقيقي وروڼه خوندي سول نو د دوی په مينځ کي به دنکاح تعلق حرام سی ، او دميراث په احکامو به هم هر مسلمان دبل وارث مقرر سی ، ددي التباس دليری کولو دپاره يی دايت په اخرکي وفرمايل . وَاُولُو الْاَرْحَامِ بَعْضُهُمْ اَوْلٰى بِبَعْضٍ فِي كِتَابِ اللهِ، الاية. يعني قريب دالله ﷻ په کتاب (يعنی حکم شرعی) کي ديو بل سره (په ميراث کی) زيات تعلق لري په نسبت دنورو مومنانو او مهاجرينو مگرداچي تاسی دخپلو (دی) دوستانو سره (په طور دوصيت) څه سلوك کول غواړی نو هغه جائز دی ، داخبره په لوح محفوظ کي ليکل سوي ده (چي دهجرت په ابتداء کي دايماني ورورولی په بنا مهاجرين دانصارو دميراث حقدار جوړ کړی وه ، مگر په اخر کي به دميراث تقسيم دقرابت اورحمونو پر بنياد باندي وو)

معلومات اومسئلي: لکه چي اول بيان سوی دی چي په سورة احزاب کي زيات مضامين دنبی کريم ﷺ دتعظيم او دوی ته دازار رسولو دحراموالی متعلق دی . دسورة په شروع کي يی دمشرکانو اومنافقانو دازارونو ذکر وکی اونبی کريم ﷺ ته يی هدايت کړی وو. ددي څخه وروسته يی دجاهليت دری رسمونه باطل کړل چي اخری په کښی دنبی کريم ﷺ دخفه کولو متعلق وو. څکه چي کفارو دحضرت زيد ؓ دطلاقی کړی بی بی زينب ؓ سره دنبی کريم ﷺ دنکاح په وخت کي ددي خپل جاهلانه رسم متبنٰی پرښا باندي پر دوی دا الزام ولگوی چي دوی دخپل زوی دطلاقی سوی بی بی سره نکاح وکړه . دغه ټول دسورة دشروع څخه تردی ځای پوري دنبی کريم ﷺ دخفه کولو متعلق مضمون وو. په دی ذکر سوی آيت کي د دوی دتعظيم او اطاعت دټول مخلوق څخه زيات واجبوالی بيان سوی دی .

اَلنَّبِيُّ اَوْلٰى بِالْمُؤْمِنِيْنَ، د: اَوْلٰى بِالْمُؤْمِنِيْنَ . چي کوم مطلب په لندتفسيرکي بيان سوی دی ، هغه د ابن عطيه وغيره قول دی کوم چي قرطبی او اکثرو مفسرينو اختيار کړی دی . ددي خلاصه دا ده چي د دوی حکم دهر مسلمان دپاره دخپل مور اوپلار څخه هم زيات واجب العمل دی که دمور اوپلار د دوی دحکم خلاف څه ووايی نو وينا منل يی جائز نه دی، دغه شان دخپل نفس په ټولو خواهشاتو هم د دوی حکم منل مخکی دی.

په صحيح بخاري وغيره کي دحضرت ابوهريرة ؓ حديث دی چي نبی کريم ﷺ فرمايلي دی .

مَامِنْ مُؤْمِنٍ اِلَّا وَاَنَا اَوْلَى النَّاسِ بِهٖ فِي الدُّنْيَا وَالْاٰخِرَةِ اِقْرَءُوْا اِنْ شِئْتُمْ (اَلنَّبِيُّ اَوْلٰى بِالْمُؤْمِنِيْنَ مِنْ اَنْفُسِهِمْ .

يعنی يو مومن داسي نسته دکوم دپاره چي زه په دنيا او اخرت کي دټولو انسانانو څخه اولی او اقرب نه يم که ستاسو زړه غواړی نو ددی دتصديق دپاره دقرآن دا آيت ووايــاست ، اَلنَّبِيُّ اَوْلٰى بِالْمُؤْمِنِيْنَ ، الاية.

ددي خلاصه دا ده چي زه پرهر مومن مسلمان دټولی دنيا څخه زيات شفيق او مهربان يم او دا ښکاره ده چي ددي لازمی اثر دا په کار دی چي دهر مومن سره دنبی کريم ﷺ محبت دټولو څخه زيات وی ، لکه چي په حديث کي دا هم ارشاد دی . لَايُؤْمِنُ اَحَدُكُمْ حَتّٰى اَكُوْنَ اَحَبَّ اِلَيْهِ مِنْ وَّالِدِهٖ وَوَلَدِهٖ وَالنَّاسِ اَجْمَعِيْنَ. (بخاری اومسلم ، مظهری)

یعنی په تاسو کي څوك ترهغه وخته پوري نه سي مومن کیدی تر څو چي دهغه په زړه کي زما محبت دخپل پلار زوی او ټولو انسانانو څخه زيات نه سي .

وَأَزْوَاجُهُ أُمَّهَاتُهُمْ، پاکی بیبیانی دامت په میندو فرمایلو سره مراد دتعظیم اوتکریم په اعتبار سره مندی کیدل دی . دمور او د اولاد نور احکام ، دنکاح حرمت او دمحرم والی په وجه سره دپردی نه کول ، او په میراث کي حصه دار کیدل وغیره دا احکام ددي سره متعلق نه دی ، لکه چي دایت په اخرکی یی دا واضح کړی دی او دپاکو بیبیانو سره دیو امتی دنکاح حراموالی دا په یو مستقل آیت کي جلا بیان سوی دی . په دی وجه داضروري نه ده چي داحراموالی دنکاح هم دمور والی په وجه سره وی .

مسئله : د ذکرسوی آیت څخه ثابته سوه چي په پاکو بیبیانو کي دچاپه شان کي څه ادنی بی ادبی په دی وجه هم حرامه ده چي هغه دامت میندی دی او په دی وجه هم چي دهغوی په ازارولو سره نبی کریم ﷺ ته ازار رسیږي کوم چي سخت حرام دی .

د. أُولُوا الْأَرْحَامِ بَعْضُهُمْ أَوْلَىٰ بِبَعْضٍ . د. أُولُوا الْأَرْحَامِ لفظی ' معنی دټولو قریبانو اوخپلوانودپاره شامله ده ، برابره خبره ده که هغه خلق وي کومو ته چي فقهاء عصبات وایی یاهغه کومو ته چي دخاصی اصطلاح په اعتبار سره دعصباتو په مقابله کي أُولُوا الْأَرْحَامِ وایی ، په قرآنکریم کي دا فقهی اصطلاح کومه چي وروسته اختیار سوي ده ، مرادنه ده.

مطلب دا دی چي درسول ﷺ او د دوی دبیبیانو تعلق دامت دمومنانو سره که څه هم په دی درجه کي دی چي دمور اوپلار څخه هم مقدم دی ، مگر دمیراث په احکامو کي ددي هیڅ دخل نسته بلکی دمیراث تقسیم به دنسبی اوقرابتی تعلقو پربنیاد باندي وی .

دمیراث حصه داری داسلام په شروع کي دایمانی او روحانی قرابتو پربنیاد وه ، بیا دا منسوخ سوه او دقرابتی تعلقاتو پربنیاد سوه چي تفصیل یې قرآن کریم په خپله ښوولی دی . دا ټول تفصیل دناسخ او منسوخ ایتونو په سورة انفال کي تیرسوی دی . او د. مِنَ الْمُؤْمِنِينَ څخه وروسته د وَالْمُهَاجِرِينَ ذکر په دی صورت کي د دوی داختصاص او امتیاز ښوولو دپاره دی .

او ځینی حضرات فرمایی چي دلته دمؤمنین څخه مراد انصار او دمهاجرین څخه مراد قریش دی ، دمهاجرین په مقابل کي دمؤمنین لفظ دانصارو دپاره کیدل معلوم سول . په دی صورت کي به دا آیت دتوارث بالهجرت دپاره ناسخ وي ځکه چي دهجرت په ابتداء کي نبی کریم ﷺ دمهاجرینو او انصارو په مینځ کي وروروولی قائمه کړه او د دوی په مینځ کي یی دوراثت جاری کیدو هم حکم ورکړی وو . دی آیت داتوارث بالهجرت هم منسوخ کی . (قرطبی)

إِلَّا أَنْ تَفْعَلُوا إِلَىٰ أَوْلِيَائِكُمْ مَعْرُوفًا ' یعنی وراثت خو به صرف دقرابت په تعلق سره ورکول کیږي ، غیر قریب به وارث نه وی ، مگر د ایمانی وروروولی پربنا چي دکومو خلقو سره تعلق وی ، هغوی ته څه ورکول غواړی

نو ددی په هرحال اختیار سته ، په خپل ژوند کي هم په طور دهدیې او تحفې یې دوی ته ورکولای سي او دمرګ څخه وروسته د دوی دپاره وصیت هم کولای سی .

وَاِذْ اَخَذْنَا مِنَ النَّبِيّٖنَ مِيْثَاقَهُمْ وَ مِنْكَ وَمِنْ نُّوْحٍ وَّاِبْرٰهِيْمَ وَمُوْسٰى

اوهرکله چي واخیستی مونږ دنبیانوڅخه د دوی اقرار اوستاڅخه اودنوح ﷺ اودابراهیم ﷺ اودموسٰی ﷺ څخه

وَعِيْسَى ابْنِ مَرْيَمَ وَاَخَذْنَا مِنْهُمْ مِّيْثَاقًا غَلِيْظًا ۙ﴿۷﴾

او دعیسٰی ﷺ زوی دمریم څخه او واخیستی مونږ د دوی څخه پوخ اقرار .

لِّيَسْئَلَ الصّٰدِقِيْنَ عَنْ صِدْقِهِمْ ۚ وَاَعَدَّ لِلْكٰفِرِيْنَ عَذَابًا اَلِيْمًا ۠﴿۸﴾

چي پوښتنه وکړی الله ﷻ درښتونوڅخه د دوی درښتیاؤ اوتیارکړی دی دکافرانو دپاره . دردناک عذاب .

لنډتفسیر: او (هغه وخت قابل دذکردی) کله چي مونږ دټولو پیغمبرانو څخه د دوی اقرار واخستی (چي د الله ﷻ داحکامو تابعداری کوي چي په دی کي دخدای مخلوق ته تبلیغ او دعوت او دیو بل سره تعاون او تناصر هم دا خل دی) او (په دی پیغمبرانو کی یې) ستا څخه هم (اقرار واخستی) او دنوح ﷺ اوابراهیم ﷺ او موسٰی ﷺ اوعیسٰی ﷺ زوی دمریم څخه هم او (داڅه معمولي وعده او اقرارنه وو، بلکه) مونږ ددي ټولو څخه ښه پخه وعده واخسته ددي دپاره چي (دقیامت په ورځ) ددي رښتونو خلقو څخه (یعنی انبیاء څخه) د دوی درښتیاؤ تحقیقات وکړو (چي د دوی شرافت او عزت او په نه منونکو حجت مکمل سی، ددي وعده او ددی دتحقیقاتو څخه د دوو خبرو وجوب ثابت سو چي دوحی پرخاوند دخپلي وحی تابعداری واجب ده اوکوم عام خلق چي دوحی خاوندان نه دی ، پرهغوی دخپل وحی دخاوند پیغمبر دتابعداری وجوب) او دکافرانو دپاره (کوم چي دوحی دخاوند دتابعداری څخه منحرف دی) الله ﷻ دردناک عذاب تیار کړی دی .

معلومات اومسئلي: دسورة په شروع کي نبی کریم ﷺ ته دخپلي وحی دتابعداری کولو حکم ورکړل سوی دی وَاتَّبِعْ مَايُوْحٰى اِلَيْكَ، اوپه تیر آیت . اَلنَّبِيُّ اَوْلٰى بِالْمُؤْمِنِيْنَ، کي پرمومنانو دصاحب وحی داحکامو منل واجب سوی دی ، ددي دواړو خبرو دزیات اثبات او اظهار دپاره په ذکرسوو دواړو آیتونو کی هم دوه مضمونه بیان سوی دی ، یعنی پرصاحب دوحی دخپلي وحی تابعداری اوغیر صاحب دوحی ته دصاحب دوحی تابعداری کول واجب دی .

(میثاق انبیاء علیهم السلام)

په ذکر سوی آیت کي چي کوم دانبیاء علیهم السلام څخه دوعدی او اقرار اخستو ذکر دی ، دا دهغه عام اقرار څخه علاوه دی کوم چي دټول مخلوق څخه اخستل سوی دی ، لکه چي په مشکوٰة کي په روایت د

امام احمد مرفوعًا راغلی دی چی خصوصًا بمیثاق الرسالة والنبوة وهو قوله تعالی: وَإِذْ أَخَذْنَا مِنَ النَّبِيِّينَ مِيثَاقَهُمْ ، الایه.
داعهد دانبیاء علیهم السلام څخه دنبوت اورسالت دفرضو ادا کولو او دیو بل دتصدیق او مدد کولو وعده وه لکه چي ابن جریراوابن ابی حاتم وغیره دحضرت قتاده ؓ څخه روایت کړی دی اوپه یوروایت کي دانبیاؤ په دی وعده کي داهم شامله وه چي داټول به ددي هم اعلان کوي چي، مُحَمَّدٌ رَسُولُ اللهِ لَا نَبِيَّ بَعْدَهُ، یعنی محمد مصطفی ﷺ دالله ﷻ رسول دی اوخاتم النبین دی ، د دوی څخه وروسته به هیڅ یو نبی نه وی.
او دا دانبیاؤ میثاق هم په ازل کي هغه وخت واخستل سو کله چي دعام مخلوق څخه د، أَلَسْتُ بِرَبِّكُمْ، عهد اخستل سوی وو. (روح اومظهری)
وَمِنْكَ وَمِنْ نُوحٍ : الایه، دعامو انبیاؤ علیهم السلام د ذکر کولو څخه وروسته په دوی کي دپنځو انبیاؤ خصوصی ذکر د دوی ددي خاص امتیاز او شرافت پربنا وسو کوم چي دوی ته په ټولی دانبیاؤ علیهم السلام کي حاصل دی او په دی کي هم په لفظ دمِنْكَ کي دنبی کریم ﷺ ذکریی دنورو څخه مخکی کی، که څه هم د دوی بعثت دټولو څخه وروسته دی ، وجه ددي په خپله په حدیث کي دا فرمایی . كُنْتُ أَوَّلَ النَّاسِ فِي الْخَلْقِ وَآخِرَهُمْ فِي الْبَعْثِ (رواه ابن سعد وابونعیم فی الحلیه عن میسرة المفجر والطبرانی فی الکبیر عن ابن عباس ؓ، مظهری) یعنی نبی کریم ﷺ فرمایی چي زه په پیدائش اوتکوین کي دټولو انسانانو څخه اول یم او په بعثت اونبوت کي دټولو څخه اخر.

يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا اذْكُرُوا نِعْمَةَ اللَّهِ عَلَيْكُمْ إِذْ جَاءَتْكُمْ جُنُودٌ فَأَرْسَلْنَا عَلَيْهِمْ رِيحًا

ای ایماندارو ! یاد کړی احسان دالله ﷻ په خپل ځان باندی هرکله چي راوختل په تاسی فوجونه ! بیا مونږ ولیږله په دوی هوا

وَجُنُودًا لَمْ تَرَوْهَا ۚ وَكَانَ اللَّهُ بِمَا تَعْمَلُونَ بَصِيرًا ﴿٩﴾ إِذْ جَاءُوكُمْ مِنْ فَوْقِكُمْ وَمِنْ

او هغه فوجونه کوم چي تاسی نه لیدل ، اودی الله ﷻ په هغه چي تاسی یی کوی لیدونکی هرکله چي راغلل په تاسی

أَسْفَلَ مِنْكُمْ وَإِذْ زَاغَتِ الْأَبْصَارُ وَبَلَغَتِ الْقُلُوبُ الْحَنَاجِرَ وَ

دلوړ څخه او دلاندی ستاسی څخه اوکله چي پاته سوی سترګی او ورسیدل زړونه حناجروته

تَظُنُّونَ بِاللَّهِ الظُّنُونَا ﴿١٠﴾ هُنَالِكَ ابْتُلِيَ الْمُؤْمِنُونَ وَزُلْزِلُوا زِلْزَالًا

اوګمانونه کول تاسی په الله قسم قسم ګمانونه ، دغه وخت ازمائش وسو ، دایماندارو او وخوزول سول په سختو

شَدِيدًا ﴿١١﴾ وَإِذْ يَقُولُ الْمُنَافِقُونَ وَالَّذِينَ فِي قُلُوبِهِمْ مَرَضٌ

خوزولو سره ، او هر کله چې وویل منافقانو او دکومو په زړونو کې چې مرض دی

مَّا وَعَدَنَا اللّٰهُ وَرَسُوْلُهٗۤ اِلَّا غُرُوْرًا ﴿۱۲﴾ وَاِذْ قَالَتْ طَّآئِفَةٌ مِّنْهُمْ

کومه وعده چې کړې وه مونږ سره الله دهغه رسول تول فریب وو ، او هر کله چې وویل یوې ډلې په دوی کې

يٰۤاَهْلَ يَثْرِبَ لَا مُقَامَ لَكُمْ فَارْجِعُوْا ۚ وَيَسْتَاْذِنُ فَرِيْقٌ مِّنْهُمُ

ای دیثرب خلقو ؛ تاسی دپاره ځای نسته وروسته بیرته راسی اورخصت غوښتی یوې ډلې په دوی کې

النَّبِيَّ يَقُوْلُوْنَ اِنَّ بُيُوْتَنَا عَوْرَةٌ ۛ وَمَا هِيَ بِعَوْرَةٍ ۛ اِنْ يُّرِيْدُوْنَ

د نبی ﷺ څخه ویل یې چې زمونږ کورونه خوشې دی او هغه خوشې نه وو ، د دوی هیڅ غرض نه وو

اِلَّا فِرَارًا ﴿۱۳﴾ وَلَوْ دُخِلَتْ عَلَيْهِمْ مِّنْ اَقْطَارِهَا ثُمَّ سُئِلُوا

مګر تښتیدل ، او که ننبار ته را دننه سی په دوی څوك ددې داطرافو څخه بیا د دوی څخه وغواړي

الْفِتْنَةَ لَاٰتَوْهَا وَمَا تَلَبَّثُوْا بِهَاۤ اِلَّا يَسِيْرًا ﴿۱۴﴾ وَلَقَدْ كَانُوْا

ددین نه ګرځیدل نو وبه یې مني او درنګ به ونه کړي په دې کې مګر لږ ، او اقرار یې

عَاهَدُوا اللّٰهَ مِنْ قَبْلُ لَا يُوَلُّوْنَ الْاَدْبَارَ ۭ وَكَانَ عَهْدُ اللّٰهِ

کړی وو دالله ﷻ سره مخکې چې نه به ګرځوی شا ، او دالله داقرار به پوښتنه

مَسْئُوْلًا ﴿۱۵﴾ قُلْ لَّنْ يَّنْفَعَكُمُ الْفِرَارُ اِنْ فَرَرْتُمْ مِّنَ الْمَوْتِ اَوِ

کیدای سی ، ته ووایه هیڅ په کار به را نه سی تاسی ته دا تښتیدل که وتښتی دمرګ څخه

الْقَتْلِ وَاِذًا لَّا تُمَتَّعُوْنَ اِلَّا قَلِيْلًا ﴿۱۶﴾ قُلْ مَنْ ذَا الَّذِيْ يَعْصِمُكُمْ

یا دقتل څخه او بیا به هم نفع بیا پیدا نه کړی مګر لږ ورځی ، ته ووایه څوك دی چې تاسی به وساتي

مِّنَ اللّٰهِ اِنْ اَرَادَ بِكُمْ سُوْٓءًا اَوْ اَرَادَ بِكُمْ رَحْمَةً ؕ وَ

د الله ﷻ څخه که وغواړي په تاسي باندي بدي یا وغواړي په تاسي باندي مهرباني ، او

لَا يَجِدُوْنَ لَهُمْ مِّنْ دُوْنِ اللّٰهِ وَلِيًّا وَّ لَا نَصِيْرًا ﴿۱۷﴾ قَدْ

بیا به پیدا نه کړي دخان دپاره دالله ﷻ څخه ماسوا څوك حمایتی او نه مددګار ، الله ﷻ

يَعْلَمُ اللّٰهُ الْمُعَوِّقِيْنَ مِنْكُمْ وَالْقَآئِلِيْنَ لِاِخْوَانِهِمْ هَلُمَّ

ته ښه معلوم دی کوم چی منع کوونکی دی تاسی څخه او وايي خپلو وورونوته چی راځی

اِلَيْنَا ۚ وَلَا يَاْتُوْنَ الْبَاْسَ اِلَّا قَلِيْلًا ﴿۱۸﴾ اَشِحَّةً عَلَيْكُمْ ۚ فَاِذَا

مونږته ، اوجنګ ته نه راځی مګرلږ ، بخیلان دی په تاسی ،

جَآءَ الْخَوْفُ رَاَيْتَهُمْ يَنْظُرُوْنَ اِلَيْكَ تَدُوْرُ اَعْيُنُهُمْ كَالَّذِيْ

بیا چی هرکله راسی د ېيرې وخت نو ته وینی دوی چی ګوری تاته ګرځی سترګی د دوی دهغه پاشان

يُغْشٰى عَلَيْهِ مِنَ الْمَوْتِ ۚ فَاِذَا ذَهَبَ الْخَوْفُ سَلَقُوْكُمْ بِاَلْسِنَةٍ

لکه په چا چی راسی بی هوښی دمرګ بیاچی هرکله تیرسی وخت دبیرې ولی تاسی په ژبو

حِدَادٍ اَشِحَّةً عَلَى الْخَيْرِ ۚ اُولٰٓئِكَ لَمْ يُؤْمِنُوْا فَاَحْبَطَ اللّٰهُ اَعْمَالَهُمْ

تیرو باندی چی بخیلی دی په خیر باندی ، دغه خلق یقین نه کوی نوبرباد کړی دی الله ﷻ عملونه د دوی

وَكَانَ ذٰلِكَ عَلَى اللّٰهِ يَسِيْرًا ﴿۱۹﴾ يَحْسَبُوْنَ الْاَحْزَابَ لَمْ

او دا په الله ﷻ باندی آسانه ده ، دوی ګمان کوی چی فوجونه دکفارو نه دی

يَذْهَبُوْا ۚ وَاِنْ يَّاْتِ الْاَحْزَابُ يَوَدُّوْا لَوْ اَنَّهُمْ بَادُوْنَ فِي

بیرته راغلی ، او که راسی دغه فوجونه نو غواړی به دوی چی ولاړ سی دوی

الْأَعْرَابِ يَسْأَلُونَ عَنْ أَنۢبَآئِكُمْ ۖ وَلَوْ كَانُوا۟ فِيكُم مَّا قَٰتَلُوٓا۟

کلیوته پوښتنه به کوی ستاسی دخبرونو او که وی دوی په تاسی کی نو جنگ به نه وی کړی دوی

إِلَّا قَلِيلًا ۝٢٠ لَّقَدْ كَانَ لَكُمْ فِى رَسُولِ ٱللَّهِ أُسْوَةٌ حَسَنَةٌ لِّمَن

مگر لږ ، بیشکه دی ستاسی دپاره په رسول دالله کی خویونه غوره دهغه چا دپاره چی

كَانَ يَرْجُوا۟ ٱللَّهَ وَٱلْيَوْمَ ٱلْءَاخِرَ وَذَكَرَ ٱللَّهَ كَثِيرًا ۝٢١ وَلَمَّا رَءَا

امید لری دالله او د ورځی دآخرت او یادوی الله لره ډیر ، او هرکله چی ولیدل

ٱلْمُؤْمِنُونَ ٱلْأَحْزَابَ قَالُوا۟ هَٰذَا مَا وَعَدَنَا ٱللَّهُ وَرَسُولُهُۥ وَ

مسلمانانو فوجونه وې ویل چی دا هغه دی چی وعده یې کړی وه زمونږ سره الله او دهغه رسول

صَدَقَ ٱللَّهُ وَرَسُولُهُۥ ۚ وَمَا زَادَهُمْ إِلَّآ إِيمَٰنًا وَتَسْلِيمًا ۝٢٢ مِّنَ

اوربښتیا ویلی دی الله او دهغه رسول او د دوی زیات سو یقین او اطاعت کول په

ٱلْمُؤْمِنِينَ رِجَالٌ صَدَقُوا۟ مَا عَٰهَدُوا۟ ٱللَّهَ عَلَيْهِ ۖ فَمِنْهُم مَّن

مؤمنانو کی ځینی سړی دی چی ربښتونی یې کړه دکومی خبری چی یې عهد کړی وو دالله سره بیا چی پوره کړه یې

قَضَىٰ نَحْبَهُۥ وَمِنْهُم مَّن يَنتَظِرُ ۖ وَمَا بَدَّلُوا۟ تَبْدِيلًا ۝٢٣ لِّيَجْزِىَ

دوی کی خپله ذمه واری او ځینی لا انتظار کوی ، او بدله یې نه کړه یوه ذره ، چی بدله وکړی

ٱللَّهُ ٱلصَّٰدِقِينَ بِصِدْقِهِمْ وَيُعَذِّبَ ٱلْمُنَٰفِقِينَ إِن شَآءَ

الله ربښتونوته د دوی دربښتیاؤ او عذاب ورکړی منافقانوته که وغواړی

أَوْ يَتُوبَ عَلَيْهِمْ ۚ إِنَّ ٱللَّهَ كَانَ غَفُورًا رَّحِيمًا ۝٢٤ وَرَدَّ ٱللَّهُ ٱلَّذِينَ

یاتوبه وغورځوی د دوی په زړونو کی بیشکه الله ﷻ دی بخښنی والا مهربان ، او واپس کړل الله ﷻ

كَفَرُوْا بِغَيْظِهِمْ لَمْ يَنَالُوْا خَيْرًا ۗ وَكَفَى اللّٰهُ الْمُؤْمِنِيْنَ الْقِتَالَ ۗ

منکران په خپله غصه کی دك چی په لاس ورنه غلو هیڅ خیر ، اوپه خپله ذمه واخستی الله دمؤمنانو جنګ .

وَكَانَ اللّٰهُ قَوِيًّا عَزِيْزًا ۝ وَاَنْزَلَ الَّذِيْنَ ظَاهَرُوْهُمْ مِّنْ اَهْلِ

او دی الله زوراور زبردست ، او را کښته کړل الله هغه چی د دوی مدد یې کړی وو داهل

الْكِتٰبِ مِنْ صَيَاصِيْهِمْ وَقَذَفَ فِيْ قُلُوْبِهِمُ الرُّعْبَ فَرِيْقًا

کتابو څخه د دوی دقلاګانو څخه او وې غورځول د دوی په زړونو کی رعب خینی

تَقْتُلُوْنَ وَتَاْسِرُوْنَ فَرِيْقًا ۝ وَاَوْرَثَكُمْ اَرْضَهُمْ وَدِيَارَهُمْ وَ

تاسی قتل کړل او خینی مو قید کړل ، اوتاسی ته یې درکړه دهغوی مځکه او کورونه

اَمْوَالَهُمْ وَاَرْضًا لَّمْ تَطَئُوْهَا ۗ وَكَانَ اللّٰهُ عَلٰى كُلِّ شَيْءٍ قَدِيْرًا ۝

او دهغوی مالونه اویوه مځکه چی تاسی باندی نه دی ایښی قدمونه اودی الله دهرڅه په کولو باندی قادره .

تفسیر: ای ایماندارو! یادکړی دالله ﷺ انعام چی پرتاسو یی کړی دی هرکله چی په تاسو ډیری لښکر را وختی (یعنی دعیینه لښکر او دابوسفیان لښکر او دیهودو بنی قریظه) بیا مونږ پر (دوی یوه سیلی را ولیږله چی هغوی یی پریشانه کړل اوخیمی یی ور ویستلی) او (دفرښتو) داسي فوج مو درولیږي کوم چي تاسی ته (په عام طور سره) نه ښکاره کیدی (که څه هم خینی اصحابو مثلاً حضرت حذیفه ﷺ خینو ملائکو په شکل دانسان هم ولیدی او دکفارو لښکر ته دجاسوسی دپاره تللی وی ، هلته دا اواز هم واوریدل سو چی تښتی ، او په دی واقعه کي ملائکو جنګ نه دی کړی صرف دکفارو په زړونو کي درعب اچولو دپاره رالیږل سوی وی) اوالله ﷺ ستاسو (ددغه وخت) عملونه لیدل (چی تاسو دیو اوږد اوپلن اوژور خندق په کیندلو کی لوی محنت تیر کی ، بیا دکفارو په مقابله کي په لوی استقلال سره ثابت قدم پاته سواست او په دی خوشحاله سواست اوستاسو امداد یی وکی . دا واقعه هغه وخت سوی وه) کله چي هغه (دښمنان خلق پر تاسو (دهر طرف څخه) را وختل دلوړ طرف څخه او دلاندی طرف څخه هم (یعنی خینی قبیلی دمدینی دلاندی طرف څخه اوخینی قبیلی ددي دلوړ طرف څخه) او کله چي سترګي (دبیری څخه) خلاصی خلاصی پاته سوی اوزړونه خلی ته راختلی وه اوتاسو خلقو په الله ﷺ قسم قسم ګمانونه کول (لکه چي دسختی په موقعو کي په طبعی طور سره مختلفی وسوسی راځي او دا دغیر اختیاری کیدو په وجه هیڅ ګناه نه ده او

نه ددي قول منافی دی کوم چي مخ ته داهل ایمانو راځی . هَذَا مَا وَعَدَنَا اللهُ وَرَسُولُهُ وَصَدَقَ اللهُ وَرَسُولُهُ
ځکه چي په دی کي دلفظ د ، هٰذَا، اشاره داحزابو دراختلو طرف ته ده ، چونکی ددي خبر دالله ﷺ دطرف
څخه ورکړل سوی وو ، په دی وجه دا خو یقینی وه لیکن انجام ددي واقعی یی نه وو ښوولی ، په دی وجه
په دی کي دمختلفو احتمالاتو دغالب کیدو او مغلوب کیدو پیداکیدل ښکاره وه) په دغه موقع
دمسلمانانو (پوره) پوره امتحان وسو (چی دوی پوره باندي وختل) او (په سخته) زلزله کي وغورځول سول
او (دا واقعه هغه وخت سوی وه) کله چي منافقانو اوهغو خلقو دکومو په زړونوکی چي (دنفاق اوشك)
مرض دی داسي وویل چي زمونږ سره خوالله ﷺ او دهغه رسول محض د دوکی وعده کړي ده (لکه چي
معتب بن قشیر او دده ملګرو دا خبره هغه وخت کړی وه چي دخندق کښلو په وخت کي دکولنګ په لګیدو
سره څو واری د اور شغلی را ووتلی او نبی کریم ﷺ دهر وار سره ارشاد وفرمایی چي ماته دفارس، روم او
شام محلونه په دی رڼا کی په نظر راغلل اوالله ﷺ دهغه دفتح کولو وعده فرمایلي ده ، کله چي دفوجونو
دیو ځای کیدو په وخت کي پریشانی جوړه سوه ، نو هغو خلقو وویل چي حالت خو دا دی او پر دی دشام او
روم دفتح کولو خو شخبری اورول کیږي ، دا محض دوکه ده اوکه هغوی دا دالله ﷺ وعده نه ګڼله او نه یی
ده ﷺ رسول ګڼی ، بیا دا وینا ، مَاوَعَدَنَا اللهُ وَرَسُولُهُ ، یا خو صرف دحکایت په درجه کي ده اویاپه طور
دفرض او مسخرو ده) او (دا واقعه دهغه وخت وه) کله چي په دوی (منافقانو) کي ځینو خلقو (دجنګ نورو
حاضرینوته) وویل چي دیثرب (یعنی دمدینی) دخلقوا (دلته) دپاته کیدو موقع نه ده (ځکه چي دلته پاته
کیدل دمرګ خلی ته ورتلل دی) پس (خپلو کورنو ته) بیرته ولاړ سی (دا خبره اوس بن قیطی کړی وه ، په
دی کي څه نور خلق هم شریك وه) اوځینو خلقو (په دی منافقانو کی) دنبی (ﷺ) څخه (خپلو کورونو ته دبیرته
تللو) اجازه غوښتل او ویل یی چي زمونږ کورونه غیر محفوظ دی (یعنی صرف ښځی اوبچی پاته دی ،
دیوالونه داطمینان قابل نه دی ، هسی نه غل ورته را ننوزی دا قول د ابو عرابه او دځینو نورو بنی حارثه
وو) حال دا وو چي هغه (د دوی په خیال کی) غیر محفوظ نه دی (یعنی دوی ته دغل وغیره بیره هیڅکله
نسته ، او نه یی په بیرته تلو سره دا نیت سته چي ګوندی انتظام یی قابل اطمینان وکړی بیرته راسی) دوی
محض تښتیدل غواړی او (د دوی دا حالت دی چي) که په مدینه کي ددي د (ټولو) اطرافو څخه په دوی (کله
چي دوی په خپلو کورنو کي وی) یو (لښکر دکفارو) را ننوزی ، بیا د دوی څخه دفساد (یعنی دمسلمانانو
سره دجنګیدو) درخواست وکی نو دوی به (فوراً) دا (فساد) منظور کړی او په دغو کورونو کي به ډیر کم
پاته سي (یعنی دومره توقف به وي چي څوك ده ته درخواست وکړی او دی یی منظور کړی او ددی څخه
وروسته به هغه فوراً تیارسی او دمسلمانانو مقابلی ته ورسیږي او دکورونو هیڅ خیال هم ونه کړی چي
ګواکی مونږ خو دنورو په لوټ مارپسی څو هسی نه څوك زمونږ کوز لوټ نه کړی نو که د دوی واقعی
دحفاظت قصد وي نو اوس ولی په کورونو کي نه پاته کیږي ددي څخه صفا معلومه سوه چي په اصل کي د دوی
دمسلمانانو سره دښمنی او دکفارو سره محبت دی . په دی وجه دسرو په ډیروالی سره هم دمسلمانانو مدد نه

خوښوی ، باقي دکوروونو خبره دا خو هسی بهانه ده) حال دا دی چي دی خلقو (ددی څخه) مخکی دخدای سره وعده کړی وه چي (ددښمن په مقابله کی) شا به نه کړو (دا وعده یی هغه وخت کړی وه کله چي په بدر کي ځینی دشرکت څخه پاته سوی وه ، نو ځینی منافقانو هم هسی دژبو په سر ویلی وو چي افسوس! مونږ شریك نه سو چي داسي مو کړی وای هغسی مو کړی وای ، کله چي وخت راغی نو ټول معلوم سول) او دالله ﷺ سره چي کوم (دا قسم) وعده کول کیږي ، ددي پوښتنه به کیږي ته (دوی ته) وفرمایه چي (تاسو چي کومی تیښتی کوي لکه چي الله ﷺ فرمایی . اِنْ يُرِيْدُوْنَ اِلَّا فِرَارًا ، نو) تاسو ته تیښته هیڅ نفع نه سي درکولای که تاسو) دمرګ څخه یادقتل څخه تښتی او (دتیښتی) په دی حالت کي بغیر دلږ ورځو څخه (چی دغه باقي عمر مقدر دی) نور زیات (دژوند څخه) نفع نه سي اخستی (یعنی په تیښته عمر نه سي زیاتولای ، ځکه چي ددي وخت مقدر دی او کله چي مقدر دی نو که ونه تښتی هم دمرګ څخه مخکی نه سي مړه کیدی وروسته نه په قرار پاته کیدو کي څه ضرر سته او نه په تیښته کي څه نفع ، نو تیښته محض بی عقلي ده ، او دتقدیر ددي مسئلي دتحقیق دپاره دوی ته) دا هم وفرمایه چي هغه څوك دی چي تاسوبه دخدای څخه خلاص کړی که هغه تاسوته بدرسول وغواړی (مثلاً ستاسو هلاکول وغواړی نو آیاتاسی څوك خلاصولای سي لکه چي تاسو تیښته نفع منده ګڼی) یاهغه څوك دی کوم چي دخدای فضل ستاسو څخه منع کړی که هغه په تاسو فضل کول وغواړی (مثلاً هغه مو ژوندی ساتل غواړی کوم چي دنیوی رحمت دی نو څوك ددي مانع کیدی سی ؟ لکه چي ستاسوخیال دی چي په جنګ کي پاته کیدل قطع کوونکی دژوند ګڼی) او (هغه خلق دی واوری چي) دخدای څخه ماسوا به نه څوك خپل حمایتی پیدا کړی (کوم چي نفع ورته ورسوی) او نه څوك مددګار چي دضرر څخه یی خلاص کړی (اوس دتقدیر دمسئلي څخه وروسته بیا دمنافقانو دتشنیع سلسله ده یعنی) الله ﷺ په تاسو کي هغو خلقو (ښه) پیژنی کوم چي (دنورو جنګ ته) دتلو څخه مانع کیږي اوکو چي خپلو (دکلی یاوطن) وروڼو ته وایی مونږ ته راسی (هلته خپل ځانونه ولی وژنی ، دا خبره یو سړی خپل حقیقی ورور ته کړی وه او دغه وخت دی ویونکی غوښه او دوډی خوړه مسلمان ورور ته وویل افسوس! ته دومره په ارام کي یی اونبی کریم ﷺ په داسي تکلیف کی ، هغه ورته وویل صاحبه! ته هم دلته راځه) او (د دوی دبزدلی ، حرص او بخل دا حال دی چي) جنګ ته ډیر کم راځی (په کوم کي چي یوڅه نوم کیږي ، دا خو د دوی بزدلی ده اوکه راځی هم نو) ستاسو په حق کي بخیلان وي (یعنی په راتلو کي د دوی لوی نیت دا وی چي ټول غنیمت مسلمانانوته ورنه کړل سي تش په نوم شریکیدو سره به په غنیمت کي دشریکیدو دعوی خو په یو درجه کي کولای سی) پس (کله چي د دوی بزدلی اوبخل دواړه کارونه ثابت سوی دی نو ددی مجموعی اثر دا دی چي) کله (څه) دبیری موقع پیښیږي نو تاسو یی وینی چي هغوی ستاسو طرف ته داسي ګوری چي پرسترګو یی چکر راځی ، لکه چي پرچا دمرګ بی هوښی راغلی وي (دا خو دبزدلی اثر سو) بیاچی کله دغه بیره لیری سي نو تاسو ته په تیزو تیزو ژبو سره پیغور ورکوی د

(غنیمت په) مال حرص کوونکی (یعنی دغنیمت دمال اخستو دپاره زړه زخمی کوونکی خبري کوی ، چي ولی مونږ درسره شریك نه وو؟ او زمونږ په مدد سره فتح ونه کړه؟ دا اثردبخل اوحرص دی ، دا معامله د دوی ستاسو سره ده او دالله ﷻ سره د دوی معامله دا ده چي) داخلق (د اول څخه) مومنان نه دی نوالله ﷻ د دوی ټول عملونه (نیك دمخکی څخه) بی کاره کړی دی (په اخرت کي به ورته هیڅ ثواب ونه رسیږي) او دا خبره دالله ﷻ په نزد ډیره آسانه ده (څوك ورسره مزاحمت نه سي کولای چي مونږ ددغو عملونو بدله ورکړو دا حالت خو د دوی دفوجونو دیوځای کیدو په وخت کي وو، مگر د دوی بزدلی دومره زیاته سوي ده چي دفوجونو دتلو څخه وروسته هم) ددي خلقو دا خیال دی چي (تر اوسه) دالښکر تللی نه دی (او دډیري بزدلی څخه د دوی دا حالت دی) چي که (بالفرض) دا (تللی) خلق (بیابیرته) راسی نو (بیاخو) دا خلق (په دخان دپاره) هم خوښوی چي کاشکی! مونږ (یوځای) دباندی کلیو ته تللی وای (هلته ناست وای دراتلونکو څخه مو) ستاسو دخبرونو پوښتنه کولی (او دا زړه سوزونکی جنګ مو په خپلو سترګو سره نه لیدلی) اوکه چیری (اتفاقًا ټول یاځینی کلیوته ولاړ نه سی) بلکی په تاسو کي وي نوبیاهم (دغه وخت هیڅ غیرت نه ورځی او هسی دنوم کولو دپاره) به څه لږڅه جنګ وکړی (مخ ته ددي بیان دی چي په جنګ کي دنبی کریم ﷺ په شان ثابت قدم پاته کیدل او دده اقتدا او تابعداری دایمان مقتضا ده چي منافقانوته شرم وړاندی کی چي سره دایمان ددعوی یی دایمان دمقتضٰی څخه خلاف وکی اومخلصانوته خوشخبری ورسیږي چي دا خلق خامخا مصداق د، کَانَ یَرْجُوا اللّٰهَ الخ دی نو ارشاد فرمایی چي) ستاسو خلقو دپاره یعنی دداسی سړی دپاره کوم چي دالله ﷻ څخه او دورځی د اخرت څخه بیرېږي او ډیر ذکر دالله ﷻ کوي (یعنی کامل مومن وي دده دپاره) درسول الله (ﷺ) یوه عمده نمونه موجوده وه (چي هرکله ده ﷺ په خپله شریك وو، نو د دوی څخه زیات په تاسو کي څوك خوږ دی چي هغه اقتداء نه کوي اوخپل ځان محفوظ ساتی) او (مخکي دمنافقانو په مقابله کي دمومنانو مخلصانه ذکردی) کله چي مومنانو دالښکری ولیدی نو وي ویل چي دا هغه (موقع) ده دکوم چي مونږ ته الله ﷻ او رسول ﷺ خبر را کړی دی (هم دارنګه دسورة بقره په دی آیت کي ددي نژدی اشاره په صراحت سره موجوده ده . اَمْ حَسِبْتُمْ اَنْ تَدْخُلُوا الْجَنَّةَ. (تردی قول پوری) وَزُلْزِلُوا، ځکه چي سورة بقره په نزول کي دسورة احزاب څخه مخکی دی ، کذافی الاتقان) او الله او رسول ربښتیا فرمایلي وه او په دی (لښکرو لیدو) سره (کومه چي ربښتنی پیشګویی ده) د دوی په ایمان او اطاعت کي ترقی وسوه (دا وصف دټولو مومنانومشترك دی اوځینی صفتونه په ځینو مومنانوکی خاص هم دی ، بیان یی دا دی چي) په دی مومنانو کي ځینی خلق داسي هم دی چي دوی دکومی خبري دالله ﷻ سره وعده کړی وه په هغه کي ربښتنی سول (ددی تقسیم دا مطلب نه دی چي ځینو مسلمانانو وعده کړی وه او ربښتنی نه سول ، بلکی دا تقسیم په دی بنا باندي دی چي ځینو دسره وعده نه وه کړی او بغیر دوعدی څخه ثابت قدم پاته سول ، ددي وعده کوونکو دذکروضاحت په مقابله دلوړنی آیت کي دی ، کوم چي دمنافقانو په حق کي دی ، وَلَقَدْ کَانُوا عٰهَدُوا اللّٰهَ الخ اومراد ددي وعده کوونکو څخه حضرت انس بن النضر او دده ملګری دی ، داحضرات

اتفاقًا دبدر په غزاء کي نه وه شریك سوی نوافسوس یی کوي اووعده یی وکړه چي که اوس جهاد پیښ سو نو په دی کي به زمونږ سر تیره کوشش ولیدل سي مطلب یی دا وو چي مخ به ونه گرځوو که څه هم مړه سو) بیا په دی (وعده کوونکو) کي (دوه قسمونه سول) ځیني خو په دوی کي هغه دی کومو چي خپل نذرونه پوره کړل (مراد هغه وعده ده دکوم چي دنذر په شان واقع کیدل واجب دی ، مطلب دا دی چي شهیدان سول او تر اخر وخته پوري یی مخ ونه گرځوی ، چنانچي حضرت انس بن نضر په اُحد کي شهید سوی وو ، دغه شان حضرت مصعب) اوځینی په دوی کي (ددی وعده دپوره کولو داخری اثر یعنی شهادت) مشتاق دی (لاتر اوسه نه دی شهیدان سوی) آو (تراوسه) دوی (په دی کي) یوه ذره تغیر اوتبدیل نه دی کړی (یعنی پرخپله اراده قائم دی، نو ټول قوم په دوه قسمه دی، یومنافقان دکومو چي لوړ بیان وسو ، او دوهم مومنان بیا مومنان په دوه قسمه دی ، وعده کوونکی اوغیر وعده کوونکی او په ثابت قدمی کي دواړه مشترك دی ، لکه چي دا قول دالله ﷻ دی . لَمَّارَاٰی الْمُؤْمِنُوْنَ الخ بیاوعده کوونکی په دوه قسمه دی شهیدان او منتظر دشهادت، ټول څلور قسمونه په دی آیتونو کي ذکر دی ، مخ ته ددي غزا یو حکمت بیان فرمایی چي) دا واقعه په دی وجه وسوه چي الله ﷻ رښتنو مسلمانانوته د دوی بدله ورکړی اومنافقانو ته که وغواړی سزا ورکړی یاکه وغواړی دوی ته (دنفاق څخه) دتوبی توفیق ورکړی (ځکه چي په داسي مصیبتونو کي دمخلص اوځان ښوونکی تمیز کیږي او کله کله دملامتی په وجه ځان ښوونکی هم متاثره سي اومخلصان جوړسی اوځینی په خپل حال هم پاته سي) بیشکه الله غفور او رحیم دی (په دی وجه دتوبی قبلیدل لیری خبره نه ده په دی کي ترغیب دی دتوبی) آو (تردی ځایه پوري دمسلمانانو دولی مختلف قسمه حالات وه، اوس مخ ته دکفارو دمخالفینو دحالاتو ذکردی چي) الله ﷻ کافران (یعنی مشرکان) دغصی څخه ډك (دمدینی څخه) بیرته واپس کړل چي د دوی هیڅ مراد هم پوره نه سو (اودوی دغصی څخه ډك وه) او په جنگ کي الله ﷻ دمسلمانانو دپاره په خپله کافي سو (یعنی کفارو ته دروایتی جنگ نوبت هم رانغی چي دمخکی څخه دفع سو اوسپك جنگ په مختلف طورسره منفی نه دی) او (دغه شان دکافرانو بیرته تلل څه عجیبه مه گڼی ځکه چي) الله ﷻ لوی قوت والا زبردست دی (هغه ته هیڅ گرانه نه ده، داخو دمشرکانو حال سو) او (دوهمه ډله په مخالفینوکی دیهودو بنی قریظه وه ، مخ ته دهغوی ذکردی) کومو اهل کتابو چي ددي (مشرکانو) مدد کړی وو ، هغوی (الله ﷻ) دهغوی دقلاگانو څخه (په کوموکی چي هغوی محصور وه) لاندي راکښته کړل او دهغوی په زړونو کي یی ستاسو رعب واچوی (چي په دی سره دوی راکښته سول اوبیا) ځینی تاسو قتلول اوځینی موقیدول او دهغوی دمځکو او دکورنو اومالونو یی تاسو مالکان جوړکړاست او دداسی مځکو یې هم (تاسی په خپل علم ازلی کي مالکان جوړ کړی یاست) په کومی چي تاسو (تراوسه) قدم (هم) نه دی اینبی (په دی کي خوشخبری ده دمستقلوفتحوعمومًااویادخیبردفتح خصوصًا کومه چي ددي څخه لږوروسته وسوه) اوالله ﷻ په هرڅه پوره قدرت لري (په دی وجه داکارونه څه لیری نه دی)

معلومات او مسئلې: په تیرو آیتونو کې دنبی کریم ﷺ دلوی شان او مسلمانانو ته د دوی دمکملې تابعدارۍ او اطاعت هدایت وو ، د دې په مناسبت سره داپوره دوی رکوع ګانې دقرآن کریم دغزه احزاب دواقعې متعلق نازلې سوی دي په دی کې دکفارو او مشرکانو دډیرو دلو پر مسلمانانو په یو وار دحملې او دسختې پریشانۍ څخه وروسته په مسلمانانو دالله ﷻ دانعاماتو او دنبی کریم ﷺ دډیرو معجزو ذکر دی ، او په دی ضمن کې دژوند دمختلفو اړخونو سره متعلق ډیر هدایتونه او احکام دی ، ددې بیش بها هدایتونو په وجه سره مشرانو مفسرینو دلته واقعه داحزاب په خاص تفصیل سره لیکلې ده خاصکر قرطبی او مظهری وغیره.

په دی وجه داواقعه داحزاب په څه تفصیل، سره ددغو هدایتونو لیکل کیږي ، چې اکثره حصه یې دقرطبی او مظهری څخه رااخستل سوې ده او کومه چې دبل کتاب څخه رااخستل سوې ده دهغه حواله لیکل سوې ده

(دغزوهٔ احزاب واقعه)

احزاب، دحزب جمع ده معنٰی یې پارټی یاجماعت ده، په دی غزاکې دکفارو مختلف جماعتونه جمع سوی وه ، دمسلمانانو دختمولو وعده یې وکړه او په مدینه راختلی وه ، په دی وجه ددې غزا نوم داحزاب غزا کښېښوول سوه او چونکې په دی غزاکې ددښمن دراتلو پرلاره باندې دنبی کریم ﷺ په امر خندق کښل سوی وو ، په دی وجه دی ته غزوه خندق هم وایی ، دبنی قریظه غزا هم کومه چې داحزاب دغزا څخه فوراً وروسته وسوه او په دی ذکرسوو آیتونو کې ددې هم ذکر دی ، دا هم په حقیقت کې داحزاب دغزا یو جز وو ، لکه چې دواقعې دتفصیل څخه به معلومه سی .

نبی کریم ﷺ چې په کوم کال دمکې مکرمې څخه هجرت وکی ، مدینې منورې ته یې تشریف راوړی ، ددې په دوهم کال دبدر واقعه پیښه سوه . په دریم کال داحد غزا راپیښه سوه . په څلورم کال داحزاب دا غزا پیښه سوه او په ځینو روایتونو کې یې دا دپنځم کال واقعه ګرځولې ده . په هر حال دهجرت دابتداء څخه تردی وخته پورې دکفارو حملې پرله پسې پر مسلمانانو جاري وې . دغزوه احزاب حمله یې په لوی طاقت او قوت او پخه اراده اووعده او میثاق سره کړې وه . په دی وجه په نبی کریم ﷺ او صحابه کرامو دا غزا دنورو ټولو غزاګانو څخه زیاته سخته وه ، ځکه چې په دی کې دحملې کوونکو احزابو کفارو شمیر ددولس زره څخه ترپنځلس زره پورې ښوول سوی دی او دی طرف ته مسلمانان ټول دری زره او هغه هم بې سرو او سامانه او زمانه دسخت یخ وه . قرآن کریم خو ددې واقعې سخت والی په ډیر هیبتناک صورت کې دا بیان کړی دی ، زَاغَتِ الْاَبْصَارُ، سترګې خلاصې پاته سوې . بَلَغَتِ الْقُلُوْبُ الْحَنَاجِرَ، زړونه ځلې ته راغلل ، وَزُلْزِلُوْا زِلْزَالًا شَدِيْدًا ، په سخته زلزله کې وغورځول سول .

مګر څنګه چې دا وخت په مسلمانانو باندې دټولو څخه زیات سخت وو ، هم دغسې دالله ﷻ دنصرت او امداد په وجه ددې انجام دمسلمانانو په حق کې دداسې عظیمې فتحې او کامیابۍ په صورت کې مخ ته راغی چې دی دټولو مخالفو ډلو مشرکانو یهودو ، نصاراؤ او منافقانو ملاګانې ماتې کړې او مخ ته دوی

ددي قابل پاته نه سول چي په مسلمانانو دحملې اراده وکړل سي . په دې لحاظ سره دکفر او اسلام دا غزا اخري جنګ وو، کوم چي دمدينې منورې پرمخکه دهجرت په څلورم يا پنځم کال وسو.
ددې واقعې ابتداء ددي ځای څخه وسوه چي ديهودو دقبيلې بنو نضير اوقبيلې ابووائل تقريباً شل سرو کومو چي دنبي کريم ﷺ او مسلمانانو سره سخته دښمني ساتله ، مکې مکرمې ته ورسيدل او دقريشو دسردارانوسره يې ملاقات وکی دمسلمانانوسره يې دجنګ کولو دپاره تيار کړل . دقريشو سردارانو داسې ګڼله چي لکه څنګه چي مسلمانان زمونږبت پرستی ته کفروايي اوپه دې وجه زمونږ مذهب بدګڼي، ديهودو هم دا خيال دی نو د دوی سره دموافقت او اتحاد به څه توقع ولرل سي ، په دې وجه دوی ديهودو څخه پوښتنه وکړه چي تاسي پوهيږي چي زمونږ او دمحمد (ﷺ) په مينځ کي ددين اومذهب اختلاف دی اوتاسو اهل کتاب اواهل علم ياست اول مونږ ته دا خبره وښياست چي ستاسو په نزد زمونږ دين ښه دی او که دده ؟

(دسياست په کاله کي درواغ څه نوی شي نه دی)

دی يهودو دخپل عمل او ضمير څخه بالکل خلاف دوی ته دا جواب ورکی چي ستاسو دين دمحمد (ﷺ) ددين څخه ښه دی . په دې باندي دا خلق څه قدر مطمئن سول . مګر پر دې سربيره معامله داسې مقرره سوه چي شل تنه دا راغلي اوپنځوس تنه دقريشو دسردارانو څخه به مسجد حرام ته ولاړسی دبيت الله ددېوالونو سره به سينې ولګوی ، دالله ﷻ په مخکې به دا وعده وکی چي په مونږ کي ترڅو پوري يو سړی هم ژوندی وي مونږ به دمحمد (ﷺ) خلاف جنګ کوو.

(دالله ﷻ دحلم او کرم يوه اعجوبه)

دالله ﷻ په کورکی دالله ﷻ دکور سره پيوست سوی دالله ﷻ دښمنان دهغه درسول خلاف دجنګ کولو وعده کوي او مطمئن کيږي او دجنګ دنوی جذبې سره بيرته واپس کيږي . دالله ﷻ دحلم او کرم عجيبه مظهر دی ، بيا د دوی ددي وعدی حشر به هم اخر دقصې څخه معلوم سي چي ټولو په دې جنګ کي مخونه وګرځول او وتښتيدل .
دا يهوديان دمکې دقريشو سره دوعدې کولو څخه وروسته دعربو يوی لوی جنګجو قبيلې غطفان ته ورسيدل او دوی ته يې وويل چي مونږ او دمکې قريش په دې متفق سوی يو چي ددي نوی دين (اسلام) دخپروونکو په يو واری په جمع سره خاتمه وکو، تاسو هم په دې زمونږ سره وعده وکی او دوی ته يې دا رشوت هم پيش کي چي په خيبر کي څومره خرماوی په يوکال کي پيدا کيږي هغه ، او په ځينو روايتونو کي دهغه دنيمايي يې قبيله غطفان ته د ورکولو وعده وکړه ، دغطفان قبيلې سردار عيينه بن حصن په دې شرط د دوی سره شرکت منظور کی . او دا خلق هم په جنګ کي شامل سول .
او په خپل مينځ کي دقرار دا دمطابق دمکې څخه دقريشو لښکر دڅلورو زرو ځوانانو او درې سوه اسونو او دزرو اوښانو داسباب سره دابوسفيان په مشرۍ کي دمکې مکرمې څخه را ووتل او په مرّ ظهران کي يې قيام وکی . دلته دقبيله اسلم اوقبيله اشجع، بنومره او بنوکنانه اوفزاره اوغطفان ټول قبائل ورسره شامل

سول ، چي مجموعي شمير يې په ځينو روايتونو کي لس (۱۰) په ځينو کی دولس (۱۲) اوځينوکي پنځلس (۱۵) زره بيان سوی دی .

(په مدينه منوره ترټولو لويه حمله)

دبدر په غزا کي دمسلمانانو مقابل لښکر يو زرتنه وو بيا په احد کي حمله کوونکی لښکردری زره وو ، دا وار دلښکر شمير هم دمخکی څخه زيات وو او اسباب هم اوټول قبائل دعربو اويهودو په کښي شامل وه او يو متحده طاقت وو .

(دمسلمانانو جنګي تياری ، پرالله ﷻ توکل باهمي مشوره په قدر دطاقت دمادی وسائلو راجمع کول)

نبی کريم ﷺ ته ددي متحده محاذ په حرکت کي دراتلو اطلاع ورکړل سوه نو دټولو څخه اوله کلمه چي په ژبه مبارکه يې راغله هغه دا وه ، حَسْبُنَا اللهُ وَنِعْمَ الْوَكِيْلُ، يعني زمونږ الله ﷻ کافي دی اوهغه زمونږ ښه کار ساز دی ، ددي څخه وروسته يې دمهاجرينو اوانصارو مشران جمع کړل او د دوی څخه يې مشوره واخسته که څه هم صاحب وحی ته په حقيقت کي دمشوری ضرورت نه وی ، دی سيده په سيده دالله ﷻ په اذن او اجازه سره کار کوی ، مګر په مشوره کي دوی فائدی وی . يوه دامت دپاره دمشوری سنت جاری کول ، دوهم دمومنانو په زړونوکی ديو بل سره دربط او اتحاد تجديد کول او دتعاون اوتناصر جذبه راپورته کول ددي څخه وروسته په دفاع او دجنګ په مادی وسائلو فکر وسو . دمشوری په مجلس کي حضرت سلمان فارسی ﷺ هم شامل وو ، کوم چي اوس اوس ديو يهودی ددخانه جوړی سوی غلامی څخه يې نجات حاصل کړی وو ، داسلامی خدمتونو دپاره تيار سوی وو . ده مشوره ورکړه چي زمونږ په وطن فارس کي باچاهان په داسي حالاتو کي ددښمن دحملی منع کولو دپاره خندق وکيندی اولار يې بنده کړه . نبی کريم ﷺ دا مشوره قبوله کړه او دخندق کيندلو حکم يې ورکی او په خپله هم په دی کار کي شريک سو .

(دخندق کيندل)

دا خندق دسَلع غرْ په شا ددغه ټولی لاری په اوږدوالی باندي کيندل مقرر سول په کومی سره چي دمدينی دشمال طرف څخه حمله کونکی دښمن راتلی سو . ددي خندق د اوږدوالی او پلنوالی نښه په خپله نبی کريم ﷺ وکښه ، دا خندق دشيخين څخه شروع سو دسِلع غرْ مغربی کُنج ته راغی او بيايې دا اوږد کي او دوادی بطحان اووادی راتونا دپيوست کيدو مقام ته ورسول سو ددي خندق ټول اوږدوالی تقريبًا دری نيم مله وو . دپلنوالی او ژوروالی صحيح مقدار يې په هيڅ روايت سره نه دی معلوم سوی . ليکن دا ښکاره ده چي پلنوالی او ژوروالی به يې هم په خاص مقدار باندي وو چي پوري وتل باندي ددښمن دپاره آسان نه وی . دحضرت سلمان ﷺ دخندق کښلو په واقعه کي دا راغلی دی چي ده به روزانه پنځه ګزه اوږد اوپنځه ګزه ژور خندق کښی (مظهری) په دی سره دخندق ژوروالی پنځه ګزه ويل کيږي .

(داسلامي لښکر شمار)

دغه وخت دمسلمانانو جمعيت ټول دری زره (۳۰۰۰) وو او ټول شپږ ديرش (۳۶) ور سره آسونه وه .

(دبلوغ عمر ېنځلس کاله مقرر سو)

په اسلامي لښکر کي څه نابالغه بچیان هم دخپل ایماني جوش په وجه را وتلي وه . نبي کریم ﷺ هغه بچي بیرته واپس کړل دکومو عمر چي دپنځلسو کالو څخه کم وو . دپنځلسو کالو دعمر یې واخستل ، په کومو کي چي حضرت عبدالله بن عمر﷛، زید بن ثابت ﷛، ابوسعید خدري ﷛، براء ابن عازب ﷛ شامل دی ، څه وخت چي دا اسلامي لښکر دمقابلې دپاره روان سو نو کوم منافقان چي په مسلمانانو کي ګډوډ شریك سوي وه ، هغوی کرار کرار کشیدل شروع کړل ، څه په پټه ووتل ، څه خلقو د درواغو عذرونه پیش کړل ، دنبي کریم ﷺ څخه یې دواپس کیدو اجازه وغوښته ، د دوی په وجه په مسلمانانو کي یو نوی افت پیدا سو په ذکر سوو آیتونو کي ددې منافقانو متعلق څو آیتونه نازل سوي دي . (قرطبي)

(دقبائلي او نسبي قومیتونو انتظامي او معاشرتي امتیاز داسلامي وحدت اوقومیت منافي نه دی)

نبي کریم ﷺ ددې جهاد دپاره دمهاجرینو جنډه حضرت زید بن حارثه ﷛ ته وسپارله او دانصارو حضراتو جنډه یې حضرت سعدبن عباده ﷛ ته وسپارله . دغه وخت دمهاجرینو او انصارو په مینځ کي دمواخات یعني ورورولي تعلقات ډیر پرمضبوطو او محکمو بنیادونو باندي قائم و ، او ټول ورونه ورونه وه ، مګر د انتظامي سهولت دپاره دمهاجرینو قیادت جلا او دانصارو جلا سو . ددې څخه معلومه سوه چي اسلامي قومیت او اسلامي وحدت دانتظامي اومعاشرتي تقسیم منافي نه دی ، بلکي پرهر جماعت باندي ذمه واري په بار اچولو سره دباهمي اعتماد اوتعاون اوتناصر جذبه قوي کیږي او په دی جنګ کي دټولو څخه د اولنی کار یعني خندق کنبلو کي دا تعاون او تناصر داسي ولیدل سو چي .

(دخندق کنبلو تقسیم په ټول لښکر باندي وسو)

نبي کریم ﷺ ټول لښکر دمهاجرینو او انصارو دلسو لسو سرو په ډلو کي تقسیم کی ، هرلس کسان یې دڅلوېښت ګزه خندق کنبلو ذمه وار جوړ کړل . حضرت سلمان فارسي ﷛ چونکي دخندق کنبلو مشوره ورکوونکی او دکار څخه واقف اومضبوط سړی وو او نه په انصارو کي شامل وو او نه په مهاجرینو کی . دده متعلق په انصارو اومهاجرینو کي دیو نوی مسابقت فضاء پیدا سوه ، انصارو دی دخپل ځان سره شاملول غوښتل اومهاجرینو دخپل ځان سره، تردی چي نبي کریم ﷺ ته دجګړی رفع کولو دپاره مداخلت کولو ته راغی او دوی دافیصله ورکړه چي، سَلْمَانُ أَهْلُ الْبَيْتِ، یعني سلمان زما په اهل بیتو کي شامل دی.

(دکارپه صلاحیت کي دملکي اوغیرملکي ، مقامي او بهرني فرق)

نن خو په دنیا کي غیر ملکی اوسیدونکی اوغیر مقامی ته دځان سره برابره درجه ورکول خلق نه خوښوی او هلته هرې فرقي دصلاحیت خاوندان دځان سره په شاملولو فخر محسوسوی . په دی وجه نبي کریم ﷺ دی په اهل بیتو کي په خپله شامل کي او جګړه یې ختمه کړه او په عملي طور سره یې دڅو تنو انصارو او څو تنو مهاجرینو په شاملولو سره دلسو تنو ټولي جوړه کړه په دوی کي حضرت عمر بن عوف ﷛ او حذیفه رضـ و غیره دمهاجرینو څخه وه .

(يوه عظيمه (فتح) معجزه)

په اتفاقي طور سره چي دخندق کومه برخه حضرت سلمان ﷺ وغيره ته سپارل سوی وه په هغه کي يوه سخته ډبره رابنکاره سوه دحضرت سلمان ﷺ ملګری عمر بن عوف ﷺ فرمايي چي دی ډبری زمونږ اوزار (اسباب) مات کړل او مونږ ددي په ماتولو کي عاجزه سو ، نوماسلمان ﷺ ته وويل چي که داسي کيدی سي چي مونږ ددي ځای څخه پرڅنګ خندق وکينو او په لږ کوږوالی باندي يی داصل خندق سره يوځای کړ، مګر دنبی کريم ﷺ دکښل سوی نښانی څخه اخواته کيدل مونږ ته په خپله رايه سره نه دی په کار ته نبی کريم ﷺ ته دا واقعه بيان کړه او حکم حاصل کړه چي مونږ ته څه کول په کار دی ؟

(دقدرت تنبيهات)

په دی دری نيم ميله ميدان کي په خندق کښلو کي چاته څه خنډ پيښ نه سو چي دوی عاجزه کړی، که پيښ سو نو حضرت سلمان ﷺ ته وريپيښ سو چاچي دخندق کښلو مشوره ورکړی وه او دا قبوله سوه ، دا سلسله شروع سوه الله ﷻ ده ته وښودله چي په خندق کښلو او جوړولوکی هم دالله ﷻ طرف ته درجوع کولو څخه ماسوا بله چاره نسته ، الاتو اوازارو تولو ځواب ورکی . په دی کي دی حضراتو ته تعليم وو چي مادی اسباب په قدر دوسعت اوطاقت جمع کول فرض دی ، مګر تکيه باندي کول درست نه دی . دمومن ټوله تکيه دټولو مادی اسبابو دجمع کولو څخه وروسته هم په الله ﷻ باندي په کار ده .

حضرت سلمان ﷺ دنبی کريم ﷺ په خدمت کي حاضر سو او واقعه يی ورته بيان کړه . نبی کريم ﷺ په خپله هم په خپله حصه خندق کي کار کوي او دخندق دخاورو ددغه ځای څخه په ليری کولو کي مصروف وو. حضرت براء بن عازب ﷺ فرمايي چي مادی ﷺ وليدی چي د دوی جسم مبارک دوړی داسي پټ کړی وو چي دنس اوشا پوست يی په نظر نه راتلی ، ده ته دڅه مشوری ياحکم ورکولو په ځای يی په خپله ددی سره موقعی ته تشريف وي وړی او هغه لس صحابه سره دسلمان ﷺ چي کوم په خندق کښلو کي مشغول وه. دوی هم خندق ته ورسره ورکښته سول او کدال (دهغه وخت دغارولو آله) يی په خپلو مبارکو لاسونوکی واخسته ، هغه ډبری ته يی يو واری ورکی او دا آيت يی ووايه ، وَتَمَّتْ كَلِمَةُ رَبِّكَ صِدْقًا ، (يعنی پوره سو نعمت ستا درب په رښتيا سره) په دی يو ګذار سره د ډبری دريمه حصه پري سوه او ددی سره يوه رڼا دډبری څخه پورته سوه ، ددي څخه وروسته دوی دوهم ګذار ورکی اوذکرسوی آيت يی تراخره پوري ووايه ، وَتَمَّتْ كَلِمَةُ رَبِّكَ صِدْقًا وَعَدْلاً ، په دی دوهم ګذار سره دډبری دريمه حصه نوره پري سوه او دغه ډول ورڅخه يوه رڼا راووتله په دريم وار يی بياهم هغه آيت ووايه او دريم ګذار يی ورکی نوباقی ډبره ماته سوه او نبی کريم ﷺ دخندق څخه دباندی تشريف راوړی اوڅادر مبارک يی چي دخندق پرغاړی ايښی وو هغه يی راپورته کي اويوطرف ته کښېنستی دغه وخت سلمان فارسی ﷺ عرض وکی چي يارسول الله! تاسو چي څو واره دی ډبری ته ګذارورکوی مابه په هروارد ډبری څخه يوه رڼا وليدله ، نبی کريم ﷺ سلمان ﷺ ته وفرمايل چي ايا تا واقعی دغه رڼا ليدلی ده ؟ هغه عرض وکی يارسول الله ﷺ ماپه خپلو سترګو سره دا ليدلی ده.

نبی کریم ﷺ وفرمایل چي په اول گذار کي چي کومه رڼا را ووتله ، ماپه دی رڼاکی دیمن اوکسرٰی دښارونو محلونه ولیدل اوجبرائیل امین ماته وویل چي ستا امت به دانښارونه فتح کوي اوکله چي مادوهم گذار ورکی نوماته درومیانوسره محلونه وښوول سول او جبرائیل امین دا خوشخبری راکړه چي ستا امت به دا ښارونه هم فتح کی . چي دا ارشاد یی واوریدی نو ټول مسلمانان مطمئن سول او اننده یی په عظیم الشانه فتحو باندي یقین وسو .

(دمنافقانو طعنونه ورکول او دمسلمانانو بي مثله ايماني يقين)

دغه وخت چي کوم منافقان دخندق په کښلو کي شامل وه ، هغوی وویل چي تاسو ته دمحمد (ﷺ) په خبرو حیرانتیا او تعجب نه راځي ، دی تاسو ته څنگه باطلی اوبی بنیاده وعدی درکوی چي په یثرب کي دخندق په ببیخ کي ده ته دحیره اومدائن کسرٰی محلونه په نظر راځي او دا چي تاسو خلق به دافتح کوی، لږ خوخپل حال ته وگوری چي دخپل تن بدن څخه ناخبره یاست ، کوچنیو بولو اولویو بولو ته دتللو فرصت درته نسته او بیا تاسو به دکسرٰی وغیره ملکونه فتح کوی . پردی واقعه په ذکر سوو آیتونو کي دا نازل سوه ، وَإِذْ يَقُولُ الْمُنَافِقُونَ وَالَّذِينَ فِي قُلُوبِهِمْ مَرَضٌ مَاوَعَدَنَااللهُ وَرَسُولُهُ إِلَّا غُرُورًا په دی آیت کي په اَلَّذِيْنَ فِيْ قُلُوْبِهِمْ مَرَضٌ . کي هم دهغه منافقانو حال بیان سوی دی دکومو په زړونو کي چي دنفاق پټ مرض وو .

فکر وکی چي دغه وخت دمسلمانانو دایمان او دنبی کریم ﷺ په خبرو دپوره یقین سره سخت امتحان وو چي دهر طرف څخه دکفارو په گیره او خطره کي دی . دخندق کښلو دپاره مزدوران او خادمان نسته ، په خپله دا محنت په داسي حالت کي برداشت کوي چي سخت یخ ټول پریشانه کړی دی ، دهرطرف څخه بیره بیره ده په ظاهری اسبابو دخپلي بقاء او خلاصون یقین کول هم آسان نه دی ، ددنیا دعظیمو حکومتونو روم اوکسرٰی دفتحو په خوشخبری څنگه یقین وکی . مگر دایمان قیمت دټولو عملونو څخه زیات پردی بنا باندی دی چي داسبابو اوحالاتو څخه سراسر دخلاف کیدو په وخت کي هم دوی ته دنبی کریم ﷺ په ارشاد کي هیڅ شك او شبهه پیدا نه سوه .

(په ذکرسوی واقعه کي دامت دپاره خاص هدایت چي لویانوته دکوچنیانوپه هرتکلیف اومشقت کي شامليدل په کاردی)

دا چاته نه ده معلومه چي صحابه کرام دنبی کریم ﷺ داسي جان نثارخادمان وه چي په هیڅ حال کي یی هم دا نه غوښتله چي نبی کریم ﷺ په خپله ددي مزدوری په سخت محنت کي د دوی سره شریك وی . مگر نبی کریم ﷺ دصحابه کرامو ددلجویی او دامت دتعلیم دپاره په دی محنت اومزدوری کي برابره حصه واخسته .

دصحابه کرامو جان نثاری خو د دوی دکمالی صفتونو اونبوت اورسالت پربنیاد باندي هم وه، مگر په ظاهری اسبابوکی یو لوی سبب دا هم وو چي په هر محنت او مشقت او تنگی او تکلیف کي دی ﷺ به دټولو عوامو په شان په دی کي شریك وو. دحاکم محکوم، باچا او رعیت، صاحب اقتدار اوعوامو، دجدایی هیڅ تصور هلته نه پیدا کیدی او دکله څخه چي داسلام باچاهانو داسنت پریښووی، دهغه وخت څخه دا تفرقی پیدا سوی او قسم قسم فتنی یی دخان سره را پیدا کړی .

(پر مشکلاتو دعبور حاصولو دپاره نسخه)

په ذکر سوی واقعه کي دغه سختی او نه ماتیدونکی ډبری ته دګذار ورکولو سره یی دقرآن آیت . وَتَمَّتْ كَلِمَةُ رَبِّكَ صِدْقًا وَّعَدْلاً . تلاوت وفرمایی . ددي څخه معلومه سوه چي دیو مشکل دحل کولو دپاره ددي آیت تلاوت یوه مجربه نسخه ده .

(دصحابه کرامو قرباني تعاون اوتناصر)

لوړ معلومه سوي ده چي دخندق دکښلو دپاره په هرو لسو ګزو لس سړي ماموره وه مګر داښکاره ده چي ځینی خلق قوی او ژرکار کوونکی وی . په صحابه کرامو کی چي کومو حضراتو به خپله حصه دکښلو پوره کوله نو دغسی به نه کښینستی چي ګوندی زمونږ وظیفه پوره سوه بلکی دنورو صحابه وو حصه کار چي به نه وو پوره سوی ، دهغو سره به یی مدد کوی . (قرطبی ، مظهری)

(دری نیم میله اوږد خندق په شپږ ورځو کي پوره سو)

د اصحابو کرامو (رضـ) دجد او جهد اوکوشش نتیجه په شپږو ورځوکی مخ ته راغله چي دومره اوږد، پلن او ژور خندق په شپږو ورځو کي تکمیل ته ورسیدی . (مظهری)

(دحضرت جابر ﷺ په دعوت کي یوه ښکاره معجزه)

ددي خندق دکښلو په دوران کي یوه مشهوره واقعه پیښه سوه هغه دا چي یوه ورځ حضرت جابر ﷺ نبی کریم ﷺ ولیدی دا یی محسوسه کړه چي دی ﷺ دلوږي څخه متاثره سوی دی ، ولاړی خپلي بی بی ته یی وویل چي که ستاسره څه وي نوپاخه یې کړه ، زه پر حضور ﷺ دلوږي اثر نه سم لیدی ، ښځي یی ورته وویل چي زمونږ په کور کی خو یواوږې وربشی سته زه دا اوړه کوم . یو اوږې زمونږ ددي وزن په اعتبار سره دری نیم سیره تقریبًا برابریږي . ښځي میچن شروع کړه ، په کورکی دبزی یوبچی وو، حضرت جابر ﷺ هغه ذبح کی ، غوښه یی تیاره کړه، اونبی کریم ﷺ ته درابللو دپاره ولاړی ، نو ښځي اواز ورته وکی چي ګوره دحضور ﷺ سره ډیر اصحاب دی خو ته په یو ډول سره حضور ﷺ یوازي راوله ، ما رسوا نه کړی هسی نه چي دصحابه کرامو لویه ډله راروانه کړی . حضرت جابر ﷺ نبی کریم ﷺ ته ټول حقیقت عرض کي چي صرف دغومره خوراك دی . مګرحضور ﷺ په ټول لښکرکی اعلان وکی چي راځی دجابر ﷺ کره دعوت دی . حضرت جابر ﷺ حیران سو چي کورته ورسیدی نو بی بی یی دسختی پریشانی اظهار وکی اوپوښتنه یی وکړه چي تانبی کریم ﷺ ته اصل حقیقت او دخوراك مقدار ښوولی وو؟ حضرت جابر ﷺ وویل چي هو! دغه می ورته ښوولی وو نو بی بی محترمه یی مطمئنه سوه چي بیا زمونږ هیڅ فکر نسته حضور ﷺ مالك دی څنګه چي غواړی کوي دی .

دواقعي تفصیل دلته غیر ضروري دی ، دومره نتیجه معلومول کافي دی چي په خپله نبی کریم ﷺ په خپلو مبارکو لاسونو سره د ډوډۍ اوسالن ټولو ته دورکولو اوخپرولو اهتمام وفرمایی اوټول لښکر ښه په ماړه نس وخوړه اوحضرت جابر ﷺ فرمایی چي دټول لښکر دخوراك څخه وروسته نه زمونږ په کټوی کي څه

غوښه کمه سوې وه او نه اغزلي اوړه کم سوي وه . مونږ دکور ټولو خلقو هم ښه په ماړه نس وخوړه اوپاته مو په همسايګانو کي تقسيم کړه .

دغه شان په شپږو ورځو چي دخندق کښلو څخه فارغه سو نو داحزابو لښکر راورسيدی اونبی کريم ﷺ او صحابه کرامو جبلِ سَلَع دخپل شاطرف ته راوستی او دفوج مخ ته يې صف بندي وکړه .

(دبني قريظه ديهوديانو وعده ماتول او داحزابو سره شرکت کول)

دغه وخت دلس دولس زره باوسله اوباسامانه فوج سره د دری زره بی سر او اسبابه خلقو مقابله هم په عقل او قياس کي دراتلو شی نه وو . پردی سربيره يوه نوی اضافه وسوه چي په احزابوکي دقبيله بنو نضير سردار حُيّ بن اخطب چاچي دا ټوله دنبی کريم ﷺ او دمسلمانانو په دښمنی باندي په جمع کولو کي لوی کار کړی وو ، مدينی ته ورسيدی نو دبني قريظه ديهودو يی هم دځان سره دشاملولو منصوبه جوړه کړه .

دبنو قريظه او نبی کريم ﷺ په مينځ کي په يوه صلحنامه دستخط سوی وو او دوعدی په مکمل کولو ديو بل څخه بی فکره سوی وه . دبنو قريظه سردار کعب بن اسد وو. حُيّ بن اخطب چي ده ته راورسيدی اوکعب ته دده دراتلو خبر وسو نو دخپلي قلعی دروازه يی بنده کړه اوحُيّ ده ته ونه رسيدی . مګر حُيّ ورته اوازونه کول او د دروازی په خلاصولو يی اصرار وکی . کعب دده ئنه څخه ځواب ورکی چي مونږ دمحمد (ﷺ) سره وعده کړي ده او مونږ ترننه پوري دهغه دطرف څخه دوعدی پابندی او دصدق او رښتنوالی څخه ماسوا نور هيڅ نه دی ليدلی په دی وجه مونږ ددغه وعدی پابنده يو ، ستاسره نه سوتللی . تر ډير وخته پوري حُيّ د دروازی په خلاصولو او دکعب سره پرخبرو اصرار کوي او ده به ددننه څخه انکار کوی . مګر اخرهرکله چي کعب ته يی ډير شرم ورورواندی کي نو ده دروازه خلاصه کړه اوحُيّ يی را وبلی . ده بنو قريظه وو ته هغه شين باغ وښووی چي اخر کعب دده په خبرو کي راغی او په احزاب کي يی دشرکت وعده وکړه اوکعب چي کله دخپلي قبيلی نورو سردارانو ته دا خبره وکړه نو ټولو ورته په يوه ژبه وويل چي تاغضب وکی چي دمسلمانانو سره دی بلا وجه وعده ماته کړه او د دوی سره سوی اوخپل ځان دی په خطره کي واچوی ، کعب هم په دی خبره متاثره سو او په خپلو کړو يی پښيمانی ښکاره کړه ، مګر اوس خبره دده دقبضی څخه وتلی وه او اخر دا وعده ماتول دبنو قريظه دهلاکت اوبربادی سبب جوړسو چي ذکر به يی مخ ته راسی .

نبی کريم ﷺ او صحابه کرامو ته ددي اطلاع ورکړل سوه نو دغه وخت ورته په دی وعده ماتولو سخته صدمه ورسيده او ډير لوی فکر ورسره سو چي داحزابو په لاره کي خو خندق کښل سوی وو ، مګر دا خلق خو په مدينه کي دننه وه ، د دوی څخه به خلاصون څنګه وی ؟ په قرآن کريم کي چي ددي جملی متعلق فرمايلي دی چي داحزابو لښکر پرتاسو راختلی وو. مِنْ فَوْقِكُمْ وَمِنْ أَسْفَلَ مِنكُمْ، ددي په تفسيرکي دتفسير ځينی امامانو دافرمايلي دی چي دلوړ طرف څخه مراد بنو قريظه دی او دلاندی څخه مراد باقي احزاب دی.

نبی کريم ﷺ ددي وعدو ماتولو دحقيقت او دصحيح صورت حال معلومولو دپاره دانصارو دقبيلی د اوس سردار حضرت سعد بن معاذ ؓ او دخزرج قبيلی سردار حضرت سعد بن عباده ؓ دوفد په صورت کي

کعب ته ولیږل چي خبره ورسره وکړی او دا هدایت یی ورته وکی چي که دوعدی ماتولو واقعه غلطه ثابته سوه نو دتولو په مخکی دی بیان کړی اوکه صحیح ثابته سوه نوچي راسی گول مول (پته) خبره دی وکړی چي مونږ باندي پوه سو او په عامو صحابه کرامو کي پریشانی پیدانه سی .

دا دواړه مشران سعد نومونو والا هلته ورسیدل نو دوعدی ماتولو اسباب یی په ډاگه ولیدل ، د دوی او دکعب په مینځ کي سختی خبري هم وسوی . چي بیرته راغلل نو دهدایت مطابق یی خبره گول مول (پته) کړه اونبی کریم ﷺ یی دوعدی ماتولو دصحیح کیدو څخه خبر کی .

دغه وخت هرکله چي دیهودو قبیله بنو قریظه هم جنگ ته را ووتله نوکوم خلق چي په نفاق سره په مسلمانانو کي شامل وه دهغوی نفاق هم ښکاره سو. ځینو خو په ډاگه دنبی کریم ﷺ خلاف خبري ویل شروع کړی ، لکه چي تیرسوی دی، وَاِذْ يَقُوْلُ الْمُنٰفِقُوْنَ، اوځینو حیلی بهانی جوړی کړی او دجنگ دمیدان څخه دتښتیدو دپاره یی دنبی کریم ﷺ څخه اجازه وغوښتله چي ذکریی په دغه ذکرسوی آیت اِنَّ بُيُوْتَنَا عَوْرَةٌ، کي راغلی دی .

اوس دمحاذ جنگ دا صورت وو چي دخندق په وجه داحزابو لښکر دننه نه سو راتلی او په بله غاړه یی دمسلمانانو لښکر وو. د دواړو په مینځ کي به هر وخت دغشو اورولو سلسله جاری وه . په دی حال کي تقریبًا یوه میاشت تیره سوه چي نه په ډاگه څه فیصله کن جنگ وسو او نه یو وخت بی فکری ، شپه او ورځ صحابه کرام اونبی کریم ﷺ ددي په حفاظت کي وه . که څه هم نبی کریم ﷺ په خپله هم په دی محنت او مشقت کي شریك وو. مگر پر دوی ﷺ دا خبره ډیره گرانه وه چي صحابه کرام ﷺ تول په سخت اضطراب او پریشانی کي دی .

(دنبي کريم ﷺ يوجنگي تدبير)

دنبی کریم ﷺ په علم کي دا خبره راغلی وه چي دغطفان قبیلی سردار ددي یهودو سره شرکت دخیبر دمیوو او خرما په طمع کړی دی دوی دغطفان بل سردار عیینه ابن حصن او ابو الحارث بن عمرو ته قاصد ولیږي چي مونږ به تاسو ته دمدینی طیبی دریمه حصه میوه درکړو که تاسو دخپلو ملگرو سره دمیدان څخه بیرته ولاړسی . دا خبری اتری په مینځ کي کیدی او دواړه سرداران راضی سوی وه . نژدی وه چي دصلحی پر وعده دستخطونه وسی . مگر نبی کریم ﷺ دعادت مطابق اراده وکړه چي دصحابه کرامو سره په دی معامله کي مشوره وکی . د اوس او خزرج قبیلی دوه مشران سعد بن معاذ ﷺ اوسعد بن عباده ﷺ یی را وغوښتل او مشوره یی ور سره وکړه .

(دحضرت سعد ﷺ ایماني غیرت او پخه اراده)

دواړو عرض وکی چي یارسول الله ﷺ ! که تاته ددي کار دپاره دالله ﷻ دطرف څخه حکم سوی وي نو زمونږ دخه ویلو مجال نسته ، مونږ به یی قبول کو کنه نو دا ووایاست چي دا ستاسو طبعی رایه ده اوکه تاسو زمونږ ددي تکلیف او مشقت څخه دخلاصولو تدبیر کړی دی ؟

نبی کریم ﷺ وفرمایل چي دا نه دالله ﷻ حکم دی او نه زما دخپل طبیعت تقاضاده ، مګر صرف ستاسو مصیبت او تکلیف وینم نو دا صورت مې اختیار کړی دی ، ځکه چي تاسی خلق دهرطرف څخه ګیر یاست، مادا وغوښتله چي دمقابل فریق قوت په دی طریقه فوراً مات سی ، حضرت سعدبن معاذ ﷺ عرض وکی یارسول الله ﷺ ! مونږ چي کله دبتانو عبادت کوی ، الله ﷻ مونه پېژندی او نه مو ورته عبادت کوی ، هغه وخت ددغو خلقو زمونږ دښار په میوه کي دیوی دانې دطمع کولو همت نه وو ، بغیر ددي چي زمونږ میلمانه سي او دمیلمستیا په طور باندي زمونږ څخه وخوری اویایې زمونږ څخه په قیمت واخلی . نن چي کله الله ﷻ مونږ ته خپل معرفت را کی او داسلام عزت یې راکی ایا نن مونږ دغو خلقو ته خپلي میوی اوخپل مالونه ورکړو؟ مونږ ته د دوی دمصالحت هیڅ حاجت نسته ، مونږ دوی ته دتوری څخه ماسوا هیڅ نه سو ورکولی ، تردی چي الله ﷻ زمونږ او د دوی په مینځ کي فیصله وکړی .

نبی کریم ﷺ چي دحضرت سعد ﷺ اولو العزمی او ایمانی غیرت ولیدی نو خپله دا اراده یې پرېښووله او وی فرمایل ، چي ستاسو اختیار دی چي څه غواړی وکی ، سعد ﷺ دصلح نامی کاغذ د دوی ﷺ دلاسونه واخستی خط یې ورڅخه خراب کي ځکه چي لاپر دی دستخط نه وو سوی ، دغطفان سردار عیینه اوحارث کوم چي ددي صلحنامی دپاره دلته موجود وه ، دصحابه کرامو دا قوت اوسختوالی چي یې ولیدی نوپه خپله هم په خپلو زړونو کي متزلزله سوه .

(دحضرت سعد بن معاذ ﷺ زخمي کېدل او د دوی دعا)

اخوا دخندق د دواړو طرفونو څخه دغشو اوکانو اورولو سلسله جاري وه . حضرت سعد بن معاذ ﷺ دبنی حارثه قلعه ته کوم ځای چي یې ښځی محفوظی کړی وی ، دخپلي مور خواته تللی وو. حضرت عائشه ﷺ فرمایی چي زه هم هغه وخت په دغه قلعه کي وم او دښځو دپردی احکام تردغه وخته پوري نه وه راغلی . ماولیدل چي سعد بن معاذ ﷺ یوه کوچنی زغره اغوستی وه چي لاسونه یې دباندی ورڅخه را وتلی وه او مور یې ورته وایې چي ژر څه . دنبی کریم ﷺ سره په لښکر کي شامل سه ، ماددہ مورته وویل چي دده دپاره که لویه زغره وي نوښه به وی ، زما دده دلاسو اوپښو سره بیره ده کوم چي دزغری څخه را وتلی دی . مور یې وویل هیڅ پرواه نسته الله ﷻ ته چي څه منظور وی ، هغه به کیږي .

حضرت سعد بن معاذ ﷺ لښکرته ورسیدی نویو غشی باندي ولګیدی چي دده رګ اکحل یې پریکی . دغه وخت حضرت سعد ﷺ دا دعاوکړه چي یا الله! که آئنده هم دقریشو څه حمله دنبی کریم ﷺ په مقابله باندي مقدر وي نو مادهغه دپاره ژوندی وساتی ځکه چي ددي څخه زیاته زما هیڅ ارزو نسته چي زه دهغه قوم سره جنګ وکړم کوم چي نبی کریم ﷺ دوطن څخه ایستلی دی ، ازار یې ورته رسولی دی او دهغوی تکذیب یې کړی دی ، اوکه ائنده ستاپه علم کي دا دجنګ سلسله ختمه سوی وی ، نو ته ماته دشهادت مرګ را کړی ، مګر چي ترهغه وخته پوري ماته مرګ رانه سی ، تر څو چي دبنی قریظه څخه د دوی دغداری بدل وانه خلم او زماسترګی یخی نه سی .

الله ﷻ دده دا دواړه دعاګانې قبولې کړې ، دا داحزاب واقعه یې دکفارو اخرې حمله جوړه کړه . ددې څخه وروسته دمسلمانانو دفتحو دور شروع سو ، اول خیبر بیا مکه مکرمه او بیا نور ملکونه فتح سول او دبنو قریظه واقعه مخ ته راغې چې هغوی ګرفتار سول او د دوی دمعاملې فیصله حضرت سعدبن معاذ ﷺ ته وسپارل سوه ، دده دفیصلې مطابق د دوی ځوانان قتل سول او ښځې او بچې یې قید کړل سول .

د احزاب په دې واقعه کې به صحابه کرامو او نبي کریم ﷺ ټوله شپه دخندق حفاظت کوی ، که یو وخت به دارام دپاره پرېوتل هم نوچې دیوطرف څخه به دلږ څه شور اواز راغی نو نبي کریم ﷺ به وسله وترله میدان ته به تلې حضرت ام سلمه ام المومنین ﷺ فرمایي چې په یوه شپه کې به څوځو وارې داسې کیده چې حضور ﷺ به دلږ ارام کولو دپاره تشریف راوړې اوچې څه اواز به یې واوریدی نو فوراً به یې دباندې تشریف یووړې ، بیابه یې لږ دارام دپاره ارخ ولګوی اوبیابه یې څه اواز واوریدی نو دباندې به یې شریف وې وړې

أمّ المُؤمِنِیْن حضرت ام سلمه ﷺ فرمایي چې زه په ډېرو غزاګانو (غزوه مَرَیسیع، خیبر، حدیبیه، فتح مکه اوغزوه حنین) کې دنبي کریم ﷺ سره یاته سوې یم، پرده ﷺ باندې په یوه غزاګۍ هم دومره سختي اوتکلیف نه دی راغلی لکه دخندق په غزاکې چې ورپیښ سو په دې غزا کې مسلمانانو ته زخم هم ډېر ورسیدی ، سخت یخونه یې هم برداشت کړه او ددې سره سره دخوراك اوڅښاك دضرور تونو هم تنګسه وه . (مظهري)

(دنبي کریم ﷺ څلور لمونځونه په دې غزاکې قضا سول)

یوه ورځ مقابل کفارو دا مقرره کړه چې ټول په جمع حمله کوو او په یو ډول سره پرخندق ورپورې وزو مخ ته خانونه رسوو ، دا یې مقرره کړه اوښه په زور او شور سره مقابلې ته رامخ ته سول . او سخت باران یې دغشو واوروی . په دې کې نبي کریم ﷺ او ټول صحابه کرام داسې مشغول پاته سول چې لمونځونو ته هم مهلت نه سو پیدا . څلور لمونځونه دماخستن په وخت کې وسول .

(دنبي کریم ﷺ دعا)

هرکله چې پرمسلمانانو انتهایي سختي سوه نو نبي کریم ﷺ داحزابو کفارو په حق کې ښراوی وکړې او دری ورځی دوشنبه، سه شنبه اوچهار شنبه په مسجد فتح کې مسلسل داحزابو دشکست اوتښتیدو او دمسلمانانو دفتح دپاره یې دعا کوله په دریمه ورځ دچهارشنبې په ورځ دماپښین اومازیګر په مینځ کې دعا قبوله سوه او نبي کریم ﷺ خوشحاله خوشحاله اصحابو کرامو ﷺ ته تشریف وې وړې او دفتح خوشخبري یې ورکړه . صحابه کرام ﷺ فرمایي چې ددغه وخت څخه وروسته هیڅ مسلمان ته څه تکلیف ورپیښ نه سو. (مظهري)

(دکار آسانې او دفتح داسبابو شروع)

ددښمن په صفونو کې قبیله غطفان یولوی طاقت وو. دالله ﷻ کامل قدرت په دوی کې دیوسړی نُعیم ابن مسعود په زړه کې ایمان واچوی او دنبي کریم ﷺ په خدمت کې حاضرسو. دوی ﷺ ته یې دخپل اسلام اظهار وکې او وې ویل چې تر اوسه زماپه قوم کې چاته دا نه ده معلومه چې زه مسلمان سوی یم ، اوس

ماته وفرمایی چي زه داسلام څه خدمت وکړم . نبی کریم ﷺ وفرمایل چي ته یوازي دلته څه خاص کار نه سي کولای ، خپل قوم ته ولاړ سه ، دهغوی سره ووینه او داسلام دمدافعت که څه کار کولی سي نو وي کړه نُعیم ذهین اوپوه سړی وو، یوه منصوبه یی په زړه کي جوړه کړه او دنبی کریم ﷺ څخه یی ددي اجازه وغوښتله چي زه به دغو خلقو ته ولاړ سم څه چي مناسب وګڼم وبه وایم، دوی ﷺ اجازه ورته ورکړه .

نُعیم ابن مسعود ددي ځای څخه بنو قریظه ته ولاړی . دکومو سره چي دجاهلیت په زمانه کي دده زاړه تعلقات وه، هغوی ته یی وویل ، ای بنو قریظه ! تاسی پوه یاست چي زه ستاسو پخوانی دوست یم ، هغوی اقرار وکړی چي زمونږ ستاپه دوستی کي څه شك نسته . ددي څخه وروسته نُعیم دبنوقریظه دسردارانو څخه په نصیحت کوونکی اندازکی پوښتنه وکړه چي تاسو ته معلومه ده چي که دمکی قریش دی اوکه زمونږ قبیله غطفان ده یانور دیهودو وغیره قبائل دی د دوی وطن دلته نسته ، دوی که شکست وخوړی نو وبه وتښتی نوهیڅ نقصان یی نسته ستاسو معامله ددي ټولوڅخه مختلفه ده ، مدینه ستاسووطن دی، ستاسو ښځي اومالونه ټول دلته دی . که تاسو ددي خلقو سره په جنګ کي شرکت وکی او دی خلقو شکست وخوړی او وتښتیدل نو ستاسو به بیا څه حال وی ؟ آیاتاسو به یوازي دمسلمانانو مقابله وکړل سی .

په دی وجه زه تاسو ته دخیر خواهی مشوره درکوم چي تاسو د دوی سره ترهغه په جنګ کي شرکت مه کوي ترڅو چي دا خلق دخپلو خاصو سردارانو یو شمیر تاسو ته په ګروی درنه کړی چي دوی به تاسو مسلمانانو ته نه پریږدی اوتښتی به نه .

بنو قریظه ته دده دا مشوره ډیره ښه معلومه سوه ، دده یی قدر وکی اووی ویل چي تا ډیره ښه مشوره راکړه.

ددی څخه وروسته نُعیم دقریشو سردارانوته ولاړی او دوی ته یی وویل چي تاسی پوه یاست چي زه ستاسو دوست یم او دمحمد ﷺ څخه بری یم، ماته یوه خبره را رسیدلی ده او دخیرخواهی تقاضا دا ده چي زه دغه خبره تاسی ته ورسوم ، په دی شرط چي تاسو زما نوم ښکاره نه کړی . هغه خبره دا ده چي دبنی قریظه یهود ستاسو سره دوعدی کولو څخه وروسته پرخپله فیصله پښیمانه سوی دی او ددی خبرداری یی محمد ﷺ ته ددي خبري سره رسولی دی چي آیاته زمونږ سره په دی شرط راضی کیدی سي چي مونږ دقریشو او غطفان څوسرداران تاته حواله کو چي ته د دوی څټونه ووهی ، بیامونږ ستاسو سره یوځای سو او ددی ټولو سره جنګ وکړو. محمد ﷺ د دوی خبره قبوله کړي ده . اوس بنو قریظه ستاسی څخه په طور دګروی او ضمانت کولو ستاسو دڅو سردارانو مطالبه کوي اوس تاسو خپلي معاملي ته فکر وکی .

ددی څخه وروسته نُعیم بن مسعود خپلي قبیلی غطفان ته ولاړی اوهغوی ته یی دا خبر واوروی . ددي سره ابوسفیان دقریشو دطرف څخه عکرمه بن ابی جهل او دغطفان دطرف څخه ورقه ابن غطفان ددي کار دپاره مقرر کړل چي بنو قریظه ته ولاړسی او ووایی چي اوس زمونږ اسباب دجنګ هم ختمیږي او زمونږ سړی هم دپرله پسی جنګ څخه ستړی سول، موږ ستاسو دتړون مطابق ستاسو دامداد اوشرکت منتظر یو. بنو قریظه دوی ته دخپل قراردا دمطابق دا جواب ورکی چي مونږستاسی سره په جنګ کي ترهغه وخته پوري

نه سو شریکیدی تر څو پورې چې تاسی د دواړو قبیلو څو سرداران مونږ ته په طور دګروی (ضمانت) رانه کړی. عکرمه او ورقه دا خبر ابوسفیان ته ورسوی نو دقریشو اوغطفان سردارانو یقین وکی چې دنُعیم خبره صحیح ده اوبنو قریظه ته یی خبر ورکی چې مونږ خپل یو سړی هم تاسی ته نه سو درکولی، که زړه مو غواړی نو زمونږ سره په جنګ کې شرکت وکړی اوکه نه غواړی نو مه یی کوی. بنو قریظه چې دا حال ولیدی نو دنُعیم په خبره یی یقین راغی. دغه ډول الله ﷻ ددښمن په ډلوکې دیو سړی په ذریعه اختلاف واچوی او د دوی پښې وښویدې.

دی سره بل آسمانی آفت پردوی داراغی چې الله ﷻ یوه سخته اوطوفانی هوا پردوی مسلطه کړه چې د دوی خیمې یی ویستلې اوکتوی یی دنغریوڅخه ورچپه کړی. دا څو ښکاره اسباب الله ﷻ د دوی دپښو ښویولو دپاره پیدا کړل او پردی سربیره یی خپلې فرښتې را ولیږلې چې په باطنی طور سره د دوی په زړونو کې رعب واچوی. ددې دواړو خبرو د ذکرسوو آیتونو په شروع کې هم داسې فرمایل سوی دی. ﴿فَأَرْسَلْنَا عَلَيْهِمْ رِيحًا وَجُنُودًا لَّمْ تَرَوْهَا﴾، یعنی مونږ په دوی یوه تنده اوسخته هوا راولیږله او دفرښتو لښکر مو را ولیږی. ددی نتیجه دا سوه چې اوس ددې خلقو دپاره دتښتیدو څخه ماسوا بله چاره نه وه.

(دحضرت حذیفه رضـ ددښمن لښکر ته دتلو اوخبر راوړو واقعه)

بلی خوا نبی کریم ﷺ ته دنُعیم بن مسعود دکار روایی او په احزابوکی داختلاف لویدو دواقعاتو خبر ورکړل سو نو اراده یی وکړه چې خپل یو سړی ولاړسی ددښمن دلښکر او دهغوی داراده ومعلومات راوړی. مګر هغه سخته طوفانی هواکومه چې پردښمن رالیږل سوی وه، په هرحال پرټوله مدینه باندې حاوی وه او پرمسلمانانو هم دسخت یخ اثر وسو، دشپې وخت وو، صحابه کرام دټولې ورځې دمحنت اویخ په سبب را ټول سوی ناست وه. نبی کریم ﷺ مجمعی ته وفرمایل چې څوک دی چې پورته سې او ددښمن دلښکر خبر را وړی او الله ﷻ هغه جنت ته دا خل کړی. جان نثار صحابه وه مګر حالاتو داسې مجبوره کړی وه چې هیڅوك پورته کیدی نه سوای، نبی کریم ﷺ په لمانځه کې مشغول سو او دلمانځه څخه وروسته یی بیا وفرمایل چې څوك به ددښمن دلښکر خبر راوړی او په بدل کې یی جنت حاصل کړی. خوبیاهم څوك پورته نه سول. نبی کریم ﷺ بیاپه لمانځه کې مشغول سو او څه وخت وروسته یی بیا وفرمایل چې څوك به خبر راوړی چې په جنت کې به زماسره وی، مګر بیاهم دټولې ورځې دتکلیف او دډیرو ورځو دلوږو اوسربیره باندې دسخت یخ څخه داسې بې وسه سوی وه چې بیاهم څوك پورته نه سول.

حضرت حذیفه بن یمان ﷺ دحدیث راوی فرمایی چې دغه وخت نبی کریم ﷺ زما نوم واخستی اووی فرمایل چې حذیفه ته ولاړسه زما حالت هم دنورو په شان وو، مګر دحکم منلو څخه ماسوا می بله لار نه وه، زه پورته سوم اودیخ څخه زماټول بدن رپیدی، دوی خپل مبارك لاس زماپرسراومخ راتیرکې اووې فرمایل د دښمن لښکرته ولاړسه اوماته صرف خبر راوړه اوماته دبیرته راتلوڅخه مخکی هیڅ کارمه کوه اوبیاده ﷺ زما دحفاظت دپاره دعاوفرمایله ماخپل غشی لینده واخستل اوخپلې کپړی می پرځان چاپیره کړی اوروان سوم.

هرکله چي ددي ځاى څخه روان سوم نو عجيبه خبره مى دا وليده چي په خيمه کي دننه چي کوم يخ زما کيدي او رپيدم هغه ختم سو او زه داسي روان وم ، لکه چي په گرم حمام کي ځوك روان وي او لښکر ته چي ورسيدم نوما وليدل چي د دوى خيمى هوا غورځولي وي اوکتوى يى ورنسکورى کړى وى ، ابوسفيان اورته ناست وو توديدى ، ماچي وليدى نوخپل غشى اولينده مى محکم کړل اوابوسفيان مى په غشى ويشتى چي دحضور ﷺ دا فرمان راته يادسو چي ماته دراتلوڅخه مخکى به بل هيڅ کارنه کوي ابوسفيان ماويشتى سواى خو ددى فرمان په وجه ماخپل غشى بياکښينوى .

ابوسفيان دحالاتو څخه پريشانه سوى وو دبيرته واپسى اعلان کول يى غوښتل مگر ددى دپاره ضروري وه چي دقوم د ذمه وارو سره خبره وکړى ، دشپى په تياره اوخاموشى کي دا بيره هم وه چي يوځوك جاسوس موجود وى او د دوى خبره واورى ، نو ابوسفيان اول دا هوښيارتيا وکړه چي تولى مجمعى ته يى وويل چي هرسړى دى دخپلي خوا سړى معلوم کړى چي يو بل سړى زمونږ خبره وانه وريدى سى .

حضرت حذيفه ﷺ فرمايى چي اوس زماسره دابيره پيداسوه چي زمادخواسړى کله چي زماڅخه پوښتنه وکى چي ته څوك يى ؟ نوزمارازبه ښکاره سى نو ده په ډيره هوښيارتيا او زړه ورتيا سره اول دخپلي خوا پر سړى لاس کښيښوى اوپوښتنه يى ورڅخه وکړه چي ته څوك يى ؟ هغه وويل عجيبه ده ته مانه پيژنى ؟ زه فلانى زوى دفلانى يم. دغه دهوازن قبيلى سړى وو. دغه ډول الله ﷻ حضرت حذيفه دگرفتارى څخه محفوظ کړل .

ابوسفيان ته چي هرکله دا اطمينان وسو چي خلق تول خپل دى نوده پريشان کوونکى حالات ، دبنو قريظه بد وعدى او د اسباب جنگ دختميدو واقعات بيان کړل ، وي ويل چي زما رايه دا ده چي اوس تاسو تول بيرته ولاړ سى او زه هم بيرته ځم . پرلښکر شور او شغپ جوړ سو او تول بيرته روان سول .

حضرت حذيفه ﷺ فرمايى چي زه بيرته راروان سوم نو داسى مى محسوسوله چي زما څخه شاوخوا گرم حمام دى اوچي را ورسيدم نو نبى کريم ﷺ په لمانځه کي مشغول وو چي سلام يى وگرځوى نو ماورته دواقعى خبر ورکى . نبى کريم ﷺ په دى خبر خوشحاله سو او وى خندل داسي چي دشپى په تياره کي يى غاښونه مبارك وبريښيدل ، او بيايى ماته په خپلو پښو کي ځاى راکى او کوم څادر چي دوى اغوستى وو دهغه يوه برخه يى په ماباندى را واچوله او زه بيده سوم چي سهار سو نو دا يى وفرمايل زه يى بيداره کړم چي، قُمْ يَا نَوْمَانُ، يعنى پورته سه، اى ډير خوب کوونکى!

(آئنده دکفارو دحملو دگښته کيدو خوشخبرى)

په صحيح بخارى کي دحضرت سليمان بن صرد ﷺ روايت دى چي داحزابو دبيرته واپس کيدو په وخت نبى کريم ﷺ وفرمايل . اَلْآنَ نَغْزُوْهُمْ وَلَايَغْزُوْنَنَا نَحْنُ نَسِيْرُ اِلَيْهِمْ، (بخارى) يعنى اوس به هغوى په مونږ حمله نه سي کولاى بلکى مونږ به حمله باندي کوو او د دوى پرملك به ورخيژو. (مظهرى)

ددى ارشاد فرمايلو څخه وروسته نبى کريم ﷺ او صحابه کرام ﷺ دمدينى ښارته را غلل او يوه مياشت وروسته مسلمانانو خپلي وسلى خلاصى کړى .

خبرداری : دحضرت حذیفه ﷛ دا واقعه په صحیح مسلم کي ده او دا مستقل دعبرت یو درس دی کوم چي پر ډیرو هدایتونو او دحضور ﷺ پرمعجزو مشتمل دی چي فکر باندي وسی نو په خپله معلومیدی سی ، تفصیل لیکلو ته یې ضرورت نسته .

(دبنو قریظه غزا)

دنبی کریم ﷺ اوصحابه کرامو مدینی منوری ته درسیدو سره جبرائیل امین ﷤ دحضرت دحیه کلبی ﷛ صحابی په صورت کي تشریف را وړی او وی فرمایل چي که څه هم تاسوخلقو وسله خلاصه کړي ده ، مګر فرښتو خپله وسله نه ده خلاصه کړی دالله ﷻ تاسی ته دا حکم دی چي پربنی قریظه حمله وکی او زه تر تاسو مخکی هلته ولاړم .

نبی کریم ﷺ په مدینه کي د اعلان کولو دپاره یو اواز کونکی ولیږي چي دنبی کریم ﷺ دا حکم یې خلقو ته واوریدی . لَایُصَلِّیَنَّ اَحَدٌ اَلْعَصْرَ اِلاَّ فِیْ بَنِیْ قُرَیْظَةَ، یعنی څوك دی دماځیګر لمونځ نه کوي تر څو چي بنی قریظه ته نه وي رسیدلی .

صحابه کرام ﷡ تول ددي دوهم جهاد دپاره فوراً تیارسول او دبنو قریظه طرف ته روان سول ، په لاره کي دماځیګر وخت سو نوځینو دحکم نبوی دظاهر موافق په لاره کي دماځیګر لمونځ ونه کی ، بلکی مقرر منزل بنو قریظه ته ورسیدل ادا یې کي او ځینو داسي وګڼله چي دنبی کریم ﷺ مقصد دماځیګر په وخت کي بنو قریظه ته رسیدل وو ، مونږ که په لاره کي لمونځ وکوو او دماځیګر په وخت کي هلته ورسیږو نو دا دحضور ﷺ د ارشاد منافی نه ده . دوی دماځیګر لمونځ په خپل وخت کي په لاره کي وکی .

(دمجتهدینو په اختلاف کي یوجانب ګناه اومنکر نه وي چي ملامتیا باندي وسي)

نبی کریم ﷺ ته دصحابه کرامو ﷡ دعمل ددي اختلاف خبر ورکړل سو نو دوی په دواړو فریقو کی پرهیڅا ملامتیا ونه فرمایل بلکی دواړو ته یې صحیح وفرمایل ، ددي څخه د امت عالمانو دا اصول را ایستلی دی چي په مجتهدینو علماؤ کي چي کوم په حقیقت کي مجتهدین وي او داجتهاد صلاحیت لري ، د دوی د اقوالو په اختلاف کي هیڅ یوه ته ګناه او منکر نه سي ویل کیدی ، د دواړو فرقو دپاره په خپل خپل اجتهاد په عمل کولو کی ثواب لیکل کیږي .

دبنو قریظه سره دجهاد دپاره دوتو په وخت کي نبی کریم ﷺ جنډه حضرت علی مرتضٰی ﷛ ته وسپارله دنبی کریم ﷺ او صحابه کرامو دراتلو خبر چي واوریدی نو بنی قریظه قلعه بند سول او اسلامی لښکر دقلعی محاصره وکړه .

(دبنو قریظه دسردار کعب تقریر)

دبنو قریظه سردار کعب کوم چي دنبی کریم ﷺ سره وعده ماته کړی وه او داحزابو سره یې وعده کړی وه ، هغه خپل قوم جمع کي او دحالاتو نزاکت یې بیان کي او دری دکار صورتونه یې ورته پیش کړل .

اول دا چي تاسی تول اسلام قبول کي او دمحمد (ﷺ) تابعدار سي ځکه چي زه په قسم سره وایم چي تاسو

تول بنه پوه یاست چي هغه پرحقه دی اوستاسو په کتاب تورات کي یی پیش گویی موجوده ده کوم چي تاسی وایاست که تاسی داسي وکړل نو په دنیا کي به خپل ځانونه مالونه او اولاد محفوظ کړی او په اخرت کي به هم صحیح سی.
دوهم صورت دا دی چي تاسو خپل اولاد او ښځی اول په خپلو لاسونو قتل کی او په پوره طاقت سره جنګ وکی تردی چي تاسو هم قتل سی.
دریم صورت دا دی چي په یوم السبت «دخالي په ورځ» تاسو پرمسلمانانو ټول په یو وار حمله وکی، ځکه چي مسلمانان پوه دی چي زموږ په مذهب کي دخالي په ورځ جنګ حرام دی. په دی وجه هغوی به زموږ دطرفه په دی ورځ بی فکره وی، موږ به ناڅاپه حمله وکړو نو شاید چي کامیاب سو.
دکعب دا تقریرچی قوم واوریدی نو دقوم خلقو ځواب ورکی چي اوله خبره یعنی مسلمان کیدل دا خو ز موږ په وس نه سي کیدی ځکه چي موږ تورات پرینښوول اوبل کتاب نه سو منلی، پاته سوه دوهمه خبره نو دښځو او بچیانو څه قصور دی چي موږ دوی قتل کړو، باقي دریمه خبره خو په خپله دتورات او زموږ دمذهب څخه خلاف ده، دا هم موږ نه سوکولای.
ددی څخه وروسته ټولو پردی اتفاق وکی چي دنبی کریم ﷺ په مخکی وسله وغورځوی او هغوی چي ستاسو په باره کي څه فیصله وکی په هغه راضی سی. په انصاری صحابه کرامو کي چي کوموخلقو د اوس قبیلی سره تعلق درلو دی، دهغوی او دبنی قریظه په مینځ کي دپخوازمانی څخه عهد وو نو اوسی صحابه کرامو نبی کریم ﷺ ته عرض وکی چي ته دا خلق موږ ته حواله کړه. نبی کریم ﷺ وفرمایل چي ایا تاسو په دی راضی یاست چي زه د دوی معامله ستاسو یو سردار ته وسپارم، دا خلق په دی راضی سول او نبی کریم ﷺ وفرمایل چي هغه ستاسو سردار سعدبن معاذ رضی الله عنه دی، د دوی فیصله زه هغه ته سپارم، په دی ټول خلق راضی سول.
حضرت سعد بن معاذ رضی الله عنه ته دخندق په واقعه کي دغشی سخت زخم رسیدلی وو نبی کریم ﷺ دده دخدمت دپاره دجمات په احاطه کي یوه خیمه لګولی وه. په هغه کي به یی ساتی، دنبی کریم ﷺ دفرمان مطابق دبنو قریظه دقیدیانو فیصله یی ده ته پرینښوده. هغوی دا فیصله ورکړه چي په دوی کي کوم جنګ کوونکی ځوانان دی هغه دی قتل سي او دښځو او بچیانو او بوډاګانو سره دی دجنګی قیدیانو معامله وسی کومه چي په اسلام کي معروفه ده، دا فیصله نافذه سوه او ددی فیصلی څخه فوراً وروسته دحضرت سعد رضی الله عنه د زخم څخه وینه روانه سوه، په دی کي دوی وفات سول، الله ﷻ یی دواړی دعاګانی قبولی کړی یوه دا چي آئنده دقریشو پرنبی کریم ﷺ څه حمله نه وی، دوهمه دبنی قریظه دغداری سزا چي دوی ته ورکړل سی، هغه الله ﷻ د دوی په ذریعه ورکړه.
دکومو قتل کول چي منتخب سوی وو په هغوی کي ځینی دمسلمانیدو په وجه ازاد سول، عطیه قرظی «رض» کوم چي په صحابه کرامو رضی الله عنهم کي معروف دی ددغو خلقو څخه دی. په دغه خلقو کي زبیر بن باطا هم

وو ، دی حضرت ثابت بن قیس بن شماس ﷺ دحضور ﷺ څخه په درخواست کولو سره ازاد کړی وو. سبب یی دا وو چي زبیر بن باطا پر ده په جاهلیت کي یو احسان کړی وو ، هغه دا چي دجاهلیت دزمانی په جنګ بعاث کي ثابت بن قیس قید سو او دزبیر بن باطا په قبضه کي راغلی وو ، زبیر بن باطا دده دسر وربښته پرېکړل او ازاد یی کی ، قتل کړی یی نه وو.

(د احسان بدلي او دقومي غیرت دوی عجیبه نمونې)

حضرت ثابت بن قیس ﷺ د زبیر بن باطا دازادی حکم حاصل کی ، ده ته راغی او ورته یی وویل چي دا ما ددي دپاره وکړل چي ستا دهغه احسان بدله درکړم کوم چي په جنګ بعاث کي تاپرما کړی وو. زبیر بن باطا وویل چي بیشکه شریف سړی دبل شریف سره داسي معامله کوی ، مګر دا ووایه چي هغه سړی به په ژوند څه وکی چي اهل او عیال یی نه وی ، چي دایی واورېدل نو ثابت بن قیس ﷺ بیا دحضور ﷺ په خدمت کي حاضر سو او عرض یی وکی چي دده د اهل او عیال جان بخښی هم وکی ، حضور ﷺ قبوله کړه . زبیر بن باطایی ددي څخه خبر کي نو دی یو قدم نور وړاندی سو ، چي ثابته دا ووایه چي یو انسان دعیال خاوند به څنګه ژوندی پاته کیږي چي کله دده سره مال نه وی ، ثابت بن قیس ﷺ بیا دنبی کریم ﷺ په خدمت کي حاضر سو او مال یی هم ده ته بیرته ورکی ، تردی ځای خو دیو مومن دشرافت او احسان شناسی واقعه وه کومه چي دحضرت ثابت بن قیس ﷺ دطرف څخه وسوه .

اوس بل اړخ واوری چي زبیر بن باطا ته هرکله چي دځان او اهل اوعیال اومال متاع دازادی اوبیرته ورکول کیدو اطمینان وسو ، نو ده دحضرت ثابت بن قیس ﷺ څخه دیهودو دقبائلو دسردارانو متعلق پوښتنه وکړه او وی ویل چي ابن ابی الحقیق څه سو؟ چي مخ یی دشیشی او انداری په شان وو ، هغه وویل چي هغه قتل سوی دی . بیایی دکعب بن قریظه او عمر بن قریظه د انجام پوښتنه وکړه ، هغه وویل چي هغه دواړه هم قتل سوی دی ، بیایی د دوو جماعتونو متعلق هم پوښتنه وکړه نو خبر ورکړل سو چي دا ټول قتل سوی دی چي دا یی واورېدل نو زبیر بن باطا حضرت ثابت بن قیس ﷺ ته وویل ، چي تا دخپل احسان بدله پوره کړه او دخپلي ذمه واری حق دی ادا کی ، مګر زه خپله مځکه او جائیداد ددي خلقو څخه وروسته نه سم آبادولای ، ماهم دهغو خلقو سره شامل کړه یعنی قتل می کړه ، ثابت بن قیس ﷺ دده دقتل کولو څخه انکار وکی بیادده په اصرار باندي بل مسلمان دی قتل کی . (قرطبی)

دا دیو کافرقومی غیرت ووکوم چي دهرڅه دورکول کیدو څخه وروسته دخپلو ملګرو څخه بغیر یی ژوندی او سیدل خوښ نه کړل ، دیو مومن او کافر دا دواړه عملونه دیو تاریخی یادګار حیثیت لري ، دبنو قریظه دا فتح دهجرت په پنځم کال د ذی القعدی میاشتی په اخر او د ذی الحجی په اول کي سوي ده . (قرطبی)

خبرداری : داحزاب او بنو قریظه دغزاګانو دلته په تفصیل سره دلیکلو یوه وجه خو په خپله دقرآن کریم ددي په تفصیل سره په دوو رکوع ګانو کي بیانول دی ، دوهمه وجه دا هم ده چي ددي په واقعاتو کي دژوند دمختلفو اړخونو متعلق ډیر هدایتونه او دنبی کریم ﷺ واضحه معجزی اوډیر عبرتونه دی ، کوم

چي يي په دې قصه کي په عنواناتو سره واضح کړې دی . ددي تولې واقعي معلومولو څخه وروسته د ذکرسوو آيتونو دتفسير دپاره ذکر سوی لنډتفسير کتل کافي دی د زيات تشريح ضرورت نه پاته کيږي ، صرف څو خبري دفکر قابلي دی .

اول دا چي په دې غزاکی يي پرمسلمانانو دسختی او په مختلف قسم تکليفونو کي داخته کيدو ذکر وفرمايی ، ددي پريشانی په وخت کي يو يو حال خو دمومنانو ښوولی دی چي، تَظُنُّونَ بِاللهِ الظُّنُونَا ، يعنی تاسو خلقو په الله ﷻ مختلف قسم گمانونه کول . ددي گمانونو څخه مراد غير اختياری وسوسی دی کوم چي دپريشانی په وخت کي دانسان په زړه کي راځی چي مرگ راغی اوس دنجات صورت پاته نه سو وغيره وغيره . داسي غير اختياری خطری او وسوسی نه دکمالِ ايمان منافی دی نه دکمالِ ولايت، البته په دی سره دمصيبت او اضطراب دسختوالی خامخاپته لگيږي ، چي دصحابه کرامو په شان داستقامت دغرونو په زړونو کي هم وسوسی راتلی .

دوهم حال دمنافقانو يي ذکر کړی دی چي دوی په ډاگه دالله ﷻ او رسول ﷺ وعدو ته دوکه او فريب ويل شروع کړل . وَإِذْ يَقُولُ الْمُنَافِقُونَ وَالَّذِينَ فِي قُلُوبِهِمْ مَرَضٌ مَا وَعَدَنَا اللهُ وَرَسُولُهُ إِلَّا غُرُورًا، دا د دوی دباطنی کفر اظهار وو، مخکی په عملی طور سره هغه منافقان کوم چي په ښکاره دمسلمانانو سره په جهاد کي شريك وه ، دهغوی د دوو طبقو ذکر دی ، يوه طبقه خو بی پوښتنی وتښتيده کومی چي وويل . يَا أَهْلَ يَثْرِبَ لَا مُقَامَ لَكُمْ فَارْجِعُوا ، او دوهمی طبقی خپلي بهانی جوړی کړی . نبی کريم ﷺ ته يي دبيرته تلو درخواست وکی چي حال يي ورته داسي ذکر کړی دی . وَيَسْتَأْذِنُ فَرِيقٌ مِنْهُمُ النَّبِيَّ يَقُولُونَ إِنَّ بُيُوتَنَا عَوْرَةٌ، الاية . قرآنکريم د دوی حيله بهانه ښکاره کړه ، چي دا ټول درواغ دی ، حقيقت ددي څخه ماسوا هيڅ نسته چي دوی دميدان څخه تښتيدل غواړی ، إِنْ يُرِيدُونَ إِلَّا فِرَارًا، مخ ته په څو آيتونو کي د دوی دشرارت او دمسلمانانو سره دعداوت بيا د دوی دبد انجام ذکر فرمايی .

ددی څخه وروسته دمخلصانو مومنانو ذکر يي وفرمايی او د دوی دثابت قدمی او استقلال صفت يي کړی دی . ددي په ضمن کي دنبی کريم ﷺ دتابعداری او اقتداء تاکيد يي ديوی قاعدی په صورت کي بيان کړی دی . لَقَدْ كَانَ لَكُمْ فِي رَسُولِ اللهِ أُسْوَةٌ حَسَنَةٌ، ددي څخه دنبی کريم ﷺ داقوالو اوافعالو ټولو داقتداء حکم ثابت سو. مگر دتحقيق کوونکو امامانو دتفسير په نزد ددي عملی صورت دا دی چي دکوم کار کول يا پريښوول دنبی کريم ﷺ څخه په درجه دوجوب کي ثابت وي ددي تابعداری واجب او لازمه ده او دکوم کار کول ياپريښوول چي په درجه داستحباب کي ثابت وی ، دهغه کول ياپريښوول هم په درجه داستحباب کي وی ، چي خلاف ورزی يي گناه نه سي مقرر کيدی . (قلت اليه يرجع کلام الجصاص فی احکام القرآن)

په ذکرسوو آيتونو کي په اخری درو آيتونو کي دبنو قريظه دواقعي ذکر دی . وَأَنْزَلَ الَّذِينَ ظَاهَرُوهُمْ مِنْ أَهْلِ الْكِتَابِ مِنْ صَيَاصِيهِمْ، يعنی کومو اهل کتابو چي داحزابو مدد کړی وو، الله ﷻ دهغوی په زړونو کی دنبی

کریم ﷺ او مسلمانانو رعب واچوی دهغوی دمضبوطو قلعه گانو څخه یی هغوی لاندي راکښته کړل او دهغوی دمالونو اوکورونو اومځکو یی مسلمانان وارثان کړل.

په اخری آیت کې یی دراتلونکو فتحو خوشخبری ورکړې ده چي اوس دکفارو حملی ختم سوی اوس دمسلمانانو دفتحو دوران شروع سو او داسي داسی مځکی به د دوی په قبضه کي راتلی کوم ځای ته چي د دوی قدم لانه وه رسیدلی، چي ظهور یی دصحابه کرامو په دور کي تولو په سترگو ولیدی، چي دکسری او قیصر دتولو څخه لوی حکومتونه د دوی زیر نگین را غلل، وَاللّٰهُ يَفْعَلُ مَايَشَآءُ.

يٰٓاَيُّهَا النَّبِيُّ قُلْ لِّاَزْوَاجِكَ اِنْ كُنْتُنَّ تُرِدْنَ الْحَيٰوةَ الدُّنْيَا وَزِيْنَتَهَا

ای نبی! ووایه خپلو بیبیانوته چی که تاسی غواړی ژوند ددنیا اوددې ځای ښائست

فَتَعَالَيْنَ اُمَتِّعْكُنَّ وَاُسَرِّحْكُنَّ سَرَاحًا جَمِيْلًا ﴿۲۸﴾ وَاِنْ كُنْتُنَّ تُرِدْنَ

نوراسی چی څه فائده ورسوم تاسی ته اورخصت کړم تاسې لره په ښه رخصت سره، اوکه تاسی غواړی

اللّٰهَ وَرَسُوْلَهٗ وَالدَّارَ الْاٰخِرَةَ فَاِنَّ اللّٰهَ اَعَدَّ لِلْمُحْسِنٰتِ مِنْكُنَّ اَجْرًا

الله اودهغه رسول لره او دآخرت کور لره نوالله تیار کړی دی دهغوی دپاره کومی چی په تاسی کی په نیکی دی اجر

عَظِيْمًا ﴿۲۹﴾ يٰنِسَآءَ النَّبِيِّ مَنْ يَّاْتِ مِنْكُنَّ بِفَاحِشَةٍ مُّبَيِّنَةٍ

لوی، ای دنبی ﷺ بیبیانو! څوک چی وکړی په تاسی کی کار دبې حیایی ښکاره

يُّضٰعَفْ لَهَا الْعَذَابُ ضِعْفَيْنِ ۭ وَكَانَ ذٰلِكَ عَلَى اللّٰهِ يَسِيْرًا ﴿۳۰﴾

دوچند دی هغه لره عذاب دوچند، او دی دا په الله باندی اسان

تفسیر: ای نبی (ﷺ) ته خپلو بیبیانوته وفرمایه (تاسو ته پریکړی (صفا) خبره کول کیږي چي قصه دهمیشه دپاره یوطرف ته سی، هغه خبره دا ده چی) تاسی که ددنیا ژوند (عیش) او ددې بهار غواړی نو راسی (یعنی اخستو ته متوجه سی) زه تاسی ته څه (مال او) متاع (ددنیا) درکړم (یاددې څخه مراد هغه جوړه ده کومه چي مطلقی مدخولی ته په وخت کي دطلاق کي ورکول مستحب دی یاورڅخه مراد نان نفقه دعدی ده یا دواړوته شامله ده) او (چی متاع درکړم) تاسی په ښه طریقه سره رخصت کړم (یعنی موافق دسنتو تاسو ته رخصت درکړم چي کوم ځای غواړی ولاړی سي دنیاحاصله کړی) اوکه تاسی الله ﷻ غواړی او (مطلب

دلته دالله ﷻ دغوښتلو څخه دا دي چي، دهغه رسول (غواړي يعني دفقر او مفلسي دموجوده حالت سره درسول ﷺ په نكاح كي پاته كيدل غواړي) او داخرت (لوړي درجي غواړي كومي چي په زوجيت درسول ﷺ باندي مرتب كيدونكي دي) نو (داستاسو نيك كرداري ده او) په تاسو كي دنيك كردارو دپاره الله ﷻ (په اخرت كي) لوى اجر تيار كړى دى (يعني هغه ثواب كوم چي مخصوص دي دنبي دزوجاتو دپاره او دنيكو بيبيانو داجر څخه هغه عظيم دى او دكوم څخه چي دنبي كريم ﷺ دزوجيت دنه اختيارولو په صورت كي محرومي وي كه څه هم په عامو دليلونو سره دمطلق ايمان اونيكو عملونو ثمرات به په دي صورت كي هم حاصل وي ، تردي ځاى پوري خو مضمون داختيار دي چي په دي كي دنبي كريم ﷺ دطرف څخه بيبيانو ته اختيار وركړل سو چي په موجوده حالت قناعت كوي د دوى په زوجيت كي پاته كيدل خوښوى اوكه د دوى څخه طلاق حاصلوى مخ ته الله ﷻ دوى ته په خپله خطاب كوي او هغه احكام فرمايي كوم چي په صورت د اختيار دزوجيت واجب الاهتمام وى ، ارشاد دى چي) اى دنبي ﷺ بيبيانو! كومه چي په تاسو كي ښكاره بى هودگى وكړي (مراد ددي څخه هغه معامله ده كومه چي پرنبي كريم ﷺ تنگ اوپريشانه وي نو) هغه ته (په دى باندي) دوچنده سزا وركول كيږي (يعني بل سړى ته چي په دغه عمل څومره سزا وركول كيږي دهغه څخه به دوچنده وى) او دا خبره الله ﷻ ته (بالكل) آسانه ده (داسي نه ده چي ددنيوى حاكمانو په شان كله په سزا زياتولو سره دچا عظمت ده ته مانع سي او ددى سزا دزياتيدو وجه اوس ددوچندى داجر په تقرير كي راځي) (د دويشتمي ۲۲ پارې په شروع كي)

معلومات اومسئلي: ددي صورت په مقاصدو كي اَهم مقصد دنبي كريم ﷺ دازار او دهر داسي شي څخه دخلاصيدو تاكيد دى په كوم سره چي دوى ته تكليف رسيږي ، دارنگه د دوى درضا جويي او اطاعت تاكيدى احكام دى . داحزاب غزا دكومي تفصيلي واقعه چي مخكى ذكرسوه . په دى كي دكفارو او منافقانو دطرف څخه كوم تكليفونه چي نبي كريم ﷺ ته رسيدلي دي دهغه ذكر او ددى سره دكار انجام دموذى كفارو اومنافقانو ذليل او خواريدل او دنبي كريم ﷺ په هره موقع فتح مند اوكاميابيدل ذكرسوى وه او دى سره دمخلصو مومنانو كومو چي دنبي كريم ﷺ په حكم او اشاره خپل هرڅه قربان كړل ، دهغوى ستاينه او ثنا او د اخرت دلوړو درجو بيان وو .

په دى ذكرسوو آيتونو كى خاص ازواجو مطهراتو ته تعليم دى چي دوى خصوصًا ددي اهتمام وكى چي دوى ته دهغوى دڅه قول اوفعل څخه ازارونه رسيږي اوداهلته كيدى سي چي هغوى دالله ﷻ او دهغه درسول ﷺ په مكمل اطاعت كي شروع سي ددي سلسلي څواحكام ازواجومطهراتوته خطاب سوى دى ښوول سوى دى .

د آيتونو په شروع كي چي كوم ازواجو مطهراتو ته دطلاق حاصلولو اختيار وركول ذكر دى . ددي يو يا څو واقعات دى كوم چي دازواجو مطهراتو دطرف څخه پيښ سول او دنبي كريم ﷺ دمنشاء څخه خلاف وه په كومو سره چي بى دڅه قصد اوارادى څخه نبي كريم ﷺ ته تكليف ورسيدى .

په دى واقعاتو كي يوه واقعه هغه ده كومه چي په صحيح مسلم وغيره كي دحضرت جابر ﷺ په روايت سره

په تفصیل سره راغلی ده. په دی کي دی چي ازواج مطهرات رضی جمع سوی او دنبی کریم ﷺ څخه یی ددي مطالبه وکړه چي د دوی نان اونفقه دی زیاته سی . په تفسیر بحر محیط کي ابوحیان ددي تشریح دا بیان کړي ده چي دغزوه احزاب څخه وروسته دبنو نضیر بیا دبنو قریظه فتوحاتو او دغنیمت دمالونو تقسیم په عامو مسلمانانو کي یو قسم خوشحالی پیدا کړی وه . ازواجو مطهراتو ته دغه وخت دا خیال ورغی چي دغنیمت په دی مالونوکی به نبی کریم ﷺ خپله حصه هم ایښی وی ، په دی وجه دوی جمع سوی اوعرض یی وکی چي یارسول الله ! دقیصر اوکسرٰی بیبیانو قسم قسم کالی اوجامی اغوستی وي او دهغوی دخدمت دپاره مینځی دی او زمونږ دفقر او فاقی حال تاسو وینی ، په دی وجه اوس لږ دفراخی څخه کار واخلی .
نبی کریم ﷺ دخپلو ازواجو مطهراتو دطرف څخه دا مطالبه واوریده چي د دوی سره هغه معامله وسی کومه چي په باچاهانو او دنیا دارو کی وی ، نو په دی خبره دی ﷺ ډیر خفه سو چي دوی دنبوت دکور قدر ونه پیژندی . د ازواجو مطهراتو دا خیال نه وو چي په دی به دوی ته ازار رسیږي . په عامو مسلمانانوکی یی مالی فراخی ولیده نو دخپل ځان دپاره یی هم دفراخی خیال په زړه کي راغلی وو. ابوحیان فرمایی چي دا واقعه داحزاب دغزا څخه په وروسته بیانولو کي هم ددي تائید کیږي چي دازواجو دا مطالبه دطلاق داختیار سبب جوړسو، دحدیثو په ځینو روایتونوکی دحضرت زینب رضی الله عنها په کور کي دشاتو چنبلو واقعه کومه چي مخ ته په سورة تحریم کي په تفصیل سره راځی ، په دی کي د ازواجو په مینځ کي دغیرت سبب چي کوم پیښ سو، هغه ددي طلاق داختیار سبب جوړ سو ، که څه هم چي دا دواړه شیان په نژدی زمانه کي پیښ سوی وي نو دا هم بعیده نه ده چي دا دواړه یی سبب وی ، لیکن دطلاق داختیار دالفاظو څخه زیات تائید ددي کیږي چي دازواجو مطهراتو دطرف څخه څه مالی مطالبه ددي سبب جوړسوی دی ، ځکه چي په دی آیت کي فرمایی . إِنْ كُنْتُنَّ تُرِدْنَ الْحَيَاةَ الدُّنْيَا وَزِينَتَهَا ، الاية .
دی آیت تولو ازواجو مطهراتو ته اختیار ورکی چي هغوی دنبی کریم ﷺ موجوده حالت دمعاشی تنگی سره خوښوی او په ښځوالی کي یی پاته کیدل قبلوی اوکه په طلاق سره ازادی غواړی . په اول صورت کي به دوی ته دعامو ښځو په نسبت ډیر زیات عظیم اجر او داخرت خاصی لوړی درجی ورکړل سي او په دوهم صورت یعنی طلاق اخستو کي هم به دوی ته ددنیا دخلقو په شان څه تکلیف اوتلخی ورپیښه نه سی ، بلکی دسنتو مطابق دجامو جوړه وغیره به ورکړی او په عزت سره به رخصت سی .
ترمذی دام المومنین حضرت عائشی رضی الله عنها څخه روایت کړی دی چي کله داختیار دا ایت نازل سو نو نبی کریم ﷺ ددي داظهار او اعلان ابتداء زما څخه وفرمایله او دایت اوریدو څخه اول یی وفرمایل چي زه تاته یوه خبره کوم ، مگر ته یی په ځواب کي تلواری مه کوه دخپل مور اوپلار سره مشوره وکړه اوجواب راکړه ، صدیقه رضی الله عنها فرمایی چي دا پرما خاص عنایت وو چي زه یی دمور اوپلار سره دمشوری څخه بغیر درایی ښکاره کولو څخه منع کړم . ځکه چي دده یقین وو چي چي زمامور اوپلار به ماته هیڅکله هم دارایه رانه کړی چي زه دنبی کریم ﷺ څخه جدایی اختیار کړم ، ماچی کله دا آیت واوریدی نو فوراً می

عرض وکی چي آیازه په دی معامله کي دوالدینو سره دمشوری دپاره ولاړه سم؟ زه خو الله ﷻ او دهغه رسول ﷺ او داخرت کور اختیاروم بیا زما څخه وروسته ټولو ازواجو مطهراتو ته دقرآن داحکم واورول سو، ټولو هغه وویل کوم څه چي ماویلی وه ، هیچا هم ددنیا فراخی دنبی کریم ﷺ ترخاوندوالی خوښه نه کړه . (قال الترمذی هذا حدیث حسن صحیح)

فائده : داختیار دطلاق دوه صورتونه وی ، یو دا چي دطلاق اختیار ښځی ته وسپارل سي که هغه غواړی نو په خپله خپل ځان ته طلاق ورکولی اوځان ازادولی سی . دوهم دا چي طلاق دخاوند په لاس کي وي چي که ښځه وغواړی نو دی طلاق ورکړی . په ذکر سوی آیت کي ځینو مفسرینو اول صورت اوځینو دوهم صورت اختیار کړی دی .

سیدی حکیم الامت په بیان القرآن کي فرمایی چي صحیح خبره دا ده چي دایت په الفاظو کي د دواړو احتمالات سته . تر څو پوري چي په یو صریح نص سره دیوه تعین ونه سی ، دخپل طرف څخه دیو صورت متعین کولو ضرورت نسته .

مسئله : ددي آیت څخه معلومه سوه چي کله دښځی اوخاوند په طبیعتونو کي مناسبت نه وي نو مستحب دا ده چي ښځی ته اختیار ورکړل سي چي دخاوند په موجوده حالت قناعت کوي اوسیدل غواړی نو اوسیږي دی ، کنی دسنت مطابق دی طلاق ورکړی، جامی او جوړی دی ورکړی او په عزت سره دی رخصت کړی .

د ذکرسوی آیت څخه ددي معاملی مستحبوالی ثابتیږي ، په وجوب یی هیڅ دلیل نسته ، ځینی فقهاؤ امامانو په دی آیت سره پروجوب دلیل نیولی دی ، او په دی بنایی دداسی مفلس سړی ښځی ته دعدالت دطرف څخه دطلاق ورکولو حق ورکړی دی کوم چي دښځی په نفقه ورکولو قادر نه وی ، ددي مسئلی پوره تفصیل په احکام القرآن حزب خامس کي تر دی آیت لاندي په عربی ژبه کي ذکر دی .

(دازواجو مطهراتو یو خصوصیت او ددی په وجه پردوی سخته پابندی)

يَانِسَاءَ النَّبِيِّ مَنْ يَأْتِ مِنْكُنَّ بِفَاحِشَةٍ مُبَيِّنَةٍ يُضَاعَفْ لَهَا الْعَذَابُ ضِعْفَيْنِ وَكَانَ ذَٰلِكَ عَلَى اللّٰهِ يَسِيرًا وَمَنْ يَقْنُتْ مِنْكُنَّ لِلّٰهِ وَرَسُولِهِ وَتَعْمَلْ صَالِحًا نُؤْتِهَا أَجْرَهَا مَرَّتَيْنِ ، په دی دواړو آیتونو کي دازواجو مطهراتو دا خصوصیت بیان سوی دی چي که دوی دګناه څه کار وکړی نو دوی ته به دنورو ښځو په نسبت دوچنده عذاب ورکول کیږي یعنی د دوی یوه ګناه به په دوه حسابیږي . دغه ډول که دوی نیك عمل وکی نو دنورو ښځو په نسبت به دوی ته دوچند ثواب ورکول کیږي ، د دوی یو نیك عمل به په دوه حسابیږي .

دا آیت په یو حیثیت سره دازواجو مطهراتو دپاره دهغوی دهغه عمل جزاء ده کوم چي هغوی دتخییر دایت په نازلیدودنبی کریم ﷺ خاوند والی ددنیا پرفراخی باندي غوره کی . ددي په بدله کي الله ﷻ دهغوی یو عمل ته دوی درجی ورکړی او دګناه په صورت کي دوچنده عذاب هم دهغوی دخصوصیت اوافضیلت او امتیازی شرافت په وجه سو ځکه چي دا خبره عقلي هم ده او نقلی هم څومره چي دچاعزت او احترام وي دومره دهغه دطرف څخه دغفلت او سرکښی سزا هم زیاتیږي .

په ازواجو مطهراتو دحق تعالی انعامات لوی دی چی دوی الله ﷻ دخپل رسول دښخوالی دپاره منتخبی کړی ، د دوی په کورونو کي وحی الهٰی نازلیده نو د دوی ادنٰی غلطی کوتاهی به هم لویه وی . که دنورو خلقو څخه نبی کریم ﷺ ته ازار ورسیږي نو ددی څخه به ډیره زیاته سخته وي چی د دوی څخه څه خبره دازار او تکلیف وسی دقرآن په دی الفاظو کي په خپله دی سبب طرف ته اشاره ده . وَاذْكُرْنَ مَايُتْلٰى فِي بُيُوتِكُنَّ.

فائده : د ازواجو مطهراتو دا خصوصیت چي دوی ته د دوی دعمل به دوچنده ثواب ورکول کیږي ، دعام امت په اعتبار سره ددي څخه دا نه لازمیږي چي په امت کي یو فرد یاجماعت ته په یوخصوصیت سره داسي انعام نه سي بخښل کیدی چي دوچنده ثواب ورکړل سی ، چنانچی په اهل کتابو کي چي کوم خلق مسلمانان سول دهغوی متعلق په قرآن کریم کي ارشاد دی ، اُولٰئِكَ يُؤْتَوْنَ اَجْرَهُمْ مَرَّتَيْنِ .

او دقیصرِ روم په نوم چي کوم خط مبارك نبی کریم ﷺ ولیکی په هغه کي ددي ارشاد قرآنی په وجه د ﷺ قیصر روم ته داولیکل چی ، يُؤْتِكَ اللّٰهُ اَجْرَكَ مَرَّتَيْنِ، اهل کتاب کوم چي ایمان راوړی دهغوی متعلق خو په خپله قرآن کي د اجر مرتین وضاحت دی .

او په یو بل حدیث کي هم په کوم کي چي د دری ۳ سرو دپاره داسي د دوچنده اجر ذکردی . ددي تفصیل په سورة قصص کي ترایت . يُؤْتَوْنَ اَجْرَهُمْ مَرَّتَيْنِ، لاندي لیکل سوی دی .

(دعالم دنیک عمل ثواب هم دنورو څخه زیات دی او دگناه سزایي هم زیاته ده)

امام ابوبکر جصاص په احکام القرآن کي فرمایی چي په کوم سبب سره حق تعالی دازواجو مطهراتو دنیك عمل ثواب دوچنده او د دوی دگناه عذاب هم دوچنده گرځولی دی ځکه چي دوی دنبوت دعلومو او دوحی الهی خاص مورد دی ، دا سبب په عالمانو ددین کي هم موجود دی . په دی وجه کوم عالم چي په خپل علم عامل هم دی ، هغه ته به ددي عمل ثواب دنورو څخه زیات ورکول کیږي اوکه هغه څه گناه وکړی نوعذاب به یی هم دنورو څخه زیات وی .

بِفَاحِشَةٍ مُّبَيِّنَةٍ، لفظ دفاحشة په عربی ژبه کي دبدکاری او زنا وغیره دپاره هم استعمالیږي اومطلق دنافرمانی اوگناه دپاره هم دالفظ په قرآن کي دیر استعمال سوی ، په دی آیت کي دفاحشة دلفظ څخه بد کاری او زنا نه سی مراد کیدی ځکه چي الله ﷻ دخپلو تولو پیغمبرانو بیبیانی ددي سخت عیب څخه بری فرمایلي دی . دتولو پیغمبرانو په بیبیانو کی دچا څخه هم داسي فعل نه دی صادر سوی ، دحضرت لوط علیه السلام او حضرت نوح علیه السلام بیبیانی د دوی ددین څخه اوښتی وي او سرکښی یی اختیار کړی وه چي سزا یی هغوی ته ورکړل سوه . لیکن دبدکاری الزام په هغوی کي پرهیچا هم نه وو ، دازواجو مطهراتو څخه دځه بدکاری اوبی حیایی واقع کیدو احتمال خو نه وو په دی وجه په دی آیت کي دفاحشه څخه مراد عامه گناه یانبی کریم ﷺ ته ازار او تکلیف رسول دی او دلته دفاحشة سره چي کوم لفظ دمبینة راغلی دی ، دا پردی شاهد دی ځکه چي بی حیایی اوبدکاری هیڅکله هم مبینه نه وی ، دا خو په پردوکی په پټه کول کیږي .

دفاحشة مبينه څخه مراد عام ګناهونه دي يانبي کريم ﷺ ته ازار دتفسير په اماماتو کي مقاتل بن سليمان
په دې آيت کې دفاحشه مطلب دنبي کريم ﷺ نافرماني يا د دوی څخه داسي مطالبه مقرر کړی دی چي
پوره کول يي پر حضور ﷺ ګران وي رواه البيهقي في السنن
اوقرآن کريم د دوچند عذاب په سلسله کي خو صرف پرفاحشه مبينه دا عذاب مرتب کړی دی . مګر د
دوچنده اجر او ثوب دپاره يي خو شرطونه مقرر کړی دی . چي بيان يي د دوېشتمی ۲۲ پاری په ابتداکي دی

يويشتمه پاره ختمه سوه

والحمدلله رب العلمين

تفسیر معارف القرآن د نصیر احمد احمدي لخوا سکین او

pdf شو. د دعا په هیله احمدي او واتساپ ۰۷۴۹۸۴۹۵۶۹

https://t.me/pashtoTafsir